Afghanic

Nangarhar Medical Faculty

Prof Dr Ajab Gul Momand MD, Ms

# Medical Dictionary II

## English to Pashto



Funded by
**Kinderhilfe-Afghanistan**




ISBN 978-9936-620-97-1

Not For Sale

2020

انگلیسی - پښتو طبي قاموس (دوهم ټوک)

Medical Dictionary II
English to Pashto

رنځورمل دوکتور عجب گل مومند

ننگرهار طب پوهنځی

# انگلیسی - پښتو طبي قاموس

## (دوهم ټوک)






رنځورمل دوکتور عجب گل مومند

پلورل منع دی

۱۳۹۹

اقرأ باسم ربك الذي خلق

# انګلیسي - پښتو طبي قاموس

## (دوهم ټوک)

**رنځورمل دوکتور عجب ګل مومند**

**لومړی چاپ**

دغه کتاب په پي ډي ایف فارمټ کې په مله سي ډي کې هم لوستلی شئ:



| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | انګلیسي – پښتو طبي قاموس (دوهم ټوک) |
| لیکوال | رنځورمل دوکتور عجب ګل مومند |
| خپرندوی | ننګرهار پوهنتون، طب پوهنځی |
| وېب پاڼه | www.nu.edu.af |
| د چاپ کال | ۱۳۹۹، لومړی چاپ |
| چاپ شمېر | ۱۰۰۰ |
| مسلسل نمبر | ۳۱۱ |
| ډاونلوډ | www.ecampus-afghanistan.org |
| چاپ ځای | سهر مطبعه، کابل، افغانستان |

دا کتاب د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې، په جرمني کې د Eroes کورنۍ یوې خیریه ټولنې لخوا تمویل شوی دی.
اداري او تخنیکي چارې یې په آلمان کې د افغانیک لخوا ترسره شوي دي.
د کتاب د محتوا او لیکنې مسئولیت د کتاب په لیکوال او اړونده پوهنځي پورې اړه لري. مرسته کوونکي او تطبیق کوونکي ټولنې په دې اړه مسؤلیت نه لري.

د تدریسي کتابونو د چاپولو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسئ:
ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت، کارته ۴، کابل
تېلیفون ۰۷۵۶۰۱٤٦٤۰، ۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴
ایمېل textbooks@afghanic.de

د چاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي.

ای اس بي ان ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۲۰-۹۷-۱

# د لوړو زده کړو وزارت پیغام

د بشر د تاریخ په مختلفو دورو کې کتاب د علم او پوهې په لاسته راوړلو، ساتلو او خپرولو کې ډیر مهم رول لوبولی دی. درسي کتاب د نصاب اساسي برخه جوړوي چې د زده کړې د کیفیت په لوړولو کې مهم ارزښت لري. له همدې امله د نړیوالو پیژندل شویو معیارونو، د وخت د غوښتنو او د ټولنې د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره باید نوي درسي مواد او کتابونه د محصلینو لپاره برابر او چاپ شي.

له ښاغلو استادانو او لیکوالانو څخه د زړه له کومي مننه کوم چې دوامداره زیار یې ایستلی او د کلونو په اوږدو کې یې په خپلو اړوندو څانګو کې درسي کتابونه تألیف او ژباړلي دي، خپل ملي پور یې اداء کړی دی او د پوهې موتور یې په حرکت راوستی دی. له نورو ښاغلو استادانو او پوهانو څخه هم په درنښت غوښتنه کوم تر څو په خپلو اړوندو برخو کې نوي درسي کتابونه او درسي مواد برابر او چاپ کړي، چې له چاپ وروسته د ګرانو محصلینو په واک کې ورکړل شي او د زده کړو د کیفیت په لوړولو او د علمي پروسې په پرمختګ کې یې نېک ګام اخیستی وي.

د لوړو زده کړو وزارت دا خپله دنده بولي چې د ګرانو محصلینو د علمي سطحې د لوړولو لپاره د علومو په مختلفو رشتو کې معیاري او نوي درسي مواد برابر او چاپ کړي.

په پای کې د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټې او زموږ همکار ډاکتر یحیی وردک څخه مننه کوم چې د دی کتاب د خپرولو لپاره یې زمینه برابره کړېده.

هیله مننده یم چې نوموړې ګټوره پروسه دوام وکړي او پراختیا ومومي تر څو په نیږدې راتلونکې کې د هر درسي مضمون لپاره لږ تر لږه یو معیاري درسي کتاب ولرو.

په درنښت

پوهنمل دیپلوم انجنیر عبدالتواب بالاکرزی

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر

کابل، ۱۳۹۸

## د درسي کتابونو چاپول

قدرمنو استادانو او ګرانو محصلینو!

د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی او نشتوالی له لويو ستونزو څخه ګڼل کېږي. يو زيات شمير استادان او محصلين نويو معلوماتو ته لاس رسی نه لري، په زاړه ميتود تدريس کوي او له هغو کتابونو او چپترونو څخه ګټه اخلي چې زاړه دي او په بازار کې په ټيټ کيفيت فوتوکاپي کېږي.

تر اوسه پورې موږ د ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ، البيروني، کابل،کابل طبي پوهنتون او کابل پولي تخنيک پوهنتون لپاره ۳۱۱ عنوانه مختلف درسي کتابونه د طب، ساينس، انجنيري، اقتصاد، ژورناليزم او زراعت پوهنځيو (۹٦ طبي د آلمان د علمي همکاريو ټولنې DAAD، ۱۹۰ طبي او غير طبي د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې Kinderhilfe-Afghanistan، ۷ کتابونه د آلماني او افغاني پوهنتونونو ټولنې DAUG، ۲ کتابونه په مزار شريف کې د آلمان فدرال جمهوري جنرال کنسولګري، ۳ کتابونه د Afghanistan-Schulen، ۱کتاب د صافی بنسټ ، ۲ کتابونه د سلواک ايډ، ۸ کتابونه د کانراد ادناور بنسټ KAS، ۱کتاب په آلمان کې د اناسيس کمپنی) په مالي مرسته چاپ کړي دي.

د يادونې وړ ده، چې نوموړي چاپ شوي کتابونه د هېواد ټولو اړونده پوهنتونونو او يو زيات شمېر ادارو او مؤسساتو ته په وړيا توګه وېشل شوي دي. ټول چاپ شوي کتابونه له www.afghanistan-ecampus.org ويب پاڼې څخه ډاونلوډ کولای شئ.

دا کړنې په داسې حال کې تر سره کېږي چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د (۲۰۱۰ - ۲۰۱۴) کلونو په ملي ستراتيژيک پلان کې راغلي دي چې:

*"د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کيفيت او زده کوونکو ته د نويو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړينه ده چې په دري او پښتو ژبو د درسي کتابونو د ليکلو فرصت برابر شي د تعليمي نصاب د ريفورم لپاره له انګريزي ژبې څخه دري او پښتو ژبو ته د کتابونو او درسي موادو ژباړل اړين دي، له دې امکاناتو څخه پرته د پوهنتونونو محصلين او استادان نشي کولای عصري، نويو، تازه او کره معلوماتو ته لاس رسی پيدا کړي."*

موږ غواړو چې د درسي کتابونو په برابرولو سره د هيواد له پوهنتونونو سره مرسته وکړو او د چپټر او لکچر نوټ دوران ته د پای ټکی کېږدو. د دې لپاره دا اړينه ده چې د لوړو زده کړو د موسساتو لپاره هر کال څه نا څه ۱۰۰ عنوانه درسي کتابونه چاپ شي.

**له ټولو محترمو استادانو څخه هيله کوو، چې په خپلو مسلکي برخو کې نوي کتابونه وليکي، وژباړي او يا هم خپل پخواني ليکل شوي کتابونه، لکچر نوټونه او چپټرونه ايډېټ او د چاپ لپاره تيار کړي، زمونږ په واک کې يې راکړي چې په ښه کيفيت چاپ او وروسته يې د اړوند پوهنځيو، استادانو او محصلينو په واک کې ورکړو. همدارنګه د ياد شويو ټکو په اړوند خپل وړانديزونه او نظريات له مونږ سره شريک کړي، تر څو په ګډه پدې برخه کې اغيزمن ګامونه پورته کړو.**

د مؤلفينو او خپرونکو له خوا پوره زيار ايستل شوی دی، ترڅو د کتابونو محتويات د نړيوالو علمي معيارونو په اساس برابر شي، خو بيا هم کيدای شي د کتاب په محتوی کې ځينې تيروتنې او ستونزې وليدل شي، نو له درنو لوستونکو څخه هيله مند يو تر څو خپل نظريات او نيوکې مؤلف او يا مونږ ته په ليکلې بڼه راوليږي، تر څو په راتلونکي چاپ کې اصلاح شي.

له افغان ماشومانو لپاره د جرمني کميټې او د هغې له مشر ډاکتر ايروس څخه ډېره مننه کوو چې د دغه کتاب د چاپ لګښت يې ورکړی دی، دوی تر دې مهاله د ننګرهار پوهنتون د ۱۹۰ عنوانه طبي او غيرطبي کتابونو د چاپ لګښت پر غاړه اخيستی دی.

د جي آی زيت (GIZ) له دفتر او CIM (Center for International Migration & Development) څخه، چې زما لپاره يې له ۲۰۱۰ نه تر ۲۰۱۶ پورې په افغانستان کې د کار امکانات برابر کړي وو، هم د زړه له کومې مننه کوم.

د لوړو زده کړو له سرپرست وزير پوهنمل ديپلوم انجنير عبدالتواب بالاکرزی، مالي او اداري معين ډاکتر احمد سير مهجور، مالي رئيس احمد طارق صديقي، په لوړو زده کړو وزارت کې سلاکار ډاکتر ګل رحيم صافي، د پوهنتونونو رئيسانو، د پوهنځيو رييسانو او استادانو څخه مننه کوم چې د کتابونو د چاپ لړۍ يې هڅولې او مرسته يې ورسره کړې ده. د دغه کتاب له مؤلف څخه ډېر منندوی يم او ستاينه يې کوم، چې خپل د کلونو-کلونو زيار يې په وړيا توګه ګرانو محصلينو ته وړاندې کړ.

همدارنګه د دفتر له همکارانو هر يو حکمت الله عزيز او فهيم حبيبي څخه هم مننه کوم چې د کتابونو د چاپ په برخه کې يې نه ستړې کيدونکې هلې ځلې کړې دي.

ډاکتر يحيی وردک، د لوړو زده کړو وزارت سلاکار

کابل، فبروري ۲۰۲۰

د دفتر ټيليفون: ۰۷۵۶۰۱۴۶۴۰، ۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴

ايميل: textbooks@afghanic.de

وړاند وینه :

اَلحَمدُ لِلّهِ الّذِی و کفی !

دا طبی قاموس د اساسی او بنسټیزو طبی قاموسونو پر بنسټ تیاره او جوړه شوېده چې د روغتیائی حالتونو اړوند ناروغتیاوو د ( ښه پېژندنې ، ناروغانو د ساتنې او مراقبت ښه والی ، د جراحی ، پتالوژی ، عمومی پرکتیس او اجراآتو ، فارمسی ، غاښونو طب ، اختصاصی طبی عملیاتونو او پرکټیسونو ، اناټومیک ، فزیولوژیک او ګڼ شمېر اړوند ) اصطلاحاتو شرحه پکې د نړیوال قاموسونو ، لاښودونو ، سرلیکونو ، راپورونو ، آنلاین ډیکشنری ګانو څخه په ډېر دقت سره کار اخیستل شوېدی تر څو د لوستونکو د اړتیا وړ اصطلاحاتو ژباړې اړوند ستونزې لږ ترلږه حل کړل شی.

دا قاموس څوکاله پخوا لیکل شوې وؤ خو د بده مرغه څه شته ستونزو له کبله نشو کړلای چې چاپ او خپور کړل شی او بیا وروسته د ننی عصری قاموسونو څخه د پکار اخیستلو پواسطه بیا کتنه او نوی لغاتونه او اصطلاحات وردننه او ورزیات کړل شوېدی او هڅه شوېده تر څو هغه په روانه او پښتو ژبې آسانه ډول سره ژباړه شی .

همدارنګه پدې قاموس لیکنه او ژباړې آسانولو ګڼ شمېر طبی کارکوونکو او طب برخې استاذانو ماسره په ورین تندې برخه اخیستې ده چې ورڅخه ډېره مننه کوم او ددې قاموس (ډکشنری ) په لوستلو سره هیله لرم چې د ګڼ شمېر پښتو ژبې زده کوونکو ا و ډاکټرانو (طبیبان) ستونزې حل شی ټولو مینه والو ته ددې قاموس لوستنې سپارښتنه کوم .

په ډېر درنښت
الحاج رنځومل ډاکټر عجب ګل مومند
د طب ماسټر او جراحی علومو متخصص

د ادا کولو (تلفظ) لارښود :

دا لاندې نښې (سمبولونه Symbols) معمولاً د لغوتونو اساسی تلفظ په قاموس کې راپه ګوته کوی د فشار راتلل په هجا کولو کې په لاندې توګه باید په پام کې ولرل شی.

| واول | بیلګه | کانسونانټ | بیلګه |
|---|---|---|---|
| *Vowels* | | *Consonants* | |
| æ | back | b | buck |
| ɑː | harm | d | dead |
| ɒ | stop | ð | other |
| aɪ | type | dʒ | jump |
| aʊ | how | f | fare |
| aɪə | hire | g | gold |
| aʊə | hour | h | head |
| ɔː | course | j | yellow |
| ɔɪ | annoy | k | cab |
| e | head | l | leave |
| eə | fair | m | mix |
| eɪ | make | n | nil |
| eʊ | go | ŋ | sing |
| ɜː | word | p | print |
| iː | keep | r | rest |
| i | happy | s | save |
| ə | about | ʃ | shop |
| ɪ | fit | t | take |
| ɪə | near | tʃ | change |
| u | annual | θ | theft |
| uː | pool | v | value |
| ʊ | book | w | work |
| ʊə | tour | x | loch |
| ʌ | shut | ʒ | measure |
| | | z | zone |

# مننلیک

د لوی او بخښونکی الله ذات پنامه زه د ټولو هغه دوستانو څخه چې زه یې د دې قاموس لیکنې ته هڅولې یم ځکه چې ماته یې ددې قاموس د لیکلو او د هغه بېرته تصحیح کولو لپاره دا قوت او جرئت را بخښلې دئ چې خپله حوصله وساتم او ورته زړه په تنګ نکړم د زړه له کومې مننه کوم او خپل ځان د هغوی احسانمند بولم په ځانګړې توګه د ښاغلی هر یو ډاکټرانو د بېلګې پتوګه [ډاکټر محمد اکبر (اکبر) ، داکتر خوشحال روهی ، ډاکتر یحی وردګ ، ډاکتر امیر محمد جلالی ، ډاکتر عبدالودود باجوړی ، او نورو دوستانو لکه ایمل شمس ] څخه ډېره مننه کوم د لوی خدای دربار ه هر یو ته د زیات اجر هیله مند یم .

و من الله توفیق

په ډېر درنښت

الحاج رنځومل ډاکتر عجب ګل مومند

د طب ماستر او جراحی علومو متخصص

# L, l

د انګرېزي ژبې دوولسم توري دئ چې په طب کې د ګڼ شمېر لغتونو لنډه نښه جوړوي.

**L**

د کیڼ ( Left ) لپاره لنډه نښه ده.

**L**

د اوږدوالی (طول Length ) لپاره لنډه نښه ده.

**L**

د [ Limes Stone (Limes )] لپاره لنډه نښه ده چې د آهک معنی بشپړوي.

**L**

د قطنی فقراتو (Lumber Vertebra ) لپاره لنډه نښه ده .

**L**

د سږی (Lung ) لپاره لنډه نښه ده .

**L**

د لیبرا (Libra ) لپاره لنډه نښه ده .په لاتین کې د انګلیسی پول اصلي واحد یعني د(لیره ، پونډ) معنی ورکوی چې پونډ ( 12 اونس) سره برابر ده چې مخفف یې په ( L ، lb او l) سره ښودل کېږی .د نجوم علم له مخې هر هغه څوک چې د تلې (میزان) په میاشت کې زیږېدلې وی ورته د (Libran ) نوم ورکول شی.

**L, l**

د لیتر (Litre ) لپاره لنډه نښه بلل شی د مایعاتو د کچې ټاکنې کچه بلل شی .

**L -**

دا یو کېمیاوی مختاړې چې د یوه اینا نتیومیتر نسبی ساختمان بندی مشخصه کوی ،کاربو هایدریتونه دا [ (L-Glyceraldehyde) او (Aminoacides) د (L-Serine) ] په پرتله تر نوم اینښودنې لاندې نیول کېږی.

**L⁻**

دا د (Levo) کیڼ لپاره کېمیاوی لنډیز دئ.

**l.{L. }**

د لیګامنټ (وتر Ligamentum ) لپاره لنډه نښه ده .

λ

د لاتین تورو (ابجی ) یوولسم توری دئ د څپې اوږدوالی ، د ایمیونوګلوبولینونو د سپکودوه ډوله ځنځیرونو څخه یو .

**La**

د لنتانوم (Lanthanum) عنصر لپاره کېمیاوی نښه ده.

**Lab**

د لابراتوار (Laboratory )لپاره لنډه نښه ده

**- Lab Examination**

لابراتواری کتنه /آزمایښت .

**- Lab Instruments**

لابراتواری آزمایښت لپاره اړوند وسائل .

**- Lab Test**

لابراتواری کتنه ، لابراتواری آزمایښت .

**- Lab Technician**

لابراتواری کتنه /آزمایښت ترسره کوونکې ماهر کس .

**Lab -**

دا یو مختاړې دئ او د [ Labio- ( شونډې (شفتان)] معنی بشپړوی.

**Label**

لیبل ، د پاڼې / کارډ یوه برخه چې پر یو شی باندې د پېژندنې په موخه لړول شی.

**Labeled**

لیبل وهل شوې .

**- Bottle Labelled**

لیبل وهل شوې بوتل ، لیبل لرونکې بوتل .

**Labeling**

د لیبل وهنې پروسه ، لیبل نښلول .

**Labia**

د (Labium ) کلیمې لپاره ګڼه شمېره.

**- Labia Majora**

غټې شونډې ، د ښځینه بهرنی تناسلی غړی د فرج غټو شونډو ته ویل شی ، شفتان کبیرتان .

**- Labia Minora**

کوچنۍ شونډې . د ښځینه بهرنی تناسلی غړی د فرج کوچنیو شونډو ته ویل شی چې ورته (Nymphae) هم ویل شی، شفتان صغیرتان .

**Labial**

د شونډو(Labia) اړوند صفت .

**Labilly**

د شونډو په لوري .

**Labile**

ناپایدار ، غیرثابت ، متغیر ، هغه درمل چې غیر ثابت وي او د تودوخی او سړښت پرمهال بدلون مومی.

**Lability**

بې ثباتی ، نا پایداری .

شی ، شفتان صغیرتان.

**- Labium Oris**

شونډې ، د خولې پورته او ښکته برخه کې پرتې شونډې.

## Labor

زېږون ، د زېږېدنې پرمهال رحمی تقلصونه چې د مهبل د کانال له لارې د جنین بهرته راوتلو بهیر لامل شی. د (Labour) په انډول.

**- Artificial Labor**

مصنوعی زېږون ، د (Induced Labor) په انډول.

**- Dry Labor**

وچ ډول زېږون ، پدې حالت کې د امنیوتیک مایع د زېږون پرمهال د رحم د انقباضاتو څخه دمخه بهر ته راوتلې وی.

**- False Labor**

هغه دردونه چې د زېږون په څېر ورته دي خو د زېږون لامل نګرځی او بې وخته په ناروغه ښځه کې منځ ته راځی.

**- Induced Labor**

یو ډول زېږون چې د مېخانیکی مصنوعی طریقو یا د اکسی توسین ورېدی ورکړې وروسته منځ ته راځی. مصنوعی زېږون.

**- Missed Labor**

هغه حالت چې په هغه کې رحمی انقباضونه پیل کېږی خو خپل په خپله له منځه ځي او جنین په رحم کې د اونیو څخه تر میاشتو پورې د زیاتې مودې لپاره پاتې کېږی.

**- Postmature Labor**

هغه زېږون چې د ټاکل شوې مودې څخه دوه یا زیاتې اونۍ وروسته تر سره شی. د (Posponded Labor) په انډول.

**- Preticipate Labor**

هغه زېږون چې په ډېرې چټکۍ سره تر سره شی.

**- Premature Labor**

بې مودې زېږون ، هغه زېږون چې د ټاکل شوې مودې څخه دمخه ژوندې وزېږول شی دغه موده معمولاً (28-37 Weeks) تر منځ ټاکل شوېده.

## Laboratory

لابراتوار ، هغه ځای چې هلته د ناروغانو اړوند ناروغیو پېژندونکی (کېمیاوی ، کلچر ، عادی ، پیوشیمیک ... او نور) آزمایښتونه تر سره کېږی ،آزموینتون ، د تجربوی او څېړنو د آزمایښت تر سره کولو ځای. ګڼه شمېره یې (Laboratories) بلل شی.

**- Clinical Laboratory**

کلینیکی آزموینتون ، په روغتون او کلینیکونو کې هغه ځای چې هلته د ناروغانو اړوند ناروغیو پېژندونکی (کېمیاوی ، کلچر ، عادی ، پیوشیمیک ... او نور) د مخنیوی یا درملنې لپاره ځانګړی آزمایښتونه تر سره کېږی.

**- Lability of Mood**

نا ببره د طبیعت یا مزاج د بدلون لورې ته لېوالتیا لرل.

## Labio -

دا یو مختاړې دئ او د [(-Labio) شونډې(شفتان)] معنی بښېږوی.

## Labioalviolar

د شونډو او غاښونود الویول اړوند.

## Labiocervical

دیوه مخکې غاښ د غاړې په شونډېز مخ پورې اړوند. د (Labiogengioval) په انډول.

## Labiochorea

د ژبې له بندښت سره یوځای خبرو کولو پرمهال د شونډو کوریه ډوله حرکتونه .

## Labioclination

په عمودی پانه کې د شونډو په لورې د مخکښیو غاښونو انحراف .

## Labiogengioval

د غاښ د ژورې شونډېز او اورئیز د بوالونو پورې اړوند.

## Labiograph

د خبروکولو په بهیر کې د شونډو د حرکتونو د ثبت لپاره وسیله .

## Labiomental

د شونډو په لورې د یوه غاښ ځای پر ځای کېدنه.

## Labioplacement

د شونډو په لورې د یوه غاښ ځای پر ځای کېدنه .

## Labioplasty

د جراحی کړنلارې پذریعه د شونډو د تخریب شوې برخې بیا رغونه او بې شکله حالت اصلاح او ترمیم دئ ګڼه شمېره یې (Labioplasties) بلل شی.

## Labioversion

د شونډو لورې له اکلوزال لیکې څخه د یوه غاښ ځای پّه ځای بدلون.

## Labium

د ښځینه بهرنی تناسلی غړی د فرج غټو او کوچنیو شونډو ته ویل شی ، شفتان کبیرتان او صغېرتان ، هر هغه جوړښت چې د شونډې په ورته جوړښت لری.

**- Labium Majus Pudendi**

د ښځینه بهرنی تناسلی غړی د فرج غټو شونډو ته ویل شی ، شفتان کبیرتان.

**- Labium Minus Pudendi**

د ښځینه بهرنی تناسلی غړی د فرج کوچنیو شونډو ته ویل

**- Laboratory Officer**

د لابراتوار ځانګې اړوند د ښه ظرفیت او مهارت درلودونکې مسئول کس.

**- Laboratory Technician**

د لابراتوار ځانګې اړوند د ښه مهارت درلودونکې چې د عملی کار تکړه کارکوونکې چې د سامانونو څارنه هم کوی تخنیکی کس.

**- Laboratory Techniques**

لابراتواری تخنیکونه، هغه میتودونه او تخنیکونه چې په لابراتوارونو کې په تجربوی ډول پکار وړل شی.

**- Laboratory Test**

لابراتواری آزماښت ، لابراتواری ټسټ .

## Labour

زېږون ، د بلاربښت پایله ، د زېږېدنې پرمهال رحمی تقلصونه چې دمهبل د کانال له لارې د جنین بهرته راوتلود بهیر لامل شی زېږون معمولاً د نه میاشتو ( Nine Months) یا (266 days ) ورځو د بشپړېدو وروسته منځ ته راځی. د (Childbirth ) په اند‌ول .

**- Labored Breathing**

هغه ستونزمن تنفس چې کېدای شی د ویروسونو یا سالنډی له امله پېښ شی.

**- Labour Pains**

هغه درد چې د بلاربې ښځې ته د زېږون پر مهال په هر منظمه وقفه کې د رحم د عضلی تقلص له امله احساس مومی .

**- Labour Stages**

د زېږون پر مهال پړاونه / مرحلې .

## Labrum

ژۍ، زېږمه ، حاشیه ، شونډه ، د بندونو په (rim ) چارچېر کې غضروف ، پورتنۍ شونډه ، شونډکۍ ، ګڼه شمېره یې (Labra ) بلل شی.

## Labyrinth

د دننه غوږ ښلولونکې تیوب لړۍ چې درې (دهلېز، حلزون ، او مجراګانو ) برخې لری.

**- Bony Labyrinth**

د ددننه غوږ هډوکیزه لابرینت ، عظمی لابرینت برخه . د ( Labyrinth Osseous) په اند‌ول.

**- Cochlear Labyrinth**

د داخلی غوږ هغه برخه چې پرې لمفاتیک فضا او حلزونی مجرا لری.

**- Endolymphatic Labyrinth**

د غشائی لابرینت په اند‌ول.

**- Ethmoidal Labrynth**

په اتموئید هډوکی کې د دوه وحشی کتلو څخه هره یو چې د اتموئید حجرو په نامه کوچنۍ حجره ډوله ژورې لری.

**- Labyrinth of the Inner Ear**

د دننه غوږ لابرینت .

**- Membranous Labyrinth**

غشائی لابرینت ، د هډوکیز لابرینت په داخل کې د اپتلیائی مجراګانو او کڅوړو اړیکیز سیستم چې اندولمف مایع پکې ونډه لری.

**- Osseous Labyrinth**

د ددننه غوږ هډوکیزه لابرینت چې د پرې لیمف په مایع څخه ډکه وی، عظمی لابرینت برخه .

**- Perilymphatic Labyrinth**

د ( Perilymphatic Space ) په اند‌ول .

**- Vestibular Labyrinth**

د غشائي لابرینت یوه برخه چې او تریکول او ساکول او نیم دایروی مجراګانی لری.

## Labyrinthien

د لابرینت (Labyrinth) اړوند صفت .

## Labyrinthectomy

د جراحی کړنلارې پذریعه د لابرینت د راویستلو جراحی کړنه بلل شی چې ګڼه شمېره یې (Labyrinthectomies) بلل کېږی.

## Labyrinthitis

د دننه غوږ د لابرینت برخې التهاب . د ( Interna Otitis) په اند‌ول .

**- Circumscribed Labyrinthitis**

د نیم دایروی مجراء د هډوکیز جدار په خوړل شوې حالت پورې اړوند لابرینتیت .

## Labyrinthus

د (Labyrinth) په اند‌ول.

## Lac

شیدې ، هرډول شیدې چې د درملنې په موخه جوړېږی.

## Lacerated

شلېدلې ، څیرلې ، د زېږې ژۍ خاونده څیرل شوې برخه.

**- Lacerated Wound**

څیرلې جرحه ، څیرل شوې ټپ.

## Laceration

څیرې کېدل ، شلېدل ، ټپ منځ ته راتګ ، زخمی کېدل ، د څیرې کېدو پروسه.

## Lacertus

هغه نوم چې دعضلاتو د ځانګړې فیبری اتصالاتو لپاره

کړنلاره.

**Lachrymal**

د اوښکو (Lacrimal او Lachrymal) اړوند صفت په انډول.

**Lact -**

دا یومختاړي دئ او د شیدو (Lacto-) معنی بښپړوي.

**Lactagogue**

د (Galactogogue) په انډول.

**Lactam**

لکټیم ، یو ډول کړیزامايد چې د امینوکاربوکسیلیک اسیډونو څخه د (اوبوتر ویستلو وروسته) منځ ته راځي؛ لکټیمونه د لکټیمونو ایزومیرونه دي چې وروستني مواد د لکټیمونو انولي بڼه شمېرل کېږي.

**Lactamase**

لکټیمیز انزایم چې د تقریباً د ټولو ګرام منفی باکتریاګانو پواسطه تولیدېږي.

**- β- Lactamase**

بېټا لکټیمېز، د انزایمونو هغه ډلې څخه هر یو چې د تقریباً د ټولو ګرام منفی باکتریاګانو پواسطه تولیدېږي ؛ د پنسلین بېټا لکټیم کړی له منځه وړي او د هغوی مکروب ضد فعالیت مختل کوي د نوعیت له مخې دغه انزایم ښايي د پنسلینيز یا سفالوسپورینیز په نومونو یاد شي.

**Lactase**

لکټېز ، یو بیټا -ګلکټوزیدایز انزایم چې د کولمو دمخاط په برش بارډر کې پروت دئ او(شیدې ، خواږه او لکټوز) په (ګلکټوز او ګلوکوز) اړوي . دغه انزایم د بیټا – ګلکټوزیدایزي انزایمی ډلې مجموعي غړې دئ.

**- Lactase Deficiency**

د لکټیز انزایم فقدان او نشتوالي په ارثی ډول لیدل شی چې د شیدو خوراک سره سم د (معدې درد ، باد، کانګې او نس ناستی) په څیر ناروغی نښې منځ ته راوړي .

**Lactate**

دلکټیک اسیډ مالګه یا ایستر ، د شیدو افراز.

**- L- Lactate Dehydrogenase**

د ال- لکټیټ دیهایدروجنیز انزایم چې یو په بل باندې د لکټیټ او پایرویت اووښتون کتلایز کوي چې په (پښتورګو ، اسکلیټي عضلاتو ، کبد او مایوکارډ) کې زیاته پیمانه شتون لري چې د دې انساجو په ناروغیو کې یې کچه لوړوالي مومي .

**- Ringer- Lactate Solutions**

د رینګر لکټیټ اړوند محلول او سېروم .

**Lactation**

د شیدوافراز ، د شیدو د تولید پروسه ، هغه موده چې

کارول کېږي.

**Lachrymal**

د اوښکو (Lacrimal ) اړوند صفت په انډول.

**Lacrimal**

د (اوښکو ، د اوښکو قنات او اوښکو غدې) اړوند صفت. د (Nasolacrimal ) په انډول .

**- Lacrimal Apparatus**

د اوښکو جهاز (دستګاه) ، اشکېه سیستم . د (System Lacrimal ) په انډول.

**- Lacrimal Bone**

یوه له هغه کوچنیو هډوکو څخه چې له بل سره یو کېږي او حجاج (Orbits ) منځ ته راوړي.

**- Lacrimal Canaliculus**

د اوښکو کوچنی قنیوات ، اشکېه کوچنی کانالیکولونه چې اوښکې د اوښکو کڅوړې ته رسوي.

**- Lacrimal Caruncle**

هغه کوچنۍ سور ټکې د هرې سترګې په دننه کنج کې واقع دئ.

**- Lacrimal Duct**

د اوښکو قنات چې اوښکې کڅوړې ته تخلیه کوي. د ( Tear Duct) په انډول .

**- Lacrimal Gland**

هغه غده چې د سترګې پورتنی سترغلی (جفن) تر څنګه پرته ده او اوښکې افرازوي. د (Tear Gland ) په انډول .

**- Lacrimal Puncta**

د اوښکو د کانالیکولونو کوچني سوري چې د سترګې په کنج کې واقع دئ او اوښکې د پوزې لورې ته تخلیه کوي.

**- Lacrimal Sac**

اشکیه کیسه ، د اوښکو کڅوړه چې پکې اوښکې راټولېږي او د (Nasolacrimal Duct ) په پورته برخه کې واقع ده او د اوښکو د کانالیکولونو سره اړیکه لري .

**- Lacrimal System**

د اوښکومنځ ته راتګ او اطراحیه ټول ټال سیستم. د ( Lacrimal Apparatus) په انډول .

**Lacrimation**

د او ښکو تولید او منځ ته راتګ پروسه ، د اوښکو افراز ، د اوښکو بهیر بلل شي.

**Lacrimator**

هغه محرک عامل چې د اوښکو بهېدلو دبهیر منځ ته راتګ لامل ګرځي .

**Lacrimotomy**

د اوښکو دغدې او مجرأ یا کڅوړې غوڅولو جراحی

## Lactigenerous

د شیدو(لېږدونکی، تولیدوونکی ، افرازوونکی) ، شیدوائیز ، د شیدو اړوند صفت بلل شي.

## Lactim

د (Lactam ) په انډول.

## Lactivorous

په شیدو سره تغذیه.

## Lacto-

دا یومختاړې دي او د شیدو معنی بشپړوي.

## Lactobacillaceae

د باکتریانو یوه کورنۍ.

## Lactobacilleae

د باکتری ګانو څانګه.

## Lactobacillus

دا یو ګرام مثبت باسیلی باکتری ده چې د ګلوکوز څخه د تخمر له لارې لکتیک اسیډ جوړوی ځینې ډولونه یې د غاښونو په وروسته والي کې رول لری په هضمی جهاز او مهبل کې موندل شي.

## Lactocele

د لکتوباسیلوس د جنس ارګانیزمونو څخه هر یو .

## Lactogen

د شیدود تولید پاروونکې ماده .

### - Human Placental Lactogen

هغه هورمون چې د پلاسنتا څخه افرازېږي دا هورمون (د لاکتوجن ، لیوتو تروپیک ، دودې پاروونکې او مور د انسولین د فعالیت نهی کوونکي) اغېزې لري .

## Lactogenic

د (Lactogen) اړوند صفت .

### - Lactogenic Hormone

د (Prolactin) هورمون په انډول .

## Lactoglobuline

په شیدوکې موجود ګلوبولین.

## Lactone

د لکتیک اسیډ څخه یوه اروماتیکه مایع، دا یوه کرېزه عضوی ماده چې په هغه کې مولیکولی ځنځیر د کاربوکسیلی او هایدروکسیلی ګروپونو تر منځ د ایستری پیوندونو د جوړېدنې له لارې نږدې شوې دی.

## Lactorrhea

لاکټوریا ، د شیدو بهېدنې بهیر ، د (Lactorrhoea او

پکې یوه ښځه خپل ماشوم ته د شیدو تغذیه ورکوی .دا پروسه د (Prolactin) هورمون پذریعه د (Pituitary Gland ) غدې له لارې تنبه او د زېږون څخه تر درېیمې ورځې پورې تولیدېږي.

## Lacteal

د شیدو پورې اړوند صفت ، هغه لمفاوی کوچنۍ اوعیې چې د کولمو په ویلي (Villus ) کې لمفاوی مایع لېږدوی او د هضم پروسه کې ګډون کوی او شحم د خذب لامل کېږي.

## Lactescence

دشیدو په څېر .

## Lactic

دشیدو اړوند صفت.

## Lactic Acid

لکتیک اسیډ ، یو کېمیاوی مرکب فورمول یې ($CH_3$-CHOH-COOH) دئ چې په بدن د کاربوهایدرېتونو غېرهوازی میتابولیزم له امله تولېدېږي او همدغه راز ځینې باکتری ګانې یې د شیدو اغېزې په متېه تولیدوی او همدا راز په (شیدو ، پنېر ، ماستو ) کې شتون لری دا ماده د عضلی کرمپونو تولید لامل ګرځي.

## Lacticacidemia

په وینه کې د لکتیک اسیډونو دکچې غیرنارمل لوړوالې بلل شي.

## Lacticemia

په وینه کې د لکتیک اسیډونو دکچې غیرنارمل لوړوالې بلل شي.

## Lactiferous

د شیدو(لېږدونکی، تولیدوونکی ، افرازوونکی) .شیدوائیز ، د شیدو اړوند صفت بلل شي.

### - Lactiferous Duct

هغه نلکې او قناتونه چې په تیپونو کې شیدې لېږدوي.

### - Lactiferous Sinus

د شیدو سینوسونه ، د تیپونو د څوکې (Nipple حلیمې ) په قاعده برخه کې د هغه نلکې او قناتونوتوسع او غټېدل چې په تیپونو کې شیدې لېږدوی.

## Lactifuge

د شیدو د افراز نهی کوونکی ، هغه عامل چې د شیدو افراز بهیرپه ټپه ودروی.

## Lactigenous

د شیدوتولید .

(Galactorrhoea) په انډول.

## Lactose

لکټوز ، یو دای سکراید چې د تی لرونکو په شیدوکې موندل کېږي چې تجزیه یې د ګلوکوز او ګلګتوز د آزادېدو لامل ګرځي . د شیدو قند.

**- Lactose Intolerance**

د لکتوز د هضم نه زغمل ، د لکتیز انزایم د فقدان له امله د لکتوز عدم تحمل په ماشومانو کې لیدل شي او د هغه په وړاندې د نس ناستی په څېر رابرسېره کېږي.

**- Lactose Free Milk**

د لکتوز څخه پرته شیدې چې ځینو (Lactose Intolerance) ناروغیو کې ماشوم ته ورکوله شي.

## Lactiside

یو ډول ګلایکوزید چې قند یې لکتوز دئ.

## Lactosuria

په متیازو کې د لکتوز اطراح کېدل.

## Lactocylceramidosis

یو سفینګولیپیدوز چې په هغه کې په عصبي او حشوي نسجونو کې لکتوزیل سرامیدونه راغونډېږي چې دغه چاره د بېتا –ګلاکتوزید د کمښت لپاره منځ ته راځي.

## Lactotrope

د (Lactotroph ) په انډول.

## Lactotrophin

د ادینوهایپوفیز د حجرو له ډلو څخه یو چې پرولاکتین افرازوي.

## Lactovegetarian

هغه څوک خپل غذائي رژیم یې شیدې او اوبلن محصولاتو پورې محدود کړېوي.

## Lactulose

دا یو ډول دای سکراید مصنوعي ترکیب او جوړښت دئ چې د قند څخه د مسهل (Laxative ) په توګه جوړېږي دا د امونیا د اطراح بهیر چټک کوونکې په توګه او د کبدي انسفالوپتي په درملنه کې کارول شي.

## Lacuna

یوه کوچنۍ ژوره ، یو کوچنې تش منځې جوف ، په باصري ډګر کې د نیمګړتیا په څېر یو نیمګړتیا یا درز بلل شي ګڼه شمېره بڼه یې (Lacunae ) ده .

**- Absorption Lacuna**

د (Resorption Lacuna ) په انډول.

**- Bone Lacuna**

د هډوکی په زمینوی ماده کې یوه کوچنۍ ژوره چې د اوستیوسیټ پکې ځای لري لدې ژورې څخه د ګاونډیو ژورو ته کوچنی کانالونه غځېدلی دی پدې ډول سره چې هډوکیز پېچلې او جال ډوله سیستم منځ ته راوړي.

**- Cartilage Lacuna**

د غضروف په زمینوی ماده کې هر یوه کوچنۍ ژوره چې کاندروسیټونه پکې ځای لري او پراته دي.

**- Howship's Lacuna**

د (Resorption Lacuna ) په انډول .

**- Intervillous Lacuna**

د پلاسنتا د وینې فضأ ګانو څخه هره یوه جنیني ذغابي پکې موندل کېږي.

**- Lateral Lacuna**

جنبي لکونې،د پورتني سجیتال سینوس په هرې لورې کې د ډورامتېر دننه وریدي شبکه بلل شي.

**- Lacuna Magna**

د ( Navecullar Fossa) په انډول.

**- Osseous Lacuna**

د (Bone Lacuna ) په انډول.

**- Pharyngis Lacuna**

د اوستاشین تیوب په په حلقوي نهایت کې یوه ننوتلتیا .

**- Resorption Lacuna**

په هډوکی کې هغه زوره یا مېزابه چې د هډوکی د جذب بهیر تېرولو په جریان کې وی دغه سیمه معمولاً په زیات شمېر کې اوستیوکلاستونه لري.

**- Trophoblastic Lacuna**

د (Intervillous Lacuna ) پّه انډول.

## Lacunar

د (Lacuna) اړوند صفت .

## Lacunule

یوه ډېره کوچنۍ ژوره .

## Lacus

کوچنې سیندوکې ، کوچنې دریاب ، جهیل ، په سیند پورې تړلې.

## Lae-

دا یو مختاړې دئ او د (Le ) ورته معنی بشپړوي.

## Laënnec's Cirrhosis

دا یو ډول ناروغی ده چې د الکهولو له کبله د کبدي سیروزس (Alcoholic Cirrhosis ) منځ ته راتګ بلل شي چې لومړې ځل په کال (1826–1819) کې د فرانسوي طب عالم (René Théophile Hyacinthe Laennec ) پذریعه شرحه شو .

معنی بشپړوی.

## Lalation
د نوی زېږېدلو ماشومانو د خبرو ډول .

## -lalia
دا یو روستاړې دئ او خبرو یا خبروکولو اختلال معنی بشپړوی.

## Lalo-
دا یو مختاړې دئ ګونګوالې یا خبرې کولو ستونزې معنی بشپړوی.

## Laloplegia
د (Logoplegia) په انډول.

## Lalorrhea
چټکه غږېدا ، دخبروکولو پرمهال د خبرو چټک بهیر، تېزې خبرې کول.

## Lambda
د سر د کوپړۍ د لامبدوئید (Lambdoid Suture) او سجیټال (Sagittal) درزونو د پیوستون ځای. همدا رنګه د یونانی الفبأ یوولسم توری.

## Lambdoid
د یونانی الفبأ یوولسم توري او داسې بڼه لری لکه چې (V or y) توري چېه (λ) بڼه ولری .

**- Lambdoid Suture**
د کوپړۍ هغه افقی درز او پیوستون چې د (Parietal and Occipital Bones) هډوکو ترمنځ پېښ وی . د (Lambdoidal Suture) په انډول.

## Lambdoidal
د (Lambdoid) په انډول

**- Lambdoidal Suture**
د (Lambdoid Suture) په انډول

## Lamblia
د جیارډیا (Giardia) نوم دئ.

## Lambliasis
د جیارډیاله کبله پېښه ناروغی (Giardiasis) بلل شی، د (Giardiasis) په انډول.

## Lame
په لاره د نارمل تګ کولو کې ناتوانی ، نګوښېدل، د تګ د نارمل طرحې له درلودلو څخه د (درد ، شخی یا دپښو او قدم تخریب) له کبله د انحراف شتون بلل شی، ګوډ ګوډ تګ .

## Laetrile
دا د (L-man-deloni trile –β –Glucoronic acid) لپاره سوداګریز نوم دئ کوم چې د (Amygdalin) د هایدرولیز او د حاصله (L-man-delonitrile –β –Glucoside) د اوکسیډیشن څخه په لاس راځی چې د خباثت ضد اغېزې لری.

## Leave
له ذغابې پرته .

## Laevocardia
هغه حالت چې پکې د یوچا زړه په غېر نارمل ډول سره د زړه ذروه (Apex) په ښی لورې صدر ته متوجه وی .

## Lag
د یوه تحریک د راتلو او د غبرګون د پېښېدو تر منځ زمانی واټن ، په کرهنیز چاپیریال کې د یوې باکتریا د تلقیح څخه وروسته دوره کومه چې وده یا حجروی وېش پکې په ورو ورو توګه منځ ته راځی.

## Lagena
د غوږ دحلزونی مجرأ د پورتنۍ برخې یوه ټوټه ، په غېر تي لرونکو شمزیو (فقاریه) حیواناتو کې سامعوی غړې.

## Lageniform
فلاسک ته ورته .

## Lagophthalmos
په بشپړ ډول سره د سترګو په بندولو کې ناتوانی .

## Lake
د سرو کرېواتو څخه د هیموګلوبین د بېلېدو بهیر ، په یوه محفظه یا ژوره او جوف کې د مایع راټولېدنه، جهیل ، لوی ډنډ چې د وچې په ذرېعه محاط وی.

**- Lacrimal Lake**
د اوښکو جهیل ، د سترګې په منځ کې زاویه کې مثلثی ډوله سیمه چې د اوښکو د راغونډېدو ځای شمېرل کېږی.

**- Marginal Lake**
غېر تراو لرونکې وریدی فضأګانې چې تقریباً پلاسنتائی ذغابې نلری چې د پلاسنتا د څنډې – مورګې په څنګ کې واقع وی.

**- Subchorial Lake**
د پلاسنتا هغه برخه چې ذغابې نلری او د کوریونې پانې لاندې پرته ده.

## Lal-
دا یو مختاړې دئ ګونګوالې یا خبرې کولو ستونزې

## Lamella

دانساجو یوه نری او نازکه پاڼه ، یوه درملیزه پاڼه چې تر د سترګو لېمو لاندې د درملو تطبیق په موخه ښخوله کېږی ګڼه بڼه یې (Lamellae ) ده.

**- Circumfrencial Lamella**

یوه هډوکیزه طبقه چې د پریوسټ او انډوسیټ لاندې پرته ده .

**- Concentric Lamella**

د (Haversian Lamella) په اړوند .

**- Endosteal Lamella**

دهډوکي یوه طبقه چې د انډوسیټ لاندې پرته ده .

**- Ground Lamella**

د (Interstitial Lamella ) په اړوند.

**- Haversian Lamella**

یوه هډوکیزه پاڼه چې د متحدالمرکزه دایروی بڼه لری چې د هاورس مجرأ یې احاطه کړېده.

**- Intermediate Lamella**

د هډوکیزه پاڼو څخه هره یوه چې د هاورسی سیستمونو بېلوونکې پولې ډکوی.د (Interstitial Lamella ) په اړوند.

**- Vitreous Lamella**

د قاعدوی طبقې ( Lamina Basalis) په اړوند .

## Lamellar

د (Lamella ) اړوند صفت .

## Lamellipodia

د غه اصطلاح د سایتوپلازم هغه پاڼه ائیزې پراخی ښیي چې د حجرو لپاره لېږدېدونکی پیوستونونه منځ ته راوړی او یا هم حجرې ته د حرکت توان وربخښی .

## Lameness

دا دنورمال حرکت کولو اوتګ اړوند ناتوانی او اختلال دئ چې د (درد ، عضلی شخی او پښو او قدم تخریب) له امله منځ ته راځی.

## Lamina

یوه نری او نازکه پلنه پاڼه، تیغه ، لایك (طبقه) ، فلس ، فلسچه ، نری غشأیی صفحه ، پاڼیز شکله جوړښت ، د فقراتو اړخونو ته دخلفی قوس یوه برخه جوړښت ګڼه شمېره بڼه یې (Laminae ) بلل شی.

**- Basal Lamina**

د قاعدوی غشأ هغه طبقه چې د ګاوندی حجروی طبقې قاعدوی سطحې ته نېږدې پرته ده او دوه طبقې لری چې د ( Lamina Lucida او Lamina Densa ) څخه عبارت دی ، ټوټال قاعدوی غشأ ، د (Lamina Basalis ) په اړوند.

**- Lamina Basalis**

د رشیمی عصبی تیوب د طولانی دوه سیمو څخه هر یوه چې د نخاعی طناب بطنی ستون او د ماغزو حرکی مرکزونه ورڅخه منځ ته راځی.

**- Lamina Basilaris**

د حلزونی مجرأ خلفی دېوال چې دغه برخه له صماخ پوړی څخه بېلوی.

**- Bowman's Lamina**

د پښتورګو د بومن غشأ (Bowman's Membrane) په اړوند.

**- Lamina Chroidocapillaris**

د کوچنیو شعریوی رګونو ساده شبکې په ګډون د کروئیدی داخلی طبقه.

**- Lamina Cribrosa**

د (Fascia Cribrosa) په اړوند ،د ایتموئید(غربالی) هډوکی عرضانی پاڼه چې د پوزې بام جوړوی پرېمانه سوری لری چې شاموی اعصاب ورڅخه تېرېږی، د صلبیې سوری سوری برخه چې د شبکې د ګانګلیونی حجرو اکسونونه ور څخه تېرېږی.

**- Lamina Densa**

د (Basal Lamina )یو برخه جوړوی.

**- Elastic Lamina**

الاستیکه پاڼه . د (Bowman's Membrane) په اړوند .

**- Ethmoidial Lamina**

غربالی پاڼه ، د اپاندیمی حجرو څخه جوړه یوه طبقه چې کروئیدی طبقه پوښوی.

**- Lamina Lucida**

د(Basal Lamina) یوه برخه جوړوی .

**- Nuclear Lamina**

یوه بشپړه او کاملاً پېچلې شبکه چې د هستې د داخلی غشأ په هستوی اړخ کې پرته ده معلومېږی چې همدا طبقه د هستې بڼه ساتی.

## Lamina Propria

د مخاطی غشأ د منضم نسج طبقهچې رګونه او لمفاوی چینل لری ، د صماخی پردې منځنی فیبری طبقه ، د ( Lamina Lucida) په اړوند.

**- Lamina Rara**

د (Lamina Lucida ) په اړوند.

**- Reticular Lamina**

شبکوی طبقه ، د سږو الویولونو یا کلیوی ګلومیرولونو کې دغه طبقه د (Lamina Densa ) په دواړو اړخونو کې پرته ده .

**- Reticularis Lamina**

د هیالین د سوری سوری غشأ چې کورتی جسم غړی پوښی.

**- Rexed's Laminae**

د نخاعی طناب د جوړښــت د ډلبندی په موخه یوه طراحی شوې شیمأ چې په مغزو کې د توربخنې مادې د مختلفو برخو د هستولوژیکي تابلوګانو په اساس جوړېږی.

Mercury Vapor Lump) په انډول.

**- Merury Vapor Lump**

د (Mercury Arc Lump ) په انډول.

**- Quartz Lamp**

د (Mercury Vapor Lump ) په انډول.

**- Xenon Arc Lamp**

هغه څراغ چې د یو ډول طولي څپې لرونکي نورتولیدوي.

## Lamziekte

په سویلي (جنوبي ) افریقا کې د غوایانو مخصوصه ناروغي چې د حرکتي فلج له امله پېژندل کېږي او په کولستریډیوم بوتولیزم د ککړ هډوکو د استفادې او مصرف له امله منځ ته راځي.

## Lanatoside

د کارډیوټونیک ګلایکوزید چې د (Digitalis Lanata ) د پاڼو څخه لاسته راځي او د ډیجیټال درملو په څېر کارول کېږي.

## Lance

د (Lancet ) په انډول. د یوې دانې یا خراج ( Boil یا Abscess) لپاسه د زویو(قیح) د راویستلو په موخه د غوڅې ( پریکون) ترسره کولو کړنه .

## Lancet

لانسټ ، د دوه اړخه او لورو درلودونکې تېره چاړه چې په جراحي کې ترې کار اخیستل شي، کوچنۍ او تېره څوکه لرونکې چاقو / پترۍ چې دوینې د نمونې اخیستلو لکه د شکرې ټاکنې لپاره کارول شي.

## Lancinate

د یوشي یا یو څه د پرې کولو کړنلاره .

## Lancinated

څیرل شوې ، پرې شوې .

## Lancinating

د هغه درد اړوند صفت چې ډېر تېز او د غوڅولو په څېر وصف ولري.

## Landry's paralysis

ګولیان باري سندروم ( Guillain-Barré Syndrome) چې په (1826-1865) کالونو کې د فرانسوي عالم( Jean-Baptiste Octave Landry) پذریعه لومړی ځل شرحه شو .

## Landsteiner's Classification

دا یو ډول طبي ډلبندي او تصنیف دئ چې د ( ABO system) په سیستم کې کارول شي.

**- Lamina Spiralis**

یوه هډوکیزه غبرګه پاڼه طبقه چې مارپیچه بڼه لري او سامعوي حلزوني تاوراتاو کانال په دوه برخو (صماخي پوړۍ او دهلېزي پوړۍ ) باندې ویشي.

**- Terminal Lamina**

یوه نازکه پاڼه چپله تلانسفالون څخه مشتق کېږي او د مغز د دریم بطیم قدامي جدار منځ ته راوړي، د (Hypothalaus ) په انډول.

**- Lamina of Vertebra**

د فقرې خلف ته دواړه لورو ته نرۍ پاڼېزه برخې چې د قوس جوړوي او دپیوستون څخه یې د فقراتو اغزي ډوله بارزې لپاره بنسټ جوړوي، د (Lamina of Vertebral Arch ) په انډول.

## Lammergeyer

یو ډول ږیره لرونکې لاښي خوړونکې ځناور دئ، کرګس ، لا شخور، د (Lammergeier ) په انډول.

## Laminagraphy

د ( Tomography) په انډول.

## Laminaplasty

د فقري قوس د لمینا برخو بشپړ ډول غوڅول او په نخاع باندې د منځ ته راغلي فشار له منځ وړل او د دروازې ورته فضأ منځ ته راوړل.

## Laminar

د (Lamina) اړوند صفت .

## Laminectomy

دفقراتو د (Lamina Vertebra ) برخې بشپړ غوڅولو جراحي کړنلاره چې ورته د (Rachiotomy ) نوم هم ورکول شي ګڼه شمېره یې (Laminectomies ) بلل شي.

## Lamotrigine

هغه درمل چې د (Petit Mal Epilepsy ) حملاتو د کنټرول په موخه ورکول شي.

## Lamp

د (تودوخې حرارت یا نور) د پېښېدلو لپاره وسیله ، لامپه ( Bulb Light) هم ورته ویل شي ، څراغ (پلته لرونکې نفتي یا الکهولي څراغ ) ، څراغ (برېښنائي ، برقي یا ګازي) ،څراغ د پایې سره ، فانوس ، په پخوا کې (لمر ، سپوږمۍ او ستوري) ته ویل کېده .

**- Annealing Lamp**

د غاښ د ډکولو په موخه د سره زرو (طلا) د پاڼو د ګرمولو لپاره یو ډول الکهولي څراغ.

**- Mercury Arc Lamp**

هغه څراغ چې نوري قوس یې د سیمابو بخار جوړوي او په نور درملیز و طریقو کې ور څخه ګټه اخیستله کېږي، د (

## Langerhans' Cells
د پوستکي د بهرنۍ طبقې حجرې دی .

## Langer's Lines
لنګر کرښې ، د کولاجن پروټین رشتو داسې ترتیب او تنظیم چې د پوستکی د کریزونو (Creases ) برخې جوړوی پدغه برخه باندې جراحی شقونه تر سره کېږی او د نورو برخو د قطعې په پرتله چټکه او ښه توګه رغون مومی ورته (Cleavage Lines ) هم ویل شی.

## Lange Test
لانج آزماېښت ، هغه لابراتواری میتود چې په دماغی نخاعی مایع کې د ګلوبولین لېټون په موخه تر سره کېږی د لومړی ځل لپاره د جرمنی طبی عالم ( Carl Friedrich August Lange) پذریعه په (1912) شرحه شو.

## Lanolin
لانولین یوه وازدې ته ورته ماده چې د پسه له وړیو څخه په لاس راځی او په اوبو کې (% 30-25) په کچه ګډېږی دغه ماده د (اوبو او غوړو د ملحم) په توګه د وچ پوستکي غوړولو لپاره پکار وړله شی.

**- Anhydrous Lanolin**
یو ډول لانولین چې له (% 25) څخه زیاتې اوبه نلری .

## Lanoxin
د دیجوکسین محصولاتو لپاره سوداګریز نوم .

## Lanthanum
لنتانوم ، یو کېمیاوی عنصر دئ چې اټومی شمېره یې (57) او کیمیاوی لنډه نښه یې (La) ده.

## Lanugo
د جنین یا نوزاد ( Fetus یا Newborn ) پرمخ نری او نازک ویښتان ، هغه نرم او نری ویښتان چې د کاهل کس د بدن لپاسه پراته وی پرته د (لاس ورغوی، پښې تلی او هغه برخې چې اوږده ویښتان لری ) بلل شی.

## Lapar-
دا یو مختاړې دئ او د ( اړخ ، ګېډې ،ګېډې د ښکته برخې-Laparo) معنی بشپړوی .

## Lapara-
دا یو مختاړې دئ او د ( اړخ ، ګېډې ،ګېډې د ښکته برخې-Laparo) معنی بشپړوی .

## Laparascope
د ګېډې دپریتوانی جوف د کتنې لپاره یو ډول انډوسکوپیک وسیله بلل شي.

## Laparascopy
د ګېډې د پرېتوانی جوف کمره درلودونکې وسیلې انډوسکوپ پذریعه د لاپراسکوپ په مرسته د پریتوانی جوف دننه محوطې د کتنې کړنلاره .

## Laparatomy
د ګېډې لپاسه دګېډې وازولو د جراحی عملیات تر سره کول

## Laparo-
دا یو مختاړې دئ او د ( اړخ ، ګېډې ،ګېډې د ښکته برخې-Lapara) معنی بشپړوی .

## Laparosalpingostomy
د بطنی شق له لارې د رحمی تیوب دننه ته د یوه منفذ منځ ته راوړل او جوړولو جراحی کړنلاره .

## Laparoschisis
لاپروسکېزیس ، دا یو ډول له موره زېږېدلې انومالی او نیمګړې وده ده چې د ګېډې قدامی جدار د نامه غوټۍ ښی اړخ ته د سُروی کړۍ بهر ته منځ ته راځی چې د دا نیمګړتیا [ Size (≤5 cm) ] اندازه لری او جلدی پوښ نلری او ورڅخه کولمې بهر ته راوتلې وی چې یوه جراحی بېړنۍ پېښه ده د (Paraomphalocele او Abdominoschisis ) په انډول.

## Laparoscope
د لاپراسکوپ په مرسته د پریتوانی جوف دننه محوطې د کتنې لپاره انډوسکوپیک وسیله چې ورته (Peritoneoscope) هم ویل شی.

## Laparoscopic
د لاپراسکوپ ( Laparoscope یا Peritoneoscope) اړوند صفت .

**- Laparoscopic Surgery**
د لاپراسکوپ پذریعه د جراحي عملیې تر سره کولو کړنلاره چې ورته (Keyhole Surgery ) هم وایي.

## Laparoscopy
د ګېډې د پرېتوانی جوف کمره درلودونکې وسیلې انډوسکوپ پذریعه د لاپراسکوپ په مرسته د پریتوانی جوف دننه محوطې د کتنې کړنلاره ده همدا رنګه (Peritoneoscopy) هم بلل شی او ګڼه شمېره یې (Laparoscopies) ده.

د رامنځ ته کېدو لامل ګرځي چې وروسته تر هغه د شبکیې له رنې او شفافه راوتلتیا څخه د شبکیې تر پراخه جلا کېدو پورې پېښې منځ ته راځي.

**- Larva Migrans Viscera**

د هغه حالت شتون چې د انسان د بدن په نسجونو کې (پرته له پوستکي) د فیتوي چینجیانو د لاروا اوړدمهالي مهاجرت له امله منځ ته راځي او غوره لامل یې (Toxocara Canis / Toxocara Cati) دي.

## Larval

لاروائي ، د لاروا پورې تړلې .

## Larvate

پټ شوې ، مخفي ، دغه اصطلاح د یوې پټې ناروغۍ د د نښو لپاره پکارو وړل شي، په لاروا پاندې اوښتې حالت .

## Laryng-

دا یو مختاړې دئ او د [حنجري (- Laryngo ) ] معنی بښپړوي.

## Laryngeal

د حنجرې ړوند صفت دئ .

**- Laryngeal Cartilage**

د حنجرې غضروفونه.

**- Laryngeal Cords**

د حنجرې حبولونه ، حنجرې تارونه.

**- Laryngeal Inlet**

د حنجرې د ننوتلو لارې یا خولې برخې ته ویل چې د صوتي حبولو له لاریفرینګس لارینګو څخه توتکۍ ( شزن Trachea ) لاره مومي.

**- Laryngeal Prominence**

د حنجرې برجسته او وتلې برخه چې (Adam's Apple ) هم بلل شي.

**- Laryngeal Reflex**

د حنجرې عکسه چې په یو چا کې ټوخې منځ ته راوړي.

**- Laryngeal Spasm**

د حنجرې عکسوي ډول سپزم چې د ځینو اجنټونو په وړاندې د غبرګون په بڼه منځ ته راځي.

## Laryngectomy

د جراحي پذریعه د حنجرې برخې قطع کول او راویستلو کړنلاره بلل شي چې د ستوني په ناسور ( Throat Cancer ) درملنه کې تر سره کېږي ګڼه شمېره یې (Laryngectomies ) بلل شي .

## Larynges

د حنجرې (Larynx) ګڼ شمېر بڼه ده .

## Laparotomy

لاپروټومي ، د ګېډې لپاسه دګېډې وازولو د جراحي عملیات تر سره کول ګڼه شمېره یې (Laparotomies ) بلل شي.

## Lapinization

د سوځېدلې بدن د پرلپسې ډول د انتاني لامل ټاکنې تلقیح کول تر څو اړوند رنځ پېښېدنې او ځانګړنو بدلون او واکسین جوړ کړل شي.

## Lard

د خوګ (سرکوزی ) د ګېډې دننه راټوله شوې وازده ، د خوګ غوړ ، دخوك ځربې ،په غوړو غوړول ، ګریس کاريکول ،پستولو او غوړولو کړنه .

## Large

لوی ، غټ ، ستر ، ډېره اندازه.

**- Large Intestine**

غټې کولمې ، د هضمي کانال یوه برخه چې (سیکوم ،صاعده کولون ، مستعرض کولون ، سګموئید کولون او ریکوم) پکې شامل دئ.

## Lariam

د (Mefloquine Hydrochloride) لپاره سوداګریز نوم دئ ،

## Lariotid

د اموکسي سیلین د محصولاتو سوداګریز نوم دئ.

## Larva

لاروا ، د یوه ژوي د ژوندانه په کړۍ کې یوه تکاملي مرحله چې د خپلواکۍ او تحریک ځانګړنې لرې لکه و فیتوي چینجیو کله چې د حیوان پذریعه وخوړل شي په لاروا باندې اوښتنه کوی ګڼه شمېره یې (Larvae ) بلل شي.

**- Larva Currens**

د کډوالې (مهاجر) لاروا ناروغۍ، چې د ( Strongyloides Stercoralis) پواسطه منځ ته راځي او خطي ضایعات یې په چتکۍ سره پرمختګ کوي.

**- Larva Migrans**

د کډوالې (مهاجر) لاروا ناروغي چې یو ډول ګڼ شمېر (رشتوي ډوله ، خارښت لرونکې ، سور رنګه ویزیکولر یا پپولر دانې ) چې د پوستکي پرمخ لیدل کېږي او د کړیز (فیتوي) چینجیانو د لاروا پواسطه د تونلکیندونکو له امله منځ ته راځي .

**- Larva Migrans Ocular**

د ( Toxocara Canis / Toxocara Cati) د لاروا په ذریعه د سترګې منتن کېدنه چې بنائي د (کروئید شبکه ، شبکیه او زجاجیه جسم ) کې ولیدل شي ، دلاروا مرګ چې د یو ډول ګرانولوماتوز غبرګون

## Laryngismal
د حنجرې د سپزم (شخی Laryngismus ) اړوند صفت .

## Laryngismus
د حنجرې د سپزم او شخۍ حالت .

**- Laryngismus Paralyticus**
فلجی حنجري سپزم ، د ( Roaring) په انډول .غربدونکې – غلغله ئی حنجره ، شورماشور غږ لرونکی حنجره .

**- Laryngismus Stridulus**
د سخت تنفس او سیانوز سره مل د حنجرې تخریش او ناڅاپه سپزم حالت لکه په ماشومانو کې د (Croup ) ناروغی.

## Laryngitis
لرینجیټ ، د حنجرې التهابی ناروغۍ .

**- Acute Laryngitis**
حاد ډول د حنجرې التهاب .

**- Atrophic Laryngitis**
ضموری لرینجیټ ، یو ډول لرینجیټ چې د مخاطی غشأ د غدواتو ضمور سره مل وی.

**- Chronic Catarrhal Laryngitis**
مزمن کتارال لرینجیټ چې ډېره شدیده بڼه لری.

**- Chronic Laryngitis**
د مزمن التهابی ناروغیو لرونکې لرینجیټ.

**- Subglottic Laryngitis**
د غږ تارونو (صوتی حبولونو) د لاندې سیمو التهاب.

## Laryngitic
د لرینجیټ (Laryngitis) اړوند صفت.

## Laryngo-
دا یو مختاړې دئ او د حنجرې (ږغ دبلی ، د غږ صندق ) معنی بشپړوی.

## Laryngocele
یوه غېر نارمل هوائي کڅوړه چې په ولادي ډول شته والې لری او د حنجرې له محفظې سره تړاو لری ځینې وختونه دغه کڅوړه د غاړې په جدار کې په راوتلې بڼه لیدل کېږی.

## Laryngofissure
هغه جراحی شق چې د حنجرې د وازولو په موخه د ( Thyroid cartilage) له لارې تر سره کېږی. د ( Median Laryngotomy) په انډول.

## Laryngography
د حنجرې راډیوګرافی تر سره کول.

## Laryngologist
هغه ډاکټر چې د حنجرې اړوند ناوغیو متخصص وی.

## Laryngology
هغه علم چې د( ستونی ، حنجرې او صوتی حبولو ) اړوند ناروغیو (پېژندنې ، درملنې ، لاملونو ) په هکله د څېړنو څخه بحث وکړی.

## Laryngomalacia
لرینګوملاسیا ، د حنجرې د فلج او پوستوالی حالت شتون چې د ساکښلو پرمهال ستونزې پېښوی او د دوه کالو عمر څخه ښکته ماشومانو کې منځ ته راځی.

## Laryngopathy
د حنجرې هر ډول ناروغی چې وی.

## Laryngopharyngeal
د بلعوم او حنجرې دواړو اړوند صفت.

## Laryngopharyngectomy
د بلعوم او حنجرې دواړو په ګډ ډول غوڅولو او راویستلو جراحی عملیه بلل شی.

## Laryngopharynx
د بلعوم هغه برخه چې د اپې ګلوت د پورتنې ژۍ او د (HyoidBone) تر هډوکی ښکته واقع ده او د حنجرې او مرۍ داخل ته پرانیستله کېږی .

## Laryngophony
د غږیز تارونو د حرکت څخه زېږنده غږ چې د حنجرې په اصغأ کې اورېدل کېږی.

## Laryngoplasty
د حنجرې د بېلابېلو پلاستیک جراحی عملیاتونو تر سره کول.

## Laryngoplegia
د حنجرې فلج ، د حنجرې ګوزڼ.

## Laryngoptosis
د حنجرې سقوط ، د حنجر ې لوېدل چې ځینې وختونه په زړو عمر لرونکو کې لیدل شی.

## Laryngorrhinology
هغه علم چې د (پوزې ، حنجرې ، ستونی ) ناروغیو(پېژندنې ، مخنیوی ، درملنې ) اړوند څېړنې ترسره کوی.

## Laryngoscope
هغه وسیله چې د هغه پذرېعه د حنجرې کتنه تر سره کېږی.

## Laryngoscopic
د (Laryngoscopy ) اړوند صفت.

## Laryngoscopy
د (Laryngoscope ) پذرېعه د حنجرې دننه فضأ د کتنې

## Laryngoxerosis

د حنجرې وچوالي ، وچه بڼه لرونکې حنجره.

## Larynx

حنجره ، د غږ تولیدوونکې غړې ، چې ورته (Voice Box)
هم ویل شی دا برخه غړې د بلعوم او شزن تر منځ پروت
دئ او پکې صوتی حبول او نه عدده غضروفونه لری په
ګډه ډول د غږ په جوړېدو کې مهم رول لری ګڼه بڼه یې (
Larynges یا Larynxes ) بلل شی.

## Laser

لایزر ، هغه ماشین چې د مونوکروماتیک وړانګو د غبر
متباعدو او کوچنیو ګېډیو په بڼه مختلف فریکانس او
زیات شدت لرونکی نور منځ ته راوړی چې ډېر زیات
ځواک یا تودوخه لرلای شی لدې خخه په جراحی
تشخیصی او تجربوی څېړنو طریقو کې ګټه پورته
کېږي.

**- Argon Laser**

هغه لایزر چې فعاله ماده یې آیونایزی ارګون دئ او شین آبی رنګ
لري.

**- Carbon – dioxide Laser**

هغه لایزر چې فعاله ماده یې کارن دای اکساید دئ چې (10600)
نانومتر څپه ائیز طول لرونکي تحت قرمز وړانګې تولیدوی
دغه لایزر د جراحی په مهال د نسجونو د غوڅولو لپاره
پکارېږي .

**- Dye Laser**

هغه لایزر چې فعاله ماده یې یو عضوی رنګ دئ د باصری
طیف په محدوده کې شاملې دی.

**- Excimer Laser**

هغه لایزر چې فعاله ماده یې هلوجنی ګازونه دی او وړانګې یې
د مأورا بنفش طیف کې ونډه لری دغه لایزر په ناڅیزه ژوروالی
سره نسجونه سوری کوی لدې امله د سترګې په جراحی او
انجیو پلاستی ګانو کې پکارېږي .

**- Helium- neon Laser**

هغه لایزر چې فعاله ماده یې آیونایز ی نیون او هیلیوم دئ او
سور رنګه وړانګې یې د لیدلو وړ دی .

**- Krypton Laser**

هغه لایزر چې کریپتونی فعاله ماده لری چې د برېښنائی بهیر
پواسطه آیونایز کېږي او وړانګه یې ژېړ- سور رنګ لری .

**- KTP Laser**

هغه لایزر چې. وړانګه یې د نیوډیمیوم پواسطه منځ ته راځی د
(YAG) لایزر د پوتاسیوم تیتانیل فاسفیت له بلور څخه تېرېږي
او شین رنګه وړانګې ایجادوی.

کړنلاره بلل شی ګڼه بڼه یې (Laryngoscopies ) ده .

## Laryngospasm

حنجری سپزم ، د حنجرې د عضلاتو ناڅاپه شخې او
سپزم چې حنجره سمدلاسه تړی.

## Laryngostenosis

د حنجرې د لومن تنګوالي ، د حنجرې تضیق .

## Laryngostomy

لرینګوستومی، د غاړې په برخه کې حنجرې غوڅولو
کړنلاره تر څو یوه خوله پکې جوړه کړل شی ګڼه شمېره
یې د (Laryngostomies) پنامه یادېږي.

## Laryngotomy

لرینګوټومی ، د حنجرې څیرل ، په بېړنۍ توګه د غاړې
په برخه کې حنجرې غوڅولو کړنلاره تر څو یوه خوله
پکې جوړه کړل شی او منځ ته راغلې بندښت له منځه
یوړل شی همدارنګه ګڼه شمېره یې د (Laryngotomies )
پنامه یادېږي.

**- Inferior Laryngotomy**

ښکته (سفلی) لارینګوټومی چې د کریکوتایروئید غشأ له لارې
تر سره کېږي.

**- Median Laryngotomy**

منځنۍ (متوسط) لارینګوټومی چې د کریکوتایروئید غضروف
له لارې تر سره کېږي.

**- Superior Laryngotomy**

پورته (علوی) لارینګوټومی چې د کریکوتایروئید غشأ له لارې
تر سره کېږي.

## Laryngotracheal

د حنجرې او شزن اړوندصفت.

**- Laryngotracheal Stenosis**

د حنجرې او شزن تضیق/ تنګوالي .

## Laryngotracheitis

د حنجرې او شزن ګډ ډول التهاب .

**- Avian Laryngotracheitis**

د چرګانو یو ډول ځانګړې ناروغی چې د تنفسی ډیسترس او
وینه لرونکې خراشکې( دموی خلط )په مرسته پېژندل شی.

**- Subhyoid Laryngotracheitis**

د (Avian Laryngotracheitis ) په اند ول.

## Laryngotracheobronchitis

د حنجرې ، شزن او سږو قصباتو ګډ ډول التهاب .

## Laryngotracheotomy

د حنجرې او شزن د غوڅولو جراحی کړنلاره .

**- Laser Laparoscopy**

دلایزر پذریعه د لاپراسکوپیک جراحی کړنلاره تر سره کول.

**- Neodymium :yttrium –alumnium – garet (Nd:YAG ) Laser**

هغه لایزر چې د ( Yttrium - Alumniumاو Garet) د بلور څخه جوړه ده چې وړانګه یې ماتحت قرمز ته په نېږدې طیف کې پرته ده .

**- Potassium Titanyl Phosphate Laser**

د (KTP Laser ) په انډول.

**- Laser Probe**

د لایزر فلزی پروب (Metal Probe ) څخه کاراخیستل چې بدن ته داخلیږی او د تړلی شریان بندښت پرې وازېږی.

**- Laser Surgery**

د لایزر د پکارولو څخه د جراحی کړنلاره تر سره کول دی چې تومورونه پرې رایستل کېږی او رګونه وازېږی او د لنډ والې اصلاح تر سره کېږی.

**- Laser Therapy**

د لایزر د پکارولو پواسطه درملنیزه کړنلاره تر سره کول دی.

## Lasix

د (Frusemide ) لپاره سوداګریز نوم دئ مدرر درمل دی.

## Lassa Fever

دا ډېره شدېده انتانی او وژونکې ویروسی ناروغی ده چې په سویلی افریقا کې لیدل شی (شدید درد ، د خولې قرحات ، تبه ) منځ ته راوړی لومړې ځل په نایجریا کې راپور شوه.

## Lassar's Paste

هغه ملحم چې د زینک څخه جوړېږی او د اکزیما په درملنه کې پکارېږی د جرمنی درماتولوژست ( Oskar Lassar) پذریعه په (1849–1907) کې جوړ او استعمال کړل شو.

## Lassitude

ستړیا ، کمزورتیا ، انحطاطی حالت.

## Lata

دا د اناټومی له پلوه د (Fascia Lata ) لپاره کارول‌ه شی.

## Latency

غیر فعالوالی دوره ، اخفائی دوره ، د تحریک د پېښېدنې او ځواب د پیل تر منځ زمانی واټن .

## Latent

مخفی ، پټ ، هغه ناروغی چې په بدن کې شتون لری خو نښې نښانې نه څرګندوی.

**-Latent Diseases**

مخفی او پټې ناروغی.

**-Latent Period**

مخفی دوره ، مخبره دوره چې د ځینوناروغیو تر راڅرګندېدو پورې بلله شی.

**-Latent Viral Infection**

مخفی ویروسی انتانات .

## Latentiation

مخفی کېدا ، د پټېدلو بهیر ، په فارمکولوژی کې د یوه فعال مرکب / درملو د کیمیاوی خواصو بدلون او په بدن کې د هغه د خپرېدلو په ډول او د جذب په کچه اغېز ښندل او بیا فعاله کېدو حالت ته د دغه اصطلاح نوم ورېخښل کېږی.

## Lateral

جنبی ، اړخیز ، وحشی ، هر هغه څه چې له متوسط کرښې څخه لېرې واقع شوې ، د بدن د یوې لورې پورې اړوند .

**-Lateral Aspect**

جنبی منظره ، هغه ډول ښکاره کېدونکې منظر چې له یوه اړخه ښکاری ، د (Lateral view ) په انډول.

**-Lateral Epicondyle**

وحشی اپیکاندیل ،د لېچې بند د مټ ( عضدHumerus ) هډوکی اړوند وحشی وتلې ګردی برخه د (اپیکوندیل ) پنامه یادېږی .

**-Lateral Eepicondyle of the Humerus**

د عضد وحشی اپیکانډیل .

**-Lateral Epicondylitis**

وحشی اپیکاندیل التهاب ، د (Tennis Elbow ) په انډول.

**-Lateral Fissure noun a**

جنبی درز ، وحشی فیسور ، هغه ژوره برخه چې هر یو دماغی نیمکرې په اوږدو پرته ده.

**-Lateral Malleolus**

جنبی مالیول ، د شظیې (Fibula ) هډوکی د پایلې برخه چې د پښو د خنګری(قدم Ankle ) بند برخې څخه بهر ته راوتلې ښه لری.

**-Lateral View**

جنبی یا وحشی منظره ، د (Lateral Aspect ) په انډول.

## Lateralis

د وحشی یا جنبی (Lateral) په انډول .

## Laterality

لېوالتیا ښودنه ، جنبیت ، وحشیتوب ، د هغه غړو د کارونې څخه په ګټه اخیستلو لورې لېوالتیا لرل چې له

حرکی پلوه د شخص تر زیاتې اندازې دشخص تر اغېزې لاندې وی.

**-Crossed Laterality**

د بدن په هغه بل لورې غړی څخه ګټه اخیستنه کې ارجحیت چې له حرکی پلوه د شخص تر زیات کنترول لاندې وی.

**-Dominant Laterality**

د (Lateral Dominance) په اند ول.

## Laterally

جنبی ، وحشی ، اړخیز .

## Latero-

دا یو مختاړې دئ او د ( لېوالتیا ،اړخ ،وحشی ، جنبي ) معنی بشپړوی.

## Lateroduction

هر لورې ته د یوې سترګې حرکت کول .

## Lateroflexion

یوې لورې ته کږېدل ،جنبی قبض حالت.

## Laterotorsion

هر لورې ته د یوې سترګې د عمودی محور څرخېدل او تدور کول.

## Lateroversion

یوې لورې ته کږېدل ، جنبی قبض حالت ، غېر نارمل تاوېدنه.

## Latex

یوه غلېظه او نښلېدونکې عصاره چې د ځینې نباتاتو پذرېعه افرازېږی لکه د ( کائوچو ونه او د خاشخاش بوټي ) ، د نباتاتو اومه سپین رنګه شیره ، اوبلنه الاستیك اومه (خامه) ماده .

## Lathyrism

یوه وژونکې ناروغی ده چې د( شخ ډول پاراپلېجی ، درد ، هایپرستېزیا او پاراستېزیا) په متېه پېژندل شی او د ( Lathyrus ) په کورنۍ پورې اړوند بوټو د دانو د بېدرېغه کارولو له امله منځ ته راځی .

## Lathyritic

د (Lathyrism ) اړوند صفت .

## Latissimus

تر ټولو پلن ، په اناټومی کې یو پلن او پانېز جوړښت ته ویل شی

**-Latissimus Muscle**

د بدن درې کنجه (مثلثی) ډوله پلنه عضله.

**-Latissimus Dorsi Muscle**

د بدن درې کنجه (مثلثی) ډوله پلنه عضله چې د ګېډې د قطنی (Lumbar ) او د صدر ښکته برخه پوښوی .

## Latrodectism

د (Latrodectus) د جنس د غڼو په زهرو پورې اړوند مسمومیت.

## Latrodectus

د (Latrodectus. Mactans ) په ګډون د زهرجنو غڼو یو جنس چې چیچل یې ډېر شدېدې نښې خطرناکې پایلې او حتی مرګ منځ ته راوړی.

## LATS

د درقی غدې اوږد مهالی پارونکې اغېز لرونکې درمل ( Long –Acting Thyroid Stimulators ) لنډه نښه ده.

## Latus[1]

پراخ ، پلن ، سورور جوړښت .

## Latus[2]

یو اړخ یا یولورې .

## Laudanum

د الکهولو او اپین ( Alcohol + opium ) ګډ جوړښت چې د معمولاً د درد له منځه وړلو په موخه پراخه پیمانه کارول شی.

## Laughing Gas

خندونکې ګاز ، خندا راوستونکې ګاز ، نایترس اوکساید ګاز ، د (Nitrous Oxide ) په اند ول.

## Laurate

د لوریک اسیډ (ایستر ، انیونی ،مالګیزه) بڼه .

## Lauric Acid

لاوریک اسیډ ، دوولس کاربونی مشبوع شحمی اسیډ چې ګڼ شمېر نباتی وازدو کې موندل کېږی.

## Lavage

مینځل، پرېول ، شستشو، وینځل ، د اوبو په مرسته د یوه غړی مینځل لکه د (معدې ، سترګې ، ګېډې جوف) برخو په څېر .

## Law

قانون ، یو ثابت او نه بدلېدونکې اصل، لارښود اصل.

**-Allen's Law**

هر څومره چې د نارمل کس پواسطه د قندی مادې د کارونې کچه زیاته شی د قندی موادو څخه د بدن د ګټې اخیستنې کچه به هم ډېره شی خو په خواږه دیابټ کې دا ډول حالت نشته دئ.

**-Mendel's Law**

د ګریګور منډل قانون ؛ د منفردو جینونو په وراثت کې دوه قانونه چې جنیتیک بنسټ جوړوي او د (Segregation ) قانون او د (Independent Assortment ) قانون پکې ونډه لري، د (Mendelian Law) په انډول.

**-Nysten's Law**

مرګوني جمود چې لومړۍ ژوونکي عضلې او بیا د غاړې او مخ عضلات ورسته تر هغه د لاسونو او په پای کې لاندېنیو غړو عضلات نیسي.

**-Ohm's Law**

د یوه برېښنائی بهیر توان د برېښنائی حرکی ځواک سره مستقیمه او له مقاومت سره معکوسه اړیکه لري .

**-Raoul's Law**

د کنګل کېدو د ټکي په اړوند (د یوه محلول د کنګل کېدوټکی د رالوېدو / راټیټېدو کچه په هغه محلول کې د منحله مادې په غلظت) پورې تړاو لري . د یوه اوبلن محلول ځخه تېښتېدونکې یوې مادې د بخارفشار په خالصه بڼه د هغه مادې دبخار په فشار کې د هغې د مولیکول کسر د ضرب له حاصل سره انډول دئ.

**-Law of segregation**

د الیلي جینونونه د یوې جوړې دوه غړي یو له بل ځخه بېلېږي او هر یو جنسي حجرو ته ځي .

**-Law's of Thermodynamics**

د ترمودینامیک قانونونه چې عبارت دي له :

صفري قانون؛ هغه دوه سیستمونه چې یو له بل سره په حرارتی انډول کې ځای لري یو له بل سره تودوخیز (حرارتی) مساوات لري . لومړي قانون ؛ په هر بهیر کې انرژی مصرفیږي.
دوهم قانون : تل په نارمل بهیرونو کې یو ډول انتروپي شتون لري.درېیم قانون ؛ مطلق صفر هیڅ کله په لاس نشي راتلای.

## Lawrendcium

یو کېمیاوی عنصر چې اټومی شمېره یې (1.3) او لنډه کېمیاوی نښه یې (Lw) ده .

## Laxative

مسهل ، ملین ، د قبضیت ضد درمل چې د غولو (ډګو متیازو- غایطه موادو ) د نرمښت او پستولو اړوند استعمالېدونکې ماده ده چې د کولمو حرکت ته زیاتوالي وربخښي لکه د (Bisacodyl ) چې د کولموحرکتونه زیاتوی او (Lactulose) چې د کولمو په لومن کې د مایع ډنډېدل منځ ته راوړي دغه موادوته د (Purgative ) نوم هم ورکول شویدي.

**- Bulk Laxatives**

یو ډول استعمالېدونکې مسهل ماده ده چې د غایطې حجم د کولمو حرکت ته زیاتوالي وربخښي ، د (Bulk-Forming) په انډول.

**-All- or-None Law**

د ټول ټال (کامل، بشپړ) یا هیڅ قانون .

**-Beer's Law**

په سپکتروفوتومتری کې کې د یوه محلول په واسطه د رڼا جذب چې د منحله مادې په غلظت او هغه واټن پورې تړاو لري چې نور یې باید محلول ته تر رسېدو پورې ووهي .

**-Boyles Law**

د تودوخې په یوه ثابته درجه کې د یوه ګاز حجم له فشار سره معکوسه او فشار له حجم سره معکوسه اړیکه لري .

**-Charles' Law**

په یوه ثابت فشار کې د یوه ګاز حجم د تودوخې درجې سره مستقیمه اړیکه لري .

**-Law of Conservation of Energy**

په هر سیستم کې د انرژی کچه تل ثابت پاتې کېږي ؛(انرژی نه تولیدېږی او نه له منځه ځی) یوازې له یوه بڼې ځخه بلې بڼې ته اوړي.

**-Law of Conservation of Matter**

په هر کېمیاوی تعامل کې (اټومونه نه تولیدېږی او نه له منځه ځی) یا په بله ژبه په هر سیستم کې د کتلې کچه ثابت وی .

**-Dalton's Law**

د ګوګازونو د مخلوط ځخه زېږنده فشار په یوازې سر د هغوی له ډلې ځخه د هریوه هغه د فشارونو له مجموعې سره انډول لري.

**-Farensic Medicine Law**

د عدلی طب قانون ؛ د عدلی طبی چارو پرمخ بیوولو اړوند قانون چې پکې ګڼ شمېر طبی لارې چارې د قانون په څېر سمبال شوې بڼه لري.

**-Hellin's Law**

په هرو (89) بلاربښتونو کې یو غبرګوني زېږون په هر {( 89x 89) 7921} بلاربښتونو کې یو درې ګوني زېږون او په هروا (89x 89x 89) 704969 ] بلاربښتونو کې یو څلورګوني زېږون شتون لري ، د (Hellin's- Zeleny Law ) په انډول.

**-Henry's Law**

په یوه مایع کې د یوه ګاز د انحلالیت کچه د ګاز په نسبی قشار پورې تړاو لري .

**-Law of Independent Assortment**

غېر الیلی جینونه په ګامېټونو کې په خپلواک ډول خپرېږي.

**-Medical Law**

د طب قانون ؛ د طبی چارو پرمخ بیوولو اړوند قانون چې پکې ګڼ شمېر طبی لارې چارې د قانون په څېر سمبال شوې بڼه لري، د (Medicine Law ) په انډول.

**-Medicine Law**

د طب قانون ؛ د (Medicin Law ) په انډول.

- **Compact Layer**

په اندومتر کې سطحی تر ټولو نږدې طبقه چې د رحمی غدو غاړې پکې ونډه لری.

- **Enamel Layer**

د مینا دجسم د دوه جدارونو څخه هر یو ؛ داخلی محدب دېوال او بهرنې مقعر دیوال (جدار) .

- **Functional Layer**

د اندومتریوم د تخته او اسفنجی دوه طبقو مجموعه چې حجرې یې د حیض په بهیر کې رابېلیږی او توئیږی.

- **Ganglionic Layer of Cerebellum**

د ( **Purkinge Layer**) په انډول .

- **Germ Layer**

په رشیم کې د اولیه حجر حجروی دریو طبقو (اکتودرم ، اندودرم او میزودرم ) څخه هریوه چې د بدن نسجونو او غړی ورڅخه جوړېږی.

- **Germinative Layer**

د ( **Malpigian Layer**) په انډول.

- **Granular Layer**

حبیبوی طبقې ، داپی درم د طبقو څخه یوه د شفافیه حجرو او شوکی حجرو د طبقو په منځ کې پرته ده، د فولیکولی حجرو طبقه چې د تخمدان د وزیکولی فولیکولونو په سر ځای لری ، د مخیخ په قشر کې تر ټولو ژوره طبقه ، دمغزو د قشر له دوه طبقو څخه هره یوه چې پخوا بهرنی یا دننی طبقې په نوم یادېدله ، د شاموی پیاز د دوه طبقو څخه هر یوه.

- **Henle's Layer**

د ویښته فولیکول د داخلی پوښ بهرنې طبقه.

- **Horny Layer**

تقرنی طبقه ، د اپی درم تر ټولو بهرنی طبقه چې مړې او د توئیدو په حال حال کې حجرې پکې ونډه لری .

- **Malpighian Layer**

د اپیدرم د قاعدې طبقې حجرو او شوکی حجرو د دوه طبقو مجموعه.

- **Mantle Layer**

د اولیه عصبی تیوب د جدار منځنې طبقه چې اولېه عصبی حجرې پکې ونډه لری وروسته له مرکزی عصبی سیستم توربخنه ماده منځ ته راوړی .

- **Odontoblastic Layer**

د غاښ د عاج سره په تماس کې د اوداتتوبلاستونو اپیتلوئیدی طبقه.

- **Purkinje Layer**

د پُرکنج طبقه ، د پُرکنج د نیورونونو طبقه چې د ماغزو د قشر د داخلی ګرانولر طبقې او د بهرنی مولیکولی طبقې په منځ کې واقع ده، د (**Purkinje Cell Layer** ) په انډول.

- **Contact Laxatives**

یو ډول استعمالېدونکې مسهل ماده ده چې د کولمو حرکت فعالیتونو ته زیاتوالې وربخښی .

- **Lubricant Laxatives**

یو ډول استعمالېدونکې غوړین مسهل ماده ده چې د غایطې مواد نرموی او ورته د تېرېدولو آسانتیوی برابروی.

- **Saline Laxatives**

مالګین مسهل ، یو ډول استعمالېدونکې مسهل ماده ده چې دا محلول د (د آزموسیس فشار باندې اغېزه کوی) او د کولمو دننه ته د مایع ننوتلو زمینه مساعدوی کولمو اشتدادی حرکتونو ته زیاتوالې وربخښی .

- **Stimulant Laxatives**

منبه مسهل چې یو ډول استعمالېدونکې مسهل ماده ده چې د کولمو حرکت فعالیتونو ته زیاتوالې وربخښی .

## Laxator

ملین ، مسهل ، نرې کوونکې عامل ( ملین دارو) چې نرموونکې او سستکوونکې استرخائې او سهل کېدنې لامل ګرځی.

## Laxity

نیمه ننوتلتیا ، د یوه بند / مفصل د عنصرونو شل کېدنه. ملینت ، آسانی کېدنه ، سست کوونه ، تسامح ، بې بند و باری ، بې قیدی ، سستې.

## Layer

پاڼه ، پوښ ، طبقه ، رج ، لایه، کېښودونکې ( قرار نیوونکې) ، رده ، چینه ، ورقه ، قشر .نسجی پاڼه ډوله کتله چې یو شان پند والې او احیاناً څو حجروی طبقې لری چې یوه دبل لپاسه ځای لری لکه اپیدرم .

- **Bacillary Layer**

د سترګو (**Layer of Cones & Rods**) په انډول .

- **Basal Layer**

قاعدوی طبقه ، د اپیدرم تر ټولو ژوره طبقه. د رحم د مخاط تر ټولو ژوره طبقه.

- **Blastodermic Layer**

د ( **Germ Layer**) په انډول.

- **Layer of Cerebral Cortex**

د ماغزو په قشر (نیوکورتکس) کې مجزأ حجروی شپږ طبقې چې په هره طبقه کې د حجرو د ډول او عصبی رشتو بنسټ د پېژندنې وړ دی.

- **Clear Layer of Epidermis**

د اپیدرم رڼه او شفافه طبقه چې د تقرنی طبقې لاندې پرته ده .

- **Columnar Layer**

د (**Mantle Layer** ) په انډول.

**- Purkinje Cell Layer**

، د (Purkinje Layer ) په انډول.

**- Prickle Cell Layer**

د اغېز لرونکو حجرو طبقه ، د اپیدرم یوه طبقه چې د ګرانولر او قاعدوی هغو په منځ کې ځای لری او د اغېز لرونکو حجرو په شته والي سره پېژندله کېږی.

**- Ruber's Layer**

په اولیه رشیم کې د بلاست د پاڼې د جوړوونکو دریو طبقو څخه تر ټولو بهرنۍ طبقه .

**- Layer of Rods & Cone**

د سترګو د شبکیې یوه طبقه چې متصلاً د صباغی اپیتلیوم لاندې ځای لری او اوستوانه ئي یا مخروطی حجرې پکې ونډه لری.

**- Sponge Layer**

اسفنجي طبقه، د اندومتریوم منځنۍ طبقه چې د رحمی غدو تاو راتاو برخې پکې ځای لری.

**- Subendicardial Layer**

د سست فبروزی نسج یوه طبقه چې د اندوکارډیوم او مایوکارډیوم سره نښلوی او دزړه او رګونه او هدایتی سیستم اعصاب پکې ونډه لری.

**- Lb. Layer**

د ( Pound / Libia) په انډول .

## LBBB

دکیڼ بنډل څانګې بلاک (Left Bundle Branch Block ) لنډه نښه ده.

## LD

مرګ راوړونکې کچه/ اندازه ، مهلك ډوز ، مرګبار ډوز، وژونکې ډوز (Lethal Dose ) لنډه نښه ده.

## $LD_{50}$

متوسط کچه وژونکې ډوز ( Median Lethal Dose ) لنډه نښه ده.

## LDL

د ټیټې کچې کثافت لرونکې لایپوپروټین( Low-Density Lipoprotein) لنډه نښه ده.

## L-dopa

د (Levodopa ) لپاره سوداګریز نوم او لنډه نښه ده.

## LE

د لو پوس ایریتیماتوز ناروغۍ (Lupus Erythematosus ) لنډه نښه ده.

## Lead[1]

سرب ، ډېر دروند ډول فلزی عنصر چې اټومی شمېره يې (82) او لنډه کېمیاوی نښه یې (Pb ) بلل شی د جلدی جذب او خوراک له امله يې مسمومیت منځ ته راځی او د (ماغزو ، هضمی جهاز او وینې ) باندې اغېزه کوی.

## Lead [2]

د الکترکارډیوګرام ماشین هر یو اشتقلق چې دوه یا هغه الکترودونه پکې ونډه لری چې د بدن له ځانګړو سیمو سره نښلېدلې وی او هغه برېښنائی فعالیت ثبتوی چې ددې سیمو تر منځ د برئښنائی پوتانسیال له اختلاف سره انډول دی.

## L. I

دوه قطبی اشتقاق چې په ښی لاس او ښی پښې پورې اړوند دئ.

## L. II

دوه قطبی اشتقاق چې په ښی لاس او کیڼه پښه پورې اړوند دئ.

## L. III

دوه قطبی اشتقاق چې په کیڼ لاس او کیڼه پښه پورې اړوند دئ.

**- Augmented Unipolar Limb Lead**

تعدیل شوې یو قطبی اشتقاقونه چې درې معیاری اشتقاقونه پکې ونډه لری : د[ $aV_F$(کیڼه پښه ) ] ، [ $aV_L$(کیڼ لاس ) ] او [ $aV_R$ (ښې لاس ) ] پکې ونډه لری .

**- $aV_F$ Lead**

پیاوړې شوې یو قطبی اشتقاق چې مثبت الکترود یې له کیڼې پښې سره نښلی.

**- $aV_L$ Lead**

پیاوړې شوې یو قطبی اشتقاق چې مثبت الکترود یې له کیڼ لاس سره نښلی.

**- $aV_R$ Lead**

پیاوړې شوې یو قطبی اشتقاق چې مثبت الکترود یې له ښی لاس سره نښلی.

**- Bipolar Lead**

دوه قطبی اشتقاق ، هغه اشتقاق چې الکترودونه یې د بدن له دوه ټکو سره نښلول شوي دی.

**- Lead -Free**

هغه چې هیڅ راز لیډ (Lead ) ځانکې دننه نلری.

**- Lead Line**

هغه آبی رنګه لاین /کرښه چې د خولې په اوریو کې د سرب په مسمومیت کې لیدل شی.

**- Lead Poisoning**

دسرب (سرپ) مسمومیت ،چې د سرپو د فلز د ډېر خوراک او جذب له امله پیښېږی او ورته د (Plumbism ، Saturnism) نومونه هم ورکړل شوېدی

**- Limb Lead**

هغه اشتقاق چې الکترودونه یې له غړو / هډونو د بدن سره

نښلول شوي دي.

**- Pacemaker Lead**

د مصنوعی ضربان پېښوونکې یو ماشین د ځواب سرچینې او د زړه ترمنځ تړاو .

**- Pericardial Lead**

هغه اشتقاقونه چې مثبت الکترودونه یې صدری قفس د جدار په مخ او نورو الکترودونه یې له هډونو سره نښلول شوی وی د (V Lead's) په اندول .

**- Standerd Lead**

معیاری اشتقاقونه؛ هغه (12) اشتقاقونه چې په معیاری ډول په الکتروکارډیوګرافی ترې کار اخیستل شی دغه اشتقاقونه عبارت دی له [ د هډونو (اطرافو) دوه قطبی معیاری درې اشتقاقونه ، پیاوړی شوی یو قطبی درې اشتقاقونه او قلبی –جلدی (6) اشتقاقونه] څخه .

**- Unipolar Lead**

یو قطبی اشتقاقونه ، د دوه الکترودونو په ګډون یو اشتقاق چې یوازې یو هغه یې پوتانښیالی بدلونونه لېږدوی.

**- V. Lead's**

یو قطبی معیاری شپږ اشتقاق چې اصلی الکترود یې د صدری قفس له جدار سره نښلول کېږی.

**- XYZ Lead's**

هغه اشتقاقونه چې په معیاری ډول د الکتروکارډیوګرافی په وکتور کې ترې کار اخیستل شی .

## Learning

زده کړه ،د تحصیل بشپړولو دوره، د علم حاصلولو د زده کړې پروسه.

**- Learning Disability**

د زده کړې ناتوانی ، د مهارتونو پیاوړتیا او زده کولو په پروسه کې د یوچا اړوند بې وسې چې نشی کولای خپل پوهاوی لوړ کړی ، د (Learning Difficulty) په اندول.

**- Learning Difficulty**

د (Learning Disability) په اندول.

**- Latent Learning**

مخفی زده کړه ، هغه ډول چې د زور د بندلو پرته تر سره کېږی خو یوازې د اجبار له لارې یې رابرسېره کولای شو.

## LE Cells

د لوپوس –ایریتیماتوزیس حجرې ، د وینې او هستوپتولوژیک کتنو په ترځ کې د داسې سپینوکریواتو شتون تثبیت چې د یو چا په (Lupus Erythematosus) ناروغۍ باندې دلالت وکړی.

## Lecithal

د هګۍ ژېړو (Yalk) درلودل .

## Lecithin

د (Phosphatidyl Choline) په اندول.

هغه انزایم چې د زیات وزن لرونکې لایپو پروتینونه (HDL) کې د کولسترولی ایسترونو جوړښت کتلایز کوی . ددې انزایم د فعالیت کمښت چې (یوارثی ستونزه ده) په پلازما او انساجو کې د فسفاتېدیل کولین او کولسترول د راغونډېدو لامل ګرځی چې دغه چاره د (قرنیې د کدورتونو ، وینه لږی ، پروتین یوریا ) لامل ګرځی .

## Lecith-

دا یو مختاړې دئ او د (هګۍ ، دبیضې د ژېړو) معنی بشپړوی .

## Lecitho-

دا یو مختاړې دئ او د (هګۍ ، دبیضې د ژېړو) معنی بشپړوی .

## Lecithoblast

د دوه طبقه یې بلاستې پاڼې اولیه انتودرم .

## Lecitin

د هیماګلوټین کوونکو پروتینونو څخه هر یو چې په اساسی ډول د بوټو په دانو کې موندل کېږی او په اختصاصی ډول دحجرې د سطحې د ګلایکوپروتینونو او ګلایکو لیپیډونو د ځانګه لرونکو قندی مولیکولونو سره نښلی.

## Leech

ژوره (جوره) ، جوک ، د (Hinunidea) د کلاس یو حلقوی چینجې پرازیت چې ځینې ډولونه یې وینه څېښنې (زبېښی Blood-sucking) او پخوا د وینې ویستنې لپاره ورڅخه ګټه اخیستله کېدله په اوبو کې ژوند کوی .

## Left -handed

کیڼ لاسې ، هغه څوک چې په کیڼ لاس د ښې په پرتله ډېر کار ترسره کوی .

## Left -handedness

کیڼ لاسی توب .

## Leg

لاندینې هډ، پښه ، د ورانه او لینګی او قدم په ګډون ټوله پښه.

**- Bandy Leg**

د (Bow Leg) په اندول.

**- Beyonet Leg**

د ټیبیا او فیبولا د هډوکو د شا پلو تر ځای پر ځای کېدنې

قطراتو پذریعه لیږدول شی چې په سپین ږیرو او شدیدو ناروغانو کې وژونکې سبر مومی.

## Legume

د کورخو (لوبیا ، باقلیو) په څیر ( Leguminosae ) د کورنۍ د بوټو/ پوښ پستوکې یا میوه.

## Leio-

دا یو مختاړې دئ او ښویه (لشم ، ملسأ Smooth ) معنی بشپړوی.

## Leiodermia

د پوستکی ناجوړه صافوالی او ځلا.

## Leiomyofibroma

د (Epitheloid Leiomyoma ) په انډول .

## Leiomyoma

لایومایوما ، د ملسأ یا ښویه عضلاتی پوښ منشې لرونکې ډول سلیم تومور دئ چې په ځانګړی ډول عضلاتو کې لیدل شی لکه د رحم په عضلاتی طبقه کې او ګڼه بڼه یې ( Leiomyomas یا Leiomyomata ) پنامه یادیږی.

**- Leiomyoma Cutis**

یوه یا څو (صافې ، سختې ، دردناکېاو اغلب غبرګون ښودونکې کتلې ) چې دپوستکی د (صافو عضلاتو ،فاییرونو یا تحت الجلدی نسجونو) څخه سرچینه اخلی.

**- Epitheloid Leiomyoma**

یو ډول لایومایوما چې په ځانګړی ډول په معده کې چې په هغې کې حجرې څو مخیزه مخروطی بڼه لری.

## Leiomyomatosis

په بدن کې د څو لیومایوماګانو رابرسیره کېدل.

## Leiomyosarcoma

لایومایو سارکوما ، هغه خبیث ډول سرطانی تومور دئ چې په ښویه عضلی (Smooth Muscle ) نسج کې موندل شی او ګڼه بڼه یې د ( Leiomyosarcomas یا Leiomyosarcomata) پنامه یادیږی.

## Leishmania

لشمانیا ، کالدانه ،سالدانه، د تودې (حاره) سیمې ناروغی ده چې د (Sandflies ) پنامه د یو ډول میاشی چیچلو پذریعه پرازیت انسان ته لیږدول شی. بلل شی.دا دارګانیزم څلور ډولونه لری (حشوی لشمانیازس لامل Leishmania Donovani ، د پخوانۍ نړۍ د جلدی لشمانیازس لامل Leishmania Tropica ، د نوې نړۍ جلدی لشمانیازس لامل

وروسته د ګونډې د بند انکیلوزس .

**- Bow Leg**

کږې پښې ، هغه ډول د ټول هډ کوږوالې (مقعریت ) منځ ته راتګ بلل شی چې پښې د کمان ورته قوسی بڼه مومی لکه د کلسیوم کمښت په ناروغیو کې .

**- Milk Leg**

د ( Phlegma Alba Dolens) په انډول .

**- Restless Leg**

د پښې د پُنډۍ یو ځورروونکې احساس چې یوازې په تګ یا لاندینی هډ په خوځولو سره ننبه کېږی.

**- Scisore Leg**

بیاتي ډوله پښې ، هغه ډول چې د تګ پرمهال د پښو بیاتي (قیچی) ډوله حرکت سره یو ځای د لاندینی هډ د شکل بدلون شتون لری .

## Legal Abortion

قانونی سقط ، هغه زیان / سقط چې د قانون جواز له مخې د ډاکټر پذریعه تر سره کیږی.

## Legg-Calvé Disease

په کوچنیانو کې په هډ (پښې) فخذ هډوکی پورتنۍ نهایت کې استحاله (Degeneration ) چې د هډوکی د نورمالې ودې مخنیوی کوی چې لومړۍ ځل د امریکائی ارتوپیدی عالم (Legg Thornton) پذریعه په (1910–1939)کالونو کې او فرانسوی ارتوپېدی عالم ( Jacques Calvé) په (1875–1954) کالونو او جرمنی عالم (Georg Clemens Perthes ) په (1869–1927) کلونو کې شرحه کړل . د (Legg-Calvé-Perthes Disease ) په انډول.

## Legionella

د (ګرام منفی ،هوازی او استوانه ئی) باکتری ګانو یو جنس چې په (جبه زارونو ، دریابونو او نمجنو) خاورو کې اوسیږی .دغه ارګانیزم د اوبو د زیرمو او ناولو اضافی اوبو د مجرا ګانو څخه بېل شوېدی.

**- Legionella Micdadei**

هغه جنس چې د ( Pittsburgh) پنومونیا پېښېدلو لامل ګرځی.

**- Legionella Pneumophila**

هغه جنس چې د ( Legionella ) پنوموفیلا پېښېدلو لامل ګرځی.

## Legionellosis

په (Legionella Pneumophila) ناروغۍ باندې اخته او ککړتیا څخه زېږنده ناروغی.

## Legionnaires' Disease

پنومونیا ته ورته باکتریائی ناروغی ده چې د رطوبت

**Leishmania Mexican**، د جلدی – مخاطی غشأ لشمانیازس لامل **Leishmania Viannia** ) بلل شی.

## Leishmaniasis

د لشمانیا **Leishmania** پرازیت په بېلابېلو ډولونو باندې ککړتیا.

### - American Leishmaniasis

په امریکائی قاره کې موجو لشمانیازس.

### - Cutaneus Leishmaniasis

جلدی لشمانیازس ، یوه اندیمیکه ګرانولومائی ناروغی چې په دوه ډوله ( **L. Tropica** او **L. Major** ) رابرسېره کېږی.

### - Lupoid Leishmaniasis

د ( **L. Recidivans**) په انډول.

### - Mucocutaneus Leishmaniasis

جلدی مخاطی لشمانیازی ، د نوې نړۍ لشمانیازس د اندفاعاتو (میتاستاتیکی ،پرمختلونکو او مزمنه )پراختیا چې د **L. Viarnia**، په واسطه د جلدی اولیه اندفاعاتو تر اربرسېره کېدو وروسته د (پوزې ، بلعوم ، خولې ) مخاط کې د نسجي تخریب او بنې د بدلون لامل ګرځی.

### - Post – Kalazar Dermal Leishmaniasis

هغه وضعیت چې د احشائی لشمانیازس او په مخ او ځینې وختونه په هډوونو او تنې باندې د سور رنګه یا کم رنګه ماکولونو او په مخ کې د لپروماتوز خوراړې (جذام) ته ورته نوډولونو او پاپولونو باندې ددې اندفاعاتو د پرمختګ له مخې پېژندل شی.

### - Recidivans Leishmaniasis

د جلدی لشمانیازس (کالداني ) یو مزمن شوې او راګرځېدلې ډول چې د پوستکی نری رنځ ته ورته دئ.

### - Visceral Leishmaniasis

حشوی لشمانیازس ، یوه مزمنه انتانی ناروغی چې د درملنې په صورت کې وژونکې ده چې د (**L. Donovani**) پذریعه منځ ته راځی او د (کبد ضخامه ، توری ضخامه ، کانګې ، وینه لړې ، د سپینو کریواتو په کمښت ، هایپرګلوبولینمیا او پوستکی په خاورین رنګه) کېدوسره پېژندل شی.

### - Veceriformis Leishmaniasis

د حشوی لمانیازس خفیفه بڼه چې د (تبې ، لړزې، کمزوری او د توری خفیفه لوئېدنه ) سره د پېژندلو وړ ګرځی.

## Lembert's Suture

لمبرټ ګنډنه ، هغه ډول جراحی د ګنډلو میتود چې په کولمو پیوند /ګنډلو کې ترې کار اخیستل شی چې لومړې ځل فرانسوی عمومی جراحی ځانګې عالم (**Antoine Lembert**) په (**1826–1851**) کالونو کې شرحه او کارولې دی.

## -lemma

دا یو روستاړې دئ چې د پوښ معنی بشپړوی.

## Lemmoblastic

په نیورولیما نسج کې منځ ته راتلل یا بشپړتیا موندل.

## Lemniscus

پټۍ ، باڼډ ، په مرکزی عصبی سیستم کې د عصبی فایبرونو یوه پټۍ (باڼډ یا ګېډۍ) ته ویل شی.

## Length

اوږدوالې ، طول ، د دوه شیانو (جوړښتونو )ترمنځ تر ټولو اوږد واټن.

### - Crown – Heel Length

له سرڅخه تر پونډویو پورې اوږدوالې ، په (رشیم ،جنین اونورو زوکړ شویو ماشوم) کې د سر د څوکې څخه تر پوندې پورې واټن لنډه نښّ یې (**CHL** ) ده.

### - Focal Length

محراقی واټن، د یوې عدسیې او هغه ټکی تر منځ واټن چې په یوه شی پورې اړوند نوری وړانګې پکې راغونډېږی.

## Lens

دسترګو عدسیه ، ،هغه بښبنه ډوله شفافه او رڼه دوه اړخیزه محدبه ټوټه چې پداسې ډول جوړه شوې ده چې نوری وړانګې سره نږدې یا لېرې کوی د سترګې خلفی کورګوټې او زجاجیه مایع سره بېلوی او په سترګه کې د رڼا د انکساری ماشین یوه برخه جوړوی.

### - Achromatic Lens

یو ډول عدسیه چې د رنګونو د حذفولو لپاره ترې کار اخیستل کېږی.

### - Aplantic Lens

یو ډول عدسیه چې دکرویت د سمون لپاره ترې کار اخیستل کېږی.

### - Bendage Lens

یو ډول نرمه تماسی عدسیه چې دناجوړې قرنیې پرمخ اېښودل کېږی تر څو د قرنیې څخه ساتنه وکړی.

### - Biconcave Lens

دواړه لورو ته محدبه سطحه لرونکې عدسیه.

### - Biconvex Lens

دواړه لورو ته مقعر سطحه لرونکې عدسیه.

### - Bifocal Lens

د دوه فوکس لرونکې عدسیه.

### - Concavocanvex Lens

هغه عدسیه یوه لورې ته محدبه او بلې لورې ته مقعر سطحه لرونکې عدسیه.

لرونکي ، د عدسيې اړوند صفت ، په مرکزي عصبي سيستم کې د عدسيې د هستې پورې اړوند.

## Lentiform

د عدسيې بڼې ته ورته جوړښت ، عدسيې ډوله بڼه.

## Lentigenes

د (Lentigo) د کلیمې ګڼه شمېره بڼه.

## Lentiginosis

لینتیجینوزیس، هغه وضعیت چې د پوستکي پرمخ د ګڼ شمېر قهوه رنګه داغونو په رابرسېره کېدو سره پېژندل کېږي.

**-Progressive Cardiomyopathy Lentiginosis**

ګڼ شمیر (قرنیوي لنتیګو ، انسدادي هایپرټروفیک کارډیومایو پتی، وده ائیز ستونزو او ځینې وختونه ذهني روسته پاتې والې) شتون.

## Lentiglobus

د قرنیې له حد څخه زیات انحناً چې د عدسیې منځنۍ راوتلتیا پیاوړې کوي. د عدسیې غېر نورمال غونډارې بڼه راوتلتیا.

## Lentigo

لنتیګو ، د پوستکي پرمخ توربخن (نصواري ) داغونه چې د ملانوسایټونو د شمېرزیادښت او دملانین په بې دریغه رسوب پورې تړاو لري او د لمر وړانګو سره مخامخ کېدو له امله منځ ته راځي چې همدارنګه د (Freckle) نوم هم ورکړل شوېدی .

**-Lentigo . Maligna**

خبیث ډول لنتیګو ، فرط صباغي ګردي مکولار پلاکونه چې د توربخن –نصواري رنګه داغونو سره مل وي چې په تدریجي ډول پراخېږي او د لنتیګو مالیګنائي لپاره پریکارسور بلل شي.

## Lentivirinae

د (HIV) ته ورته ویروسونه ، د ( Retroviridae) ویروسونو یوه کورنۍ چې د (Lentivirous ) په نوم ګوښې جنس په کې شامل دئ.

## Lentivirus [1]

د ( Lentivirous) د کورنۍ د ویروسونو یوه ډله چې یو جنس ئې یو ډول تلپاتې منتن کېدنه پېښوي کوم چې (مزمنه ، پرمختلونکې او وژونکې ) ناروغی ده پدې جنس کې (HIV) قرار لري.

## Lentivirus [2]

د ( Lentivirous) د کورنۍ د ویروسونو څخه هر یو چې وي.

**- Contact Lens**

تماسي عدسیه ، یوه نازکه ښیښه ئي یا ایلاستیکي Elastic کړه پاڼه چې نبغ په نبغه د سترګې د ګاټې یا قرنیې پرمخ کېښول کېږي تر څو د نور انکسار ستونزې سمې کړي او تر بېلابېلو شرایطو لاندې خپلې بڼې ته بدلون ورکوي.

**- Canvexoconcav Lens**

هغه عدسیه یوه لورې ته مقعر او بلې لورې ته محدب سطحه لرونکې عدسیه .

**- Crystalline Lens**

شفافه کریستالي عدسیه چې په دواړه لورکې تحدب لري چې نوري وړانګې سره نږدې یا لېرې کوي د سترګې خلفي کورګوټې او زجاجیه مایع سره بېلوي او په سترګه کې د رڼا د انکساري ماشین یوه برخه جوړوي.

**- Decentred Lens**

یو ډول عدسیه چې نوري محور یې د عدسیې له مرکز څخه نه تېرېږي.

**- Honey Bee Lens**

یو ډول عدسیه چې د شاتو موچۍ دسترګو په بڼه څومخیزه وي دغه عدسیه د عینکو په پورتنۍ برخه کې درې یا شپږ تلسکوپي ټوټې لري چې د مرکز او کیڼ او ښي باصري ډګر په لورې جهت ورکول کېږي .

**- Lens Implant**

په مصنوعي بڼه عدسیه چې د طبیعي عدسیې پرځاي کېښودل کېږي لکه د کترکت (سترګو ګل) پرمهال .

**- Omnifocal Lens**

یو ډول عدسیه چې توان یې په پرلپسې او منظم ډول مخ ښکته لورې زیادښت مومي او پدې ترتیب سره دهغه ناهمغږۍ څخه مخنیوی کوي چې په دوه او درې محراقه عدسیو کې شتون لري.

**- Planoconvex Lens**

هغه عدسیه چې یوه لورې ته ساده /صافه او بلې لورې ته محدبه سطحه لرونکې عدسیه بلل شي .

**- Spherical Lens**

استوانه ئي عدسیه ، هغه ډول عدسیه چې د یوې استوانه ئي برخې بڼه لري.

**- Trail Lens**

هغه عدسیه چې د یوه باصري قدرت د کچې ټاکنې کې ورڅخه ګټه اخیستل کېږي.

**- Trifocal Lens**

درې محراقه عدسیه .

**- Lenticonus Lens**

په ولادي ډول د سترګې د عدسیې قدامي یا خلفي راوتلتیا.

## Lenticular

عدسیې ته ورته ، په عدسیې پورې اړونده او ورته بڼه

**Leontiasis**

① د مخ د بڼې بدلون په خوراړې (لیپروماتوز جذام) کې لیدل کېږي چې دغه چاره په تحت الجلدي نسج کې د غوټه ائیزو اندفاعاتو له امله منځ ته راځي.② دکوپړۍ د هډوکو تشوش او اختلال دئ چې پکې دا هډوکي داسې ډول ضخامه مومي چې ناروغ ته د زمری د سر ( Lion's Head) منظره وربخښي او د (Paget's Disease ) ناروغۍ کې چې پرته له درملنې پاتې شي لیدل کېږي.

**-Leontiasis Ossea**

دکوپړۍ او د مخ د هډوکو تشوش او اختلال دئ چې پکې دا هډوکي داسې ډول ضخامه مومي چې ناروغ ته د زمری د سر (Lion's Head) منظره او زړه بدکوونکې حالت وربخښي ، د (Leontiasis Ossium) په انډول.

**Leper**

لېپر، په خوراړې (جذام) اخته کس.

**Lepidic**

د تفلس پوړې اړوند.

**Lepidosis**

داسې حالت چې د پوستکي سرمخه چې په هغه کې پوستکې د پتری پتری (تفلس) په بڼه توئېدنه کوي .

**Lepra**

جذام، خوراړه.

**Leprechaunism**

یوه ارثی فامیلی او وژونکې ناروغی چې په هغه کې نوې زیږېدلې ماشوم کوچنې او بد قواره وی او د کلیتوریس او تیبانو د غټوالی په ګډون په ګڼ شمېر اندوکرینی ناجوړیو اخته وی.

**Leprid**

د توبرکلوئیډي جذام اندفاع ، د جذام د باسیل نلرونکې کم رنګه یا سور رنګه جلدي پلاکونه یا غوټې.

**Leproma**

لیپروما ، د پوستکی هسې ګرانولوماتوز ناروغ ټپونه او زخمونه چې پکې ګڼ شمېر د لپروزی (جذامی) باسیلونه شتون لري ګڼه شمېره یې ( Lepromas یا Lepromata ) پنامه یادېږي.

**Lepromatous**

جذامی ، خوراړیز ، د جذام پوړې اړوند صفت.

**Lepromin**

د لپروماتوز نسج او د جذام د باسیلونو سوسپنشنی محصول چې د جذام په تشخیصی جلدی آزموینو کې پکارېږي.

**Leprostatic**

د جذام د عامل مایکوبکتریوم لپاره د ودې مخنیوی کوونکې درمل ، د جذام ضد کیمیاوی – فارمکولوژیک مستحضر.

**Leprosy**

د جذام ناروغی ، د خوراړې ناروغی، هغه ډول ناروغی چې د (Mycobacterium Leprae ) اتنان له کبله په( پوستکی ، مخاطی غشأ او محیطی عصب) کې د ناروغۍ حالت منځ ته راوړی دې ناروغۍ ته (Hansen's Disease ) نوم هم ورکړل کېږي.

**- Lepromatous Leprosy**

لیپروماتي جذام ، پدې حالت کې د ناروغۍ په پیل کې په اندفاعاتو کې د جذام باسیلونه زیات شمېر شتون لری تدریجاً عصبی ناروغی منځ ته راځی او لیپروماتی جلدی غبرګون منفی وی.

**- Tuberculoid Leprosy**

توبرکلوئید جذام ، پدې حالت کې د ناروغۍ په پیل کې په اندفاعاتو کې د جذام باسیلونوشمېر ډېر کم شتون لری له پیل څخه عصبی ټپونه /ضایعات منځ ته راځی چې همدغه جلدی ضایعات له پیل څخه عصبی رشتې نلری به همدې ډول خپل حس له لاسه ورکوی. جلدی آزموینه مثبته ده.

**Lept -**

دا یومختاړې دئ اود (نری ، نازک ،ظریف) معنی بشپړوی.

**Leptin**

هغه هورمون چې د شحمی نسجی حجراتو پذریعه تولیدېږی او ددې ښکارندوی دئ بدن د لوږې سره مخامخ دئ او اعصابو د هایپوتلاموس غدې ته زنګ (Signals) ورکوی .

**Lepto -**

دا یومختاړې دئ اود (نری ، نازک ،ظریف) معنی بشپړوی.

**Leptocephalus**

هغه څوک چې نرې – لوړ سر او کوپړۍ لری د کرانیوساینوستوزس یو ډول بلل شی.

**Leptocyte**

د وینې ( نری ، نازک ،ظریف) سره کرېوه چې په وینه لږی (Anaemia) کې لیدل شی.

**Leptomeningeal**

د (Leptomeninges) اړوند صفت .

**- Leptomeninges Cyst**

د سر کوپړۍ برخې هغه سیستیک کتله چې محتوی یې (Leptomeninges) وي.

## Leptomeninges

د سحایادوه دننه طبقې چې ( Pia Mater او Arachnoid ) نومېږي.

## Leptomeningitis

د ماغزو د (Leptomeninges) برخې التهابات.

## Leptomeningopathy

د ماغزو د (Leptomeninges ) برخې هر ډول التهابی او غیر التهابی او توموری ناروغیو ته ویل شي.

## Leptomonad

په (Leptomonas ) پورې اړوند ، دغه اصطلاح د ځینو پروتوزواګانو لیپوتوموناډی بڼې ته اطلاق کېږي ، هغه پروتوزواګانې چې لیپوتوموناډی بڼې لري .

## Leptomonas

د (Tripanosomatidae) د کورنۍ پروتوزوا یو جنس چې د حشراتو د هضمی جهاز پرازیت دئ.

## Leptopelvic

د نسائي مسلک تصنیف له مخې د نرۍ حوصلې ډول ته ویل شي.

## Leptospira

د هوازی باکتریاګانو یو جنس د (Leptospiraceae) له کورنـــۍ څـــخه ؛ په ( Leptospiraceae Interrogans) ډول کې درې ناروغۍ پېښوونکې ډولونه قرار لري په متداوم ډول په موږکانو متیازو او کورنی حیواناتو متیازو اطـــراح کې موندل شی او ښـــائي انســانانو ته ولـــــېږدول شي اوهلته د (Weil's Disease اویا Leptospirosis) ناروغی منځ ته راوړي .

## Leptospiraceae

د انعطاف وړ مارپېچې او هوازی حجراتو په ګډون باکتریاګانو یوه کورنۍ ده دغه کورنۍ د (Leptospira) په نوم یو جنس لري .

## Leptospirosis

د (Leptotricosis) په انډول. د هغه انتاناتو او ناجوړتیا څخه هره یوه چې د سپایروکیتونو څخه د ( Leptospira)انتانی ناروغی پېښوونکی جنس پورې تړاو لري چې موږکانو متیازو له لارې انسانانو ته لېږدول شي او د (لمفوسایتیک ممنجیټ ، ژیړی او هیپاتیت او پښتورګو تخریب نفریت) په واسطه پېژندل شی او ورته د ( Weil's Disease ) نوم هم ورکول شوېدئ.

## Leptotene

د حجروی ویشنې میبوزس یوه مرحله چې کروموزومونه پکې رشتوی بڼه خپله کړېوی.

## Leptotricosis

د (Leptotrichosis) په انډول.

## Leptotrix

د شیزومایسټونو د (Chlamydobacteriaceae) کورنۍ څخه یو جنس چې نرېوال خپرېدنه (تیتوالی) لري او په تازه اوبو کې موندل شي.

## Leptotrichosis

د (Leptotrix) پذریعه منتن کېدنه.

**- Leptotrichosis Conjunctivae**

منضمې لپتوترایکوزس ،د (Prinaud's Oculoglandular) سندروم چې د (Leptotrix ) پواسطه منځ ته راځي.

## Leresis

پرته له همغږۍ خبرې کول چې د دماغی تخریب (Dementia) یوه علامه بلل شی.

## Lesbian

هغه ښځینه او نارینه وو کې د خپل منځی جنسی اړیکې تجربه لرونکی کس ته ویل شي.

## Lesbianism

همجنس بازی ، هغه ډول غیر عادی حالت چې یوه ښځه د بل ښځې سره جنسی اړیکه لری او یونارینه د بل نارینه سره جنسی اړیکه لری .

## Lesch-Nyhan Disease

هغه سندروم چې د ارثی تشوش له امله په هلکانو کې د (Enzyme Hprt) انزایم د نشتوالی له کبله منځ ته راځی او د [عضلاتو غیر کنترول حرکاتو ، دزده کړو ناتوانی ، او عمر توقع ( 20 – 25) ] پذریعه د پېژندلو وړ ګرځی. د ( Lesch-Nyhan Syndrome) په انډول.

## Lesion

ضایعه ، رنځ ، ټپ ، بدني آسیب ، زخم ،نسجی صدمه ، نسجی ګزند ، نسجی تباهي ،هر هغه آسیب یا زخم چې د یوه غړي ( اندام) بدکاري یا ناکاری موجب شی ، اندامي ضایعه .د بدن د یوې برخې پتولوژیک یا تراوماتیک انفصال یا د یوې برخې د فعالیت نشتوالې.

**- Angiocentric Immunoproliferative Lesion**

لمفوما ته ورته مولتي سیستمي یوه ناروغي چې( اټیپیک پلاسموسیتوئید او لمفوسایتوئید) حجرې د بدن دنسجونو د تخریب لامل ګرځي دغه ناروغي غالباً د لمفوم په لوري پرمختګ کوي.

**- Armanni- Ebstain Lesion**

په شکرې ناروغۍ (ډیابټ) کې د پښتورګو د ټیوبي اپیتلیوم واکیولایزیشن .

**- Benign Lymphoepithelial Lesion**

سلیم لمفاوي اپیتلیائي ضایعه، د لاړو غدواتو د پارانشیم له انفلتریشن سره مل د هغوی لوئېدنه .د پولي کلونال (B او T ) حجرو په واسطه د اسیني ګانو اټروفي او د لمفو اپیتلیالي اجزاوؤ جوړېدنه .

**- Blumenthal Lesion**

له شکرې ناروغۍ څخه زېږنده د کوچنیو رګونو پرولفراتیف ضایعه.

**- Central Lesion**

دمرکزي سیستم هر ډول ضایعه.

**- Ghon's Primary Lesion**

د (Ghon's Focus ) اړوند لومړنۍ آفت.

**- Janeway Lesion**

یوه کوچنۍ اریتیماتوز یا هیموراژیک ضایعه چې معمولاً د لاس په ورغوي یا دپښې په تلي کې موندل شي او د باکتریال اندوکاردیټ په ناروغۍ کې شتون لري.

**- Primary Lesion**

هغه لومړنۍ (اولیه) ضایعه چې د یوې ناروغۍ نښه تظاهر ګڼل شي لکه د شانکر منځ ته راتګ په سفلیس کې .

## Lesser

کوچنۍ ، وړوکۍ ، کم اهمیته ، د لږ ارزښت لرونکې، ناڅیزه.

**- Lesser Circulation**

لږ اندازه دوراني بهیر ، ریوي دوران
(Pulmonary Circulation ) په انډول .

**- Lesser Trochanter**

د ورون (فخذ ) هډوکي کوچنۍ تروکانتور چې د پسواس لویه عضله (Major Muscle Psoas ) پرې ارتکاز مومي .

**- Lesser Vestibular Gland**

د مهبل د ویستیبول برخې قدامي غدې .

## Lethal

وژونکې ، د وژلو وړتیا او توان درلودونکې .

**- Lethal Dose**

وژونکې ډوز (کچه) ، هغه اندازه درمل یا مواد چې د وژلو وړتیا او توان درلودونکې وي لنډښنبه يې (LD ) ده.

**- Lethal Gene**

معمولاًهغه مخفي (Recessive ) جین چې په اخته کسانو کې د وخت څخه دمخه مړینه منځ ته راوړي لکه د ( Sickle-Cell Anaemia) په څېر ، د (Lethal Mutation ) په انډول.

**- Lethal Mutation**

وژونکې میوټیشن .

## Lethargic

د کسالت او ستړیا اړوند صفت .

**- Lethargic Encephalitis**

هغه ډول معمول ویروسي اپیډیمیک انسفالیت چې په (1920s) کالونو کې معرفي شو او خوبراوړونکې او ستړیا حالت پېښوي د (Encephalitis Lethargic یا Sleepy Sickness) په انډول .

## Lethargy

خوبجن ، خوبوړونکی ، رخاوت ، افسردګي ، غړند والي ، بې حالي ، کُندي ، بې علاقګي او بې توجهي – پُرکالي حالت سره مل د هوش د سويې ټيټوالي ، هسې یو حالت چې پکې د یوڅا شعوري حالت غړند وي او بیدار نه ښکاري او په غېر فعال او کراره ډول خپل حرکات ترسره کوي ، بې احساستوب .

## Letterer-Siwe Disease

په نوي زېږېدلو ماشومانو کې معمولاًوژونکې ناروغي ده چې د یوه خاص ډول معافیتي حجرې ډېر تویږي تولید له امله پېښېږي.

## Leucine

یو ډول اساسي امینواسید دئ چې د نایتروجن تعادل د خوندیتوب لپاره ضروري ګڼل شي .

## Leuc-

دا یو مختاړې دئ او د ( -Leuko او سپین) معنی بشپړوي.

## Leuco-

دا یو مختاړې دئ او د ( -Leuko او سپین) معنی بشپړوي.

## Leucocyte

د وینې سپینه حجره ، سپینه کرېوه چې هسته لري خو هیموګلوبین نلري لاندې ډولونه لري د (Leukocyte) په انډول.

**- Basophile Leucocyte**

بازوفیل د وینې سپینه حجره چې قلوي ته لېواله او قلوي رنګ

## Leucolysin
هغه پروتین چې سپینه کرېوه تخریب کوي ، د (Leukolysin) په انډول.

## Leucoma
د سترګو د قرنیې لپاسه د سپین تندبی داغ شتون دی ګڼه شمېره یې (Leucomas یا Leucomata) بلل شی، د (Leukoma) په انډول.

## Leuconostoc
یو ډول سپروفایتیک باکتر ی چې په شیدو او د مېوې په اوبو کې موندل شی او د (L.Dextranicum ، L.Cetrovorum او L. Mesentroides) څخه عبارت دي.

## Leuconychia
هغه حالت چې پکې د ګوتو په نوکانو کې سپینه نښه (علامه) منځ ته راشي،د نوک سپینه نښه، د (Leukonychia ) په انډول.

## Leucopenia
د وینې په دوران – بهیر کې د سپینو کرېواتو شمېر د نورمال کچې ( 11000-4000 Normal) څخه ټیټوالی او کمښت بلل شی چې د ناروغیو په شتون په دلیل منځ ته راځی، د (Leukopenia) په انډول.

## Leucoplakia
هغه حالت چې پکې د مخاطی غشأ برخه کې سپینه نښه (علامه) منځ ته راشی، لکه د ژبې او خولې دننه سپینه نښه، د (Leukoplakia ) په انډول.

## Leucopoiesis
د سپینوکریواتو تولید (Leukopoiesis ) بلل شی.

## Leucorrhoea
د مهبل څخه په پریمانه کچه د سپن مخاطی افرازاتو راتګ بلل شی ورته (Whites او Leucorrhea) هم ویل شی ، د (Leukorrhoea) په انډول.

## Leucovorin
فولینیک اسید ، دغه درمل د فولیک اسید ضد درملو د انتی دوت او همدغه راز د فولیک اسید له کمښت څخه د زېږنده میګالوبلاستیک وینې لړی په درملنه کې پکارېږی.

## Leuk-
دا یو مختاړې دئ او د سپینو کریواتو (سپین حجرو- Leuco او Leuko- ) معنی بشپړوی.

منی حبیبی سایتوپلازم لری.

**- Eosinophils Leucocyte**
ائیوزینوفیل د وینې سپینه حجره چې ائیوزین ته لېواله او ائیوزین رنګ منی حبیبی سایتوپلازم لری.

**- Granular Leucocyte**
د وینې سپینه حجره چې سایتوپلازم ئي حبیبوی خاصیت لری او د مخ عظم (هډوکو ماغزو) پذریعه تولیدېږی او د وینې دورانم څخه اړوند اجنبی جسمونه راوباسی او د انتان په وړاندې د انتی باډی پذریعه جګړه کوی .

**- Lymphocyte Leucocyte**
لمفوسایت د وینې سپینه حجره چې لمفاوی نسج دئ او غېر حبیبی دی.

**- Monocytes Leucocyte**
مونوسایت د وینې سپینه حجره چې سایتوپلازم ئي غېر حبیبی بڼه دی

**- Neutrophils Leucocyte**
نیوتروفیل د وینې سپینه حجره چې خنثی ډول وی حبیبی سایتوپلازم لری.

**- Nongranular Leukocyte**
د وینې سپینه حجره چې سایتوپلازم ئي غېر حبیبوی خاصیت لری.

## Leucocytolysis
د لوکوسیتتونو تخریب او له منځه وړلو پروسه ،د (Leukocytolysis) په انډول .

## Leucocytosis
د وینې په دوران – بهیر کې د سپینو کرېواتو شمېر د نورمال کچې ( 11000-4000 Normal) څخه زیاتوالی بلل شی چې د انتاناتو سره د جګړې په موخه منځ ته راځی ، د (Leukocytosis) په انډول.

## Leucodeplete
د وینې څخه د سپینو کریواتو راویستلو کړنلارې ته ویل شی ، د (Leukodeplete ) په انډول.

## Leucodepleting
د وینې څخه د سپینو کریواتو راویستلو کړنلاره.

## Leucodepleted
د وینې څخه د سپینو کریواتو راویستل شوې حالت.

## Leucoderma
د پوستکی پیس ، پیسي شوې کس ، هغه څوک چې د پوستکی رنګ یې د صباغونو نشتوالی له امله سپین اوښتې وی ،د (Leukoderma یا Vitiligo ) په انډول.

## Leukaemia

د ويني سرطان ، د ويني ناسور ، دا د ويني د سيستم خبيثه ناروغی ده چې پکې (په وينه او د هډوکی ماغزو کې د سپينو کريواتو او دهغه د پريکارسورونو د نا همغږۍ او له کنترول څخه د وتلي ودې او پريمانه لوکوسيتونو جوړېدنې ، د طحال او لمفاوی غوټو پړسوب) په مرسته پېژندل کېږی، د (Leukemia) په انډول.

## Leukapheresis

له ويني څخه د سپينو کريواتو بېلول او لېرې کول او بيا بېرته د پاتې شوې وينې شخص ته تزريق کول بلل شی.

## Leukemia

لوکيميا ، لوسيميا ، د ويني سرطان ، د ويني ناسور ، دا د ويني د سيستم خبيثه ناروغی ده چې پکې (په وينه او د هډوکی ماغزو کې د سپينو کريواتو او دهغه د پريکارسورونو د نا همغږۍ او له کنترول څخه د وتلي ودې او پريمانه لوکوسيتونو جوړېدنې ، د طحال او لمفاوی غوټو پړسوب ) په مرسته پېژندل کېږی، د (Leukaemia) په انډول.

**- Acute Leukemia**

حاد ډول لوکيميا .پدې ډول کې د حجرو توپير ګران دئ خو په سرطانی حجرو کې معمولاً بلاستي (خام/اومو) حجرو ځای نيولې وی چې دوه ډوله (لمفوسايتي او ميلوجنيک ) لری .

**- Acute Undefferrentiated Leukemia**

د (Stem Cell Leukemia )په انډول.

**- Acute Granolocytic Leukemia**

د (Acute Myelogenic Leukemia ) په انډول ، حاد ډول ګرانولوسايتيک لوکيميا.

**- Acute Lymphoblastic Leukemia**

حاد ډول لمفوبلاستيک لوکيميا .ميلوجنيک حاده لوکيميا چې د (وينې لږی ، وزن کمښت ، سيانوز . ترومبوسايتوپينی ، ګرانولوسايتوپينی ، باکتريائی انتان ، د هډوکو درد ، لمفادينوپتی ، هيپاتوسپلينوميګالی ، عصبی مرکزی سيستم ناروغی ) سره مل وی او د حجرو د سطحې د انتی جينونو له مخې په ( B او T ډولونو ) ډلبندی کېږی .

**- Acute Lymphcytic Leukemia**

د (Acute Lymphoblastic Leukemia ) په انډول .

**- Acute Megakaryocytic Leukemia**

حاد ميګاکاريوسايتيک لوکيميا ،دا ميلوجنيک حاده لوکيميا ده چې د ميګا کاريوسايټونو شمېر پکې د پام وړ دی او په وينه لږی (کمخونی) کې د دمويه صفيحاتو کچه هم زيادښت مومندلې وی، د ( Acute Megakaryoblastic Leukemia) په انډول.

**- Acute Monocytic Leukemia**

حاد مونوسايتيک لوکيميا .ميلوجنيک حاده لوکيميا يو غېر شايع ډول دئ چې مونوسايټونو شمېر کچه پکې زيادښت مومی.

**- Acute Myeloblastic Leukemia**

د (Acute Myelogenous Leukemia ) په انډول . د حاد ميلوبلاستيک لوکيميا . داد ميلوجنيک حاده لوکيميا يو شايع ډول دئ چې ميلوبلاسټونو شمېر کچې پکې زيادښت موندلې وی او د حجروی تفريق له مخې په دوه ډولونوويشل کېږی.

**- Acute Myelocytic Leukemia**

د (Acute Myelogenous Leukemia ) په انډول

**- Acute Myelogenous Leukemia**

د حادې لوکيميا له دوه ډولو څخه يو چې په نښنو کې يې (وينې لږی ، وزن کمښت ، ستړيا، د پوستکی چټک سيانوز . ترومبوسايتوپينی ، ګرانولوسايتوپينی ، هيپاتو سپلينوميګالی ،د هډوکو دردونه) شامل دی لنډه نښه يې (AML ) ده.

**- Acute Myeloid Leukemia**

حاد ه ميلوئيد لوکيميا ، د (Acute Myeloblastic Leukemia ) په انډول ، د (Acute Myelogenous Leukemia ) په انډول .

**- Acute Myelomonocytic Leukemia**

د حاد ميلومونوسايتيک لوکيميا . داد ميلوجنيک حاده لوکيميا يو پراخ او شايع ډول دئ چې دوينې په بهير کې دواړه ډوله خبيث (مونوبلاستيک او مونوسايتيک )حجرې موندل کېږی.

**- Acute Nonlymphocytic Leukemia**

د حاد غېر لمفوسايتيک لوکيميا . د حادې لوکيميا له دوه ډولو څخه يو چې په نښنو کې يې ( وينې لږی ، وزن کمښت ، ستړيا، د پوستکی چټک سيانوز . ترومبوسايتوپينی ، ګرانولوسايتوپينی ، هيپاتو سپلينوميګالی ،د هډوکو دردونه) شامل دی . د (AML ) په انډول.

**- Acute Undefferrentiated Leukemia**

داد ميلوجنيک حاده لوکيميا يو پراخ او شايع ډول دئ چې دوينې په بهير کې د نيمائي څخه زياتې حجرې خبيث (پروميلوسايتيک ) حجرې موندل کېږی لنډه نښه يې (AUL ) ده.

**- Adult T-Cell Leukemia /Lymphoma**

داد ميلوجنيک حاده لوکيميا يو پراخ او شايع ډول دئ چې دوينې په بهير کې اکثره حجرې يې تر داسې يوه حده نابالغې دی چې په ډلبندی کې يې نشو راوستلای لنډه نښه يې (ATL ) ده.

**- Aleukemic Leukemia**

يو ډول حاده لوکېميا چې د وينې ټولو سپينو کريواتو شمېر يې نه وی زيات شوې چې بنائې (ميالوسايتيک ، مونوسايتيک ،لمفوسايتيک ) وی

**- Basophilic Leukemia**

يو ډول لوکيميا چې د بازوفيل حجرې پکې زيادښت مومی.

**- Chronic Leukemia**

مزمنه لوکيميا ، پدې لوکيميا کې د اخته حجراتو ليکې

- **Lympho-Sarcoma Cell Leukemia**

د (Acutelymphoblastic Leukemia) په انډول.

- **Mast Cell Leukemia**

دا یو نادر ډول لوکیمیا چې د په محیطی وینه کې د ماسټ سلونو حجرې زیادښت مومی.

- **Megakaryoblastic Leukemia**

د (Acute Megakaryocytic Leukemia ) په انډول.

- **Megakaryocytic Leukemia**

د ] (Acute Megakaryocytic Leukemia) او (Hemrrhagic Thrombocytopenia) [ په انډول.

- **Moncytic Leukemia**

د (Acute Moncytic Leukemia) په انډول .

- **Myeloblastic Leukemia**

د [(Myelogenous Leukemia) او د (Acute Myeloblastic Leukemia)] په انډول.

- **Myelocytic Leukemia**

دا یو ډول لوکیمیا ده چې د میلوئید نسج څخه سرچینه او منشه اخلی او پکې بریکارسور څو هستوی لوکوسیتونه په کاثریت کې شتون لری، د (Myeloid Granolocytic Leukemia یا Myelogenous Leukemia ) په انډول.

- **Myelogenous Leukemia**

د (Myeloblastic Leukemia ) په انډول

- **Myeloid Granolocytic Leukemia**

د( Myelogenous Leukemia ) په انډول.

- **Myelomoncytic Leukemia**

د (Acute Myelomoncytic Leukemia ) په انډول.

- **Plasma Cell Leukemia**

دا یو ډول لوکیمیا چې د په محیطی وینه کې د پلازما سلونو حجرې په اکثریت ډول زیادښت مومی، د ( Plasmacytic Leukemia) په انډول.

- **Plasmacytic Leukemia**

د (Plasma Cell Leukemia ) په انډول.

- **Promyelocytic Leukemia**

د (Acute Promyelocytic Leukemia ) په انډول .

- **Rieder's Cell Leukemia**

دا یو ډول حاده میلوجنیک لوکیمیا چې د هغې په وینه کې داسې حجرې لیدل کېږی چې ودې له مخې همزمانی نلری ددې حجرو سایتوپلازم نا بالغه دی پداسې حالت کې چې نسبت بالغتره لویوی هستې لری .

- **Stem Cell Leukemia**

د ( Acute Undefferentiated Leukemia )په انډول.

دومره په ښه ډول توپیر نکېږی او معمولاً د (B) لمفوسایتونو نوعیت لری خو د ایمیونولوژیک له پلوه کفایت نه کوی.

- **Chronic Granolocytic Leukemia**

د میلو جنیک نوعیت لرونکې یو ډول مزمنه لوکیمیا چې معمولاً په یوه ځانګړې کروموزوم کې د ناجوړې سره مل وی او په سپین ږیرو (معمر) کسانو کې لیدل شی.

- **Chronic Lymphocytic Leukemia**

د لمفوبلاستیک نوعیت لرونکې یو ډول مزمنه لوکیمیا چې معمولاً د (لمفادینوپتی ، ستریا ، لوکیمیک حجرو، دسږو ارتشاح ، پښتورګو آفت ) له امله پېژندل کېږی لنډه ننښه یې (CLL) ده.

- **Chronic Myelocytic Leukemia**

د ( Chronic Granolocytic Leukemia ) په انډول. د میلو جنیک نوعیت لرونکې یو ډول مزمنه لوکیمیا چې معمولاً په یوه ځانګړې کروموزوم کې د ناجوړې سره مل وی او په سپین ږیرو (معمر) کسانو کې لیدل شی، د ( Chronic Myelogenous Leukemia یا Chronic Lymphoid Leukemia ) په انډول.

- **Chronic Myelomonocytic Leukemia**

د په کراره او سوکه وصف بهیر لرونکې یو ډول مزمنه لوکیمیا چې معمولاً د( خبیثو میلوبلاستونو ، مونوسایتونو ،توری لویوالی ، ترومبوسایتوپینا )په مټه پېژندل کېږی.

- **Leukemia Cutis**

د حاد ډول وصف لرونکې جلدی لوکیمیا چې دخبیثو حجرو پواسطه د پوستکی له ارتشاح (انفلتریشن) په مټه پېژندله شی.

- **Eosinophilic Leukemia**

یو ډول حاده لوکیمیا چې پکې د ایوزینو فیلونو شمېر په بې دریغه زیاته پیمانه زیادښت مومی .

- **Granulocytic Leukemia**

د (Myelogenous Leukemia) په انډول.

- **Hairy Cell Leukemia**

یو ډول مزمنه لوکیمیا چې د توری په لویوالی او دهغه غېر نارمل یو هستوی لویو حجرو شمېر په زیادښت سره پېژندله کېږی چې نامنظمه سایتوپلازم او ویښته ډوله زایدې لری دغه حجرې د (هډوکو په ماغزو ، توری ، ینه او محیطی وینه )کې شتون لری.

- **Histocytic Leukemia**

د (Acute Monocytic Leukemia) په انډول.

- **Lymphatic Leukemia**

د ( Lymogenous Leukemia یا Lymphoid Leukemia ) په انډول
،دا یو ډول لوکیمیا چې د لمفوی نسج حجراتو هایپرپلازیا او فرط فعالیت سره یو ځای وی چې په وینه کې د لمفوسایتونو یا لمفوبلاستونو د شمېر زیادښت پکې منځ ته راځی، د ( Lymphoblastic Leukemia یا Lymphocytic Leukemia ) په انډول.

**- Undefferentiated Leukemia Acute**

د (Stem Cell Leukemia) په انډول.

## Leukemic

د لوکیمیا اړوند صفت .

## Leukemid

هر ډول جلدي داني چې د لوکیمیا سره مل ولیدل شي او د کلینیکي له پلوه ځانګړي ظاهر نشي د رلودلای لکه (پاپول ، مکول او داسې نور) خو د هستولوژیک پلوه کېدای شي د لوکیمیک حجرو دارتشاح له امله منځ ته راشي .

## Leukemogen

د لوکیمیا منځ ته راوړونکې عامل .

## Leukemogenic

د ( Leukemogen ) اړوند صفت.

## Leukemoid

هر هغه حالت چې په هغه کې د ویني وضعیت او حتی کلینیکي نښې نښانې لوکیمیا ته ورته وي پداسې حالت کې چې لامل یې بل شئ وي.

## Leukin

هغه باکتری وژونکې ماده چې دسپینوکریواتو څخه پلاس راغلې وي.

## Leuko-

دا یو مختاړې دئ او د سپینو کریواتو (سپین حجرو) معنی بشپړوي

## Leukoagglutinin

یو ډول اګلوټینین چې په سپینو کرېواتو باندې اغېزې کوي.

## Leukoblast

دانه لرونکې نابالغه سپیه کریوه .

**-Granular Leukoblast**

حبیبوي لوکوبلاست حجره ، د ( Promyelocyte ) په انډول.

## Leukoblastosis

دانه لرونکې نابالغه سپیه کریواتو د تکثر ښودونکې اصطلاح ده.

## Leukocidin

هغه ماده چې د ناروغیو پېښوونکې باکتری ګانو په اسطه تولیدېږي او د ځوهستوي سپینو کرېواتو لپاره زهرجنه ده

## Leukocrit

په ټول ټال وینه کې د سپینو څجراتو حجمي سلنه.

## Leukocyte

لوکوسایت ، سپینه کرېوه ، رنګې دمویه حجره چې آمیبي حرکت لرونکې ده او د ناروغۍ پېښوونکې ارګانیزمونو په وړاندې د بدن د نسجونو ساتنه یې اصلي دنده ده دوه ډوله ګرانولر (دانه لرونکي ) او غېر ګرانولر (بې دانې) لري.

**-Agranular Leukocyte**

غېر ګرانولر (بې دانې) سپینه حجره .

**-Basophilic Leukocyte**

د ( Basophil ) په انډول.

**-Endothelial Leukocyte**

دویني اونسجونو د لویو سرګردانه حجرو لپاره نوم چې د پام وړ فاګوسایټي ځانګړنې ولري . د ( Endotheliocyte ) برخه وګوری.

**-Eosinophilic Leukocyte**

د ( Eosinophil ) په انډول.

**-Granular Leukocyte**

ګرانولر سپینه کریوه . هغه سپینه کرېوه چې په خپل سایتوپلازم کې حبیبونه (ګرانولونه) لري لکه د (ایوزینوفیل، نوتروفیل او بازوفیل) حجرې .

**-Hyaline Leukocyte**

د مونوسایت حجره ، د ( Monocyte ) په انډول.

**-Lymphoid Leukocyte**

لمفاوي سپینه حجره ، د ( Agranulocyte ) په انډول.

**-Neutrophilic Leukocyte**

د ( Neutrophil ) په انډول ، نیوتروفیل حجره.

**-Nongranular Leukocyte**

هغه سپینه کریوه چې په خپل سایتوپلازم کې ګرانولونه نلري چې پکې (لمفوسیتونه اومونوسایتونه) شامل دي.

## Leukocythemia

د (Leukemia) په انډول .

## Leukocytoblast

د (Leukoblast) په انډول.

## Leukocytogenesis

د سپینوکریواتو د تولېد او جوړېدنې بهیر .

## Leukocytolysis

دسپینوکریواتو د له منځه تللو پروسه .

## Leukocytolytic

د (Leukocytolysis) اړوند صفت.

## Leukocytoma

دسپینوکریواتوڅخه جوړه شوې تومور ډوله کتله .

## Leukocytopenia

د وينې په بهير کې دسپينوکريواتو د کچې کمښت ، د (Leukopenia ) په انډول.

## Leukocytoplania

له يوې غشأ څخه د سپينو کريواتو تګ اوراتګ پروسه ، د سپينوکريواتو سرګرداني.

## Leukocytopoiesis

د سپينو کريواتو جوړېدنه ،د (Leukopoiesis) په انډول .

## Lekocytosis

د بېلابېلو عواملو له کبله د وينې د سپينو کريواتو د کچې زيادښت په وينې بهير کې.

**- Basophilic Lekocytosis**

د وينې د سپينو کريواتو د بازوفيل حجرو د کچې زيادښت په وينې بهير کې.

**- Mononuclear Lekocytosis**

د وينې د سپينو کريواتو مونو نوکلير حجرو د کچې زيادښت په وينې بهير کې. د (Mononucleosis ) په انډول .

**- Pathologic Lekocytosis**

د د انتاناتو او ضرباتو او بېلابېلو مرضی عواملو له کبله د وينې د سپينو کريواتو د کچې زيادښت په وينې بهير کې.

## Leukocytotaxis

د (Leukotaxis ) په انډول .

## Leukocytotaxicity

د (Lymphocytotaxicity ) په انډول.

## Leukoderma

په پوستکی کې د رنګه دانو لرونکې موضعی سيمې چې اکتسابی وی.

**- Leukoderma Aquisitum Centrifigum**

د ( Halo Nevus) په انډول.

**- Syphlitic Leukoderma**

هغه کمرنګه او نامشخصو –ناځرګنده پولو لرونکو لکې چې معمولاً د غاړې په دواړه طرفونو کې موندل کېږی دغه ضايعه د سفليس په مؤخر دويمه مرحله کې ليدل شی.

## Leukodystrophy

د ماغزو په سپينه ماده (White Mattar) کې ناجوړتيا او اختلال. د (Leukoencephalopathy ) په انډول .

**- Globoid Cell Leukodystrophy**

د ( Krabbe's Disease) په انډول.

**- Hereditary Adult Onset Leukodystrophy**

ارثی ډوله لوکوانسفالوپتی چې د سپينې مادې پرمختلونکې استحالې په مټه چې د (موتوری ناروغی ، متيازو او غايطی بې واکی ، او د وضعيتی دموی فشار د راټيټېدو) سره مل پيژندل کېږی.

**- Metachromatic Leukodystrophy**

په نسجونو کې د سلفاتيدونو په راغونډېدو پورې اړوندارثی ناروغی چې په عصبی مرکزی سيستم کې د ميالين پراخ نشتوالې سره يوځای وی ، دغه ناروغی په ځوبنو سره ليدل شی.

## Leukoedema

د اپيتليوم د پيړوالی (ضخامت) د زياتوالی او مالپيګی طبقو داخل الحجروی پړسوب په بڼه د خولې په مخاط کې يو ډول غېر نارملتيا.

## Leukoencephalitis

د ماغزو د سپينې مادې التهاب ، په آسونو کې پوه پراخه ډول معمول ناروغی چې ځينې بوټو سره له مسموميت له امله پېښېږی.

## Leukoencephalopathy

د ناروغيو يو ډول دئ چې د ماغزو سپينه ماده اخته کوی د لوکوډيسټروفی ورته اصطلاح د هغه ناروغيو د ځرکندونې لپاره کاروله کېږی چې په نويو زوکړو ماشومانو کې د ميالين جوړېدنې او بيا پاتې کېدنې له نيمګړتيا سره مخامخ وی.

**- Progressive Multifocal Leukoencephalopathy**

دا د مرکزی عصبی سيستم کې د فرصت طلبو انتاناتو څخه سرچينه اخلی [ د (JC) ويروس په واسطه] د ډې ميلينايزيشن سره مل وی د ماغزو په نيمائی کروی او په نادر ډول د ماغزو په ساقه او مخيخ کې منځ ته راځی.

## Leukoerythroblastosis

د هډوکی په مغز کې د پراخو ضايعاتو د شته والی له امله وينه لړی چې په وينه کې د نابالغه ميلوئيد او ايريتروئيد حجرو د متغير شمېر په شته والی سره پېژندل کېږی.

## Leukokeratosis

د (Leukoplakia) په انډول.

## Leukokoria

هر هغه وضعيت چې د سپين رفلکس د پېښېدو يا دعدسيې تر شا د کسی په برخه کې د سپين رنګه کتلې د ليدنې لامل ګرځی.

## Leukokraurosis

د (Kraurosis Vulvae) په انډول.

## Leukolymphosarcoma

د (Leukosarcoma) په انډول.

## Leukoma

سپین او پنډ د قرنیې اړوند کدورت، د خولې د مخاط لوکوپلاکیا .

**- Adherent Leukoma**

د قرنیې سپین تومور چې د پرولاپس شوې عنبیې یوه برخه په برکې نیسي.

## Leukomatous

د (Leukoma) اړوند صفت.

## Leukomyelitis

د نخاع د سپینې مادې التهاب .

## Leukonecrosis

د سپینورسبونو او ګانګرین پیښبوونه .

## Leukonychia

په ټول ټال یا قسمي ډول د نوک ناجوړه سپین رنګه کېدنه

## Leukopathia

د (Leukodema) په انډول ، د سپینوکریواتو اړوند هره ناروغی

**- Leukopathia Ungulum**

د (Leukonychia) په انډول .

## Lekopedesis

د رګونو له جدار څخه د وینې د بهیر له منځه د سپینو کریواتو تېښته او وتل (ډیاپیډیزس).

## Leukopenia

د وینې د بهیر د سپینو کریواتو د شمېر کمښت ، په هر ملي متر مکعب وینه کې د سپینو کریواتو د شمېر کچه (4000 /Mm³ >) یا کم وي .

**- Basophilic Leukopenia**

دوینې دسپینو کریواتو د بازوفیل حجرو د شمېر کچې غېر نارمل کموالي بلل شي.

**- Malignant Leukopenia**

د (Agranulocytosis) په انډول.

**- Pernicious Leukopenia**

د (Agranulocytosis) په انډول.

## Leukopenic

د (Leukopenia) اوند صفت .

## Leukoplakia

د مخاطي غشأ په مخ باندې د سپین رنګه پلاکونو شته والې . د (Oral Leukoplakia) په انډول.

**- Atrophic Leukoplakia**

په مېرمنو کې د (Lichensclerosis) په انډول.

**- Oral Leukoplakia**

د اپتلیوم د هایپرکراتوزس له امله د خولې د مخاط په مخ سپین رنګه پنډ او مسطح ضایعات چې د اپی درموئید کارسینوما د پیدا ښښت لپاره وړ شرایط چمتو کوی او ځای یې معمولاً د (غومبورو ، اوریو او ژبې)مخاط دئ.

**- Leukoplakia Vulvae**

په مېرمنو کې د (Lichensclerosis) په انډول. په فرج کې د سپین رنګه هر ډول ضایعه .

## Leukopoietin

یوه ماده چې معلومېږی د سپینو کریواتو تولید د بهیر تنظیموونکې هورمون دئ.

## Leucorrhea

د مهبل او رحمی جوف سپین رنګه لزوجی افرازاتو راوتل دی.

## Lekosarcoma

په ښه ډول توپیر شوی نوعیت لرونکې په لمفوسایتیک خبیث لمفوما اخته ناروغانو کې د لوکیمیا پېښنونه.

## Leukosis

د سینوکریواتو دجوړونکې نسج پرولیفریشن/ ارتشاح.

**- Avian Leukosis**

په الوتونکو /چرګانو کې یو ډول لېږدېدونکې ماده چې د بالغو (لمفوئید ، میالوئید او ایریتروئید) حجرو په تکثر سره پېژندل شی ، د (Fowl Leukosis) په انډول.

**- Fowl Leukosis**

د (Avian Leukosis) په انډول.

## Leukotactic

د (Leukotaxis) اړوند صفت.

## Leukotaxis

د سپینو کریواتو سایتوټکسی ، یوې سیمې ته د سپینو کریواتو راغوښتل.

## Leukotic

په لوکېمیا اخته کس .

## Leukotome

هغه کړنه اوبهنځ چې له لارې یې لوبوټومی او یا لوکوټومی د ترسره کولو په موخه سیمې کړی. تېرولـه کېږی.

## Leukotoxin

هغه سایتوتوکسین چې سپین کریوات له منځه وړی.

**Leukotrichia**

د ویښتانو سپینېدل ، د ویښته سپین رنګه کېدل.

**Leukotriene**

له اراکېدانوئیک اسید څخه زېږنده مرکبونو یوه ډله چې د بیولوژیک پلوه (فعاله اوالرژیک او التهابي) غبرګونونو تنظیموونکې ده دغه مواد د ( A,B,C,D او E) دتوروپه مټ پېژندل کېږي چې هر یو یې نور ډېر ډولونه لري .

**Lev-**

دا یو مختاړې دئ او د کیڼ (چپ) معنی بشپړوی.

**Levallorphan**

لورفاني انالوګ چې د نېشه ئي درد ضد درملو پر ضد اغېزه کوی د دې درملو تارتاریتی مالګه د نېشه ئي درد ضد درملو زېږنده تنفسی ډیپریشن په درملنه کې پکارېږی.

**Levarterenol**

د (نار اپینفرین) په انډول.

**Levator**

پورته کوونکې ، هغه عضله چې د یوه غړي یا اندام یا یوې برخې د بدن جوړښت پورته کوی ، د جراحي هغه وسیله یا اسباب چې بری باندې د یوه هډوکی کسری او ماته ټوټه ( قطعات) راپورته کول شی اوپر خپل ځای کې کېښنودل شی.

- **Levator Ani Muscle**

د مقعد پورته کوونکې عضله (ماهیچه).

**Level**

سویه ، سطحه ، اندازه ، کچه .

- **Blood Elements Level**

په وینه کې د عناصرو سویه .

- **Level of Care**

د څارنې (مراقبت) کولو سویه لکه د ناروغانو .

- **Level of Conscious**

د شعور (هوش) سویه.

**Levigation**

نرمول ، سُلول ،پستول لکه د خمیرې.

**Levo-**

دا یو مختاړې دئ او د کیڼ (چپ) معنی بشپړوی.

**Levocardia**

کیڼ زړه ،دا اصطلاح د هغه کسانو لپاره استعمالېږی چې زړه نورمال (کیڼ اړخ) کې وی او نورغړی یې سر چپه ځای نیولې وی .

**Levocarnitine**

د (Carnitine) د (L) ډول ایزومیر ته ویل شی چې د بیولوژیک له پلوه فعال دئ او د کارنیتین اولېه کمښت او نیمګړتیا په درملنه کې پکارېږی.

**Levoclination**

کیڼ لوری ته دسترګو د عمودی محور پورتنې قطب جوړېدنه .

**Levodopa**

دا یو طبیعی کېمیاوی د ډوپامین تولید تنبه کوونکې او د ډوپا کیڼ چورلیدنې ډول دئ چې د ( Parkinson's Disease) پارکینسون د ناروغۍ په درملنه کې کارېږی.

**Levonorgestrel**

د ښځینه جنسی هورمون مصنوعی ډول د نورجیسترول (Norgestrel) کیڼ اړخ چورلېدونکې ډول هورمون چې د استروجن سره یوځای د خولې له لارې خوراکی ( Pills یا Capsules )د بلاربښت ضد درملو په توګه پکارېږی.

**Levopropoxyphene**

د پروپوکسی فین کیڼ چورلیدونکې ډول چې دناپسیلاتی مالګه یې د ټوخی ضد درملو په توګه پکارېږی .

**Levorotatory**

کیڼ لورې ته د پولرایز شوې رڼا د پولرایز یشنی پانې جوړېدنه.

**Levorphanol**

یو نېشه یې ضد درمل چې مورفین ته ورته کار او دنده لری چې باربیتوریتی مالګه یې کاروله شی.

**Levothyroxine**

د تایروکسین کیڼ اړخ چورلېدونکې ایزومیر چې د سوډیمی مالګه یې د تایروئیډ هورمون ځای نیوونکې په توګه پکارېږی.

**Levotorsion**

د ( Levoclination) په انډول.

**Levoversion**

کیڼ لورې ته څرخېدنه (چورلېدنه).

**Levulose**

د فرکتوز پخواني نوم .

**Lewisite**

لویسیت یو کېمیاوی آرسنیکي ژیړ رنګه جوړښت دئ

چې فورمول یې (CHASCL2 = CLCH) په ډول دئ .

## Lewy Body

د دماغ په نیورونونو کې د پروټینونو ذخیره کېدنه.

## Lewy Body Dementia

دا یو ډول ناروغي ده چې د دماغ دننه د (Lewy Bodies) شتون چې په رواني پروسه اغېزه کوي دا د (Alzheimer's Disease) ناروغۍ ته ورته دئ خو ددې ناروغي خلک د (Hallucinations او Delusions) سره مل وي .

## Leydig Cells

د تستوستیرون (Testosterone) تولیدوونکې حجرې چې د مرغېړیو په ټیوبولونو کې شتون لري او ورته (Interstitial Cells) هم ویل شي په (1850-1908) کالونو کې دجرمنی هستولوژی عالم پذریعه لومړي ځل شرحه شو.

## Leydig Tumour

هغه تومور چې د مرغېړیو د (Leydig Cells) حجراتو څخه چې تستوستیرون هورمون آزادوي او ځوانۍ لومړنۍ علایم بلل شي.

## LFA

د جنین پوزیشن کینې جبهي – قدامي وضعیت (Left Frontoanterior) لپاره لنډه نښه ده.

## LFP

د جنین پوزیشن کینې جبهي – خلفي وضعیت (Left Frontoposterior) لپاره لنډه نښه ده.

## LFT

د جنین پوزیشن کینې جبهي – مستعرض وضعیت (Left Frontotransvers) لپاره لنډه نښه ده.

## L.G.V

لمفوګرانولوم –وینیروم (Lymphogranuloma Venereum) لپاره لنډه نښه ده.

## LH

لوتینایزنګ هورمون (Luteinising Hormone) لپاره لنډه نښه ده.

## LH-RH

لوتینایزنګ هورمون آزادوونکي هورمون (Luteinising Hormone-Releasing Hormone) لپاره لنډه نښه ده.

## Li

لیتیم، دا یوه کېمیاوي پسته او فلزي سیمیني ماده چې ډېره سپکه فلزي ماده بلل شي چې د (Lithium) کیمیاوي نښه ده او اټومي وزن یې (941.5) ، اټومي شمېره یې (3) ، د ویلې کېدنې ټکې یې (5.180 C°) او جوش ټکې یې (1336C°) دئ .

## Libido

جنسي لېوالتیا ،د اولیه پاروونو څخه زېږنده انرژي ، د روانځېړنې له مخې دغه اصطلاح د جنسي ژوند د محرک په معنی ده .

## Libidinal

د (Libido) اړوند صفت .

## Libra

د (Pound) په انډول . پونډ چې انګرېزي د وزن واحد دئ.

## Librium

د (Chlordiazepoxide) لپاره سوداګریز نوم دئ.

## Lice

د (Louse) لپاره ګڼ شمیر بلل شي.

## Licence

اجازه لیک ، مجوز نامه ، جواز لیک ، د شغل جواز ، اجازه ورکول ، رخصت ورکول ، لایسنس License ، د یوه د ترسره کولو لپاره د یوه رسمي دفتر څخه د پرکتیس کولو اجازه لیک تر لاسه کول لکه (ډاکټرانو، نرسانو، فارمسستانو، موټرچلوونکو) ته رسماً اجازه ورکول .

## Licensure

د مجوز ورکړې عملیه .

## Licentiate

هغه څوک چې له اړونده دفتر څخه اجازه لیک ورکړل شوې وي چې تر څو پرکتس تر سره کړي . رسماً مجاز ،لاینس ترلاسه کړې ، لیسانسه.

## Lichen

د هغوځانګړو بوټو څخه هریو چې د الجیانو او چڼیاسو (فنګسونو) له یوځای کېدنې څخه لاس ته راغلی، د پوستکي پاپولر ضایعاتو یوه ډله چې کوچنۍ سختې او سور بخنې دانې اوپېر جلد پکې لیدل کېږي.

**- Lichen Amyloidosus**

هغه حالت چې ځانګړنه یې د پوستکي وضعي امایلوئیدوز وي.

**- Lichen Fibromucinoidosus**

میګزودیم ته ورته حالت چې له هایپرتایرایډیزم څخه پرته منځ ته راځي چې پکې (فیبروسایتیک پرولفریشن ، د پوستکي موکو پولي سکراید اسید زیادښت ، د وینې د پاراپروټین دشته والی) له مخې پېژندل

شی چې د لیکنوئید پپولونو یا سیانوټیک نوډولونو یا پلاکونو په بڼه ښکاره کوی، د (Lichen Myxedematousus) په انډول.

**- Lichen Myxedematousus**

د (Lichen Fibromucinoidosus) په انډول.

**- Lichen Nitidus**

یو ډول مزمن التهابي جلدی دانې دئ چې هغه اوصاف او ګوښې ګوښې برېښنده پپولونه پکې ونډه لری چې څرګندې - همواره دانه دارې سطحې لرونکې بې رنګه ژیړ لری نادراً د پوستکی له سطحې څخه لوړې وی.

**- Lichen Planpilaris**

یو ډول لیکن پلان چې د ویښته د فولیکولونو په شاو خوا کې د تقرنی پپولونو په راغونډېدوسره پېژندل شی هدغه راز د لیکن پلانوس وصفی ضایعات هم وجود لری.

**- Lichen Planus**

لیکن پلانوس ، د پوستکی التهابي ناروغی ده چې (بې رنګه ، پلن او ځلانده) پپولونه د (ویښته ، نوک ، او خولی مخاطی غشأ) کې لیدل شی او خارښت لرونکې بنفش داغونه د مټ او ورون په برخه کې تظاهر کوی .

**- Lichen Ruber Multiformis**

یو ډول مزمن لیکن سیمپلکس چې په خطي ډول یې پپولونه ځای پر ځای شوېدی.

**- Lichen Ruber Planus**

د (Lichen Planus) په انډول .

**- Lichen Sclerosis**

د پوستکی مزمن اټروفیک ناروغی چې د سپینو پپولونو اریتیماتوز ژیړ لرونکی او کراتوتیکی سطحې په مرسته پېژندل شی ځینی وختونه د ښځینه فرج او نارینه قضیب باندې را منځ ته کېږی.

**- Lichen Scrotulosorum**

په نری رنځ اخته ناروغانو کې د روښانه سره رنګ لرونکی لیکینوئید فولیکولی پپولونه ، د (Lichen Scrotulosus) په انډول.

**- Lichen Scrotulosus**

د (Lichen Scrotulosorum) په انډول.

**- Lichen Simplex Chronicus**

خارښت لرونکی پپولر دانې چې په مجرد یا مرتبط ډول سره شتون لری خو روانی ستونزه ګڼل شی دا دانې تودوخه لری او معمولاً تر ځانګړو سیمو پورې محدود وی.

**- Lichen Spinulosus**

هغه حالت چې د هر ویښته په فولیکولی مرکز کې یو اغزې یا ښاخ شته والې لری .

**- Lichen Striatus**

په بنفسهي (پخپله) ډول محدودېدونکې خطي لیکنوئید دانې چې معمولاً په ماشومانو کې رابرسېره کېږی.

## Lichenification

د پوستکی پنډوالې او کلکېدل چې د جلدی لیکو رابرسېره کېدنی سره مل وی.

## Lichenoid

د لیکن (Lichen) په څېر او ورته بڼه لرل .

## Lid

هغه پورتنۍ (Top) برخه چې یو (Container) پوښوی ، سرپوښ.

**- Child – Proof Lid**

د درملو د بوتل ساتندویه سرپوښ چې د ماشومانو څخه بوتل ژغوری.

## Lidex

د فلبوسینوئید د محصولاتو لپاره سوداګریز نوم .

## Lidocaine

لیډوکائین .سیمه ائېز بې حسه کوونکې د درد ضد درمل چې په موضعي ډول زرق کېږی او محیطی بلکونو (نخاعی ، اپی ډورال ، رجیونال ،موضعی) بې حسی په موخه ترې کار اخیستل شی همدا رنګه ورته د (Lignocaine) نوم هم ورکړل شوېدی.

## Lie

قرار ، قرار نیول و ملاسته ، پروتوالې ، وضعیت نیول ، موقعیت اخیستل ، دغه اصلاح د جنین وضعیت ته د مور په رحم کې ویل شی .

**- Lie of Fetus**

د جنین پروت وضعیت د مور او جنین د اوږدو محورونو پر بنسټ.

**- Oblique Lie**

مایل (کوږ) وضعیت ، د بلاربښت په بهیر کې د جنین موقعیت په داسې ډول چې د مور او جنین د اوږدو محورونو تر منځ زاویه (45°) درجې ته نږدې وی.

**- Transvers Lie**

مستعرض (سورور) وضعیت ، د بلاربښت په بهیر کې د جنین موقعیت په داسې ډول چې د مور او جنین د اوږدو محورونو یو پربل عمود وی.

## Lieberkühn’s Glands

لایبرکوهن غدې ، د (Crypts of Lieberkühn) لپاره ورته نوم دئ.

## Lien

توري ، طحال، د بدن د دفاعی سیستم یو غړې دئ .

## Life
ژوند ، حیات ، د ژوندانه موده. هغه کېفیت چې د هغه له مخې یو ژوندي موجود له نا ژوندی موجود څخه توپیر کېږی او ټول تال میتابولیک ،وده ائیز (تکثری) ، توافقی، او نور بهیر ونه پکې تر سره شي.

**- Life Event**

د ژوندانه پېښه لکه (دنده ، بیمه او تقرری ګټې.... اونور ) پکې شامل دی.

**- Life Expectancy**

د یوچا د ژوندانه عمر / توقع ، هغه موده چې یو څوک پکې ژوندون کوی.

**- Sign of Life**

د ژوندانه نښه .

**- Life -Saving Equipment**

د ژوندانه ساتونکې وسیلې / وسایل .

**- Life -Support System**

هغه ماشین چې د ژوندانه د تداوم لپاره (دحیاتی دندود سیستم) ساتنه کوی لکه د (ساکښلو ، د زړه ځارنه) کوی.

**- Life -Threatening Disease**

د ژوندانه تهدید کوونکی (خطرناکې) ناروغی .

## Lift
پورته کوونکې ،پورته کېدنه ، راپورته کول ، راخیستل ، هوا ته خېژول ، ترفیع ورکول ، ارتقأ، د یوه ناروغ /مجروح/ بې هوښه کس را اوچتول.یوه د ښکلا عملیاتی کړنلاره ده چې پکې د زاړه عمر اړوند نښې او بدنی منظرې بدلون منځ ته راځي

**- Face Lift**

د مخ اوچتول ا و د بڼې بدلون د پلاستیک جراحي په مرسته د عمر د زړښت نښې لېرې کول .

**- Fourhanded Lift**

له څلور اندامو رانیول او راپورته کول .

**- Shoulder Lift**

د اوږې راپورته کول ، پر اوږه راړول.

## Ligament
لیګامنټ ، وتر ، پېړ (ضخیم ) فبروتیک تار چې هډوکی د بندونو په برخه کې سره نښلوی او کپسول منځ ته راوړی او همدارنګه د هغه دوه طبقه ئی پریتونیوم چې له یوه غړی څخه بل غړی پورې غځېږی بدن یو لړ غړی / اندامونه نښلوی او هغه ثابت ساتی . د جنین د ټیوبولی جوړښتونو طنابی ډوله پاتې شونې چې له زېږون وروسته بې ګټې پاتې کېږی.

**- Lien Accessorious**

اضافی توري ، فرعی توري .

**- Lien Mobills**

خوځنده او لامبوزن توري .

## Lien-
دا یو مختاړې دئ او توري (طحال، Spleen) معنی بشپړوی.

## Lienal
د توري (Lien) اړوند صفت.

## Lineal
د توري (Lien) اړوند صفت.

**- Lineal Artery**

د توری سور رګې (شریان).

**- Lineal Nerve**

د توری عصبی رګ (عصب).

**- Lineal Vein**

د توری شین رګې (ورید).

## Lienculi
د (Lienculus ) لپاره ګڼه شمېره .

## Lienculus
یو کوچنۍ ثانوی طحال (توري) چې کله ناکله په بدن کې شتون لری .

## Lieno-
دا یو مختاړې دئ او توري (طحال، Spleen) معنی بشپړوی.

## Lienocele
دتوري چُره ، د طحال فتق.

## Lienorenal
د توری او پښتورګی دواړو اړوند صفت ، طحالی – کلیوی.

## Lienotoxin
دتوري توکسین ، طحالی توکسین.

## Lienteric
د (Lientery) اړوند صفت.

## Lientery
هغه نس ناستې چې محتویات یې ناهضم شوی خواړه وی. د (Lienteric Diarrhoea) په انډول .

## Lienuculus
فرعی توري ، اضافی طحال .

## LIF
د کینې لوري ایلیاک جوف ، د (Left Iliac Fossa ) لپاره لنډه نښنه ده.

**- Accessory Ligament**
اضافی وتر .هغه وتر چې د بل وتر د پیاوړي کېدو لامل ګرځي.

**- Allar Ligament**
هغه دوه پټې فیبروزی لیګامنټ چې د ډنس د بارزې له ځوکې څخه تر اوکسی پیټال هډوکی د هر یوه کونډیل له داخلی مخ سره پیوستون لری ، د زنګون (ګونډې) بند یوه جوړه ساینویال غشأ ګانې.

**- Annular Stapedial Ligament**
د فیبروزی نسج یوه کړی چې د رکابی هډوکې ببخ دننه غوږ د دهلېزی سوري سره نښلوی.

**- Arquate Ligament**
لیندی ډوله وتر ، قوسی لیګامنټونه چې د ډیافراګم له وروستنیوپوښتیو او د ملا لومړنی فقرې سره نښلوی .

**- Barard's Ligament**
د (Suspensory Ligament Of The Pericardium ) په انډول.

**- Bertin's Ligament**
د ( Ilieofemoral Ligament) او( Bigelow's Liagament ) په انډول.

**- Ligament of Bortallo**
عضلاتی فیبروزی طناب چې د ریوی شریان څخه ابهری قوس ته غځېږی چې د جنینی دورې د شریانی بهنځ پاتې شونې دی.

**- Bourgery's Ligament**
پوپلیتیال مایل وتر ، هغه پلنه فیبروزی پټی ده چې د ټیبیا له داخلی کونډیل څخه زنګون د بند شا او له هغه ځایه څخه وحشی ته غځېږی.

**- Broad Ligament**
پلن وتر ،① هغه پراخ کوت شوی پریتوانی جوړښت چې رحم (خلانځې) ته استناد وربخښي او په هرې لورې کې د حوصلې جداورونو ته غځېږی. ②هغه پریتوانی لور ډوله سهمی (سجیتال )کوت (چین) چې له ډیافراګم سره د ینې (کبد) پیستون کې مرسته کوی او د کینې او ښي کبدی دوه لوبونو د رامنځ ته کېدو لامل ګرځی ، ③د پلورا عمودی کوت چې په کښته لورې کې د نامه څخه د سږو داخلی سطحې ته غځېږی .

**- Brodie's Ligament**
د (Transvers Humeral Lig) په انډول .

**- Burn's Ligament**
د ( Falciform Process Lig) په انډول .

**- Campbell's Ligament**
د ( Suspensary Lig) په انډول .

**- Comper's Ligament**
د ( Urogenital Diaphragm Lig) په انډول .

**- Cardinal Ligament**
د مهبل او رحم د غاړې په څنګ کې د حوصلې د حشوی صفاق پنډه برخه چې د بهر په لورې حرکت کوی او د حوصلې د ډیافراګم له پورتنی صفاق سره یوځای کېږي .

**- Colles' Ligament**
فیبروزی ډوله مثلثی پټی چې د لکونار لیګامنټ او پوبیس هډوکی څخه سرچینه اخلی او د ګېډې د سپینې کرښې په لورې غځېدلی ده.

**- Conoid Ligament**
د کوراکوکلاویکولار لیګامنټ داخلی – خلفی برخه چې د کراکوئید بارزې څخه د کلاویکول له لاندینی سطحې سره نښلی .

**- Conus Ligament**
هغه کولاجنی پټی چې د ریوی جدار انولوس خلفی سطحه اوعضلاتی انفانډیبولوم له ابهری ریښې سره نښلوی .

**- Cooper's Ligament**
د ( Pectineal Ligament) په انډول .

**- Coracoclavicular Ligament**
هغه پټی چې د سکپولا (کتف) د هډوکی کوراکوئید بارزه د ترقوی د هډوکی له اکرومیال پای سره نښلوی او دوه لیګامنټونه (کونوئید او تراپیزوئید ) پکې شامل دی .

**- Cotyloid Ligament**
فیبری – غضروفی کړی چې د اسیتابولوم له ژۍ سره نښتې ده.

**- Cruciate Ligament's of the Knee**
هغه قدامی اوخلفی متقاطع لیګامنټونه چې د ورانه له هډوکی څخه په په ټیبیاهغه پورې نښلی او پدې لاړې کې بین الکونډیلی فضأ څخه تېرېږی.

**- Cysticiduodenal Ligament**
صفاقی غبر نارمل کوت / چین چې د صفراوی کڅوړې او اثناعشر تر منځ غځېدلې ده.

**- Diaphragmatic Ligament**
د یوروجنیتال ډیافراګم ناڅرګنده ژۍ چې د هګۍ ځالې په ځوړند (سوسپنسور) لیګامنټ باندې اوړی .

**- Falciform Ligament**
صفاقی لوړ ډوله سجیتال چین له ډیافراګم سره د ینې له پیوستون سره مرسته کوی.

**- Glonohumeral Ligament**
د مټ (عضد ) هډوکی د مفصلی کپسول په داخلی سطحه کې درې پټې چې له ګلینوئیدی ژۍ څخه د مټ هډوکی تر اناټومیک غاړې پورې غځېدلې لیګامنټ بلل شی .

**- Glanoid Ligament**
غضروفی –فیبری کړی چې د مندیبولاژورې له ژۍ سره نښتې ده ، هغه کلکې پټې چې د میتا تارس - فلنجیال بندونو په پلانټر سطحه باندې غځېدلې دي.

**- Henle's Ligament**
د بطنی ښی عضلی پلنه شوې بهرنۍ ژۍ چې د عانې له

په اوږدو کې غځېږي.

**- Phrenicocolic Ligament**

حجاب حاجزي -کولوني لیګامنټ ، هغه وتر چې د کیڼ کولوني جوف څخه راکښته کېږي او د حجاب حاجز تر نیږدې ځایونو پورې رسېږي.

**- Posterior Miniscofemoral Ligament**

د ګونډې (زنګون) په بند کې کوچنی خلفي فیبري پټۍ چې له بهرني مینیسک سره نښتې چې شاتنۍ (خلفي) یې د فخذ داخلي کونډیل سره نښتې ده.

**- Poupart's Ligament**

د (**Inguinal Ligament**) په انډول.

**- Pulmonary Ligament**

هغه عمودي کوټ (چین) چې د سږي له نامه څخه د هغه تر ښکته پورې غځېدلې دئ.

**- Rhomboid Ligament of Clavicle**

هغه وتر چې د لومړۍ پښتۍ غضروف د ترقوي د هډوکي له لاندیني سطحې سره نښلوي.

**- Robert's Ligament**

د (**Posterior Meniscofemoral Ligament**) په انډول .

**- Round Ligament**

①هغه پلن وتر چې د استابولوم د ورغوي له وازدې څخه د ورانه هډوکي ترسر پورې غځېدلې (فخذ) ،②هغه فیبروزي پړې (رسۍ) چې د کبد له نامه څخه د کبد تر قدامي ژۍ پورې غځېدلې دي(ینه /ځیګر)، ③هغه فایبري -عضلي بانډ چې رحمي ټیوب ته نېږدې له رحم سره نښلي او د مغبني لیګامنټ له لارې د فرج تر لویو شونډو رسېږي(رحم).

**- Schlemm's Ligament**

د اوږې د بند د کپسول دوه لیګامنټونه.

**- Subflaval Ligament**

د دوه سره نښلېدلو فقرو د لمینا د بطني برخو تر منځ د الاستیکي نسج د جنسیت لرونکو بانډونه.

**- Suspensory Ligament**

ځوړند (معلق) لیګامنټ، ①د سترګې د عدسیې د (**Ciliary Zonule**) په انډول،② د تخرګ سیمې د صفاق یوه طبقه چې پورته لورې ته غځېدلې او پکتورالیس مینور عضله په برکې نیسي ، ③ د هګۍ ځالې بهرنۍ پورتنۍ برخه کې د پلن لیګامنټ یوه برخه ،④ دتې د هغه حوفیبري بارزو څخه یوه چې د تې د غدې د تنې (جسم ) څخه تر پوستکي په لورې ځغلي ،⑤ د کلایتوریس (بظر) یوه لیندۍ ورته فیبري بانډ چې د کلیتوریس بېخ د سپینې لیکې سیمفیزس پوبیس سره نښلوي ،⑥ د قضیب یو کلک فیبري بانډ چې د بېخ دسپینې لیکې او سمفیزس پوبیس سره نښلوي.

**- Synovial Ligament**

یو لوی ساینویال کوټ (چین).

هډوکي سره نښتې ده .

**- Hey's Ligament**

د (**Falciform Process Ligament**) په انډول.

**- Iliofemoral Ligament**

مثلثي یا دسرچپه (**Y**) بڼه لرونکې (٨) په بڼه پټۍ چې د ورانه د پښې پورتنۍ او مخکینۍ برخې پوښوي.

**- Iliotrochanteric Ligament**

د حرقفي -فخذي بند د کپسول مفصلي برخه .

**- Inguial Ligament**

د سپوغزې لیګامنټ ، مغبني وتر ، هغه فایبري پټۍ (وتر) چې د پورتنۍ مخکې ایلیاک اغزي څخه تر پوبیس اغزي پورې غځېدلې ده.

**- Lacunar Ligament**

لکونار لیګامنټ ، هغه غشأ چې قاعده یې د فخذي کړۍ په داخلي سطحه کې پرته ده او یو لوري یې د مغبني لیګامنټ او بله هغه یې د پوبیس له پکټینیال لیکې سره نښتې ده.

**- Lisfranc's Ligament**

هغه فایبري پټۍ (وتر) چې د کونیفورم د هډوکي له دننه څخه له دوهم میتاتارس هډوکي سره نښتې او غځېدلې ده.

**- Lockwood' S Ligament**

هغه ځوړند پوښ چې د سترګې د ګاټې ساتنه کوي.

**- Medial Ligament**

د پښې د خنګرې (بجلک) په داخل لورې کې لوی پکه ډوله لیګامنټ.

**- Meniscofemoral Ligament**

د ګونډې (زنګون) په بند کې دوه کوچني فیبري پټۍ چې له بهرني مینیسک سره نښلېدلې دي چې یوه یې (قدامي) د فخذ له منځني متقاطع لیګامنټ او بله یې (خلفي) د فخذ داخلي کونډیل سره نښتې ده.

**- Nephrocolic Ligament**

کلیوي -کولوني لیګامنټ ، هغه وتر چې د پښتورګي د چاپېر کپسول له وازدې څخه راکښته کېږي په ښۍ لورې کې د صعودي کولون تر خلفي جدار او کیڼ لورې کې د د نزولي کولون تر خلفي جدار پورې رسېږي.

**- Nuchal Ligament**

هغه پلنه مثلثي ډوله فیبري تېغه (سیټوم) چې د غاړې په څټ کې سجیتال ډول پرته ده او کیڼ اوښي لوري سره بېلوي.

**- Patellar Ligament**

د زنګون سترګې هډوکي ډیستال برخې د څلور سرې عضلې د ټینډون د مرکزي برخې امتداد چې له دې هډوکي څخه تر ټیبیا تر توبروزیټي پورې غځېدلې دي.

**- Pectineal Ligament**

هغه د لیندۍ (قوس ) په څېر پوښ چې د لکونار لیګامنټ دبهرنۍ برخې امتداد ګڼل کېږي او د پوبیس د پکټینیال لیکې

راډيوس هډوکي پورې نښلي .

- **Wrisberg's Ligament**

د (Posterior Meniscofemoral Ligament ) په انډول .

- **Y- Ligament**

د (Iliofemoral Ligament) په انډول.

## Ligamentopexy

د لېګامنټو د کلکولو اوتثبيت جراحي کړنلاره .

## Ligamentum

د (Ligament ) په انډول.

## Ligand

يو ارګانيک موليکول چې له يوه فلزي آيوډين سره کوولانس اړيکې د جوړولو او شريکولو لپاره اړين الکترونونه چمتو کوي او تعامل ترسره کولای شي.

## Ligase

د انزايمونو هغه ډله چې يو له بل سره د هغې ماليکولونو داسې پيوستون کتلايز کوي چې (ATP) يا نورو ترای فاسفيټونو د پايروفاسفيټ رابطې د ماتولو سره مل وي.

## Ligate

تړل ، غوټه کول ، د يوځه تړل لکه د وينې رګونو تړل د وينې بهېدنې د مخنيوي په موخه يا د نفيرونو تړل د نه زېږونې په موخه.

## Ligating

د تړلو او غوټه کولو بهير /پروسه .

## Ligated

اچول شوې غوټه ، تړل شوې .

## Ligation

جراحي کړنلاره (عمليات) چې پکې د تړلو کړنه تر سره کېږي.

## Ligature

غوټه ، هغه رشته (سپنسې او تار ) چې ترې د رګونو يا جوفونو تړلو يا ګنډلو لپاره اخيستل کېږي.

## Ligaturing

د تړلو او غوټه کولو بهير /پروسه .

## Ligatured

اچول شوې غوټه ، تړل شوې .

## Light

رڼا ، روښنائي ، ① هغه نور او الکترمقناطيسي وړانګې چې د (3900) آبي څخه تر (7700) سُور انګستروم ترمنځ طولي څپې لري چې د وګړو د باصرې حس پارولای شي، ②هغه نرې وينبته

- **Tendinotrochanteric Ligament**

د ورانه د بند د کپسول يوه برخه.

- **Tracheal Ligament**

هغه ګردي عرضاني لېګامنټونه چې د شزن (Trachia) غضروفونه سره نښلوي.

- **Transverse Ligament**

مستعرض لېګامنټ ، چې د يوې ضلعې (پښتې) غاړې د خلفي سطحه په هغه پُښتۍ پورې اړونده فقرې د عرضي زائيدې له منځنۍ سطحې سره نښلوي.

- **Transverse Humeral Ligament**

مستعرض عضدي لېګامنټ ، هغه فايبري باڼډ چې د مټ د هډوکي د انټرټوبرکولر ميزابې په مخ پُل جوړوي او په دې جويه کې د عضلې تينډون ژغوري .

- **Trapezoid Ligament**

د کوراکو کلاوېکولر لېګامنټ بهرنۍ منځنۍ برخه چې د کوراکوئيد زابدې له پورتنۍ برخې څخه د کلاوېکولا هډوکي تر ټراپيزوئيد کرښې پورې غځېږي.

- **Umbilical Ligament**

سُروي لېګامنټ ، نامه غوټۍ وتر ، هغه فيبروزي وتر چې د تړل شوي سُروي شريان پاتې شونې ګڼل کېږي او د مثانې په څنګ کې پورته لورې ته سېر کوي ترڅو تر نامه پورې ورسېږي، د (Ligamentum Medialis ) په انډول .

- **Uteropelvic Ligament**

رحمي -حوصلې لېګامنټ ، هغه پلن وتر چې د عضلاتي نسج پراختيا چې د داخلي اوپټوراتور عضلې په مخ د صفاق څخه د ژۍ او مهبل تر زېږمو رسېږي .

- **Ventricular Ligament of Larynx**

د (Vestibular Ligament ) په انډول .

- **Vesicoumblical Ligament**

د (Medial Umbilical Ligament ) په انډول.

- **Vesicouterin Ligament**

مثاني – رحمي لېګامنټ ، هغه وتر چې د رحم له قدام څخه تر مثانې غځېږي .

- **Vestibular Ligament**

ويستيبولي لېګامنټ ، هغه غشائي لېګامنټ چې په قدام کې د تايرا يډ له غضروف څخه په خلف کې د اريتنوئيد غضروف له قدامي خارجي سطحې سره نښلي.

- **Vocal Ligament**

حُبولي لېګامنټ ، صوتي لېګامنټ ، د الاستيک نسج جنسيت غشأ چې په مخ کې د تايرا يډ له غضروف څخه په خلف کې د اريتنوئيد غضروف له غږېزې بارزې سره نښلي.

- **Weitbreche's Ligament**

هغه کوچنۍ لېګامنتي باڼډ چې له توبروزيټيا اولنا څخه په

## Limb

عضو، د بدن غړي ،اندام ، لاس او پښه ، وزر ، لوی ښاخ ، هډ ، طرف .

**- Anacrotic Limb**

د شریانی نبض پوري اړوند منحنی /ګراف کي پورته تلونکي برخه.

**- Catacrotic Limb**

د شریانی نبض پوري اړوند منحنی /ګراف کي ښکته تلونکي برخه.

**- Limb Lead**

کله چي الکتروکارډیوګرام اخیستل کېږی هغه الکترود چي د مټ یا پښي پوري نښتي وی .

**- Limb Lengthening**

هغه دود / پروسیجر چي پکي مټ یا لینګي اوږد والي مومی هغه هډوکي په دوه نوي ټوټو باندي وېشل شی تر هغه منځ ته راغلي نقیصه ډکه شی.

**- Pectoral Limb**

لاس یا هغه ته ورته غړي .

**- Pelvic Limb**

پښه یا هغي ته ورته غړي .

**- Phantom Limb**

د داسي یو غړی د شته والی احساس چي غوځ کړای شوي وی همدغه راز کېدای شی د غوځ شوی هډ ځخه سرچینه اخیستونکي د پاراستیزیا لنډ مهالي یا تلپاتي ګونګ درد احساس شتون لری.

**- Thoracic Limb**

لاس یا هغه ته ورته غړي .

## Limbi

د (Limbus ) ګڼه ښه.

## Limbic

د (Limbus ) ، هري بلي ژۍ یا زېږمي / حاشیي اړوند صفت.

**- Limbic System**

د ماغزو سیستم دننه په دماغ کي په شمول د ( Hippocampus ، Amygdala او Hypothalamus ) برخي چي د (هیجان، قهر-غضب او وېري) په څېر حالاتو کي ګډون کوی.

## Limbless

پرته له (غړی ، طرف ، هډ )کېدنه . د یوه یا ډېرو بدنی غړو نشتوالي .

## Limbus

ژۍ ، شونډه ، زېږمه ، څنډه ، مورګه ، حاشیه چي ګڼه شمېره ښه یي (Limbi ) بلل شی.

/ پوستکي چي ډېر خاثف (کمرنګه) وی، ③ سپک هغه چي ډېر لږ وزن درلودونکي وی،④ضعیف هغه چي د ډېر لږ انرژی خاوند وی لکه د عکس اخیستني توان نلرل.

**- Light Adaptation**

د سترګو دتوافق لږ والي او روښنائي او تیاره په وړاندي غېرمعمول توافق کول بلل شی.

**- Idioretinal Light**

د بهرنی پاروونکي د بشپړ نشتوالی په شرایطو کي نور دشته والی احساس.

**- Interensic Light of Retina**

هغه کمزوري رڼا چي تل د لېدو په ډګر کي شته والی لری.

**- Polarized Light**

قطبی وړانګي ، هغه وړانګي چي په یوه پاڼه کي د یوي داېري یا منشور په چاپېر جوړېږی.

**- Light Reflex**

حلېموی غېرګون د رڼا په وړاندي د (Papillary Reaction ) په انډول.

**- Light Therapy**

د اختلالونو /تشوشونو او ناروغیو درملنه د وړانګو پذرېعه لکه د لمر وړانګو او یا هم د (ماورأ بنفش) پواسطه .

**- Light Treatment**

د (Light Therapy ) په انډول.

**- Light Wave**

د وړانګو انتقال / لېږد د یوه منبع ځخه په ټولو لورو ترڅو دسترګو شبکیه تنبه او د لېدني وړ وګرځوی .

**- Wood's Light**

د سیمابو له بخار ځخه زېږنده ماوراً بنفش وړانګه چي د نیکلو داکساید د جنسیت لرونکي یوه فلتر ځخه تېرولـه کېږی کوم له یوه ناڅیز مقدار ځخه پرته ټول ټال رڼاوي جذبوی او د محدود څپه ائیز طول ( 365 Mm) لرونکو ماوراً بنفش څپو ته تېرولو اجازه ورکوی.

## Lightening

سپکېدل ، د بلاربښت وروستنۍ او د پایلي مرحله د ګېډي د آزادوالي د کمښت احساس چي د زېږون له پېل ځخه ( 3 -2 Weeks) اونۍ دمخه چي پکي جنین د حوصلي برخي ته نزول کوی .

**- Lightning Pains**

د سپکېدني دردونه،هغه تېز او قوی دردونه چي په (Tabes Dorsalis) ناروغۍ کي د پښو د لېنګیو برخه کي منځ ته راځی.

## Lignocaine

موضعی بي حوښه کوونکی (زرقی/ سپري Lidocaine ) درمل دی.

## Lignoceric Acid

یو (24) کاربنی مشبوع شحمی اسید .

**- Limbus of Cornea**
قرنیوی لیمبوس ، دستړګي د قرنیې ژۍ چې د صلبې سره نښلېدلې ده .

**- Limbus Laminae Spiralis Osseae**
د حلزون هډوکی د مارپېچې تېغې پنډ شوې پریوسټ.

## Lime
①د کلسیوم اکساېډ (Calcium Oxide) په انډول.② د (Aurantifolia) د تودې سیمې ونې تریو خوند لرونکې مېوه چې اوبه یې اسکور بیک اسېد لري.

## Limen
درشل ، حد ، پولې ، بریدونه.

**- Limen of Insula**
هغه تکې چې د انسولاکورټکس د فرنټال لوب د کورټکس په امتداد کې ځای نیسی ، د (Limen Insulae ) په انډول .

**- Limen Nasi**
هغه کرښه چې د پوزې د دهلېز او د پوزې د اصلی جوف ترمنځ پو له ټاکې.

## Liminal
د یوه درشل (تېته کچه د تنبه ) سوبه چې داحساس وړ وی اړوند صفت.

## Laminometer
هغه پارونکې ځواک د اندازې کولو لپاره وسېله چې د یوه ټینډون رفلکس تولیدوی.

## Limitans
محدودوونکی .

## Limitdextrinase
د (A- Dextrinase) په انډول .

## Limp
د(شخی ، سۀ شکل او دردونو) د شته والې له امله یو ډول په لاره تګ یوه پښه د زور د راتللو مخنیوی کوی ، نګوښېدل ، د ګوډتوب عمل ، شلیدن ،شل کېدنې عملیه .

## Limping
ګوډ ګوډ په لاره تګ.

## Lincomycine
د ماکر ولید له کونۍ څخه هغه یو ډول انتی بیوتیک چې په ګرام مثبت انتاناتو اغېزه کوی او ( Streptomyces Lincolness) پنوم باکتیاګانو څخه پلاس راځی.

## Linctus
د ټوخی ضد خواږه ترکیبی درمل دی.

## Lindane
د بنزین هایدروکلورید ګاما ایزومیر چې په موضعی ډول په سپږو او سکابیس باندې اغېزی کوی.

## Line
د (Catheter ) په انډول،په اناټومی کې د یوه جنس جوړښت په مخ باندې یوې نرۍ راوتلې کرښې ته ویل کېږی چې دوه ځرګند اناټومیک جوړښتونه سره نښلوی، پټۍ، کرښه ،لیکه ، خط ،مارک ، نرۍ ژۍ.

**- Absorption Line's**
د هغه موادو پواسطه د نورپه جذب پورې اړوند طیف تیاره کرښې چې نور ورڅخه تېرېږی.

**- Base Line**
قاعدوی کرښه،①هغه کرښې چې د سترګې د حدقې د اینفرا اوربیټال له څنډې څخه د بهرنی غوږ تر سوری پورې غځېدلې او دهغه ځابه د اوکسی پیټ منځنی خط ته رسېږی، ②یو ځرګند کمېت چې یو شمېر لړ پېژندل شوی مواد لری او د اطلاعاتو په ارزوونه کې مأخذ (اخذتون) په توګه ورڅخه ګټه اخیستل شی.

**- Beau's Line**
د نوک پرمخ عرضانی (سوریزې) کرښې معمولاً د سیستمیک ناروغیو څخه سرچینه اخلی خوکېدای شی بل لامل هم ولری .

**- Bismuth Line**
د اوربیو په څنډو یو توربخن آبی رنګه خط چې په بیسموت سره په مسمومیت کې لیدل کېږی.

**- Cemental Line**
د څو نسلونو له منځ څخه د مستقیم نزول لیکه/کرښه.

**- Cleavage Line**
سورې لرونکې (چاک ، درزی ) هغه لیکه چې د هډوکی په عرضانی (سوریزې) مقطع کې د مایکروسکوپ په مته لیدله شی چې د یو هډوکیز واحد د پولو (سیمو) ښودونکې ده.

**- Costoclavicular Line**
د ( Parasternal Linea ) په انډول.

**- Line Of Douglas**
دوګلاسی کرښه،هغه هلالی کرښه چې بطنی رکټوس عضلې د پوښ د خلفی طبقې پای ته رسېدنه ښیي .

**- Epiphyseal Line**
د اپي فیبز کرښه ، ①هغه پاڼه یا سطحه چې د اپي فیز د پیوستون ځای ځرګندوی او په راډیوګرافی کې د یوې کرښې په بڼه لیدله کېږی . ②هغه لیکه چې د اوږدو هډوکو په راډیوګرافی کې د نورو سیمو په پرتله د کم کثافت درلودونکې وی او د اپي فیبز پاڼې ځانګړنه جوړوی.

**- Line Of Expersion**

د مخ اوغاړې جلدی میزابې او نارمل جلدی کرښې ، دغه کرښې د مخ او غاړې په جراحی کې د قطع کولو (څیرنه،پرېکون/ شق) لپاره ټاکلې سیمې دي.

**- Gingival Line**

①د اورۍ او د غاښ د پیل تر منځ د بېلوونکې پولې ښودونکې کرښه ،② د اورۍ په سطحه باندې هره ځرګنده او د لیدو وړ کرښه.

**- Gluteal Line**

د ایلیوم هډوکی د وزر د ګلوټیال سطحې پرمخ د هغه درېو منحنی ډوله (منځنی ، لاندینی ، شاتنی ) کرښو څخه هر یوه .

**- Harris Line's**

دځنډنۍ ودې لیکې چې د اوږدو هډوکو د اپي فیېز په راډیو ګرافی کې لیدل کېږی.

**- Hot Line**

په روغتیائی مؤسسو کې هغه اړیکیزه کرښه چې (24 H) ساعته فعاله وی تر مرستې ترسره کړل شی، نبغ په نبغه د ټلیفون کرښه د قدرتمندو کسانو ترمنځ ، سره تلیفونی کرښه.

**- Iliopectineal Line**

ایلیو پکتینیال لیکه، د ایلیوم او پوبیس هډوکو پرمخ کرښه چې د رېښتینې حوصلې پولې بلل شی.

**- Intertrochanteric Line**

هغه کړه او مایله کرښه چې د ورانه هډوکی په منځنۍ سطحه باندې د لوی او کوچنی تروخانتیر تر منځ کش کېږی.

**- Lead Line**

په سرپو سره په مسمومیت کې د اوریېو پرمخ باندې توربخن یا یا توره مایله آبی کرښه .

**- Mamillary Line**

د تیونو اړونده کرښه ،هغه فرضی عمودی کرښه چې د تي د نوک د مرکز څخه تېرېږی.

**- Median Line**

منځنۍ کرښه، هغه فرضی عمودی کرښه چې د بدن له مرکز څخه تېرېږی او بدن په دوه نیمائی (کیڼ او ښي ) برخو باندې ویشی.

**- Milk Line**

د تی لرونکو په جنین کې د پنډ شوی اپیتلیوم فرضی کرښه چې د اګزیلا (تخرګ) څخه د ورانه تر شا پورې غځېدلې ده چې په اوږدو کې یې د تی څو غدو وده کړېده خو په هر لورې کې یوازې یوه پرځای پاتې کېږی او نورې له منځه ځی.

**- Mylohyoidean Line**

د لاندینۍ ژامنې د داخلی سطحې په مخ باندې وتلې کرښه چې سمفېزس پوبېس له د ژرندې د ورستی غاښ تر شا پورې پورته تلونکې ښاخ ته غځېدلې ده.

**- Nasobasilar Line**

د پوزې او بزېلار برخې کرښه .

**- Nelaton's Line**

هغه کرښه چې د ایلیوم د پرتنی مخکینۍ خاصرې اغزی څخه د اېسکیومی توبروزیتی تر ټولو وتلې برخې پورې غځېدلې دی.

**- Nuchal Line**

دکوپړۍ اوکسی پیټ هډوکی بهرنی سطحه باندې درې کرښې (لاندینۍ ،پورتنۍ ، او ترټولو پورتنۍ ) کرښه.

**- Parasternal Line**

هغه فرضی کرښه چې د تي د کرښې او د قص هډوکی د څنډې تر منځ ځای لری.

**- Pectinate Line**

د انال کانال د هغه سیمې چې مطبق سنګفرشی اپیتلیوم اوتر هغه د پورته سیمې ترمنځ چې استوانه ئي داپیتلیوم لری بېلوونکې کرښه.

**- Pectineal Line**

هغه کرښه چې د د ورانه د هډوکی د جسم خلفی سطحې په مخ کښته لورې ته ځی او د پکتینوس عضله ورسره نښلی ، د پوبېس د پورتنۍ څانګې منځنۍ ژۍ.

**- Semilunar Line**

هغه منحنۍ کرښه چې د ګېډې د هرې رکټوس عضلې بهرنۍ څنډه کې ځای لری چې د ګېډې د عرضانی او داخلی مایلو عضلاتو پیوستون ځای دې.

**- Shenton's Line**

هغه منحنی ډوله کرښه چې د نارمل حوصلې د هډوکو په راډیوګرافی کې لیدله کېږی او د اوبتوراتور سوری د څوکې په وسیله جوړېږی.

**- Stemal Line**

د سټرنوم هډوکی د بهرنۍ ژۍ په محاذات کې د بدن د قدامی سطحې په مخ باندې عمودی فرضی کرښه .

**- Subcostal Line**

د لسمې پښتۍ د غضروف د لاندینۍ ژۍ په سطحه باندې د ګېډې په سطحه باندې عرضانی کرښه .

**- Sydney Line**

د لاس د ورغوی مېزابه چې په هلکانو کې په لوکېمیا کې یا نور خباثتونو احتمالی اخته والی ځرګندوی.

**- Temporal Line**

دکوپړۍ د جداری (پاریټال ) هډوکی د بهرنۍ سطحې په مخ باندې دوه منحنی ډوله (لاندینۍ – پورتنۍ) کرښې چې د جبهی هډوکی د هماغه صدغی کرښې ادامه ده دغه کرښه په ریښتیا هغه کرښه ده چې د ټنډې د هډوکی د زیګوماټیک بارزې څخه پورته او شا لورې ته غځېدلې ده .

**- Terminal Line**

د حوصلې هډوکی په داخلی سطحه کې کرښه چې په قدام کې ساکروایلیاک له مفصل څخه د ایلیو پوبیک تر وتلتیا پورې غځېدلې ده او په حقیقت کې حقیقی حوصله د کاذبې هغې څخه بېلوی.

**- Trapezoid Line**

د ترقوی هډوکی د لاندینی سطحې په مخ باندې وتلې کرښه چې د ټراپيزوئيد لېګامنټ د اتصال ځای دئ.

**- Voigt's Line**

د بای سپس عضلې د بهرنۍ ژۍ په اوږدو کې د پوستکی په بطنی خلفی سطحه کې یو صباغی کرښه چې د (%20-29)سلنه تور پوستانو او نادراً په سپین پوستانو کې لیدل شی.

## Linea

نرۍ کرښه چې ګڼه شمېره یې (Lineae ) بلل شی.

**- Absorption Linea**

د جذب او جلب توجه ، مجذوبیت کرښه ، په ژوند پېژندنه کې د درملو او غذائی موادو جذب ته ویل شی. په فیزیك د خذبولو د کچې سطحې کرښه او سرحد بلل شی.

**- Linea Alba**

سپینه کرښه ، د بطنی رکټوس د دوه عضلو تر منځ د ګېډې د منځنی جدار په مخ باندې تیندونی منځنۍ کرښه چې د عضلاتو صفاقی پوښ څخه منځ ته راځی او تیندون یې د (Breast Bone ) څخه تر (Pubic Area ) پورې غځېدلې ده ګڼه بڼه یې ( Lineae Albae ) بلل شی.

**- Linea Aspara Femoris**

د فخذی هډوکی په شا کې یوه اوږده وتلې لیکه چې دهغه عضلات
وریپورې نښلی.

**- Linea Atrophica**

د (Atrophic Steriae) په انډول.

**- Linea Epiphysialis**

د ( Epiphysieal Line) په انډول.

**- Linea Glutea**

د ( Gluteal Line) په انډول.

**- Linea Nigra**

هغه سپینه کرښه چې د بلاربښت پرمهال وروستیو کې له نامه غوټۍ برخې څخه تر پوبیس پورې صباغی کېږی ، توربخته کرښه ګڼه شمېره بڼه یې (Nigrae Lineae ) بلل شی.

**- Linea Splendens**

د قدامی نخاع شریان لپاره پوښ چې د نخاع په قدامی منځنی درز کې ځای لری کوم چې له پیامتېر څخه جوړ شوې وی.

## Linear

اوږد او نرې شکل جوړښت لرونکې ، کرښيز ، د کرښې اړوند چې دوه جوړښتونه سره بېل او توپير کړلای شي.

## Liner

هغه ماده چې د ساتندوي په توګه د کانتینرونو او ژغورونکو پوښونو په داخلی سطحو باندې موښله کېږی.

## Lingua

ژبه ،لِثه ، په حیوان پېژندنې او اناټومی علم کې هر هغه جوړښت چې ژبې ته ورته غړي (ژبکی ، ښاخی) ته ویل شی.

**- Lingua Geographica**

سلیم مهاجر (ګرځنده او کډوال) ګلوسیټ یا د ژبې التهاب.

**- Lingua Nigra**

توره ژبه.

**- Lingua Plicate**

درز درلودونکې ژبه .

## Lingual

د ژبې پورې اړوند صفت .

**- Lingual Artery**

د ژبې شریان چې ژبې ته وینه رسوی .

**- Lingual Tonsil**

د ژبې لوزه ، د ژبې د څوکې د شا / خلفی برخې د لمفاوی نسجونو کتله .

**- Lingual Vein**

د ژبې وریدونه چې د ژبې وریدی وینه در بناژ کوی.

## Linguatula

د چینجی ډوله ارتروپودا یو ډول چې بالغې بڼې یې د شمزی (فقراتو) لرونکو تنفسی جهاز کې ژوند کوی ددې موجود لاروا په سږو یا نورو داخلی غړو کې موندل کېږی.

## Lingula

د هډوکی یا بل نسج اوږد نرۍ ټوټه ،هغه کوچنۍ ژبه ډوله جوړښت چې د کیڼ سږی د پورتنی لوب د تر ټولو لاندینی برخې څخه بېل شوې دی دغه اصطلاح د سفینوئید د لوی وزر او تنې تر منځ د هډوکی ژۍ لپاره هم کاروله کېږی ګڼه بڼه یې (Lingulae) بلل شی .

## Lingular

د (Lingula) اړوند صفت .

## Lingulectomy

د ژبکۍ غوڅول ، د ژبکۍ پرې کولو جراحی کړنلاره .
په جراحی ډول د کیڼ سږی د لینګولا لېرې کول.

## Linguo-

دا یومختاړې دئ او د ژبې (لسان) معنی بشپړوی .

## Linguodistal
د غاښ په لساني او ډیستېال سطحه یا د غاښ جوف په ژبې او ډیستېال جدار پورې تړلې او اړوند .

## Linguopapillitis
د ژبې د ژۍ پاپیلاري برخې ټپې کېنه یا التهاب .

## Linguoversion
د اکلوژال کرښې څخه د یوه غاښ د ژبې په لورې ځای پرځای کېدنه .

## Liniment
یو ډول طبي د مرحم په څېر محصول دئ چې په (غوړینو، صابوني ،الکهولي موادو) کې جوړېږي د پوستکي ساتندویه او (التهاباتو ، درد ، شخي او تخریش) ضد مادي پتوګه کارول شي ، د (Embrocation) په انډول.

## Lining
د غړو او جوړښتونو د لومن دننه فرش شوي نسجي مواد دي

**- Thick Lining of the Aorta**
دابهر سور رګي پېړ (ضخیم) فرش شوې برخه .

## Linitis
د معدې د حجروي نسج التهاب .

**- Linitis Plastica**
د معدې په تحت المخاطي منضمي نسج کې منتشر فایبري تکثیر چې دمعدې د( ضخامې، فیبروزي کېدنې او غونجوالي) لامل ګرځي او وریسې خپل ابلاستیکي حالت له لاسه ورکوي کلکوالې مومي او لکه د څرمي کڅوړې بڼه غوره کوي.

## Link
اړیکه ،د شیانو یوځای کېدنه، د یوځه پورې تړاو ورکول .

## Linkage
اړیکه ، ارتباط، په یوه کېمیاوي مرکب کې د بېلابېلو اټومونو تر منځ اړیکه / رابطه او په پام وړ کېمیاوي فورمول کې د دغه رابطې د ښودلو لپاره ښودنه؛د جنیتیک له پلوه د هغه جینونو همغږي چې یوتربله سره نږدې وي او د کروموزوم پرمخ ځای لري اړیکه مومي چې د ارثیت له پلوه ورته والي ، د رونپوهنې له مخې د محرک او ځواب تر منځ تړاو ته ویل شي .

## Linked
سره تړلې، جوړه شوې اړیکه ، اړیکه نیولۍ ، منځ ته راغلې اړیکه.

**- Linked to Diet**
د خوراک (تغذیې) پورې تړاو.

## Links
اړیکه جوړول ، جوړه شوې اړیکه.

**- Links the Bones**
د هډوکو اړیکه او یوځای کېدنه.

## Linoleate
د لینولیک اسید (مالګه ، ایستر یا انیوني) بڼه.

## Linoleic Acid
دا یو اساسي غېر مشبوع شحمي اسید دئ چې په (کورخې یا لوبیا، حبوباتو )کې شتون لري او د نباتي غوړو د جوړښت مهمه برخه ګڼله شي او دپروستاګلانډین او حجروي غشأ په بیوسنتیز کې ونډه اخلي.

## Linolenate
د لینولیک اسید (مالګه ، ایستر یا انیوني) بڼه.

## Linolenic Acid
یو (18) کاربُني غېر مشبوع اړین اساسي شحمي اسید دئ چې په کبانو او یولړ غلو دانو په غوړو کې موندل کېږي

## Lint
د اوبو جذبوونکې نخي ټوکر چې د جراحي پانسمان کې کار اخیستل شي.

## Liothyronine
ترای آیودوتایرونین کیڼ څرخېدونکې ایزومیري هورمون دئ چې د درقې غدې پذریعه تولیدېږي سوډیمي مالګه یې په مصنوعي بڼه جوړېږي او د ساده غور او هایپوتایرایډیزم په درملنه کې پکار وړل شي.

## Lip
شونډه ، ژۍ ، د خولې پورتنۍ او ښکتنۍ غوښنه برخه چې د خولې سورې پوښوي ، شونډې ته ورته جوړښت ورته (Labium ) هم ویل شي.

**- Clift Lip**
وازه شونډه ، د (Hare Lip ) په انډول، چاک شونډه ، چاودلې شونډه.

**- Glenoid Lip**
فایبري غضروفي کړۍ چې د ګلینوئید جوف له ژۍ سره نښتې ده.

**- Hapsburg Lip**
هغه پنډه شوې ښکتنۍ شونډه چې له حد څخه زیاته وده یې کړې وي او اغلب د (Hapsburg ) ژامنې سره یوځای لیدله کېږي.

**- Hare Lip**

چاک شونډه ، چاودلې شونډه .

**- Lower Lip**

ښکته شونډه .

**- Upper Lip**

پورتنۍ شونډه.

## Lipaciduria

په متیازو کې د شحمی اسیدونو شته والې .

## Lipaemia

د وینې په بهیر کې د ډېرې زیاتې کچې شحم (غوړو) شته والې ، د (Lipemia ) نوم هم ورکول شوېدئ .

## Lipase

هغه (Lipolytic Enzyme ) انزایم چې شحمی مواد په کولمو کې تجزیه کوی او د شحمی اسیدونو انیون له ترای ګلایسراید یا فاسفولیپید څخه بېلوی.

## Lipectomy

دهغه شحمی کتلې لرې کول چې تر پوستکی لاندې وی.

**- Suction Lipectomy**

دا یوه جراحی کړنلاره ده چې د سکشن لرونکی ماشین پذریعه د شحم کتله ویلې کېږی او بیاوروسته تر هغه راوېستل کېږی.

## Lipedema

په تحت الجلدی نسج یا تر پوستکی لاندې د شحمی کتلې (وازدې) او زیاتې مایع راټولېدنه بلل شی.

## Lipemia

د وینې د بهیر د شحمی توکو (کولسترول او ترای ګلایسرایډونو) زیاته کچه بلل شی.

**- Alimementary Lipemia**

هغه هایپرلیپیډیمیا چې د خوراکی توکو د خوړلو وروسته منځ ته راځی.

**- Lipemia Retinalis**

د سترګو د شبکیې د شریانونواو وریدونو شیدې ډوله رنګوالې .

## Lipemic

د (Lipemia) اړوند صفت.

## Lipid

غوړ ،شحم، په بیو کیمستری علم کې لیپید هر هغه عضوی ترکیب او جوړښت چې غوړین وی او د نسجونو یوه مهمه برخه جوړوی ، د ( شحمی اسیدونو، خنثی وازدو ، واکسونو(Wax ) او ستروئیدونو په ګډون) وازدو او د هغه ورته موادو هیتروجنی ډله چې په اوبو کې نه منحل کېږی په اسانه بڼه په بدن کې زېرمه کېږی او د سوند او انرژۍ لپاره غوره سرچینه بلل شی .

**- Lipid -Lowering Drug**

هغه درمل چې د وینې د سیروم د غوړو ( Low-، Triglycerides Density Lipoprotein Cholesterol او د High-Density Lipoprotein Cholesterol لوړې کچې ) د راټیټولو په موخه کارول شی تر څو د اکلیلی شریانونو د تصلب یا اتیروسکلیروزس ناروغۍ مخنیوی وکړل شی دغه ډول درمل په (Fibrate ) کلمې سره ختمېږی لکه ( Clofebrate , Bezafibrate) په څېر.

**- Lipid Metabolism**

د غوړین موادو میتابولیزم ، هغه بیوشیمیک لړۍ چې پکې غوړ (Lipid )په شحمی اسیدونوتجزیه یا اوښتنه کوی.

## Lipedemia

د (Hyperlipedemia) په اند‌ول .

## Lipidosis

د لیپیډیمیا په میتابولیزم کې هر اختلال چې په رتیکولو اندوتلیال حجروکې د وازدو راغونډېدو لامل ګرځی . هغه تشوش چې دشحمی میتابولیزم اختلال له امله په ځینې سیمو د بدن کې شحم شتون نلری.

## Lipo-

دا یومختاړې دئ او (غوړو ، غوړین ،وازدې ، شحم ) معنی بشپړوی.

## Lipoamids

د لایپوئیک اسید وظیفوی بڼه چې د هغه انزایمی کمپلکسونو د ځنځیرد لایزینی لورې سره نښلی چې د کېتواسیدونو اکسیډاتیف کاربوکسیلیشن تر سره کوی .

## Lipoarthritis

په یوه بند کې د غوړو (وازدې) نسج راټولېدنه.

## Lipoatrophy

د بدن د تحت الجلدی شحمی نسج ضمور (اټروفی) .

## Lipoblast

د منضم نسج حجره چې د شحمی نسج دننه ته پراختیا موندلې وی.

## Lipoblastic

د (Lipoblast ) اړوند صفت.

## Lipoblastoma

د غوړین (شحمی ) نسج سلیم تومور.

## Lipoblastomatosis

د ځودانې لایپوبلاستوما ګانو شته والې چې په موضعی ډول یې خپرېدنه لری خو میتاستازس ته لېواله ندی.

## Lipocardiac
د زړه د وازدې پورې تړاو لرل.

## Lipochondrodystrophy
هغه ولادی –ارثی اختلال چې د شحم میتابولیزم په (هډوکو او اساسی غړو) کې اغېزمن کوی او د زده کړې ستونزې او فزیکی سؤ شکل رابرسېره کوی.

## Lipochandroma
د (Chandrolipoma) په انډول ، د غضروفی –شحمی سلیم تومور.

## Lipochrome
په شحمی نسج / وازده کې د منحل هایدروکاربُنی رنګه دانو یوه ډله لکه (کاروتین ، ګزانتوفیل، لوتین، کرومافان او هګی) کې شته طبیعی رنګه مواد.

## Lipocyte
یوه شحمی حجره ، هغه کبدی حجره چې د وازدې زېرمه کوونکې ده.

## Lipodystrophia
د (Lipodystrophy) په انډول.

**- Lipodystrophia Prograssiva**

پرمختلونکې لایپوډیسټروفی، د (Prograssive Lipodystrophy) په انډول.

## Lipodystrophic
د (Lipodystrophy) اړوند صفت .

## Lipodystrophy
د غوړو (شحم) د میتابولیزم هر ډول ناجوړتیا/ اختلال.

**- Congenital Progressive Lipodystrophy**

د (Congenital Generalized Lipodystrophy ، Total Lipodystrophy) په انډول

**- Congenital Generalized Lipodystrophy**

د (Total Lipodystrophy) په انډول .

**- Generalized Lipodystrophy**

د (Total Lipodystrophy) په انډول .

**- Intestinal Lipodystrophy**

د (Whipple's Disease) په انډول .

**- Partial Lipodystrophy**

د حوصلې د پورتنی سیمو د تحت الجلدی وازدو پرمختلونکې او متناظره له منځه تلنه چې لومړی د مخ په ډنګرتوب پیل کېږی او په پرمختلونکی ډول کښته لورې ته ادامه مومی او په (ورون او کوناټیو) برخو کې د وازدې د څرګندې راغونډېدنې لامل ګرځی، د (Progressive Lipodystrophy) په انډول.

**- Total Lipodystrophy**

یو ډول مغلوب ارثی شحمی استقلابی اختلال حالت دئ چې د (تحت الجلدی وازدې په نشتوالی ، ماکروزومی، حشوی ضخامه ، زیاتو ویښتانو ، نګرېکانس اکانتوزس او د انسولین د لوړو مقدارونو په شته والی کې د ګلوکوز په وړاندې د زغم او تحمل کمښت ) په متېه پېژندل شی.

## Lipofibroma
د (Fibrolipoma) په انډول.

## Lipofusin
د شحمی جنسیت لرونکی رنګه دانه چې په وازده کې د یوې رنګه دانې له حل کېدنې څخه پلاس راځی.

## Lipofusinosis
د لایپوفوسین د غېر نارمل زېرمه کېدنې هر ډول ناجوړتیا بلل شی.

**- Neuronal Ceroid Lipofusinosis**

د ماشومانو د ارثی نیورونی استحالوی ناروغیو یوه ډله چې په نیورونونو او نورو نسجونو کې د لایپوفوسین اوسروئید په راغونډېدو سره پېژندله شی او د (Jansky – Bielschwsky) او (Vogt –Spielmeyer) ناروغۍ پکې ونډه نیسی .

## Lipogenesis
د وازدې (شحم) جوړېدنه ، په بدن کې د په وازدې دهغه غېر شحمی موادو اوښتنه او زېرمه کېدنه چې شحمی منشه نلری.

## Lipogenetic
د (Lipogenesis) اړوند صفت .

## Lipogenic
د وازدې څخه منځ ته راغلې ، د شحمی نسج څخه تولید او جوړېدنه.

## Lipogranuloma
شحمی ګرانولوما ، په شحمی نسج کې د بهرنیو جسمونو التهاب چې ګرانولېشن او غوړین سیستونه لری.

## Lipogranulomatosis
هغه حالت چې پکې د وازدې د میتابولیزم ناجوړتیا په پوستکی او مخاط کې ژیړ رنګه نوډولونو د رسوب لامل ګرځی او ګرانولوماتوزی غبرګون منځ ته راوړی.

## Lipohypertrophy
د شحمی نسج ضخامه ، د تحت الجلدی وازدې پړسوب.

**- Insulin Lipohypertrophy**

د انسولین هورمون د تزریق په سیمه کې د هغه د لایپوجنیک خاصیت له امله د تحت الجلدی وازدې ضخامه او پړسوب.

**Lipoic Acid**

د کیټواسیدونو د اکسیډاتیف ډی کاربوکسیلیشن لپاره یو اړین کو فکټور چې د لایپو امايد په بڼه پکارېږي.

**Lipoid**

وازدې ته ورته جوړښت ، د شحمي موادو د مرکب يو جزء او برخه بلل شي لکه (Cholesterol) اونور مواد.

**Lipoidosis**

یوه ډله ناروغۍ چې پکې د (Reticuloendothelial Hyperplasia) او غیرمعمول ډول شحمي حجرو زېرمه کېدنه منځ ته راځي.

**Lipolysis**

هغه بیوشیمیک میتابولیک پروسه چې پکې د (Lipase) انزایم تر اغیزې لاندې شحمي مواد په کوچنیو ټوټو (شحمي اسیدونو) اوښتنه مومي او د وازدې ماهیت بدلون کوي.

**Lipolytic**

د (Lipolysis) اړوند صفت.

**- Lipolytic Enzyme**

د شحمي موادو ټوټه کوونکې او ماتوونکې انزایم ، د (Lipase) په انډول.

**Lipoma**

لایپوما ، د شحمي نسج (سلیم ،پوست – نرم، کپسول لرونکې او الاستیکي قوام) ځښتن تومور چې معمولاً د شحمي نسج د بالغو حجرو څخه جوړ شوې ګڼ شمېر بڼه یې ( Lipomas یا Lipomata) بلل شي.

**Lipomatosis**

هغه حالت چې پکې د تحت الجلدي نسج په برخه کې شحمي حجرې پّه موضعي او غیرنارمل ډول توموری ورته کتلې جوړوي او د دغه کتلو موجودیت له کبله د پېژندنې وړ ګرځي.

**- Renal Lipomatosis**

د پښتورګو نسج دننه کې د شحمي کتلو منځ ته راتګ بلل شي.

**Lipomeningocele**

هغه میننګوسل چې د لایپوما سره مل وي .

**Lipomyelomeningocele**

هغه میلو مینګوسل چې د لایپوما سره مل وي .

**Lipomyoma**

د (Myolipoma) په انډول .

**Lipomyxoma**

د (Myxolipoma) په انډول .

**Lipopenia**

په بدن کې د وازدې کمښت / لږوالي.

**Lipophage**

هغه حجره چې شحمي حجرې (خوري ، جذبوي ، بلع) کوي .

**Lipophagia**

د (Lipophagy) په انډول.

**- Lipophagia Granulomatosis**

د (Intestinal Lipodystrophy) په انډول.

**Lipophagic**

د (Lipophagy) اړوند صفت .

**Lipophagy**

د وازدې جذب ، لایپولایزس ، د شحمي حجرو د (خوړلو ، جذبولو ، بلع کولو ) پروسه بلل کېږي .

**Lipophilia**

وازدې ته لېوالتیا ، په وازده او غوړو کې منحل .

**Lipophilic**

د (Lipophilia) اړوند صفت .

**Lipoplasty**

د غوړین نسج لپاسه د هر راز پلاستیک جراحي عمل تر سره کول ، د ( Liposuction) په انډول .

**Lipopolysacharide**

هغه مالیکول چې په هغه کې لپیډونه او پولي سکرایډونه یو له بل نښتې بڼه لري ، د ګرام منفي باکټریا ګانو د حجروي جدار اصلي برخه لایپوپولیسکرایډونه انډوکسین اوتر ټولو مهم ډول میکروبي انتي جن شمېرل کېږي .

**Lipoprotein**

لایپو پروټین ، د لپیډونو او اپولایپوپرټینونو څخه جوړ مرکب د هغه د شته والي پّه واسطه په وینه او لمفاوي سیستم کې وازدې لېږد پېږي.

**- A-Lipoprotein**

الفا لایپو پروټین چې په الکتروفوریز کې د ځای پرځای کېدنې له مخې د (A1-) الفا- یو – ګلوبولین ته ورته دئ لکه د (HDL) په څېر .

**- Alpha Lipoprotein**

د (A-Lipoprotein ) په انډول.

**- B-Lipoprotein**

بیتا لایپو پروټین چې په الکتروفوریز کې د ځای پرځای کېدنې

او کولمو څخه عضلاتي او شحمي نسجونو ته لیږدوي او یوه اندازه ترای ګلایسرایدونه او کولسترولي ایسترونه لري لنډه ننبه یې (**VLDL**) ده.

**Liposarcoma**

د شحمي نسج اړوند هغه خبیث میزانشیمال تومور چې معمولاً ورانه په پورتني برخه کې د عضلاتي صفاق په منځ کې لیدل کېږي ګڼه شمېره بڼه یې (**Liposarcomas** یا **Liposarcomata** ) بلل شي.

**Liposis**

د ( **Lipomatosis**) په انډول.

**Liposoluble**

په غوړو (شحم) کې منحله ماده .

**Liposuction**

لایپوسکشن ، د جراحي هغه کړنلاره چې په لوړ فشار سره د سکشن ماشین له لارې په موضعي ډول د وازدو د نسجي ټوټو ویلې کول او لېرې کول دي چې ددې ماشین مجراء تر پوستکي لاندې د یوې کوچنۍ شق له لارې چمتو کېږي.

**Lipotrophic**

د (**Lipotrophy** ) اړوند صفت.

**Lipotrophy**

د بدن په انساجو کې د شحم (وازدې) زیاد ښت بلل شي.

**Lipotropic**

ینې ته د وازدې د تګ په بهیر کې د چټکتیا له لارې د وازدې په میتابولیزم باندې اغېز ، همدغه راز هر هغه عامل چې دغه ډول اغېزې ولري .

**- Β- Lipotropin**

هغه پولی پیپتاید چې د اډینو هایپوفیز حجرو په واسطه جوړېږي و دغه ماده د وازدې میتابولیزم او د پوستکي تورېدل د میلانوسیتونو په پارووني سره چټکوي ،دغه ماده د میلانوسایتونو او اندروفیتونو په پاروونکې هورمون پربکارسور دئ.

**Lipovaccine**

هغه واکسین چې د نباتي وازدې په زمینوی ماده چمتو شوی وی.

**Lipoxidase**

هغه واکسین چې د نباتي وازدې په زمینوی ماده کې چمتو شوی وی .

**Lipoxygenase**

هغه انزایم چې د څوګونوغیرمشبوع شحمي اسیدونو

له مخې د (Β) بیتا –ګلوبولین ته ورته دئ لکه د (**LDL**) په څېر.

**- Beta Lipoprotein**

د ( **Β-Lipoprotein** ) په انډول.

**- Floating Beta Lipoprotein**

لامبوزن بیتا لایپو پروټین ، د ( **Β- VLDL** ) په انډول .

**- High –Density Lipoprotein**

د لایپوپروټین یوه ډله چې په صفرا کې د اطراح لپاره ینې ته د خارج الکبدی نسجونو څخه د کولسترولونو لېږد چټک کوي په وینه کې ددې جوړښت شتون په مناسبه کچه د زړه د اکلیلي رګونو د اتېروسکلروزس خطر راټیټوي لنډه ننبه یې (**HDL** ) ده.

**- Intermediate-Density Lipoprotein**

د لایپوپروټینونو هغه یوه ډله چې د (**VLDL** ) د تجزیې څخه پلاس راځي یو اندازه یې د ینې پذریعه په چټکه توګه سره پاکېږي او یوه اندازه یې په (**LDL**) اوښتنه کوي لنډه ننبه یې ( **IDL**) ده.

**- Lipoprotein Lipase**

دا یوډول انزایم دئ لایپوپروټین په پروټین او شحمي اسیدونو تجزیه کوي. هغه انزایم چې په (**VLDL** ) ، (**LDL** ) او کایلومایکران کې ترای ګلایسرایدونو څخه د شحمي اسیدونو هایدرولایتیکه اغېزه لري او متلایزس پېښوي.

**- Low –Density Lipoprotein**

د لایپوپروټینونو هغه یوه ډله چې کولسترول خارج الکبدی نسجونو ته لیږدوي او په وینه کې له حده زیاته اندازه یې د زړه د اکلیلي شریانونو د ناروغیو رابرسېره کېدنې له کچې سره نېغ په نېغه تړاو لري لنډه ننبه یې (**LDL**) ده.

**- Lp (A) Lipoprotein**

د اپولایپوپروټینونو (**B- 100**) لرونکې یوه لایپوپروټیني ذره چې د انتي جني پلوه یوه کفایت لرونکې ماده ګڼل شي ددې مادې زیاتېدنه په وینه کې د اکلیلي شریانونو د ناروغیو رابرسېره کېدنې له کچې سره نېغ په نېغه تړاو لري.

**- Per -Β-Lipoprotein**

د (**VLDL** او **Pre- Beta Lipoprotein** ) په انډول.

**- Pre- Beta Lipoprotein**

د (**VLDL** او **Pre- Β- Lipoprotein** ) په انډول.

**- Sinking Per -Β-Lipoprotein**

د [ " **Lp (A) Lipoprotein** " ] په انډول.

**- Very High –Density Lipoprotein**

د لایپوپروټینونو هغه یوه ډله چې عمدتاً له پروټینونو جوړېږي او په پام وړ اندازه کې آزاد شحمي اسیدونه هم په خپل ځان کې لري لنډه ننبه یې (**VHDL** ) ده.

**- Very Low –Density Lipoprotein**

د لایپوپروټینونو هغه یوه ډله چې ترای ګلایسرایدونه له ینې

اکسیدیشن دهغه په پر اکسایدي بڼه کتلایز کوي.

## Lippes Loop

یو ډول بلاربښت ضد دننه په رحم کې ځای په ځای کېدونکې وسیله ده .

## Lipping

لبچه ، شونډکه ، ① د ( Wedge –Shaped) سیوري چې د کاندروسارکوم په راډیوګرافي کې د کورټکس او پورته شوي پریوست تر منځ منځ ته راځي ،② په اوستیوسایت کې د هډوکي د ودې زیادښت .

## Lip - Salve

یو ډول ملحم دی چې معمولاً د پستې ډنډې ( Soft Stick) په څېر وي او د شونډو د پاسه موښل کېږي او د شونډې د کلکوالي او زېږوالي مخنیوی کوي.

## Lipuria

په تشو متیازو کې د غوړینې او شحمي مایع شتون بلل شي.

## Liquefecation

اوبلن کولو پروسه ، د مایع په بڼه اوښتلو پروسه ، اوبو ته ورته جوړښت ورکولو پروسه .

## Liquefacient

اوبلن کول ، د مایع په بڼه اوښتل ، اوبو ته ورته جوړښت ورکول ، اوبو ته ورته جوړښت.

## Liquefaction

اوبلن کولو پروسه ، د مایع په بڼه اوښتلو پروسه ، اوبو ته ورته جوړښت ورکولو پروسه .

## Liquid

مایع ، هغه اوبلنه برخه چې په نورمال/ طبیعي ډول بهیر موندلای شي لکه د ( Liquid Paraffin) په څېر ،په ساده او آسانۍ سره بهیر موندل.

**- Liquid Diet**

مایع رژیم ، اوبلن /مایع غذائي خوراک ورکول چې د جراحي ناروغانو لپاره په مؤقت ډول ورکول شي.

**- Liquid Paraffin**

مایع پارافین ماده چې د جولابو / مسهل پتوګه کارول کېږي.

## Liquor

په فارمسي څانګه کې هغه ډول ځانګړې منحل مایع /محلول ته ویل شي چې یو درمل یا طبي ماده ولري ، هغه اصطلاح چې د بدن د ځانګړو مایعاتو په اړه کاروله شي .

**- Liquor Amnii**

د امنیوتیک مایع په انډول.

**- Liquor Cerebrospinalis**

د دماغي نخاعي –مایع په انډول.

**- Liquor Folliculi**

فولیکولار مایع ، هغه مایع چې په هګۍ ځالي (تخمداني) فولیکول کې یې وده موندلې وي او هلته راټوله شوې وي.

## Lisinopril

د انالاپریل درملو و مشتق دئ چې د انجیوتنسین نهی کوونکې دئ او د د وینې فرط فشار ضد اغېزې کوي .

## Lisp

دا یوډول د هجا کولو لفظي غوېز ستونزه ده چې یو څوک د ('S') غږ ته د ('Th') ډول تلفظ کوي او د شونډو په او ژبې په څوکه خبرې کول دي، ورته دژبې بندېدا (لکنت ) ویل کېږي ، ژبه نښتې بڼه تلفظ.

## Lissencephalic

د ( Lissencephaly ) اړوند صفت .

## Lissencephaly

د ( Agynia) په انډول .

## Listerella

د (Listeria) په انډول.

## Listeria

د باکتریاوو یو ډول دئ (دکورینوباکتریوم د کورنۍ) چې ګرام منفي جنس یوازې ( Monocytogenous) جنس یې په سفلي حیواناتو کې موندل کېږي او په انسانانو کې د(رحم انتانات ،علوي تنفسي لارې ناروغۍ ، سیپتسیمي او انسفالیت / منننجیت ناروغۍ ) پېښولای شي.

## Listeriosis

په (Listeria ) باکتري له کبله په ناروغیو اخته کېدنه ده چې دا ناروغۍ د کورنۍ حیواناتو څخ انسانانو ته لېږدول شي.

## Listerism

په جراحي عملیاتونو کې د انتاني ضد اساسي او عملي اصلونه .

## Listless

د (بیماري، ناروغۍ یا خستګۍ او ستړیا ، غم او نورو ) له امله بې زړه توب ، بې له کېدنه ، عصبانیت ، کمزورتیا- ضعیف والې ، بې حاله او بې حوصله ، سست و پُرکالي ، بې توجه او بې علاقه کېدنه ، ستړې ، بې مزې .

**Lithogenesis**
د ډبرو / تیږو جوړېدنه .

**Lithogenetic**
د (Lithogenesis ) اړوند صفت .

**Litholapaxy**
د ډبرې ماتېدو وروسته له مثانې څخه د تېرې راکښل او راویستلو مداخلوی کړنلاره ده چې د (Lithotrite ) پذریعه ترسره کېږي ، د (Lithotripsy او Lithotrity ) په انډول .

**Litholysis**
د ډبرو ویلې کولو پروسه ، د تیږو تجزیه او تحلیل .تیږې ویلې کول.

**Litholytic**
تیږه ویلې کوونکې ،د (Litholysis) اړوند صفت .

**Lithonephritis**
د ډبرې د شتون له کبله د پښتورګو التهاب.

**Lithonephrotomies**
د (Lithonephrotomy) ګڼه شمېره بڼه بلل شي .

**Lithonephrotomy**
د پښتورګو څخه د جراحی کړنلارې په مرسته د تیږو راویستل .

**Lithoscope**
د مثانې د ډبرو د کتنې او پېژندنې لپاره وسیله.

**Lithotomies**
د (Lithotomy) ګڼه شمېره بڼه بلل شي .

**Lithotomy**
د ډبرو د راویستلو په موخه د یوه غړي / جوف څیرل او وازولو کړنلاره. د جراحی کړنلارې په مرسته د تیږو راویستل .

**- Cholecystolithotomy**
د تریخی د کڅوړې څیرلو جراحی د تیږو راکښلو په موخه .

**- Choledoucholithotomy**
د صفراوی لارې وازولو جراحی کړنلاره د تیږو راکښلو په موخه.

**- Cystolithotomy**
د مثانې جوف وازولو جراحی کړنلاره د تیږو راکښلو په موخه.

**- Lithotomy Position**
هغه وضعیت چې ښځه ستونی ستاغ څملی او پښې یې په ګېډه باندې راټوله بڼه لری او په هغه کې (زېږون، ښځینه طبی کتنې ) ترسره کېږي.

**Listlessness**
بېحالي ،سستي ،بې علاقګي ،بې میلي ، ضعیفی او ستړیا.

**Liter**
لیتر Litre ، د متریک سیستم کې د حجم د کچې ټاکنې واحد دئ چې د ($1000\ Cm^3$, 1000 Ml , $1000^{cc}$ ) سانتی مترمکعب یا یو ډیسی متر مکعب ($Dcm^3$) سره انډول دئ لنډه نښه یې (L) یا (L) ده.

**Lith -**
دایو مختاړې دئ او د (ډبرې -Litho) په انډول معنی بشپړوی.

**Lithaemia**
په وینه کې د ( Uric Acid) غېر معمول اندازې کچه بلل شی ، د (Lithemia یا Uricacidaemia ) په انډول .

**Lithagogue**
هغه ډول درمل چې د متیازو لارې د ډبرو (تیږو) له منځه وړي.

**Lithectasy**
له هغه بولی لارې څخه د ډبرې ویستل چې چې په مېخانیکی ډول آزاد شوېوی.

**Lithiasis**
په یوه غړي کې د تیږې (ډبرې) جوړېدنه، نقرصی ډیاتېز.

**Lithium**
هغه ډول سپین –سپلوری (جستی) فلزی پوست او نرم عنصر چې اټومی شمېره یې (3) او کېمیاوی نښه یې (Li) ده د مرکباتو په جوړښت کې پکارېږی او ( Bipolar Disorder) دوه قطبی اختلالاتو په درملنه ترې کار اخېستل شی.

**Litho -**
دا یو مختاړې دئ او د تېږی (ډبرې – شګېCalculus ) معنی بشپړوی.

**Lithoclast**
د ((Lithotrite ) په انډول .

**Lithocystotomy**
د ډبرې د ویستلو لپاره د مثانې جوف څېرې کولو جراحی کړنلاره.

**Lithodialysis**
د ویلی کوونکو درملو پذریعه د تیږو ویلې کولو کړنلاره ، د (Litholapaxy ) په انډول .

مختصر او لنډه نښه یې (l او L) لیکل شي .

## Litter
د ناروغ یا ټپي لېږدوونکي ، هغه بچیان چې د څو زېږوونکو حیواناتو په واسطه نړۍ ته راځي.

## Little
کوچنی ، لنډه ونه ، لنډ اندام ، ماشوم ، نابالغ ، لنډ مهاله ، لږ تعداد ، محدود ، کم شمېره ، صغیر ، حقیر، کم رتبه ، کم زوره.

**- Little Finger**
د لاس کوچنۍ ګوته .

**- Little's Area**
د پوزې د حجاب په برخه کې د وینې رګونو کوچنۍ سیمه .

**- Little's Disease**
د (Spastic Diplegia) ناروغي چې په (1843–1894) کالونو کې د انګرېزي عالم (William John Little) پذریعه لومړي ځل شرحه شو .

**- Little Toe**
د پښې کوچنۍ ګوته .

## Live
ژوند کول ،زندګي ، ژوندون ، زیستن ، ژوندي ، اغېزمن ، موثر، عمر کول ، ژوندي پاتې کېدل ، ژوند تېرول .

**- Live Birth**
ژوندي زېږېدلي ، ژوندي زېږون ، هغه ماشوم چې ژوندي زېږول کېږي.

**- Live Tissue**
ژوندي نسج .

**- Live Wire**
ژوندي سیم لکه د تیلفون کرښه.

## Lived
ژوندۍ پاتې شوي ، ژوندۍ.

## Livedo
د پوستکي پرمخ رنګ اوښتي پلاکونه (Spots) ته ویل شي .

**- Livedo Reacemosca Lireticularis**
د اندامونو او تنې د پوستکي د پوستکي پرمخ له سور څخه د آبي –شین رنګ ته اوښتنې شبکه ډوله توربخن والي چې سړوخې په وړاندې لاتوربخن کېږي .

## Livedoid
په (Livedo) پورې اړوند صفت.

## Liver
ینه ، کبد ، ځیګر ، د ګېډې په پورتنۍ برخه کې غټه

**- Pyelolithotomy**
د پښتورګو له حویضې ځیرلو وروسته د تیږو د راویستلو جراحي کړنلاره .

**- Nephrolithotomy**
د پښتورګو لپاسه د شق کولو او وازولو جراحي کړنلاره د تیږو راکښلو په موخه.

## Lithotripsy
د بولي یا صفراوي ډبرو میده کول یا بیا د هغه د درملنې لپاره طریقه چې لکه د (لایزر یا څپو) په مرسته تیږې ماتېږي پدې ډول ناروغ ډبره په کوچنیو ټوټو ماتېږي او د متیازو له لارې خارجېږي.

**- Extracorporeal Shock Wave Lithotripsy**
د تمرین په بڼه د یوې غټې کتلې خلکو راډیوګرافیک ( X-ray photographs) عکسونو اخیستل تر څو په هغوی کې د نری رنځ ناروغی و څېړل شي.

- **Relative Molecular Mass**

هغه اصطلاح چې د تخنیکی پلوه په مولیکولی وزن باندې ارزښتمنه ده لنډه نښه یې (Mr ) ده.

- **Mass Screening**

د تمرین په بڼه د یوې غټې کتلې خلکو آزمایښتونه ترسره کول تر څو په هغوی کې د ناروغی لټون وشي او و څېړل شي.

## Massa

د (Mass ) کتلې په اړه ول .

## Massage

مساژ ، د بدن سیستماتیکه درملنیزه موښنه ، د لاسونو په واسطه مساژ (موښلو)کړنه تر سره کول.

- **Cardiac Massage**

د سترنوم له لاړې په زړه باندې متناوب فشارونه (ترلې مساژ) یا په زړه باندې په مستقیم ډول د پرانیستی قلبی مساژ چې د وینې د دوران د بیا جوړونې او خوندی کونې په موخه تر سره کېږی.

- **Carotid Sinus Massage**

د غاړې د یوه لورې په کاروټیډ (ثباتی) سینوس باندې کلک (محکم) څرخنده فشار چې د واګوس د تحریک لامل ګرځی او ټاکی کارډیا کموی یا یې ودروی.

- **Electrovibratory Massage**

هغه مساژ چې د برېښنائی څپانده کونکې وسیلې په واسطه منځ ته راځی او د بېلابېلو څپو لرونکې وی.

- **Vibratory Massage**

د (Electrovibratory Massage ) په اړه ول.

## Masseter

ژوول ، د اناټومې له مخې هغه عضله چې ژوول تر سره کوی (د ژوولو عضله ، ماهیچه) او له ښکته څخه ژامنه پورته کشوی، د ژامنې عضله ، د (Masseter Muscle ) په اړه ول.

## Masseteric

د (Masseter) اړوند صفت .

## Masseure

مساژ ورکوونکې کس ، د مساژ ورکولو وسیله .

## Masseuse

د مساژورکوونکې مېرمن .

## Massive

کتلوی ، د یوې غټې کتلې اړوند صفت دئ .

تنفسی سیستم ژغوری .

## Masked

پوښل شوې ، د هغه ناروغی شرحه چې شتون لری خو ښکاره نه نلری .

## Maslow's Hierarchy of Human Needs

د ماسلو د مرتبو سلسلې لړۍ سیستم دئ چې انسانی اړتیاوی څرګندوی د انسانی کړه وړو له مخې اړتیاوی رابرسېره کوی او هغهوی ته د لومړیتوب حق ورکوی او منځ ته راوړی که چېری د انسانانو لږه او ناڅیزه اړتیا رفع نشی په غټه کچه هڅونې او تشویق نشی کولای چې فعالیتونه سم کړی او ښه والې منځ ته راوړی .

## Masochism

د روان شناسي له پلوه آزار دوستي ، آزار طلبي ته ویل شی ، هغه راز جنسی لېوالتیا او انحراف چې په هغه کې شخص درد د ګاللو څخه جنسی خوند اخلی .

## Masochist

هغه څوک چې د (Masochism ) لېواله وی .

## Masochistic

د (Masochism ) اړوند صفت .

## Mass

د اجزاوو یو ډول او ورته راغونډېدنه ، دګولیوجوړونې لپاره سره ګډول او نښلول ، هغه ځانګړنه چې د یوې مادې سکون ظاهروی ، لنډه نښه یې (M) ده ،کتله، ډله، غټې، د خلکو یوه لویه ټولګه ، غونډاری، کوټه، د انساجو لوی حجم ، اکثریت شمېره شیان ، مجموعه ، د بدن نسج چې څرګند او روښانه شکل نلری.

- **Atomic Mass**

اټومي کتله ،د اټوم د هستې خنثی بر خه چې د اټومی وزن (amu) په بڼه بیانېږی.

- **Inner Cell Mass**

د یوه جنین په یوه نهایت کې د حجرو راغونډېدل چې بلاستوسیټ ددې برخې د ودې پایله شمېرل کېږی.

- **Lean Body Mass**

د خنثی سیما ( ذخیروی ) وازدې څخه پرته د بدن ټول اجزأ او عنصرونه ، اصطلاحاً د بدن د وازدې څخه پرته .

- **Molar Mass**

په مول کې په ګرام یا (کیلوګرام) سره د یوه مولیکول وزن.

- **Molecular Mass**

په ډالټون سره د یوه مالیکول کتله چې د اټومی وزنونو په جمع

**- Massive Bleeding**

شدیده خونریزی ، کتلوی وینه بهېدنه .

**- Massive Heart Attack**

کتلوی د زړه حملې .

**- Massive Injection**

کتلوی زرقیات .

**- Massive Patients**

کتلوی ناروغان .

**- Massive Therapy**

کتلوی ډول سره درملنه .

## MAST

د شاک ضد پوځي پرتوګ لنډېز، هغه پړسېدونکې پرتوګ (البسه) چې د بدن د لاندیني برخو څخه پورتنیو هغو ته د وینې لېږد لپاره پکارېږي.

## Mast -

دا یو مختاړې دئ او د (تي ،تیبونه **Masto-** ) معنی بشپړوی.

## Mastadenitis

د (**Mastitis** ) په انډول ، د تیبونو التهاب ته ویل شی.

## Mastadenovirous

د تي لرونکو ارینو ویروس ، د ادینوویروس هغه ډول چې تي لرونکو حیواناتو کې ناروغی پېښنوی او د (هضمی سیستم ، ملتحې ، عصبی مرکزی سیستم ، بولی سیستم او بعضاً د خبیثو ناروغیو) لامل ګرځی.

## Mastalgia

د تیبونو د غدواتو دردونه ، د تیبونو درد کول .

## Mastatrophy

د تیبونو کوچنې کېدنه ، د تې ضمور ، د تې اټروفی.

## Mast Cell

مستې سل حجره ، د منظم نسج یوه غټه حجره د ځان سره هیستامین لېږدوی او د الرژن په وړاندې غبرګون څرګندوی.

## Mastectomy

د جراحی عملیې پواسطه د تیبونو غوڅول او راویستنې کړنلاره .

**- Modified Radical Mastectomy**

د پکټورال عضلې باندې د لاسوهنې پرته د تخرګ ټول ټال لمفاوی غدواتو او تې بشپړه راویستلو کړنلاره.

**- Radical Mastectomy**

جذری مستکټومی ، د پکټورال عضلې سره مل د تخرګ ټول ټال لمفاوی غدواتو او تې بشپړه راویستلو کړنلاره.

**- Subcutaneous Mastectomy**

تحت الجلدی مستکټومی، د تي بشپړه راویستلو داسې کړنلار ه چې (پوستکې ، د تي څوکه او اریولا په ځای پرېښنودل کېږی) تر څو په راتلونکې کې بیا ورغول شی.

## Masticate

د غذا خوړل ، خوراک کول ، ژوول ،د خوراکی موادو مېده کول نرمول په خوله کې او هغه له ستونی تېرو لو ته برابرول.

## Mastication

د غذا خوړلو اوژوولو عمل تر سر کولو مرحله .

## Mastigophora

د پروتوزوا یوه کوچنۍ ډله چې ژوی یې د خپل ټول ژوند په لړ کې یو یا څو فلاجېیلونه لری دا ډله په خپل مرکز کې یوه هسته لری او د انسان په ګډون ګڼ شمېر شمزی لرونکې اوغېر شمزی اخته کوی .

## Mastigote

د مستیګافورا د کورنۍ هر یو غړې.

## Mastitis

ثدیوی التهاب ، د تی التهاب ، د تیبونو د پړسوب و ګزک حالت ته ویل شی چې پکې ( درد ، پړسوب ، تودوخه، سور والې او بژ دندې کېدنه) منځ ته ر اځی.

**- Mastitis Neonatarum**

د نوې زوکړې وخت د تي التهاب .

**- Periductal Mastitis**

د غدواتو د مجراګانو د شاوخوا ثدیوی نسج التهاب .

**- Plasma Cell Mastitis**

د پلازماسلونو او مجرا ګانو دجلدی حجرو د پرولیفریشن له امله د تي د ستروما انفلتریشن ته ویل شی.

## Masto-

دا یو مختاړې دئ د( تي یا تیبونو او ماستوئید بارزې ) معنی بشپړوی.

## Mastocyte

ماستې سل حجره.

## Mastocytosis

په یوه نسج کې د ماستې سل حجرو موضعی یا سیستمیکه راغونډېدنه ، په پوستکی کې د پراختیا په صورت کې د یورتیکاریا پګمنتوزا په نوم یادېږی.

## Mastoid

ثدیوی بنې ته ورته ، د تي په شان ، د تي د حلیمې ته ورته بڼه چې د صدغی (**Temporal bone** ) هډوکی یوه برخه ګڼل شی.

**- Mastoid Air Cell**

د مستوئید هډوکی د استطالې هوائی حجرې بلل شی ، د ( Mastoid Cell) په انډول.

**- Mastoid Antrum**

د مستوئید هډوکی هغه جوف (Antrum ) چې د هوائي حجرې يې د دننه غوږ سره نښلوی.

**- Mastoid Bone**

مستوئیدی استطاله ، د (Mastoid Process ) په انډول.

**- Mastoid Cell**

مستوئیدی حجرې .

**- Mastoid Process**

مستوئیدی استطاله چې د غوږ په شا برخه واقع ده .

## Mastoidalgia

د مستوئید په سیمه کې درد.

## Mastoidectomy

د مستوئیدیت درملنې په موخه د مستوئید د استطالې (بارزې) د جراحی کړنلارې په مرسته د راویستلو پروسه بلل شی.

## Mastoideocentesis

د مستوئید حجرو پاراسنتېزس .

## Mastoiditis

د انتروم او مستوئید د استطالې د حجروالتهاب .

## Mastoidotomy

د مستوئیدیت درملنې په موخه د مستوئید د استطالې (بارزې) د جراحی کړنلارې په مرسته د سوری ایستلو پروسه بلل شی.

## Mastopathy

د تی د غدو التهاب هر ډول ناروغی.

## Mastopexy

د جراحی له لارې د راځوړند او غورځېدلی تی ثابتوول.

## Mastoplasty

د تیبونو پلاستیک جراحی تر سره کوول .

## Mastoptosis

راځوړند او غورځېدلی تیبونه. سقوطی ثدیه .

## Mastscirrhus

د تیبونو د غدې سخت اوکلکېدل .

## Mastosquamous

د ماستوئید او تیپورال هډوکی د پاڼې سره په تړاو کې .

## Masturbate

استمنا ، موټک ، جلق ، هغه عمل چې یو څوک خپل جنسی غړی پاروی او ترې خوند اخلی او احتلام منځ ته راوړی.

## Masturbation

استمنا کول ، موټک وهل ، جلق وهل .هغه عمل تر سره کول چې یو څوک خپل جنسی غړی پاروی او ترې خوند اخلی او احتلام منځ ته راوړی او ورته (Onanism ) هم وائي.

## Match

د دوشیانو تر منځ پرتله کول .اورلګیت، داورلګیت خاشه، ګوګړ، تیلې، خلې. انډول، سارې، ورته، سیال، جوړ، مسابقه، ودول، جوړه کول.

## Matching

پرتله کوول ،د پیوند په ایمیونولوژی کې او د اشخاصو تر منځ دبین النسجی توافق د کچې ارزوونه کې د ټاکنو لپاره د هغه شیانو پرتله کوول چې ګډ او پېژندل شوېوی خصوصیات لری.

**- Cross Matching**

د وینې ورکوونکی او وینه اخیستونکې د وینو تر منځ د توافق د پیدا کولو په موخه دواړه وینې سره ګډېږی د یوشانته والې نشتوالی په صورت کې (اګلوتینیشن هیمولیز او سایتوتوکسیسیتی ) منځ ته راځی .

## Mate

جوړه لکه د میړه لپاره ښځه ، دمرغانو جوړه او نور دماټو ستیال، دیپړی هغه افسر چې رتبه یې له کپتان نه کښته وي، ملګری، مل، مرستیال. جوړه کېدل، یو ځای کېدل، جوتیدل.

## Mater

د ډورامټیر (Dura Mater ) په انډول.

**- Dura Mater**

ډورامټیر ، هغه نری طبقه چې د ماغزو پوښ جوړوی او د دماغ او نخاع یوه مهمه برخه ده.

## Materia

ماده ، د جوړښتېزو موادو یوه اساسی برخه .

**- Materia Alba**

سپینه ماده ، هغه سپین رنګه مادې رسوب چې د غاښونو پر مخ شتون لری او( اپیتلیائی حجرې ،موکوس او همدغه راز باکتری ګانې او فلاجیل لرونکې ارګانیزمونه) پکې ونډه لری .

**- Materia Medica**

د فارمکولوژي په انډول .

- **Maternity Unit**

هغه ځانګه یا وارد (واحد) چې یوازې د زېږنتون په توګه خدمت ترسره کوي.

## Mating

د تکثر لپاره د دوه مخالفو جنسونو سره یوځای کېدل.

بوریا ، مزري، کیړی، پوزې، دپوزې اوبدل اوپه پوزې پوښل.

- **Assortative Mating**

د تکثر په موخه د دوه داسې موجوداتو یوځای کېدل چې یو شان ښه او څرنګوالې لري، د ( Assorted Mating یا Assortive Mating) په انډول.

- **Random Mating**

د تکثر په موخه د دوه داسې موجوداتو یوځای کېدل چې یو له بله سره هېڅ ډول ورته والې نلري .

## Matrix

متریکس ، ځاله، زیلانځه، رحم، نس،قالب یا د قالب ماده ، کاري ډګر ، د یوشی اصلی او اساسی ماده ، دیوه شي دپیدا کیدو یا روزنې ځای. له منضم نسج څخه جوړه حجروی بې شکله کتله ده د ( Ground Substance ) په نامه هم یادېږي .

- **Bone Matrix**

د هډوکو متریکس یا اساسی ماده ، د کولاجنی فیبرونو زمینوی مادې او عضوی مالګو په ګډون د هډوکی بین الحجروی ماده .

- **Cartilage Matrix**

د حجرو او دهغه د خارج الحجروی فایبرونو په ګډون د غضروف بین الحجروی ماده د یوې بې بنې زمینوی مادې دننه ځای.

- **Extracellular Matrix**

هر هغه ماده چې د حجرو په واسطه جوړه او د نسج خارج الحجروی فضاً ته افراز شی ، دغه ماده د نسجونو د بنې او ځانګړنې په ساتنه کې ونډه لري .

- **Enterteritorial Matrix**

د یوې رنګه زمینې په منځ کې یوه روښانه سیمه .

- **Nail Matrix**

د نوک د نسج ماتریکس .

- **Teritorial Matrix**

د غضروفی حجرو شاوخوا برخو آبی رنګه (بازوفیل) ماتریکس.

- **Matrix Unguis**

د نوک بستر ، د نوک د بستر قریبه برخې چې نورک ورڅخه وده کوي.

## Matron

هغه ښځینه نرس چې په روغتون کې د نرسانو مشره

## Material

مواد ، جنس. مادي، جسمي مواد ، مهم ځیزونه .

- **Light Material**

سپک مواد .

- **Material Medica**

د فارمکولوژي په انډول .د طبی موادو (Medical Substance) په انډول.

- **Suture Material**

د جراحي د ګنډلو لپاره مواد لکه (جراحی تارونه او ستنې).

## Maternal

مورنی، دمور له خوا ، د مور پورې اړوند .

- **Maternal Death**

د میندو مړینه ، هغه مړینې چې د زیږون او بلاربښت پرمهال په میندو کې پېښېږي.

- **Maternal Deprivation**

د مورنۍ هغه رواني حالت چې د هغه ماشومانو په اړوند منځ ته راځي چې د میندو سره اړیکه او تړاو نلري .

- **Maternal Dystocia**

هغه ستونزمنه زېږونه چې میندو ته د فزیکی او ماشومانو ناوړه جوړښت له امله پېښېږي .

- **Maternal Instincts**

هغه غریزی او دننۍ سرشتي احساس چې ښځو ته دخپلو ماشومانو ساتنې له مخې منځ ته راځي .

## Maternity

مورولي ، مور نی، مورنی خوی یا صفت . هغه حقیقت چې د مورکېدنې له مخې او زېږونې لپاره پیدا کېږي . په روغتون کې د نفاس دورې استراحت .

- **Maternity Case**

هغه ښځه چې لنګون (زېږونه) کوي.

- **Maternity Clinic**

د مور او ماشوم ساتنې روغتیائی کلینیک اومرکز چې ورته (Antenatal Clinic ) هم ویل شی .

## Maternity Home

د مور او ماشوم ساتنې روغتیائی کلینیک /روغتون. هلته چې امېدوارې او لنګې شوې ښځې د روغتیائي خدمتونو لپاره راځي.

- **Maternity Hospital**

هغه روغتون یا وارد چې یوازې د زېږنتون په توګه خدمت تر سره کوي ، د ( Maternity Ward یا Maternity unit ) په انډول.

- **Maternity Ward**

هغه روغتون یا وارد چې یوازې د زېږنتون په توګه خدمت تر سره کوي ، د (Maternity unit) په انډول.

**Matutinal**

په سهار کې پېښېدل ، سهارنی۔ پېښه منځ ته راتګ .

**Maxilla**

د پورتنۍ ژامنې هډوکې .

- **Maxilla Bone**

د مګزیلا هډوکې .

**Maxillae**

ګڼ شمېر پورتنۍ ژامنې .

**Maxillary**

د مګزیلا پورې تړلې او اړوند .مګزیلاٸي .

- **Maxillary Air Sinus**

مګزیلاٸي هواٸي سینوس ، مګزیلاٸي انتروم یو له هغه دوه سینوسونو څخه چې د غومبری په شا کې واقع دي ورته (Antrum of Highmore) هم ویل شی ، د (Maxillary Antrum) په انډول.

- **Maxillary Antrum**

مګزیلاٸي هواٸي سینوس ، مګزیلاٸي انتروم یو له هغه دوه سینوسونو څخه چې د غومبری په شا کې واقع دي ورته (Antrum of Highmore او Maxillary Air Sinus ) هم ویل شی.

**Maxilla -facial**

وجهی – مګزیلاٸی ، د مخ او مګزیلا پورې اړوند او تړلې.

- **Maxilla –facial Nerve**

وجهی -مګزیلاٸی عصب .

- **Maxilla –facial Surgery**

وجهی -مګزیلاٸی جراحی اړوند .

**Maxilloethmoidal**

د غربالی – مګزېلا اړوند صفت .

**Maxilloethmoidectomy**

د جراحی پواسطه د غربالی – مګزېلا رایستلو کړنلاره.

**Maxilomandibular**

مګزیلایي – مندیبولاړ ، د مګزیلایي – مندیبولاړ هډوکو اړوند صفت. د پورتنۍ او ښکتنۍ ژامنې اړوند.

**Maxilotomy**

د مګزېلاړ هډوکی وازول .

**Maximal**

اړوند صفت .

**Maximum**

اعظمي حد ، وروستی حد ، تر ټولو لوړتکی یا مقدار ، تر ټولو زیات.

پاتې شی. سرهمشیره ، میرمن، میرِوښه ښځه، دروزنتون، روغتون یا بندیخانې د روغتیا پالانو (نرسانو) مشره.

- **Modern Matron**

عصری ماترون ، عصری د نرسانو سرپرستاره ښځه.

**Matter**

مواد ، ماده Substance ، جوهر ،اندازه، جسم، موضوع، غبر، پیښه، پوسته اهمیت لرل.هر هغه شئ چې فضأ ونیسی .

- **Matter-of-fact**

ربښتینی، بې ټوکو ، واقعي،ساده، بې خونده، بې ذوقه.

- **Gray Matter of Nerve System**

د اعصابو(عصبی سیستم ) خړ نسج .

- **White Matter of Nerve System**

د اعصابو(عصبی سیستم ) سپین نسج .

**Mattress**

نیالی۔،دبستر لپاره توشکه ، بادی توشکه [له پلاستیک څخه جوړه شوې برستن چې په خوب کې په ځان اچول کېږی (Mattress Air ) هم ورته وایي] .

- **Mattress Air**

بادی بالښت یا توشکه.

- **Mattress Suture**

د جراحی هغه ډول ګنډل دی چې پکې په لورې د جرحې کې لوپ منځ ته راځی .

**Maturation**

د رسېدو او پوخوالی پروسه تر سره کېدل ، د ودې بشپړېدل.

**Mature**

رسیدلی، پوخ، پوره، ټاکلی وخت،بالغ .

- **Mature Follicle**

بشپړ او کامل شوې فولیکول .د هګۍ اچولو څخه دمخه ګرافین فولیکول .

**Maturing**

لوئېدل ، پخېدل .

- **Maturing Egg**

هغه هګۍ چې ګرافین فولیکول څخه وروسته منځ ته راځی ، د (Maturing Ovum ) په انډول.

- **Maturing Ovum**

په هګۍ بدلېدنه ، د هګۍ پخېدنه .

**Maturity**

پوخوالی، پوره والی، رسیدلې،بلوغ .

ډېر دردناکه برخه د اپنډیسیت په حالت کې وي چې په (1913–1899) کالونو کې د امریکائي جراح ( Charles McBurney) پذریعه شرحه شو.

## mcg = μg

د مایکروګرام (Microgram ) لپاره لنډه نښه .

## MCH

د مور او ماشوم روغتیا اړوند څانګه ( Mother Child Health) لپاره لنډه نښه .

## MCH

د حجروي هیموګلوبین منځنۍ کچه ، د یوې سرې کریوې د هیموګلوبین منځنۍ مقدار کچه (Midcorpuscle Hemoglobin) لپاره لنډه نښه .

## MCHC

د حجروي هیموګلوبین منځنۍ غلظت، د یوې سرې کریوې د هیموګلوبین منځنۍ غلظت ( Midcorpuscle Hemoglobin Count) لپاره لنډه نښه .

## McNaghten's Rules on Insanity at Law

د (McNaghten's Rules ) قانون ، ددې قانون له مخې خلک خپله قانوني دفاع د رواني ستونزو د شتون له امله کوي او د هرې کړنې په وړاندې هغوی ګرم او ملامت نه ګڼل کېږي دا اصول په کال (1957) کې منځ ته راغلي دي او اړوند رواني –روحي ناروغانو ته قانوني برآت ورکول کېږي.

## MCP Joint

د (Metacarpophalangeal Joint ) په اړه ول.

## MCU

د مثانې او احلیل هغه راډیولوژیکه کتنه چې د متیازو کولو پرمهال مثانې ته د یورګرافین زرق وروسته ترسره کېږي (Micturating Cysto-urethrogram ) لپاره لنډه نښه .

## MCUG

د مثانې او احلیل هغه راډیولوژیکه کتنه چې د متیازو کولو پرمهال مثانې ته د یورګرافین زرق وروسته ترسره کېږي(Micturating Cysto-urethrogram ) لپاره لنډه نښه .

## MCV

د حجروي منځنۍ حجم (Midcarpuscle Valume) لپاره لنډه نښه.

## MD

- **Maximum Dose**

لوړ ډوز ، اعظمي ډوز .

- **Maximum Rate**

لوړ سرعت ، لوړه اندازه ، لوړه کچه.

- **Tubular Maximum**

هغه تر ټولو لوړ سرعت چې کلیوی تیوبولونه پکې له لومن څخه مواد بین البیني نسج یا برعکس په دقیقه کې د ملي ګرام له مخې لېږدوي.

## Mayhem

لاس اوپښې پرې کونه.

## Mayonnaise

چکه ، چکني یاچاشني چه پرسلاتې اوکبانو (ماهی ) باندې اچول کیږي.

## Maze

د متقاطع کرښو یو پېچلې سیستم چې په لابراتواري حیواناتو کې د زده کړې د توان د ښودلو په مخه وهوښ (شعور) په آزمایښت کې پکارېږي. کږې وږې لارې، انجر بنجر لارې، ګډې وډې لارې، پیچومې، ګډوډې.

## Mazindol

هغه ادرینر جیکه مواد امفتامین ته ورته خواص لري او د بې اشتها کوونکې مادې په توګه کارول کېږي.

## Mazopexy

د (Mastopexy ) په اړه ول .

## Mazoplasia

د تیبونو د اسیني ګانو استحالوي اپیتلیائي هایپرپلازیا .

## MB

د طب داخلي څخه فارغ شوې لسانس ډاکټر ( Bachelor of Medicine) لپاره لنډه نښه .

## MBBS

د طب داخلي او جراحي څانګو څخه فارغ شوې لسانس ډاکټر (Bachelor Of Medicine &Bachelor Of Surgery) لپاره لنډه نښه.

## MC

د میلي کیورې (Milicurie) لپاره لنډه نښه .

## μC

د مایکرو کیورې ( Microcurie ) لپاره لنډه نښه .

## McBurney's point

د (McBurney's ) ټکې چې معمولاً د اپنډکس موقعیت د ګېډې په ښي ښکتني کوادرانت کې څرګندوي چې د (Hip bone) او نامه غوټۍ(Navel ) تر منځ واقع وي او

دطب پوهنځی څخه فارغ شوي ډاکټر( Medical Doctor یا Doctor of Medicine ) لپاره لنډه نښه .

## Md

د (Mendelevium) کیمیاوی عنصر لپاره لنډه نښه .

## ME

میالجیک انسفالیټ( Myalgic Encephalomyelitis ) لپاره لنډه نښه.

## Mead

ورشو، چمن، مرغیانه ، یوښباک چه داوبوو او شاتو د تخمر څخه لاس ته راځی.

## Meager

نری، ډنګر، خوار،لغړ، مړ ژوندئ، لړ، هډوکي او پوستکي.

## Meal

جواری (سکرک یا سوړسک) ، دجوارو اوړه، اوړه ، مړی ، ډوډی، خواړه، خوراک ، هغه خواړه چي په ټاکلی وخت کي خوړل شی.

**- Boyden Meal**

د کولیسیستوګرافی په څېړنو کي د صفرا د کڅوړي د تخلیي په اړه د معلوماتو ترلاسه کولو په موخه غذائي آزموینه .

**- Test Meal**

هغه خواړه چي د معدي په اړه د تشخیص او ناروغی پېژندني په موخه ځیني مواد لری او ناروغانو ته ورکول شی.

**- Meal time**

دخوراک وخت .

## Mean

منځنی، منځلی،اوسط. منځنی ټکی ، د دوه نهایاتو ترمنځ عددی ارزښت، معنا کول، معناور کول:معنا لرل: په زړه کی لرل، قصد لرل، خاص کول، اهمیت لرل . معمولی، ټیټ، بی ارزښته، سپک ټیټ، موذی، خسیس، عادی. . سباب، وسیلی، سرچینی:پانګه شته ( ریاضی ) اوسط حد ، منځنی حد .

**- Arithmetic Mean**

د مقدارونو په شمېر کي د مقدارونو د جمعي د حاصل وېش.

**- Geometric Mean**

د محصول ( n ام ) ریښه ، د n عدد.

## Measles

شري ، سرخکان ، سره مخه، روبېلا ( Morbilli, Rubella ) ،دا یوه شدیده اندیمیکه ویروسی ناروغی ده معمولاً ماشومان نیسی او تنفسی جهاز او رتیکولو اندوتیلیال سیستم اخته کوی او سره رنګه جلدی پاپولونه منځ ته راوړی چي بیا مسطح - قهوه ئی کېږی او تفلس پیدا کوی په کاهلانو کي وخیم تګ لوري لری.

**- Black Measles**

د شري یو ډېر شدید ډول چي جلدی داني تور رنګه او پتیشیا ډوله دی.

**- German Measles**

د (Rubella ) په انډول.

**- Hemorrhagic Measles**

د (Black Measles ) په انډول. وینه بهېدونکي شري.

## Measurable

داندازه کولو وړ، و مېچ وړتیا درلودونکي .

## Measure

میچ، اندازه، متر ، پیمانه، د کمیت او اندازي دمقیاس کچ کونه، اقدام، هغه وسیله چي د مقصد لاس ته راوستلو د پاره وي ، قانونی لایحه، حد، ټاپی، درجه. حد ټاکل، اندازه کول، تلل، کچکول، پر تلل.

**- Measure of Length**

د اوږدوالي (طول ) ټاکنه .

**- Measures Temperature**

د بدن د تودوخي درجي ټاکنه .

## Measureless

بېحده، بې پایه،بې اندازې.

## Measurement

اندازه ، میچه .هغه څه چي د اندازې کولو وړ وی.

## Meat

خاص دخوراک غوښه ،غوښنه ، د څارویو غوښنه برخه خواړه.

## Meat -

دا یو مختاړي دئ او د (فوحي،خولي ، سوري ) معنی بشپړوی.

## Meatal

د میاتوس اړوند صفت.

## Meatorrhaphy

د احلیل د بهرنۍ فوحي پلاستیک جراحی د رغوني کړنلاره. داتوټومی د ټپ د ګنډلو جراحی کړنلاره.

## Meatoscopy

په ځانګړي ډول سره د میاتوس (فوحې) د کتني عمل لکه د احلیل فوحي (بولی میاتوس) کتنه.

## Mechanism
د بدن هغه سیستم چې دندې کنترول کړي ، ماشیني دستګاه ، ماشیني پرزې، دپرزو ترتیب او د ماشین د کار ډول.د کېمیاوي یا فزیکي بدلونونو له امله دندې تر سره کول ، د یو ګډ کار د تر سره کولو د (اجزاوو ،مرحلو او داسې نورو ) د ترکیب څرنګوالي .

**- Defence Mechanism**
دفاعي مېکانیزم ، هغه مېکانیزمونه چې په مرسته یې رواني فشارونه کمښت مومي .

**- Escape Mechanism**
د تېښتې مېکانیزم ، په زړه کې د سینوسي –دهلېزي محراق په واسطه د سیالې (ایمپالس) د تولېد د نشتوالي په صورت کې د لاندې مرکزونو څخه د سیالې د پیل کېدو مېکانیزم.

**- Mechanism of Labour**
د زېږونې مېکانیزم چې یکې د ټولو مرحلو او هڅو له امله یوه زېږونه منځ ته راځي.

**- Mental Mechanism**
ذهني مېکانیزم ،د ذهني چارو برابرونه ، د یوې ځېل شوې هیلې څخه په غېر مستقیم او غېرشعوري بڼه د خوند اخیستلو طریقه.

## Mechanoreceptor
هغه رسپتور چې د مېخانیکي فشار لکه د عضلې انقباض (لمس) په واسطه تحریک مومي .

## Mechanosensory
د مېخانیکي فشار په ځواب کې د حسي فعالیت سره په تړاو کې.

## Mediastinitis
د منصف التهاب، د ګوګل برخې التهاب.

## Mediatinography
د منصف راډیوګرافي کتنه تر سره کول.

## Mediastinopericarditis
د منصف او پریکارډ طبقاتو ګډ التهاب چې د ډېر زیات التصاقاتو لامل وګرځي .

## Mediastinoscopy
د منصف ویدیوسکوپ / اندوسکوپ پذریعه د منصف برخې د کتنې کړنلاره.

## Mediastinum
منصف ، ګوګل ، د صدر هغه برخه چې( سږي ، تایموس غده ، شزن ، زړه ، مرۍ، فرینک عصب او واګوس عصب) پکې ځای لري.

**- Mediastinum Testes**
هغه نیمګړې دېوال چې د مرغېړې (خصیې) په خلفي څنډه کې

## Meatotomy
د احلیل د تنګې فوحې آزادولو جراحي کړنلاره . د میاتوس پرې کولو /غوڅولو جراحي عملیه .

## Meatus
هغه سوری یا وازه برخه چې د یوه ارګان غړي لورې ته لاره لري لکه د احلیل فوحه او یا هم د پوزې د جوف لورې سوری ګڼه شمېره یې (Meatuses ) بلل شي.

**- Acoustic Meatus**
د غوږ د دوه سوریو څخه هر یو چې یو یې په صماخي پرده باندې پای ته رسېږي. أذني فوحه ، سامعي سورې ، د ( Meatus Acoustica) په انډول.

**- Auditory Meatus**
أذني فوحه ، سامعي سورې .

**- Meatus Nasi**
د شامې سورې ، د پوزې سورې ، د (ګډ / مشترک ، لاندیني ، منځنی او پورتنې) انفي فوحه، د (Meatus of Nose ) په انډول.

**- Uretheral Maetus**
د احلیل فوحه ، داحلیل خوله .

**- Meatus Urinaius**
د بولې یا متیازو د مجرا سورې چې میتیازې ورڅخه خارجېږي، د (Urinary Meatus ) په انډول.

## Meaty
غوښن، د غوښې اړوند صفت .

## Mebendazole
د چینجیانو ضد درمل چې د( ترای کوریازیس ، انتیروبیازس او اسکاریس) په درملنه کې پکارېږي .

## Mecamylamine
د ګانګلیون بلاک کوونکې ماده چې هایدروکلوریدي مالګه یې د وینې فشار ضد اغېزې لري .

## Mechanical
میخانیکي،ما شیني، صنعتي، هغه شیان چه په ماشیني ډول او پخپله کار کوي.

**- Mechanical Obstruction**
میخانیکې ډول د کولمو انسداد .

## Mechanics
دمیخانیک هغه پوهه چه په اجسامو باندی د قوتونو عمل څېړي، تخنیکي شرحه. هغه علم چې د بدن حرکتونه مطالعه کوي .

**- Body Mechanics**
په وضعیت پورې اړوند ناروغیو کې ددرملنې او مخنیوی لپاره د خوځښت پېژندنې د علم کاروونه .

- **Medical Certificate**

طبی تصدیق کوونکې سند ، هغه سند چې د هغې له مخې یو څوک د طبی خدمتونو تر سره کولو اجازه تر لاسه کوی.

- **Medical Committee**

طبی کمېټه ، روغتیائي پلاوې .

- **Medical Condition**

د ناروغانو د ناروغیې طبی حالت چې د یوې مودې په لړ کښې ثبت کېږی .

- **Medical Diathermy**

هغه تودوخه چې د برېښنا پذریعه منځ ته راځی او د عضلاتو او بندونو لکه روماتیزم ناروغیې کې کارول شی.

- **Medical Doctor**

د طب پوهنځی ځانګې څخه فارغ شوې ډاکټر. د عمومی طب معالج ډاکتر چې لنډه نښه یې (MD) ده.

- **Medical Ethics**

طبی اخلاق ، هغه کړه وړه چې باید یو( ډاکټر ،نرس او طبی) کارکوونکې د ناروغانو او عام وګړو په وړاندې وکړی .

- **Medical Examination**

طبی کتنه ، د طبیب (ډاکټر) پواسطه د یوناروغ کتنه تر سره کول.

- **Medical History**

طبی تاریخچه چې د ناروغیو د درملنې اړوند د ناروغانو څخه پوښتل کېږی.

- **Medical Intervention**

طبی مداخله ، طبی منځګړیتوب ، د درملو پذریعه د ناروغیو درملنه.

- **Medical Jurisprudence**

د هغه قانون او اصولو استعمال چې د (طبی پرکتیس او ډاکټرانو خپلمنځی اړیکو، ناروغانو او ټولنې وګړو) اړوند پکار وړل شی ور ته عدلی طب (Forensic Medicine ) هم ویل شی.

- **Medical Nurse**

طبی نرس .هغه مسلکی څوک چې د ناروغانو خدمت کوی او اړوند څارنه او روغتیا پالنه کوی.

- **Medical Officer of Health**

روغتیا ساتنې اړوند خدمتونو دولتی مسئول مدیر چې لنډه نښه یې (MOH ) ده.

- **Medical Practitioner**

طب ځانګې فارغ ډاکټر .

- **Medical Profession**

ټول ډاکتران ، طبی کارپوهان.

- **Medical Records**

د ناروغیو او ناروغانو د طبی ثبت او راجستر ځانګه.

- **Medical Register**

هغه لست د ډاکترانو چې داړوند صلاحیت لرونکې طبی ځای لری او د تونیکا البوجینا ادامه ګڼل شی.

## Mediate

د منځنی حد د عامل پتوګه کارکول . غېر مستقیم یو منځګړې عامل پواسطه تر سره کېدل .منځګړ توب کول، روغه جوړه کول.

## Mediator

منځګړ توب کوونکې ، روغه جوړه کوونکې عامل ، منځګړې

## Medic

ډاکټر ، د طب زده کوونکې .

## Medicable

د یوه کس درملنه پداسې حال کې چې د معالجې څخه معقوله توقع شتون لری ، د درملنې وړ ، تداوی کېدونکې .

## Medical

طبی ، له طب سره اړوند ، د ناروغیو څېړنې اړوند، طبی څېړنیز موضوع .

- **Medical Administration**

روغتیائی اداري لکه روغتونونه او نور روغتیائي خدماتی تأسیسات.

- **Medical Aid**

طبی مرستې ، روغتیائی لومړنی مرستې .

- **Medical Alert Bracelet**

هغه تسمه یا ځنځیر چې په روغتیائی خدمتونو کې د ناروغانو د مړوند برخې پورې تړل شی او د ځانګړو ستونزو او ناروغیو اړوند معلوماتي ګواښ څرګندوی.

- **Medical Assistance**

طبی مرستې.هغه مرستې چې د( نرس ،امبولانس کارکوونکی او نورو غړو ) په ذریعه مجروحینو ته تر سره کېږی.

- **Medical Assistant**

طبی مرستیال ، هغه کس چې د ډاکټر سره د ناروغانو درملنه مسلکی مرسته کوی.

- **Medical Audit**

طبی تفتیش ، دا ډول کړنه طبی سیستماتیک تحلیلی پروسه ده چې د هغه طبی مرستو تر سره کولو ارزونې لپاره تر سره کېږی چې د درملنې کیفیت څرنګوالې ټاکی .

- **Medical Audit Advisory Group** (MAAG)

د طبی مرستو د تفتیش مشورتی ډله .

- **Medical Centre**

طبی مرکز ، هلته چې طبی خدمتونه ناروغانو ته د ډاکترانو ،متخصصینو او نورو پذریعه تر سره کېږی.

عمومي کمېټې له خوا منل شوېوی او ډاکټران د کار جواز ترې اخلي.

**- Medical Research Council**

د طبي څېړنو شوراّ ، هغه دولتی /حکومتی کمېټه او شورا چې د طبي څېړنو او تحقیقاتو اړوند تنظیمات او خرڅکولو پیسې سمبالوی چې لنډه نښه یې (MRC) ده.

**- Medical School**

د طب پوهنځی ، د طب فلیل ، د طب ښوونځې ، د پوهنتون هغه څانګه طبي زده کړې او ښوونې تر سره کوی.

**- Medical Secretary**

طبي سکرټر ، هغه کارپوه چې د طبي اسنادو تنظیم (روغتون ، جراحي ډاکټرانو) اړوند پوهه ولری او د ډېرې مودې لپاره یې کار کړېوی .

**- Medical Social Worker**

طبي ټولنیز کارکوونکې ، هغه څوک چې د وګړو اړوند فامیلی (کورنیزې) ستونزو موندلو او څېړلو لپاره کارکوی او د درملنې اړوند اغېزی غبرګونونه څرګندوی .

**- Medical Ward**

د داخلي طب وارد ، د داخلي ناروغانو سروېس ، هغه اړوند ناروغانو څانګه چې ناروغانو ته یې جراحي عملیاتونه نه تر سره کېږي.

## Medicalisation

هغه عمل چې د طبي ستونزو اړوند تر سره کېږي.

## Medicalization

د ( Medicalisation ) په انډول.

## Medicament

دارو درمل دوا ، یو طبي عامل .

## Medicare

طبي څارنه ، د ټولنیزو خېر ښېګړې د تأمین پروګرام چې عمر خوړلو کسانو ته طبي ملاتړ برابروی .

## Medicated

د یوې درملنیزې مادې په متېه مشبوع (ککړ) کول ، طبي درمل درلودونکې مواد .

**- Medicated Shampoo**

طبي شامپو چې د سر وېښتانو ښې درملنې لپاره کارول شی

## Medication

د ناروغیو درملنه خلکو ته د درملو په ورکړې سره.

**- Ionic Medication**

د (Iontophoresis) په انډول.

**- Premedication**

① هغه درمل چې د جراحي عملیات تر سره کولو دمخه د بېهوښې په لومړی سر کې ورکول کېږی او ناروغان انستېزی، ته تیارېږی، ② ناروغه خلکو ته د درملو په ورکړې سره د ناروغیو درملنه.

## Medicinal

دطب له مخی ګټور او روغتیا بخښونکې ، شفابخښونکی، درملګر ، درملنیز.

**- Medicinal Bath**

طبي ګرمابه ، طبي حمام ، د تودوخې اوتپ اخیستلو پذریعه د یوې ناروغۍ درملنه کول .

**- Medicinal Drug**

طبي درمل ، هغه ماده چې د ناروغیو پدرملنه کې کارول شی.

**- Medicinal Leech**

طبي ژوره یا (ژوره ، جُوک) ، یوه اله ده چې دسرې څخه وینه اخلي او د طبي درملنې په موخه ترې کار اخیستل شی.

**- Medicinal Purposes**

طبي موخې ، طبي مقصدونه او هدفونه.

## Medicinally

طبي اړوند ، طبابت سره په تړاو کې ، د (Medicinal) اړوند قبد او صفت.

## Medicine

طب ، طبابت ، دارو درمل ، علاج، روغتیاساتنه ، د ناروغیو درملنه درملنه او تشخیص اړوند ، د طب علم ، داخله طب ، طبي درملنه او طبابت کول .

**- Aviation Medicine**

د هوانوردی د فزیولوژیکو ، طبي ، ورانیدیمیولوژیک سره سراوکار لرل.

**- Medicine Bottle**

طبي بوتل ، هغه مخصوص بوتل چې دننه پکې درمل ځای لری.

**- Medicine Cabinet**

هغه جعبه چې پکې (درمل ، بنداژ ، ترمومیتر او نور طبي وسیلې) پرتې وی او په بیړنی حالت کې کار ترې اخیستل شی ، د (Medicine Chest) په انډول.

**- Clinical Medicine**

د ژوندی ناروغ د کتنې له لارې د ناروغیو څېړنه او شننه / ګرویجنه . د طبي زده کړو د طب فاکولتې د دورې وروستي دوه کاله .

**- Emergency Medicine**

بیړنی طبي مرستې ، بیړنۍ (عاجل) طبابت ، هغه ډول طبي درملنې چې د خطرناکو او زخمیانو ناروغانو طبي درملنه کوی .

**- Emporiac Medicine**

د هغه تودو سیمو د طب تخصصی څانګه چې د مسافرتی ناروغیو له (درملنې ،پېژندنې ، مخنیوی) سره سروکار لری.

**- Environmental Medicine**

چاپیریالیز طبابت، د طب هغه څانګه چې په انسان د چاپېریال له اغېزو سره سروکار لري لکه د (نفوس چټکه وده، هوا او اوبو ککړتیا ، مسافرتونه ، ځنګلونو رواجول او نور) په څېر اړوند څېړني کوي .

**- Expermental Medicine**

تجربوی طبابت ، د حیواناتو سره د تجربې له مخې د یوې ناروغی څېړنه ، هر ډول طبی څېړنه چې د تجربې له مخې تر سره شي.

**- Family Medicine**

کورنی طبابت ، فامیلی طبابت ،د کورنیو اړوند ناروغیو څېړنو او درملنو طبابت ته ویل کېږي.

**- Forensic Medicine**

عدلی طب.قانونی طب څانګه چې پکې د ناروغیو اړوند قانونی اړخونه څېړل کېږي تر څو د ناروغانو او طبیبانو خوند یتوب وساتل شي.

**- Geographic Medicine**

جغرافیائی طبابت ، د تودو سیمو او سیمه ائیزو ناروغیو اړوند طب.

**- Group Medicine**

ګډ او ډله ائیز طبابت ، د یوې ډلې ډاکټرانو پذریعه د ناروغیو (تشخیص ، درملنې ، مخنیوی) اړوند په ګډ ډول همکاری او تصمیم نیولو طبابت کول بلل شي.

**- Internal Medicine**

داخله ناروغیو (تشخیص ، درملنې ، مخنیوی ) اړوند طب او طبابت کول .

**- Legal Medicine**

عدلی طب ، قانونی طب څانګه چې پکې د ناروغیو اړوند قانونی اړخونه څېړل کېږي تر څو د ناروغانو او طبیبانو خوندیتوب وساتل شي.

**- Nuclear Medicine**

هستوی طب ، د طب هغه څانګه چې پکې د ناروغیو (تشخیص ، درملنې) د هستوی راډیوکلوئیدونو کارولو سره سرو او کار لري .

**- Occupational Medicine**

وظیفوی طب، د کاروبار تر سره کولو ځای او یا وظیفوی ناروغیو کې د منځ ته راغلو ضایعاتو د (څېړنې ،مخنیوی او درملنې) سره تړاو لري.

**- Patent Medicine**

سوداګریز (تجارتی) طب، هغه د رمل چې د سوداګریز نوم لاندې له نسخې پرته تر لاسه کېدلای شي.

**- Physical Medicine**

فزیکی طب ، بدنی طب ، هغه څانګه چې د بدنی درملنې سره تړاو لري.

**- Preclinical Medicine**

مخنیوي کوونکې طبابت ، وقایوی طب ، د طب پوهنځی د زده کړې دورې دوه لومړنی کالونه .

**- Preventive Medicine**

وقایوی طب ، هغه طبی علم چې دناروغیو د رابرسېره کېدو د مخنیوې کولو اړوند طبی پروسې سره مرسته کوی.

**- Proprietary Medicine**

هغه درمل چې فورمول یې یوازې د جوړوونکو په لاس کې وی او تر یو سوداګریز نوم لاندې پلورل شي.

**- Psychosomatic Medicine**

د جسمی پېښو اوهیجانې ژوندون تر منځ د رابطې څېړنه.

**- Rehabilitation Medicine**

دبدنی بیارغونې او توان بخښلو طب څانګه.

**- Socialized Medicine**

د طبی خارنې ماشین چې د دولت تر کنترول لاندې وی.

**- Space Medicine**

د طب هغه څانګه چې د هوانوردی / فضا اړوند څېړنې سره سروکار لري.

**- Sport Medicine**

ورزشی طب ، د طب هغه څانګه چې د سپورټ /ورزش څخه زېږنده ناروغیو سره د (تشخیص ، درملنې او مخنیوی) چارې سمبالوی.

**- Traveler's Medicine**

سفری طب ، هغه طبی څانګه چې د مسافرینو د سفر اړوند ناروغیو درملنې او مخنیوی سره سروکار لري .

**- Tropical Medicine**

د تودې سیمې طب ، هغه طبی څانګه چې د تودو او نیمه تودې سیمو اړوند ناروغیو درملنې او مخنیوی سره سروکار لري .

**- Veterinary Medicine**

د څارویو اړوند ناروغیو درملنې او مخنیوی اړوند طبابت څانګه ، وترنری طب څانګه . بیطاری طب ، د بیطاری طبی څانګه ، دژویو اړوندطبي څانګه .

## Medic

ډاکټر ، طبیب ، طبی کارپوه.

## Medico -

دا یو مختاړې دئ او د طبیب او طب معنی بشپړوی.

## Medicochirurgical

د داخلې – جراحی طب اړوند صفت

## Medicolegal

د عدلی طب سره په تړاو کې .

## Medicosocial

طبی او ټولنیز اړوند صفت .

## Mediolateral
انسی - جنبی ، د بدن د منځنۍ کرښې او اړخ پورې تړلې.

## Mediconecrosis
د وینې د رګ د ټونیکا میډیا نکروزس.

## Medium
یو منځګړې شئ ، منځنی حالت، منځنۍ وجه ، وسیله ، واسطه، وسط ، کرهنیز چا پیریال، هغه محصول چې د نسجی نمونو سره د ګډولو لپاره کارول کیږی، د ژوند شرایط، هغه سرې چه د مړوځخه احوال اخیستلای شی ،منځنی( حد ، اندازه، حالت ) بلل شی.

**- Active Medium**
هغه لایزری جوف کې د (اټومونو، آیونونو او مالیکولونو) راغونډېدل چې په هغه کې پارول شوې وړانګې تر اعظمی پارونې لاندې راغلې وی.

**- Clearing Medium**
هغه ماده چې هستولوژیکی نمونې رڼې (شفافه ) وی .

**- Contrast Medium**
هغه راډیولوژیک اوپک ماده چې د بدن د داخلی غړو د ښودنې او څېړنې په موخه په راډیوګرافی عکسونو اخیستنې کې کاروله شی.

**- Culture Medium**
د کلچر لپاره مساعد محیط، زرعیه وسط په مایکروبیولوژیک څېړنو کې د میکربونو د ودې کولو لپاره کارول کیږی.

**- Dioptric Medium**
د نور د انکساروونکې چاپېریال.

**- Disperse Medium**
د کلوئیدی سیستم پرله پسې فاز ، هغه چاپېریال چې کلوئید پکې خپرېږی ، په یوه ریښتینې محلول کې یو حلوونکې انالوګ.

**- Nutrient Medium**
تغذیوی چاپیریال، هغه زرعیه محیط چې د تغذیوی موادو سره یوځای شوېوی.

**- Refracting Medium**
انکساری محیط ، د سترګې شفاف مایعات او نسجونه چې رڼا ورځخه تېرېږی ،انکسار کوی او د شبکیې پرمخ منعکس کیږی.

**- Transport Medium**
هغه زرعیه محیط چې د باکتریا پېژندنې په لابراتوار کې د کلینیکی نمونو د لېږد لپاره کارول شی.

## Medius
وسطی ، په منځ یا وسط کې ځای په ځای شوې.

## Medrol
د میتایل پریدنیزولون لپاره سوداګریز نوم دئ.

## Medroxyprogesterone
ترکیبی هورمون چې د (حیض دوري اختلال درملني ، د استروجن معاوضې او بلاربښت ضد درملو ) په توګه کارول شی.

## Medulla
میډولا ، مُخ ، د یوه غړی دننه پسته برخه چې د قشر (کورتکس ) مقابل ته واقع وی، د هډوکو ماغزه ، هغه جوړښت چې د هډوکو ماغزو ته ورته وی.

**- Adrenal Medulla**
د ادرینال غدې میډولا او دننه برخه چې سورته لېواله توربخنه رنګ لری نرمه بڼه لری او کاتکول امینونه (جوړ ،زېرمه او افرازوی).

**- Medulla of Bone**
د هډوکو ماغزه ، مُخ عظم.

**- Medulla Nephrica**
د پښتورګو میډولا.

**- Medulla Oblongata**
د ماغزو (دماغ ) د ساقې هغه برخه چې پورته د حدبې (Pons) او کښته د نخاع په منځ کې ځای لری اونخاع د ( Foramen Magnum) له لارې دماغ ته لاره مومی.

**- Medulla Ossium**
د هډوکو ماغزه ، د هډوکو دننه حرام مغز .

**- Medulla Renis**
د پښتوګی دننه برخه چې راغونډوونکی عنصرونه ، د هنلې قوسونه اومستقیم رګونه لری چې د هرمونو په بڼه ترتیب شوی دی پکې ونډه لری.

**- Spinal Medulla**
نخاع ، حرام مغز ،نخاعی میډولا (Medulla Spinalis ) په انډول.

**- Medulla of Thymus**
د تایموس غدې میډولا. د تیموس د یوه لوبول مرکزی برخه چې کم شمېر لمفوسیټونه او زیات شمېر کې رتیکولوسیتونه لری.

## Medullary
د میډولا اړوند صفت ، مُخ عظمی ، د هډوکو ماغزو اړوند.

**- Medullary Cavity**
میډولائی جوف ، هغه جوف چې مُخ عظم ولری.

**- Medullary Cord**
میډولائی رسۍ ، هغه اپیتلیایې فایبر چې د جنینی هګۍ ( Hilum) ته نږدې واقع دئ.

## Medullated
میالینی شوې ، په میالین باندې اوښتې .تیاره مغزې عصب.

**- Medullated Nerve**
میالینې شوې عصب چې د میالین پوښ پواسطه احاطه شوېوی.

**Megalokaryocyte**

د وينې مېګاکاريوسايت حجره .

**Megalomania**

دا يو ډول رواني ناروغي ده چې پکې ناروغ فکر کوي چې ډېر قوي او د خپلو ښېګړو او لويوالي –توان په اړه د شخص بې دليله باور او ډاډ شتون لري.

**Megalomaniac**

د (Megalomania) اړوند په ناروغۍ اخته کس .

**Megalopenis**

د نارينه د تناسلي آلې (قضيب) غېر نارومل لويوالې .

**Megalophthalmus**

غټه سترګه ، بوفتالموس (د غوائي سترګه) .

**Megalopia**

د (Macropsia) په انډول.

**Megalopodia**

د پښو غېر نارمل لويوالې .غټې پښې لرل .

**Megalopsia**

د (Macropsia) په انډول.

**Megalosyndactyly**

هغه حالت چې په هغه کې ګوتې ډېرې لويې وي او کم يا زيات د يوه پرده يي ډوله پوستکي په واسطه سره نښلېدلې وي.

**Megaloureter**

د حالب متوسع او غټ شوې بڼه ، د (Megaureter) په انډول .

**Megalouterus**

د ځرګند دليل ځخه پرته د ځلانځې (رحم) ولادې لويوالې بلل شې.

**-megaly**

دا يو روستاړې دئ اود( متوسع ،غټ ،لوی ، پړسېدلی) معنی بشپړوی.

**Megaphone**

دړغ جګولواله،لکه لوډسپيکر

**Megaphony**

دغږ جګوالی حالت ، د غږ لوړوالی حالت .

**Megaureter**

د حالب متوسع او غټ شوې بڼه چې په ښکتنۍ او لاندينۍ برخه کې يې بندښت يا تنګوالې شتون لري .

**Medullization**

د هډوکي د ماغزو پراخېدل ، د مُخ عظم لويېدل لکه په نازک کېدونکي اوستيت کې.

**Medulloblast**

د عصبي نا تفريق شوې حجره چې کېدای شی په نوروبلاست يا سپونجيوبلاسټ واوړي .

**Medulloblastoma**

د نيوروبلاست حجرو ځخه جوړ شوې تومور چې د ماشومتوب دورې د دماغ په (Medulla Oblongata ) او ځلورم بطين کې منځ ته راځي.

**Medulloepitheloma**

د نيوروايپتليائی تومور چې په ماغزو او شبکيه کې نادراً منځ ته راځي او نيوروايپتليائي حجرو ځخه چې تيوبولی فضاګانې پوښوي جوړې شوې دي.

**Mefenamic Acid**

د (درد ، تبې ، روماتيزم ، التهاب ضد ) درمل دی چې د حيض دورې دردونو ، روماتوئيد آرټريت او التهابونو په درملنه کې کارول شي.

**Mefloquine**

مفلوکين ، دا د ملاريا ضد درمل دی .

**Mefloquine Hydrochloride**

دا د ملاريا ضد درمل دی چې د مخنيوی په موخه ناروغانو ته ورکول شي.

**Mega -**

د لاسونو غېر نارمل لويوالې .

**Megalocyte**

ډېره لويه /غټه سره کرېوه چې په خبيثه وينه لږی ( Anaemia Pernicious) کې ليدل شي.

**Megalodactylous**

د (Megalodactyly ) اړوند صفت.

**Megalodactyly**

د لاسونو او پښو ګوتولويه کچه غټوالې.

**Megaloesophagus**

د مرۍ متوسع او غټ حالت چې د (Achalasia، Cardiospasm ) ناروغۍ کې ليدل شي .

**Megalogastria**

د معدې غېر نورمال متوسع لويوالې او غټ حالت چې د (Pyloric Stenosis، Duodenal atresia ، Gastric Outlet Obstruction ) ناروغۍ کې ليدل شي.

**Megavitamine**

د ویټامین هغه کچه چې د تغذیوی تعادل په موخه په پراخ ډول تجویز کېږی .

**Megavolt**

یو میلیون ولټ.

**Megastrol**

پروجسټرونی صنعتی ماده چې د اسیتیت مالګې په بڼه د تیپونو او اندومتریوم سرطان او د اکتسابی معافیتی نیمګړتیا د سندروم درملنه کې کارول شی.

**Meglumine**

هغه کریستالی ماده چې د ځینې اسیدونو د مالګې جمتو کولو لپاره او په تشخیص کې د کثیفه مادې په توګه کارېږی.

**Megohm**

یو میلیون اوم .

**Megophthalmos**

غټه سترګه ، بوفتالموس ، هایدروفتالموس .

**Meibomian**

سیباسی غده ، د (Sebaceous Gland) په اند‌ول.

**- Meibomian Cyst**

د سیباسې غدې پړسوب او سیسټ منځ ته راتلل چې د سترګې په سترغلو کې پیښېږی او ورته (Chalazion) هم ویل شی.

**- Meibomian Gland**

د سیباسې غده (Sebaceous Gland) چې د سترګې په سترغلو کې شتون لری چې مایع د سترګو سترغلو ښویه کېدنې (ملین کېدنې) لپاره افرازوی او ورته (Tarsal Gland) هم ویل شی.

**Meibomianitis**

د (Meibomian Gland) التهاب او پړسوب بلل شی.

**Meigs' syndrome**

هغه حالت چې پکې د حوصلې تومورونو له کبله د پلورا او پریتوان جوفونو کې مایع راټولېږی.

**Meiosis**

هغه حجروی وېشنه چې د جنسی حجرو (دوه جوړه هیپلوئید حجرې چې یوازې یو سیټ کروموزوم لری) د بالغېدو په بهیر کې منځ ته راځی چې په نتیجه کې دوه منځ ته راغلې حجرې بېرته ویشل کېږی هره نوې حجره د سوماتیک حجرې د کروموزومونو نیمائی ترلاسه کوی چې ددې ګامیټونو ته هیپاوئید وائی شی.

**Meiotic**

د (Meiosis) اړوند صفت.

**Meissner's Corpuscle**

رسپټور حجره چې په پوستکی کې واقع وی او د تماس سره سم احساس منځ ته راوړی، د احساس حجره .

**Meissner's Plexus**

د میسنر ظفیره ، هغه شبکه چې د هضمی کانال په جدار د عصبی فایبرونو له امله منځ ته راځی او په (1853–1905) کالونو کې د جرمنی اناټومیسټ (Georg Meissner) پذریعه لومړې ځل شرحه شو.

**Mel**

شهد ،عنګبین ، عسل ،خواږه خواړه دی .

**Melaena**

میلانا ، توربخن وینه لرونکی غایطی مواد چې په کولمو کښې د وینه بهېدنې له امله پیښېږی.

**Melagra**

په هډونو کښې عضلاتی درد.

**Melalgia**

په هډونو کې درد.

**Melan -**

دا یو مختاړې دئ او د عایطی موادو وینه لرونکې توربخن معنی بشپړوی د (Melano-) په اند‌ول.

**Melana**

د (Melaena) په اند‌ول.

**Melancholia**

د بدنی او ذهنی فعالیت له غیر نارمل نهی کولو سره یوځای زړه بدکوونکې هیجانی حالت او اضطراب چې معمولاً (45 and 65) عمر کې منځ ته راځی.هغه کلینیکی سندرومی حالت چې پکې هز یان (Delusion) او (Agitated Movements) حرکتونه شتون لری.

**- Melancholia Agitata**

هغه حالت چې د پرلپسې تحرک او ډېر شدید احساس تهیج له نښنو سره یو ځای وی ، (Agitated Melancholia) په اند‌ول.

**- Involutional Melancholia**

یو ډول تفکری او خوی ناجوړتیا چې د منځنی عمر په وروستیو کالونو کې رابرسېره کېږی او د (نارامی ،اضطراب ، سوماتیک ذهنی مصروفیت ، بې خوبی او کله ناکله پارانوئید غیرګونونو) په مرسته پېژندل شی.

**Melancholy**

میلانخولي، خپګان ، وسواس،سودا وسواسي، سودا یي.

## Melanin
میلانین د ( پوستکی ، ویښتانو ، د سترګو د کروئید پوښ ، تورجسم او ډول ډول تومورونو ) توررنګ ، دغه ماده د تایروزین د اکسیدیشن محصولاتو او د ډای هایدروکسی فینایل د مرکباتو د پولی میرایز یشن څخه منځ ته راځی .

## Melanism
د پوستکی یا نورو نسجونو د توروالی یا پګمنټیشن زیادښت چې معمولاً جنیتیکی سرچینه لری.

## Melano-
دا یو مختاړې دئ او د (میلانین ،تور ، پګمنټ یا تیاره) معنی بشپړوی.

## Melanoameloblastoma
مېلانوبلاستوما ، میلانوټیک نیورواکتودرمال تومور.

## Melanoblast
هغه حجره چې د د عصبی کرسټ ( Crest) څخه سرچینه اخلی او په میلانوسیټ باندې اوړی.

## Melanocarcinoma
میلانوکارسینوما ، هغه خبیث ملانوم تومور چې په پوستکی کې معمول دئ.

## Melanocyte
هره هغه حجره چې صباغ (Pigment ) لېږدوی. د اپي درم روښانه ډنډریتیک حجرې چې تایروزین تولیدوی او ددې حجرو ملانوزومونو دننه ملانین شته والې لری چې هغه میلانوسیټ څخه کراتینو سیټ لری.

- **Melanocyte -Stimulating Hormone**

د میلانوسایټ تنبه کوونکې هورمون چې د (Pituitary Gland) پذریعه تولیدېږی او پوستکی ته توربخن رنګ ورکوی لنډه نښه یې (MSH ) ده.

## Melanocytic
د (Melanocyte) اړوند صفت .

## Melanocytoma
هغه تومورونه چې میانوسایتونه لری .

## Melanoderma
په پوستکی کې د میلانین غېر نارمل زیادښت . د پوستکی تور رنګ ته په غېر نورمال ډول اوښتنه.

## Melanodermatitis
په پوستکی کې د میلانین غېر نارمل زیادښت سره مل درماتیت .

## Melanogen
هغه بې رنګه کروموجن چې په میلانین اوړی او په ځانګړی ناروغیو کې په متیازو کې هم لیدل کېږی.

## Melanogenesis
د میلانین تولید .

## Melanoglossia
توره ژبه .

## Melanoid
میلانین ته ورته ، د میلانین په څېر.

## Melanoleukoderma
د پوستکی داغ داغ بڼه .

- **Melanoleukoderma Coli**

د غاړې د شاوخوا برخو سیفلیسی لوکودرما .

## Melanoma
میلانوما ، د میلانین لرونکو حجروتومور.خبیثه میلانوما .

- **Acral-lentiginous Melanoma**

د نامنظمې حاشیې لرونکې لوئېدونکې تور رنګه مکول چې غېرتهاجمی (یرغلیز) طولانی سیر لری او اکثر د (لاس ورغوی ، پښې په تله )کې منځ ته راځی.

- **Amelanotic Melanoma**

غېرصباغی خبیث ملانوما .

- **Juvenile Melanoma**

د اپیتیلووئید او دوکی (ماکو) ډوله حجری لرونکې خال .

- **Lentigo Maligna Melanoma**

خبیث لنتیګوی ملانوما ، د پوستکی خبیث ملانوما چې په هغه سیمه کې د خبیث لنتیګوی ځای څخه منځ ته راځی چې د لمر د وړانګو سره په زیاته پیمانه مخامخ وی چې په ځانګړی ډول د مخ یادونه کولای شو .

- **Nodular Melanoma**

نوډولی میلانوما ، د محسوس وړانګه ائیز خپراوی نه لرونکې خبیث میلانوما چې معمولاً چې د (غاړه ، بدن ، سر ) کې منځ ته راځی رنګارنګ رنګونه لری او په چټکۍ سره په نوډول اوړی او تپی کېږی.

- **Ocular Melanoma**

خبیث بصری میلانوما ،د سترګې څخه منشه اخیستونکې خبیث میلانوما چې پرلپسې میتاستازس ورکوی او ژر دمرګ لامل ګرځی.

- **Subungual Melanoma**

د نوکانو په بستر یا ژور غالی کې اکرال –لینتیګینوس ملانوما.

- **Superficial Spreading Melanoma**

سطحی خپور ملانوما ، هغه خبیث ملانوما چې د اپیدرم د ملانوسایتونو د اټیپیک وړانګیزې(شعاعی) ودې چې بنائی

تهاجمي یا برعکس قهقرائي سېر ولري پېژندل کېږي د ورانه په لاتدینۍ شاتنۍ برخه کې د کوچنیو پپولونو یا ماکولو بڼه لیدل شي .

**- Uveal Melanoma**

د یویا (Uvea) د بې درېغه وده موندلو میلانوسایټونو څخه جوړ عیني ملانوما .

**- Malignant Melanoma**

خبیث ملانوما ، چې د خبیث لنتیګویي خال څخه وده کوي او په ګڼ شمېر توررنګه حجرې لري چې میتاستاز مومي .

## Melanonychia

د میلانین د صباغ له امله د نوک توروالي .

## Melanophage

هغه هیستوسایت چې د فاګوسایتي شوی میلانین څخه ډک وي.

## Melanophore

میلانین لرونکي تصبغي حجره چې ځانګړې ډول په (کبانو ،چنګښو او ځرمښکیو ) لیدل کېږي ،هغه حجره چې میلانین لري.

## Melanoplakia

د خولې د مخاط په مخ د میلانین لرونکي پلاکونو جوړېدل.

## Melanosis

په یوه سیمه کې د تور رنګ صباغ رسوب ، د صباغ د میتابولیزم ناجوړتیا . د (Melanism ) په انډول.

**- Melanosis Coli**

په (Lamina Propria ) کې د صباغ (پرته له میلانین څخه) د ډکو ماکروفاژونو د شته والي له امله د کولون د مخاط رنګ تتک تور کېدل.

**- Neurocutaneus Melanosis**

د منتشر خبیث ملانوم سره یوځای ډېر لوی وېښته لرونکي خال .

## Melanosome

ملانوزوم ،د میلانوسیت داخلي ګرانولونه چې تایروزین لري او میلانین جوړوي دغه ګرانولونه د میلانوسیټونو څخه کراتینوسیټونو ته لېږدوي.

## Melanotroph

ملانوتروف ، هغه هایپوفیزي حجره چې د ملانوسایت د پاروونکي هورمون د جوړولو لپاره ځانګړې شوېږي.

## Melanuria

د تور رنګه متیازو اطراح .

## Melanuric

د (Melanuria ) اړوند صفت.

## Mellarsoprol

هغه پروتوزوا ضد درمل چې تریپانوزوم اغېزې لري.

## Melasma

هغه ژېړ - قهوه یي رنګه تور بخن ماکولونه چې ځرګندې پولې لري او معمولاً په متناظر ډول د (زنې ، تنډې ، پورتنۍ شونډې ، غاړې ،مخ) برخو کې د بلاربښت پرمهال لیدل کېږي.

## Melatonin

هغه کتکول اميني هورمونونه چې د پینیال جسم په واسطه جوړېږي هورمون جوړوونکي اغېزې لري پداسې حال کې چې په نورو ژویو کې موسمي بدلونونه لکه (تکثر، د پوستکي رنګ اوښتني طرحه) تنظیم کوي او په (خوب ، خوی ، بلوغ او هګۍ ځالې سیکلونو تنظیم ) کې ونډه لري .

## Melena

د (Melana ) په انډول. توربخن وینه لرونکي غایطي مواد چې په هضمي جهاز کې د وینې رنګ شته والي له امله منځ ته راځي .

## Melidosis

په شخوند وهونکو کې ګلانډر ته ورته ناروغي چې انسان ته لېږدول کېږي او عامل یې (Pseudomonas Pseudomallei) دئ.

## Meltoptyalism

د ګلوکوز درلودونکو لاړو اطراح .

## Mellarill

د تیوریدیزین سوداګریز نوم .

## Mellitus

د شکرې ناروغي ، د (Diabetes Mellitus) په انډول.

## Mellow

پوخ، رسیدلې، نرم، پسته لکه (مڼکه )، روڼ، روښانه، خالص، بوب لکه (رنګ یاږغ) پخول، پخېدل، رسېدل، رسول، خالصول.

## Mellowness

پوختیا ، رسېدنه، نرمښت، پوستوالي، روڼوالي.

## Meloplasty

د زنې اړوند هر ډول پلاستیکي جراحي عملیات .

## Melorheostosis

د هډوکي د سکلروزس یو ډول چې د خطي ډوله درزونو په بڼه د اوږدو هډوکو له منځ څخه تېرېږي .

**- Brunn's Membrane**

د پوزې د بویولو (شاموی) سیمې اپیتلیوم .

**- Cloacal Membrane**

کلواکال غشأ ، هغه نرۍ غشأ چې نازک لنډمهالې بند چې د کولمو او دهغو بهرنۍ برخې ترمنځ ځای لری.

**- Corti's Membrane**

کورتی غشأ ، هغه جلاتینی کتله چې په کورتی غړی تکیه کوی او د هغه د ویښته ډوله حجرو له ویښتانو سره تړاو لری.

**- Croupous Membrane**

د ریښتیني کروپ کاذبه غشأ.

**- Cytoplasmic Membrane**

د حجرې سایتوپلازمی غشأ . پلازمائي غشأ .

**- Decidual Membrane**

د ځلانځې (رحم) دیسیدوائي غشأ ، د (Deciduous Membrane) په انډول.

**- Decement's Membrane**

هغه نازکه –نرۍ هیالینی غشأ چې د سابیستانشیا پروپریا او د قرنیې د اندوتلیال طبقې تر منځ پرته ده.

**- Diphtheritic Membrane**

هغه نازکه – نرۍ غشأ چې د دیفتری ځانګړنه شمېرل کېږی او تحثری نکروز له امله منځ ته راځی .

**- Drum Membrane**

صماخی غشأ، د غوږ صماخی پرده .

**- Elastic Membrane**

الاستیک غشأ ، هغه غشأ چې الاستیک فایبرونه جوړوی .

**- Enamel Membrane**

د غاښ پوښ ، د جنین د غاښ زېږونکې برخې مینائی غړی د داخلی حجرو داخلی طبقه.

**- Extraembryonic Membrane**

د جنین بهرنۍ طبقه چې د جنین ژغورنه کوی او د (تغذیوی ، تنفس ، او اضافی موادو د اطراح) په څېر دندې تر سره کوی. ژېړه کڅوړه ، ثروی کڅوړه ، الانتوئیس ،امنیون ، کوریون ، دېسېدوآ او پلاسنتا .

**- Fanestrade Membrane**

د شریانونومنځنۍ طبقې او داخلی تونیکا یوه سوری سوری غشأ.

**- Fetal Membrane**

خارج الجنینی غشأ ګانې .

**- Fibroelastic Membrane**

فیبروالاستیک طبقه چې دحنجرې د مخاطی پوښ لاندې پرته ده.

**- Germinal Membrane**

جرمینال غشأ ، د (بلاستودرم ) په انډول.

**- Glomerular Membrane**

هغه غشأ چې د پښتورګو ګلومیرولونو رګونه پوښوی ،

## Melphalan

سایتو توکسیک نایتروجنی موستارډی الکلی کوونکې درمل چې د سرطان په درملنه کې کارول شی.

## Membra

د (Membran) د کلمې ګڼه شمېره.

## Membrana

غشأ ، پرده .

## Membrane

هغه نرۍ پرده ائېزه خپره شوې نسجی جوړښت چې د یوه جوف داخلی مخ پوښوی یا یوه فضأ په دوه برخو ویشی لکه د (مخاطی طبقې پرمخ ).

**- Alveolocapillary Membrane**

د سږو د اسناخو د کپیلرونوتر منځ نرۍ نسجی غشأچې د هغې لارې د وینې او سږو ترومنځ د ګازاتو تبادله تر سره کېږی .

**- Alveolodental Membrane**

پری اودنتوم ، د غاښونو او وریو ترمنځ غشأ.

**- Arachnoid Membrane**

اراکنوئید ، د دماغ د پوښ یوه نرۍ غشأ .

**- Atlanto –occipital Membrane**

د منځنی لیکې دوه جوړښتونه چې یو (منځنی ) د اطلس د منځنۍ قوس څخه د فورامېن مګنوم منځنۍ څنډې ته غځېدلې او بل (شاتنی) د همدې پیوستونونوشاتنۍ برخې سره نښلوی .

**- Basement Membrane**

قاعدوی غشأ ، بې شکله خارج الحجروی مادې یوه طبقه چې د اپیتلیائی حجرو قاعدوی سطحه وربانديې ځای نیسی ، دغه ماده همدا ډول د (عضلاتی ، شوانی شحمی او شعریوی) حجرو سره یوځای شته والې لری او د حجرو او قاعدوی منضمی طبقې ترمنځ ځای نیسی.

**- Basilar Membrane**

قاعدوی طبقه ،د (لمینا بزیلارس ) په انډول .

**- Bichat's Membrane**

سوری لرونکې غشأ .

**- Bowman's Membrane**

د سترګو د قرنیې نرۍ –نازکه طبقه چې د مطتبق اپیتلیوم د بهرنۍ طبقې او سابیستانشیا پروپربا په منځ کې ځای لری .

**- Membrane Bone**

هغه هډوکې چې د انساجو څخه وده مومی او د غضروف پورې تړاو نلری.

**- Bruch's Membrane**

د د سترګو د کروئید داخلی طبقه چې هغه د شبکیې له صباغی طبقې څخه بېلوی .

- **Reticular Membrane**

شبکوی غشأ، شبکه ډوله غشأ چې د غوږ د مارپیچې غړی پوښی او له منځ څخه یې د احدابی حجرو بهرنې آزاد سر تېرېږی.

- **Membrane of Round Window**

د غوږ ثانوی صماخی پرده .

- **Ruysch's Membrane**

لامېنا کروئید او کپیلری ، د (Ruyschian Membrane) په انډول.

- **Scarpa's Membrane**

سکارپا غشأ، د غوږ ثانوی صماخی پرده .

- **Schneiderian Membrane**

هغه مخاطی غشأ چې د پوزې دننه /داخل یې فرش کړېدئ.

- **Serous Membrane**

مصلی غشأ ، د سېروزأ طبقه چې په هر غړی کې وی.

- **Shrapnell's Membrane**

د غوږ ثانوی صماخی پردې نازکه پورتنۍ برخه .

- **Steriated Membrane**

تسمه یي غشأ ، پټۍ ډوله غشأ ، پډېکولی سیمه.

- **Synaptic Membrane**

د نیورن د پلازمائی غشأ هغه برخه چې د سیناپس جوړېدنې ځای دئ.

- **Synovial Membrane**

د بندونو د ساینویال غشأ چې دوه طبقې لری او د بندونو ساینویال مایع پوښوی د رخوه نسجی منضم نسج څخه جوړېږی .

- **Tectorial Membrane**

کورتی غشأ.

- **Tympanic Membrane**

صماخی غشأ ، هغه غشأ چې بهرنې غوږ له دننه غوږ څخه بېلوی.

- **Tympanic Membrane Scondary**

هغه غشأ چې حلزونی سوری په برکې نېسی.ثانوی صماخی غشأ.

- **Undulating Membrane**

هغه پروتوپلازمی غشأ چې د کبانو (ماهی) وزرونو په څېر د ځینو پروتوزوا ګانو د بدن په اوږدو کې خوځښت کوی.

- **Unit Membrane**

د پلازمائی غشأ ګانو لکه (هستوی او مایتوکاندری غشأ ګانې) درې طبقه یي جوړښت چې د الکترونبکی مایکروسکوپ په مرسته لېدل کېږی.

- **Vestibular Membrane**

د سامعوی مجرأ قدامی نازک دېوال چې هغه له سکالا تیمپانی څخه بېلوی، د (Membrane of Cochlear Duct ) په انډول .

- **Hyaline Membrane**

هیالینی غشأ ، د ویښته د داخلی فیبری طبقې او د ریښې د بهرنۍ پوښ تر منځ غابښ ، هغه نرۍ غشأ چې په جنینی دوره کې د سرو اسناخ پوښوی .

- **Hyaloid Membrane**

د (Vitreous Membrane) په انډول.

- **Jackson's Membrane**

هغه پیوستونونه چې ځینې وختونه سیکوم پوښی او د کولمو بندښت لامل کېږی.

- **Keragenous Membrane**

د نوکانوماتریکس برخه .

- **Limiting Membrane**

هغه غشأ چې د یوه نسج یا جوړښت څنډې ټاکی او مشخصې کوی

- **Medullary Membrane**

دهډوکی منځنۍ برخه ، مُخی غشأ.

- **Mucus Membrane**

مخاطی طبقه ، مخاطی غشأ چې و کانالونو دننه جوفونه پوښوی او مخاطی افرازات لری.

- **Nysmyth's Membrane**

غابښی کوتیکول .

- **Nictitating Membrane**

د پوستکی هغه رڼه اوشفافه ننوتلتیا چې د لېمو په ژوره کې ځای لری چې کېدای شی د سترګې د ګاټې پر مخ وغځېږی او په (خرمنبکیو ، الوتونکو او نورو) حېوانانو کې لیدل شی.

- **Nuclear Membrane**

هستوی غشأ ، هغه دوه خارجی او داخلی غشأ ګانې چې هسته پوښی.

- **Olfactory Membrane**

د پوزې د جوف د شاموی برخې مخاطی غشأ.

- **Ovular Membrane**

ویتیلینی غشأ.

- **Peridental Membrane**

پریوډینتیوم .

- **Periodontal Membrane**

پریوډونتیال غشأ ، د لیګامنټ په برخه کې وګوری.

- **Placental Membrane**

پلاسنتائی غشأ .هغه غشأ چې مورنۍ او جنینی وینې سره بېلوی.

- **Plasma Membrane**

د حجرې دسایتوپلازم څخه تاو راتاو شوی وی.

- **Reissner's Membrane**

د سامعې کانال قدامی نرې (نازک) جدار چې هغه له سکالا وېستیبولی څخه بېلوی .

**- Remote Memory**
لیرې حافظه ، د ډیرو پخوانیو پیښو لپاره حافظه پداسې حال کې چې د نویو مجموعو د رایادولو توان نلري.

**- Replacement Memory**
عوض ضوې حافظه ، د یوې خاطرې پرځای د بلې خاطرې راتلل.

**- Screen Memory**
هغه د زغملو او تحمل وړ شعوری خاطره چې د یوې پردې په بڼه هغه بلې خاطرې د رایادیدلو مخه نیسی چې د (اضطراب ،خپګان او دردناک) احساس لامل ګرځی .

**- Short term Memory**
لنډ مهالې حافظه، هغه خاطره چې د لنډې مودې لپاره له یاده وځی مګر داچې دا هیرول د شخص له خوا پیاوړی شی.

## Meancme
د یوې ښځې د ژوند هغه دوره چې د تحیض فعالیت په مرسته پیژندل کیږی.

## Menadiol
د ویتامین (Vitamin. K) انالوګ ، سودیم فاسفیتی مالګه یې د پروترومبین زیږوونکې و یتامین په توګه کارول شی.

## Menadione
د (Vitamin. $K_3$ ) ، په وازده کې منحل صنعتی ویتامین دئ چې په بدن کې د ویتامین یّه فعاله توګه اووښتلای شی .

## Menaquinone
د (Vitamin. $K_2$ ) جوړښت ،د مرکبون هغه ډله چې د ( Vitamin. K) خاصیت لری او د جوړښت له پلوه فیتیوناډیون ته ورته دئ خو جانبی ځنځیرونه یې توپیر لری او د کولمو فلورا په ذریعه جوړیږی.

## Menarche
د نجونو لومړنی ځل حیض ، مینارچ ، د حیض منځ ته راتګ .

## Menarchial
د ( Menarche) اړوند صفت .

## Mend
د یوه څه ترمیم او جوړول ،لکه جراحان چې د زړه دسامونه (والفونه) جوړوی.

## Mendel's Laws
د منډل قانون ، دا قانون د ارثیت اړوند څیړنو علم اړوند اساساتو باندې ولاړ دئ چې د ښاغلی ( Gregor Johann Mendel) پذریعه په (1884–1865) کالونو کښې د ( Austrian) عالم پواسطه جوړ اوشرحه شو او په کال (1900) کې بیاکتنه او تنظیم شو.

## Mendelevium
دا یو کیمیاوی عنصر دئ چې اټومی شمیره یې ( 101 ) او کیمیاوی نښنه یې (Md) ده.

**- Viteline Membrane**
هغه غیر حجروی سایتوپلازمی غشأ چې د ډیرو حیواناتو د هګۍ چاپیر احاطه کوی.

**- Vitreous Membrane**
هغه ظریفه محدودوونکې طبقه چې د ویټری جسم سره نښلیدلې ده ، د ( Bruch's Membrane ، Descement Membrane او د Hyalin Membrane) په اندړول .

**- Yolk Membrane**
ویتلینی غشأ .

**- Zinn's Membrane**
پانه ائیز جسم .

## Membranous
غشائی ، غشأ ډوله ، دنرۍ پردې او غشأ په څیر.

**- Membranous Labyrinth**
د هډوکود لابرینت په منځ کې د چینالونو او قنیواتو څخه منځ ته راغلې لړۍ .

**- Membranous Structure**
غشأ یي جوړښت .

**- Pars Membranous**
د غشأ یي برخې پورې اړوند صفت .

## Membranocartilagenous
په غشأ او غضروفی دواړو بڼو سره تکامل موندلې ، غضروفی او غشائی برخه ، غشائی – غضروفی .

## Membranoid
غشأ ډوله جوړښت.

## Membranolysis
د حجروی غشأ تخریب .

## Membranum
غشأ ، پرده ، نرۍ طبقه چې جوړښتونه پوښوی یا سره جلاکوی.

## Membrum
د بدن غړې ، هډ ، اندام ، د اندامونو لپاره عمومی اصطلاح ده لکه د پورتنی هډ (مټ ، لیچه ، لاس) او ښکتنی هډ (ورون ، پُنډۍ ، پښه) .

**- Membrum Mullibre**
کلایتوریس ، بذر ، و ښځینه و د بهرنی تناسلی غړیو یوه برخه.

**- Membrum Virile**
قضیب، غین ، پینس ، د نارینه بهرنی تناسلی غړیو برخه .

## Memory
حافظه، د دماغ هغه برخه چې (احساسات، اغیزې ، پاروونه ) زیرمه کوی او خوندی ساتی.

اندازې پرېمانه رګونه لري .

**- Convexity Meningioma**

د منجیوما هغه تومور چې مختلفې ډلې د ماغزو د مېزابو دننه او د رولانډیک فیسور په منځنۍ برخه کې ځای لري.

**- Psammomatous Meningioma**

د مننجیوما هغه ډول چې په ګڼ شمېر سره (Psammoma ) جسمونه لري.

## Meningism

مننجیزم ، په سحاپا کې ددماغي نخاعي مايع دپتولوژیک بدلونونو او د انتان له شته والي پرته د ډیهایدریشن یا تبه لرونکې حادې ناروغۍ سره مل د منتجېت نښې.

## Meningismus

د ( Meningism) په انډول.

## Meningitis

د ماغزو او نخاع د سحاپایي طبقې التهاب چې [شدید سر درد ، تبه ، د ورمېږ عضلي شخي ، او کله ناکله هزیانات( Delirium ) ]منځ ته راوړي.

**- Aseptic Meningitis**

غیر انتاني مننجېټ .

**- Bacterial Meningitis**

باکتریایي مننجیټ.

**- Basilar Meningitis**

د سر د کوپړۍ د قاعدې برخې سحاپا التهاب یا مننجېټ.

**- Cerebral Meningitis**

د دماغ د سحاپا برخې التهاب یا مننجیټ .

**- Cerebrospinal Meningitis**

د دماغ او نخاع برخو د سحاپا التهاب یا مننجیټ.

**- Chronic Meningitis**

مزمن ډول د سحاپاوو التهاب چې انتاني او غیر انتاني ډولونه لري لکه توبرکلوز او نور...

**- Cryptococcal Meningitis**

په کرپټوکولوزیس کې د کریپټوکوکوس پواسطه د سحاپاوو التهاب.

**- Epidemic Cerebrospinal Miningitis**

د (Meningococcal Meningitis) په انډول.

**- Hemorrhagic Meningitis**

وینه لروونکې سحاپائي التهاب .

**- Infective Miningitis**

انتاني (مېکروبي ) مننجېټ .

**- Meningococcal Meningitis**

مننګوکوکال مننجیټ، حاده او اپیدیمیکه انتاني ناروغي چې د سرې مخې ویرولانت مننجېټ په بڼه چې د نایزیریا

## Mendelson's Syndrome

یولړ وژونکې حالات چې د معدي اسید ( تېزاب) د یوه تیوب پذریعه راخېستل شي سږو ته تېر او اسپایریشن کېږي چې دا اساساً د په ولادي ناروغانو کې لېدل شي او د لومړي ځل لپاره دامریکائي عالم ( .Curtis L Mendelson) پذریعه په کال (1913) شرحه شو.

## Ménière's Disease

مینیري سندروم ، دا د منځنی غوږ (متوسط أذن) ناروغي ده چې پکې (سرګرخي ، د غوږونو کړنګهار ، او پرمخ تللي ډول کونوالي ) منځ ته راځي لاملونه یې (انتانات ، الرژي) د لابرینت برخه کې بلل شي.دا لومړي ځل د فرنسوي عالم ( Prosper Ménière) پذریعه په (1861–1862) کالونو کې شرحه شو او بیا د هغه ځوی (Emile Antoine Ménière ) پذریعه په (1839–1905) کالونو کی بیا تنظیم شو ، د ( Ménière's Syndrome) په انډول .

## Mening-

دا یو مختاړې دئ ( -Meningo او سحایاوو ، مغزي پردې) معنی بشپړوي.

## Meningeal

د سحایا(Meninges ) اړوند صفت .

**- Meningeal Haemorrhage**

د سحایاوو وینه بهېدنه د اړوند شریانونو د شلېدنې له امله .

**- Meningeal Sarcoma**

د سحایاوو سارکوما خبیث تومور.

## Meninges

مغزي پرده ، سحایا ، هغه نرۍ پرده چې دماغ او نخاع پوښي، مفرد شمېره بڼه یې (Meninx ) بلل شي ، دا په درې طبقو ویشل کېږي بهرنۍ طبقه (Dura Mater ) چې دماغ او نخاع پوښي منځنۍ طبقه (Arachnoid Mater ) او دننه طبقه (Pia Mater ) نومېږي چې د وینې رګونو خاونده ده . چې په درواړه طبقو کې دماغي شوکي مايع بهېږ مومي .

## Meningioma

مننجیوما ، د سحاپاوو سلیم ډول تومور چې په کراره سره وده کوي او معمولاً د یورا پرمخ منځ ته راځي بنائي چې پرهډوکو برېد وکړي او هایپر اوستېوزس منځ ته راوړي.

**- Angioblastic Meningioma**

دسحاپاوو انجیوبلاستېک ډول رګونو تومورچې ببلابېل

منښجيټېډيس له امله منځ ته راځي او د( هيموراژېک ، هرپټيک ، اريتيماتوزس) جلدي دانو سره مل وي.

**- Occlusive Meningitis**

د ماشومانو لېپټو منښجيټ چي معمولاً د ځلورم بطين د بهرنېو او منځنيو سوريو د تړل کېدو لامل ګرځي.

**- Ossifican's Meningitis**

د ماغزو د سحاياوو هډوکېز کېدل .

**- Otitic Meningitis**

د اووتيت ميډيا له امله منښجيټ ، ثانوي منښجيټ .

**- Secondary Meningitis**

ثانوي ډول منښجيټ چي دنورو ناروغيو په اختلاطي سير کې منځ ته راځي .

**- Septic Meningitis**

مکروبي منښجيټ ، انتاني منښجيټ .

**- Tubercular Meningitis**

د نري رنځ ناروغۍ په سير کي د حاياوو التهاب منځ ته راتګ . د توبرکلوزېک ناروغۍ ځخ زېږنده منښجيټ ، د (Tuberculous Meningitis) په انډول .

**- Viral Meningitis**

د بېلابېلو ويروسي ناروغيو څخه زېږنده منښجيټ .

## Meningo -

دا يو مختاړي دئ او د (مغزي پردې ، سحايا) معنی بشپړوي.

## Meningocele

مينښګوسل ، هغه چوره (فتق) چې د کوپړۍ يا ملاتير هډوکو نقيصو له امله منځ ته راغلې وي او له ځای څخه د سحايا طبقه بهر ته راوتلې کتلې يوه برخه جوړه کړي.

## Meningococcal

د منښګوکوک (Meningococcus ) باکتريا اړوند صفت دئ.

**- Meningococcal Disease**

د منښګوکوک باکتريا اړوندناروغۍ .

**- Meningococcal Meningitis**

د منښګوکوک (Neisseria Meningitidis ) باکتريا له امله منځ ته راغلې د منښجيټ ناروغۍ .

## Meningococci

د (Meningococcus ) ګڼه شمېره ده چې د ( Neisseria Meningitidis) باکتری چې د (Meningococcal Meningitis) لامل ګرځي لپاره پکار وړل شي.

## Meningococcus

د (Neisseria Meningitidis ) باکتری چې د ( Meningococcal Meningitis) لامل ګرځي لپاره پکار وړل شي.

## Meningoencephalitis

د سحاياوو او دماغ برخې ګډ ډول التهاب بلل شي.

## Meningoencephalocele

د سحايا او دماغي نسج څخه منځ ته راغلې چُره (فتق ) چې د کوپړۍ په برخه کې منځ ته راځي.

## Meningoencephalopathy

د سحاياوو او دماغي نسج غير التهابي ناوغۍ.

## Meningogenic

له سحاياوو څخه زېږنده ، له سحايا منځ ته راتلونکي .

## Meningomalacia

د سحايا غشأ ګانو نرمېدل ،د سحاياوو د پوستوالي حالت.

## Meningomyelitis

د سحاياوو او نخاع ګډ ډول التهاب.

## Meningomyelocele

د ملاتير برخې د يوې درز (فتقه) برخې څخه د نخاع او سحاياوو ګډ ډول راوتل دی. د( Myelomeningocele, Myelocele ) په انډول.

## Meningomyeloradiculitis

د سحاياوو او نخاع ګډو ريښو التهاب.

## Meningo-osteophlebitis

د هډوکي و وريدونو له التهاب سره يو ځای پری اوستيت .

## Meningopathy

د سحاياوو هر ډول ناروغۍ.

## Meningoradicular

د کوپړۍ او نخاعي عصبي ريښو او سحاياوو سره په تړاو کې

## Meningorrhagia

د ماغزو او نخاع غشأ ګانو څخه وينه بهېدل.

## Meningosis

د غشأ پذريعه د هډوکو پيوستون .

## Meningovascular

سحايائي –وعائی ، د سحايا او رګونو اړوند .

## Meninx

مغزي پرده ، د سحاياوو (Meninges ) د کلمې منفرد بڼه.

## Meniscal

د مېنيسک(Meniscus ) اړوند صفت .

د ( Dymenorrhea ) (Flooding ) په اندول ، په پراخه پیمانه د حیض پرمهال وینه بهیدنه.

**Menorrhea**

د حیض پرمهال نورماله وینه بهیدنه .نورمال حیض .

**Menoschesis**

د حیض د ویني احتباس .د حیض د ویني راټولیدنه په رحم او مهبل کي.

**Menostasia**

د حیض راټولیدنه ، د امینوریا په اندول.

**Menostasis**

د حیض راټولیدنه ، د امینوریا په اندول.

**Menostaxis**

اوږد مهاله تحیضی دوره .

**Menotropins**

هغه نږه شوي ګونادوتروپینونه چي د حیض څخه په خلاصي عمر خوړلي ښځي له ادرار څخه پلاس راځی چي د (FSH) او (LH) لری او د عقامت په درملنه کي کارول کیږی.

**Menses**

د حیض ګڼ شمیر حالت ، حیضونه .د حیضونو پیښیدني .

**Menstrual**

د حیض پوري تړلي ، د حیض اړوند صفت.

- **Menstrual Cramp**

د حیض دوري عضلی دردونه /کرمپونه .

- **Menstrual Cycle**

د حیض دوره ، د حیض کړی ، د حیض سیکل چي په نورمال ډول په (28) ورځو کي په پیښیږی او غیر القائی هګۍ بهرته اچوی .

- **Menstrual Flow**

د حیض پرمهال د ویني راتلني بهیر.تحیضی بهیر .

**Menstruate**

د رحم څخه د حیض منځ ته راتګ .

**Menstruation**

تحیض ، د حیض فعل ، له مهبل څخه د مخاط نسج او ویني دوره یي فزیولوژیک راتلل چي هره میاشت په غیر محمول ښځو کي د (28) ورځو په لړ کي عادی ډول منځ ته راځی تر څو غیر القائی هګۍ بهرته اچوی .

- **Anovular Menstruation**

له هګۍ اچوني پرته د حیض دوره .

- **Vicarious Menstruation**

د حیض پرمهال د تناسلی سیستم څخه د پرته سر چینو څخه د ویني افراز چي په نارمل ډول صورت نیولای شی.

**Meniscectomy**

د زنګون څخه د غضروفی مینیسک د غوڅولو جراحی کړنلاره.

**Meniscocyte**

لور ته ورته حجره .

**Meniscocytosis**

لور ته ورته حجر و له امله وینه لرِي.

**Meniscocynovial**

د مینیسک او ساینوېال غشأ سره په تړاو کي .

**Meniscus**

د ګونډي (زنګون) برخي د مفصل په اونسی او وحشی برخه کي هلال ډوله غضروف یا په بورټ یا پیپیټ کي د موجودي مایع د ستونی سطحي مقعري یا محدبي هلالی شکل چي ورته ( Semilunar Cartilage ) هم وائي او ګڼه بڼه یي (Menisci ) بلل شی.

- **Tactile Meniscus**

پیاله ډوله کوچني عصبی نهایات چي د اپیدرم په ژورو برخو ، د ویښته په فولیکول او کلک تالو کي شتون لری او د لامسی اخذو په توګه کار کوی.

**Menisitis**

د مینیسک برخي التهاب .

**Men(o)-**

دا یو مختاړي دئ او د حیض (Menstruation ) معنی بشپړوی .

**Menolipsis**

د حیض لنډمهالي ودریدنه .

**Menometrorrhagia**

د حیض د دوه دورو ترمنځ د رحم څخه شدیده وینه بهیدنه.

**Menopausal**

د حیض ودریدل اړوندصفت ، د حیض له منځه تلل اړوندصفت ، انقطاعُ الطمث اړوندصفت ، د (Menopause ) اړوندصفت .

**Menopause**

د حیض ودریدل ، د حیض له منځه تلل ، انقطاعُ الطمث ، هغه مرحله چي معمولاً د ښځو ( 45-55 ) کالونو عمر کي منځ ته راځی او همدا مهال د ښځو حیض ودریدنه کوی دي ته (Climacteric, Change of life ) هم ورکول شویدئ.

**Menorrhagia**

عقلی ناروغی ، عقلی اختلال .

- **Mental Impairment**

په تلپاتې یا مؤقتی ډول سره د عقلی ذائل کېدنې حالت.

- **Mental Nerve**

هغه عصب چې د زنې (Chin) برخې تعصیب په غاړه لری .

- **Mental Patient**

عقلی ناروغ ، د عقلی ناروغیو پواسطه د یو چا اخته کېدنه.

- **Mental Retardation**

عقلی تأخر ، عقلی روسته پاتې کېدنه لنډه نښه یې (MR) ده.

- **Mental Subnormality**

د عقلی خرابوالې ، عقلی تحت نورمال حالت.

## Mentalis Muscle

د زنې برخې اړوند عضله .

## Mentality

ذهنیت، فکري استعداد .

## Mentally

د روان له پلوه ، عقلانیت ، په عقل کې لرل، د عقل له مخې .

-**Mentally Handicapped**

عقلی ناتوانی د زده کړو پرمهال .

-**Mentally ill**

د عقلی له پلوه ناروغه کس .

## Menthol

منتول [ د (ائینلی یا ویلنی یا دنعناع) جوهر ] ، کېمیاوی ماده د نعنا ئېنلې (ویلنې) د غوړو(Peppermint oil) له ډولونو څخه سرچینه اخیستونکې سپین رنګه تریخ مزه ئي –تریخ بوبه الکهول کریستالی بڼه لری او ( $C_{10}H_{19}OH$ ) فورمول لری چې په موضعی ډول د بخار / خارښت په تسکین او د سپرې په بڼه دپوخی او پورتنی تنفسی جهاز د ناجوړتیا په درملنه کې پکارېږی.

## Mentholated

له منتول څخه جوړ ، منتول لرونکې ، منتولی ، په منتول ککړ.

## Mento-

دا یو مختاړې دئ او د زنې معنی بشپړوی .

## Mentoplasty

د جراحی عملیات په مرسته د زنې برخې د (نیمګړتیاوو او نورو ناوړه بڼو) سمون او ښکلا په موخه ترمیمی عملیات تر سره کول.

## Mentor

سلا ګر، ناصح، پند ورکوونکی،مصلح، مشاور ( هوښیار اووفادار)

## Menstruum

هغه مایع چې د فعال ډول عصارې اساسی برخه په درمل جوړونې کې بلل شی.

## Mensuration

د ارزوونې او اندازه ګیری کار یا مرحله .

## Mental

د فکر او روان (Mind ) اړوند صفت، د زنې(Chin ) اړوند صفت. روانی ، روحي ، عقلی .

- **Mental Aberration**

مغشوش، اختلالی ، سپک وزمه له یاده تګ ، دفکر ګډوډتوب .

- **Mental Age**

عقلی عمر ،د یو لړ ازماېښتونو تر سره کولو پذریعه د عقل او ذکاوت تاکنې له مخې د یوچا د عمر اټکل .

- **Mental Block**

دا یو ډول عصبی اختلال بلل شی چې پکې د مؤقت ډول هوش او یادښت کمزورې او لنډووالې څرګندوی .

- **Mental Deficiency**

عقلی وروسته والې ، د زده کړو په لړ کې د عقلی ذکاوت نشتوالې او یا هم کمزوتیا حالت بلل شی.

- **Mental Development**

عقلی وده ، عقلی – ذکاوتی پرمختګ ، عقلی انکشاف .

- **Mental Disorder**

عقلی اختلال ، عقلی تشوش ، عقلی تتوالې چې پکې دماغ خپلې کړنې په کره توګه نشی تر سره کولای .

- **Mental Faculties**

عقلی استعداد ،عقلی هغه توانائی او پیاوړتیا چې پکې یوڅوک د تصمیم نیولو او فکر کولو جوګه کېږی.

- **Mental Handicap**

د زده کړوناتوانایي ، عقلی معلولیت .

- **Mental Health**

روانی او عقلی روغتیا ، عقلی روغتیا .

- **Mental Health Acts**

هغه قانون چې پکې د پارلمان له خوا د عقلی ناروغانو حقوق خوندی کېږی.

- **TribunalMental Health Review Tribunal**

هغه کمېټه چې د عقلی ناروغیو اړوند څېړنې و تصمیم نیونې اړوند چارې سمبالېږی او د (طبی غړو ، حقوق پوهانو او ټولنیزو چارو ) کارپوهان شتون لری لنډه نښه یې (MHRT ) ده .

- **Mental Hospital**

د عقلی-روانی ناروغانو روغتون.

- **Mental illness**

**Meralgia**

د ورانه درد .

**- Meralgia Paraesthetica**

په مغبنی لیګامنټ کې د بهرني ورانه ائیز جلدی عصب د راګیر کیدو له امله د ورانه په بهرنۍ سطحه کې (پاراستیزیا ،درد او مېږیاني او تخیږدلو ) د حسیت کمښت حالت شتون بلل شي.

**Merbromine**

یو ضعی باکتریائی ضد درمل .

**Mercaptan**

هغه مرکب چې له کاربن سره نښلیدلي د (SH-) ګروپ لری.

**Mecatomerin Sulphate**

عضوی سیمابی دیوریټیک چې د ډای سوډیمی په مالګې بڼه کارول شی.

**Mercaptopurine**

د پیورین انالوګ چې د اوکسیجن د اټوم پر ځای یې سلفیت اټوم وی ، دغه مرکب د سرطان ضد او معافیت نهی کوونکي عامل پتوګه پکاریږی.

**Mercurial**

خوځند ، په حرکت کښې، بدلیدونکی.

**Mercurialism**

په مرکیوری عنصر باندې د مسمومیت ناروغۍ شته والی حالت . د مرکیوری مسمومیت .

**Mercuric**

د دوه ولانسه عنصرو په توګه له سیمابو سره په تړاو کې.

**- Mercuric oxid ,Yellow**

یوه انتی سپتیک ماده ده چې فورمول یې (HgO) دئ او د سترګې په طبابت کې پکاریږی.

**Mercurochrome**

سور رنګه انتی سپتیک محلول د (Merbromine ) لپاره سوداګریز نوم دئ .

**Mercurous**

د یوه ولانسی عنصر په توګه له سیمابو سره په تړاو کې .

**- Mercurous Chloride**

مرکیورس کلوراید د( Calomel) په اندول .

**Mercury**

پاره، سیماب عطارد. دا یو کیمیاوی فلزی عنصر دئ چې اټومی شمیره یې (80) او کیمیاوی نښه یې (Hg ) ده او په ترمومیټر او فشار آلې کې ترې کار اخیستل کیږی.

**Menu**

دخوراکي توکو او شیانو لړ لست ( لکه په هوټل کې ).

**Mentum**

زنه ، د (Chin) په اندول .

**Mepenzolate**

د څلورو امونیمونو لرونکو مرکب درمل چې موسکارینی ضد اغیزې او د برومایدی مالګې په بڼه د هضمی زخمونو او د هغه ناجوړتیاوو په درملنه کې کاریږی .

**Meperidine**

نارکوټیک درد ضد درمل چې هایدروکلورایدی مالګې په بڼه پکاریږی.

**Mephentermine**

هغه ادرینرژیک مادې درمل چې په رګونو باندې د خپل انقباضی اغیزو له مخې په سولفیټی بڼه د ځینو هایپو ټنشن حالاتو کې کاریږی.

**Mephentoin**

دتشنج (اختلاج) ضد درمل چې دصرعې تشنجاتو په درملنه کې کاریږی.

**Mephitic**

بدوزمه ، بدبویه ،د ناوړه بوی خپریدل ، د بد بوی اړوند صفت.

**Mephobarbital**

د باربیټوراتونو درملو یو ډول چې (اوږد مهالې ، تشنج ضد ، خوب راوړونکې ) اغیزی لری .

**Mepivacaine**

د لیډوکائین انالوګ درمل چې هایدروکلورایدی مالګې په بڼه د موضعی بې حسۍ لپاره پکاریږی .

**Mepridnisone**

د خوراکی ډول ګلوکوکورتیکوئید درمل چې د (التهاب ضد، الرژی ضد او سرطان ضد ) اغیزې لری .

**Meprobamate**

د کاربامات یو مشتق دئ چې د ( آرامتیا بخښونکې ، عضلاتی سستووونکې او تشنج ضد ) اغیزې لری .

**m Eq**

میلی ایکوالنت .

**Mer-**

دا یومختاړې دئ د (برخې ، ورانه/ورون) معنی بشپړوی .

**- Ammoniated Mercury**

امونیائی مرکیورۍ چې موضعی انتی سپتیک دئ.

**- Mercury Oleate**

مرکیورۍ مالییت چې ژیړ رنگه سیماب دئ .

**- Mercury Poisoning**

د مرکیورۍ له امله مسمومیت ته ویل شی ، د (Mercy Killing) په انډول.

**- Mercy Killing**

د (Euthanasia ) په انډول.

**Meretricious**

غولوونکی،تیرایستونکی، ظاهراً ځلاند شئ.

**Merge**

ضم کېدل، گډېدل ،یو ځای کېدل،گډول، یوځای کول ، لکه په اوبو کې ډوبېدل.

**Merothoxyline**

هغه سیمابی دیوریتیک چې له پروکائین سره په ترکیبی ډول د ثانوی اذیما په درملنه کې په مختلفو حالتونو کې کارول شی.

**Meridian**

په اکوپنکچر او چینائی طبابت کې یوه د هغه طریقو څخه چې فکر کېږی انرژی پکې بهیر مومی ، لوړه څوکه، سر، دنصف النهارلیکه، هغه فرضي لیکې چې شمال او جنوب تر مځکې راگرځیدلی دی.

**Meridianus**

نصف النهار .

**Meridional**

د (Meridian) اړوند صفت .

**Merino**

یو ډول پسه چې نرمې سپینې وړۍ لرې چې اصلاً له اسپانیا څخه دی،( مارینوس ) نرم وړین ټوکر یا سپنسۍ . د مارینو پشم یا یوه پسته ټوټه .

**Merkel's Cells**

اپیتلیال حجرې چې د اپیدرم په ژور برخه کې واقع وی چې د تماس رسپټور جوړوی دا د جرمنی اناټومیست ( Friedrich Siegmund (1845–1919) پذربعه په (1919–1845) کې شرحه شوی ورته د (Merkel's Discs ) صفېحات هم ویل شی.

**Mero-**

دا یومختاړې دئ د (برخې ، ورانه/ورون) معنی بشپړوی .

**Meroblastic**

نسبی ویش ، هغه ویش چې په هغه کې د هگۍ یوازې یوه برخه ونډه اخلی .

**Merocrine**

د یوې حجرې په واسطه د جوړو شوو محصولاتو افراز په داسې حال کې چې په خپله حجره روغه پاتې شی لکه (لعابی پانکراياسی ) حجره . د (Eccrine ) په انډول.

**Merogenesis**

د هگۍ یا زړی درز .

**Merogenetic**

د (Merogenesis) اړوند صفت .

**Merogonic**

د یوې هگۍ د یوې برخې ودې اړوند صفت .

**Merogony**

د یوې هگۍ د یوې برخې وده.

**Meromyosin**

د میوزین د مالیکول یوه ټوټه چې د پروتیولایتیک انزایمونو دا غېر محصول دئ . ددې انزایم دوه ډوله ډولونه شته والې لری دروند (H- Meromyosin) او سپک (L- Meromyosin) .

**Meropia**

نسبی ړوند والې .

**Merorachissis**

د نخاع د یوې برخې چاود (درز) شته والې بلل شی.

**Merrotoiny**

غوڅول او په مختلفو ټوټو اړول او ځانگړی ډول د حجرې ټوټه ټوټه کول.

**Merrymaker**

خوشحالی راوستونکی.

**Merozoite**

هغه ارگانیزم چې د کوربه د بدن دننه د یوه سپوروزویت د پرلپسې ټوټه ټوټه کېدو څخه منځ ته راځی.

**Merthiolate**

د ( Thimerosal) لپاره سوداگریز نوم دئ.

**Merycism**

شخوند وهل ، په نوی زېږېدلې ماشومانو د شخوند وهلو ناجوړتیا .

**Mes -**

دا یو مختاړې دئ او د مېزو(-Meso ) معنی بشپړوی.

**Mesalamine**

دا يو امينوساليساليک اسيد دئ چې د سالاړين د آيودين فعال ميتابولايت دئ او د (بعبده قرحوي کوليت، پروکټوسګموئيډيټ او پروکټيټ) په درملنه کې پکارېږي .

**Mesalazine**

د ( Mesalamine ) په انډول.

**Mesangiocapillary**

د مېزانجيوم او په هغه کې د موجودو رګونو سره په تړاو کې يا هغه شئ چې په دوې باندې اغېزې ښندی.

**Mesangial**

د (Mesangium) اړوند صفت .

**Mesangium**

هغه نرۍ او نازکه غشأ چې د پښتورګو په ګلوميرولونو کې رګيز ليندۍ (قوسونه) خوندی ساتی او پوښوی .

**Mesaortitis**

د ابهر رګ د منځ دننه برخې التهاب .

**Mesarteritis**

دشرياني رګونو د منځنۍ طبقو التهاب .

**Mesatipllic**

د مزدوج حقيقی قطر سره د حوصلې د داخلی تضيق د عرضانی قطر تخمينی يوشان والې.

**Mesaxon**

د موازی غشأ ګانو يوه جوړه چې د هغه د شوان حجرو ژۍ په ژۍ پيوستون ځای څرګندوی چې اکسون احاطه کوی.

**Mescaline**

د (Lophoplora Williamsii) په نوم مکزيکی کاټوس د يوه ګل څخه زېږنده الکالوئيد چې د رنګ او غږ د هزيان پېښېدنه د ده په مټه د مسموميت پايله شمېرل کېږی .

**Mesectoderm**

د سر په سيمه کې د عصبی تېغې څخه زېږنده جنينی کډوالې حجرې چې د سحايا په جوړېښت کې ونډه لری دغه حجرې په تصبغی حجرو اوبنتلای شی.

**Mesdemoiselles**

د پيغلو نجونو ګڼه شمېره ، پيغلې ( جمع ) .

**Mesencephalic**

د ( Mesencephalon ) اړوند صفت .

**Mesencephalon**

د (Midbrain) په انډول . منځنۍ مغز .

**Mesencephalotomy**

د ميزانسفالون د غوڅولو جراحی ، د جراحی کړنلارې تر سره کولو له مخې د منځنی ماغزو د يوې ضابعې برخې منځ ته راوړل چې په ځانګړی ډول د شديد او پرلپسې دردونو د تسکين لپاره تر سره کېږی.

**Mesenchyma**

مېزانشيم ، جنينی شبکوی منضمی نسج چې د بدن د وينې د رګونو او لمفاوی رګونو منضمی نسج ورڅخه تر لاسه کېږی.

**Mesenchymal**

د ( Mesenchyma ) اړوندصفت.

**Mesenchyme**

مېزانشيم په انډول.

**Mesenchymoma**

هغه مېزانشيمال مختلط تومور چې د څو ډوله داسې حجرو له احيا څخه چې يو دبل سره ملتيا نه لری (دفايبری نسج څخه پرته) جوړوی.

**Mesenteric**

د مېزانتري (Mesentery ) اړوند صفت .

**- Mesenteric Artery**

د مېزانتری اړوند شريان چې په دوه برخو (علوی ،سفلی) باندې وېشل کېږی.

**- Mesenteric Ganglion**

د مېزاتېر ګانګليون ، هغه سمپاتيتک عصبی ضفيروی رشتې او ګانګليون حجرې چې د علوی شريان په چاپېر راګرځېدلې دی.

**- Mesenteric Vein**

د مېزانتری اړوند وريد چې په دوه برخو (علوی ،سفلی) باندې وېشل کېږی او د باب وريد لوری ته تخليه او توئيږی.

**Mesenterica**

د (Tabes Mesenterica ) په انډول .

**Mesenteriopexy**

د څيری شوی ميزانتر ثابتوونه او خوندی کولو جراحی کړنلاره.

**Mesenteroplication**

دجراحی په مرسته د مېزانتېر د پاښو يوپر بل د قات (کټ په کټ) اړولو او لنډولو کړنلاره .

**Mesenterium**

د (Mesentery) په انډول .

ددم لاندې راوستلو فن، کوډې، میسمیریزم، هیپنوتیزم.

**Mesmerize**

تردم لا ندې کول، او ده کول،راکښل، هک پک کول ویده کول ، په مصنوعي خوب باندې اخته کول ، کوډې کول .

**Mesna**

هغه سلفورایدی مرکب چې د یوروتوکسېک نیوپلازم ضد درملو یوځای کارول شی ځکه دغه مرکب د یوروتوکسیک میتابولیټونو یو مقدار غیر فعال گرځوی.

**Mesquite**

دمکسیکو او اتازونی یو ډول اغزن بوټی.

**Meso -**

دا یومختاړې دئ او د منځنې معنی بشپړوی.

**Mesoappendix**

د پریتونیوم هغه دوه طبقه یې برخه چې د اپنډکس او ایلیوم کولمو برخه سره تثبیتوی.

**Mesoblirubinogen**

د بلیروبین د ارجاع شوی بڼه چې په کولموکې جوړیږی او د سټرکوبیلین له اوکسید ېشن څخه لاس ته راځی.

**Mesoblast**

په ځانگړی ډول په لومړنیو مرحلو کې مېزودرم ته ویل شی.

**Mesoblasttema**

هغه حجرې چې مېزوبلاسټونه منځ ته راوړی .

**Mesobronchitis**

د سږو د برانکسونو د منځنی پوښ التهاب .

**Mesocardia**

د غیر نورمال ډول د زړه د ځای نیونه په داسې حال کې چې د ذروې (اپکس) برخه یې د صدری پنجرې په منځنۍ کرښه راشی.

**Mesocardium**

د جنینی مېزانتریوم هغه برخه چې زړه د بدن له منځنۍ دېوال سره نښلوی.

**Mesocecum**

د سېکوم میزانتېر چې کله ناکله شته والې لری .

**Mesocolon**

د غټو کولمو ( مستعرض او سیگموئیدکولون) مېزانتېر چې کولون د گېډې د خلفی جدار سره نښلوی .

**Mesenteron**

منځنۍ کولمه .

**Mesentery**

مېزانتېری ، هغه غشأیي چینونه (دوه پاڼیزه پریتوانی طبقه) چې د نرۍ کولمو او نورو غړی د بطنی جدار سره په تماس اوکلک نښلوی .

**Mesh**

دجال اړوند سوری ، جال، هغه جالۍ چې د داسې مصنوعی موادو څخه جوړه ده چې د گېډې د جدار جراحی د چُرې د ترمیم او بیا رغونې کړنلاری په لړ کې پکار وړل شی . په جال کې اچول . په جال کې لوېدل، سره جار وتل .

**Mesiad**

د مرکز یا منځنۍ کرښې په لورې.

**Mesial**

منځنی، اوسط، د غاښ طبابت او جوړولو په صنعت کې د قدامی ژامنې منځنۍ یا هغې ته نېږدې واقع کېدنه ، هغه کوم جوړښتونه چې د مرکزی کښې ته نږدې او څېرمه واقع وی.

**Mesially**

د مرکز یا منځنۍ کرښې په لورې.

**Mesiobuccal**

د یوه غاښ یا دهغه د جوف د فمی یا مزیال سطحو په واسطه جوړشوی یا هغهو ته منسوب.

**Mesiocclusion**

د ژامنې قدام ته تړلې بڼه. د (Anteroclusion ) په انډول .

**Mesiodens**

هغه اضافه کوچنی غاښ چې په ماغزو یا جوړه ډول د کلک تالو له لورې د مخکنیو غاښونو په منځ کې ځای نیسی .

**Mesion**

هغه پاڼه چې بدن په دوه ښی او کېڼې نیمائی ویشی .

**Mesioversion**

د مخ د منځنۍ لیکې په لورې د غاښونو د قوس له منځ څخه د یوه غاښ بې ځایه والې .

**Mesmeric**

د اودې اړوند صفت ، د دم اړوند صفت .

**Mesmerism**

**Mesocolonic**

د (Mesocolon) اړوند صفت .

**Mesocolopexy**

د مېزوکولون تثبیتولو یا خوندی کولو جراحي کړنلاره.

**Mesocoloplication**

د کولونونو د مېزو برخې د کوټ (قاتکولو ) جراحي کړنلاره چې پکې لنډوالي منځ ته راځي .

**Mesocord**

د کورډ مېزو، هغه ثروی پړې چې له پلاسنتا سره نښلېدلې وي.

**Mesocortex**

د جیروس سینګولیټ کورټکس چې بیا البیني بڼه لري او د الو کورټکس او ایزوکورټکس ترمنځ پروت دئ او پنځه یا شپږ طبقې لري.

**Mesoderm**

د جنیني اولیه زېږونکو دریو طبقو څخه منځنۍ هغه چې د اکتودرم او اندودرم ترمنځ ځای لري .همدارنګه ( منضمي نسج ، هډوکي ،غضروف ،عضله ، وینه ، رګونه ، لمفاتیکونه ، لمفاوي غړي ، نوټوکورډ ، پلورا ، پرېکارډ ، پرېتوان ، پښتورګي ، جنسي غدې) لدې طبقې څخه منځ ته راځي.

**Mesodermal**

د (Mesoderm ) اړوند صفت .

**Mesodermic**

د (Mesoderm ) اړوند صفت .

**Mesodiastolic**

د ډیاستول د منځ سره په تړاو کې .

**Mesoduodenum**

مېزانټریک چین چې په لومړنیو مرحلو کې جنیني ډیوډینوم (اثناعشر ) په برکې نیسي .

**Mesoepididymis**

د ټونیکا وجینالیس چین (فولډ / کوټ) چې ځینې وختونه بربخ (اپیډیډیمیس) او مرغېړی (خصیې ) سره نښلوي .

**Mesogastric**

د (Mesogastrium ) اړوند صفت .

**Mesogastrium**

د لومړني مېزانټېر هغه برخه چې معده په برکې نیسي او لوی اومنټوم ورڅخه جوړېږي.

**Mesogluteal**

مډیوس ګلوټیوس عضلې اړوند صفت .

**Mesogluteus**

مډیوس ګلوټیوس عضله.

**Mesoileum**

د کولمو د ایلیوم برخې مېزانټېر.

**Mesojejunum**

د کولمو د صائم (جیجینوم) برخې مېزانټېر.

**Mesomer**

د منځنۍ اندازې لرونکې بلاستومیر ، د اپیمیر او هایپومیر ترمنځ د اپیدرم منځنۍ طبقه.

**Mesometrium**

مېزومټریوم ،د رحم عضلي طبقه ،د هګۍ ځالې مېزولاندې د پلن لېګامنټ یوه برخه.

**Mesomorph**

هغه شخص چې د بدن په جوړښت کې یې مېزودرمي نسجونه برجسته وي یا برتري ولري ، دغه شخص نسبتاً (پیاوړې عضلات ، هډوکي او منضم نسج ) لري او په پایله کې مستطیلي بڼه خپلوي ، هغه کس چې د بدن د بڼې بڼه تناسب ولري.

**Meson**

د (Mesion) په انډول، یوه اټومي زره چې الکترونی او پرتوني جوړښت حجمونو تر منځ او ټول منفي ، مثبت او خنثی چارجونه ولري .

**Mesonephric**

د (Mesonephros ) اړوند صفت .

**Mesonephroma**

مېزونفروما ، د مولرین د مجرا د مشتقاتو خبیث تومور چې د مېرمنو تناسلي غړو په ځانګړې توګه هګۍ ځاله کې منځ ته راځي.

**Mesonephros**

مېزونفروس ، د پښتورګو نسج چې انساني جنین کې شتون لري . جنیني افرازي یا ترشحي غړی چې د پرونفریک پاتې شونې له زنبي برخې څخه سرچینه اخلي او د هغه له مجرا وو څخه ګنه کوي.

**Mesophil**

هغه ارګانیزم چې ددې لپاره یې ترټولو ښه تودوخه (20- 55 °C) سانتي ګراډ درجې وي .

**Mesophilic**

د (Mesophil) اړوند صفت .

**Mesotendon.**
ساینویال غشأ چې ټینډون پوښ فیبروزي برخې سره نښته جوړوي.

**Mesothelioma**
د مېزوتیلیال ( مصلی) نسج (پریتوان ،پلورا، پریکارډ ) څخه زېږنده تومور چې سلیمه او خبیثه بڼه جوړوي.

**Mesothelial**
مېزوتلیال ، د (Mesothelium) اړوند صفت.

**Mesothelium**
مېزوتلیوم، هغه طبقه چې د له مېزودرم څخه سرچینه اخلي او د جنین د جوف فرش کوي په غټانو کې دغه طبقه ساده سنګفرشي اپیتلیوم جوړوي چې تولې سروزي واقعي غشأ ګانې پوښي لکه (پریتوان ،پلورا، پریکارډ).

**Mesotympanum**
د منځنی غوږ هغه برخه چې د صماخی پردې داخل پلو ته ځای لري .

**Mesovarium**
د میزومتریوم او میزوسالپنکس ترمنځ د پلن لېګامنټ یوه برخه که له یوې هګۍ ځالې په برکې نیسي له بل پلوه هغه په خپل ځای کې خوندي ساتي .

**Messenger**
استاځی، پیغام وړونکی، پیاده، زري، رویبار ، معلومات لېږدوونکې ، خبرلوځ .

**- Messenger RNA**
د رایبونیوکلیک اسید یو ډول چې جنیتیکي کود له (DNA ) څخه رایبوزوم ته لېږدوي هغه چې د پروټینونو کودونه د (DNA) لپاسه جوړوي لنډه نښه یې (mRNA ) ده. حجروي غبرګون او ځواب بڼه ورکوي.

**Messy**
ګډوډ ، بې ترتیبه، خیرن ، بې نظمه ، ناسمه .

**Mestranol**
هغه استروجني عامل چې له ډول ډول پروجسترونونو سره په ترکیب کې د بلاربښت ضد ګولیو په توګه کار کوي.

**Mesylate**
د میتان سولفونېټ لپاره د (USAN) له خوا انتخابی سوداګریز نوم دئ.

**Meta-**
دا یو مختاړې دئ او د( بدلون، تعویض ، تبدیل ،تغیر ) معنی

**Mesophlebitis**
مېزوفلیبیټ ،د ورېدونو د منځنی پوښ التهاب .

**Mesophryon**
د سر ټنډې (ګلابېلا) برخې راوتلتیا یا د هغې د مرکزي برخې راوتلې بڼه.

**Mesopulmonum**
هغه جنیني مېزانټېر چې بهر ته پراخ شوې سږی په بر کې نیسي.

**Mesorchial**
د (Mesorchium ) اړوند صفت.

**Mesorchium**
د ا ولیه مېزانټېر هغه برخه چې د جنین بېضه /خصیه په بر کې نیسي او په غټ انسان کې د اپي ډیډیم او مرغېړی تر منځ د وینې په بڼه راښکاره کېږي .

**Mesorectum**
مېزوریکټیوم ، د عجز (سکروم) سره د ریکټیوم د پورتنۍ برخې نښلوونکې پریتوانی چین .

**Mesoridizine**
د فینی تیازینونو له ډلې یو غړې چې کېمیاوی فورمول یې( $C_{11}H_{16}N_2OS_2$) دئ او آرامتیا بخښونکې درمل بلل شي.

**Mesosalpinx**
نفیری مېزو، د پلن لېګامنټ هغه برخه چې د هګۍ ځالې مېزو په سر ځای لري او د نفیرونو مېزو بلل شي.

**Mesosigmoid**
د سیګموئید اړوند مېزو، دا مېزو د سیګموئید فلکسور د ګېډې د شاتنی دېوال سره نښلوي.

**Mesosigmoidopexy**
د سیګموئید کولون د مېزوبرخې تثبیتولو جراحي کړنلاره.

**Mesosome**
د ارګانیل د جوړېدو لپاره د باکتریائي حجروي غشأ انوجینیشن چې فکر کېږي د سایتو کروم انزایمونو او همدغه راز اکسیداتیف فوسفوریلیشن د انزایمونو او د سیټریک اسید د سیکل ځای وي .

**Mesosternum**
د قص هډوکی مېزو.

**Mesotendinum**
د منضمی نسج د جنسیت لرونکې پوښ چې ټینډون دئ د خپل فیبری پوښ سره نښلوي.

ودرېدو لاملګرځي او د ز ېږون په پیلامو او یا د ژوند په ورستیو مرحلو کې د ناروغۍ د رابرسېره کېدو لامل ګرځي.

## Metabolite

هغه مواد چې د میتابولیزم په لړ کې تولیدېږي ، میتابولایټ.

## Metabolize

د ( Metabolise) په انډول .

## Metacarpal

د مېټاکارپ اړوند صفت .

- **Metacarpal Bone**

د مېټاکارپ هډوکی چې ټول ټال پنځه دي او د لاس په ورغوی کې واقع دي.

## Metacarpophalangeal

د مېټاکارپ او ګوتوفلنکسونو اړوند صفت.

- **Second Messenger**

ثانوي آستاځي ، د داخل الحجروي سیګنالونو ډلګۍ چې پلازمائي غشأ دننه کار کوي او له محیط څخه داخل الحجروي برېښنائي یا کېمیاوي پېغامونه اخلي او د

- **Metacarpophalangeal Joint**

د مېټاکارپ او ګوتوفلنکسونو ترمنځ بند چې ورته ( MCP joint, MP Joint) هم ویل شي .

## Metacarpus

د لاس هغه برخه چې د ګوتو او مړوند ترمنځ پرته ده او د مېټاکارپ هډوکي چې ټول ټال پنځه دي او د لاس په ورغوي کې واقع دي.

## Metacentric

هغه کروموزوم چې د سنترومیر یې په منځنۍ برخه کې پروت وي په داسې ډول چې متونه یې په دواړه خواوو کې یو شان اوږدوالي لري.

## Metacercaria

د منځنۍ کوربه په نسجونو کې یا د نباتي ژوند په بهیر کې د تریماتودا پرازیټ د استراحت یا بالغېدو په حالت کې سیست .

## Metachromasia

هغه جسم چې رنګ ورکړل شوېوي خو ریښتیني رنګ یې نه وي اخیستلی ، د مختلفو نسجونو مختلف رنګ اخیستنه، د رنګ آمېزۍ له امله د رنګ بدلون بلل شي.

## Metachromatic

د ( Metachromasia ) اړوند صفت.

بشپړوي. هغه مختاړې چې د پولیمریک انهایدرایک اسید ښودنه کوي .

## Meta-analysis

هغه سیستمیک طریقه چې د ځانګړو یو شمېر مطالعاتي څېړنو څخه د سرچینه اخیستونکو اطلاعاتو د تحلیل (شاربنې) په موخه د ارقامي انالیز لپاره کارول کېږي .

## Metabasis

د یوې ناروغۍ په تګ لارې په لړ اعراضو کې بدلون.

## Metabiosis

د ژوندي پاتې کېدنې لپاره په بل ژوندي موجود باندې د یوه ژوندي موجود ولاړ ګډ ژوند .

## Metabolic

میتابولیزم اړوند صفت .

- **Metabolic Acidosis**

میتاابولیک اسیدوزس .

- **Metabolic Alkalosis**

میتابولیک الکلوزس.

## Metabolise

میتابولایز شوي حالت ، دمیتابولیزم له کبله د یو شي په طبیعي حالت کې بدلون د ( Metabolize) په انډول .

## Metabolises

د میتابولیزم منځ ته راتګ .

- **Liver Metabolises**

د ینې میتابولایزس پروسه لکه د (پروتینونو او کاربوهایدریټونو) .

## Metabolism

میتابولیزم ،د هغه ټولو کېمیاوي او فزیکي مرحلو مجموعه چې د هغې پذریعه ژوندي موجودات منځ ته راغلي او ساتل شوي دي مواد ارګانیز کوي (انالیزم) او همدغه راز هغه طریقه چې د هغې له لارې د ژوندي موجود لپاره د انرژي چمتو کېږي (کتابولیزم) . دغې پروسې ته بیوترانسفورمېشن هم وایي.

- **Basal Metabolism**

قاعدوي مېتابولیزم ، اساسي میتابولیزم . د انرژي تر ټولو اصغري کچه چې د ( تنفس، د وینې دوران ، پریستالتیزم ، عضلاتي مقویت ، د بدن د تودوخې ، د غدواتو د فعالیت او نورو وجیتاتیف فعالیتونو) لپاره اړین دي .

- **Inborn Error of Metabolism**

د جنېټیکي سرچینې لرونکي بیوشیمیکي ناجوړتیا چې په یوه انزایم کې د ځانګړې نیمګړتیا له امله میتابولیزم د

**Metachromophil**

د رنګ آمېزۍ عادي طریقو له امله د یو جسم رنګ بدلون بلل شي.

**Metacone**

د پورتنۍ مولار غاښ ډیستوبوکال کاسپ.

**Metaconid**

د لاندېنۍ مولار غاښ مېزولینګوال کاسپ.

**Metagenesis**

د نسل بدلون ، د جنسي له لارې د غېرجنسي تکثر د منظم بهیر بدلون لکه چې په ځینو چنیاسو کې لیدل کېږي .

**Metagonimus**

د (Metagonimus Yokogawai ) په ګډون د تریماتوداګانو یوډول په (جاپان، چین، اندونیزیا، بالکان او استرالیا ) کې د تي لرونکو د کولمو پرازیت ګڼل کېږي.

**Metalodobenzyl Guanidine**

د نوراپینفرین انالوګ درمل چې په راډیو اکتېف آیودین سمبال وي او دنورو اندوکریني حجرو پواسطه جذبېږي او بیا هورموني زېرمې په وزیکولونو کې زېرمه کېږي دا مواد د ادرینال غدې میډولا انځوراخیستنې او د فیوکروموسایتوما د ځای تثبیت لپاره کارول کېږي.

**Metal**

فلز ، د فلزاتو اړوند ډلې څخه یو عنصر ، هر هغه عنصر چې (ځلاري،انعطاف منونکې ، د ټټک خوړلو) ورتیا ولري او برېښنا او تودوخه تېره کړي او دحل کېدنې بهیر کې مثبت آیون آزاد کړي د ژوندانه لپاره اساسي دئ .

**- Alkali Metal**

قلوي فلز ، د (لیتیوم،سوډیم، پوتاسیم ، رابېډیوم او سیزیوم) په ګډون یو ولاتسه فلزاتو یوه ډله عناصر .

**Metallic**

دفلزاتو اړوند صفت .

**- Metallic Element**

فلزي عناصرو څخه یو ، کېمیاوي فلزي عنصر.

**Metalloenzyme**

هر هغه انزایم چې له فلزي اټومونو سره ترکیب او کلکه اړیکه ولري لکه سایتوکروما.

**Metalloporphyrin**

له پورفایرین سره فلزي ترکیب لکه څه ډول چې په رحم کې لیدل کېږي.

**Metalloprotien**

هر هغه پروټیني مالیکول چې له فلزي اټومونو سره ترکیب او کلکه اړیکه ولري لکه هیموګلوبین.

**Metallurgy**

له فلزاتو څخه د ګټې اخیستنې پوهه او علم .

**Metamere**

د یوه حېوان د بدن د هومولوګ ټوټو یوه لړۍ ، د جنیتیک تېورۍ له پلوه د هغه ګډو تکرارېدونکو وا حدونو له بېلابېلو ډولونو څخه یو چې د کروموزومونو د یوې برخې ځېونکې سیګمنټ جوړوي.

**Metamorphic**

د (Metamorphosis ) اړوند صفت.

**Metamorphopsia**

هغه حالت چې پکې یو څوک یو څه په تخریب شوې بڼه وینې معمولاً د (Choroid ) برخې التهاب له کبله پېښېږي.

**Metamorphosis**

د یوه جوړښت یا یوه شکل بدلون په ځانګړي ډول د یوې وده اېیزې مرحلې څخه بلې ته اوښتل لکه بالغه بڼه لاروا اوښتل.

**- Fatty Metamorphosis**

د وازدې بدلون ، د وازدې اوښتنه .

**Metamyelocyte**

د ګرانولو سایټي لړۍ پرېکارسر چې د حجرې ودې له مخې د پرومیالو او د هغې د بالغې بڼې ترمنځ منځنۍ حد او د (U) ډوله هسته لري.

**Metanephric**

د (Metanephros ) اړوند صفت .

**Metanephrine**

د اپینفرین میتابولایټ چې په تشومتیازو (ادرار) کې اطراح کېږي او په ځینو نسجونو کې لېدل شي.

**Metanephros**

د جنین لور ډوله پښتورګی چې وروسته بیا وده مومي او د مېزونفروز په ذنبي (لکۍ) برخه کې ځای نیسي .

**Metaphase**

میتافیز ، د ( مایتوز یا مایوز) دوهمه مرحله چې هرکروموزوم په کې دوه کروماتیدونه لري او د دوک په منځنۍ کرښه کې ځای نیسي چې بیا یوله بله سره بېلېږي.

ارتوکروماتیک نورموبلاست.

**Metastasectomy**

د یوه یا څومیتاستازونو د ویستلو جراحی عملیات .

**Metastasis**

مېتاستاز، د یوه غړی یا د بدن یوې برخې څخه بلې برخې ته دخبیث ډول ناروغۍ (خصوصاً سرطان) لېږد پروسې ته ویل شی ورته ثانوی وده (Secondary Growth ) هم ویل شی او ګڼه بڼه یې (Metastases ) بلل شی.

**Metastasise**

د مېتاستاز خپرېدل ، مېتاستازېس منځ ته راتګ ، د (Metastasize ) په انډول.

**Metastatic**

د (Metastasis ) اړوند صفت .

- **Metastatic Growths**

مېتاستاتیک وده لکه د کبد دننه وده موندنه .

**Metatarsal**

د مېتاتارس هډوکو اړوند صفت.

- **Metatarsal Arch**

د مېتاتارس لیندۍ (قوس) چې ورته مستعرض قوس (Transverse Arch) هم ویل شی او دپښې د پوندې په برخه کې واقع وی.

**Metatarsalgia**

د مېتاتارس هډوکو درد .

**Metatarsophalangeal joint**

د پښې د ګوتوهډوکو او مېتاتارس هډوکو ترمنځ بند یا مفصل .

**Metatarsus**

د پښې د مېتاتارس هډوکو برخه چې پنځه هډوکی دی او ګڼه شمېره یې (Metatarsi ) بلل شی.

- **Metatarsus Adductus**

دا یو ډول غېر نورمال حالت دئ چې په نوی زوکړو ماشومانو کې پښه د پوندې لورې ته تاوه شوېوی او یوه زاویه جوړوی .

**Metathalamus**

د دیانسفالون هغه برخه چې بهرنی او کورنی جنیکولی جسم پکې ونډه لری او غالباً د تلاموس د یوې برخې په توګه په پام کې نیول شی.

**Metathesis**

①د یوې ناروغۍ ډوله پروسې مصنوعی لېږد ، ②هغه کېمیاوی غبرګون یا تعامل چې په هغه کې د یوه مرکب یو عنصر یا راډیکال د بل یوه له عنصر سره بادلېږی.

**Metaphosphoric Acid**

دفوسفورېک اسید پولی میر چې په کېمیاوی انالایز ونو کې د رباجنټ په توګه پکارېږی او په متیازوکې د البومین شتون او تشخیص موخې لپاره پکارول شی.

**Metaphyseal**

د (Metaphysis ) اړوند صفت .

**Metaphysis**

میتافیزس ، د یوه اوږده هډوکی د انتها پلنه برخه چې د اپي فیز پانې په ګاونډ کې ځای لری هلته چې وده منځ ته راځی..

**Metaplasia**

میتاپلازیا ،دیوه نسج د بالغو یو ډول حجرو په بل ډول باندې اوښتنه چې د هغه نسج لپاره غېر نارمل وی.

- **Myeloid Metaplasia**

میالوئید میتاپلازیا ، د هډوکو د ماغزو (مُخ عظم) په بهر سیمو کې د مېلوئېد نسج منځ ته راتلل، هغه سندروم دئ چې ( کبدی ضخامه. وینه لږې ، د وینې دنابالغو ګرانولوسایتونو او هسته لرونکو سروکرېوو) او په کبد او طحال کې د هډوکی مغز څخه بهر د وینې جوړېدو په مرسته پېژندل شی.

- **Myeloid Metaplasia Agnogenic**

هغه شرایط چې د( هډوکی د مغز څخه بهر د وینې جوړېدو نکو محراقونو په شته والی ، کبدی ضخامه. خفیف ډول وینه لږې ، د وینې دنابالغو ګرانولوسایتونو ) پواسطه پېژندل شی.

**Metaplasm**

د (Deuteroplasm) په انډول.

**Metaplastic**

د (Metaplasia ) اړوند صفت.

**Metapneumonic**

له سږو پنومونیا څخه وروسته منځ ته راتلل.

**Metapproterenol**

بېتا ادرېنرجېک درمل دی چې د سلفېتی مالګې په بڼه قصباتو توسع ورکوونکی پتوګه پکارېږی.

**Metapsychology**

د رواندرملنې پوهې علم له پلوه د هغه ذهنی بهیرونو د اهمیت او ارزښت څېړنه چې په تجربوی ډول نشی ثبوت کېدلای .

**Metaraminol**

هغه سمپاتومیمیتیک درمل چې الفا ګونېست دی خو د زړه د بېتا ادرینرجیک رسپتورونه هم تحر یک کوی او د رګونو وازوپرسور اغېزی منځ ته راوړی.

**Metarubricyte**

## Metatrophic

د خوراک او خوړو په توګه د عضوي موادو کارول.

## Metaxolone

د ملسأ عضلي نښلوونکې چې د اسکلېټي عضلاتي دردونو په درملنه کې پکاريږي.

## Metazoa

د حیواناتو هغه ډله چې حجرې يې په نسجونو اوړي ، له پروتوزوا پرته ټول تال حېوانات.

## Metazoal

د (Metazoa ) اړوند صفت ، د (Metazoan ) په انډول .

## Metazoan

د (Metazoa ) اړوند صفت .

## Metazoon

د مېتوزوا د ډلې څخه يو ارګانيزم .

## Metaencephalon

د مخيخ او حدبې په ګډون د خلفي ماغزو قدامي برخه ، حدبه (Pons) ، د مغزي دوه وزېکولونو قدامي برخه چې جنيني تفريق کې د خلفي مغز د تخصصي کېدنې په واسطه منځ ته راځي.

## Meteorism

د (Tympanites) په انډول ، اصميت .

## Meteorotropic

د (Meteorotropism ) اړوند صفت.

## Meteorotropism

د هوا پېژندنې فکتورونو پواسطه د پېښېدلو تحريکونو په وړاندې ځواب چې په ځينو بيولوژيکو پېښو کې په پام کې نيول شي.

## Meter

متر ، په متريک سيستم کې د خطي اندازې نيولو اصلي واحد چې د ( 39.371) اينچ سره انډول دئ او لنډه نښه يې (m) ده ، د يوشي د اندازه کولو لپاره ماشين (وسيله) چې د هغه څخه د تېرېدلو له لارې کارکوي ، د (Metre) په انډول.

## -meter

دا يو روستاړې دئ او اندازه کولو وسيلې معنی بشپړوي .

## Metformin

دا يو ډول د شکرې (Diabetes ) ناروغۍ ضد درمل دی چې د هغه ناروغانو لپاره چې په انسولين درملنې ډلې کې ندي پکاروړل شي.

## Methacrylate

د مېتاکرېليک اسيد عضوي ايستر يا د هغه د پوليميرايزيشن څخه جوړ شوې اکريکليک رزين (Resin) چې په پراخ ډول د غاښونو په طب کې پکارېږي.

### - Methyl Methacrylate

اکرېليکي رزيني مونومېر چې په آسانۍ سره پوليميرايز کېدای شي.

### - Ploymethyl Methacrylate

د ترومبوپلاستيک اکرېليکي رزين (صمغ ، ژاوله، کنډ، کنډوري) چې د ميتايل مېتاکريليټ له پوليمرايزيشن څخه جوړېږي او لنډه نښه يې (PMMH) ده.

## Methacycline

مېتاسکلين، دتيټراسکلين نيمه ترکيبي صنعتي مشتق چې هايدروکلورايډي مرکب يې د وسيع الساحه انتي بيوټيک په بڼه کارېږي.

## Methadone

مېتاډون ،د مورفين او هيروئين په څېر د فارمکالوژيک اغېزو لرونکې صنعتي نارکوټيک درمل دی هايدرو کلورايدی بڼه يې د ټوخي ضد او اعتياد لېرې کولو موخې لپاره پکارېږي .

## Methaemoglobin

ميتهيموګلوبين ، په کار بن مونواکسايد اخته د وينې هغه هيموګلوبين چې تور رنګه نسواري رنګ ته اوښتي وي چې د يو لړ درملنو او ناروغيو له امله پېښېږي دا هيموګلوبين له ځانه سره حجراتو ته ولېږدوي او له کبله يې شينوالې (سيانوزس) منځ ته راځي، د (Methemoglobin) په انډول.

## Methaemoglobinaemia

د ( Methemoglobin ) شته والې د ويني په بهير کې بلل شي، د (Methemoglobinaemia ) په انډول.

## Methanal

دفورمالديهايد ( Formaldehyde) په انډول .

## Methandrosternolone

هغه انابوليک ستيروئيد چې اندروجنيک خاصيت لري او د زړښت پر مهال د اوستيوپوروزس په درملنه او هايپوفيزي دوارفيزم په درملنه کې پکارېږي.

## Methane

ميتان ، اور اخيستونکې او چاودېدونکې ګاز چې د عضوي موادو د حالت د بدلون څخه زېږنده د ($CH_4$) په

## Methenamine

هغه باکتری ضد ماده چې په بولی انتاناتو کې ورڅخه ګټه اخيستل کېږي .

**- Methenamine Mandelate**

متنامين اومنډيليک اسيد مالګه چې دبولی انتاناتو ضدخواص لری .

**- Methenamine Silver**

متنامين او سپينوزرو د نايتريت محلول چې په هيستو پتولوژيک کتنو کې د رنګولو لپاره پکارېږي .

## Methicillin

دا نيمه ترکيبی پنسيلين انتی بيوتيک درمل چې د پنسلينيز انزايم په وړاندې د ډېر مقاومت څخه برخمن وی او په پنسيلين مقاوم انتاناتو کې ورکول شی سوډيمی مالګه يې د وريد له لارې کارول شي.

**- Methicillin -resistant Staphylococcus Aureus**

د ميتيسيلين مقاومت در لودونکي ستافيلوکوک طلائی (آورئيوس) باکتريا چې لنډه نښه يې (**MRSA** ) ده.

## Methimazole

د تائيروئيد غدې د فعاليت نهی کوونکی درمل چې په هايپرتايروئيديزم درملنه کې پکار وړل شي.

## Methionine

اساسی او طبيعی آمينو اسيد ونو څخه يو ډول دئ د تغذيې په موخه پکارېږي او دواړه ميتايل او سولفونيل ګروپونه لری.

## Methixene

انتی کولينرجيک درمل چې چې په ملسأ عضلاتو باندې استرخآ ورکوونکي د هضمی جهاز سپزم او زيات تحريک کمولو په موخه پکارېږي.

## Methocarbamol

د اسکلېټی عضلاتو سست ( شل ) کوونکي درمل.

## Method

مېتود ، طرز، قاعده، تخنيک او نظم، ترتيب ،سبک ، طريقه ، روش ، شيوه ، اسلوب ، حساب او کتاب ،کړنلاره ، کړندود، دود –دستور،د يوه کار يا څه د ترسره کولو اړوند لار.

**- Dye Dilution Method**

د وينې په بهير (دوران) کې د بهير د ارزوونې او معلومولو لپاره د ترقيقي(اوبلن کولو) طريقې يو ډول انډيکيټور چې له رنګ څخه پکې د انډيکيټور په توګه کار اخيستل شي.

فورمول ګاز بلل شي.

## Methanogen

غېر هوازی (پرته له اوکسيجن څخه ژوند کوونکې) ارګانيزم چې د کاربن دای اکسايد په شته والی کې وده کوی او د مېتان ګاز توليدوی د غوايانو په لرې (معده ) کې ژوند کوی .

## Methanol

ميتانول ، دالکهولو هغه مايع ډول جوړښت دئ چې پرته له رنګه ،مسموم کوونکې او سوځېدونکې الکهول د ($CH_3OH$) په فورمول سره بلل شی ورته (**Methyl Alcohol** ) هم ويل شي.

## Methantheline

د څلور امونيوم لرونکی انتی کولينرجيک درمل چې په هايپرهايدروز کې د هضمی او بولی جهاز دتحريک نهی او د نارمل خولېجن حالت د کنترول په موخه پکارېږي.

## Methapyriline

هغه انتی هيستامين چې خوب راوړونکې اغېزې لری او د الرژيک ناجوړتياوو درملنه او موضعی بېحسۍ لپاره ترې کار اخيستل شي.

## Methabarbital

د صرعې او تشنج ضد باربيتورات کورنۍ څخه درمل دی.

## Methdilazine

هغه انتی هيستامينيک درمل چې په فمی ډول د هر راز درماتوز څخه د زېږنده خارښتونو په درملنه کې پکارېږي.

## Methemalbumin

هغه توربخن پګمنټ چې په وينه کې له البومين سره د رحم د پيوستون له امله توليدېدل پېښېږي او د داخل الوعائی هيمولايز ښووونه کوی.

## Methemoglobine

هغه مرکب چې په فزيکی بڼه د فروډ بنی څخه د هيموګلوبين د اوسپنې د اکسيډيشن څخه حاصلېږی ددې مادې کم مقدار په وينه کې په نارمل ډول وجود لری خو صدمات او زهرجن ( سمي ) عوامل کولای شی يو زيات مقدار هيموګلوبين په متهه واوړی چې وروستۍ ماده اکسيجن نشی لېږدولای .

**- Indicator Dilution Method**

د هغه ځو طريقو څخه هر يوه چې د وينې په بهير (دوران) کې د بهير د ارزوونې او معلومولو لپاره د څرګند مقدار د تزريق او بيا په سيستم کې په ټاکل شوی وخت او ځای کې د هغه د غلظت د د ځارنې څخه ګټه اخيستل شی .

## Methodology

مېتود پېژندنه ، هغه علم چې د څېړنې او شننې لارې چارې څېړی. د څېړنې (مطالعې) ،پېژندنې اود کړنلارو (طريقو) او د طرز العملونو د پوهې علمي اصول د ميتودونو (روشونو) اړوند علم او پوهه

## Methodical

دطريقې له مخې، دعملي طريقې په اساس

## Methodically

پرنظم او طريقه برابر.

## Methohexital

يو لند مهاله اغېز لرونکي باربېتورات چې سوډيمی مالګه يې د عمومي بېهوښه کوونکې مادې په توګه په وريدی ډول کاروله کېږی.

**- Na⁺methohexital**

دا د رګ له لارې عمومي بېهوښي لپاره پکاريږي.

## Methopromazine

د (**Methoxypromazine**) په اند ول .

## Methotrexate

د فوليک اسيد انتاګونيست درمل د( سرطانونو ، پسوريازس او روماتيزم) ضد درملو په توګه کارول شی . دا يو مسموم کوونکی د فوليک اسيد انالوګ درمل دي قهوه يې رنګ نارنجي ته ورته بڼه لري او نيوپلازم او روماتوئيد ارتريت ضد درملو په څېر پکاريږي.

## Methotrimeprazine

د ($C_{19}H_{24}N_4OS$) د فورمول درلودونکي د درد ضد ماده چې په عضلاتی ډول کاروله شی.

## Methoxamine

دا د سمپاتيک مادې په څېر پېښې کوونکي درمل دي او د ټيټ فشار د لوړوالي لپاره پکار وړل کيږي.ادرينرجيک وازوپريسور چې د هايدروکلورايدی مالګې په ډول استعمالېږی.

## Methoxasalen

د اکريليک اسيد يو مرکب د ماورأ بنفش وړانګو په وړاندې د پوستکی د مخامخ کېدنې له امله د ميلانين

توليد القأ کوی ، د ايډيوپټيک وي. د اکريليک اسيد جوړښت دی د ماوراء بنفش (التراويولټ)وړانګو سره په ګډ ډول د ايديوپتيک وتيليګو په درملنه کې پکار وړل کيږي.

## Methoxyflurane

دا يو ډول د عمومي بېهوښی درمل دي چې د انشاق له لارې ناروغ ته بېهوښي ورکول کيږي.استنشاقی عمومی بېهوښه کوونکی د ګازاتو په بڼه جوړه ماده .

## Methoxyphenamine

د سمپاتيک پېښې (تقليد) کونکي درمل دي او د قصباتو توسع ورکونکي درملو په منظور پکارول کيږي.

## Methoxypheneramine

هغه ادرينرجيکه ماده چې د برانکوډايلاتور خاصيت لری او د پزې د احتقان ضد ځانګړنې څخه يې د هايدروکلورايدی مالګې په بڼه ګټه اخيستل کېږی .

## Methoxypromazine

د فينوتيازين له مشتقاتو څخه دی او د سيداتيف يا آرامه کونکي درملو په څېر پکار وړل کيږي.

## Methscapolamine Bromide

هغه انتی کولينرجيکه ( پاراسمپاتولايتيک)ماده چې د سکاپول امين له مشتقاتو څخه ده د معدې د افرازاتو او هضمی حرکتونو باندې نهی کوونکې اغېزې لری او معدې زخمونو درملنه کې پکاريږی.

## Methsuximide

د تشنج (اختلاج) ضد درمل چې د پتيتمال او سايکوموتوری صرعې په درملنه کې پکارېږی.

## Methyclothiazide

د ويني د فشار ضد تيازيدی مدرر درمل.

## Methyl

د مېتايل ($CH_3$) کېمياوی راډيکال .

**- Methyl alcohol**

د مېتايل الکهول (**Methanol**) په اند ول .

**- Methyl Salicylate**

ميتايل ساليساليت بې بويه ژېړ رنګه سور بخنه د بتولالنتا د ونې له پوستکي څخه په مصنوعي توګه جوړيږي يوه غوړينه ماده چې د ( **Gultheria Procumbens**) له ونې له پاڼو يا د ( **Betula Lenta**) د ونې له پوستکی څخه يا په مصنوعی توګه پلاس راځی چې د خوندور کولو او عضلاتو دردونو او التهاب درملنه کې پکارېږی .

**- Methyl Tert-butyl Ether**

هغه ویلې کوونکې ماده چې د صفراوي کڅوړې د صفرا ډبرو د حل کېدو لپاره کارول کېږي .

## Methylamine

هغه اور اخیستونکې (سوځنده) ګاز ماده د پوستکي په آش کولو او د عضوي موادو په جوړولو کې کارول کېږي دا ماده په طبیعي ډول د کولرا میکروب د کلچر ، ځینو بوټو او خسا شوي کبانو(ماهیانو) څخه پتومائین "Ptomaine" ګاز په څېر لاس ته راځي چې سترګې ورسره حساسیت لري .

## Methylate

یو قلوي او میتایل الکهول ، له یوې مادې سره د مېتایل ګروپ یوځای کول بلل شي. چې د یوه میتایل الکهول او یوه قلوي ګډ جوړښت دی او د موضعي ضد انتاني اغېزې منځ ته راوړي.

**- Methylated Spirits**

هغه الکهول (میتایل الکهول) چې ورسره رنګ ګډ شوی وي.

## Methylbenzethonium

دا یوه موضعي استعمالېدونکې میکروب ضد ماده ده چې د کلورایدي مالګې په بڼه په هغه پوستکي موښل شي چې له میتېازو – غایطي موادو سره پتماس وي (کانټیکټ درماټیټ ) باندې اخته وي د درملنې په موخه کارېږي.

## Methylcellulose

میتایل ایستر سلولوز یو ډول جوړښت دی دا دغوړین مادې د درملو د تعلیق لپاره په لوشن او پومادونو او محلولونو کې پکار وړل کېږي. ، دا ماده د مسهل او درملو ساتنې په موخه کارېږي او د ملتحې لپاسه د سترګې د ځینوجراحي درملنو په بهیر کې د قرنیې د نرمولو او خوندي ساتلو په موخه پکارېږي. د

## Methylcobalamine

هغه کوبالامین چې د میتابولیک بلوه فعال دی او تر خوړلو وروسته د ویټامین (Vit. B 12) په بڼه اوړي.

## Methylcytosine

دا یو ډول یا پریمیډین دي ډي اوکسي رایبوزنیوکلیک اسید په لړ کې لاس ته راځي.

## Methyldopa

دا د فینایل الانین یو مشتق چې د فرط فشار په درملنه کې کارول شي ورته (Aldomet ) هم ویل شي .

## Methyldopate.

د میتایل ډوپا د ایتایل ایستر ډول دی او د فرط فشار په درملنه کې پکار وړل کېږي.

## Methylene

د (CH2) په فورمول دوه ولانسه هایدروکاربني راډیکال دئ .

**- Methylene Blue**

مېتایلین بلو ، د ابي رنګ لرونکې انتي سپټیک درمل چې معمولاً د بولي مکروب ضد اغېزې لري او د هغه درملو ناوړه اغېزې لري کولو په موخه ورکول کېږي او د ناروغې پېژندنې او میکروب پېژندنې آزموینو کې او د میکروب ضد درملو په څېر په کار وړل کېږي. چې د (Methaemoglobinaemia ) حالت پېښوي .

**- Methylene Dioxyamphetamine**

د (Ecstasy) په انډول ،هغه هلوجني مرکب چې د کېمیاوي پلوه په امفتامین او مسکالین پورې تړاو لري له دغې مادې څخه روږدې کېدلو حالت منځ ته راځي .

## Methylergonovine

هغه اوکسي توسیک ماده چې د مالېټي مالګې په بڼه د زېږون وروسته د وینې بهېدو او اټونې په مخنیوی او درملنه کې پکارېږي. میترجین.

## Methylglucamine

د (Meglomine ) په انډول. دا د( D ) ګلوکوز او میتایل امین څخه لاس ته راځي او د درملو په سنتیز کې ورڅخه کار اخیستل کېږي.

## Methylhexaneamene

دا د پوزې د احتقان لېرې کولو لپاره یو ډول استنشاقي درمل دي.

## Methylmalonic Acid

کاربوکسیلیک اسید چې د شحمي اسیدونو د مېتابولیزم منځنۍ حد دئ.

## Methylmalonic Acidemia

په وینه کې میتایل مالونیک اسید زیادښت ، دا د امینواسیدوپتیي ناروغي ده چې په (وینه او متیازو کې د میتایل مالونیک اسید په زیادښت ، میتابولیک کېتواسیدوزس ، هایپرګلایسینوریا ، هایپرامونیمیا ) سره پېژندل کېږي .

## Methylmalonic Aciduria

په متیازو کې میتایل مالونیک اسید اطراح زیادښت ، دا د امینواسیدوپتیي ناروغي ده چې په( وینه او متیازو کې د میتایل مالونیک اسید په زیادښت ، میتابولیک کېتواسیدوزس ،

هایپرګلایسینوریا ، هایپرامونیمیا ) سره پېژندل کېږي .

**Methylmelubrin**

دا د تبې او درد ضد درمل دي.

**Methylparaben**

دا درمل داسې مواد دي چې محلولونه د خُسا ، چتلي او میکروبي کېدنې څخه ژغوري.

**Methylparafynol**

دا خوب راوړونکې او مسکن درمل دي.

**Methylphenidate**

هغه درمل چې مرکزی عصبی سیستم بیداروی (ویښوی) او د [د پام یا توجه د نشتوالی تشوشاتو ، هایپر اکټیویټي ، اضطرابونو او نارکولپسی (Narcolepsy) ] درملنه کې پکارېږي، د پسیکو موتور تحریک کوونکی جوړښت دی او د فکري تمرکز او ښه والي لپاره پکار وړل کیږي او د انحطاط ضد اغېزه لري.

**Methylprednisolone**

میتایل پریدنیزولون ، صنعتی ګلوکوکورتیکوئېد چې د پروجسټرون څخه جوړېږي او د [آرتریټ ، الرژي ، استمآ، ادرینال غدې په عدم کفایې درملنه کې پکارېږي چې د التهاب ضد او معافیت شاتمبوونکې (نهی) ] په څېر عمل کوی .

**Methylrosaniline chlorid**

دا د چنجي او میکروبونو ضد اغېزه لرونکې ماده ده او د مکروبونو په رنګولو کې هم ورڅخه کار اخیستل کیږي.

**Methyltestosterone**

میتایل تستوستیرون، د یوه صنعتی ادرینرجیک هورمون چې تستوستیرون ته ورته کار کوی او یو ډول اغېزې ښندی . د اغېزمن تستوستیرون خوراکي بڼه ده.

**5- methyl-tetrahydro folate**

د فولیک اسید مشتق ، د فولیک اسید هغه بڼه چې په بدن کې (لېږدېږی ،زیرمه کېږی او میتیونین د بیا جوړېدنې لپاره د میتایل د ګروپ سرچینه ) ګرځی.

**Methyl thionine hydrochlorid**

د (Methyline Blue ) په انډول .

**Methyl thiouracil**

دا د تایراید د فعالیت نهې کوونکي درمل دي او د هایپر تایرایدیزم په درملنه کې اغېزمن دي.

**Methyl Transfrase**

د انزایمونو هغه ډله چې د یو مرکب څخه بل مرکب ته د میتایل ګروپ لېږدېدل ( ترانس میتایلیشن) کتلایز کوی .

**Methyprylon**

د ($C_{10}H_{17}NO_2$) فورمول درلودونکې خوب راوړونکی درمل.

**Methysergide**

دسیروتونین یو انتاګونیست چې نبغ په نبغه د رګونو تقبض ورکوونکې اغېزې لری چې د مېګرین په درملنه کې کارېږی دغه ماده د مالیټې مالګې په توګه هم استعمالېږی.

**Meticortelon**

د پریدنیزولون تجارتي نوم دی.

**Meticorten**

د پریدنیزولون لپاره سوداګریز / تجارتي نوم دی.

**Metmyoglobin**

هغه مرکب چې له فروځخه په فیریک باندې د مایوګلوبین د اوکسیدیشن څخه لاس ته راځی . د مایوګلوبین جوړښت چې د دوه ظرفیته اوسپنې اوکسدیشن له کبله درې ظرفیته اوسپنه منځ ته راځي.

**Metoclopramide**

دا د زړه بدوالی او ګانګې (قی) ضد درمل دی.

**Metcurine iodide**

د ($C_{40}N_{48}I_2N_2O_6$) فورمول لرونکې عضلاتی شل (سست) او استرخا ورکوونکې درمل .

**Metolazone**

دسولفونامید یو مشتق چې تیازېدی د یوریتیکونو ته ورته کار کوی او د هایپرټنشن او اذیما په درملنه کې استعمالېږی.

**Metopic**

د کوپړۍ د ټنډې (جبین ، تندې ) سره په تړاو کې .

**- Metopic Suture**

د کوپړۍ د ټنډې درز .

**Metopion**

د ګلابېلا (Glabella) په انډول. دا یو ټکی دی چې د تندي په منځنی برخه د جبهې یا ټندې هډوکی د راوتلې برخو په منځ کې واقع ده.

**Metopon[1]**

دا د هایدروکلورو میتایل دای هایدرومورفینون لپاره سوداګریز نوم دی چې د درد ضد اغېزه لري.

**Metopon[2]**

د ماغزو د جبهې برخې قدامي لوبول ته ویل کیږي.

**Metoprolol**

د زړه د بیټا ادرینرژیک (β1) رسپتورونو ځانګړی بلاک کوونکي درمل چې د تارتاریټ مالګې په بڼه د ( وینې د فشار ، مزمن آنجین او زړه احتشأ ) په درملنه کې پکارېږي.

**Metoxenous**

دوه کوربه ایز، هغه پرازیت یا ژوی چې خپل سیکل پوره کولو لپاره دوه کوربه ته اړتیا لري ،هغه ژوی چې ژوند کولو لپاره دوه کورنیو (کوربه) ته اړتیا لری ، پرازیټ، پرازیټونه پدې لړ کې راتلای شي.

**Metoxeny**

دوه کوربه ایز.

**Metr -**

دا یو مختاړې دئ او د متر (د یوه کیلومتر زرمه برخه او -Metro) معنی بشپړوی .

**Metra**

د ( Uterus ) په انډول ، رحم، ځلانځه .

**Metralgia**

د رحم درد ، رحمی دردونه .

**Metrapectic**

د مور پواسطه لېږدولی حال دا چې مور پخپله له هغه ځخه مصؤن ده او د هغه په وړاندې معافیت لري.

**Metratonia**

د رحم اټونی ، د تقلص پرمهال د رحم کمزورتیا ، د رحم بې قوتي.

**Metratrophia**

د رحم ضمور ، د رحم اټروفی ، د رحم پتالوژیکه کوچنیوالې.

**Metrazol.**

د پنسیلین تتازول لپاره تجارتي نوم دی چې د عصبي مرکزي سیستم لپاره محرک درمل دی.

**Metre**

د ( SI ) د سیستم د اوږوالی تاکني واحد دئ چې لنډه نښه یې ( m ) بلل شی او ورته ( Meter ) هم ویل شی د یوسانتي متر سل برابره لوی اندازه.

**Metrectopia**

بې ځایه رحم ، د رحم د ځای بدلون ، د رحم ډیسپلاسمنټ.

**Metreurynter**

دا یوه وسیله چې د باد پواسطه پړسیږي او د رحم او عنق د اتساع لپاره ورځخه کار اخیستل کیږي.هغه د پراختیا موندلو او آزادېدو وړ کځوړه چې د رحم د غاړې د کانال د آزادولو لپاره کارول شي.

**Metreurysis**

د مترو رینتر پواسطه د رحم او عنق اتساع ورکولو کړنلاره.

**Metric**

د اندازې نیولو اړوند صفت ، د کار د بنسټ په توګه د متر واحد لرل ، د (Metre) اړوند صفت . متریک، د اندازه ګیرۍ اړوند، دمیټر ته منسوب، دمیټر سیستم اړوند ، هغه سیستم چې اعشار یه پکښې پکار یږي، اعشاري سیستم، وزني ( په شعر او موسیقي کښې کې ).

**- Metric system**

میتریک سیستم .د میټر پواسطه د اندازه کولو سیستم اړوند .

**Metrical**

اعشاري، میټري .

**Metriocephalic**

هغه ماشوم چې د کوپړۍ ضریب یې (72 -77) وي.

**Metritis**

د (Myometritis ) په انډول ، د رحم التهاب ، د ځېلانځې التهاب.

**- Metritis Dissecans**

د رحم التهاب سره د رحم د جدار د یوې برخې د نکروزس سره.

**- Endomitritis**

د اندومتریوم التهاب.

**- Myometritis**

د عضلاتو د طبقې التهاب.

**- Parametritis**

د پارامتریوم التهاب.

**Metrizamide**

آیوډین لرونکي ، غیر آیوني او په اوبو کې منحل کثیفه ماده چې په میالوګرافی او سیسترنوګرافی کې په پراخه پیمانه استعمال لری.

**Metro -**

دا یو مختاړې دئ او د رحم ( ځلانځې) معنی بشپړوی لکه د (Metrocolpocele) په څېر .

**Metrocarcenoma**

د رحم خبیث ډول تومور د کارسینوما په نامه دئ.

**Metrocele**
د رحم اړوند چُره ، رحمی فتق ، هغه چره چې محتوی یې رحم وی .

**Metrocolpocele**
هغه حالت چې پکې رحم د مهبل لورې ته دننه جوت شوې وی ، هغه رحمی چُره چې پکې رحم د مهبل دننه فتق کوی.

**Metrocyte**
مورنۍ حجره ،زېږونکې حجره.

**Metrocystosis**
د رحمی سیسټ جوړېدل ، په ځېلانځه کښې د سیستونو منځ ته راتګ.

**Metrocytosis**
د وینې په دوران کې د مورنۍ حجرو زیاتوالی.

**Metrodynia**
د رحم درد.

**Metrofibroma**
د ځېلانځې فیبروما.

**Metroleukorrhea**
د رحم سرچینې لرونکې یا د ځېلانځې څخه د سپینې مایع راتوئېدنه لوکوریا ، د رحم څخه د سپین رنګه مایع غېرنارمل بهیر او سیلان راتګ بلل شی.

**Metrology**
د متریک سیستم اړوند علم، متر پېژندنه مترولوژی بلل شي.

**Metromalacia**
د رحم غېر نارمل نرمښت او پستېدل ، متروملاسیا .

**Metronidazole**
ژېړ رنګه انتی بیوتیک درمل چې د غېر هوازی باکتری او پرازیت ضد اغېزې لری او دمهبل په انتاناتو کې ډېر استعمال لری.

**Metrogyl**
د (Metronidazol Injection ) په انډول.

**Metroparalysis**
د رحم فلج کېدل ، د ځلانځې د تقلصاتو نورمال حالت نشتوالې .

**Methropathia**
د رحم هر راز ناروغۍ .

**- Metropathia Haemorrhagica**
وینه بهېدونکې د رحم ناروغی چې پکې حیضی وینه بهېدنه په ډېره اندازه شتون لری . د رحم اصلي ډول وینه بهېدنه ده.

**Metropathic**
د (Methropathia / Metropathy ) اړوند صفت.

**Metropathy**
د رحم هر راز ناروغۍ .

**Metroperitoneal**
د رحم او پریتوان اړوند.

**Metroperitonitis**
د رحم د شاوخوا پریتوان برخې التهاب.

**Metrophlebitis**
د رحم د رګیزې برخې د وریدونو التهاب .

**Metropin.**
د میتایل اتروپین نایتریت لپاره تجارتي نوم دی.

**Metroptosis**
د رحم پرولاپس ، ښکته لورې ته د رحم ښوئېدنه بېځایه کېدنه بلل شی.

**Metrorrhagia**
د رحم څخه بې وخته غېر فزیولوژیکه بڼه وینه بهېدنه ، اوږد مهالې او غېرعادی حیض حالت ، هغه وینه (حیض) چې د دوه عادی سیکلونو په منځ کې پېښېږی .

**Metrorrhea**
د رحم غېر عادی او طبیعی افرازاتو بهیر .

**Metrosalpingography**
د هیستیروسالپینګوګرافی ( Hysterosalpingography ) په انډول.

**Metrorrhexis**
د رحم څیرېدنه ، د رحم شلېدنه.

**Metrorthosis**
د رحم د بې ځایه کېدنې په ځای او صحیح کول.

**Metrosalpangitis**
د رحم او نفیرونو التهاب.

**Metroscope**
د رحم د لیدنې لپاره یوه وسیله ده.

**Metroscopy**
د رحم د لیدنې کړنلاره د متروسکوپ پواسطه.

**Metrostaxis**
په لږه اندازه اوکمه بڼه پرلپسې رحمی وینه بهېدنه . له

## MHC
لوی نسجی توافقی کمپلکس ( Major Histo Compatibility Complex) لپاره لنډه نښه.

## MHz
میګاهرتز(Megahertz ) لپاره لنډه نښه، د یوه اهتزازی هرتز زرچنده لویه اندازه.

## MI [1]
د مایترال دسام عدم کفایه (Mitral Incompetence ) لپاره لنډه نښه.

## MI [2]
د مایوکارډیال عضلې احتشأ(Myocardial Infarction ) لپاره لنډه نښه.

## MIGB
میتا آیدو بنزایل ګوانیدین(Metha Idio Benzyl Guanidin ) لپاره لنډه نښه.

## Micaceous
متورق، متفلس، ایره ډوله د سپین زر رنګ لرونکی د پوستکي تفلساتو ته ویل کیږي.

## Mication
د سترګې د رپ په څېر چټک حرکت . چټک خوځښت لکه د سترګو د سترګې وهولو په مهال.

## Mice
د موږک (Mouse) جمع یا ګڼه شمېره ، موږکان .

## Micelle
یوه کوچنۍ ذرې منځ ته راتګ چې په کولموکې د شحم د هضم څخه پلاس راځی .

## Michel's clips
فلزی کلیپ چې معمولاً د ټپونو (پرهر) ګنډلو لپاره پکاریږی د لومړی ځل لپاره فرانسوی جراحی پروفیسور د عالم (Gaston Michel) پذریعه په (1874-1937) کالونو کې پکار یووړل شوه .

## Miconazole
مایکونازول ، دا د چنیاسه (فنګس) ضد درمل دی چې په یوازې سر یا د نایتریتی مالګې په بڼه د ( Tinea, Tinea Pedis , Tinea cruris , Tinea Corpora, Tinea Versicolaris) او پوستکې او ولووجینال کانډیډیازس درملنه کې کارول شی.

**- Miconazole Compound**
د مایکونازول ترکیبی او ګډوډول د نورو درملو سره .

رحم څخه لږه اندازه خو معنده ډول وینه بهېدنه.

## Metrostenosis
د رحم د جوف تنګوالې ، رحمی دنقباضی حالت ، د رحم تضیق.

## -metry
دا یو روستاړې دئ او د یوې وسیلې په ذریعه اندازې نیولو معنی بشپړوی. لکه Hysterometry د رحم اندازه کول.

## Metrapone
د کیمیاوی مرکب دې چې د ($C_{14}H_{14}N_2O$) فورمول لری او د کورتیکو ستیروئیدونو د بیوسنتیزس مسؤول انزایم نهی کوی او د هایپوفیز – ادرینال محور د اړوند ناجوړتیاوو د پیژندنې پروسه کې ډیره مرستندویه بلل شی.

## MeV
د مګا الکترون ولټ (Mega Electron Volte) لپاره لنډه نښه بلل شی.

## Mexiletien
د زړه د اریتمیا ضد درمل دی چې د هایدروکلورایدی مالګې په بڼه د بطینی اریتمیا په درملنه کې پکار وړل شی.

## Mezocillin
نیمه ترکیبی د وسیع الساحه طیف لرونکې پنسیلین چې د سوډیمی مالګې په بڼه د مختلطو انتاناتو درملنه کې پکاروړل شی.

## μF
مایکروفراډ (Microfarad ) لنډه نښه.

## MFD
حد اقل وژونکی ډوز(Minimal Fatal Dose ) لپاره لنډه نښه.

## Mg
مګنیزیوم ، دا یوکیمیاوی عنصر دئ چې د (Magnisium) لنډه نښه ده.

## mg
میلی ګرام (Milligram ) لپاره لنډه نښه ده چې د یوه ګرام وزن لسمه برخه بلل شی.

## μg
مایکرو ګرام (Microgarm ) لپاره لنډه نښه ده چې د یوه ګرام وزن زرمه برخه بلل شی.

**Micrencephaly**

د ماغزو د ودې کمښت او دهغه د کمښت او غېر نارمل کوچنيوالی حالت .

**Micro- [1]**

دا يو مختاړې دئ او د ډېر کوچنی واحد معنی بشپړوی.

**Micro- [2]**

دا يو مختاړې دئ او د ډېر کوچنی واحد ($10^6$) يو ميليونيمی برخې معنی بشپړوی لنډه نښه يې (**M**) ده .

**Micracoustic**

د يو تت آواز يا غږ اورېدنه، دا يوه وسيله چې وکړای شي يو ډېر تت او ټيټ غږ د اورېدنې وړ و گرځوي.

**Micrangiopathy**

د کوچنيو رگونو ناروغيو اړوند حالت.

**Micrencephaly**

د کوپړۍ کوچنی والی او د ماغزو نه وده چې دا د ولادي نيمگړتيا او ناروغيو په ډله کې شمېرل کيږي.

**Micro abscess**

ډېرې کوچنی ابسې يا کوچنی خراجونه داهسې ابسې گانې چې د مايکرو سکوپ پواسطه د ليدنې وړ گرځي.

**Microadenoma**

د هايپوفيز غدې اډينوما چې له (15 mm) څخه کوچنی وی .

**Microaerobic**

د لږ اوکسيجن شته والي په صورت کې ښه وده کوونکی.

**Microaerophilic**

هغه موجود چې د ژوندی پاتې کېدنې لپاره اوکسيجن ته اړتيا لری خو د اتموسفيری غلظت څخه په لږه اندازه کې ژوند کوی لکه باکتری گانې .د (Microaerobic ) په اړوند

**Microaggregate**

په مايکروسکوپيکه بڼه د ذراتو راټولېدنه يا د مايکرو سکوپی اجزاوو راغونډېدو لکه (صفيحات ، لوکوسيټ او فيبرين ) چې په ساتل شوی وينه کې منځ ته راځی.

**Microalbuminuria**

د ميتيازو له لارې د مايکروسکوپيک بڼه د البومين اطراح.

**Microanalysis**

د موادو د ډېر لږو مقدارونو کيمياوی تجزيه او تحليل په مايکروسکوپيکه توگه کيمياوي تجزيه کېدنه.

**Microanatomy**

مايکرواناټومی ، نسج پېژندنه ، د حجروی يا هستولوژی څانگه. د (Histology ) په اړوند . د ميکروسکوپ پواسطه اناټوميکه څېړنه.

**Microaneurysm**

مايکروسکوپيک انيوريزم چې دترومبوتيک پورپورا خاصيت دئ . د سترگې د شبکيې د کپيلری جدار نرې پړسوب .

**Microangeopathic**

د وينې د کوچنيو رگونو (شعريه) ناروغۍ (Microangiopathy) اړوند صفت .

**Microangiopathy**

د وينې د کوچنيو رگونو (شعريه) هر راز ناروغۍ بلل شی.

**- Thrombotic Microangiopathy**

د ارتريولونو او شعريه رگونو کې د ترومبوز جوړېدل .

**Microbacterium**

د شيزو مايست له کورنۍ څخه مايکرو باکتريوم.

**Microbar**

مايکروبار کوچنی ذره چې يو مليون څخه يوه برخه معادل د هغه ده.

**Microbe**

د مايکروارگانيزم په څانگړی ډول پتوجن عامل چې د ناروغۍ لامل گرځی او ترمايکروسکوپ لاندې ليدل شی لکه باکتريا.

**Microbial**

د مايکروبونو (Microbe ) اړوند صفت .

**- Microbial Disease**

ميکروبی ناروغۍ .

**- Microbial illness**

ميکروبی ناروغۍ . د ميکروب له پيښېدونکې ناروغه حالت.

**Microbic**

د مايکروبونو (Microbe ) اړوند صفت .

**Microbicidal**

د مايکروب له منځه وړونکې عامل (Microbicide) اړوند صفت.

**- Microbicidal Drugs**

د مايکروب وژونکې درمل .

نورو موادو درلودونکې دی او د ] ينې (ځيګر) ، پښتورګو او نورو حجرو] د اندوپلازميک شبکې څخه سرچينه اخلي همدغه راز دغه جسمونه په (پروتزوا، چنیاسو او نوروبوټو) کې شته والې لري. د يو ډول (Organella ) دی چې کروي (بيضوي) بڼې لري او د غشا پواسطه پوښلی وي او د ټاکلو حجراتو سايتوپلازم کې شته والی لري.

## Microbrachius
د جنين په غير عادي توګه کوچني لاسونه او مټونه درلودنه.

## Microbiuret
هغه بيورت چې ظرفيت يې [(0.1ml څخه تر 10 ml) ] پورې وی او تصنيف له مخې د کربنو تر منځ يې فاصله [(0.001mm څخه تر 0.02 mm) ] ميلي ليتر پورې ده.

## Microcalix
د (Microcalyx ) په انډول .

## Microcalyx
د پښتورګو ډېر کوچنی کاليکسو ته چې متيازې له نفرون څخه هغه ته راتوئيږي.

## Microcalori
ډېره لږه اندازه کالوري يا ډېره لږه اندازه درجه د تودوخې چې وکړای شي يو سانتي متر مکعب اوبه د صفر څخه يوه ته ورسوي.

## Microcardia
کوچنې زړه ، غېر نارمل د زړه کوچنيوالی .

## Microcentrum
د (Centrosome ) په انډول .

## Microcephalic
د (Microcephaly ) اړوند صفت ، مايکروسفالی درلودونکې.

## Microcephalus
د کوچنی کوپړۍ درلودونکی.

## Microcephaly
هغه ناسمه حالت چې پکې يو ځوک غېر معمول ډول کوچنې سر لري او مورزادي نيمګړتيا بڼه لري .

## Microchellia
هغه ناسمه ولادی نيمګړتيا لرونکې حالت چې پکې يو ځوک غېر معمول ډول کوچنې شونډې لری ، د شونډو کوچنۍ بڼه.

- **Microbicidal Medication**

د مايکروب وژونکې دارو – درمل .

## Microbicide
د مايکروب وژونکې او له منځه وړونکې عامل، انتي بيوتيکونه.

## Microbioassay
د يوه خوراکي مادې د فعاليت د قدرت ټاکنه يا د يوه ستانډرد جوړښت پواسطه د يوه ميکروب د قدرت ټاکنه او مقايسه.

## Microbiochemestry
مايکروسکوپيک بيوشيمی علم .

## Microbiological
د (Microbiology ) اړوند صفت .

## Microbiologist
هغه عالم چې د مايکروارګانيزمونو اړوند څېړنو متخصص وی.

## Microbiology
مايکروبيلوژی ، د ميکروبونو اړوند علم او پوهه.هغه علم چې د مايکروارګانيزمونو اړوند څېړنې اوتحقيق پرې کېږی.

## Microbiophotometer
د کښت (زرعيه) محيط د ( Turbididty) له لارې د باکتری کرنې د ودې اندازې نيولو لپاره وسيله . يا هغه وسيله چې د ميکروبونو د ودې او کلچر د اندازې کولو او محيط اړوند پکاريږي.

## Microbiota
په يوه سيمه کې شته مايکروسکوپيک ژوندی ارګانيزمونه . د يوې برخې ژوندی ذره بيني موجود.

## Microbiotic
د (Microbiota ) اړوند صفت .

## Microblast
هغه سره حجره چې قطر يې له (5 Micron) مايکرونه يا ورڅخه څخه لږ وی.

## Microblepheria
د سترګو د ليمو د عمودی قطرونو غېر نورمال لنډوالې په غير عادي توګه د سترغلو (جفنونو) کوچنيوالی.

## Microbody
غشأ لرونکې او ګرانولوسايتوپلازمی کوچنې جسم چې بيضوی يا ګردۍ (کروی) بڼه لری او انزايمونه او د

**Microcoria**

د سترګو د کسي (حدقې) کوچنیوالی.

**Microcornea**

د سترګو د قرنیې کوچنیوالی.

**Microcoulomb**

د کولومب یو میلیونمه برخه.

**Microcrania**

د کوپړۍ کوچنیوالی.

**Microcrith**

د هایدروجن د یوه اټوم وزن.

**Microcrystalline**

د کوچنیوکریستالونو څخه جوړ شوې .

**Microcurie**

د کیورۍ یوملیونمه ($10^6$) برخه چې لنډه نښه یې ($\mu c$) ده.

**Microcurie hour**

مایکروکیوري ساعت.د وړانګې په وړاندې د تقرر نیونې واحد لنډه نښه یې (Mchr) ده .

**Microcyclus**

د شیزو مایست له کورنۍ څخه یوه ډله باکتریا .

**Microcyte**

هغه سره کریوه چې په نارمل ډول کوچنۍ ده او قطر یې (5 Micron) مایکرونه یا یوڅه لدې هم کم د ئ ، د مایکروګلیا حجره.

**Microcythaemia**

د (Microcytosis) په انډول.

**Microcytic**

د (Microcytes) اړوند صفت .

**Microcytosis**

په وینه کې د مایکروسایټونو دکچې د شتون لوړ والې.
په وینه کې د غیر عادي کوچنیو سرو کریواتو شته والی.

**Microcytotoxicity**

د موادو د کمو مقدارونو په کارولو سره د حجرې د ویجاړېدو (تخریب) توان لرل . د کوچنیو حجراتو د ویجاړېدنې او (Toxic) حالت ته ویل کیږي.

**Microcytotoxicosis**

د کوچنیو حجراتو د ویجاړېدنې او Toxic حالت ته ویل کیږي، د (Microcytotoxicity) په انډول .

**Microdactylia**

هغه حالت چې پکې یو څوک معمولاً د پښو او لاسونو

**Microcheiria**

دلاسونوغیر نومال کوچنیوالې ، هغه ناسمه ولادی نیمګړې حالت چې پکې یو څوک غیر معمول ډول کوچني لاسونه لری.

**Microchemistry**

د کیمیا پوهنې هغه څانګه چې د کیمیاوی مواد له ډیرو کوچنیو مقدارونو اړوند څېړنې پکې تر سره کیږي.

**Microcinimatography**

د مایکروسکوپیک شیانو څخه متحرک عکس (انځور) اخیستلو کړنلاره بلل شی، د ډیرو کوچنیو نیولیکونو او ذراتو یا شیانو څخه د فیلم جوړولو کړنلاره.

**Microcirculation**

د کوچنیو رګونو (آرتریولونو ،شعریه رګونو او وینولونو ) له لارې د وینې بهیر موندل بلل شی. د وینې په رګونو کې میکروسکوپیک بهیر.

**Microcirculatory**

د مایکرو سرګولیشن (Microcirculation) اړوند صفت .

**Micrococcaceae**

د (Eubacteriales) دآرډر څخه (ګرام مثبت ، هوازی ، او ځینې وخت غیر هوازی) باکتری ګانو یوه کورنۍ چې د ګردیو حجرو څخه جوړه شوې ده او په لومړنی حجروی وېش کې په دوه یا دریو سطحو ویشل کیږي .

**Micrococcus**[1]

مایکرو کوک دا کوچنی باکتریا ده دا په یوازې توګه لیدل کیږي او په ټولګې ډول نه لیدل کیږي، ډیر کوچنۍ او ګردئ مایکروارګانیزم دئ د ګرام مثبتو باکتری ګانو یوه ډله چې (دمایکروکوکاسیه کورنۍ) چې په خاورو ، اوبو نورو کې موندل کیږی او د (آرتریټ ، اندوکارډیټ او مننجیټ ) لامل ګرځی او ګڼه بڼه یې (Micrococci ) ګڼل شی .

**Microcoria**

د سترګو تور (کسی) کوچنیوالې .

**Microcosm**

وړوکی دنیا ، انسان چې دیخوانیو فیلسو فانو په عقیده دکائناتو مظهرګڼل کیده، ټولنه، ښار او مؤسسه چې دنړۍ دکوچني مظهر په حیث پیژندل کیږي.

**Microcolon**

د کولون کوچنی حالت په غیر عادي توګه چې دباریوم کولوګرام راډیولوژیک فلم کې کولونونه ډیر کوچنۍ قطر لری چې د کولمو په ولادی نیوټتال اتریزیا کې لیدل شی .

کوچنی آمبولي ګانې، ډېر کوچني امبولي چې د ذره بین پواسطه د لیدنې وړ وي.

**Microenvironment**

په میکروسکوپیک یا حجروی سطحه باندی یو محیط.

**Microerythrocyte**

د (Microcyte ) په انډول .

**Microfarad**

د فراډ یو میلیونمه برخه ($10^6$) لنډه نښه یې ($\mu F$) ده.

**Microfauna**

د یوه ځانګړی سیمې حیوانی مایکرو ارګانیزم ، یا په یوه ځانګړې ناحیه کې زره بیني ژوندي حیوانات.

**Microfibril**

ډېره کوچنی رشته، کوچنی فایبر.

**Microfilament**

تحت مایکروسکوپیک فیلامنټونه چې اساساً د اکتین څخه جوړېږی او تقریباً د ټولو حجرو په سایټوپلازمی ماټریکس کې اغلباً د مایکروتیوبولونو سره مل وی .

**Microfilaremia**

په وینه کې د مایکروفیلاریا شته والی.

**Microfilaria**

د انسان په وینه کې او لېږدېدونکو نسجونو کې د (Filarioidea) د لاروا څخه دمخه مرحله چې ځینې وختونه په غلطه ډول د جنس نوم په توګه کارول شی دا ګردې چینجو د لاروا بڼې لپاره پخوا نوم ورکړل شویدی او د فیلاروئید یا کورنۍ اړوند دی.

**Microfilm**

مایکرو فیلم (10 یا 35 ) میلي میتری فیلم.

**Microflora**

ډېر کوچني نباتي موجودات. مایکرو فلورا .

**Microfracture**

د هډوکی د یوې برخې کوچنۍ ماتېدنه ، کوچنۍ کسر.

**Microgamate**

ډېر کوچنۍ ګامیټ چې خوځښت لری او کولای شی په انیزوګامی کې یو مایکروګامیت القاح کړی. مایکرو ګامیت ،نرګامیت چې تر ښځینه ګامیت کوچنی دی.

**Microgamatocyte**

هغه حجره چې مایکروګامیت تولېدوی، د ملاریا د پلازموډیم په څېر د ځینو سپورزواګانو نارینه ګامیتوسایت .

لنډې او کوچنی ګوتې ولری ، د (Microdactyly ) په انډول.

**Microdetermination**

د مادې د کوچنیو مقدارونو کېمیاوی معاینه.

**Microdiscectomy**

د مایکروسکوپیک جراحی کړنلارې له لارې د راوتلی ملاتیر د ډیسک دټولو برخو کامل لېری کول تر څو د اعصابو لپاسه فشار لېرې شی ،مایکروسکوپیک تسلیخی جراحی کړنلاره .

**Microdiskectomy**

د مایکروسکوپیک جراحی کړنلارې له لارې د راوتلی ملاتیر د نوکلیوس پولیوزس لېرې کول تر څو د اعصابو لپاسه فشار لېرې شی .

**Microdissection**

د مایکروسکوپ له لارې د نسجونو یا حجرو غوځوونه ، تر مایکروسکوپ لاندې د انساجو او حجراتو غوځول او جلا کولو کړنلاره.

**Microdont**

هغه څوک چې د غاښونو ضریب یې تر (24) لږ وي، کوچني غاښونه.

**Microdontia**

د (Microdontism ) په انډول .

**Microdontism**

هغه حالت چې پکې یو څوک غېر معمول کوچنی غاښونه لری

**Microdreppanocytic**

د درېپانوسایټیک او مایکروسایټیک موادو / اجزاوو لرل .

**Microecology**

د ایکولوژي هغه څانګه چې د پرازیتونو او چاپېریال اړیکې یو د بل سره څېړي.

**Microecosystem**

هغه روش او کړنلاره چې په ایکالوژي کې په طبیعي یا آزمویلو توګه په کوچني محیط کې تر تجربې او څېړنې لاندې نیسي.

**Microemboli**

کوچنی آمبولي ګانې.

**Microembolus**

**Micrographia**

ډېره کوچنی لیکنه. هغه د لاس لیکنه چې کچه او اندازه یې د نارمل په پرتله کوچنۍ شوېوی کوم چې دا رنځ په پرکینسونیزم کې لیدل کېږي.

**Micrography**

د (Micrographia) عملیې تر سره کولو ته ویل شی. د مایکرګراف د اخیستنې کړنلاره.

**Microgyria**

د ( Polymicrogyria) په اند‌ول . د ماغزو د تلم ( جیروس) کوچنی بڼه.

**Microgyrus**

کوچنۍ تاوراتاو شوې غېر نارمل مغز ، د ماغزو یو غیر نور مال کوچنی نیمګړې جیروس.

**Microhematocrit**

د پرن شوې وینې د حجراتو د حجم ټاکنه په چټکه توګه چې د سنترفیوژ وروسته تر سره کیږي.

**Microhepatia**

کوچنی ینه، کوچنی ځیګر، کوچنی کبد.

**Microhm**

داوهم (Ohm) د یو میلیون یوه برخه.

**Microincineration**

د یوې مادې د ډېرو کمو مقدارونو اکسیدیشن چې د هغې د خوړونکو عناصرو د ایرو له لارې دهغه مادې پېژندنه . یا د ډېر لږ اندازې مادې اوکسیدیشن چې تر څو عضوي مواد ترې حذف شي او یوازې ایره یې پاتې شي.

**Microinfarct**

د شعریه رګونو ، آرتریولونو یا کوچنیو شریانونو د بندښت له امله ډېر کوچنۍ احتشأ ته ویل شی، کوچنی احتشائي برخه.

**Microinjector**

د مایع یا درملو د ډېر کم مقدار د تزریق لپاره وسیله . کوچنی زرق کوونکې آله.

**Microinvasion**

له خپل ځایه څخه ګاونډیو ځایونو ته د خبیثو حجرو مایکروسکوپیک خپرېدل ، کله چې ډېره کوچنی برخه تر تېري او ښکېلاک لاندې راغلې وي. مایکروسکوپیک تهاجم

**Microinvasive**

د (Microinvasion) اړوند صفت.

**Microgastria**

په ولادي توګه د معدې کوچنی حالت.

**Microgenia**

د زنې کوچنیوالی.

**Microgenitalism**

د بهرنۍ تناسل غړو کوچنیوالی.

**Microglia**

غېر عصبی کوچنۍ حجرې چې د مرکزی عصبی سیستم د ژغورندویه جوړښتونو یوه برخه جوړوی ، دغه حجرې کېدوالې دی او د عصبی سیستم نسج اضافی محصولات تېروی او هغه له منځه وړی .

**Microglial**

د (Microglia) اړوند صفت .

**Microgliocyte**

د مایکروګلیال حجره.

**Microglobine**

ګلوبین یا د یوه ګلوبین یوه برخه چې ټیټ مالیکولي وزن ولری .

**Microglossia**

هغه حالت چې پکې ژبه کوچنیوالی موندلای وی ، غېر معمول د یوچا د ژبې کوچنی کېدنه. په ولادي توګه د ژبې کوچینوالی.

**Micrognathia**

د ژامنې په ځانګړی ډول سره د ښکتنۍ یا لاندینۍ ژامنې غېر عادی کوچنیوالې .

**Micrognathic**

د (Micrognathia ) اړوند صفت.

**Microgonioscope**

هغه ګونیوسکوپ چې عدسیه (Lens ) پرې کنټل کیږي.

**Microgram**

مایکروګرام ، د لوی والی بخښنې عدسیې لرونکې ګونیوسکوپ، هغه واحد چې د ګرام یوه ملیونمه برخه اندازه څرګنده کړی لنډه نښه یې (µg) یا (mcg) ده .

**Micrograph**

هغه ګراف اخیستونکې وسیله چې د یوې پردې یا یوه ملیونمه برخه اندازه څرګنده کړی لنډه نښه یې (µg) یا (mcg) ده.

**- Electron Micrograph**

الکترونی مایکرو ګراف.

**Microlesion**

يوه کوچنۍ د آفت يا ناروغي ضايعه نسجي برخه.

**Microlecithal**

د ډېر لږ اندازې ژېړې (Yolk) لرونکی.

**Microliter**

د يوه ليتر څخه يو ميليونمه($10^6$) برخه او لنډه نښه يې ($\mu$L) ده .

**Microlith**

ډېره کوچنۍ ډبره ، کوچنۍ تيږه.

**Microlithiasis**

په يوه غړی کې د ډېرو کوچنيو سختو جسمونو جوړېدنه ، په غړو کې د ډېرې کوچنۍ ډبرې (تيږې ،شګې) جوړېدنه بلل شي .

- **Pulmonary Alviolar Microlithiasis**

د سږو اړوند نسج د اسناخو برخه د ډېرو کوچنيو ډبرو منځ ته راتګ او رسوب بلل شي.

- **Microlithiasis Alveolaris Pulmonum**

د سږو د نسج په الويولونو کې د کوچنيو ډبرو منځ ته راتګ د اسکوتو ورته جوړښتونه دي.

**Micrology**

د ډېرو کوچنيو ذره بيني شيانو اړوند علم او پوهه.

**Micromandibular**

د کوچنۍ ښکتنه ژامنې اړوند .

**Micromandible**

د کوچنۍ منديبولا لرونکی.

**Micromanipulator**

تر مايکروسکوپ لاندې د يوې کوچنۍ نمونې پرمخ د هر ډول خوځښت او غوځولو تر سره کولو لپاره وسيله . او يا دا يوه آله ده د غوځولو او خوځولو لپاره چې تر مايکروسکوب لاندې نمونه پرې ډېر کوچنۍ حرکت ورکول کيږي.

**Micromastia**

د تيينو کوچنيوالی.هغه حالت چې پکې يوه ښځه غېرنورمال کوچني تيبونه ولري.

**Micromelia**

د يو ه يا دواړو لاسونو يا پښو کوچنی والی.

**Micromelus**

هغه جنين چې کوچنی غير عادي اندامونه لري.

**Micromere**

يو کوچنۍ بلاستومير چې د يوې القأ شوې هګۍ د نا مساوي وېش له لارې منځ راغلې وي.

**Micrometastasis**

ډېر کوچنی مېټاستازس، چې پدې کې اوليه توموری ځای څخه لېږې پرتو سيمو ته سرطانی حجرې شيندل او خپرېدل پېښوی او د مايکروسکوپيک ثانوی تومورونه جوړوی .

**Micrometastatic**

د (Micrometastasis ) اړوند صفت .

**Micrometeorology**

د هوا پېژندنې علم هغه برخه چې د چاپېريال اغېزې پر ژونديو موجوداتو چې څو اينچه له ځمکې قرار لري څېړنه تر سره کوي.

**Micrometer [1]**

دوړو شيانو اومسافو داندازې کولو آله بلل شي چې پرې اړوند مايکروسکوپيک کتنې تر سره کېږی همدا رنګه امرېکائی تلفظ يې (Micrometre) بلل شي .

**Micrometer [2]**

د يو متر واټن يوملیونمه اندازې پېړوالی (ضخامت ) واحد ټاکنې لپاره وسيله او لنډه نښه يې ($\mu$m) بلل شي.

**Micromethod**

هر هغه ډول تخنيک چې د مادې له ډېرو کمو مقدارونو سره سر او کار ولری . د ډېرو کوچنيو موادو د څېړنې او آزموينې کړنلاره.

**Micromicro-**

دا يو مختاړې دئ او ($10^{12}$) د ښودلو لپاره پکارېږی چې د يو تريليون يوه برخه يا "د يوه ميلون يو ميليونمه برخه راځرګندوي " او اوس مهال د دې لپاره د (Pico-) کليمې ليکل کېږی او ځای ناستې يې بلل شي.

**Micromicrocurie**

د مايکرو کيوري يو ميليون څخه يوه ونډه.

**Micromicrogram**

د مايکرو ګرام يوه ميليون څخه يوه ونډه او لنډه نښه يې ($\mu\mu$gm) ده .

**Micromicron**

د مايکرون يوه ميليون څخه يوه ونډه. لنډه نښه يې ($\mu\mu$) ده .

**Micromillimeter**

د ملي متر يوه ميليون څخه يوه ونډه، لنډه نښه يې ($\mu$ml) ده .

لیدل کېږي لکه باکتریا . ډېر وړوکی عضویت ، هغه ماېکروسکوپیک ارګانیزمونه چې د طبی پلوه مهم دی په تیره ( بکټریا، ریکتسیا ، ویروسونه ، چنیاسي ، پروتوزوا ).

**Micropathology**
مایکروپتالوژي ، د کوچنیو پتالوژېکو بدلونونو سره په تړاو کې د معلوماتو غونډولو او څېړنو علم ، هغه ناوغۍ چې مایکرو ارګانیزمونو پواسطه منځ ته راځی.

**Microperforation**
د کوچني سوري ،کوچنی تثقب.

**Microperfusion**
د یوې مادې د ډېر لږ او کم مقدار پرفیوژن . میکروسکوپیک نفوذ.

**Microphage**
کوچنۍ فاګوسیټ ، کوچنۍ ماکروفاژ، هغه خوځنده نیوتروفیل چې د پردۍ جسم د خوړنې توان خاوند وی.

**Microphakia**
د کریسټالی عدسیو غیر نارمل کوچنیوالې .

**Microphallus**
د نارینه د قضیب یا (غین) کوچنیوالی.

**Microphobia**
له میکروبونو څخه وېره درلودنه.

**Microphone**
ږغ لوړونکی،میکروفون ، د غږ د پیاوړی کېدو یا لېږد لپاره ځانګړې وسیله .

**Microphonia**
د غږ په شدید ډول ضعیفه کېدنه.

**Microphonic**
د (Microphone ) اړوند صفت . سامعوی ، مایکروفونی . د غږ د پیاوړی کېدو اړوند.

**- Microphonic Cochlearm's**
هغه برېښنائی پوټانسېلونه د غږیز تحریک له امله یې د کورتۍ جسم غړی په ویښته یې حجرو کې تولید ېږی.

**Microphotograph**
مایکروفوټوګراف ، کوچنۍ عکس ، کوچنۍ انځور .

**Microphotography**
مایکروفوټوګرافی ، کوچنۍ عکس اخیستنه ، د کوچنۍ انځور ایستلو کړنلاره بلل شی .

**Microphthalmia**
مایکروافتالمیا ، د یوې یا دواړه سترګو د ټولو قطرونو

**Micromole**
هغه د اندازې ټاکنې واحد چې پکې د یوې مادې یو میلیونمه د مول سره برابره وی سمبول یې (µmole) ده.

**Micromolecular**
د کوچنیو مالیکولونو جوړښت.

**Micromonospora**
د شیزو ماسیت له کورنۍ یوه ډله.

**Micromyelia**
د نخاع د غېر نورمال کوچنیتوب .

**Micromyeloblast**
نابالغه(اومه ) کوچنۍ میلوسایټ حجره.

**Micromyeloblastic**
د (Micromyeloblast ) اړوند صفت .

**Micron**
د (Micrometre ) په انډول د یوه میلی متر زرمه (1/1000) برخه ، یا د یوه متر یو میلیونمه (1/1000000) برخه چې نښه یې (µ) ده .

**Microneedle**
مایکرونیډل ، ډېره کوچنۍ ستنه چې د ډېرو کوچنیو لاسوهنو لپاره کاروله شی.

**Microneurosurgery**
کوچنۍ عصبی جراحی ، د عصبی سیستم د جوړښتونو او مایکروسکوپیک رګونو لپاسه د کوچنیو وسایلو په مټه تر ډېرې لویې لوی ښودنې لاندې جراحی تر سره کولو کړنلاره.

**Micronucleus**
کوچنۍ هسته ، هسته چه ،په پروتوزوا سیلیاتا کې په هره حجره کې د دوه ډوله هسته څخه هغه چې په جنسی تکثر کې ونډه اخلی .

**Micronutrient**
هغه مواد چې یو ارګانیزم یې د خپلې نورمالې ودې لپاره ورته اړتیا لری خو په په لږه پیمانه دغه اندازه ټاکل کېږی لکه بېلابېل د کېمیاوی عناصر و ( آمینواسیدونه ، ویټامینونه ، منرالونه چې په لږ مقدار سره د ودې – رشدلپاره اړین بلل شی) لږ خوراک ، کمه پیمانه خوراک.

**Micro-organism**
د میکروب کوچنی ذره بیني ژوندی حیوان یا نبات.وړوکې عضویت چې تر مایکروسکوب لاندې

غیر نارمل کوچنیوالې .

**Microphthalmos**

مایکروافتالمیا حالت خاوند حالت ، د یوې یا دواړه سترګو د ټولو قطرونو غیر نارمل کوچنیوالې حالت ته بلل شي . د سترګو کاټو غیر عادي کوچني والی.

**Microphysics**

د اولیه موادو اصلي جوړښت اړوند علم او پوهه.

**Microphyte**

کوچنی ذره بیني نبات.

**Micropinocytosis**

په حجروی غشا کې د یوه جوف رامنځ ته کېدو او بیا د هغه د تړلو له لارې د یوې حجرې دننه ته ځانګړو لویو مالیکولونو جذبېدل او بیا په دې ډول د سایتوپلازم دننه ویزیکول منځ ته راځي. یا داچې د حجراتو په سایتوپلازم کې د تغلف منځ ته راتګ دی چې په نتیجه کې د پلازما غشاء دننه تنوزي او کوچني ویزیکول منځ ته راوړي او د فاګو سایتوز عملیه تر سره کوي.

**Micropipette**

ډېر کوچني پیپټ ، هغه پیپټ چې تر (یولیتر پوري) د کم مقدار مایع ظرفیت لري . یا هم دا یو ډول پیپټ دی چې لږ اندازه مایعاتو اخیستلو لپاره پکار وړل کیږي.[( 0,1- څخه تر 1) سانتي متر مکعب] پورې .

**Microplithyalismography**

هغه لړ څه بدلونونه چې ثبت چې د وینې د بهیر پواسطه د یوې برخې په اندازه کې منځ ته راځي .

**Micropodia**

د پښو په غیر عادي توګه کوچنیوالی.

**Micropredator**

هغه ژوندی موجود چې خپل اړین مواد له ځانه څخه غټ ژوندي موجود څخه لاس ته راوړي پرته له دې چې هغه ته زیان ورسوي.

**Microprobe**

هغه کوچني پروب (Probe) چې په مایکروسکوپیک جراحیو کې کارېږي .

**Micropsia**

د لیدلو هغه ناجوړتیا چې یو شئ پکې د هغه د ریښتینی اندازې څخه کوچنی لیدل کېږي دا دسترګو د شبکیې په ناروغیو کې شتون لري.

**Micropyle**

هغه سوري چې د ځینو هګیو په غشا کې منځ ته راځي تر څو د هغه له لارې سپرماتوزوئید وردننه شي.

**Microradiography**

داسې یو ډول راډیوګرافي کړنلاره چې د وروسته یې انځور تر مایکروسکوپ لاندې نیول کېږي یا د څو سوه چنده لویونکي ماشین پواسطه په خطي ډول لویږي.یا داچې دېره کوچني راډیوګرافي فیلم اخیستنه چې د مایکروسکوپیک آزموینو لپاره پکار وړل کیږي.

**Microfractometer**

مایکرو ریفرکتومتر،د کوچنیو جوړښتونو ترمنځ د تنوع د تفریق او څېړنې لپاسه وسیله.

**Microspirometer**

هغه ماشین چې کولای شي په بېلابېلو نسجونو کې د مصرف کېدونکي اوکسیجن کچه وټاکي. یا هغه وسیله چې په جلا شویو انساجو کې د اکسیجن استعمال تر څېړنې لاندې نشي.

**Microrhinia**

په غیر عادي توګه د پوزې کوچنیوالی.

**Microscillia**

د شیزو مایست له کورنۍ څخه یوه ډله باکتریا دی چې په خاورو اوبو کې شتون لري.

**Microscope**

میکروسکوپ، د ووړ و شیانو د لیدو آله ، ذره بین ، د یوه کوچني جسم څخه د یوه لوی انځور د لاس ته راوړلو او د هغه د داسې جوړښتیزو جزئیاتو د ښودلو لپاره وسیله چې په غیر عادي ډول نشي لیدل کېدای .

- **Acoustic Microscope**

د اورېدنې مایکروسکوپ،هغه میکروسکوپ چې په یو شي باندې د ډېرو لوړ فریکانس لرونکي التراساونډي څپې متمرکزې کوي او بیا یې غبرګې یا منعکس شوې څپې د برېښنائي مرحلو له لارې په انځور اړوي .

- **Binocular Microscope**

د (Biocular Microscope ) په اند ډول .

- **Biocular Microscope**

دوه سترګیز مایکروسکوپ.

- **Compound Microscope**

مرکب مایکروسکوپ،هغه مایکروسکوپ چې د عدسیو له دوه سیستمونو څخه ګټه اخلي .

- **Corneal Microscope**

قرنیه وي مایکروسکوپ، داسې مایکروسکوپ چې د ډېرې لوړې درجې لوی ښودونکي عدسیې لري چې کولای شي په

بنفش وړانګو د لېږدوونکو لنزونو یا کوارتزونو یا سترګو څخه استفاده کوی .یا داچې د التراویولت مایکروسکوپ هغه عدسې چې التراویولت وړانګې منعکس او منکسر کولای شي.

- **X-ray Microscope**

اکسرې مایکروسکوپ ، هغه مایکروسکوپ چې د نور په ځای د (X-ray ) وړانګو څخه ګټه اخلی او تصویر یې د فلم پرمخ جوړیږی .

## Microscopic

ذره بیني، هغه څه چې یوازې په میکرو سکوب کې لیدل کیږي. د (Microscope ) اړوند صفت .

- **Microscopic Examination**

مایکروسکوپیک کتنې .

- **Microscopic Surgery**

مایکروسکوپیک جراحی .

## Microscopical

مایکروسکوپي . د (Microscope ) اړوند صفت .

## Microscopy

د (Microscope ) په ذریعه اړوند کتنې ترسره کول.

- **Television Microscopy**

هغه مایکروسکوپیک انځورونه چې د تلویزیون د پردې پر مخ څرګندیږي.

## Microsecond

مایکرو ثانیه ، د یوې ثانیې ($10^6$) یومیلیونمه برخه وخت چې لنډه نښه یې (µs ) ده .

## Microseme

هغه چې د سترګو د کاسې ضریب یې د (83) څخه لږ وي.

## Microshock

په کارډیولوژی کې د برېښنائی بهیر تر ټولو تیټه سطحه چې نبغ په نبغه د زړه نسج ته ورکوله کیږی د (0.1 mA) په اندازه بهیر کولای شی بطینی فیبریلیشن منځ ته راوړی.

## Microsmatic

د ډېر لږ بوئېدنې د احساس درلودلو ته ویل کیږي.

## Microsomatic

د شامې حس چې کمزوره پرمختیا یا وده یې کړېوی لکه د انسان د شامې حس وده موندنه.

## Microsomal

د (Microsome ) اړوند صفت .

## Microsome

اندوپلازمیک ډوله ویزیکولی ټوټې چې د حجرو له قرنیه او عنبیه کې ډېرې ډېر کوچنۍ بدلونونه وڅېړی.

- **Dark field Microscope**

تیاره سیمه لرونکې مایکروسکوپ، هغه مایکروسکوپ چې د وړانګو د تفریق اود ځنډو د روښانه کوولو له لارې یوه تیاره سیمه کې جزئیات روښانه کوی .

- **Electron Microscope**

الکترونی مایکروسکوپ، هغه مایکروسکوپ چې د رڼا په ځای په یوه فلوروسنټ پاڼه باندې د الکترونی څپو په مرسته تصویر جوړوی.

- **Fluorescence Microscope**

فلوروسنټ مایکروسکوپ، هغه مایکروسکوپ چې د فلوروکروم په واسطه رنګ شوې نمونې څېړی.

- **Infra Red Microscope**

تر سره رنګ لاندې مایکروسکوپ، هغه مایکروسکوپ چې د (800 Nanometre) نانومتر څپه ائیز اوږد والی لرونکی وړانګو څخه د انځور اخیستنې لپاره ترې کار اخیستل کیږی.

- **Light Microscope**

رڼائیز مایکروسکوپ، هغه مایکروسکوپ چې د عادی رڼا لاندې نمونې د لیدلو وړ ګرځوی .

- **Phase Microscope**

فیز مایکروسکوپ، هغه مایکروسکوپ چې د یوه شی د منځ څخه د تېرېدونکی او بیا د هغه شاووخوا څخه د تېرېدونکی نور ترمنځ ارتباط ته توپیر ورکوی او په دې ډول د رنګولو او د ځانګړو چمتو کولو څخه پرته نمونه یا شئ د لیدو وړ ګرځوی ، د (Phase Contrast Microscope ) په انډول.

- **Scanning Microscope**

سکنینګ مایکروسکوپ، هغه الکترونی مایکروسکوپ چې په هغه کې الکترونی وړانګې د یوې نمونې ټکی په ټکی سکن اخلی او د هغه څخه د فلوروسنټ د پردې پرمخ انځور جوړوی.

- **Scanning Electron Microscope**

د (Scanning Microscope ) په انډول .

- **Simple Microscope**

ساده مایکروسکوپ، هغه ساده مایکروسکوپ چې یوازې یو منفرد لنز یا عدسیه لری.

- **Slit Lamp Microscope**

هغه قرنیې مایکروسکوپ چې په ځانګړی ډول داسې جوړ شوې وی دی چې له سترګو قرنیې سره نښلېدلای شی او شخص په دې ډول د اندوتیلیوم شاتنۍ سطحه کتلای شی .

- **Stereoscopic Microscope**

د دوه سترګیز مایکروسکوپ چې د یوه جسم څخه درې بُعدی لید ته لاره هواروی .

- **Ultraviolet Microscope**

التراویولټ مایکروسکوپ ، هغه مایکروسکوپ چې د ماورأ

ځیرلو او سنتریفیوژ کولو وروسته جوړیږي.یا د یوې حجرې د سایتوپلازم مایکروسکوپیک یوه ذره بلل کیږي.

**Microsomia**

د بدن په غیر عادي توګه کوچنیوالی.

**Microspecteroscope**

په یوه وسیله کې د مایکروسکوپ او اسپکتروسکوپ یا هغه دستګاه چې د طیف نما او میکروسکوپ سره یو ځای شته والې لري.

**Microsphere**

کوچنی ګردی جسم.

**Microspherocyte**

د (Spherocyte) په اړوند.

**Microspherocytosis**

د (Spherocytosis) په اړوند .

**Microsphygma**

هغه نبض چې د ګوتې پواسطه یې درک کول او موندل سخت وی.یا هغه نبض چې په سختې سره په ګوته جس کیږي.

**Microsplenia**

د توری (طحال) کوچنیوالی حالت .

**Microsporon**

د (Microsporum) په اړوند .

**Microsporum**

یو ډول چې د پوستکي او ویښتانو بېلابېل ډول ناروغۍ رامنځ ته کوی پدې چنیاسو کې ( M.Audouini, M.Gypseum , M.Canis, M.Fulvum) ورګډیږي او کله ناکله د نوکانو برخه اخته کوی.

**Micro-stix-3**

د آرجیني پټې سوداګریز نوم دئ چې د متیازو د نایترېټ د پېژندنې لپاره د کېمیاوي آزموینې یوه سیمه لري چې د نایتریت د شته والي په صورت کې غوښن رنګ اخلي او د ځینو باکتری ګانو د کرنې لپاره دوه چاپیریالونه چې د (18-24) ساعتونو وروسته وده کوی د ګرام منفي او ګرام مثبتو ارګانیزمونو د ودې لپاره یو تقویوی زرعیه-کلچری محیط بلل شي.

**Microstomia**

په غیر عادي بڼه د خولې کوچنیوالی.

**Microsurgery**

مایکروجراحي ، د لاسي وسایلو پذریعه تر مایکروسکوپ لاندې د کوچنیو جوړښتونو عملیات تر سره کولو جراحي کړنلاره چې معمولاً د ( غوږ ، سترګو ، اعصابو او رګونو ) جراحي کې پکاروړل شي .

**Microsurynge**

مایکروسورنج ، د ډېرو کمو مقدارونو د ډېرې دقیقې اندازې نیولو لپاره ځانګړې سورنج .

**Microtatobiotes**

دا د نباتاتو یوه ډله ده او د دوی وده او تکثر د نورو ژوندیو پورې اړین بلل کیږي.

**Microthrombosis**

د کوچنیو ترومبوزو (پړن شوي ویني) شتون په کوچنیو رګونو کې دغه حالت بلل کیږي.

**Microthrombus**

کوچنی ترومبوز په رګ کې.

**Microtia**

مایکروټیا ، د غوږ د پکې غېر نورمال کوچنیوالي .

**Microtome**

مایکروټوم، د مایکروسکوپیک څېړنې لپاره د ډېرو نازکو غوښولو (مقطعو) لپاره ځانګړې وسیله. یا هغه آله یا وسیله چې په مایکروسکوپیک څېړنو کې د نمونې د پرې کولو او غوښولو لپاره د چړې په څېر پکاریږي.

- **Freezing Microtome**

د یخ وهلي (کنګل) نمونې غوښولو لپاره دی.

- **Rotary Microtome**

څرخېدونکی مایکروتوم.

- **Sliding Microtome**

ښوېدونکی مایکروتوم.

**Microtomy**

ډېر نری ډول غوښول په نرې ډول د ربېلو کړنلاره.

**Microtransfusion**

په ډېره لږه اندازه سره د بل چا وینې ننوېستل د یو چا د وینې بهیر ته مایکرو ترانسفیوژن ویل کیږي.

**Microtrauma**

یوه ذره بیني ضایعه یا ترضیض.

**Microtubule**

ډېر کوچنی ټیوبولونه ، نري ټیوبي جوړښتونه چې اساساً د توبولین څخه جوړیږي او تقریباً د ټولو حجرو د سایتوپلازم په ځمکنی ماده کې شته والې لری .دا

جوړښتونه د حجروی بنې ساتنې او ارګانلونو په خوځښت کې ونډه اخلی له بلې خوا د مایتوز دوکی فایبرونه جوړوی.

**Microvascular**

د کوچنیو رګونو اړوند صفت .

**Microvasculature**

د آرټریولونو ،وینولونو او شعریو رګونو په ګډون د بدن کوچنی رګونو ټولګه .

**Microvilli**

د (Microvillous ) ګڼه شمېره بلل شی.

**Microvillous**

د حجرې د آزادې سطحې کوچنۍ راوتلتیا په ځانګړی ډول د کولمو د مخاطی غشأ د اپیتلیوم او پروګزیمال کږلېچې تیوب حجرې .

**Microvolt**

مایکروولټ ،د یوه ولټ یو میلیونمه برخه چې لنډه نښه یې (μv) ده .

**Microwave**

دبرېښنائی مقناطیسی وړانګو څخه زېږنده څپې چې د تحت قرمز / تحت الاحمر او راډیوئی څپو تر منځ ځای لری او د څپې اوږد والې یې د (1 mm) څخه تر (30 cm) پورې رسېږی ، هغه څپه چې د (300 تر 300000 مېګاهرټز) تر منځ وی . کوچنۍ څپه ، د خوراک پخولو لپاره پخوونکې وسیله ( خوراک پز) ، مایکروویف.

- **Microwave Therapy**

دمایکروویف د لوړې فریکوونسی وړانګو پذریعه درملنه .

**Microzoon**

مایکروسکوپیک حیوانی ارګانیزم .

**Microzym**

ناروغۍ پېښوونکې میکروب ، مایکروزایم.

**Micrurgy**

هغه لاسی تخنیک چې په مایکروسکوپي فیلډکې صورت نیسی .

**Micrurgic**

د (Micrurgy ) اړوند صفت .

**Micturate**

متیازې کول ، تبول ، بولې کول .

**Micturating Cystogram**

د میتیازو کولو حالت بهیر کې د مثانې او احلیل راديوګرافی اخیستلو کړنلاره – تخنیک چې ( MCU, MCUG) یې لنډه نښه ده ، د (Micturating cysto-Urethrogram) په اندول.

**Micturating Cysto-urethrogram**

د میتیازو کولو حالت بهیر کې د مثانې او احلیل راديوګرافی اخیستلو کړنلاره – تخنیک ( MCU, MCUG) یې لنډه نښه ده.

**Micturition**

متیازې کولو عملیه ، د (Urination ) په اندول .

**Mid -**

دا یو مختاړې دئ او د مینځ، وسط معنی بشپړوی .د (Middle) په اندول .

**Midazolam**

یو ډول آرامتیا بخښونکی درمل دی د بنزوډیازیپین له کورنۍ څخه چې د ممالیټ ایستر په بڼه د بېهوښۍ د رامنځ ته کولو لپاره پکارېږی .

**Midbrain**

ورته مېزانسفالون (Mesencephalon ) هم وائي ، د ماغزو هغه برخه چې د ماغزو د لومړنی درېو ویزیکولونو څخه د منځنی ویزیکولونو څخه سرچینه اخلی،د منځنی مغز برخه چې د حـــــدبې څخه پورته او د ( Cerebrum او Hindbrain) ترمنځ پرته ده .

**Midcarpal**

د لاس د منځنې کارپ هډوکو اړوند صفت .

**Middle**

منځنی، منځوی، منځ، برابر، ملا ، مرکز ، مرکزی ، د معدې سیمه .

- **Middle -aged**

منځنې عمر، نه زوړ او نه کوچنۍ ،لکه د عمر دریمه او څلورمه لسیزه .

- **Middle Colic**

هغه شریانی رګ چې دعلوی میزانتریک شریان څخه بېلېږی.

- **Middle Ear**

منځنۍ غوږ ، د غوږ پردې او دننه غوږ ترمنځ برخه .

- **Middle Ear Infection**

د منځنی غوږ انتانات. د (Otitis Media) په اندول.

- **Middle Finger**

منځنۍ ګوته . د لاس د پنجې اوږده منځنۍ ګوته .

**Middling**

برابر ( نه ټیټ نه لوړ)، عادي، مامولي ( معمولي ).

## Midfoot
د پښو ترمنځ.

## Midge
مچ، لویشتکی ( لویشتینک سړی ).

## Midget
لویشتکی، لنډی ، هغه څوک چې لنډیې ونه لری خو نور بشپړ اونارمل وی .

## Midgut
مېډ ګټ ، د یوې ایمبریو د ګټ منځنۍ برخه چې بیا وروسته کوچنۍ کولمې منځ ته راوړی ، د جنینی هضمی تیوب هغه برخه چې ژیړه کڅوړه ورپرانیستل کېږی .یا داچې د امبریولوژیک وخت د قدامي کولمې او خلفي کولمو تر منځ.

## Midicel
د سولفا میتوکسي پیریدازین لپاره تجارتي نوم دی د اماده د باکتریا ضد او بولي سیستم لپاره انتي سپتیک دی.

## Mid-life Crisis
د منځنی عمر مقدم دوره چې پکې خلک د (اضطراب احساس ، نه مصئونیت او خپل ځانی شک ) په څېر تجربه کوی ، د منځنی عمر ناتار(بحرانات).

## Midline
منځنۍ کرښه ، هغه تصوری کرښه د بدن چې له نامه غوتۍ تیرېږی او بدن په دوه نیمایي برخو ویشی .

- **Midline Incision**

د منځنۍ کرښې عملیاتی شقونه .

- **Midline Procedure**

د منځنی کرښې اړوند پروسیجرونه .

## Midriff
پړین، حجاب حاجز، هغه پرده چې دنس او کوګل په منځ کې پرته ده . د (Diaphragm) په انډول ، د ملا او سینې تر منځ سیمه. یو ډیاګرام د تیبونو او Waistline "د نری ملا کرښې" تر منځ برخه.

## Midst
منځ، منځنۍ برخه، منځنۍ ټاکي په منځ کې.

## Midstream Specimen
هغه نمونه چې دمتیازو د منځنۍ برخې څخه اخیستل شی څکه چې لومړنۍ اطراحی متیازې ښائی مېکروبی وی(MSU ) یې لنډه ننبهده ، د (Midstream Specimen of Urine) په انډول.

## Midtarsal
د پښو تلي د تارس هډوکو د منځ اړوند صفت .

## Midway
په منځ کې، نیماي، سم نیمایي، په نیمایي لاره پورې اړوند .

## Mid-wife
دائې، قابله ، هغه مسلکی تعلیم موندلې او روزل شوې ښځه چې بلاربوښځو سره په کورونو کې د لنګون پرمهال مرسته کوی تر پرته له ستونزې ماشوم وزېږوی.

## Midwifery
قابلګی مسلک ، دائی توب، هغه زده کړه چې د بلاربښت او لنګون دورې اړوند تر سره کېږی.

- **Midwifery Course**

د قابلګۍ د اړوند روزنې کورس تدریس یا زده کړه بلل شی.

## Mien
بڼه، څېره: سلوک ، کړه وړه ، اخلاق ، کرکتر .

## Migraine
یو ډېر شدید درد چې عموماً دسرپریوه خواوې، نیم سرې، دروه ئی سرخوږې چې معمولاً یو اړخیزې وی او په صدغی سیمه کې دردچې ورسره ښائي (تحریک منښ زړه بدوالي ، کانګې ،قبضیت یا نس ناستې ، فوتوفوبیا ، سرڅرخی) سره مل وی ، دغه ننبې د قحفی رګونو د تضیق څخه سرچینه اخلی تېرې ښائی د (Aura ) په څېر راښکاره کېږی او بیا د سترګو پړک رښنائی په بڼه تظاهر مومی شدت په یوه لورې کې وی .

- **Abdomenal Migraine**

بطنی نیم سری، پدې ډول کې بطنی ننبې ننبانې پیاوړې وی.

- **Basilar Artery Migraine**

د قاعدوی شریان نیم سری ، دا د عینی میګرین یو ډول دئ چې د دواړه سترګو په باصری ډګر کې (Aura ) شتون لری او ښائی د خبرو کولو تعادل د ناجوړتیا سره مل وی .

- **Migraine Headache**

نیم سرې سردردی دا ډېر شدید ډول چې ښائي د (زړه بدوالي ، کانګې ،قبضیت یا نس ناستې ، فوتوفوبیا ، سرڅرخی) سره مل وی لاملونه یې ناڅرګنده دی تېرې ښائی د (Aura) په څېر راښکاره کېږی او بیا د سترګو پړک رښنائی په بڼه تظاهر مومی او رویت ویجاړېږی او د سر په یوه لورې کې ظاهرېږی.

- **Ophthalmic Migraine**

بصری نیم سرې ، داسې حالت چې پکې امیلیوپیا او تیکوپسیا په څېر لید له ناجوړتیاوو سره یوځای وی.

- **Ophthalmoplegic Migraine**

بصری فلجی نیم سري ، داسې حالت چې پکې د سترګو فلج (ګوزڼ) له ناجوړتیاوو سره یوځای وی.

- **Retinal Migraine**

شبکیې نیم سری ، یو ډول بصری نیم سري داسې حالت چې پکې دشبکیې برخې ښې ښانې د لید اختلال په څېر له ناجوړتیاوو سره یوځای وی او احتمالاً د یوه یا څو شریانونو د تضیق سره مل وی .

## Migrainous

په نیم سری ناروغۍ اخته والې ، د (Migraine) اړوند صفت.

## Migrant

کوچی، لېږ دېدونکی، مهاجر ژوی یا بوټی ، کډوال.

## Migrate

لېږدول، لیږدېدل، مهاجرت کول، کوچېدل، کډه کېدل.

## Migration

لیږد ، کوچ، مهاجرت، په څرګندډول او پخپله د ځای بدلون، د ډیاپېډیزیس په اړه ول.

## Migratory

لیږ دېدونکی، مهاجر، کوچی، مهاجرتی ، د مهاجرت اړوند صفت.

## Mikedimide

د پمګریډ چې تنفسي محرک دی لپاره تجارتي نوم دی دا درمل د باربتوراتونو په مسمویت کې پکارېږي.

## Mikro-

دا یو مختاړې دئ او د ډېر کوچنی او ذره بینی څیز (یومیلیونمه برخې) او تر مایکروسکوپ لاندې د لېدلو وړ څیز معنی بشپړوی. د (Micro-) په اړه ول

## Mil

میلیلیتر. د لیتر زرمه برخه د (Milli- liter) په اړه ول .

## Milla

د Millium لپاره ګڼ شمېر یا د جمع حالت.

## Mild

ملایم، حلیم، معتدل، پوست نرم ، ناشدیده ، هغه چې ډېر سوړ نه وی ، خفیف.

- **Mild Degree**

خفیفه درجه لکه د تودوخې خفیفه درجه .

- **Mild Disease**

خفیفه او د لږ شدت لرونکې او ژر تېرېدونکې ناروغۍ لکه والګې.

- **Mild Grade**

خفیفه درجه لکه د تبې خفیفه درجه .

- **Mild Group**

خفیفه ډله (ګروپ) لکه د خفیفې اغیزې ګروپ درمل .

- **Mild Infection**

خفیف ډول میکروبونه لکه د هغه خفیف ډله میکروبونه چې سیپسیس نه پېښوی .

## Mildew

یوډول سطحی فنجي (چنیاسې ) چې پرمرطوبو شیانو پیداکېږي او دنباتاتو یو ډول ناروغي ده چې پر عضوی موادو باندې دچنیاسې په واسطه پیداکېږي او وده مومی، دچنیاسې په دې مراض اخته کېدل.

## Mildly

خفیفاً ،په نرمه، په پسته، سپکه بڼه ، هغه چې ډېره درنده او شدیده بڼه نلری .

- **Mildly Antiseptic Solution**

خفیف ډول انتی سپټیک محلول.

- **Mildly Infectious Disease**

خفیف ډول انتانی ناروغۍ.

## Mildness

نرمی، پوستوالی ، خفیفوالې .

## Milestone

پړاو، ځلی، ښنه چې یو واټن دمیل په حساب ویشي: مهمه پېښه .

## Milia

د (Milium) لپاره ګڼه بڼه بلل شی .

## Millaria

خاربښت لرونکې سره جلدی ضایعه چې د پوستکی په بېلابېلو برخو لکه (صدر ، تخرګ او دواړه ورنونو تر منځ برخه کې) د کوناټیو د لمده بلې او خولې غدواتو افرازاتو او رګونو د راغونډېدو له امله منځ ته راځی چې ورته ( Prickly Heat, Heat Rash) هم ویل شی .

- **Milaria R'ubra**

هغه حالت چې د رګونو مجراګانو د بندښت له امله منځ ته راځی او له همدې پلوه رګونه د اپیدرم دننه ته ننوځی او سوررنګه ویزیکولو پاپولر ضایعات رامنځ ته کوی چې خاربښت او بخار کوی.

## Miliary

میلیری ، جاورسی ، ږدنیز ، د ږدن دانې په اندازه کوچنی ،هغه ډول ضایعه یا ښنه چې د ږدن دانې په اندازه ورته والې لری .

لوشونکې ښځه .

- **Milkman**

شيدې خرڅوونکی.

- **Milk of Magnisia**

د مګنيزيوم شيدې، د ميګنيزيوم هايدروکسايد لرونکې څخه جوړ سسپنشن چې د انتی اسيد او مسهل پوتوګه کارول کيږي.

- **Milksop**

ښځنو کې: په شيدو کې خيشته ډوډۍ.

- **Modified Milk**

د غوا شيدې چې د انسان شيدو د محتوياتو له مخې جوړې شوې دی او هغه ته ورته دي.

- **Soy Milk**

د سويا نبات څخه جوړه هغه مايع چې د کلسيوم څخه بډايه زېرمه لري او د شيدو ځای نيسی .

- **Vitamin.D Milk**

د غوا له شيدو جوړې شوې چې هر کوارټ سره يې (400 IU) په کچه د ويټامين ډي (Vit.D) ور ګډې شوېوی ..

- **White -Milk**

شيدو وزمه، شيدې رنګه، لکه شيدې داسې سپين

- **Witch's Milk**

هغه شيدې چې د نوي زيږېدلي ماشوم له تيبونو ترشح کيږي.

## Milking

لوشل ،دا هغه کړنلاره ده چې د ګوتو پواسطه د تش منځي کانالونو څخه د هغه دننه محتوی بهر ته راوېستل کيږي لکه د کولمو تشولو کړنلاره د ګوتو پواسطه. د ګوتو د طولی حرکت له پواسطه ديوه تيوبی جوړښت محتوی تر فشار لاندې راوستل .

## Milkpox

ميلک پاکس يو ويروس. د (Variola Minor) په انډول.

## Mill

ديوه سنټ لسمه برخه . ژرنده، څرخ، مېچن، هغه ماشين چې د (ميده کولو، ټاپه کولو او نغښتلو او نورو) کارونو لپاره استعماليږي، کارخانه . اوړه / دل کول، اوېل، ژرنده پر له ګرځول ، ترماشين لاندې کول، چورلېدل، څرخېدل .

## Millennium

زرکاله، په تيره هغه زرکاله چې په انجيل کې يې دخوشالۍ زېری راغلی دی، دنيکمرغۍ دوره، هغه دوره چې خوشالي او عدالت پکښې وي، طلايی عصر.

## Miller

ژر نده ګرې ، هغه څوک چې ژرنده چلوی .

- **Miliary Tuberculosis**

جاورسی نرې رنځ ، جاورسی توبرکلوزيس ناروغۍ .

## Milibis

د ګلايکوبيورسول لپاره تجارتي نوم دی او په اميبيازس کې پکاريږي.

## Milieus

چاپېر يال، محيط، پيرامون، اړوند.

- **Milieus exterieur**

بهرنی چاپېريال.

- **Milieus interieur**

دننه چاپېريال.

## Milium

يو ډول کوچنۍ د نرۍ څوکې خاوند (Pin Head) اندازې تومور چې د ځوانانو په مخ کې پيښيږي ، په ماشومانو کې احتباسی سيسټ ، اپيتليائی کوچنۍ کروی ډول د پوستکی لپاسه سيسټ غالباً د ويلوسی وېښته د فوليکول سره مل وی ، ګڼه بڼه يې (Milia) بلل شي.

## Milk

شيدې، هغه مايع چې د تيبونو څخه راوزي او غذائي ارزښت لري.

- **Acidophilus Milk**

دا شيدې اسيدي يا تېزابي شيدې دی چې د لکتوباسيلوس اسيدوفېلوس باکتری پواسطه تومنه نيسی او د کولمو د فلورا د بيارغونې په موخه په هضمی اختلالاتو پکار وړل کيږي.

- **Bismuth Milk**

د بيسموت لرونکې شيدې، چې د اسيد ضد او قبضيت راوړونکې دي.

- **Certified Milk**

د خالص بڼې تصديق شوې شيدې دي، طبي شيدې ،د طبيبانو پواسطه جوړې شيدې چې د مېکروبی محتوی سره مخامخ کېدنې ، د جوړونې پ د مرحلو ، د خوندی ساتنې او کارونې لپاره پکاريږی.

- **Condensed Milk**

د شکرې پواسطه لړه اندازه تبخير شوې او خوږې شوې شيدې.

- **Cow Milk**

د غوا شيدې، هغه پوډری شيدې چې غوا شېدو څخه جوړيږی.

- **Diabetic Milk**

د شکرې ناروغي لپاره پرته له خوږو (شکرې) شيدې.

- **Homogenized Milk**

هغه شيدې چې غوړ يې د تلپاتې (پايدار) ايمولشن په څېر وي.

- **Milkmaid**

**Millet**

ږدن، د ږدنو بوټي .

**Milli-**

دا یو مختاړی دی او د زرو برخو څخه یوه برخه واحد معنی بشپړوی لکه یومیلی ګرام چې ننبه یې (m) ده .

**Milliampere**

میلي آمپیر ، د امپیر زرمه برخه واحد .

**- Milli Ampere Minute**

ملي امپیر دقیقه.

**Millicoulomb**

د کولومب زرمه ($10^3$) برخه اختصاري ننبه یې (Mcoul)ده.

**Millicurie**

د کیوري زرمه ($10^3$)برخه لنډه ننبه یې (mC) ده.

**Millicurie hour**

ملي کیوري ساعت (ګېنټه).

**Milliequivalent**

ملي ایکویلانت ،د ایکولانت زرمه برخه ننبه یې (mEq) ده .

**Milligram**

میلي ګرام د ګرام زرمه ($10^3$)چې ننبه یې (mg) ده.

**Milliliter**

میلي لیتر د لیتر زرمه($10^3$) چې ننبه یې (ml) ده.

**Millimeter**

ملي متر ، د متر زرمه($10^3$) برخه چې ننبه یې (mm) ده.

**Millimicro-**

دا یو مختاړی دی او د یوه میلیون (زرمه) برخه ګڼل کیږي یا "د یو بیلون یوه برخه".

**Millimicrocurie**

د مایکرو کیوري زرمه ($10^3$)برخه چې ننبه یې (µmc)ده.

**Millimicrogram**

د مایکرو ګرام زرمه ($10^3$)برخه چې ننبه یې (µmg)ده.

**Millimicron**

د مایکرون زرمه ($10^3$)برخه چې ننبه یې(µ) ده.

**Millimole**

د مول زرمه ($10^3$)برخه چې ننبه یې(mmole) ده.

**Million**

ملیون، لس لکه، ($10^6$) واحده په اندازې .

**Millionth**

ملیونمه برخه .

**Milliosmol**

د اوسمول زرمه ($10^3$) برخه .

**Millirad**

د راډ (Rad) زرمه ($10^3$) برخه چې ننبه یې(mrad) ده..

**Milliroentgen**

د رونټجن زرمه برخه چې ننبه یې(mr) ده.

**Milliunit**

د یوه واحد زرمه برخه.

**Millivolt**

دولټ زرمه برخه چې ننبه یې(mV) ده.

**Millisecond**

د ثاني زرمه برخه چې لنډه ننبه یې (ms) یا (msec) ده.

**Millisievert**

د تشعشع د اندازه کولو لپاره یو واحد بلل شي

**- Millisievert /year**

کلنی د (Millisievert) ورکړې اندازه چې لنډ ډول (mSv/year) لیکل شي.

**Millstone**

دژرندې پل، د تیږې څلې.

**Milontin**

د (Phensuccimid) لپاره سوداګریز نوم دی چې د اختلاج ضد درملو او صرعي ضد درملو په څېر پکار وړل کیږي.

**Milpath**

د میپروبامیټ او کلورو ترای ډی هګزائیل لپاره سوداګریز نوم دی چې لومړنی آراموونکی او دوهمه یې پاراسمپاتیک بلاک کوونکي درمل دي.

**Milphosis**

د سترګو د سترغلو (جفنونو) او ښو ښکته لوري ته سقوط او راغورځېدنه.

**Milroy's disease**

هغه ارثی ناروغی چې پکې لمفاوی رګونه تړلی او پښه پړسوب مومی د لومړی ځل لپاره دآمریکائی پروفیسور (William Forsyth Milroy) پواسطه په (1892-1942)کال کې شرحه شو.

**Milt**

د نر کبانو (ماهیانو) تناسلي غړی، یا هغه مایع چې دغه غدې د هګۍ اچولو په فصل کې ډکوي او القاح کوي.

نیت، خیال، ماغزه.دماغ، حافظه، عقل، پام،هوښ، اداره، میل، ذوق یادول - یا دلرل ، پام کول (باندې ځرل، پاملرنه کول، په نظر کې لرل)،په فکر کې ساتل، ، پروا لرل، چورت خرابول، ، بوختېدل

**- Open mind**

پراخ ذهن لرونکی.

## Mindful

متوجه، پام لرونکی.

## Mindless

بې فکره، بې مغزه،غبي ،بې پامه.

## Mineral

معدني، منرالونه، د کان اړوند محصولات غیر عضوي ورته کېمیاوي عناصر، کاني ، معدني مواد ، طبیعي مواد ،کاني مواد. ، طبیعي مواد ، معدني اوبه.

**- Trace Mineral**

معدنی کمیابه عنصر.

**- Mineral water**

کاني اوبه، هغه اوبه چې معدني مالګې ولري .

## Mineralocorticoid

هغه ماده چې د فوق الکلیوي غدی د قشر څخه افرازېږي او پر منرالونه باندې اغېزه اچوي. یا د کورټیکوسټیروئیدونو یوه ډله په ځانګړې ډول الډسټرون چې د پښتورګو د ټیوبولونو په اپیتلیائی حجرو باندې اغېزې کوی او د اوبو او الکټرولایټونو په تنظیم کې ونډه اخلی .

## Mineralogist

د معدنی موادو اړوند کارپوه شخص ، د منرالونو پېژندنې متخصص ، کان پېژندونکی.

## Mineralogy

کان پوهنه، دکان او منرالونو پېژندنې علم او پوهه.

## Minerals

ګڼ شمېر منرالونه.

## Minilapratomy

د بطن لپاسه کوچنی څېرنه یا جرحه جوړول د بیوپسي لپاره. دکبدی بیوپسي ، پرانیستي ترانس هیپاټیک کولانجیوګرا فی یا د ټیوبونو د تړلو له لارې د شنډولو لپاره د ګېډې کوچنۍ څیرنه ( شق) تر سره کول .

## Miltown

د میپروباميټ لپاره سوداګریز نوم دی.

## Miltsickness

په څارویو او غواګانو کې د توري ناروغي.

## Milwaukee brace

داسې کمربند چې د هغه کسانو ملاتړ او حمایت چې کړوپ شوي ملا ولری او د ( Metal Pelvic یا Leather Girdle) ډول حوصلې خاوندان وی او د غاړې د حلقې سره قداماً نښلې .

## Mime

پېښې کوونکی، تقلیدي مسخره (کس).

## Mimesis

د یوې ناروغي تنبه او پارول. په یو چا کې د داسې تظاهراتو او نښو نښانو منځ ته راوړل چې ناروغی ونلری .

## Mimic

پیښې کوونکی، خندوونکی،مسخره، مچله.

## Mimicry

تقلید ، پېښې.

## Min

ډېر لږ، ډېر کوچنی اندازه.د ( Minim ،Minimum ،Minut ) په اند ول.

## Minamata disease

د مرکیورې د مسمومیت اړوند ناروغی چې په جاپان او ګڼ شمېر هیوادونو کې د کبانو خوراک له امله منځ ته راځی .

## Mincard

د امینو ترادین لپاره سوداګریز نوم دی چې متیازې راوړونکې (مدرر) درمل دي.

## Mince

اوړه کول ، وړوړ کول ،وړوکی کول ، میده کول، ټوټه ټوټه کول، په ژوبلې لهجه ویل، په نخرو اداکول، په خیال تلل.

## Mincemeat

کوفته شوې غوښه .کوټلې غوښه، ټکېدلې غوښه، په تیره چې نور شیان لکه مڼې او ممیز ورسره ګډوی .

## Mind

ذهن، خاطر، فکر، رأي - رای وهل ، فهم، پوهه، فطر،

## Minim
دا په انګلیسي سیستم کې د (0,0616 Cm3 ) انډول لري. د ظرفیت واحد دئ چې دمایع د اندازې په فارمسی کې استعمالیږی او د (Drachm) شپېتمه برخه بلل کېږی .

## Minimal
د (Minimum) اړوند صفت .

- **Minimal Invasive Surgery**
تر ټولو لږ اندازه مهاجم جراحی عملیه . د ډېرې لوړې درجې تکنالوژی وسایلو کې پکاریږی.

- **Mini Mental State Examination**
دا یو ډول ازموینت چې په رواني ناروغیو پېژندنې کې لکه دماغی تخریب (Dementia) پکار وړل شي.

## Minimum
خورا لږ، بیخي ووړ، تر تر ټولو لږ، اقل حد، اصغري حد ،اصغري، اقل، بیخي لږ.

- **Minimum Lethal Dose**
هغه ډېره لږه اندازه چې د مرګ لامل وګرځی لنډه نښه یې (MLD) ده .

## Ministroke
ډېر خفیف اندازه تېرېدونکې د زړه حمله ، د (Transient Ischaemic Attack) په انډول .

## Minitracheostomy
مؤقت تراخیوستومی (Temporary Tracheostomy) کوچنۍ ډول تراخیوستومی .

## Miniplate
کوچنۍ هډوکیزه پاڼه .

## Minipress
د لپاره (Prazosin- Hcl)لپاره سوداګریز نوم دی.

## Minocin
د (Minocycline- HCL)لپاره سوداګریز نوم دی.

## Minocycline
د تیتراسیکلین کورنۍ څخه یوه نیمه ترکیبي پراخ اغېزې لرونکې انتی بیوتیک درمل .

## Minor
جزئي کوچنۍ ، وړوکي ، ورکوټي ، نابالغ ،هغه چې قانوني عمرته نوی رسیدلی ،په مقدارکې یا په رتبه او اهمیت کې ټیټه کچه ( مو ) ترنیمه پرده ټیټ د تخصص دپاره انتخابول ، داساسی مضمون ( ځانګی ) په توګه لوستل.

- **Minor Exomphalus**
کوچنۍ اکزومفالوس ، هغه ولادی نیمګړتیا ناروغۍ چې ډېری شدیدې نه وی اود نامه غوټۍ د ولادی چرې ( تق) خفیف ډول ناروغۍ بلله شی چې د نیمګړتیا او نققیصې قطر اندازه یې تر (5 cm) څخه نه اوړی.

- **Minor Illness**
هغه ناروغۍ چې ډېری شدیدې نه وی ، خفیف ناروغۍ .

- **Minor Injuries Unit**
په روغتون کې هغه ځانګه چې د ببړنیو او کوچنیو تصادفی جروحاتو درملنه کوی چې لنډه نښه یې (MIU) ده.

- **Minor Omphalocele**
د ( Exomphalus Minor ) په انډول .

- **Minor Surgery**
کوچنۍ جراحی ، صغیره جراحی .

## Minoxidil
دا ترکیبي وسیع الساحه رګونو ته توسع ورکونکې درمل دي د فشار ضد اغېزه لري.

## Mint
فولیکول میوسینوزس.

**Mucinous**

د مخاط څخه جوړ شوی مخاطي.

**Mucinuria**

په متیازو کې د مخاط شتون چې د مهبلی ککړتیا څرګندونه کوی.

**Muciparous**

د مخاط منځ ته راوړونکی، د مخاط افرازوونکې .

**Mucocele**

د یوې حفرې اتساع د مخاط د ترشح سره، یو بلغمي پولیپ.

**Mucociliary**

مخاطی احداب ، د هوائی لارو د اپیتلیال حجرو مخاط اومایکروسکوپیک سلیا ګانو جوړښت سره په تړاو کې.

- **Mucociliary transport**

د مخاطی احدابو پذریعه لېږدونه.

**Mucocutaneous**

د پوستکي او مخاطي طبقې اړوند .

- **Mucocutaneous Leishmaniasis**

جلدی مخاطی دکالدانې ناروغی.

**Muco- enteritis**

د کولمو د مخاطي طبقې نزله یي التهاب.

**Muco – epidermoid**

د مخاط اپیتلیال حجرو منځ ته راتلونکی.

**Mucofibrous**

مخاطي- لیفي.

**Mucogingival**

دمخاط او وریو اړوند .

**Mucoglobulin**

موکوګلوبولین، هر هغه پروتئید چې پلاسین وریورې تړلی وي.

## Muddled
د هغه چا اړوند چې پروسس کې مغشوش بڼه لري .
کودن ، غیر واضیح ، ګیځ ، ګنګس .

## Müllerian Duct
مولرین قنات ، د (Paramesonephric Duct) په انډول چې په (1825–1858) کالونو کې د لومړی ځل لپاره د جرمنی د اناټومی اوفزیولوژی عالم (Johannes Peter Müller) پذریعه شرحه شو .

## µG
مایکرو ګرام د ګرام زرمې برخې(Microgram) لپاره لنډه نښه ده.

## µl
مایکرولیتر ، د لیتر زرمې برخې microliter لپاره لنډه نښه ده .

## Mulatto
دوه رګه .د سپین پوستي او تور پوستي د یوه ځاي کېدلوڅخه پېدا شوئ اولاد ، غنم رنګي.

## Mulberry
توت ، د توت مېوه.

## Mule
کچر، سرټمبه سړئ،سرزوري،اړول راړول، فکر پر کول

## Muliebria
د ښځینه تناسلي غړي.

## Mullet
سپین رنګ لرونکې کب.

## Multangular
د څو زاوي لرونکی جوړښت.

## Multi
دا یو مختاړی دئ چې دشمېر له مخې د څوا (زیاتو) "ګڼ شمېر" معنی بشپړوي.

## Multiallelic
څو الیلي حالت د یو کروموزوم.

## Multi- articular
څو بنده، د څو مفصلونو لرونکی.

## Multi- bacillary
د څو ډوله باسیلونو لرونکی.

## Multicellular
څو حجروي څو سلوله جوړښت.

اړونده چنیاسې پکې شاملېږی اکثراً سپروفایټ دي .

## Mucormycosis
دا یو ډول مایکوز دی چې د میوکور فنګس له ډلې څخه دی دا اکثراً د سږو ناروغي منځ ته راوړي.

## Mucosa
مخاطي غشاء، مخاط.

## Mucosae
ګڼ شمېر مخاطي غشاګانې.

## Mucosal
د مخاطي طبقې اړوند.

## Mucosanguineous
د ویني او بلغم مرکب جوړښت.

## Mucoserous
د بلغم او سیروم ګډ جوړښت مخاطي مصلي.

## Mucosin
هغه میوسین چې په ټینګ یا غلیظ بلغم یا مخاط کې وي.

## Mucosocutoneous
د پوستکي او مخاطي طبقې اړوند .

## Mucous
د چوخړو اړوند ، د ګړنګو اړوندمخاطي، د مخاط یا بلغم اړوند .

- **Mucous Cell**
  مخاطی حجرې چې میوسینوجن چې میوسین افرازوی لري.
- **Mucous Colic**
  مخاطی فلنج ، هغه سپزم لرونکې درد چې د مخاط څخه منشه لري.
- **Mucous Colitis**
  مخاطی کولیت .د (Irritable Bowel Syndrome) په انډول.
- **Mucous membrane**
  د (Mucosa) په انډول ، مخاطی غشأ .
- **Mucous plug**
  هغه مخاط چې د بلاربښت پرمهال د رحمی عنق (سرویکس) کانال برخه بنده/بلاک کوی .

## Mucoviscidosis
سیستیک فیبروز (Cystic Fibrosis) چې پانکراس ډېر مهال اخته کوي.

## Mucus
مخاط، بلغم، د مخاطي غشا څخه د نښتونکی لعاب ترشح چې د میوسین او مالګو څخه جوړ وي او همدارنګه مختاړی چې د (-Blenno) په څېر راځی دا معنی لري.

## Multiceps
د فیتوي چینجی یوه ډله ده.

- **Multiceps multiceps.**
مولتي سپس ـ مولتي سپس دا ګردیو( فیتوی ) چینجیانو یو جنس دئ چې لویوالی مرحلې په سپیو کې په پرازیتی ډول او لاروائی مرحله ( Coenurus Cerebralis) معمولاً د (وزو ،پسونو ، انسانانو عصبی سیستم کې تیروی .

- **Multiceps Coenurus Cerebralis.**
دا ډول په مرکزي عصبي سیستم کې د لاروا په څېر په وزیو (قیح) کې وده مومي.

## Multicentric
د څو ډوله مرکزونو درلودونکې ، څو مرکزی .

- **Multicentric Trial**
څومرکزی کوښښ او تجربه کول د (Multicentric Testing) په انډول.

- **Multicentric Testing**
هغه تجربه او څېړنه چې یوه وخت او مهال په څو مرکزونو کې ترسره کړل شی.

## Multicontaminated
په څو ډوله ناولتیا اخته کېدنه د څو ډوله میکروب شتون.

## Multicuspidate
د څو ګڼ شمېر څوکو لرونکی.

## Multicuspidate
د څو ډوله فکتورونو ( عواملو) لرونکی.

## Multidisciplinary
د څو ډوله خاص او تخصصی مهارتونو لرونکې ، څو ډوله ګڼ شمېر ځانګړو مضمونونواو مسلکونو اړوند .

- **Multidisciplinary Team**
د څو ډوله ټیم لرونکې اړوند لکه په روغتون کې (جراحی ، داخله ، سترګه ، ستوماتولوژی)څانګې .

## Multifactorial
څوفکتیوری ، د څو ډوله لاملو اړوند ، د څو ډوله ارثي جینونو اړوند حالت پورې تړلی ،

- **Multifactorial Inheritance**
د فکتیوری ارثیت اړوند.

## Multifarious
راز راز ، ډول ډول، څو دوله.

## Multifid
د څو سوریو درلودونکی ، په څو ډېرو برخو کې د درزونو شتون .

## Multifocal
څو کانونه ،د څو ټکو درلودونکی.

- **Multifocal Lens**
د څو ډوله عدسیو (Lens) درلودونکې وسیله چې په بېلابیلو واټنونو کې مطابقت کوی.

## Multiform
د څو بڼو، څو ډولو لرونکی، ډېر شکلونه درلودونکې.

- **Erythema Multiforme**
څوشکله سره مخه ، ایریتیما مولتیفورم.

## Multiglandular
پر څو غدو باندې اغېزمن څو غده یي.

## Multigravida
څو ځله بلاربه ښځه هغه ښځه چې د درې ځلو څخه ډېره وار بلاربتیا موندلې وي.

- **Grand Multigravida**
هغه ښځه چې پخوا د شپږ ځله څخه ډېره بلاربه شوې وي.

## Multi-Infarct Dementia
د څو ګڼ شمېر احتشأیي (Strokes) له امله منځ ته راغلې تخریب چې د (Alzheimer's Disease) ناروغۍ په څېر پرمختلونکې بڼه نلری خو نوې حملو په ترځ کې زیاتوالې او شدت مومی.

## Multi -infection
د څو ډوله انتان شتون.

## Multilobular
د څو (ډېرو) فصیصونو " لوبولونو" درلودونکی.

## Multilocular
څو جوفه لرونکی ،د څو جیبونو لرونکی.

## Multinuclear
د څو هستو لرونکی ، څو زړیو لرونکی.

## Multinucleated
د څو ډوله هستو لرونکې اړوند، څو هسته یي لکه میګاکاریوسایټ

## Multi-organ Failure
د څو ډوله غړو (ارګانونو ) عدم کفایه چې حیاتی ارزښت لری لکه د (زړه ، بډوډي، کبد....) عدم کفایه لنډه ښه یي (MOF) ده.

## Multipara
هغه ښځه چې پخوا یې د دوه څخه ډېرې زېږونې کړې وي.

- **Grand Multipara**
هغه ښځه چې پخوا یې د اوه څخه ډېرې زېږونې کړې وي.

## Multiparity
څو ځله زېږونه.یوه بلاربه ښځه چې څو ماشومان یې زېږولي وي.

## Multiparous
څو ځله زېږونه، څو ځله لنګون.

## Multiple
څوځلیز، څوځله، متعدد ،مضاعف ،د (Multiply) په انډول.

## Multiplication
تضاعف،زیاتېدنه ،ډېرېدنه.

## Multipolar
د څو قطبونو لرونکی ، څوقطبي.

## Multisynaptic
د څو ساینپس درلودونکی.

## Multiterminal
د څو انتهاو درلودونکی.

## Multivitamin
د ویټامینونو څخه ګډ جوړښت د( شربت ، ګولیو ، کپسولونو، څاڅکو ، ملحم ، محلولونو ) په بڼه .

- **Multivitamin Pills**
ویټامینونو ټابلیټونه.
- **Multivitamin Supplement**
د ویټامینونو اضافي مستحضرات.
- **Multivitamin Minrals**
ویټامینونو او مینرالونه په ګډه بڼه.

## Multivitamins
څو ډوله سره ګډ د ویټامینونو مرکب.

## Multivalent
د څو ظرفیته درلودونکی. د دوه یا درېو ولانسه اټومونو سره د ترکیب او توان ، د یوه ارګانیزم د څو ډولو پرضد فعالول .

## µmm
د مایکرو میلي متر (Micro Millimeter) لنډه نښه ده ، د ملي متر زرمه برخه بلل شی .

## Mum
چُپ شوې، غلی، بې ږغه، چوپه چوپتیا ، سره سینه.

## Mumble
بنګنېدنه،ژولې خبرکول، زومبدنه بنګیسدل، زومبدل.

## Mummification
د انساجو مومیایي کول او هغه د اوږدې مودې لپاره ساتل. د یوه نسج چملکېدل لکه وچ ګانګرین کې یا په رحم کې په مړه پاتې شوې جنین کې .

## Mummify
مومیایي کول.

## Mummfying
د مومیایي کولو کړنلاره د مړي د جسد د ساتنې په موخه.

## Mummy
مومیایی شوی، مومیایی شوی مړی( لکه په لرغوني مصر کې مومیایی کول).

## Mumps
تڼډ غومبورې مرض،سرپاړې، ډډبغونې،دا یو ډول د پارا میګزو ویروس له کبله حاده اتتانی ناروغي ده چې ماشومان اخته کوي او لعابیه غدوات پدې حالت کې اخته کیږي او همدغه غدوات ضخامه او پړسوب کوي چې ورته عام خلک اډي [بغوټونه یا د (کله چرک)] ناروغي وایي او یا پاروتایتیس(Parotitis) یې بولي داناروغی د سحایاوو اومرغېړو ( خصیو) نیولوتوان هم لري .

## Münchausen's syndrome
هغه عقلی تشوش او روانی ناروغی ده چې یو څوک غواړی د روغتون ته د داخلېدو او بستر کېدنې په موخه کوښښ کوی چې خپل د ناروغی اعراض او علایم شدېد او په لوړه کچه څرګند کړی چې هغوی ورته اصلاً دومره اړتیا نلری د لومړی خل لپاره د (Richard Asher او Baron von Münchhausen) پذریعه په (16th century) پېړۍ کې شرحه شو.

## Münchausen's Syndrome by Proxy
هغه عقلی تشوش او روانی ناروغی ده چې یو څوک غواړی د روغتون ته د داخلېدو او بستر کېدنې په موخه کوښښ کوی چې خپل ماشوم یا خپلوانو د ناروغی اعراض او علایم شدېد او په لوړه کچه د ډېرېیاملرنې په موخه څرګند کړی چې هغوی ورته اصلاً دومره اړتیا نلری د لومړی خل لپاره د (Richard Asher او Baron von Münchhausen) پذریعه په (16th century) پېړۍ کې شرحه شو.

## Munch
چیچل،غرنجول.

## µµG
د مایکروګرام زرمه برخه (Micro Microgram) لنډه نښه بلل شی .

## Mupirocin
د باکتری ضد درمل چې د غیر معایې ستریپتوکوک او ستافیلوکوکونو په د ایمپتیګو په درملنه کې کارېږي.

## Mural
میورال ، جداري، د جدار اړوند. د بدن د جوفونو په جدار کې ایجاد شوي یا له هغوی سره په تړاو کې.

**- Mural thrombus**
میورال ترومبوس، هغه ترومبوس چې د شریانی یا وریدی رګ د جدار لپاسه منځ ته راځی.

## Muramidase
لایزو زایم (Lysozym) انزایم.

## Murder
وژل ،قتلول،وژلې.

## Murderer
وژونکې ، قاتل.

## Murel
د برو موروالتامیت لپاره تجارتي نوم دی د پاراسمپاتیک بلاک کوونکی دی.

## Murexine
دا یو نیوروتوکسین دی چې د (Murex) د حلزون د هایپوبرانکیال غدواتو څخه اخیستل شی اوکه چیرې د (Purpura) جنس حلزون څخه واخیستل شی د پورپورین په نامه یادېږی .

## Murine
د موږک اړوند یا موږک سره په تړاو کې .

## Murmur
مرمر، سوفل د غر عر په څېر ځانګړی غږ چې د زړه په برخه یا رګونو کې په غیر عادي لنډمهالی او پریوډیک ډول سره د اورېدنې وړ وي، ګونګسې کول،پس پسې کول،بنګېدل.

**Accidental Murmur**
تصادفي سوفل، اتفاقي سوفل.

**- Anemic Murmur**
د وینه لږي له کبله سوفل.

**-- Aneurysmal Murmur**
هغه سوفل چې د اینوریزم لپاره اورېدل کیږي.

**- Aortic Murmur**
د ابهر دسام د ناروغي د وینې بهیر له کبله سوفل.

**- Apex Murmur**
د زړه د څوکې د برخې سوفل.

**- Arterial Murmur**
شرياني سوفل چې د انوریزم او تضیق له کبله وي.

**- Austin flint Murmur**
اوستاین فلینت سوفل ،دا پریسیستولیک سوفل دی چې د ابهر عدم کفایې کې د زړه څوکې کې اورېدل کیږي .

**- Blood Murmur**
دا غږ د وینه لږي له کبله په غوږ اورېدل کیږي.

**- Cardiac Murmur**
د زړه سوفل چې لږ وخت نیسی او د زړه دننه د وینې د توربولانس څخه منځ ته راځی.

**- Cardio pulmonary Murmur**
قلبي- ريوي سوفل.د زړه –سږو سوفل

**- Cresendo Murmur**
متزاید سوفل چې د فرط فشار او د زړه د غږونو د شدت په مهال د اورېدنې وړ ګرځي.

**- Carey coombs Murmur**
دا (Mid-diastolic)سوفل دی چې د روماتیک تبې په لومړنیو مرحلو کې د اورېدنې وړ وي.

**- Continuous Murmur**
پرلپسې او متداوم سوفل دی چې د سیستول او ډیاستول په بشپړه مرحله کې د اورېدنې وړ وي.

**- Cruveihier Baumgarten Murmur**
دا سوفل د ګېډې د جدار په برخه کې اورېدل کیږي هلته چې د باب او اجوف ورید اړیکه شتون ولري.

**- Diastolic Murmur**
د ډیاستول سوفل د مایترال دسام تنګي له کبله شتون لري.

i. **Early Diastolic Murmur**
مقدم ډیاستولیک سوفل.

ii. **Mid Diastolic Murmur**
متوسط ډیاستولیک سوفل.

iii. **Pan Diastolic Murmur**
د ټول دیاستول سوفل.

**- Direct Murmur**
مستقیم سوفل.نبغ په نبغه سوفل

**- Duroziez Murmur**
دا هغه سوفل دی چې پر فخذي شریان باندې د فشار منځ ته راوړلو له کبله چې ابهر څخه د وینې راستنبدنې زړه ته یې علت ګڼل کیږي.

**- Ejection clik Murmur**
دا یو سیستولیک سوفل دی چې دا په میډ ډیاستول مهال کې اورېدل کیږي کله د وینې حجم او فشار اعظمي حد ته ورسیږي او د ابهر او ریوی تضیق ناروغیو کې منځ ته راځی .

**- Extracardiac Murmur**
د زړه څخه بهر سوفل منشه لرونکې چې د زړه لپاسه اورېدل شی.

**- Flint's Murmur**
د (Austin Flint Murmur) په انډول.

**- Friction Murmur**

د (**Friction Rub**) په انډول.

**- Functional Murmur**

وظیفوی سوفل چې د زړه او غړو ناروغیو پورې تړاو نلری .

**- Gibson Murmur**

دا یو اوږدمهالی غږ لرونکی سوفل دی چې ډېر د سیستول او ډیاستول مرحله نیسي چې په دوهمه کینه بین الضلعي مسافه کې اوربدل کیږي چې د ابهر او ریوي شریان تر منځ د اړیکې له کبله منځ ته راځي.

**- Graham steell's Murmur**

دا د ریوي دیکورجیتیشن او ریوي فرط فشار او مایترال تنګوالی له کبله دا ډول سوفل اوربدل کیږي.

**- Innocent Murmur**

وظیفوي سوفل دی د (**Functional Murmur**) په انډول.

**- Machinary Murmur**

د (**Gibson Murmur**) په انډول .

**- Mitral Murmur**

د مایترال دسام سوفل د مایترال د ناروغي له کبله.

**-Musical Murmur**

هغه د زړه سوفل چې پریوډیک ډول وی او موزیکاله بڼه لری.

**- Organic Murmur**

د زړه او د نورو غړو د ناروغي او بدلون له کبله سوفل.

**- Pansystolic Murmur**

ریګورجیتیښن سوفل چې د سیستول په ټوله صفحه کې د سوفل شتون لری .

**- Pathologic Murmur**

د ټول سیستول سوفل،پتالوژیک سوفل .

**- Pericardial Murmur**

د پریکارډ سوفل ، د (پریکارډیال رب) په انډول.

**- Physiologic Murmur**

د وظیفوي سوفل (**Functional Murmur**) په انډول.

**- Prediastolic Murmur**

د زړه ډیاستول څخه دمخه سوفل یا له هغه سره یوځای مل وی چې د مایټرال دسام یا ریوی دسام عدم کفایې او انومالیو کې لیدل شی .

**- Presystolic Murmur**

د سیستول څخه دمخه سوفل چې د بطین څخه د وینې د وتلو څخه دمخه منځ ته راځی علت یې د مایترال دسام تنګوالی بلل کیږي چې د وینې د چټک بهیر او د اذین انقباض سره مل وی.

**- Pulmonic Murmur**

ریوی سوفل ، د ریوي شریان د ناروغي له کبله سوفل.

**- Regurgitant Murmur**

د وینې د ریګورجیتیشن له کبله کله چې د دسام له لارې کله چې وینه بېرته راوګرځي دغه سوفل منځ ته راځي.

**- Seagull Murmur**

دا یو موزیکال غږ دی چې سیند د مرغه غږ په څېر ورته والی لري او د ابهر په عدم کفایه کې مکرراً اوربدل شي دغه سوفل ته (**Musical Murmur**) هم وایي.

**- Still's Murmur**

دا د زړه وظیفوي سوفل دی چې په ماشومانو کې اوربدل شی او دکم فریکانس لرونکې اهتزازی یا نا مفهومه کیفیت درلودونکې وی.

**- Systolic Murmur**

سیستولیک سوفل دامعمولاً د(مایترال ، ترای کسپید، ) دسامونو عدم کفایې یا د (ابهر یا ریوی) دسامونو د تنګوالي او بندښت له کبله منځ ته راځي.

i. **Early systolic Murmur.**

مقدم سیستولیک سوفل.

ii. **Mid systolic Murmur.**

متوسط سیستولیک سوفل.

iii. **Pan systolic Murmur.**

د ټول سیستول سوفل.

**- To-and – fro Murmur**

هغه سوفل یا مښلې (مالشی) غږ چې په سیستول او ډیاستول کې اوربدل کیږی.

**- Tricuspid Murmur**

د تراکسپید دسام سوفل.

**- Vascular Murmur**

د رګونو لپاسه د اوربدنې وړ سوفل.

**- Visicular Murmur**

د سږو نورمال غږ چې غوږونو پواسطه د تنفس پر مهال د اوربدنې وړ وي.

**- Muromonab CD3 Murmur**

د انسانی (**T**) حجرې د (**CD3**) انتی جن په ضد د موږک مونوکلونال انتی باډی چې د پښتورګی د پیوند حادې نه منني په درملنه کې د معافیت پېزوانوونکې درملو په توګه کاربږی .

## Murphy's Sign

د مورفی علامه (نښه) ، دا علامه د تریخی کڅوړې برخه کې د ګېډې لپاسه د فشار راوستلو د جس پرمهال تثبیت کیږی چې لومړی ځل (**John Benjamin Murphy**) امریکائی جراح پذربعه په (**1912–1916**) کالونو کې شرحه شو.

## Murrain

مرګو،وبا،د غواګانو وبا ناروغي هغه ناروغي چې غواګانې په کتلوي ډول وژني.

## Murrina

دا یو ډول تریپانوزومیاز دی چې د کچرو، آسونه تر منځ

شتون لري په مرکزي او جنوبي (سویلي) امریکا کې لیدل کیږي.

## Mus

دا د (Mus.Muscularis) اوکورنی موږکانو په ګډون دی چې په کورونو کې شتون لري او شخوند وهونکو یو جنس بلل شی.

## Masca[1]

دا د (M.Doxestica) په ګډون د مچانو یوه ډله ده چې په کورونو کې معمولاً شتون لري او ناروغی لېږدوی کېدای شی (Myiasis) رامنځ ته کړی .

## Musca[2]

یو مچ.

## Muscae

ګڼ شمېر مچان. د ګڼ شمېر حجراتو ټوټې چې په ویتریوس د سترګو کې

**- Muscae Volitantes**

د ګڼ شمېر حجراتو اضافی ټوټې چې په ویتریوس د سترګو کې معمولاً په زړو کسانو کې چې سمدلاسه ورته د سترو د شبکیې (Retinal Haemorrhage) خونریزی منځ ته راغلې وی شتون لری ورته (Floaters) هم ویل شی.

## Muscarine

دا یو ډول وژونکي او خطرناک الکلوئید دي دا د اماتنیا موسکاریا فنګس او راز راز خُسا شوي کبانو څخه لاس ته راغلې.

## Mucarinic

هغه چې کولینرجیک اغېزې د موسکارین د (Postganglionic) دبعد العقدوی (پاراسمپاتیک) عصبي سیالي لپاره څرګندوي او د موسکارین ته ورته اغېزې لرونکې ماده.

## Muscle

عضله، غوښه، ماهیچه، غښتلتوب، هغه غړې چې د خپل انقباض سره د بدن د یوې برخې د حرکت لامل ګرځی .

**- Agonistic Muscle**

هغه عضله چې بلې عضلې ته متضاد عملي کوي.

**- Antagonistic Muscle**

انتاګونیست عضله چې د بلې عضلې کار خنثی کوی .

**- Articular Muscle**

هغه عضله چې یو لوری ې د مفصلي کپسول سره اړیکه لري.

**- Bell's Muscle**

هغه عضلاتی برخه تار ونه چې د متیازو د سوری او اوولاوزیکا ترمنځ ځای لری او د مثانې د مثلث بریدونه ټاکی.

**- Brucke Muscle**

د عضلاتو هغه برخه چې د حالبي مثانې فوحي او مثانې د جدار تر منځ واقع وي او د مثانې مثلث برخه یې نیولې ده.د پاڼه ائیزې عضلې طولی الیاف .

**- Cardiac Muscle**

د زړه عضلات چې غیر ارادی مخطط نوعیت لری.

**- Cervical Muscle**

د غاړې (ورمېږ) برخې ټول عضلات.

**- Extraocular Muscle**

هغه شپږ د سترګو د ګاتې بهرنی عضلې چې د سترګو حرکت تنظیمولو مسؤلیت لری.

**- Extrinsic Muscle**

بهرنی عضلې ، هغه عضله چې د له یو داسې هډ یا غړی څخه منشه اخیستې وی چې ددې عضلې کاری موخه نه وی.

**- Facial Muscle**

د مخ عضلات چې د قیافې په څرګندولو کې رول لری.

**- Fixation Muscle**

فرعی تثبیت کوونکي عضلات چې د یوه غړی په تثبیتولو کې رول لری ، د (Fixator Muscle) په انډول.

**- Gavard Muscle**

د معدې د څټ جدار مایله عضلات.

**- Hamstring Muscle**

د ورون د خلف عضلات.

**- Horner's Muscle**

د سترګو عضلاتو اوربیکولار یس او کولی د اوښکو برخې عضلات.

**- Hoston's Muscle**

بولبو کورنوزوس عضلات چې د قضیب د شا برخې ورید ته تقبض وربخښي.

**- Hypomeric Muscle**

هغه عضله چې له یوه هایپومیر څخه منشه اخلي او د نخاع د قدامي ښکر څخه عصب اخلي.

**- Intrinsic Muscle**

داخلي عضلات چې مبدا او انتهایې په هماغه غړي کې وي لکه هغه عضلات چې ټول په سترګه کې دي.

**- Involuntary Muscle**

غیر ارادي عضلات. هغه عضله چې کار یې د شخص تر کنترول لاندې نه وی.

**- Landstrôm's Muscle**

دا کوچنی عضلي رشتې دي چې د سترګو د ګاتې خلف ته شته والی لري او د سترغلو د پوښ قدام ته غزیږي.

**- Langer's Muscle**

لانګر عضلې د اوږې څخه د مټ تردوه سرې (Biceps) پورې وي.

**- Lingual Muscle**

د ژبې اړوند دننه اوبهرنی عضلات چې ژبه په حرکت راولی.

**- Lushka's Muscle**

د عجز او رحم تر منځ لیګامنت چې د عضلاتو جوړ دی.

**- Masticatory Muscle**

د خولې د ژوولو اړوند مسؤل عضلات .

**- Müller Muscle**

د بڼو ګردي ډوله رشتې چې د عضلاتو جوړې دي.

**- Muscle Coat**

عضلی طبقه لکه د کولمو د جدار عضلی طبقه.

**- Muscle's of Expression**

اظهای عضلات ،د (سکالپ ، غوږ، لبمو، پوزې ، خولې او پلاستیما) د عضلاتو په ګډون د مخ د جوړونکو عضلاتو یوه ډله چې د مخ دپوستکی اظهاراتو اړوند دنده لری.

**- Muscle Fatigue**

عضلی ستړیا ، د ډېر اعظمی تمرین او کار وروسته د عضلې ستړی کېدنې حالت ، د ( **Muscular Fatigue**) په انډول .

**- Muscle Fibre**

عضلی رشتې ، عضلی ریښه د غوښنې برخې اساسی ریښې.

**- Muscle Relaxant**

استرخا ورکوونکې عضلات ، هغه چې تقلصات له منځه وړی لکه (**Baclofen**) په څېر.

**- Muscle Spasm**

د عضلاتو تشنج او سپزم ، د تقلص ورکونکې عضلات.

**- Muscle Spindle**

یو د حسی رسپټورونو څخه چې د (**Striated Muscle**) عضلاتو رشتو لپاسه پراته وی.

**- Muscle Tissue**

خاص عضلی نسج چې د تقلص او بسط لامل ګرځېدلای شی ، د (**Muscular Tissue** ) په انډول .

**- Muscle Wasting**

عضلی ویلې کېدنه ، د عضلې دکتلې د کمښت له امله د وزن بایلل چې ډېر ګر کېدنه پېښېږی.

**- Nonstriated Muscle**

ښویه عضلات غیر مخطط عضلات.

**- Ochsner's Muscle**

د اوکسنر عضلات.

**- Ocular Muscle's**

د سترګو د ګاټو عضلات.

**- Orbicular Muscle's**

حلقوي یا کړیز عضلات، هغه عضلات چې د بدن یوه سوری لکه (سترګه یا خولې) په چاپېر ځای لری .

**- Organic Muscles**

عضوي یا حشوي عضلات ، د (**Visceral Muscle**) په انډول.

**- Phillips Muscle**

د لیچي او مړوند برخې عضلات چې د راډیوس (کعبري) هډوکي څخه د لاس د ګوتو لوري ته غزېدلې دي.

**- Reisseisen Muscle**

په کوچنیو برانشونو کې ښویه عضلات.

**- Rider's Muscle**

د ورنونو نږدې کوونکې عضلات.

**- Rouget's Muscle**

د باڼو د عضلې ګردی برخه.

**Ruysch's Muscle**

د ځېلانځې غور یا رحم د عنق عضلاتې جوړښت.

**- Skeletal Muscle**

اسکلیتي عضلات چې د هډوکو سره اړیکه لري.

**Smooth Muscle**

ښویه عضلات غیر مخطط عضلات دي.

**- Smooth Muscle**

ملسأ عضلات .غېر ارادی مخطط عضلات .

**- Striated Muscle**

مخطط عضلات چې ارادي دي د (**Striped Muscle**) په انډول.

**- Striped Muscle**

لیکه عضلات ، پټه عضلات ، لاریز عضلات: موړه عضلات ، تغمه عضلات، هغه عضلات چې الیاف یې د عرضانی پټیو په واسطه په کرښو ویشل شی لکه مخطط عضلات.

**- Synergic Muscle**

همآهنګه یا هم کوښښه عضلات چې یو د بل په کار کې مرسته او کوښښ کوي ، د (**Synergestic Muscle**) په انډول.

**- Thenar Muscle**

د ورغوي د بټې ګوتې (تینار) برخې تبعدی او تقربی دندو لرونکی عضلات.

**- Voluntary Muscle**

ارادي عضلات ، هغه عضله چې کار یې د شخص ترکنترول لاندې وی.

**- Yoked Muscle**

یو په بل پورې تړلې عضلات. هغه عضلات چې کار یې همغږی او مساوی وی لکه د سترګو حرکت ورکوونکی عضلات.

## Muscular

د غړي ،عضلي، د عضلاتو اړوند .

**- Muscular branch**

داعصابو عضلی څانګه چې سیالې لېږدوی.

**- Muscular defence**

عضلی دفاع ، دعضلاتو هغه شخی چې د التهاباتو پرمهال منځ ته راځی لکه د بطن د جدار شخی د پریتونیت پر مهال.

**- Muscular disorder**

عضلی تشوش ، چې عضلات متأثر کوی او د (**Cramp or Strain** ) په څېر نښې منځ ته راوړی.

## Musculotropic

د عضلاتو محرک.

## Musculus

عضله ، د (Muscle) په اند ول.

## Muse

اندېښنه کول،ځیرکول، فکر کول.

## Mushroom

مرخیړي،پوځکي،تبنتېدل،خپرېدل. مرخېړی، پوځکی، دمځکې ستوری،ګوبلکه ژرلویېدل، تبنتېدل، خپرېد ، ډینګری ، قارچ ، سماروق ، کاپرخولۍ ، یو ډول زهری نباتی بوټي دئ چې په صحرا کې وده مومی او خوراک یې زهرجن هم بلل کېږی .

## Music

موسیقي ،سازونه،موزیک.

## Musical

موسیقی لرونکې ، د موسیقی اړوند.

**- Musical Murmur**

موسیقی لرونکی (شور ماشور لرونکی ) سوفل.

**- Musical Sound**

موسیقی لرونکې غږونه .

## Musicotherapy

د موسیقي "سازونو" پواسطه د ناروغي درملنه.

## Musky

مُشکي ، مُشکبار، د مُشکو خوشبوی ، دمُشکو شاتته ورته والې.

## Musophobia

له موږک څخه وېره درلودنه.

## Mustache

بریت ،بریتونه ، بریتور .

## Mustard

موستیارډ ، اوري ، د اوری نبات دانه ، دا یو سوزونکی ډول جوړښت دی چې د براسیکانیګرا یا براسیکاژونسه آله نبات څخه لاس ته راځي چې تخریشي، تنبهي اغېزې لري. د (Binigra) او (Brassica Alba) پخې شوی دانې چې محرک غوړی لری.

**- Nitrogen Mustard**

نایتروجن موستارد.

**- Salfer Mustard**

مصنوعي جوړښت دی چې غبرګونیز او مسموم کوونکی دی.

## Mustargen

**- Muscular Dystrophy**

عضلی ناروغتیا چې عضلات ضعیف ناتوانه کوی او شحمی نسج په ذریعه بدلېږی لکه د (Duchenne Muscular Dystrophy) په څېر .

**- Muscular Fatigue**

عضلی ستړیا د (Muscle Fatigue) په اند ول .

**- Muscular Relaxant**

عضلی استرخاورکوونکو درملو اړوند .

**- Muscular Rheumatism**

عضلی روماتیزم چې دملا او غاړې برخې دردونه د فیبروزس او عضلی التهاباتو له امله پېښوی.

**- Muscular System**

عضلی سیستم ، د بدن عضلات برخه چې په ټول بدن کې شتون لری.

**- Muscular Tissue**

عضلی نسج ،د (Muscle Tissue) په اند ول .

## Muscularis

د عضلي پوري تړلي د عضلي اړوند.

**- Lamina muscularis**

عضلي پاڼه یا عضلي صفحه.

**- Tunica muscularis**

عضلي طبقه.

## Musculature

د بدن عضلاتي سیستم د یوې ځانګړې برخې عضلات.

## Musculi

عضلات، ماهیچه.

## Musculo-

دا یو مختاړې دې او د عضلاتو معنی بشپړوی.

## Musculoaponeurotic

د عضلاتو او صفاق (اپونیوروز) اړوند.

## Musculocutaneus

عضلي جلدي، د عضلاتو او پوستکي اړوند.

## Musculomembraneous

عضلي غشائي.

## Musculophrenic

عضلي حجاب حاجزي.

## Musculoskeletal

د عضلاتو او اسکلیت اړوند ، عضلي اسکلیتي.

## Musculotendinous

د عضلاتو او تینډون اړوند عضلي وتري.

## Mutation

تحول، بدلون، اوښتنه،، ناڅاپي بدلون په وراثت کې نسکور کېدنه په ځانګړي ډول د يو جن اوښتنه چې په راتلونکو نسلونو کې تازه بدلونونه منځ ته راوړي.

**- Chromosomal Mutation**

کروموزومي موټيشن.

**- Induced Mutation**

دا يو ډول جنيتيک موټيشن دی چې د بهرني فکتورونو پواسطه د تجربې پر مهال ناڅاپه منځ ته راځي.

**- Point Mutation**

د ټکي په څېر موټيشن. هغه ميوټيشن چې د (DNA) د موليکول په يوه رشته کې د بدلون لامل ګرځي.

**- Somatic Mutation**

دا هغه جنيتيک موټيشن دی چې په يوه سوماتيک حجره کې منځ ته راځي او د موزائيک ناروغي لپاره بنسټ ږدي.

**- Suppressor Mutation**

هغه ميوټيشن چې په بشپړه يا نسبي ډول د فينوټايپي بڼه پوښي خو په بل ځای کې يې رابرسېره کوي چې ښائي د جين دننه يا بهرته منځ ته راشي.

## Mute

ګونګی، بې ژبې، چوپ، غلې کول، لالي، پرته له غږه د غږ له منځه تلل، په خبرو کولو نه توانېدل.

## Mutilation

د يوه ( غړي، اندام) د له منځه وړلو عمليه او کړنلاره او همدارنګه هغه پايله چې لدې کبله منځ ته راځي.

## Mutism

د خبرو کولو ناتواني ګونګوالی، خاموشي، چپتيا. په خبروکولو کې ناتوانی يا له خبرو کولو ډه ډه کول چې اکثر په رواني ناروغيو کې لېدل کېږي.

**- Akinetic Mutism**

بې حرکته ګونګوالی. هغه حالت چې پکې شخص نشي کولای پخپله خپل غږ توليد کړي چې غالباً د دريم بطين ناروغی کې منځ ته راځي.

**Deef Mutism**

د کوڼوالي له کبله ګونګی حالت.

**- Elective Mutism**

په ماشومانو منځ ته راتلونکې ذهني د رواني او روحي ناروغيو له کبله چې په پرلپسې توګه خبرې کول رد کوي او نه غواړي ناروغه خبرې وکړي يا په خبرو کولو کې ناتواني يا له خبرو کولو ډه ډه کول قصداً منځ ته راځي.

**- Hysterical Mutism**

د هستيريا له کبله ګونګوالی.

د مکلورتامين لپاره تجارتي نوم دی چې د نيوپلازم ضد اغېزه لري.

## Mustacism

د پرته له غږه (کانسونانت) د تورو نادرسته تلفظ ته ويل کيږي.

## Musty

وروست، خوسا، بوئين، بويناک.

## Mutable

بدليدونکی، تغيير منونکی وسواسي.

## Mutagen

هغه عامل چې جنيتيکی موټيشن القأ کوي.

## Mustagenesis

د جنيتيکي موټيشن د تر سره کولو کړنلاره. د بدلون او تغير پيښوونه.

## Mutagenic

هغه عامل چې موټيشن منځ ته راوړي.

## Mutagenicity

د موټيشن منځ ته راوړلو وړتيا او توان درلودنه.

## Mutant

موټيشن موندلی، تحول، بدلون، ناڅاپي بدلون په وراثت کښې، اوښتی نسکور شوی، هغه ارګانيزم چې تر جنيتيکی ميوټيشن لاندې راغلې وی.

**- Mutant gene**

هغه جين چې تر ميوټيشن لاندې راځي.

## Mutarotase

هغه ايزوميريز چې له الفأ (α) بڼې څخه بېتا (β) هغې ته د (ډيګلوکوز، ال رايبوز، ډيګلاکتوز، ډي زايلوز، لاکتوز او مالتوز) د اوښتون چاره کتلايز کوي.

## Mutate

تر جنيتيک تغيراتو لاندې راتلل لکه باکترياوی سمدلاسه تغير کوی او په متزايد ډول سره د منتن کېدو وړتيا پيدا کوی.

## Mutarotation

هغه مرکبونو په اوپټيکی څرخېدنه کې اوښتون چې له اوپټيکی پلوه فعال محلل کې دی، د يوه فعاله جوړښت د اغېزې بدلون د وخت د تېرېدنې له کبله چې د روښنائي يا وړانګو له کبله منځ ته راځي.

## Mutase

هغه انزايم چې مجدداً د ماليکولونو ترتيب منځ ته راوړي.

**Muton**

هغه جن چې وکړای شي د موټیشن له کبله بدلون و مومي.

**Mutual**

دوه اړخیزه، دوه پلوايیزه، ګډ.

**Mutualism**

د دوه متفاوتو ډولونو لرونکو دوه شخصیتونو تر منځ بیولوژیکه تړاو ، د تعاون همزیستي اصول د بېلا بېلو ډولونو دوکسه په ټولنیزه او ګډ ډول ژوند کول دي چې دواړو ته سود مندوي او کله نا کله پرته یو د بله د ژوند کولو وړتیا نلري.

**Mutalist**

همزیسته ،ګډ ژونده غوره کوونکی.

**MV**

طبي وترنر، حیواني ډاکتر(Medicus Veternarius) لنډه نښه ده.

**Mv**

د یو کېمیاوي عنصر مندلیویوم (Mendelevium) لپاره لنډه نښه (Mv) ده.

**mV**

میلي ولټ (Millivolt) لپاره لنډه نښه ده.

**μV**

مایکروولټ (Microvolt) لپاره لنډه نښه ده.

**MWIA**

د ښځو طبیبانو بین المللي ټولنه (Medical Women's International Association) لپاره لنډه نښه ده.

**MVP**

د مایټرال دسام پرولاپس (Mitral Valve Prolaps) لپاره لنډه نښه ده.

**MW**

د مالیکولی وزن(Molicular Weight) لپاره لنډه نښه ده.

**My-**

دا یو مختاړی دی چې د عضلې معنی ورکوي.

**Myalgia**

د عضلاتو درد. د غوښنې برخې درد.

**- Epidemic Myalgia**

په اپیډیمیک بڼه د عضلاتو درد.

**Myalgic**

د میالجي اړوند حالت.

**- Myalgic Encephalomyelitis**

هغه اوږد مهالي حالت چې عصبی سیستم اخته کوی چې ناروغان یې خپه انحطاطی ، ضعف او عضلی دردونو احساس لری چې ورته ( Chronic Fatigue Syndrome او Postviral Fatigue Syndrome )هم ویل شی لنډه نښه یې (ME) ده.

**Myanesin**

د میفنیزین لپاره تجارتي نوم دی د عضلاتو استرخا ورکونکی دی.

**Myasthenia**

د عضلاتو ضعف، عضلاتی نا تواني او کمزوري کېدنه.

**- Angiosclerotic Myasthenia**

د رګونو د تصلب او کلکوالي له کبله د عضلاتو ضعف چې پکې رګونه بدلون مومي.

**- Familial Infantile Myasthenia**

په نوی زېږېدلو ماشومانوکې ارثی ناروغی ده چې د ( تغذیوی ستونزې ، اپنې اپیزودونو ،دسترګو خفیف فلج ، سترګيا او کمزورتیا ) په مرسته پېژندل شی.

**- Myasthenia gastrica**

د معدې د عضلي جدار د مقویت کمزوری او ضعیفوالي.

**- Myasthenia Gravis**

میاستینیا ګراویس هغه مزمن ډول عضلاتي فلج چې پرمختلونکې او پرته له اټروفي وي چې د عصب –عضلی په اتصالی ځای کې د اسیتایل کولین رسپټورونو پر ضد د انټی باډی ګانو د شته والی له امله منځ ته راځی او د عضلاتی سیستم کمزورتیا په مرسته پېژندال شی ، د ( Myasthenia Gravis Pseudoporalytica) په انډول.

**Neonatal Myasthenia**

د اتېریدونکی میاستینیا ډول دی چې په هغه ماشومانو کې منځ ته راځي چې مور یې په میاستینیا اخته وي.

**Myasthenic**

د میاستینیا اړوند.

**Myatonia**

د عضلي اټوني د عضلاتي برخې د تونوس لږوالی.

**- Myatonia Congenita**

په ولادي ډول د عضلاتي بې قوتی حالت.

**Myatrophy**

د عضلاتو اتروفي (ضمور)، د عضلاتو ویلي کېدنه او کوچنی کېدنه.

**Myc-**

دا یو مختاړې دئ چې د [ (Myco-) د چنیاسې او فنګس یا Mycete] معنی بشپړوی.

**Mycelium**

د یوه فنګس د رشتې برخه.

**Mycelial**

د مایسلیوم اړوند.

**Mycete**

فنګس.

**Mycetismus**

د فنګسونو پواسطه مسمومیت.

**Mycetogenic**

د فنګسونو څخه منځ ته راغلې.

**Mycetoma**

مدورامایکوزس د فنګسونو څخه جوړه شوې توموري کتله.

**Myco-**

دا یو مختاړې دئ چې د چنیاسو یا فنګس معنی بشپړوی.

**Mycobacteria**

مایکو باکتریاګانې د مایکوپاکتریوم ګڼ شمېر.

**Mycobacteriaceae**

د شیزومایست له کورنۍ څخه یوه ډله.

**- Mycobacteriaceae Kansasii**

په انسانانو کې د نري رنځ ته ورته ناروغي عامل.

**- Mycobacteriaceae Lepara**

د جذام "خوراړې" لپاره سببي عامل دی.

**Mycobacteriaceae Tuberculosis**

د نري رنځ ناروغي لپاره سببي عامل دی نری رنځ مایکوباکتریوم د اسید په وړاندې مقاوم ګرام منفي باکتریائي باسیل دی

**Mycobacterium**

ګرام مثبت او اسید مقاوم باکتری ګانو یو ډول د (Mycobacteriaceae) له کورنۍ څخه چې د جذام (خوراړې) او نری رنځ ناذوغۍ پېښوی.

**- Anonymous Mycobacterium**

غېر توبرکلوزی مایکوباکتریوم.

**- Atypical Mycobacterium**

غېر وصفی مایکوبکتریوم.

**- Group I-IV Mycobacterium**

غېر توبرکلوزی مایکوباکتریوم.

**- Mycobacterium Tuberculous**

د نري رنځ ناروغي لپاره سببي عامل دی نری رنځ مایکوباکتریوم د اسید په وړاندې مقاوم ګرام منفي باکتریائي باسیل دی.

**- Nontuberculous Mycobacterium**

غېر توبرکلوزی مایکوباکتریوم.

**Mycococcus**

د شیزومایست له کورنۍ یوه ډله ده.

**Mycodermatitis**

کاندیازس د مخاطي غشاء التهاب د فنګس له کبله.

**Mycogastritis**

د معدې د مخاطي غشا التهاب دکاندېدیازس فنګس له کبله.

**Mycolog**

په فنګسونو پوه او عالم که ، د (Mycologist) په انډول.

**Mycology**

د فنګسونو د څېړنې اړوند علم او پوهه.

**Mycomyringitis**

د صماخ د پردې فنګسي التهاب.

**Myconostoc**

د شیزومایست له کورنۍ یوه ډله ده.

**Mycopathology**

فنګسي ناروغي پېژندنه.

**Mycophylaxin**

د میکروبونو ضد فیلاکسي (Phylaxin) دی.

**Mycoplana**

د شیزومایست له کورنۍ څخه یوه ډله ده.

**Mycoplasma**

د شیزومایست له پلاتیسماسیه کورنۍ څخه یوه ډله ده ، د لوړ پلیومورفیزم ښبستن . د وحیدالحجروی دیوالونو نلرونکې مایکروارګانیزم چې ګرام منفی او هوازی دئ خو غېر هوازی ژوند هم کولای شي)

**Mycoplasma Mycoides**

په غواګانو کې د پلورو پنومونې سببي عامل دی.

**Mycoplasmataceae**

د شیزو مایست له کورنۍ څخه یوه ډله ده چې د منفرد جنس څخه منځ ته راغلی ، مایکوپلازما.

**Mycoplasmatales**

د شیزو مایست له کورنۍ څخه یوه ډله ده.

**Mycosis**

د فنګسونو له کبله منځ ته راغلي ناروغي ده.

**- Mycosis Favosa**

د (Favus) په اند ول.

**- Mycosis Fungoides**

دا د پوستکي وژونکي او خطرناکه ناروغي ده چې فنګسي تومور، خوارېدنه، ضعف او ډېر درد شته والی ولري.

**- Mycosis interdigitalis**

د ګوتو تر منځ برخو کې د فنګسونو انتاني ناروغي حالت دی، د (Dermatophytosis) په اند ول.

**Mycosozin**

د فنګسونو ضد (Sozin) درمل دي.

**Mycostasis**

د فنګسونو د ودې او تکثر ځخه مخنیوی.

**Mycostat**

د فنګسونو د ودې ودرونکی.

**Mycostatic**

د فنګسونو د ودې او تکثر مخنیوی کوونکو اړوند.

**Mycostatin**

د (Nystatin) لپاره تجاتي نوم دی.

**Mycotoxicosis**

د فنګسونو له کبله د مسمومیت حالت.

**Mycotoxin**

د فنګسونو توکسین یا زهر.

**Mydriasis**

د سترګو د کسي اتساع میدریازس.

**Mydriatic**

د سترګو د کسي توسع ورکونکي مواد.

**Myectomy**

د عضلاتو غوځول او راویستلو جراحی کړنلاره.

**Myectopia**

د عضلاتو د بې ځایه کېدنې حالت.

**Myel-**

دا یو مختاړی دی او دماغزو (مُخ) او ملا نخاع معنی ورکوي.

**Myelapoplexy**

په نخاع کې وینه، د (Hematomyelia) په اند ول .

**Myelatelia**

د نخاع رسی غیر عادي وده.

**Myelatrophy**

د نخاع د رسی ضمور او کوچنیوالی.

**Myelemia**

د (Myelocytosis) په اند ول.

**Myelencephalon**

د (Hindbrain) خلفي برخه چې د میډولا اوبلانګاټا ( Medula Oblangata) او څلورم بطین ښکتنی برخې څخه منځ ته راځي. د مغزی دوه ویزیکولونو خلفی برخه چې د جنینی ودې په بهیر کې د خلفی ماغزو د تخصصی کېدو څخه منځ ته راځی.

**Myelin**

هغه پسته ماده چې د عصبي رشتې د اکسیون منځ احاطه کوي.

**- Myelin sheath**

میالینی پوښ طبقه چې د سیالې لېږد ته چټکتیا وربخښی.

**Myelinic**

د میالین اړوند، میالیني.

**Myelination**

د (Myelinization) په اند ول.

**Myelinization**

د میالین جوړېدنه، د اکسون په چاپېریال میالین جوړول.

**Myelinolysis**

د میالین له منځه تګ او ویجاړېدنه.

**Myelinopathy**

د ماغزو د سپینې مادې استحاله.

**Myelinoma**

د میالین څخه جوړ تومور.

**Myelinosis**

د میالین د منځ ته راتلو سره سم غوړینه (شحمی) استحاله.

**Myelinotoxic**

په میالین باندې ویجاړونکی اغېزه لرونکی.

**Myelitic**

د نخاع التهاب پورې اړوند د حرام مغز التهاب اړوند.

**Myelitis**

د نخاعي رسی التهاب.

**- Ascending Myelitis**

دصاعده نخاعي التهاب.

**- Cavitary Myelitis**

د حفره یي نخاع التهاب.

**Myelocystocele**

د سیست په څېر د ملا د تیر څخه د نخاع د طناب فتق.

**Myelocystomeningocole**

د نخاع او سحایا طبقو فتق د ملا د تیر څخه.

**Myelocyte**

د میلو سیت اړوند حجره میلوسایټ دا یوه وصفي سور رنګه د هډوکو د ماغزو حجره ده چې وروسته بیا د وینې په سپینه کریوه اوړي.

**Myelocytic**

د میلوسایټ حجرې اړوند.

**Myelocytoma**

د میلوما (Myeloma) تومور.

**Myelocytomeningocele**

د ګرانولوسایت د کړۍ پریکارسور چې د پرومیلوسایت او میتامیلو سایت تر منځ حجروی منځنۍ حد دئ.

**Myelocytosis**

په وینه کې د میلوسایت حجرو زیاتوالی.

**Myelodiastasis**

د نخاع جدا شوې برخه ، تجزیه شوې برخه.

**Myelodysplasia**

د نخاع ناکامله وده.

**Myeloencephalic**

نخاعي- دماغی ، نخاعي- مغزي د نخاع او ماغزو اړوند.

**Myeloencephalitis**

د ماغزو او نخاع التهاب.

**Myelofibrosis**

د هډوکو د ماغزو بدلېدنه په فیبروزي نسج باندې.

**Myelogenesis**

د عصبي سیستم د ودې او تکامل بشپړتیا حالت.

**Myelogenic**

د (Myelogenous) په اند ول.

**Myelogenous**

د هډوکو په ماغزو کې منځ ته راغلی.

**Myelogeny**

د عصبي رشتو د میالین پوښونو وده او تکامل.

**Myelogone**

د میلوئید د لړۍ د وینې سپینه کریوه چې د رتیکولار هسته لري.

**Myelogonic**

د میلو ګون(Myelogon) اړوند صفت.

**- Central Myelitis**

د نخاع د خړ (مرکزي) نسج التهاب.

**- Dissiminated Myelitis**

د منتشر نخاعي التهاب.

**- Focal Myelitis**

د ټکي په څېر د نخاع موضعي التهاب.

**-Transvers Myelitis**

د نخاع منتشره مستعرض التهاب.

**- Osteomyelitis**

د هډوکو د مُخ یا غزو التهاب.

**Myelo-**

دا یو مختاړې دئ او ماغزو - مرکز (مُخ او ملا نخاع معنی بشپړوی.

**Myeloablation**

د هډوکې د ماغزو شدید ډول نهی کېدنه.

**Myeloablative**

د (Myeloablation) اړوند صفت.

**Myeloarchitecture**

په نخاع کې د عصبي برخو سازمان تړل.

**Myeloblast**

هغه د هډوکو د ماغزو اومه حجره چې وروسته په میلوسیت بدلیږي.

**Myeloblastemia**

په وینه کې د میلو بلاستونو ډېر شته والی.

**Myeloblastoma**

د میلو بلاست حجرو تومور په میلو سایتیک لوکېمیا کې وي.

**Myeloblastomatosis**

د ګڼ شمېر میلو بلاستوما شته والی.

**Myeloblastosis**

په وینه کې میلوبلاست حجرو شتون دی.

**Myelocele**

د نخاع فتق دی چې دا نیمګړې ولادي ناروغې پدې حالت کې د ملاتیر د فقراتو خلفي قوسونه او نتو شته والی نلري او د هغه برخې څخه نخاع بهر راوتنه کوي چې د یوې نری غشاء یا پوستکي پواسطه پوښلې وي. د (Meningomyelocele) په اند ول.

**Myelocyst**

هغه سیست چې د هډوکو ماغزو د ودې نه موندلې برخې لاړې کې منځ ته راغلې وي.

د (Bence Jones) پروټین یوریا ، وینه لږي پکښي منځ ته راځي او د همدغه له رویه پیژندل کیږي.

**- Sclerosing Myeloma**

د اوستیو سکلیروزیس سره مل میلوما چي غالباً محیطي نیوروپتي په واسطه راڅرګندیږي.

## Myelomalacia

د هډوکو د ماغزو او د نخاع پتالوژیک پوستوالی او نرمښت.

## Myelomatosis

په بنفسهي توګه د ډیرو ګڼ شمیر میلوماګانو منځ ته راتګ، هر ډول د لوکیمیا حالت چي په وینه کي زیاته اندازه میلوبلاست حجري ولیدل شي.

## Myelomeningitis

د نخاع او سحایاو د طبقانو التهاب.

## Myelomeningocele

د نخاع او سحایا فتق ،د (Meningomyelocele) په انډول.

## Myelomere

د نخاع د رسۍ یا د ماغزو د ایمبریونیک مرحله هره برخه چي وي.

## Myelon

د نخاع رسۍ، شوکي نخاع.

## Myeloneuritis

د نخاعي رسۍ او محیطي اعصابو التهاب.

## Myelonic

د نخاع اړوند نخاعي.

## Myeloparalysis

د نخاع فلج د نخاع ګوزڼ.

## Myelopathic

د نخاع د ناروغي اړوند.

## Myelopathy

د نخاع یا مږوکو د ماغزو هر ډول ناروغي.

**- Carcinomatous Myelopathy**

د نخاع نکروز یا چټک پرمختلونکي ډي جنریشن چي ددې سیمي له سرطان سره یوځای منځ ته راځي.

**- Chronic Progresive Myelopathy**

د لمفوما (I - Type) لوکیمیا د ویروس څخه زیږنده انتان سره مل د تدریجي پرمختګ لرونکي سپاستیک پاراپاریزیس.

**- HTLV-1-associated Myelopathy**

پرمختلونکي مزمنه لوکیمیا.

**- Sclerosing Myelopathy**

تصلبي د نخاع ناروغي.

## Myelogram

د نخاع اړوند ثبت شوي تصویر (انځور ) چي د میالوګرافی وروسته اخیستل شي.

## Myelography

دا د نخاع د راډیو ګرافي انځوریز فیلم اخیستنه ده چي د رنګه مادي (ښکاره کېدونکي مادې) د تیرولو وروسته عکس اخیستل کیږي.

## Mylohyoid

داپه ښکته ژامنه کي د ژرندي غاښ او هایوئید هډوکو اړوند صفت.

**- Mylohyoid Line**

میلو هایوئید کرښه ، د هغه کرښي اړوند چي د ښکته ژامني بهر ته اوږده پرته ده او د هډوکي پورته برخي چي (خولي او ښکته ژامني) غاړه جوړوي ویشني لپاره پکاریږي.

## Myeloid

هډوکیز ماغزه،د هډوکو د ماغزو اړوند د نخاع اړوند.

**- Myeloid Leukaemia**

میالوئید لوکیمیا چي په غټانو کي د حاد لوکیمیا له امله منځ ته راځي.

**- Myeloid Tissue**

سور رنګه د هډوکو ماغزه (مُخ عظم).

## Myeloidosis

د میلوئید نسج منځ ته راتګ.

## Myelolymphocyte

غیر طبیعي کوچنی لمفوسیت حجره.

## Myelolipoma

دا د ادرینال غدی سلیم او نادر تومور دی چي (د لمفوسایتوز ، شحمي نسج او اولیه میلوئید حجرو ) څخه جوړ دی.

## Myeloma

دا د هډوکو د ماغزو (مُخ) تومور دی.هغه تومور چي جوړوونکي حجري یي د هډوکی د ماغزو همانغه نارمل حجري دي.

**- Giant cell Myeloma**

د غټو(جیانت) حجراتو میلوما.

**- Multiple Myeloma**

د (Myeloma Cell Plasma) په انډول.

**- Plasma cell Myeloma**

دا ګڼ شمیر میلوما یا د پلازما حجراتو میلوما تومور دی چي د هډوکو په ماغزو کي د پلازما حجراتو په ګڼ شمیر سره منځ ته راځي او د اسکلیت د هډوکو ویجاړیدنه، پتالوژیک کسرونه، د هډوکو درد ، د ایمیونوګلوبولین انبارمل حالت په وینه کي او

نیمګړتیا هم ورسره مل وي.

**Myeloradiculopathy**

د نخاع او د نخاعي عصبي رشتې ناروغي.

**Myelorrhagia**

د نخاع وينه بهېدنه. د هيمتوميليا په انډول.

**Myelorrhaphy**

د نخاع د ګنډلو او بخيې وهلو جراحي کړنلاره.

**Myelosarcoma**

هغه سارکوما تومور چې د نخاعي يا هډوکو ماغزو يا ميلوئېډنسج څخه منشه اخلي.

**Myeloscintogram**

دا د ذراتو خطي ثبت دی چې د تحت العنکبوتبه فضا ته د راډيو ايزوتوپ ماده زرق کيږي او دستګاه پواسطه هغه شمېرل او ثبت کيږي.

**Myelosclerosis**

د نخاع تصــلب او کلکېدنه د هډوکو د مخ تصــلب ، ميلوفيبروزس په انډول.

**Myelosis**

د ميلو سيتونو زياتوالی د نخاعي تومور منځ ته راتګ ، د ميالوسايتوزس په انډول.

**- Erythremic Myelosis**

د ايريترولوکېميا په انډول، هغه حالت چې ډېره اندازه ايريتروئيد او د رتيکولو اندوتيليال حجرې د هډوکو په ماغزو کې تشبيت کيږي.

**Myelospongium**

هغه شبکه چې د هغه څخه نيوروګلي (Neurglia)منځ ته راځي.

**Myelosuppression**

هغه حالت چې پکې مُخ عظم نشي کولای کافی اندازه وينه توليد کړي چې دا معمولاً د کېموتراپی څخه وروسته منځ ته راځی.

**Myelosupressive**

د نخاع انحطاط ورکوونکی ،د هډوکو د مخ انحطاط ورکوونکي مواد چې پکې د حجراتو توليد لږوالی مومي.

**Myelotomy**

د نخاع د عصبي رشتو جلا کول د نخاع وازول.

**Myelotoxic**

د نخاع او هډوکو د ماغزو ويجاړونکي زهر يا سمي

**- Sopndylotic cervial Myelopathy**

د رقبي برخې د نخاع سپانډيلوزس د ترضيض له امله ثانوی ميلوپتی چې په ولادي توګه نرۍ نخاعي رسۍ شتون لري.

**- Transrers Myelopathy**

مستعرض ډول د نخاع ناروغي.دا هغه نخاعی نيمګړتيا يا ضايعه ده چې په ټول قطر له نخاع څخه تېره شوېوی .

**- Vascular Myelopathy**

د مايکروسکوپيک واکيولرايزيشن سره مل د نخاع اسفنجی ډوله استحاله او د ميالين نشتوالي چې د انسانی معافيتی نيمګړتياپه ويروس د عفونت له امله منځ ته راځی .

**Myeloperoxidase**

هيموپروتين د پراکسيديز فعاليت سره دا انزايم په لومړنيو پروميلوسايټونو، ميلوسايټونو او نيوتروفيلونو کې واقع کيږي او د باکتريسيد، فنګسونو ضد او ويروسونو ضد درملو اغېزه زياتوي.

**Myelopetal**

د نخاع د رسۍ لوري ته حرکت کول.

**Myelophage**

د ميالين خوړونکې لويه حجره، هغه ماکروفاژ چې ميالين خوري.

**Myelophthisis**

د نخاع ويلې کېدنه او له منځه تلل.

**Myeloplast**

د هډوکو د ماغزو هره سپينه کريوه چې وي.

**Myeloplax**

غټه حجره، د هډوکي د مخ څخه د جيانت څو هسته يي حجره.

**Myeloplegia**

د نخاع فلج د نخاع ګوزن.

**Myelopoiesis**

د ميلوسايتونو يا د هډوکو د ماغزو منځ ته راتګ.

**Myelopoietic**

د ميلوپوايزس (Myelopoiesis) اړوندصفت .

**Myeloproliferative**

د هډوکو د ماغزو يا د نخاع د ارتشاح يا د تکثير د ميلوئيد نسج اوصافو درلودونکی.

**Myeloradiculitis**

د نخاع او د عصبي رشتو التهاب.

**Myeloradiculodysplasia**

د نخاعي رسۍ د ودې نيمګړتيا چې د عصبي رشتو

**Myoblast**

هغه جنیني حجره چې په عضله باندې بدلیدونکې وي.

**Myoblastic**

د (Myoblast) اړوند صفت

**Myoblastoma**

هغه تومور چې مایوبلاست یا هغه ته ورته حجرو څخه جوړ وي.

**- Granular Cell Myoblastoma**

دا خبیث تومور دی چې د شونډو د مخاط یا د خولې په نورو جوړښتونو کې د دانه لرونکې حجرو سره چې کوچنی ګردې هستې لري او حبیبوي بڼه لري دا حجرې پکښې د تثبیت وړ دی.

**Myocard**

د زړه د میوکار (Myocardium) د عضلې طبقه.

**Myobradia**

د عضلې پڅ غبرګون د تحریک په وړاندې.

**Myocardiac**

د زړه د میوکارډ عضلې اړوند.

**Myocardial**

د زړه د میوکارډ عضلې اړوند.

**- Myocardial Infarction (MI)**

د مایوکارډ د عضلې احتشأ. د مایوکارډ د عضلې ته و وینې نه رسېدنې له امله احتشأ.

**Myocardiograph**

هغه وسیله چې د زړه د حرکاتو منحنی او ګراف ثبتوي.

**Myocarditis**

د زړه د میوکار د طبقې التهاب.

**- Acute Isolated Myocarditis = Fiedler's Myocarditis.**

د نامعلومه علت له کبله د زړه د میوکار د طبقې حاد التهاب.

**- Fledler's Myocarditis**

د (Acute Isolated Myocarditis) په اند وول.

**- Giant Cell Myocarditis**

دا یو ډول حا د ایزولیټېډ مایوکارډیت دئ چې د (څو هستوی جیانت (Giant) حجرو او نورو التهابی حجرو ،بطی ډایلاټیشن ، د جداری ترومبوزونو او نکروزس د پراخو سیمو) په شته والې پېژندل کېږي.

**- Granulomatosis Myocarditis**

دا د جیانت (Giant) حجرو مایوکاردیټ دئ چې د ګرانولوماتوز جوړېدنې سره مل مل وی.

**- Hypersensitivity Myocarditis**

هغه مایوکاردیټ چې د (سولفان امايد، پینی سیلین او میتایل ډوپا)

مواد و اړوند.

**Myelotoxin.**

هغه زهر چې په نخاع او هډوکو مخ اغېزه کوي.

**Myenteric.**

د کولمو د عضلاتي طبقې او یا عضلاتي پوښ اړوند.

**Myenteron.**

د کولمو عضلاتي طبقه.

**Myesthesia.**

د عضلې حساسیت.

**Myiasis**

دا د مچانو د لاروا د تیرې او یرغل مرحله پر بدن باندې ده چې پکښې د مچانو لاروا پوستکی، معدې کولمو، پوزې، بلعوم او د میتازو لاره تر تیرې (یرغل) حملې لاندې نیسي او هلته ناروغي منځ ته راوړي.

**Myitis**

د عضلې التهاب.

**Mylohyoid**

د غاښونو د مولار او هایوئید هډوکي اړوند.

**Myk-**

دا یو مختاړی دی چې د فنګس معنی بشپړوي.

**Myko-**

دا یو مختاړی دی چې د فنګس معنی بشپړوي.

**Myleran**

د بوسلفان لپاره تجارتي نوم دی چې په مزمن لوکېمیا کښې پکارېږي.

**Myo-**

دا یو مختاړی دی د عضلې معنی بشپړوي.

**Myoalbumin**

هغه البومین چې په عضلاتو کې وي.

**Myoalbumose**

دا یو ډول پروتین دي چې د عضلې له شیرې څخه لاس ته راځي.

**Myoarchetecton**

د عضلاتي رشتو د ترتیباتو او جوړښت.

**Myoarchetectonic.**

د عضلاتي رشتو د ترتیباتو او جوړښت پورې اړوند.

**Myoatrophy**

د عضلاتو ضمور، د عضلاتو کوچنی کېدنه او ویلې کېدنه.

- **Intention Myoclonus**

هغه وخت منځ ته راځي چې یوه عضله خپل ارادي کار پیل کړي.

- **Nocturnal Myoclonus**

په یوه داسې کس کې غبرېټالوژیک مایوکلونیک ټوپ (ځېز) چې د ویده کېدو په حالت کې وي یا ویده شوې وي.

- **Palatal Myoclonus**

د تالو یا کام یا دواړه لورو چټک ریتمیک کښته او پورته کېدنه چې غالباً د هماغه لورې د (مخ، ژبې، بلعوم، او دیافراګم) یو مهال همزمانه حرکت سره مل وي ،د کام برخې مایوکلونوس.

## Myocoele

د مایوم په منځ کې جوف ، د یو مایوټوم دننه جوف.

## Myocyte

د عضلي نسج حجره.

- **Anichkove's Myocyte**

د (Anichkove's)عضلي نسج حجره.

## Myocytic

د عضلي نسج حجرې (Myocyte) اړوند صفت.

## Myocytolysis

د عضلاتي رشتو ویجاړېدنه.

- **Coagulative Myocytolysis**

د یوې انقباضي ګېډۍ نکروزس.

- **Focal Myocytolysis Of The Heart.**

د ټکي په څېر د زړه د عضلي طبقې له منځ تلل او ضایعه چې لومړی د بدن د داني په څېر دغه ضایعه منځ ته راځي چې Syncytium او بیا Stroma له منځ ځي او په پایله کې د التهابي غبرګونیز حالت له منځ او د نکروز پواسطه ځانګړی کیږي.

## Myocytoma

هغه تومور چې د عضلي حجراتوڅخه منځ ته راغلی وي.

## Myodemia

د عضلي غوړینه یا شحمي استحاله.

## Myodiastasis

د عضلي رشتو لېرې والی یو د بل څخه.

## Myodynia

د عضلاتو درد ،د (Myalgia) په انډول.

## Myodystonia

د عضلاتي کتلې د مقویت د له منځه تللو اختلال.

## Myodystrophy

د عضلاتو د تغذي اختلال، پدې حالت کې عضلات کوچنی والی او ضمور (اټروفي) کوي.

په څېر عواملو په وړاندې د حساسیت له امله منځ ته راځي.

**Interstitial Myocarditis**

دا ډول په بنسټیز ډول بین البیني فیبروزي نسج نیسي.

## Myocardium

میوکارډیوم، د زړه د تر ټولو پنډه طبقه یا منځنی عضله طبقه ده.

- **Hibernating Myocardium**

خوبولې او ویده مایوکارډیوم .

- **Stunned Myocardium.**

جذاب او په زړه پورې مایوکارډیوم ، ګیرا او دلفریب مایوکارډیوم،بېهوښه کوونکې مایوکارډیوم، عالي مایوکارډیوم ، ښه مایوکارډیوم ، محرکه مایوکارډیوم.

## Myocardosis

هر هغه استحالوی او غیر التهابي اختلال چې د میوکارډ طبقې اړوند وي چې د ( فرط فشار، رګونو تصلب او یا تایروئید غدې د ډېر کار) له کبله منځ ته راځي.

## Myocele.

د عضلي فتق یا ځُړه د هغه له پوښه څخه.

## Myocellulitis.

میوزیت Myositis او سلولیت Cellulitis په ګډه توګه شتون.

## Myocerosis.

د عضلي د موم په څېر استحاله.

## Myochrome.

هغه پګمنټ چې د عضلې د پګمنټونو اړوند وي.

## Myochrysine.

د فیومالیټ سودیم سره زرو لپاره تجارتي نوم دی او د روماتوئید ارتریت او لوپوس اریتماتوزس په درملنه کې ګټه اخیستل کیږي.

## Myoclonic

د (Myoclonus) اړوند صفت .

- **Myoclonic Epilepsy**

مایوکلونیک ډول صرعه (مېرګي) چې پکې اندامونه پرلپسې ټکانونه مومي .

## Myoclonus

د عضلاتو د یوې یا ټولې برخې یا په ګډ ډول د یوې ډلې عضلاتو ناڅاپه انقباض اړوند حالت ته ویل کیږي.

- **Essential Myoclonus**

اساسي مایوکلونوس ، هغه حالت چې د نامعلومه لامل سره وي چې د یوه هیجان او ارادي حرکت پواسطه پیل کېږي.

**Myoedema**

د عضلاتو اذیما ، عضلاتو سترېیا او پړسوب له ترضیض وروسته.

**Myoelectric**

د عضلاتو د الکتریکي خواصو اړوند.

**Myoendocarditis**

د مایوکاردیت او اندوکاردیت ګډ حالت.

**Myoepithelial**

د عضلي اپیتلیال حجرو اړوند.

**Myoepithelioma**

د عضلي او اپیتل حجرو تومور.

**Myoepithelium**

هغه نسج چې د عضلي او اپتیل حجرو څخه منځ ته راغلې وي.

**Myofascitial**

د عضلاتو د چاپېر صفاق د اخته کېدو سره په تړاو کې .

**Myofascitis**

د یوې عضلې او د هغې د پوښ التهاب.

**Myofiber**

عضلاتی رشته /فایبر.

**Myofibril**

د عضلې د رشتې تر ټولو نری عنصر منځ ته راوړونکې ټوټه. د عضلي تار (رشته) چې د مایو فیلامنټ څخه جوړه وي.

**Myofibrillar**

د مایوفیبریل اړوند.

**Myofibroblast**

د مایوفیبرو بلاست حجرې.

**Myofibroma**

د مایوم او فیبروما څخه ګډ جوړ تومور.

**Myofibrosis**

د عضلاتي نسج پر ځای د فیبروز نسج تعویض کېدنه.

**Myofibrositis**

د عضلاتي رشتې د پوښ التهاب ، د (**Perimysitis**) په اندول.

**Myofilament**

د ښویه عضلې د میو فیبریل یوه حجره.

**Myogelosis**

د عضلې د مادې کلکېدنه.

**Myogen**

هغه پروتین چې د عضلې په پلازما کې شتون لري.

**Myogenesis**

د عضلي رشتو یا تارونو منځ ته راتګ او ایمبریوتیک ژوند ودې په لړ کې.

**Myogenetic**

د مایوجنیزس اړوند.

**Myogenic**

د عضلاتي رشتو منځ ته راوړونکی.

**Myogenous**

د عضلاتي نسج څخه جوړ شوی.

**Myoglia**

هغه د تار په څېر ماده چې د عضلاتي حجرو پواسطه جوړ وي.

**Myoglobin**

د عضلي صباغ د اوکسیجن لېږدونکی فعالیت تر سره کوي.

**Myoglobinuria**

دا غېر نورمال حالت دئ چې متیازو کې د (**Myoglobin**) شته والي حالت څرګندوی.

**Myoglobulin**

هغه ګلوبولین چې د عضلې له سیروم څخه لاس ته راځي.

**Myogram**

مایوګرام ، د مایوګرافي پواسطه لاس ته راغلی انځور یا ګراف.

**Myograph**

هغه دستګاه چې عضلاتي انقباضونه ثبت کوي.

**Myographic**

د (**Myograph**) اړوند صفت.

**Myography**

د مایوګراف د ثبت کړنلاره د عضلاتو توصیف. د عضلاتو توصیف، د کثیفه مادې د تزریق څخه وروسته د عضلاتی نسج رادیوګرافی .

**Myohemoglobin**

د عضلاتي نسج هیموګلوبین.

**Myoid**

عضلې ته ورته.

**Myoidema**

د ترضیض څخه وروسته د عضلاتو له منځه تګ او

په ټول بدن کې د عضلاتي تومورونو منځ ته راتګ.

**Myomectomy**

د عضلاتي تومور غوځول او راوېستل.

**Myomatous**

د عضلاتي تومور اړوند ، مايومايي.

**Myomelanosis.**

په عضله کې د نورو صباغونو رسوب يا ډنډ کېدنه.

**Myomere**

يوه جنيني عضلاتي ټوټه. د (Myotome) په انډول.

**Myometer.**

هغه دستګاه چې د عضلي تقلص اندازه پرې ټاکل کيږي.

**Myometrial**

د ځېلانځي (رحم) ښويه عضلي اړوند صفت. مايومتريوم اړوند صفت.

**Myometritis**

د ميومتريوم التهاب.

**Myometrium**

د ځېلانځي يا رحم ښويه عضلي طبقه.

**Myoneme**

دا يو ظريفه نرى د انقباض وړ عضلي رشته ده چې په بعضې حجراتو کې په سايتو پلازم کې د موندنې وړ ده.

**Myoneuralgia**

په يوه عضله کې عصبي دردونه.

**Myoneural**

په عضله د عصبي ريښې د انتها اړوند.

**Myoneure**

د عضلي عصب.

**Myoneuroma**

د عضلي نسج عصبي تومور.

**Myoneurosis**

عضلاتي نيوروزس.

**Myopachynsis**

د عضلي هايپر تروفي "ضخامه".

**Myopalmus**

د (Muscle Twitching) په انډول. عضلاتی لړزا.

**Myoparalysis**

د عضلي فلج ،عضلي ګوزن.

ويلې کېدنه.

**Myoischemia**

د عضلي يوه ټکي ته د وينې نه رسېدنه.عضلی ايسکيميا.

**Myokinase**

د عضلي هغه انزايم چې د ATP فاسفوريشن په ADP او AMP باندې کتلايزس او تر سره کوي. د ( Adenylate Kinase) په انډول.

**Myokinesimeter**

د عضلي د حرکت ټاکونکې آله او اندازه کوونکې آله.

**Myokinesis**

د عضلاتو حرکت، د عضلاتي رشتو تغير مکان په ځانګړې ډول د جراحی په بهير کې د عضلاتی فايبرونو ځای پرځای کول.

**Myokinetic**

د عضلي د حرکت (Myokinesis) اړوند صفت.

**Myokymia**

د عضلاتو ځنډ پاتې کېدونکې لړزه (رپېدنه).

**Myolemma**

د عضلاتي رشتو نرى او ظريفه غشاء.

**Myolipoma**

هغه عضلاتي تومور چې شحمي يا غوړين عناصر ولري.

**Myologia**

د عضلاتو د څېړنې اړوند علم او پوهه، د (Mycology) په انډول.

**Myology**

د عضلاتو د څېړنې اړوند علم او پوهه.

**Myologist**

د عضلاتو په علم پوه ډاکتر.

**Myolysis**

د عضلاتي نسج استحاله.

**Myoma**

د عضلاتي نسج تومور.هغه عضلی سليم تومور چې د عضلاتی عناصرو څخه جوړ وی.

**Myomagenesis**

د عضلاتي تومور د منځ ته راتګ کړنلاره.

**Myomalacia**

د عضلاتي نسج پوستوالی او نرمښت.

**Myomatosis**

**Myopathic**

د عضلاتو ناروغي اړوند.

**Myoparesis**

د عضلاتو لږه اندازه فلج.

**Myopathy**

د عضلاتو ناروغي.

**- Myotubular Myopathy**

د (Centronuclear Myopathy) په انډول.

**- Nemaline Myopathy**

په ولادي توګه غیر نورمال مایوفیبریل.

**- Ocular Myopathy**

د سترګو د ګاټو بهرني عضلاتو ضعیفوالی چې د جفنی سقوط (پتوزس) علت ګرځي.

**Myope**

نیږدي لیدونکی دا د سترګو اختلال ناروغي ده. د (**Myopia**) په انډول.

**Myopericarditis**

د مایوکارډیوم او پریکارډ ګډ التهاب.

**Myopia**

نیږدي لیدنه.

**- Curvature Myopia**

انحنایي نیږدي لیدنه.هغه نیږدي لیدنه چې د سترګې د انعکاس سطحې د انحنا د بدلون له امله منځ ته راځی .

**- Index Myopia**

دا د غیر طبیعي انکسار له کبله په روښانه محیطونو کې نږدې لیدنه.هغه نیږدي لیدنه چې د سترګو د محیطونو د غیر نارمل انعکاس له امله وی .

**- Malignant Myopia**

خبیث نږدې لیدنه دا یو پرمختلونکی ډول دی چې د مشیمې د ناروغي سره ده او په پایله کې د شبکې انفصال او ړوندوالي سبب ګرځي. د (Pernicious Myopia) په انډول .

**- Progressive Myopia**

دا پرمختلونکی ډول دی د ځواني په عمر کې وي.

**Myopic**

د مایوپیا اړوند .

**Myoplasm**

د عضلي حجرې متقلصه برخه یا مایوفیبریل.د سارکو پلازم (Sarcoplasm) په انډول.

**Myoplastic**

د عضلې د پلاستیک جراحي کړنلارې اړوند .

**Myoplasty**

د پلاستیک جراحي کړنلاره د عضلې لپاره.

**Myopsychosis**

هر هغه عصبي- عضلي اختلال چې د رواني او ذهني اختلال ورسره وي.

**Myoreceptor**

عضلاتي نیونکی هغه نیوونکی چې په عضله کې ځای لري او د عضلاتي انقباضاتو پواسطه تحریک مومي.

**Myorrhaphy**

د عضلې ګنډل او د بخیې وهلو کړنلاره.

**Myoplasty**

د پلاستیک جراحي کړنلاره د عضلې لپاره.

**Myoplasm**

د عضلي حجرې متقلصه برخه یا مایوفیبریل.

**Myopsychosis**

هر هغه عصبي- عضلي اختلال چې د رواني او ذهني اختلال ورسره وي.

**Myoreceptor**

عضلاتي نیونکی هغه نیوونکی چې په عضله کې ځای لري او د عضلاتي انقباضاتو پواسطه تحریک مومي.

**Myorrhaphy**

د عضلې ګنډل او د بخیې وهلو کړنلاره.

**Myorrhexis**

د عضلاتو څیرېدنه.

**Myosalpinx**

د ځېلانځې (رحم) د نفیرونو عضلاتي نسج.

**Myosarcoma**

د عضلاتي تومور مایوم او سارکوما ګډ ډول جوړښت.

**Myoschwannoma**

هغه تومور چې د شوان پوښ څخه منشه اخلي.

**Myosclerosis**

د عضلې تصلب د عضلې کلکېدنه.

**Myosin**

یو د دوه پروتینونو څخه چې د عضلاتو په انقباضاتو کې دخالت لري.

**Myosinose**

هغه البوموز چې د مایوزین له هضم څخه لاس ته راځي.

**Myositis**

د عضلاتو التهابي ناروغي.

**- Myositis Fibrose**

په عضلاتو کې فیبروزي التهاب.

**- Inclusion Body Myositis**

هغه پرمختلونکې التهابی مایوزیټ چې تر ټولو دمخه د حوصلې او پنډیو عضلات نیسی.

**- Multiple Myositis**

د (**Dermatomyositis**) په اند ډول.

**- Ossificons Myositis**

هغه عضلي التهاب چې پکې د هډوکي نسج راټولېدنه کوي.

**- Proliferative Myositis**

ارتشاحی مایوزیټ سلیمه او چټک وده کوونکې فعاله نوډولار ضایعه چې نوډولي فسیایټس ته ورته ده خو ځانګړنه یې د اسکلېټی عضلی دننه د فیبروبلاستونو پرولېفریشن شنېړل کېږی.

**- Trichinous Myositis**

د (**Trichinella Spiralis**) د شتون له کبله د عضلي نسج التهاب ته ویل کیږي.

## Myospasm

د عضلې سپزم.

## Myosteoma

په عضله کې هډوکیز ډول تومور.

## Myosynizesis

عضلي نښتنه.

## Myotactic

د عضلاتو د حس یا لمس کولو اړوند.

**- Myotatic Reflex**

هغه عضلی عکسه چې نېغه شی تقلص کوی.

## Myotasis

عضلاتي کشېدنه عضلاتي کشش.

## Myotatic

د عضلاتي کشش اړوند صفت.

## Myotenositis

د عضلې او تینډون په ګډه ډول التهاب.

## Myotome

د عضلاتو د غوڅولو او بېلولو لپاره وسیله ده.

## Myotomic

د مایوټوم اړوند.

## Myotomy

د عضلې نسج غوڅولو کړنلاره د جراحي پواسطه.

## Myotonia

د عضلې کشش یا عضلي ټونیسیستي زیاتوالی چې دعضلاتو تحریک د زیادښت د عضلې سستوالې او دتوان د کمښت سره یوځای د انقباض لامل ګرځی.

**- Myotonia Atrophica**

اتروفیک مایوټونیا.

**- Myotonia Congenita**

له موره زیږیدلی یا ولادي مایوټونیا دا ارثي ډول عضلي سپزم دی چې په بعضې عضلاتو کې شتون لري.

**- Myotonia Dystrophica**

دا د عضلاتو پر مختلونکی ډول کلکوالی او اتروفیک ډول نادره ناروغی ده.

## Myotonic

د مایو ټونیا اړوند.

## Myotonometer

د عضلې ټونیستي ټاکونکې آله.

## Myotonoid

د عضلې غبرګون تقلص او استرخا ښودونکی. د عضلې دغبرګونونو راځرګندونه چې ورو انقباض یا سست کېدنې په بڼه پېښېږی.

## Myotonus

د عضلې یا یوې ډلې عضلاتو ټونیستي او سپزم حالت.

## Myotrophic

د عضلې د هایپرټروفي اړوند.

## Myotrophy

د عضلې تغذیه.

## Myotropic

عضله خوښول او عضلې ته لېوالتیا ښودنه.

## Myotubule

د عضلې په رشته کې د یوه جوف منځ ته راغلی حالت.

## Myotubular

د مایوتیوبول اړوند.

## Myovascular

د رګ او عضلاتو اړوند.

## Myria-

دا یو مختاړی دی دا د واحدونو د نوم اېښودنې او ټاکنې ښودنې لپاره تر (**104**) پورې پکاریږي.

## Myriapoda

د ارتروپورا له کورنۍ څخه یوه ډله ده.

## Myriapodiasis

په مایریا پوډا باندې اخته کېدنه "زرپښې لرونکی".

دا ماده له کومیفورا ململ نبات څخه لاس ته راځي او د محافظې د عامل په څېر پکار وړل کیږي.

**Myrtle**

یواروپائی تل شین بوټی چې توری دانې او خوشبویه ګلان لري.

**Mysoline**

د پریمیدون لپاره تجارتي نوم دی د اختلاج ضد درمل دي.

**Mysophillia**

یو ډول پارافیلیا چې ناروغ د کثافاتو او ناولتیا سره لېوالتیا او شهوتی چلند پواسطه پېژندل شی.

**Mysophobia**

د تغوط ککړتیا ،ناولتیا او کثافاتو څخه وېره درلودنه.

**Mytacism**

د خبرو په مهال د "م" له توري څخه ډېر کار اخیستل.

**Mytelase.**

د آمبنونیوم لپاره تجارتي نوم چې د کولین ایستراز ضد دی او د عضلاتو قدرت ته زیاتوالی وربخښي.

**Mythomania.**

په ناروغي ډول سره د دروغ ویلو سره لېوالتیا.

**Mythophobia.**

د دروغو څخه وېره درلودنه.

**Mytilotoxin.**

دا یو ډول زهر دي چې د صدف څخه لاس ته راځي.

**Myx(O) -**

دا یو مختاړی دی چې موکوس "مخاط" او لعابو معنی بښيړوي.

**Myxadinitis.**

د یوې مخاطي غدی التهاب.

**Myxadenoma.**

دا یو اپیتلیائي تومور دئ چې د یوې مخاطي غدی څخه جوړ وي.

**Myxasthenia.**

د مخاطي ترشحاتو لږوالی.

**Myxedema**

موم ډوله وچ تومور چې په غیر طبیعي توګه میوسین په پوستکي کې راټولیږي او د هایپرتایرایدیزم ورسره وي.

**- Congenital Myxedema**

د (**Cretinism**) په انډول.

**Myring-**

دا یو مختاړی دی د تیمپانیک غشا معنی ورکوي.

**Myringa**

د صماخ پرده د طبل غشا .د غوږ پرده.

**Myringectomy**

د صماخ د پردې څیرل او غوځول.

**Myringitis**

د صماخ د پردې التهاب.

**- Bullous Myringitis = Myringitis Bullosa**

د صماخ د پردې بولوز التهابي حالت چې د دننه غوږ ویروسي ناروغي له کبله منځ ته راځي.

**Myringo-**

دا یو مختاړی دی د تیمپانیک غشا معنی ورکوي.

**Myringomycosis**

د صماخ د پردې فنګسي ناروغي.

**Myringoectomy**

د صماخ د پردې غوځول او راوېستل.

**Myringoplasty**

د صماخ د پردې پلاستیک جراحي کړنلاره. د (**Tympanoplasty**) په انډول .

**Myringorupture**

د صماخ د پردې څیرېدنه.

**Myringoscope**

د صماخ د پردې د لیدنې لپاره وسیله.

**Myringostapediopexy**

دا جراحي کړنلاره ده چې د صماخ د پردې لویه او ښکته برخه د رکاب د هډوکي سر سره تثبیت کیږي.

**Myringotome**

د (**Myringotomy**) لپاره تېره چاړه .

**Myringotomy**

د صماخ د پردې غوځول او سوری کول دي.

**Myriapoda**

زر پښې لرونکې حشره .

**Myristic Acid**

یو (**14**) کاربنی مشتق شوی شحمي اسید دی چې په شحم، پنیر اود [ نهنګ د سر غوړو ، سپین موم (**Spermaceti**) ] وازدو کې موندل کیږي.

**Myrrh**

یو ډول خوشبویه ژاوله چې له نباتاتو څخه لاس ته راځي

## Myxoid
میوسین یا بلغم ته ورته جوړښت.

**- Myxoid Cyst**
هغه سیستې چې دګوتو یا د پښو غټې ګوتې د نوک په قاعده کې وده کوی.

## Myxolipoma
د مخاطي او شحمي نسج تومور.

## Myxoma
د مخاطي نسج تومور.

**- Odontogenic Myxoma**
د غاښونو میګزوما.

## Myxomatosis.
د ګڼ شمېر مخاطي تومورونو منځ ته راتګ.

## Myxomatous
د دا یو سلیم تومور دئ د (**Myxoma**) اړوند صفت.

## Myxoneuroma.
د مخاطي نسج او اعصابو د نسج تومور.

## Myxopapilloma.
د مخاطي نسج او اپتیلیال حجرو پاپیلوما تومور په ګډ ډول سره.

## Myxopoiesis
د مخاط یا بلغم جوړېدنه.

## Myxorrhea
د بلغم یا مخاط راتوئېدنه او جاري کېدنه.

**- Myxorrhea Intistinalis**
د کولمو څخه د بلغم راتوئېدنه.

## Myxosarcoma
هغه سارکوما تومور چې مخاطي استحاله وکاندي.

## Myxospooridia
د سپور لرونکي پرازیتونو ډله ده.

## Myxovirus
د انفلوانزا ناروغي پورې اړوند ویروس دی.

## Myzomyia
د میاشو یوه ډله ده چې ډېرې یې د ملاریا پرازیت لېږدوي.

## Myzorhynchus
د میاشو یوه ډله ده چې ډېر یې د ملاریا پرازیت لېږدوي او د ملاریا ناروغي منځ ته راوړي.

**- Papular Myxedema**
د (**Lichen Myxedematous**) په اند ول.

**- Pituitary Myxedema**
د نخامیه غدی د لږ اندازه ترشح چې تایرو تروپین هورمون لږ اندازه وي.

**- Pretibial Myxedema**
موضعي اذیما د هایپر تایرایدیزم او اګزوفتالموس ورسره مل وي چې په وصفی ډول سره دلېنګیو په قدام کې شتون لری او د میوسین رسوبونه یکې هم په پاپولار او پلاکي ډول سره منځ ته راځی.

## Myxo -
دا یو مختاړې دئ او د مخاط معنی بشپړوی.

## Myxobacterales.
د شیزو مایست له کورنۍ څخه یوه ډله.

## Myxoblastoma.
د میګزوبلاست حجرو تومور.

## Myxochôndroma.
د مخاطي او غضروفي نسج تومور.

## Myxobacterales
د شیزومایست له کورنۍ څخه یوه ډله.

## Myxoblastoma
د میګزوبلاست حجرو تومور.

## Myxochandroma
د مخاطي او غضروفي نسج تومور.

## Myxococcaceae
د شیزومایست له کورنۍ څخه یوه ډله ده.

## Myxococcus
د شیزومایست له کورنۍ څخه یوه ډله ده.

## Myxocystoma
د بلغمي یا میوسین موادو سیستیک توموري کتله.

## Myxocyte
د مخاطي نسج یوه حجره.

## Myxoedema
د (**Myxedema**) په اند ول او اړوند صفت.

## Myxoedematous
د (**Myxedema**) په اند ول او اړوند صفت.

## Myxofibroma
د مخاطي نسج او فیبروزي نسج تومور.

## Myxofibrosarcoma
میګزوفایبروسارکوما تومور.

# N.n

دا انګریزي ژبې څوارلسم توری (حرف)دئ چې په طب کې د ګڼ شمېر لغتونو اوصطلاحاتو لنډه نښه جوړوی.

**N**

د نایتروجن لپاره کېمیاوي سمبول دی.

**N**

د نیوټن لپاره لنډه نښه ده.

**- 2N**

د نورمال مضاعف (Double Normal) "دوه چنده" محلول لنډه نښه ده.

**- N/2**

د نورمال نیمایي محلول (O,SN = Half of Normal) لنډه نښه ده.

**- N/10**

د نورمال لسمه محلول(O,LN = Tenth of Normal) لنډه نښه ده.

**N**

نانو(Nano).رفراکتیو اندازې ټاکنې لپاره اینډکس او لنډه نښه ده.

**N**

د نیوټرون (Neutron) لپاره لنډه نښه ده .

**N**

د عصب ( Nerve) لپاره لنډه نښه ده.

**N**

د هیپلوئېډ کروموزومونو شمېره ده.

**N**

د پوزې(Nasal) اړوند لپاره لنډه نښه ده.

**N**

نورمال (normal) لپاره اختصاري ډول.

**Na**

اناټومیک رسي او منل شوي نومونه ( Nomina Anatomica ) چې په کال 1995 بین المللي کنفرانس کې د اناټومي پوهانو پواسطه کېښودل شویدي.

**Na**

د اووګدرو عدد/شمېر لپاره لنډه نښه ده.

**N.A**

ګڼ شمېر لارې ،ګڼ سوري (Numeric Aperture)لپاره لنډه نښه ده.

**Na**

د سوډیم (Sodium/) کېمیاوي عنصر لپاره کېمیاوي سمبول دی او د (Natrium)لپاره لنډه نښه ده.

**Naboth's Follicle**

دا سیست ډوله جوړښتونه دي چې د رحم د عنق د مخاطي غدواتو د قناتونود انسداد او په هغه کې د موادو ارټولېدنې له کبله منځ ته راځي.

**Nabothian Cyst**

د(Naboth's Follicle) او (Naboth's Gland) په انډول.

**Naboth's Gland**

د(Naboth's follicle) په انډول.

**Nabumetone**

غېرستروئیدی د التهاب ضد درمل چې د اوستیوآرټریټ او رړماتوئید آرټریټ په درملنه کې کارېږي.

**Nacreous**

د صدف رنګ لرونکی چې د مرغلرو په څېر ښه لري دا حالت د بعضې میکروبونو کالونی ته نومول کېږي.

**Nacton**

د پولدین میتایل سلفیت لپاره سوداګریز نوم دی چې د پاراسمپاتیک اعصابو د فلج یا بلوکاد لپاره پکارېږي.

**N.A.D**

نیکوتین آماېد آدینین دای نیوکلوټایډ ( Nicotinamid Adinine Dinucleotide.) لپاره لنډه نښه ده .

**N.A.D**

نا محسوسه ناروغي(No Appreciable Disease) لنډه نښه ده.

**N.A.D.H**

د NAD ارجاع شوي بڼه (Reduced Form of N.A.D.) لنډه نښه ده.

**Nadolol**

د بیتا ادرینرجیک بلاک کوونکې ماده ده چې د وینې د فرط فشار د ناروغي درملنه وربانديې تر سره کیږي.

**NADP**

نیکوتین آماېد آدینین دای نیوکلوټایډ فاسفېټ (Nicotinamid Adinin Dinucleotid Phosphate) لپاره لنډه نښه ده .

**N.A.D.P.H**

د (Nicotinamid Adinin Dinucleotid Phosphate Reduced)

ارجاع شوي بڼې لپاره لنډه نښه ده.

**Nadolol**

د بېټا ادرینرجیک رسپټورونویو غیر اختصاصي بلاک کوونکي چې صدري انجینا او هایپرټنشن په درملنه کې کارول شي.

**Naegele Rule**

د ناجیل قاعده چې دا میتود هغه مهال کارول کېږي کله چې بلاربه ښځه د زېږون لپاره ځی چې نه مباشتې او اوه ورځې دهغې د وروستنی مباشتنی عادت ودرېدنې سره جمع کېږي که چېرې ښځه (28-day) ورځې د سیکل عادت نه وی بشپړې کړې او یا یې هم (26-day) ورځې د عادت تېرې ورځخه دوه ورځې (2 days) منفی کوو او وړاندوینې ورځ ټاکل کېږي.

**Naepaine**

دا درمل (2-Pentyl Aminoethyl Para Amino Benzoate) پنامه په موضعي بېهوښی کې پکار وړل کیږي.

**Naevus**

خدایې خال ، پیدا ښتی نښه ، خال، ګڼه شمېره یې (Naevi) بلل شي.

**NaF**

د فلور او سوډیم (Floure + Natrium) ګډ جوړښت.

**Nafarelin**

د ګونادوتروپین د آزادوونکی هورمون مصنوعی محصول چې د ایستر اسیتیټ په بڼه د ببړنی بلوغ په درملنه کې کارول شي.

**Nafcillin**

دا یوه نیمه ترکیبي جوړښت دی دا د اسیدو او پنسیلینیز انزایم په وړاندې مقاوم د پنسلین انتي بیوتیک دی چې د ستافیلوکوک باکتریا په درملنه کې ورځخه کار اخیستل کیږي.

**Naffziger's Operation**

دا د سترګو د ګاټو اړوند جراحي کړنلاره ده چې پکې د ګاټو د علوي او جنبي جدارونه غوځیږي دا په اګزوفتالموس درملنه کې.

**Naffziger's Syndrome**

د اوږې او وزر هډوتر منځ درد چې د عنق یا غاړې لوري ته لېږدونه کوي او غاړې فقراتو د تنؤ (Spin) او یا اضافه تنؤ Spine په غیر طبیعي توګه د شته والي له کبله منځ ته راځي.

**Naftifiline**

د چنیاسې ضد وسیع الطیف لرونکی درمل دی.

**Naga Sore**

د تودوخې سیمې(ګرمسیري) زخم یا پرهر د (Tropical Ulcer) په انډول.

**Nagana**

دا د څارویو "آسونو او غوایانو" ځانګړې ناروغي ده او د تریپیانوزومیا د پرازیت له کبله منځ ته راځي چې Tsue Tsue مچانو پواسطه لېږدول کیږي.

**Nagonal**

سورامین سوډیم دا کیمیاوي ځانګړی نوم دی چې تریپانوروم او فیلاریا ضد درملو په څېر پکاریږي.

**Nagel's Test**

دا آزموینه د رنګونو د پېژندنې لپاره پکاریږي.

**Nagging Pain**

هغه ډول درد چې نیولې متداوم تېشی او چوخېدونکې بڼه ولری.

**Nagli's Maneuver**

د ناروغ د سر پورته کول پداسې حال کې یو لاس تر کوپړۍ لاندې او بل لاس تر ژامنې لاندې راځي او دا مانوره د دماغ د وینه بهېدنې درملنې لپاره تر سره کیږي.

**Nagler Reaction**

د وینې په سیروم کې د مکدریت زیاتوالی د کلوستریدیوم میکروب د توکسین د ورګډولو له مخې چې د نوموړي میکروب نښه ده.

**Nadolol**

د بیټا ادرینرجیک بلاک کوونکې ماده ده چې د وینې د فرط فشار د ناروغي درملنه وربانديې تر سره کیږي.

**Naja**

د کبرا مار.

**Na+ ,K+,-Atpase**

هغه انزایم چې د پلازمائی غشأ دننه شته والې لری او دسودیم د حجرې د پمپ د کارولو لپاره د انرژی د جمتوکولو په موخه (ATP) هایدرولایز کوي.

شدید ډول ودې تأخر په درملنه کې پکار وړل کیږي.

**Nanism**

لنډۍ، د ودې د هورمون د لږوالي له کبله د ونې د لنډوالي ناروغي ټيټکي بڼه درلودنه، د (Dwarfism) په انډول.

**Nano-**

دا یو مختاړی دی د کوچني معنی بشپړوی چې د اندازه کولو په لړ کې د اندازو ښودنې لپاره پکاریږي.

**Nanocephalous**

د کوچنۍ کوپړۍ درلودنې اړوند صفت دئ ، د (میکروسفالی ) په انډول ، پوچ سرې کس.

**Nanocephaly**

د کوچنۍ کوپړۍ حالت، د (میکروسفالی ) په انډول.

**Nanocormia**

په غیر نورماله توګه د تنې او جسم کوچنې والی.

**Nanocurie**

د رادیو اکتیف معادل $10^{-9}$ کیوري واحد دی ، د ګرام یوبیلیونمه برخه.

**Nanogram.**

د ګرام د یوه بیلیون یوه برخه.

**Nanoid**

لنډۍ، کوچنی ، ټيټکی. د (Dwarfish) په انډول.

**Nanomelus**

هغه جنین چې اندامونو یې وده نه وي موندلې.

**Nanometer**

د کوچنیوالي ټاکونکې وسیله د یوه بیلیون یوه برخه ټاکونکې وسیله.

**Nanomole**

هغه اندازه چې د یوې مادې یوبلیونمه ($10^{-9}$) برخه مول څرګندوی لنډه نښه یې (nmol) ده .

**Nanophthalmia.**

د کوچنی سترګې درلودنه ،د (Nanophthalmus) په انډول.

**Nanophthalmos**

د (Nanophthalmus) په انډول.

**Nanophthalmus**

په غیر نورماله بڼه د سترګو د قطرونو کوچنیوالی.

**Nanoplankton**

دېر کوچنی پلانکټون، (دا یو کوچنی لامبوهونکی موجود

**Nakuruitis**

د کوبالت عنصر د لږوالي یو ډول دی.

**Nalfon**

دکلسیم فینوپروفین (Fenoprofen) لپاره سوداګریز/ سوداګریز نوم دئ.

**Nalidexic Acid**

دا د کینولین له کورنۍ څخه یو ډول د بولي سیستم لپاره انتي سپتیک دی چې په ګرام منفي باکتریاو اغېزمنتیا لري د خولې له لارې خوړل کیږي همدارنګه د هضمي جهاز په باکتریاو هم اغېزه لري سوداګریز نوم یې (Negram) دئ.

**Nalline**

د (Nalorphine) لپاره سوداګریز نوم دئ.

**Nalorphine**

دا د مورفین نیمه ترکیبي جوړښت دئ چې د مخدراتو انتاګونېست او ضد اغېزه لري او د پېژندنې په موخه کاروله شی.

**Naloxone**

دا هم د نارکوټیکونو انتاګونیست دی چې د اوکسي مورفین د مشتقاتو څخه دی هایدروکلورایدی مالګېزې بڼې لری او د مخدراتو د اعتیاد او مسمومیت ضد اغېزه لري.

**Nambi- Uvu**

په سپیانو کې یو ډول ناروغي ده. پدې ناروغي کې ژېړی او د غوږ څخه وینه بهېدنه منځ ته راځي سببي عامل یې د انجلیا ویتالي دی او په برازیل کې معمولاً لیدل کیږي.

**Name**

نوم، نوم ورکول ، نومیالی ، په نامه بلل

**Named**

نومول شوې ، پنامه .

- **Named Nurse**

هغه نومول شوې نرس (روغتیا پاله ښځه ) چې د یو لړ خاصو ناروغانو سره د اړیکې نیول او ساتنې له مخې اړین معلومات راټولوی .

**Nandrolone**

دا یو( انابولیک، اندروجنیک ) ستروئید دی چې معمولاً په ( Senile او Post menopausal ) اړوند هډوکو اختلال درملنه (Osteotherapy) په موخه او په ماشومانو کې د

دی چې په ټولو اوبو کې ژوند کوي.

**Nanosecond**

د یوې ثانې یو بیلیون برخه.

**Nanosomia**

د تنې لنډوالی.

**Nanounit**

د یوه واحد یو بلیونمه ($10^{-9}$) برخه.

**Nanous**

لنډی، د لنډې ونې درلودونکی.

**Nanus**

لنډتوب، کوچنیوالی. د (Nanous) په انډول.

**Nap**

وړین استر، هغه ټوټه چې مخ یې دوړیو پټ ولری. پړمیښی، سترگه پټونه، ( دلږوخت دپاره بیدېدنه )، یوه سترگه خوب.

**Nape**

څټ، د غاړې د شا برخه ، مغزی، اورمیږ.

**Nanukayami**

لیپتوسپایروزس چې تبه، ژېړی په وصفي توگه ولري.

**Naphazoline**

دا مقبض الوعائي درمل دي چې څاځکي بڼه یې د پوزې په زکام ناروغي کې د پوزې د احتقان د له منځه وړلو لپاره مصرفیږي.

**Naphtha**

نفت ، پټرول، ډول ډول تیل چې له نفتو څخه لاس ته راځی،د سوند تیل ، بنزین.

**Naphthaline**

نفتالین، دا هایدروکاربن یوډول ماده چې د ډېرو سکارو څخه لاس ته راځي او د انتي سپتیک او میکروب ضد اغېزې لري.

**Naphthol**

دا هم د مکروب ضد اغېزه لرونکي درمل دي چې الفا او بیتا ډولونه لري.

**Napkin**

دسمال، لاسپاکې ، لاس وچوونکې ټوټه.

- **Medical Napkin**

طبی دستمالونه.

**NAPN**

د نرسانو د تعلیم لپاره اتحادیه/ټولنه( National Association For Practical Nurse Education)لپاره لنډه نښه ده.

**NAPNES**

د نرسانو د روني لپاره ملی نړیواله ټولنه( National Society Association For Practical Nurse Education)لپاره لنډه نښه ده.

**Nappy**

پېړ او ډبل ، خوب لرونکې ، لړ مست ، لول ، کوچنۍ بشقاب ، نرم و پشمینه ټوکر ، هغه ټوکران او دستمالونه (روبي ) چې د ماشومانو تړلو لپاره کارول شی. د (Diaper) په انډول

- **Nappy Rushes**

هغه سره مخه چې د ماشومانو د (سپوغزو ،کوناټیواو خوټلنگ ) برخه کې د رونیو او بمپرونو تړلو له امله منځ ته راځی چې دا د متیازو د( یوریا ، امونیا او لمده بل) تماس له امله پېښېږی.

**Naprosyn**

د (Naproxen) لپاره چې د التهاب ضد او درد ضد ردمل دي سوداگریز نوم.

**Napsylate**

د (2- Naphthalenesul fonate) لپاره لنډ نوم دی.

**Naprox**

د (Naproxen) په انډول.

**Naproxen**

دا د (NSAID)غیر سټروئیدي ضد التهاب ضد درد درمل دي.

**Naqua**

د ترای کلورومیتازید لپاره چې مدرر او د فشار ضد او اذیما ضد اغېزه لري سوداگریز نوم دی.

**Narcissus**

نرگس، د نرگس گل نبات بلل شی.

**Narcissism**

ځان ستاینه، ځان خوښونه.دا یو ډول روانی د شخصیت اړوند اختلال دئ چې پکې ناروغ د ځان په لوري بې حده زیاته لېوالتیا لری ، په ځان مینتوب حالت بلل شی.

**Narcissistic.**

د ځان ستاینې او ځان خوښونې اړوند ، د (Narcissism) اړوند صفت.

**Narco-**

دا یو مختاړی دی او د (کوما ، ستوپور ، پرمبنکې او بېهوښی) معنی بشپړوي.

**Narco- Analysis**

د نهی کوونکو ځپونکو افکارو څخه د خلاصون په موخه د باربیتوریتونو درملو پکارولو سره د رواني درملنه ده ، پسایکو تراپي ده چې د رواني او ذهني پټې ناروغي بربنډ کېدنه پرې ترسره کیږي.

**Narco- Anasthesia**

د سکپولامین او مورفین پواسطه د بې حسی منځ ته راتګ.د نارکوټیک درملو په ذریعه بېهوښی.

**Narcochypnia**

د ویښېدنې پر وخت د بې حسی او کرختې احساس.

**Narcochypnosis**

کله چې نارکوز تر سره شي ناروغ ته خوبجن حالت موندل کیږي.

**Narcolepsy**

د خوب راجعه ، د خوب حمله ، خوبجن حالت د صرعي (پېراني) حالت او انسفالیت په وخت چې لنډ مهاله وي او په هایپوتلاموس او دریم بطین تومورونو کې دا خوبجن حالت لیدل کیږي.

**Narcoleptic**

د خوب د حملې منځ ته راوړونکی درمل او مواد ، د (Narcolepsy) اړوند صفت .

**Narcomania**

د مخدره موادو سره په ناروغي بڼه لېوالتیا درلودنه.

**Narcose**

خوبجن حالت څه اندازه مخدر.

**Narcosine**

د (Noscapine.) په انډول.

**Narcosis**

د مرکزی عصبی سیستم راستنېدونکې د کرختي او ببحسي او خوبجن حالت چې درملو پواسطه منځ ته راځي.

- **Basal Narcosis**

د نارکوز هغه حالت چې د بېهوښۍ څخه دمخه د جراحي عمل لپاره تر سره کیږي ، د (Basis Narcosis) په انډول.

- **Basis Narcosis**

د نارکوز هغه حالت چې د بېهوښۍ څخه دمخه د جراحي عمل لپاره تر سره کیږي ، د (Basal Narcosis) په انډول.

**Narcosynthesis**

د نیوروزس ناروغي درملنه د خوبجن حالت د منځ ته راوړلو مخې چې پخواني حالتونه ور په یادیږي او ستونزه یې له منځه ځي.

**Narcotic**

بې سده کوونکی، دوا، مخدره دوا ، هغه ماده خوب جن د کرختې او بې حسي حالت منځ ته راوړي.

**Narcotine**

د (Noscapine) په انډول .

**Narcotism**

په مخدره موادو اعیتاد او عادت درلودنه.

**Narcotize**

د نارکوټیک موادو تر اغېزې لاندې راوستل او کرخت کول.

**Nard**

یوډول خوشبویه ملهم ، د ښه بوی لرونکې مرحم.

**Nardil**

دی هایدروجن فنلزین سلفیت لپاره سوداګریز نوم دی چې دا درمل د روحي انحطاط او اضطراب د له منځه وړلو په درملنه کې پکاریږي.

**Nares**

د پوزې د جوف بهرنی سوری،د پوزې منخرین. سرمې(سوړمې) ، تومیزی (ترمېزې) .

**Naris**

د پوزې سوري.

**Narone**

د (Metamizole, Dipyron) لپاره سوداګریز نوم دی د تبې او درد ضد درمل دي.

**Narrow**

نری، کمسوری، بې پسوره، تنګ، محدود ، نږدې.

- **Narrow-Minded**

تنګ نظره، متعصب، ناپیرزو یونی، لنډفکری.

**Narrowly**

په ځیر: له نږدې څخه: په محدود ډول.

## Narrowness

تنګوالی، نری والی.

## N.A.S.A

د هوا نور دی او فضايي بېړيو د ملي فنونو اداره( National Aeronautics And Space Administration)لپاره لنډه نښه ده.

## Nasal

د پوزې اړوند ،انفي ، د پزې ، پزې ته منسوب.

- **Nasal Apertures**

د پوزې دوه هغه سوری چې د يوه قيف ته ورته دی چې د پوزې څخه تر بلعوم رسېږي ، د (Choana) په انډول.

- **Nasal Bone**

د پوزې هدوکې ،پوزې يو له دوه کوچنيو هډوکو څخه چې د پوزې له پله څخه تر پورته پراته دی.

- **Nasal Cartilage**

د پوزې غضروف .

- **Nasal Cavity**

د پوزې جوف چې د (Cribriform Plates) څخه پورته او (Hard Palate) ښکته ترمنځ پرته او د انفی حجاب پذريعه په دوه برخو ويشل شی او (Nasopharynx) منځ ته راوړی .

- **Nasal Conchae**

هغه درې هډوکيزې لمنې (Ridges) چې د ( Superior,Middle او Inferior Conchae ) په نومونو يادېږی او د پوزې جوف ته له دننه جدار څخه ورننوزی او ورته (Turbinate Bones) هم ويل شی.

- **Nasal Congestion**

د پوزې ډېر اندازه سوروالې پړسوب ، انفی احتقان، چې دپوزې د بندښت لامل ګرځی.

- **Nasal Discharge**

د پوزې څخه د افرازاتو راتګ ، د پوزې بهېدنه.

- **Nasal Drops**

د پوزې استعمالېدونکې څاڅکې ،د پوزې قطره.

- **Nasal Septum**

د پوزې حجاب ، هغه غضروفی برخه چې د پوزې منخرينو تر منځ پرته ده.

- **Nasal Spray**

د پوزې استعمالېدونکې سپرې ، مغه مايع چې په پوزه کې د سپرې په توګه اچول کېږی.

- **Nasal Trauma**

د پوزې ترضيض ، د پوزې ضربې .

## Nasalis

د پوزې اړوند ،انفي ، د (Nasal) په انډول.

## Nascent

زېږېدونکی د زېږېدنې په حال کې، تازه، نوی او ډېر فعاله بڼه لرونکې .

## N.A.S.E

د صرعي (پېرانو نيولي) ناروغي د څېړنې ملي ټولنې (National Association For Study Of Epilepsy) لپاره لنډه نښه ده.

## Naseptin

د (Chlorhexidine) او (Neomycin) درملو ګډ ډول جوړښت لپاره سوداګريز نوم دئ چې د پوزې اتتانی ناروغيو درملنه کې پکارېږی .

## Nasion

د پوزې او تندې هډوکو د درز برخې (فرانټو نزال سوچورا ) منځنی ټکی.

## Nasitis

د پوزې دانساجو التهاب.

## NAS – NRC

د علومو ملي اکاډيمي- د څېړنو ملي ټولنه ( National Association for Study of Epilepsy) لپاره لنډه نښه ده.

## Naso-

دا يو مختاړې دی د پوزې معنی ورکوې.

## Nasoantral

د پوزې او مګزيلار انتروم يا سينوس اړوند .

## Nasoantritis

د پوزې او مګزيلا سينوس التهاب.

## Nasoantrostomy

د جراحي پواسطه د مګزيلار سينوس د انسدادی او تړل شوی حالت د ديناژ لپاره د(Nasoantral)برخه کې د کړکۍ يا سوري منځ ته راوړلو کړنلاره.

## Nasociliary

د وريځو ،سترګو او پوزې تل (جذر) اړوند .

- **Nasociliary**

انفی -احدابی.

## Nasogastric

د پوزې او معدې اړوند .

- **Nasogastric Tub**

د پوزې او معدې ټيوب چې لنډه نښه يې (NGT) ده.

## Nasogastrically

د پوزې او معدې اړوند تغذيوی ميتودونو اړوند .

**Natal**

د زېږوني اړوند ، ولادي، د کونډټيو اړوند ، دلنګون ( موده )، دزېږېدو ( وخت ).

- **Ante Natal**

د زېږون څخه دمخه ، مور په ګېډه کې .

- **Natal Date**

د زېږون نېټه .

- **Natal History**

د زېږېدني تاریخچه.

**Natality**

په یوه ټاکلې موده کې د زېږوني شمېره د زېږونو انډول ، د زېږون کچه.

**Nates**

د کوناټیو اړوند ، کوناټي.

**Natimortality**

د مړیني انډول او نسبت په نوزادانو کې د زېږوني د شمېرنې په پرتله د یوه ټاکلې موده کې.

**Nation**

اولس، ملت.

**National**

ملي.

**National Boards**

ملي هیئت یا پلاوی چې د نرسانو ،روغتیا کارکوونکو څخه جوړ او تخصصی زده کړو اړوند مسؤلیتونه لري .

**National Council for Vocational Qualifications**

د مسلکی کیفیت ټاکنې لپاره ملي شورا چې لنډه نښّ يې (NCVQ) ده .

**National Formulary**

ملي طبي فورمولاري ستندرد ملي فارمکولوژیک کتاب چې په کې د درملو نومونه د سوداګریز نومونو سره ذکر وي.

**National Health Service**

ملی روغتیائی خدمتونه چې لنډه نښه يې (NHS) ده.

**National Institute for Clinical Excellence**

د کلینیکی ښه والي لپاره ملي انستیتیوت چې لنډه نښه يې (NICE) ده.

**National Insurance**

ملي بیمه .

**Nasolabial**

د پوزې او شونډو اړوند.

**Nasolacrimal**

د پوزې او اوښکو دستګاه اړوند.

- **Nasolacrimal duct**

د پوزې او اوښکو غدی تر منځ قنات او لاره.

**Nasoplatine**

د تالو او پوزې اړوند انفي- کامي.

**Nasopharyngeal**

د پوزې او بلعوم اړوند.

**Nasopharyngitis**

د پوزې او بلعوم التهاب.

- **Acute Nasopharyngitis**

حاد ډول نازوفرینجیت .

- **Chronic Nasopharyngitis**

مزمن ډول نازوفرینجیت.

**Nasopharyngolaryngoscope**

هغه آله چې د هغه پواسطه د پوزې بلعوم او حنجرې جوف لیدل کېږي .

**Nasopharyngolaryngoscopy**

د پوزې ا بلعو برخې د جوف د لیدنې پروسه د یوې آلې پذریعه.

**Nasopharynx**

انفي- بلعومي د پوزې او بعلوم اړوند.

**Nasoseptitis**

د پوزې د [(Septum) یا تیغي (حجاب)] برخې التهاب.

**Nasosinusitis**

د پوزې د چاپېریال یا اضافه سینوسونو التهاب.

**Nasospinale**

هغه ټکی چې د پوزې او منصف د سطحې تر منځ مماس کرښه وېستل کېږي د دوی تر منځ د تقاطع ټکي ته ویل کېږي.

**Nasty**

د (ناوړه ، بدرنګه ، ناخوښه ) خوند لرونکې. ناولی، ککړ، چټل، بدغونی، بدطبیعته .

- **Nasty taste medicine**

بد خونده درمل.

**Nasus**

پوزه، پزه، انف ، د (Nose) په انډول.

## Natolone
د پرګنولون (Preqnolone)لپاره سوداګریز نوم دی.

## Natremia
په وینه کې د سوډیم شتون.

**- Hypernatremia**
په وینه کې د سوډیم زیاتوالی.

**- Hyponatremia**
په وینه کې د سوډیم لږوالی.

## Natrium
د سوډیم(Sodium) کیمیاوي عنصر نوم دی.

## Natriuresis
په متیازو کې د سوډیم اطراح ، د(Natriuria) په انډول.

## Natriuretic
په متیازو کې د سوډیم د اطراح اړوند.

## Natron
طبیعي سودیم کاربونیټ.

## Natty
سوتره، پاک، سپیڅلی ، ښکلی

## Natural
طبیعی، ذاتی، عادی، ساده.

**- Natural Childbirth**
طبیعی زیږون هغه چې پکې مور هیڅ راز د دردضد دارو درمل ،بېهوښه کوونکی مواد ماشوم زیږولو پرمهال نه کارول کیږي.

**- Natural Immunity**
طبیعی معافیت هغه چې ماشوم یې د زیږون څخه وروسته له مور څخه په ارث وړي .

**- Natural Killer cell**
طبیعی وژونکې حجرې چې د سپینوکرېواتو څخه دي او نورې اجنبی حجرې او ارګانیزمونه له منځه وړي .

**- Natural Mother**
طبیعی مور، د (Birth Mother) په انډول .

**- Natural Parent**
طبیعی والدین (مور او پلار) ، د (Birth Parent) په انډول.

## Naturally
په طبیعی ډول.

## Nature
طبیعت، فطرت، ماهیت، خوی او خاصیت. هغه څه جنیتیک ځانګړتیاوی چې یو څوک یې د مور څخه په طبیعی ډول ترلاسه کوی .

**- Nature nurture debate**
طبیعی بحث اوخبرې اترې د انسانانو د خلقت (جنیتیک) یا د طبیعت اړوند د (عقایدو یا استدلال) بیان ته ویل شی ، مباحثه ،عادی جر و بحث ،مناظره

## Naturent
د بندروفلومیتازید چې د یورتیک او فشار ضد درمل دي لپاره تجارت نوم دی.

## Naturopath
په طبیعي یا غیر درملو او فیزیکي توګه د ناروغیو درملنه کوونکی ډاکټر.

## Naturopathy
په طبیعي توګه د ناروغیو درملنه یعنې د درملنې هغه کړنلاره چې پکې پرته له درملو په فزیکي او نورو کړنلارو درملنه تر سره کیږي .

## Naumanniella
د شیزوماسیت له کورنې څخه یوه ډله.

## Nausea
خواګرځېدنه، خوا ګرزی ، خوابدي، زړه بدوالی، زړه بدي ، قی، زړه بدېدنه.

**- Nausea Gravidarum**
د بلاربتوب د وخت زړه بدوالی.

**- Nausea Marina = Nausea Navalis**
د سیندونو د سفر مهال زړه بدي.

## Nauseant
زړه بدونکی، هغه درمل چې زړه بدوالی راوړي.

## Nauseate
د زړه را هسکېدو له لارې اغېزه ښندل . خوا ګرزیدل، خوا ګرزول.

## Nauseated
داسې یو احساس چې کانګې پېښېږی. د (Nauseaus) په انډول.

## Nauseaus
زړه بدونکی ، کرکه راوړونکی ،خوا ګرزوونکی.

## Nautilus
یوډول غواګۍ ( حلزون )، دلامبو یوډول سامان.

## Navel
نوم، د نامه غوټی .

## Navicular
کښتی ته ورته، د ناوې په څېر ذورقي ، د پښو د تارس

## Near
نږدې (نېژدې)، ترڅنګ ( دوخت او ځای په لحاظ ) ، خوا په خوا، صمیمی ،قریب.

## Near-by
ګاونډي، څنګ ته.

## Nearsighted
د (Myopic) په انډول .نېږدې لیدونکی، لنډ فکره، ناپوه.

## Nearsightedness
د (Myopia) په انډول. وتره، پاک، سپیځلې، وتلی ماهر.

## Nearthrosis
کاذب مفصل، مصنوعي مفصل.

## Neat
پاک، سوتره ، مینځلی

## Neath
لاندې، تر لاندې.

## Nebula
د سترګو د قرنیې مختصر مکدریت ، دتشو متیازو خړپړ (غبار آلوده) او تیاره حالت.

## Nebuliser
اتموسفېری کوونکې د اتموسفیر په څېر جوړوونکې ، د (Nebulizer) په انډول.

## Nebulization
په ذراتو بدلېدنه په کوچنیو هوائي ذراتو بدلېدنه.

## Nebulize
په اتموسفیری ذراتو اړونه. په اوبلنونه پربنې ښاخکو باندی تبدیل کول ، پاشلو په څېر ، د پوستکی درملنه کې د درملو پاشلې – پربنیز بڼه اوړېدنه .

## Nebulizer
په ذراتو بدلوونکی دستګاه یا وسیله.

## Necator
د نیماتودا د پرازیت د چنګکی ډوله چنیجیو یو ډول دی چې د چینجیانو د ناروغۍ یو عامل ګڼل شی.

- **Necator Americanus**

دا امریکائي ډول چینجی دی.

## Necatoriasis
د نیکاتور د چینجیانو په ناروغیو باندې اخته کېدنه.

## Neck
غاړه ، عنق ، د کوپړې او تنې تر منځ برخه ، اورمېږ.

(Tarsal Bones) برخې د هډوکو څخه یو .

- **Navicular bone**

د پښو د تارس (Tarsal Bones) برخې هډوکو د ناوې په څېر د څخه یو .

## Nb
دا یو کېمیاوي عنصر دی او نوم یې Niobium دی چې سمبول یې Nb دی.

## NBS
د ستاندردونو ملي اداره (National Bureau of Standards) لپاره لنډه نښه ده.

## Nc
نانو کیوري(Nano Curie) لپاره لنډه نښه ده.

## NCI
د ناسور یا سرطان څېړنې ملي انستیتیوت ( National Cancer Institute) لپاره لنډه نښه ده.

## NCMH
د روحي روغتیا ملي کمېټه( National Committee for Mental Hygiene) لپاره لنډه نښه ده.

## NCN
د نرسانو ملي ټولنه (National Council of Nurses) لپاره لنډه نښه ده.

## NCRP
د اندازه کولو او وړانګو څخه د ساتنې ملي کمېټه ( National Committee on Radiation Protection and Measurments) لپاره لنډه نښه ده.

## NCVQ
د مسلکی کېفیت ښه والی لپاره ملی شورا ( National Council for Vocational Qualifications) لپاره لنډه نښه ده.

## Nd
دا د نیوډایموم(Neodymium) کېمیاوي عنصر لپاره سمبول Nd دی.

## NDA
د غاښونو طبي ملي ټولنه(National Dental Association) لپاره لنډه نښه ده.

## NDU
د نرسنګ وده ائېز واحد(Nursing Development Unit) لپاره لنډه نښه ده.

## Ne
دا د نیون (Neon)کېمیاوي عنصر لپاره سمبول دی.

**- Neck of Anatomic**

د مټ هډوکی د غاړې برخه اناټومیک غاړه.

**- Big Neck**

غټه غاړه، جاغور ،د غور ناروغي ، د (Goiter) انډول.

**- Bladder Neck**

د مثانې (تشو متیازو کڅوړې) عنق .

**- Casal's Neck**

په پلېګرا ناروغۍ کې جلدی اندفاعات چې د غاړې لاندې برخه احاطه کوی.

**- Neck Collar**

د غاړې حمایوی یو تثبیت کوونکې پټۍ ده چې د غاړې یا اورمېږ د ترضیضاتو او رقبی سپانډیلوزس درملنې کې کارېږی.

**- Neck of Femur**

د فخذ هډوکي غاړه ، د (Neck Femoral) په انډول.

**- Madelung's Neck**

د غاړې منتشر ډول لړی پوما شتون.

**- Surgical Neck of Humarus**

د عضد هډوکی جراحي غاړه.

**- Neck of Tooth**

د غاښونو غاړه هلته چې غاښ نرې کېږی او تاج او جذر ترمنځ پرته ده.

**- Uterin Neck**

د ځیلانځې غاړه یا د رحم عنق.

**- Webbed Neck**

پرده لرونکې غاړه په مارفان سندروم کې لیدل کېږی .

**- Wry Neck**

یو لوری د غاړې کوږ او لنډوالی چې د سټرنوکلید و مستوئید عضلې د لنډوالي او فیبروز د لارې ناروغي له کبله منځ ته راځي، د (Toticollis) په انډول.

## Necklace

غاړکې، امیل.هغه جوړښت چې غاړه (اورمېږ) احاطه کوی.

**- Casal's Necklace**

دا د غاړې برخې جلدي اندفاعات دي چې د غاړکې په څېر د غاړې په ښکته لوري کې منځ ته راځي.

## Necrectomy

د نکروتیک انساجو غوڅول او لېرې کول.

## Necro-

دا یو مختاړې دی چې د (وراستو ، نکروز، مړینه او مړ) معنی ورکوي.

## Necrobacillosis

د اکتینومایسیس او نکرو فوزوس له کبله په حیواناتو کې ناروغي ده .

## Necrobiosis

د حجرې فزیولوژیکه مړینه، هغه بدلونونه چې په ژوني موجود کې په کراره او تدریجي توګه مړینه منځ ته راځي.

**- Necrobiosis Lipoidica Diabeticorum**

شحمي استحاله چې په ارتجاعي او پیوندي نسج کې چې په شکرې ناروغي کې منځ ته راځي.

## Necrobiotic

د نکروبیوزس (Necrobiosis) اړوند صفت.

## Necrocytosis

د حجراتو مړینه.

## Necrogenic

د نکروز منځ ته راوړونکی.

## Necrogenous

د مړه یا نکروتیک موادو څخه منځ ته راغلی.

## Necrology

د مړینې او مرګ د شمېر ټاکنې علم او پوهه.

## Necrolysis

د مړه انساجو جلا کېدنه.

## Necromania

د مړینې یا مړه جسدونو سره په ناروغي ډول لېوالتیا او مینه.

## Necroparasit

هغه میکروب چې په مړه جسدونو کې ژوند کوي.

## Necrophagous

لاښ خوړونکی، هغه چې مړه جسدونه خوري.

## Necrophilia

مړ خوښونکی ، د مړه جسد سره جنسي نږدې کېدنه.

## Necrophilism

د (Necrophilia) په انډول .

## Necrophilous

مړه انساجو ته ترجیح ورکول.

## Necrophobia

د مړه یا مړي څخه وېره درلودنه.

## Necropneumonia

د ریوي مړه نسج یا ګانګرن له کبله پنومانیا .

## Necropsy
د مړه جسد کتنه او آزمويل.

## Necrose
نکروز، په نکروز يا مړينې اخته کېدنه.

## Necrosin
هغه مسموم کوونکې ماده چې په التهابي نسج کې وي.

## Necrosis
د نسج مړينه، نکروز، د حجرې مړينه.

**- Aseptic Necrosis**
غير مکروبي نکروز دا ډول حالت د وينې د نه رسېدنې له کبله منځ ته راځي، د (Avascular Necrosis) په اند ول.

**Avascular Necrosis**
غير مکروبي نکروز دا ډول حالت د وينې د نه رسېدنې له کبله منځ ته راځي، د (Aseptic Necrosis) په اند ول.

**- Balser's Fatty Necrosis**
د (پانکراس، توري او ثرب) شحمي نکروز.

**-Caseous Necrosis**
پنيري نکروز، د (Cheesy Necrosis) په اند ول.

**Central Necrosis**
مرکزی نکروزس ،دغه ډول نکروزس د هډوکی حجرې يا دکبدی لوبول مرکزی برخه اخته کوی.

**- Cheesy Necrosis**
پنيري نکروز چې د سيفليس او توبرکلوزس ناروغي منځ ته راځي، د (Caseous Necrosis) په اند ول.

**- Coagulation Necrosis**
انعقادي "د پرن کېدنې" نکروزس، د (Coagulative Necrosis) په اند ول.

**- Colliquative Necrosis**
تميعي نکروزس، د (Liquefícative Necrosis) په اند ول.

**- Contraction Band Necrosis**
هغه د زړه عضلي ضايعه چې د مايوفيبريل او باند ونو د شديد انقباض او مايتوکاندريا آفت په منته پېژندل کېږي او په نتيجه کې په انقباضي ناحيه کې د حجرو د ودرېدو له امله مړو حجروته کلسيوم ننوځي.

**-Dry Necrosis**
وچ نکروزس، د شريانونو د تصلب له امله پېښېږي.

**-Fat Necrosis**
شحمي نکروزس، په غوړين نسج خنثي وازدې په شحمي اسيدونو او ګلايسرول اوړي معمولاً پانکرياس او شاوخوا وازدې يې په حاد هيموراژيک پانکرياتيت کې نيسي.

**-Liquification Necrosis**
اوبلن نکروزس، تميعي نکروزس.

**- Mercurial Necrosis**
د مرکيوري له کبله نکروزس.

**- Moist Necrosis**
لوند نکروزس.

**- Phosphorous Necrosis**
د فاسفورس له کبله نکروزس. د فاسفورس په وړاندې د ځای نيونې د ژامنې د هډوکو نکروزس.

**- Post Partum Pituitary Necrosis**
د زېږونې وروسته د نخاميه غدې نکروزس چې غالباً د زېږون په بهير کې د رحمي شديدې وينه بهېدنې او شاک له کبله پېښېږي.

**- Septic Necrosis**
منتن يا انتاني نکروزس.

**- Subcutaneous Fat Necrosis Neoborn**
د تحت الجلدي شحمي نکروزس.د نوي زوکړيو شويو ماشومانو کې د تحت الجلدی وازدې راټولېدنه او کلکېدل.

**- Superficial Necrosis**
سطحي نکروزس.

**- Ustilaginea Necrosis**
د چنياسې او ارګوټ د مسموميت له کبله وچ نکروزس.

**- Zenker's Necrosis**
دا يو ډول استحالوي نکروزس دی.

## Necrospermia
هغه حالت چې پکې سپر ماتوزوئيدونه مړه دي اوهيڅ راز خوځښت نلری.

## Necrospermic
د سپرم د نکروز پورې اړوند.

## Necrotic
د نکروزس اړوند.

## Necrotizing
نکروز منځ ته راوړونکی او پېښوونکی، د نسج وژونکی.

**- Necrotizing Enterocolitis**
نکروز منځ ته راوړونکې ډول د نری او غټوکولمو التهابی ناروغی معمولاً په نوي زېږېدلو کې پريماچور (بې مودې) دي پېښېږي.

**- Necrotizing Fasciitis**
نکروز منځ ته راوړونکې ډول صفاقي التهاب چې په شديد ډول انتاني – باکتريائی ناروغی کې ليدل شی.

## Necrotomy
د مړ جسد او توپسي وازول او غوڅول. ديوې نکروزی ټوټې لېری کوولو کړنلاره.

## Necrotoxin

هغه توکسین چې په حجراتو وژونکی او ویجاړونکی اغېزه لري.

## Needle

ستنه، د پیچکاري ستنه.

**- Aneurysm Needle**

دا نیوریزم ګنډلو لپاره ستنه ، هغه لاستی لرونکې ستنه چې د وینې رګونو د بندوولو لپاره کارول کېږي.

**- Artery Needle**

د شریانونو او جوفونو له منځ څخه د مایع او وینې راویستلو اوږده تش منځې ستنه چې تشونه تشوي.

**- Aspirating Needle**

د اسپیراشن لپاره ستنه، شریانی ستنه د(Artery Needle) په اندېول.

**- Cataract Needle**

د ساد د جراحي کړنلارې سر ته رسولو ستنه.

**- Discission Needle**

د عدسي د سوري کولو لپاره په ساد کې پکارېدونکې د کترکټ یوه ځانګړې ستنه.

**- Exploring Needle**

د کتنو او آزموینو ستنه.

**- Hagedron Needle**

د بخې وهلو لپاره پکارېدونکې ستنه.

**- Hypodermic Needle**

تحت الجلدي ستنه.

**- Knife Needle**

چاړه لرونکې ستنه.

**- Needle Myopathy**

د لوی او غټې ستنې استعمال له کبله د عضلې ناروغی منځ ته راتګ بلل شی لکه د عضلی پیچکاریو څخه روسته .

**-Needle Stick**

د تصادف له مخې دخپل پوستکی پرې کول لکه د نرسانو پذریعه د ستنو (سورنجونو) راپورته کولو پر مهال .

**-Needlestick Injury**

د نرسانو پذریعه د ستنو (سورنجونو ) راپورته کولو پر مهال حقیقی او پوتنسیالی ضرر رسېدلو خطر د وینې راکښلو په وخت لکه [ د زرقیاتو ، وینې نمونې تیارولو په وخت د (HIV) او ( C او HepatitisB) ] د تثبیت لپاره.

**- Silver man Needle**

دا ډول ستنه د بیوپسي اختستنې لپاره پکارېږي .

**- Stop Needle**

ودرېدونکې ستنه ، هغه ستنه چې یوه اوږه لری چې د هغې د ژور تګ مخنیوې کوی.

**- Transseptal Needle**

هغه ستن چې د ترانس سپتال کتېترایزېشن کې د بین الدهلېزی سپټوم دننه ته د تزریق لپاره کاروله کېږي.

## Needling

د ستنې پذریعه د کترکټ بذل کړنلاره. ستنه وهل.

## Needs

اړتیاوې ، ضرورتونه ، اړین شیان او توکی .

**- Medical Needs**

طبی اړتیاوی .

**- Needs Assessment**

د اړتیاوو ټاکنه او ارزوونه . په ټاکلو ګروپ کسانو کې د اړتیاوو تثبیت ته ویل شي.

**- Training Needs Assessment**

د روزنې په موخه د ترینینګ (روزنې ، زده کړو) اړتیاوو ټاکنه لنډه نښه یې (TNA) ده.

**- Needs Deprivation**

داسې یو حالت چې یو څوک د دې فرصت او وخت یا ظرفیت نه لری چې خپل اساسی اړتیاوې په ګوته کړی او وټاکی.

## Neglect

سرغړاوونه، په پام کې نه نیول ، داسې چې د یوه کار د تر سره کوولو په وړاندې بې پروائی کوول یا ماته خوړل ولیدل شي.

## Negatan

د پرازیت ضد او میکروب ضد د نګاټول لپاره سوداګریز نوم دی.

## Negative

منفي نګاټیف.

**- Negative Feedback**

منفی ځواب ، هغه پروسه او نتیجه (پایله) چې پکې منفی غبرګون وښودل شي.

## Negativism

منفی پالنه ، منفی ګڼنه ، منفي ګرائي ،منفي خوښونکی د یو څه په وړاندې تل مخالفه رأیه ښودنه.

## Negatol

ضد میکروب او ضد پرازیت یو ډول درمل دي.

## Negatron

هغه الکترون چې منفي چارج لري.

## Negligence

رفتار. هغه عمل چې د (زخم ،ضرر ، شرر ) پېښه و بل چا ته ورسوی ، قصور، کوتاهي ، مسامحه ، غفلت ، بي

**Nematobiasis**

د نیماتو دا په ګردی او تاریز چینجی اخته کېدنه.

**Nembutal**

د پنتوبار بیتال لپاره سوداګریز نوم دی.

**Neo-**

دا یو مختاړې دی چې د( نوي ، تازه) معنی بشپړوي.

**Neoadjuvant Chemotherapy**

د هغه تومور ناروغانو ته کیموتراپی ورکول چې ورته سمدلاسه جراحی عملیات نه تر سره کېږی.

**Neoantigen**

نوی انټي جن ، تازه منځ ته راغلي انټي جن.

**Neoarthrosis**

د (Nearthrosis) په انډول.

**Neoblastic**

د نوي نسج څخه منځ ته راغلي.

**Neobrol Forte**

د تبې او درد ضد درملو د( پاراستامول او اورفینادرین) ګډ جوړښت لپاره سوداګریز نوم دئ

**Neocerebella**

ګڼه شمېره د (Neocerebellum ) لپاره بلل شی .

**Neocerebellum**

نوی سریبلوم د سریبلوم نوی او وروستنی وده موندلی برخه چې د جانبي لوبونو په پرتله ورته ویل کېږی . د سریبیلوم منځنۍ برخه.

**Neocerebellums**

ګڼه شمېره د (Neocerebellum ) لپاره بلل شی .

**Neocinchophen**

دا د تبې او درد ضد درمل دي.

**Neocinetic**

د (Neokinetic) په انډول.

**Neocortex**

د (Neopallium) په انډول.

**Neocyte**

د نوي او اومې سپینې کریوې یو ډول دی، نوې حجره.

**Neocytosis**

په وینه کې د نیوسایت حجرو منځ ته راتګ.

**Neodiathermy**

د لنډې څپې تودوخې پواسطه درملنه.

توجهي ، بې دقتي ، ساده ګڼل ، سهل انګاری ، بدلباسي ، بدسلیقه ګي یا ناوړه سلیقه ، ناوړه سلوک یا چلند .

**Negribody**

ګردی او بیضوی جسمونه چې لېونی سپی ناروغۍ اخته کسانو د عصبی حجرې په سایتوپلازم کې شتون لرل تثبیت شوی او د ایتالوی باکتریولوژی عالم د (Adelchi Negri) پواسطه په (1903–1912) کالونو کې شرحه شو.

**Neighbor wise**

ګاونډیتوب.

**Neil Robertson Stretcher**

داسې یو تثبیتیه وازوونکې د ترل وسیله چې د هغې پذریعه یو څوک کولای شی دولاړې او پورته لورې حالت غوره کړی او حرکت وکړی او د زخمیانو ناروغانو لېږد لپاره کارول شی

**Neisseria**

د شیزو مایسیت له کورنی یو ډله د سوزاک عامل دی.

- **Neisseria Gonorrhea**

د سوزاک سببي عامل.

- **Neisseria Meningitidis**

د مننجیت لپاره عامل.

**Neisseriaceae**

د شیزو مایسیت له کورنې څخه یوه ډله ده.

**Neisserian**

د نایسریا پواسطه منځ ته راغلي. نایسریائی .

**Neisserial**

د سوزاک ( نایسریا) اړوند صفت .

**Nema**

د چینجي ضد درمل تترا کلورو ایتایلین لپاره سوداګریز نوم دی.

**Nemathelminthes**

د نیماتودا یوه ډله چینجي دي.

**Nematocide**

د نیماتودا چینجي ضد درمل.

**Nematoda**

نیماتودا د( اوږدو ،ګردو) چینجو یوه ډله ده.

**Nematode**

د تار په څېر چینجي ته ورته جوړښت، د نیماتودا چینجیو څخه یو چینجی.

**Neodiloderm**

د دي کلریزون درملیز جوړښت چې نیومایسین سلفیت په خپل جوړښت لري موضعي التهابي درمل دي لپاره سوداګریز نوم دی.

**Neodymium.**

دا یو کېمیاوي عنصر دی د اټومی لمبر(**60**)او اټومی وزن یې (**144,34**) دی درې ظرفیته عنصر دی او سمبول یې (**Nd**)دی.

**Neogenesis**

نوې جوړېدنه.

**Neogenetic**

د نسج د نوې جوړېدنې اړوند.

**Neoglottis**

هغه مزمار چې د حنجرې د مخاطي طبقې څخه د خیاطي او بخې وهلو پواسطه د شزن په پورتنی برخه او تراخیوستوم په پورته برخه کې جوړېږی او یوه دایمي **Stoma** یا لاره او خوله هلته جوړېږی دا کړنه وروسته د **Laryngectomy** څخه تر سره کېږی تر څو د غږ جوړېدنې لپاره لاره جوړه شي. دا د جراحي کړنلارې سرته رسولو له مخې منځ ته راځي.

**Neoglottic**

د نیوګلوټیس اړوند.

**Neohetramine**

د هایدروکلورو تونزیلامین لپاره چې انتی هستامین درمل دي سوداګریز نوم دی.

**Neohmbreol**

د تستوستیرون پروپیونېټ لپاره سوداګریز نوم دی.

**Neohydrin**

د کلور مرودرین چې د یوریتیک دی سوداګریز نوم دی.

**Neoiopax**

دا یو متیامیت سوډیم لپاره سوداګریز نوم دی.

**Neokinetic**

د عصبي موتور میکانیزم اړوند چې د عضلاتو ارادي حرکات ځاري.

**Neologism**

نوی منځ ته راغلی لغت دی چې په رواني ناروغیو کې ښایي یوازې ناروغ د هغه په معنی پوه شي.

**Neomembran**

کاذبه غشأ، نوې غشأ. د (**Pseudomembrane**) په انډول.

**Neomycin**

وسیع الساحه انتی بیوتیک دی چې زرقي او موضعي مستحضرات یې شتون لري او د خوراکي له لارې یې شربتي جوړښت او ګولی یې شته والی لري سیستمیک اغېزه نلري او د انتی سپټیک په څېر پکارېږي. په ګرام منفي باکتریاو ډېره اغېزمنتیا لري.

**Neon**

دا کېمیاوي عنصر دی اټومي لمبر یې (**10**) او سمبول یې (**Ne**) دی.

**Neonatal**

د نیونیټ اړوند صفت.

**- Neonatal Death Rate**

دنوی زوکړو ماشومانو د مړینې کچه چې په هر زر تنه کې څېړل کېږي.

**- Neonatal Maceration**

د ماشومانو د نرمښت هغه حالت چې د رحم دننه د جنینی ودې په لړ کې مړه شوی وی او په امنیوتیک مایع کې پاتې شوې وی.

**- Neonatal Screening**

د نوی زوکړو ماشومانو لپاره د کتنو تر سره کول چې د زېږون وروسته ژر پیل تر څو اړوند ستونزې وموندل شی او درملنه یې وشی لکه د ( **Hypothyroidism** او **Phenylketonuria** ) ناروغیو .

**Neonate**

نوې زېږېدلی ، نوزاد ماشوم ، د زېږونې څخه د لومړیو اونیو (هفتو ) کوچنی ماشوم.

**Neonatal**

د (**Neonate**) اړوند صفت.

**- Neonatal Abstinence Syndrome**

دا یو ډول د نوې زېږون پر مهال اختلال ( **Disorder**) دئ چې د روږدېدنې (اعتیاد لکه د **Opioids** په څېر ) درملو سره مواجه وی او د ګڼ شمېر مغلق اعراضو (**High-Pitched Crying**، **Tremor**، **Inadequate** **Food Intake**، **Fever**، **Sweating** او **Vomiting** ) شتون پکې وی.

**- Neonatal Adrenoleukodystrophy**

نوې زېږېدلي ماشومانو اړوند اډرینولیوکو ډیستروفی.

**- Neonatal Advanced Life Support**

نوې زېږېدلي ماشومانو د ژوند ژغورنې پرمختللې بڼه لارې چارې.

**- Neonatal Alloimmune Thrombocytopaenia**

نوې زېږېدلي ماشومانو د الوایمیونیوم ترومبوسایتوپینیا

نوي زېږېدلي ماشومانو په تشو متبازو کې د هېموګلوبين اطراح .

- **Neonatal Hemochromatosis**

نوي زېږېدلي ماشومانو هېموکروماتوزيس .

- **Neonatal Hepatitis**

نوي زېږېدلي ماشومانو هېپاټيټ .

- **Neonatal Herpes**

نوي زېږېدلي ماشومانو د هرپس ويروسی ناروغی .

- **Neonatal Hyperbilirubinemia**

نوي زېږېدلي ماشومانو هايپربلېروبينېميا .

- **Neonatal Hypoglycemia**

نوي زېږېدلي ماشومانو هايپوګلايسيميا حالت.

- **Neonatal Infant Pain Scale**

نوي زېږېدلي ماشومانو د درد ټاکنې نمره ورکولو درجه بندی جدول.

- **Neonatal Intensive Care**

نوي زېږېدلي ماشومانو د جدی ځارنه ، نوي زېږېدلي ماشومانو اړوند ناروغيو لپاره د جدی ځارنې خونه لنډه بڼه يې (**ICU**) ده.

- **Neonatal Intensive Care Unit**

نوي زېږېدلي ماشومانو د جدی ځارنې ځانګه چې لنډه نښه يې (**NICU**) ده.

- **Neonatal Isoerythrolysis**

نوي زېږېدلي ماشومانو ايزواېريتروزيس.

- **Neonatal Jandice**

نوي زېږېدلي ماشومانو اړوند د زيړی ناروغی.

- **Neonatal Lupus**

نوي زېږېدلي ماشومانو د لوپوس اېريتيماتوزيس ناروغی.

- **Neonatal Lymphedoema-Exudative Enteropathy**

نوي زېږېدلي ماشومانو اړوند لمفاوی –ضخاموی تقيحی انتېروپتی .

- **Neonatal Macrosomia**

نوي زېږېدلي ماشومانو اړند ماکزوميا ناروغتيا چې په هغه ماشومانو کې چې مور يې د شکرې ناروغی ولری پېښېږی ، د (**Macrosomic Fetus, Macrosomic Newborn**) په انډول.

- **Neonatal Hyperbilirubinemia**

نوي زېږېدلي ماشومانو اړوند د وينې سيرم دبلېروبين کچې لوړېدنې حالت .

- **Neonatal Mortality**

نوي زېږېدلي ماشومانو د مړينه.

- **Neonatal Mortality Rate**

نوي زېږېدلي ماشومانو د مړينې کچې ټاکنې اړوند اندازه .

ناروغی.

- **Neonatal Alloimmune Thrombocytopenia**

نوي زېږېدلي ماشومانو د الوايميونيوم ترومبوسايتوپينيا ناروغی.

- **Neonatal Anomalies**

نوي زېږېدلي ماشومانو اړوند انومالی ګانې .

- **Neonatal Anemia**

نوي زېږېدلي ماشومانو وينه لږې (کمخونی) .

- **Neonatal Apoplexy**

نوي زېږېدلي ماشومانو (**Intracranial Hemorrhage In Newborn Children**) حالت.

- **Neonatal Arthritis**

نوي زېږېدلي ماشومانوآرتريټ / د بندونو التهاب.

- **Neonatal Asphyxia**

نوي زېږېدلي ماشومانو زتدی (اسفيکسيا) حالت.

- **Neonatal Aspiration of Meconium**

نوي زېږېدلي ماشومانواړوند د مېکونيوم اسپايرېشن چې د تنفسی سيستم وژونکې ناروغې پېښوی.

- **Neonatal Behavioral Neurological Assessment**

نوي زېږېدلي ماشومانو د نيورولوژيک آزماينېتونو او ارزوونې ترسره کولو چلند ته ويل شی چې په يوه کتاب کې د لاربنود پتوګه چاپ شوې.

- **Neonatal Cardiac Murmur**

نوي زېږېدلي ماشومانو د زړه سوفل/ غېر عادی غږونه.

- **Neonatal Care**

نوي زېږېدلي ماشومانو اړوند ناروغيو ناروغانو ځارنه .

- **Neonatal Chondrodystrophy**

نوي زېږېدلي ماشومانو اړوند کانډروډيستېروفی غضروفی استحالوی ناروغی.

- **Neonatal Death**

نوي زېږېدلي ماشومانو مړګ يا مړينې اړوند .

- **Neonatal Developmental Profile**

نوي زېږېدلي ماشومانو د ودې او انکشاف پروفايل.

- **Neonatal Disease**

نوي زېږېدلي ماشومانو اړوند ناروغی.

- **Neonatal Diagnosis**

نوي زېږېدلي ماشومانو د حالاتو او ناروغتياوو پېژندنه.

- **Neonatal Encephalitis**

نوي زېږېدلي ماشومانو د ماغزو يا دماغ التهاب منځ ته راتګ ناروغتيا.

- **Neonatal Haemoglobinuria**

## Neoplasia

سرطان ، نیوپلازیا ، د نوي نسج منځ ته راتګ لکه د تومورې نسج.

**- Cervical Neoplasia**

د غاړې د اپیتلیوم ډیسپلازیا چې غالباً پرې مالپیګینت بڼه لرې او دهایپر پلازیا اوغیر نارمل کراتینایزیشن د مختلفو درجو او کانډیلوما تا ګانو شته والی سره پېژندل شي.

**- Gestational Trophoblastic Neoplasia**

د نیوپلاستیک اختلالاتو یوه ډله چې د پلاسنتا څخه سرچینه اخلي او د ( Chorioadenoma Destruens , Hydtidform Mole او Choriocarcinoma ) پکې شاملېږي.

**- Mutiple Endocrine Neoplasia(MEN)**

دهغه نادر ډول ناروغیو یوه ډله چې د جنیتیکی نیمګړتیاوو له امله منځ ته راځي او د اندوکرینی سیستم د یوې یا برخو په هایپر پلازیا او فرط فعالیت باندې پای ته رسیږي.

## Neoplasm

نوی جوړ شوی نسج، نوې تومورې کتله.

**- Benign Neoplasm**

سلیم نیوپلازم ، هغه تومور چې نورو انساجو ته مېتاستازس نه کوی او ډېر خطرناک وژونکې ندي.

**- Malignant Neoplasm**

خبیث یا ځنځیري نیو پلازم، هغه تومور چې نورو انساجو ته مېتاستازس کوی او ډېر خطرناک وژونکې دي.

## Neoplastic

د نیو پلازیا اړوند د تومورنو اړوند.

**- Neoplastic Growth**

نیوپلاستیک وده یا نمو.

**- Neoplastic Metastasis**

نیوپلاستیک مېتاستازس.

**- Neoplastic Tissues**

نیوپلاستیک نسج.

**- Neoplastic Tumor**

نیوپلاستیک تومور.

## Neoplasty

د بدن د له منځه تللو برخو د جراحي عملي پواسطه ترمیم .

## Neorickettsia

د ریکتسیا یو ډول چې لاندې ډولونه لرې د مایکروبیوتاتا له کورنې څخه.

**- Neoreckettsia Helminthoeca**

په سلمون لنګرونو کې موندل کېږی .

**- Neonatal Period**

د نوې زېږېدلي ماشومتوب دوره.

**- Neonatal Pneumonia**

د نوې زېږېدلي ماشومتوب دوره د سږو سینه بغل (پنومونیا) حالت .

**- Neonatal Pustular Melanosis**

نوې زېږېدلي ماشومتوب پوستولی بڼه مېلانوزیس.

**- Neonatal Resuscitation**

نوې زېږېدلي ماشومتوب دورې ناروغتیا وو درملنیزه بیارغونه .

**- Neonatal Septicemea**

نوې زېږېدلي ماشومتوب سپتیسیمیا یا مکروبی توکسینونو اغېزو اړوند.

**- Neonatal Special Care**

نوې زېږېدلي ماشومتوب ځانګړې څارنه .

**- Neonatal Tetany**

نوې زېږېدلي ماشومتوب دورې تېتانی .

**- Neonatal Thermoregulation**

نوې زېږېدلي ماشومتوب حرارتی تنظیم .

**- Neonatal Thrombocytopenia**

نوې زېږېدلي ماشومتوب ترومبوسایتوپینیا.

**- Neonatal Tooth**

نوې زېږېدلي ماشومتوب غابنونه.

**- Neonatal Tyrosinemia**

نوې زېږېدلي ماشومتوب تایروسینیمیا .

**- Neonatal Ward**

نوې زېږېدلي ماشومانو اړوند څارنې ځانګه / وارد.

## Neonatologist

د نوی زوکړو ماشومانو اړوند متخصص ډاکټر .

## Neonatology

هغه علم چې نوي زېږېدلي ماشومانو اړوند څېړنې کوي.

## Neonatorum

د (Neonatal) نوی زوکړو ماشومانو دورې په انډول اړوند صفت.

**- Asphyxia Neonatorum**

د (Birth Asphyxia) په انډول.

**- Jandice Neonatorum**

د (Neonatal Jandice) په انډول.

## Neopallium

دا د دماغ د قشر اړوند یوه برخه ده ، د (Neocortex) په انډول.

## Neophobia
د نوي شیانو څخه ویره درلودنه په ناروغي بڼه سره.

## Nephelometer
هغه دستګاه چې د مکدریت د درجې ټاکنې لپاره پکارېږي.

## Nephelometery
د یوه محلول د مکدریت د درجې ټاکنې کړنلاره.

## Nephr-
دا یو مختاړې دی او د پښتورګې معنی ورکوي.

## Nephralgia
د پښتورګي درد.

## Nephrectasia
د پښتورګو د حویضي لوئېدنه.

## Nephrectomy
د جراحي کړنلارې پواسطه د پښتورګي غوځول او راکښل.

## Nephrelcosis
د پښتور ګي قرحه یا ټپ.

## Nephremphraxis
د پښتورګو د رګونو بندښت یا انسداد.

## Nephric
د پښتورګو اړوند.

**- Nephric Abscea**
د پښتورګو اړوند دانې (خراج).

**- Nephric Calcinosis**
د پښتورګو اړوند تکلسات.

**- Nephric Cancrition**
په پښتورګو کې د کلسیوم ترسباتو منځ ته راتګ.

**- Nephric Drainage**
د پښتورګو اړوند دریناژ (تخلیه).

**- Perinephric**
د پښتورګو اړوند چارپیریال پورې تړلې.

**- Perinephric Abscea**
د پښتورګو اړوند چارپیریال پورې تړلې خراجونه (ابسې).

**- Nephridi**
د نفریدیوم ګڼ شمېر.

## Nephridium
دا هغه لومړنې ترشحي نسج په ایمیریونیک ژوند کې بلل کېږي چې وروسته بیا ورڅخه پښتورګي منځ ته راځي.

**- Neoreckettsia Troglotrema Salmincola**
په بېلابېلو کبانو (ماهیانو) کې په تېره بیا په Salmon او Trout کې موندل کېږي ، وینه بهېدنې سره مل انتریت په هغه کسانو کې منځ ته راوړي چې دغه ډول منتن کبان اومه وخوري.

## Neostigmine
دا کولینرجیک درمل دي چې د عضلاتو کار کولو ته سمون مرستیاآله درمل دي او د ملسا عضلاتو حرکات ډېروي. په میاستینا ګراویس کې د درملنې لپاره ورکول کېږي .

**- Neostigmine Bromide**
نیوستیګمین برومايد.

**- Neostigmine Methylsulfate**
میتایل سلفیت نیوستګمین.

## Neostomy
د جراحي کړنلارې په مرسته د یوه غړي یا دوه غړو تر منځ د نوي سوري منځ ته راوړل ، نوې لاره جوړول ، نوې خوله .

## Neostriatum
د مخطط جسم لپاره تر ټولو تازه وده موندلې برخه.

## Neosynephrine
د فینډیل افرین لپاره سوداګریز نوم دی د سمپاتیک پېښې کوونکي د پوزې د احتقان درملنه او سترګومیدریازس لپاره پکارېږي .

## Neothalamus
د تلاموس غدی د قشر جانبي ترېنه برخه چې د کورټکس سره نښلېدلې ده.

## Neothylline
د دې فیلین لپاره سوداګریز نوم دی چې مدرر او قصباتو متوسع کوونکی او محیطي رګونو ته توسع ورکوي.

## Neotenic
د نیوتیني (Neoteny) اړوند.

## Neoteny
د لاروا په مرحله کې پاتې کېدنه حتی تر بلوغ پورې.

## Neopathy
نوې او تازه ناروغي.

## Neophilism
نوې خوښونکې. په غیر عادي توګه د نوي شیانو سره لېوالتیا.

## Nephrism
د پښتورګو د ناروغیو له کبله خوارېدنه او ویلې کېدنه.

## Nephritic
د پښتورګو د التهاب اړوند ، کلیوي ، د پښتورګو اړوند.

## Nephritides
د پښتورګو التهابونه.

## Nephritis
د پښتورګو د نسج التهاب، نفریت.

**- Albuminous Nephritis**
د پښتورګو البوميني التهاب.

**- Aterioslerotic Nephritis**
د پښتورګو تصلبي التهاب پدغه ناروغي کې د پښتورګو شریانونه تصلب کوي از مزمنه ناروغي ده.

**- Bacterial Nephritis**
باکتريائي التهاب د پښتورګو.

**- Capsular Nephritis**
د پښتورګو د کپسول التهاب.

**- Cheesy Nephritis**
د پښتورګو پنیري التهاب.د (Caseosa Nephritis) په انډول.

**- Catarrhal Nephritis**
د پښتورګو نزله يي التهاب، دا د پښتورګو د هرمونو التهاب د قناتونو د انسداد له کبله دی.

**- Chloro- azotemic Nephritis**
د کلوروازوت له کبله د پښتورګوالتهاب.

**- Chronic Nephritis**
د پښتورګو مزمن التهاب.

**- Clostridial Nephritis**
د کلوستریدیوم میکروب له کبله د پښتورګو التهاب.

**- Congenital Nephritis**
د پښتورګو ولادي التهاب دا ډول د سیفلیس ناروغي له کبله چې مور پرې اخته وي منځ ته راځي.

**- Croupous Nephritis**
حاد ډول د پښتورګو التهاب ،د (Acute Nephritis) په انډول.

**- Degenerative Nephritis**
د پښتورګو استحالوي التهاب،د (Nephrosis) په انډول.

**- Desquamative Nephritis**
د پښتورګو ډسیکوامیشن التهاب (نزله يي) .

**- Diffuse Nephritis**
د پښتورګو خپور ( منتشر) التهاب.

**- Dropsical Nephritis**
استسقائي نفریت، نفریت د عمومي اذیما سره.

**- Fibrolipromatous Nephritis**
د پښتورګو شحمي ليفي التهاب.

**- Fibrous Nephritis**
د پښتورګو ليفي (فيبروتيک) التهاب.

**- Glomerular Nephritis**
د پښتورګو د ګلومیرولونو التهاب ته ویل کېږی ، د (Glomerolonephritis) په انډول.

**- Interstitial Nephritis Chronic**
دا د میلانو سایتونو پیګمنتیشن څخه جوړ د مخ د برخې خال دی چې کله نا کله (ملتحمه ، لېمه) دې سیمو ته خپرمه پوستکی د( صلبیه، د سترګو عضلات، د ګاټو د خلف شحم او د حدقي پریوست) برخه هم اخته کوي چې معمولاً یو طرفه وی .

**- Pegmentous Nevus**

پګمنتي خال چې میلانین لری .

**- Sebaceous Nevus of Jadassohn**

دا د سیباسه غدی ولادي تومور دی،هغه سندورم چې د (سکالپ، مخ ، غاړه ) دخطی منفردو همارتومائی تومورونو پذریعه پیژندل شی او نیورولوژیکی او بصری اعراض څرګندوی.

**- Spider Nevus**

د (Nevus Arachnoideus) په انډول.

**- Spilus Nevus**

ښویه او پوست توربخن یاتور خال چې د میلانوسایتونو څخه جوړېږی.

**- Spindle and Epitheloid Cell Nevus**

سلیم مرکب سوربخن کلک نودولي یا پاپولی خال چې په ماشومانو کې لیدل کېږی د (درمی ، دوکی او اپیتلوئید ) حجرو څخه جوړ شوی چې هستولوژیک له پلوه خبیث میلانوم ته رته دئ .

**- Spongiosus Albus Mucosae Nevus**

سپین رنګه اسفنجي خال.

**- Unius Lateralis Nevus**

هغه مبخک چې اپیدرمی خال دئ د خطی پټیو په بڼه وی او معمولاً د دوه نیورو مرونو د ژیو تر منځ ځای لری .

**- Vascular Nevus**

وعائي خال، د (.Vascullisus) په انډول.د پوستکی د رګونو د ضخامې له امله د پوستکی پرمخ سور رنګه پرسوب یا پلاک.

**- Venous Nevus**

وریدي خال.

**- White Sponge Nevus**

د مخاطي غشا سپین اسفنجي خال.سلیم ارثی –ولادی اختلال چې په مخاطی غشأګانو کې د سپین توربخن رنګه سفنجی پراخو درزلرونکو ضایعاتو په واسطه پیژندل شی.

## New

نوی.هغه چې زوړ او پخواني نه وی .

## Newborn

نوی زېږېدلی، نوزاد، تازه زېږېدلی ماشوم ، د (Neonatal او Neonate ) په انډول.

## Newt

یوډول سمساره ( سنګساره ، سوسمار ) چې په وچه او اوبو کې ژوند کوی.

## Newton

د قوې واحد دی دا عبارت له هغه قوې څخه ده چې کله پر یوه کیلوګرام وزن باندې وادر شي هغه په یوه ثانیه تر یوه متر پورې ببڅایه کوي او سمبول یې (N) دی.

## Next

بل، نېژدې، راتلونکی ، تر څنګ .

**- Next-Day Pill**

د راتلونکې ورځې ټابلېټ چې دا د بلاربښت څخه د مخنیوی په ګولیو (ټابلیټونو) کې وی. د (Morning-after Pill) په انډول.

**- Next of Kin**

د یوچا ډېر نیږدې خپلوان چې په روغتونونو کې د جسدونو د سپارلو لپاره په نښه کوی .

## Nexus

باند، اړیکه ،رابطه. هغه تکې چې دوه غړی (ارګانونه یا نسجونو) سره یوځای کېږی ګڼه بڼه یې (Nexuses) بلل شی.

## NF

ملي فورمولر (National Formolary) لپاره لنډه نښه ده.

## NFLPN

د جواز لرونکي نرسانو ملي ټولنه ( National Fedration for Licenced Practical Nurses) لپاره لنډه نښه ده.

## Ng

نانوګرام (Nanogram) لپاره لنډه نښه ده.

## Nicardipine
دا د کلسیوم چینال نهی کوونکی او د کلسیوم آیون دننه کول بنویه عضلی حجرو ته په کراره کوی او د زړه دردونو (Angina) کې پکار وړل شی.

## Niche
تاخچه، تاک، شیلګۍ، قالب، وړتیا، ننوتلې برخه، نښ، چاود، سوری، ضایعه، د یوې تش منځي غړي په جدار کې ننوتې برخه ده لکه د معدې په قرحه یا زخم کې د باریوم میل رادیوګرافي کتنه کې ننوتې روښانه برخه څرګندوي.

### Barclay Niche
د بارکلي ننوتلې برخه دا بد شکله خولۍ ته ورته علامه ده چې د اثنا عشر په قرحه کې په رادیو ګرافي د باریوم کې لیدل کیږي.

### - Ecologic Niche
ایکولوژیکه ځای د هر ژوندي موجود ځای په ټولنه کې.

### - Enamel Niche
د غاښ د مینا هغه یوه ننوتلې برخو څخه هر یو چې د ودې په حال کې د اولیه غاښ د غاښ د لامینا ترمنځ پرتې دی د دې دواړو څخه یوه په ډیستال او بله یې په منځنۍ برخه کې پرته ده.

### - Haudek's Niche
د معدې د مورګۍ غوټۍ یا د جدار ننوتلې برخه چې رنګه یا باریوم راډیو ګرافي کې څرګندیږي.

## NICHHD
د ماشوم روغتیا او انساني ودې اوپراختیاړیوال / ملي انستیتیوت (National Institute of Child Health & Humman Development) لپاره لنډه نښه ده.

## Nick
غوڅونه، پرېکونه، نیونه، غلاکونه، غوڅول، پریکول، سوری کول، چاود جوړول (چول)، په مناسبه موقع کې نیول یا وهل.

## Nickle
نیکل، دا یو کیمیاوي نقره یې فلز ځیک منونکی عنصر دی چې اټومی لمبر یې (28) او اټومی زون یې (58.71) دی او نښه یا سمبول (Ni) دی.

## Nicking
دسترګو د شبکې رګونو موضعي تضیق ته ویل شی.

## Niclosamide
دا د فیتوی چینجیو (Tapeworms) درملنې لپاره غوره

## NHI
د زړه ناروغیوملي انستیتوت (National Heart Institute) لپاره لنډه نښه ده.

## NHMRC
د زړه او طبی څیړنو ملی انجمن او ټولنه (National Heart & Medical Research Council) لپاره لنډه نښه ده.

## NHLI
د زړه او سږو ملي انستیتیوت (National Heart & Lung Institute) لپاره لنډه نښه ده.

## NHS
ملی روغتیائي خدمتونه (National Health Service) لپاره لنډه نښه ده.

## NHS Direct
په برطانیه کې د تلیفون له لارې د نرسانو لپاره خلکو ته رسولو او د معلوماتو راټولولو ملی آساتنیوو مرکز بلل شی.

## Ni
د نیکل (Nickle) کیمیاوي عنصر لپاره سمبول (Ni) دی.

## Niacin
نیکوتینیک اسید. د (B) ویټامینونو له ډلې څخه په اوبو کې منحل ویټامین ($C_6H_5NO_2$) فورمول لری چې حیوانی او نباتی حجروکې موندل شی

## Niacinamid
د نیکوتینک اسید د ($C_6H_6N_2O$) فورمول لری د امايد ګروپ لرونکی جوړ ښت دی چې د پلاګرا (Plagra) د ناروغي د مخنیوي لپاره ورکول کیږي.

## NIAID
د الرژي او انتاني ناروغیو لپاره ملي انستیتوت (National Institute of Allergy & Infectious Disease) لپاره لنډه نښه ده.

## Nialamide
د مونوامینو اوکسیدیز نهي کوونکي درمل دي چې د اضطراب او انحطاط ضد اغیزې لري.

## NIAMD
د مفصلي او میتابولیک ناروغیو ملي انستیتیوت (National Institute of Arthral & Metabolic Disease) لپاره لنډه نښه ده.

## Niamid
د نیالامايد لپاره سوداګریز نوم دی.

- **Nicotinic Receptor**

د نیکوټین اړوند کولینرجیک عصبي رسپټورونه چې داسکلیټي عضلاتو (Neuromuscular Junction) او یا (Autonomic Ganglia) برخو کې واقع دي.

- **Nicotinic Acid**

د (Niacin) په انډول.

## Nicotinism

د تماکو یا نیکوټین له کبله مسمومیت او اعتیاد. دغه حالت لومړېد مرکزي اوتونوم عصبي سیستم په تحریک کېدني او بیا وروسته د انحطاط لامل کېږي چې مرګ د تنفسي سیستم د فلج له کبله وي.

## Nicoumalone

د اسینوکومارون (Acenoconnarole) په انډول.

## Nictation

سترګه وهل، سترګک، د یوې سترګې چټکه پټول. د (Nictitation) په انډول.

## Nictitation

سترګه وهل، سترګک، د یوې سترګې چټکه پټول. د (Nictation) په انډول.

## Nidal

د (Nidus)اړوند صفت.

## Nidation

زایګوت، د هګۍ ځای په ځای کېدنه او تم کېدنه په زېلانځه کې د القاح وروسته د بلاربتیا په محال.هغه پروسه چې پکې د رحم د اندومتریوم طبقه د دوه حیض دورو ترمنځ بیا ترمیم کېږي. د (Implantation) په انډول.

## Nidi

ناروغه ځایونه،کورکي. د (Nidus) لپاره ګڼه شمېره.

## NIDR

د غاښونو اړوند څېړ نو لپاره ملي انستیتیوت (National Institute of Dental Research) لپاره لنډه نښه ده.

## Nidus

د هګۍ اچولو ځای، هسته ، کورکي، خونه د ناروغي د بهیر ټکی.

- **Nidus Avis**

په سربیلیوم یا مخچه کې انحطاطي برخه د خلفي (Velum) او د (Uvula) تر منځ موقعیت لري. د(Nidus Hirundinis) په انډول.

- **Nidus Hirundinis**

د ( Nidus Avis) په انډول.

درمل دي.

## Niconyl

د ایزونیازید(INH) لپاره سوداګریز نوم دی.

## Nicotinamide

د (Niacinamide) په انډول.

- **Nicotinamide Adinine Dinucleotid**

د نیکوټین آماید مونو نوکلیوټاید پایروفاسفیټ څخه جوړ کوانزایم چې د اډینوزین مونو فوسفیت سره یوځای وی او په ډېرو انزایماتیک غبرګونونو کې ونډه اخلي او پدې تعاملاتو کې اکسیدایز کېدو ( $NAD^+$) او ارجاع کېدو(NADH) سره د الکترون په لېږد رول لوبوی لنډه نښه یې(NAD) ده.

- **Nicotinamide Adinine Dinucleotid Phasphate**

د پایروفاسفیټ سره نښلېدلي نیکوټین آماید مونو نوکلیوټاید څخه جوړ کوانزایم چې د له (5,2) بای فاسفیټ سره یوځای کېږي او په تعاملاتو کې د ځان اکسیدایز کېدو ( $NADP^+$) او ارجاع کېدو(NADPH) سره د الکترون په لېږد رول لوبوی لنډه نښه یې (NADP) ده.

## Nicotine

نیکوټین، یو ډول الکوئید دی مسموم کوونکې بڼه لري او له تنباکو څخه لاس ته راځي چې په مصنوعي توګه هم لاس ته راځي.

- **Nicotine Addiction**

د نیکوټین موادو سره اعتیاد او عادت کېدل.

- **Nicotine Patch**

هغه لاره چې پکې نیکوټین مواد د ویني بهیر ته په کراره سره آزادېږي د پوستکي لپاسه کېښودل شي او له هغه ځایه جذبېږي .

- **Nicotine Poisoning**

هغه مسمومیت چې د نیکوټین مادې خوراک ، څښکولو یا څښاک له امله د اوتونوم عصبي سیستم کې پېښېږي ورته (Nicotinism) هم وایي.

- **Nicotine Receptor**

د نیکوټین اړوند کولینرجیک عصبي رسپټورونه چې داسکلیټي عضلاتو (Neuromuscular Junction) او یا (Autonomic Ganglia) برخو کې واقع دي.

- **Nicotin Replacement**

د نیکوټیني موادو یا هغه ته ورته مادې تعویض د اعتیاد له منځه وړلو په موخه .

## Nicotinic

د نیکوټینو اړوند صفت .

## Niemann-Pick Disease
دا یو ډول ارثي ناروغي ده چې پکې دمېتابولېزم اختلال منځ ته راځي پکې ماشوم د( رودلو ستونزه ، د ( 3-6 ) میاشتوعمر پورې پرسېدلې ګېډه ، او په لومړنې موتور مهارتونو کې پرمخ تللې ضایعه) شتون لري .

## Nifedipine
د کلسیوم چینل بلاک کوونکې درمل دی چې د فرط فشار درملنه کې کارول شي.

## Nifuroxime
دا انتي بیوټیک دي چې په وحیدالحجروي میکروبونو کې پکاریږي.

## Night
شپه، تروږمی، تیاره.

- **Night Duty**

د شپې نوکریوالی ، هغه طبي کارکوونکي چې د شپې له خوا په روغتونونو او طبي تاسیساتو کې کارکوي.

- **Night Cap**

هغه خولۍ چې دخوب په وخت کې پرسره کیږي، شوکلا، یو ډول مشروب چې دویدیدو څخه مخکې څښل کیږي.

- **Night Dress**

خوب کالي، دشپې کالي.

- **Night Fall**

تره غوني، لومړی ماښام.

- **Night Gown**

دښځو اوماشومانو دخوب کالي.

- **Night Nurse**

هغه نرس چې د شپې له خوا نوکري ورکوي.

- **Night Sweat**

هغه حالت چې د شپې له خوا پکې ناروغان ډېره اندازه خوله کوي .

- **Night Terror**

هغه اخلال شوې موده د خوب چې پکې ماشوم تېره خاطره په یاد نلري

## Nightingale Ward
یوزوړ موډل اوږد وارډ چې د بسترونو لړۍ د ناروغانو بستر لپاسه پر هر دېوال د نرسنګ لاښودنې او کارولو لپاره کارول شي.

## Nightmare
وېرونکی ډول خوب لیدنه،خپسکه، خپسه، خپسۍ.

## Nightshade
د سولانوم له کورنۍ څخه یو ډول بوټی دی، سپنګور، کروړه، ګیدړکور.

- **Deadly Nightshade**

د بلارون پاڼه.

## NIGMS
د طبي عمومي علومو لپاره ملي انستیتیوت ( National Institute of General Medical Science) لپاره لنډه نښه ده.

## Nigra
تور، د تور رنګ لرونکی.

- **Linea Nigra**

توره کرښه ، تورلاین ، تور بخن خط.

## Nigral
د تور رنګ اړوند. تور والی.

## Nigrities
تور والی.

## Nigrities Linguae
توره ژبه د ژبې تور والی.

## Nigrosin
د انیلین رنګ ($C_{36}H_{27}N_3$) چې پرګانګلیون باندې ځانګړې اغېزې لري.

## Nigrostriatal
د تور موادو څخه استطاله د کارپوس ستریاټوم لوري ته چې ورته د اعصابو فایبرونو بنډل وایي.

## NIH
د روغتیا ملي انستیتیوت (National Institute of Health) لپاره لنډه نښه ده.

## Nihilism
له هر څه څخه انکار، له هستې انکار،هسې یو حالت چې پکې یو څوک ټولنیز آساتتیاوی او عقاید د (مورال او مذهب) ردکوي او نه یې مني.

## Nihilistic
د (Nihilism) اړوند صفت.

## Nikethamide
نیکتیمامايد، د مرکزي او تنفسي سیستم لپاره تنبه کوونکې درمل.

## Nilevar
د نیوروتیندرولون لپاره چې پروجسترونې عامل دی سوداګریز نوم دی.

## Nim
د رواني او روحي روغتیا لپاره ملي انستیتیوت (National Institute of Mental Health) لپاره لنډه نښه ده.

د تیبیونو څوکه، د تیبیونو حلیمه،د تی څوکې هر ډول راوتلی جوړښت ته ویل کېږي.

**Nissl Body**

یو دهغه حبیباتو څخه چې په عصبی حجرې سایتوپلازم کې یې هسته راچاپیر کړېوی د لومړی ځل لپاره جرمنی روانپوه عالم ښاغلی (Franz Nissl) پواسطه په (1894–1919) کالونو کې شرحه شوه.

**Nissl Granule**

د (Nissl Body) په انډول .

**Nisulfazole**

د پارا نایتروسلفاتیازول لپاره سوداګریز نوم دی.

**Nisus**

کوښښ او هڅه، هڅه او هاند ، جد و جهد .

**Nit**

د سپږو هګۍ، رشک ، ریچې، رنې.

**Nitavirus**

دا ویروس د(DNA) څخه جوړ دی دا د ایئوزینوفیل سره مل وي او د حجراتو مرکزي برخه اخته کوي اتتاني ناروغي منځ ته راوړي.

**Niter**

د پوتاسیم نایتریټ جوړ ښت، ښوره.

**Niton**

د کېمیا په جدول رادون چې ښنبه یې ( Rn)، اټومی وزن ( 222.00)، اتمي شمېره یې(86) ، دذوب (ویلې کېدنې ټکې یې ( 71°C ،او د خوټېدنې (جوش) ټکې (61 - 80°C) ، د (Radon) په انډول.

**Nitranitol**

د هګزانایتریټ مانیټول لپاره سوداګریز نوم دی .چې دا مواد د رګونو متوسع کوونکي او د فشار ضد اغېزې څرګندوي

**Nitrate**

د نایتریک اسید مالګیزه بڼه.

**-nitrate**

دا یو روستاړې دئ او نایتریټ لرونکو درملو اړوند معنی بشپړوی.

**Nitrazepam**

دا یو ډول ترانکولایزر دی او خوب راوړونکې اغېزی لري .

**Nimiety**

ډکوالی، ډېران شوی، انبار شوی، کوټه شوی، زیاتوالی.

**Nimodipine**

د کلسیم چینل بلاک کوونکې درمل دی چې او د وازو ډایلاټور په توګه پکار وړل شی.

**Nindb**

د عصبي ناروغیو او ړ وندوالي ملي انستیتیوت( National Institute of Neurological Disease & Blindness) لپاره لنډه ښبه ده.

**Ninety**

نوي (90) ، د نوي عدد.

**Ninety-Nine**

هغه لمبر چې د ډاکټر له خوا د ناروغ څخه د خولې خلاصولو وروسته پوښتنه کېږي تر څو د ستونی خلف برخه را څرګنده او وکتل شي

**Ninhydrin**

د امینواسیدونو د آزموینې لپاره کېمیاوي جوړ ښت دی.

**Ninny**

بیړا ، بې عقله ، ناپوه .

**Ninnism**

بیړاتوب ، بې عقلی ، ناپوهی.هغه حالت چې پکې د یو چاعقل وده نه وی کړی او د ماشومتوب په حال پاتې وی.

**Niobium**

نیوبیوم، دا یو کېمیاوي عنصر دی چې اټومی لمبر یې (41) او اټومی وزن یې(906.92)دی فلز دی او کېمیاوي سمبول یې (Nb)دی.

**Nionate**

د اوسپنې ګلوکونیت (Ferrus Gloconate) لپاره سوداګریز نوم دی.

**Niperyt**

ټیټرانایتریټ او پنټا اریټریټول لپاره نوم دی چې د رګونو متوسع کوونکې ځانګړ تیاوې لري.

**Niphablepsia**

د واورې په وړاندې د تتکېدنې له کبله نه لیدنه یا ړوندوالی.

**Nipple**

**Nitre**

پوتاسیم ناتریټ، ښوره او (Niter) یې هم بولي .

**Nitremia**

په وینه کې د ازوت (Azote) زیاتوالي ته ویل کېږي.

**Nitretamine**

د ترولینتریټ سوداګریز نوم دی د رګونو متوسع کوونکي درمل دي.

**Nitric**

د ازوت د جوړ ښت اړوند ، د ښورې اړوند .

**- Nitric Acid**

د نایتریک اسید ، د ښورې تېزاب.

**Nitrification**

د نایتریټونو اکسیدیشن یا تحمض او د هغوی بدلېدنه په ښوره، دا د باکتریاو پواسطه د امونیا اوکسیدیشن دی او د نایتریټ جوړ ښت منځ راوړي .

**Nitrify**

نایتریټ جوړول، په ښوره بدلول.

**Nitrile**

د (CN –) یو ظرفیت لرونکی جوړ ښت دی، نایټریل.

**Nitrite**

د نایترس اسید مالګه چې په صدري خناق کې پکاریږي.

**- Sodium Nitrite**

سوډیم نایتریت.

**- Potassium Nitrite**

پوتاسیوم تایټریټ.

**Nitrobacter**

د شیزومایسیت له کورنۍ څخه یوه ډله باکتریاوې دي.

**Nitrobacteraceae**

د شیزومایسیت له کورنۍ څخه یوه ډله باکتریاوې دي.

**Nitrobacteria**

هغه باکتریا چې امونیا اوکسیدایز کوي او نایتریټ جوړوي.

**Nitrobenzene**

د پطرول له توکسین څخه یو مشتق نایتروبنزین.

**Nitrobid**

د نایتروګلایسرین لپاره سوداګریز نوم دی.

**Nitrocellulose**

د (Pyroxylin) په انډول

**Nitrocystis**

د شیزومایسیت له کورنۍ یوه ډله باکتریاوې دي.

**Nitrofuran**

دا یوه ډله د باکتریاو ضد درمل دي.

**Nitrofurantion**

دا ډول انټي بیوټیک د بولي سیستم د انتاناتو پر ضد پکاریږي.

**Nitrofurazone**

دا ډول انټي بیوټیکونه د موضعي انټي باکتریال درملو په څېر پکاریږي.

**Nitrogen**

نایټروجن ، دا یو (بد بویه، بې مزې او بې رنګه) کېمیاوي عنصر دی چې اټومی لمبر یې (7) او درې ظرفیته او پنځه ظرفیته لرونکې ښه یې شتون لري د هوا (78) فیصده جوړ وي سمبول یې (N) دی.

**- Alloxuric Nitrogen**

د پیورین د قلویاتو سره د نایټروجن ګډ شتون.

**- Amid Nitrogen**

د امین ګروپ لرونکی نایټروجن د پروټین هغه نایټروجن برخې چې امینواسید لري. د (Amino Nitrogen) په انډول.

**- Authentic Nitrogen**

د (Legitimate Nitrogen) په انډول

**- Filtrate Nitrogen**

د (Nonprotein Nitrogen) په انډول

**- Legitimate Nitrogen**

غیر منطقي نایټروجن.

**- Justifiable Nitrogen**

منطقي نایټروجن، چې په ژوندي بدن کې په مصرف رسیږي او له بدن څخه اطراح کېږي.

**- Mustards Nitrogen**

موستارډ نایټروجن.

**- Nitrogen Narcosis**

نایټروجنی نارکوز ،هغه د بیهوښۍ حالت چې پکې په دماغی انساجو کې دنایټروجن راټولېدنې له امله منځ ته راځي .

**- Nonprotein Nitrogen**

د وینې د بهیر آزاد نایټروجن چې د پروټیني جوړ ښت سره کومه اړ یکه نه لري، لکه د یوریا نایټروجن، یوریک اسید ، کریاټینین، کریاټین، امینواسید ، پولي پیپساید جوړ ښتونه.

**Nitrogenous**

نایټروجن لرونکی، ازوت لرونکی، نایټروجني.

**Nitrostate**

د نایتروګلایسرین لپاره سوداګریز نوم دی.

**Nitrous**

نایټروجن د یوه ظرفیت لرونکی.

**Nitrous Oxid**

دا ($N_2O$) ګاز د تنفس له مخې بېهوښي منځ ته راوړي . او ورته د (Laughing Gas) نوم هم ورکړل شوېدئ.

**-Nitrous Acid**

غیر ثابت ضعیف اسید دی($HNO_2$) دا د امین آزاد ګروپ لري چې د هایدروکسیل او ګازي آزاد نایټروجن جوړ وي دا مواد د یوریا د تثبیت لپاره پکارېږي مالګیزه بڼه یې لاندې ډول لري.

**Nitrovas**

د ترای تایتریت ګلایسریل لپاره سوداګریز نوم دی.

**Nl**

نانو لیتر (Nanoliter) لپاره لنډه نښه.

**NLN**

د نرسانو ملي اتحادیه (ټولنه) ( National League Nursing)لپاره لنډه نښه ده.

**Nm /Nm**

نانومتر (Nanometer) لپاره لنډه نښه.

**NMA**

د ملاریا ملي ټولنه(National Malaria Association)لپاره لنډه نښه ده.

**NMA**

طبي ملی ټولنه(National Medical Association)لپاره لنډه نښه ده.

**NMC**

د قابلګی او نرسانو ټولنه ( Nursing and Midwifery Council) لپاره لنډه نښه ده.

**Nmol**

د نانومول (Nanomole) لپاره لنډه نښه .

**NMR**

هستوی مقناطیسی ریزونانس ( Nuclear Magnetic Resonance) لپاره لنډه نښه.

**NMRI**

د طبي څېړ نې ملي انستیتیوت ( National Medical Research Institute)لپاره لنډه نښه ده.

**NMSS**

د ګڼ شمېر رګونو د تصلب د ناروغیو د درملنې او څېړ

**Nitroglycerine**

دا د رګونو توسع ورکوونکې درمل ($C_3H_5N_3O_9$) فورمول لري دا درمل د زړه د صدری خناقي دردونو د مخنیوي لپاره پکارېږي.

**Nitroglyn**

د ګلایسرین ترای نایتریت لپاره سوداګریز نوم دی چې د صدري خناق او سالنډې (استما) ضد درمل دي.

**Nitrol**

د (Nitroglyn او د Nitroglycerin Trinitrate) په انډول.

**Nitromannite**

هګزا نایتریت مانیتول درمل چې د رګونو توسع ورکونکی دی.

**Nitromexsol**

دا د سیمابو مرکب درمل د میکروبونو ضد موضعي انتي بیوتیک دی.

**Nitrosification**

د امونیا اوکسیدیشن او د هغوی بدلون په نایتریت.

**Nitrosify**

د امونیا اوکسیدیشن او په نایتریت بدلول.

**Nitrosobacteria**

نایتروزو باکتریا .

**Nitrosobacterium**

هغه میکروب چې نایټروجن اوکسیدایز کوي او هغه په نایتریټ بدلوي.

**Nitrosoceccus**

د شیزومایسېټ باکټریاوو له کورنۍ څخه یوه ډله.

**Nitrosocystis**

د شیزومایسېټ باکټریاوو له کورنۍ یوه ډله.

**Nitrosogloea**

د شیزومایسېټ باکټریاوو له کورنۍ یوه ډله.

**Nitrosomonas**

د شیزومایسېټ باکټریاوو له کورنۍ یوه ډله.

**Nitrosospira**

د شیزومایسېټ باکټریاوو له کورنۍ یوه ډله.

**Nitrosourea**

دا په شحم کې منحله بیولوژیکه قلوي ماده ده چې پدې کې (کارموسین او لوموسین) شتون لری ، دا ماده د سرطاني ناروغیو په درملنه کې پکارېږي.

د (Somnambulism) په انډول .

## Nocte

دشپې له خوا چې معمولاً په نسخه جاتو کې لیکل شی.

## Noctec

د کلور ډلهایدریت لپاره سوداګریز نوم دی.

## Noctiphobia

د شپې له ناروغي څخه ویره درلودنه.

## Nocuity

مضر، ضرر رسونکی، زیان رسونکی.

## Nocturia

د شپې له خوا ډېرې متیازې کول. د (Eneuresis) په انډول.

## Nocturnal

دشپې، شپنی ،د (Nocturia) اړوند صفت .

**- Nocturnal Emission**

د منی تولېدا او راوتل له قضیب څخه کله چې یو څوک په خوب ویده وی.

**- Nocturnal Enuresis**

د شپې د خوب پرمهال د بستر لپاسه متیازې تلل چې ورته (Bedwetting) هم وايي.

## Nocturne

خوب راوړونکی ساز آواز.

## Nodal

د (Nodes) اړوند صفت.

**- Nodal Tachycardia**

د نوډ اړوند ټاکی کارډیا چې سمدلاسه دغه د حملې په توګه منځ ته راځی. د (Paroxysmal Tachycardia) په انډول.

## Noddy

بیړا: داوبو توتکی .

## Node

غوټه، پړ سوب، راوتلې برخه، عقده، نوډ.

**- Node Of Aschoff And Tawara**

د آشوف او تاوارا غوټه.

**- Atrioventricular Node**

د ازیني بطیني غوټه. د (Auriculoventricular Node) په انډول.

**- Bouchard's Node's**

د ګوتو د دوهم بند په برخه کې وي چې داسې فکر کېږي چې د معدې اتساع "ګاسترکتازي" حالت شتون لري.

**- Durck's Node**

دا د ماغز د قشر په برخه کې د ګرانولوماتوز ارتشاح حالت د تریپانوزوم په اخته کېدنې په وخت کې منځ ته راځی.

.

نې لپاره ملي ټولنه( National Multiple Sclerosis Society)لپاره لنډه نښه ده.

## Nn

عصبي ریښې، اعصاب، د (Nervi) لپاره لنډه نښه.

## NND

نوي درمل او غیر رسمي (New & Non Official Drug)لپاره لنډه نښه ده.

## No

نوبیلوم (Nobellum) کېمیاوي عنصر دی چې اټومی لمبر یې (120) او تومي وزن یې(253) دی، سمبول یې (No) دی.

## No

یه، نه، هیڅ. د (Not) په انډول .

## Nocardia

د شیزومایسېټ باکټریااوو له کورنۍ یوه ډله.

## Nocardial

د نوکارډیا اړوند.

## Nocrdiosis

د نوکارډیا په میکروب اخته کېدنه.

## Noci-

دا یو مختاړی او د ( زیان یا ضرر، صدمه ، درد ) معنی بشپړوي.

## Nociassociation

د ضرر یا صدمې له کبله د عصبي انرژي ضایع کېدنه.

## Nociceptive

دهغه اعصابو اړوند چې درد سیاله او احساس دماغ ته لېږدوی.

## Nociceptor

د سیاله اخیستنې هغه غړی چې د (ضرر او زیان) په وړاندې ډېر حساس دی او د درد داحساس سبب ګرځي.

## Noci-Influence

د ضربې یا ترضیضانو اغېزې.

## Nociperception

د ترضیضي تحریکاتو درد درک کول.

## Noctalbuminuria

د شپې له خوا په متیازو کې د البومین زیاتوالی.

## Noct-

دا یو مختاړې دئ او د شپې معنی بشپړوی.

## Noctambulation

د (Node) ګڼه شمېره ېې.

## Nod Off

خوبجن حالت ، په خوب ننوتې ، خوبولې.

## Nodose

غوټه لرونکې، عقده لرونکې، د غوټې یا راوتلتیا لرل.

## Nodosity

یوه غوټه ، د غوټې لرلو ځرنګوالې ، د عقدې کیفیت لرونکی غوټه.

## Nodosum

د ( Erythema Nodosum ) په اړوند.

- **Erythema Nodosum**

نوډولی سوروالې ، نوډولی سره مخه.

## Nodoventicular

له بطین سره د بطنیی – دهلېزی غوټې پیوستون.

## Nodular

د غوټې اړوند ، غوټه لرونکی.

## Nodule

نوډول ، کوچنی غوټه ، غوټکی ، لږ پړسوب.

- **Albinis Nodule**

اسیني عقدات.

- **Apple Jelly Nodule's**

دا په لوپوس ولګاریس کې لیدل کېږی.

- **Nodul's Of Arantius**

ارانتیوس اجسام.

- **Aschoff's Nodule's**

د آشوف نوډول ونه.

- **Bianchis Nodule's**

د(Arantius body) په اړوند.

- **Brenner Nodule's**

د برنر په تومور اخته کسانو کې د کیست په دېوال کې نوډولاری کتلې

- **Epicardial Nodule's**

د زړه د اپي کارډ نوډولونه.

- **Gamna's Nodule's**

دا نصواري یا ژېړ قهوه ئي نوډول ونه دي چې د ګمنا په ناروغي کې په توري کې لیدل کېږی. د( Gandy Gamna Nodule's) په اړوند.

- **Jeanselme's Nodule's**

د تریپانیما په میکروب اخته ناروغانو کې دا ډول نوډول ونه په بندونو یا مفصلونو کې نږدې برخو کې منځ ته راځی.

- **Flack Node**

د (Sino-atrial Node) په اړوند.

- **Haygarth's Node's**

د بند پړ سوب په ارتریتس دیفورمانس کې.

- **Hensen's Node**

د (Primitive Knot) په اړوند.

- **Heberden's Node**

په اوستوارتریت کې د لاس د ګوتو بندونو په برخه کې راوتلې غوټې او پړ سېدلې برخې شتون لري.

- **Keith's Node**

د ( Keith Flack Node او Sino-atrial Node ) په اړوند.

- **Lymph Node**

لمفاوي غوټې لمفاوي عقده.

- **Meynet's Node's**

دا د روماتیزم په ناروغي کې په مفصلي کپسول او ټلیناُون برخو کې په ځ انګړ ي توګه ماشومانو کې لیدل کېږی.

- **Node's Of Ranvier**

متناوبه انقطاع او ضابعه په میالین پوښ کې.

- **Rotter's Node's**

دا هغه لمفاوي عقدات دي چې د تیپونو په سرطاني ناروغي کې د سینې په برخه کې تثبیت کېږی.

- **Sentinel Nodes**

د اخطار غوټې دا د کیڼ لوري ترقوي هډوکي لپاسه حس کېږی او کېدای شی د یوه غړ ي د سرطان په میتاستاز دلالت کوي.
د (Signal Node's) په اړوند.

- **Schmorl's Node**

د فقراتو په برخه کې غیر منظم ګردی د هډوکو نقیصه ده چې د فقراتو په پورته او ښکته مورګه کې تثبیت کېږی.

- **Sentinel Node**

لویه شوې سوپراکلاویکولار لمفاوی غده چې غالباً د خبیث بطنی تومور لومړنی نښه ګڼله شی.

- **Singer Node**

کوچني سپین نوډول ونه د صوتي حبولونو په برخه کې چې دغه حالت په سندرغاړ و حنجره کې تثبیت کېږی.

- **Sinoatrial Node**

د (Sinus Node) په اړوند.

- **Teachers Node**

د (Singers Node) په اړوند.

- **Troisier's Node**

د ( Virchow's Node او Sentinel Node ) په اړوند.

- **Vital Node**

حیاتي غوټې، حیاتي عقده.

## Nodi

غوټې- عقدات، غوښن پړسوب، مرغېږي، غده.

**Noduli**

کوچنی کوچنی غوټې، کوچنی نوډولونه.

**Nodulus**

د (Nodule) په انډول.

**Nodus**

غوټه ، عقده ، د (Node) په انډول.

**Naguchia**

د شیزو مایسیت له کورنۍ څخه یوه ډله باکتریاوې دي.

**Noise**

خوږ، غال مغال، شور ماشور، غږېز ، غوربږ (غږبدل).

**Noiseless**

بې ږغه، بې شور ماشوره، بې غال مغاله.

**Noisome**

زیانمن ( دروغنباټه ) کرکجن، بدبویه، خوږوسکن.

**Noludar**

د متیپریلون لپاره سوداګریز نوم دی خوب راوړ ونکی مسکن درمل دي.

**Noma**

د (Cancrum Oris) په انډول. دا ډول ناروغي د انساجو د تخریب سره مل وي لکه د خولې ګانګرینوز ستوماتیت اوتناسلی هډونوګانګرینی درماتیت.

**- Noma Pudendii**

د فرج او مهبل برخې نوما ناروغي.د (Noma Vulvae) په انډول.

**- Noma Vulvae**

د (Noma Pudendii) په انډول.

**Nomen**

نوم، اسم.

**- Anatomica Nomen**

اناټومیک نوم. د (Nomina - anatomica) په انډول.

**Nomenclature**

د نومونو بنه، د اصطلاحاتو نیولیک، ترمینالوژي، نوم اېښودنه، په ساینس کې د ( اناټومیک جوړښتونو ، ارګتنیزمونو) دنوم اېښودلو سیستم.

**- Anatomic Nomenclature**

اناټومیک نوم اېښودنه.

**- Binomal Nomenclature**

دوه نومی نوم اېښودنه. د لاتینی دوه کلیمو په واسطه چې یوه یې (Genus) او بله یې (Species) ده د ژویو او بوټو د نومونې سیستم.

**- Juxta- Articular Nodule's**

د (Jeanselme's Nodule's) په انډول.

**- Leishman's Nodule's**

د لشمانیا یا کالدانې په ناروغي سور رنګه نوډول دی چې د بدن په ښکاره برخو مخ لاسونو پښو او نورو برخو کې منځ ته راځی دا کلوئیدي ډوله (Kelloid like) غیر قرحوي اندفاع ګانې دي.

**- Lisch Nodule's**

د سترګې د عنبيې هامارتوما ګانې چې په نیورفیبروماتوزیس کې شتون لري .

**- Lymphatic Nodule's**

لمفاوي نوډولونه ،لمفاوي فولیکولیونه.

**- Milker Nodule's**

دا د لاس په برخه کې ګردی کلک نوډول ونه دي په هغه کسانو کې غوا لوشي او لاسونه یې په شیدو لړ لي وي او (Cow Pox) ولري لیدل کېږی. د (Paravaccinia) په انډول.

**- Morgagni's Nodules**

د (Arantius Body) په انډول.

**- Pearly Nodules**

د مرغلرو په څېر نوډول ونه دا د ځارویو یا غواګانو په نري رنځ اخته ناروغانو کې لیدل کېږی.

**- Pulp Nodules**

غاښی، د پولپ نوډول . د (Denticle) په انډول.

**- Rheumatic Nodule**

دا کوچنی ګردی بیضوي ډول تحت الجلدي نوډول ونه دي چې معمولاً د اشوف اجسامو څخه منځ ته راځی او روماتیزم له تبې وروسته لیدل کېږی. د (Aschoff's Bodies) په انډول.

**- Schmorl's Nodule's**

دا غیر منظم نیمه دایروي نیمګړتیا د هډوکو نقیصه ده او د فقراتو د جسم په ښکتنه یا پورتنۍ برخه او مورګه کې لیدل کېږی.

**- Tritceous Nodules**

دا غضروفي نوډولونه دي.

**- Typhus Nodule's**

دا د محرقې په ناروغي کوچنی جلدي نوډول ونه دي چې په رګونو شاوخوا (پیري واسکولار ) برخو کې مونو نوکلیر حجرات ارتشاح مومي.

**- Nodule's Of Vermis**

د سریبلیوم یا مخچې په بطني سطحه هلته چې میدولاړ (Velum) په تماس کې دی دا نوډولونه منځ ته راځی.

**- Warm Nodule**

دا د زرقي یا تایراید په غده کې تاوده نوډولونه منځ ته راځی، دا ټکی د (Iod[131]) د نورو برخو په اندازه جذبوي او معمولاً کارسینومائي ندي.

**- Taxonomic Nomenclature**

د طبقه بندي نوم ايښودنه.

## Nomina

نومونه، اسمونه.

**- Nomina Anatomica**

بين المللي (نړيوال) منل شوی اناټوميک نومونه.

## Nominal

تش په نامه، خيالی، تصوری، بې ارزښته، جزئی.

## Nominally

په خيالی توګه.

## Nominate

فرمول كانديدول، معرفی کول، ټاکل.

## Nomination

ټاکنه، معرفی.

## Nomination

ټاکنه، معرفی.

## Nomogram

د نوموګرافي پواسطه د انځور منځ ته راتګ.د څو درجه بنديو لرونکې نخچه چې پداسې ډول چمتو شوی ده چې د نخچې په مخ پراته مستقيم خطونه د متحول په څو ټکو کې دغه درجه بندی قطع کوی .

## Nomography

د نوموګراف د انځور کړنلاره.

## Noman

نه ورځې، په نه ورځو کې ،نه ورځنی ، نهمه.

## Non

غير، نه، هيڅکله،نلرل ، د (**Not**) په انډول.

**- Non -A, Non-B Hepatitis**

هغه هيپاټيت چې پرته له (**A, B**) څخه وی لکه د (**Hepatitis C**)او نورو په څير.

**- Non-Absorbable Suture**

هغه جراحی تارونه چې د عمليات وروسته په بدن کې د جذب وړندی

**- Non-Accidental Injury**

غير تصادفی ترضيض يا جروحات ، قصدی او عمدی زيانونه.

**- Non-Allergenic**

بې حساسيته ،پرته له حساسيت څخه منشه لرونکې.

**- Non-Cancerous**

غير سرطانی ، هغه تومورونه چې خباثت نلری ، غير خبيث.

**- Non-Clinical**

غير کلينيکی ، هغه چې د طبی کلينيک له پلوه نه څرګندېږی لکه (غير کلينيکی خدموتونه، اداری خدمتونه ،غيرکلينيکی لارښودونه او پروتوکولونه) .

**- Non-Compliance**

**1**-پرته له اجابت ، پرته له پذيرش څخه ، بې اطاعته ، پرته له رضايته ، **2**- هغه درمل چې ناروغانو ته پرته له اساسی پيروی (ډوز- وخت وخوړل يا ورکړل شی ) درملنيز عدم کفايه .

**- Non Compos Mentis**

د سالم فکر مخالف، د سليم عقل خلاف. هيڅ غږ نه درک کېږی ، د (**Not of sound mind**) په انډول.

**- Non-Contagious**

غير منتن ، هغه چې پرته له ککړتيا څخه وی.

**- Non-Drowsy**

پرته له خوبجن حالت ، بېداره ، فعاله حالت .

**- Nonelectrolyte**

هغه ماده چې په منحل حالت کې برېښنا نه تېروی .

**- Non-Emergency Surgery**

غير بيړنۍ جراحی ، هغه جراحې چې په بيړنۍ توګه اړتيا نه وی او عاجل نه تر سره کېږی.د (**Non -urgent Surgery**) په انډول.

**- Non-Granular Leucocyte**

غير حبيبی لوکوسايتونه لکه (**Lymphocyte** او**Monocyte**) سپينې کرېوې.

**- Non-Hodgkins Lymphoma**

غير هوجکن لمفوما سرطانی ناروغی .

**- Non-Insulin-Dependent Diabetes**

په انسولين پورې غير مربوط د شکرې ناروغې چې ورته د (**Type _II Diabetes Mellitus**) نوم هم ورکړل شوېدی .

**- Non-Invasive**

غير مهاجم ناروغی يا درملنه .

**- Non-Maleficence**

د ناروغانو له اضرارو څخه ژغورونکې تخصصی مسائل – اصولنامه.

**- Non-Malignant**

غير خبيث ډول ، پرته له خباثت څخه ناروغۍ چې حيات نه تهديدوی

**- Non-Medical**

غير طبی ، هغه چې د طبابت پورې تړاو نلری .

**- Non -Nucleated**

غير هستوی ، هغه چې د حجرې د هستې پورې تړاو نلری .

**- Non-Official Drug**

غير رسمی درمل چې په ملی فارمکوپی کې درج نه وی او مجاز نه وی.

**- Non-Palpable**

غیر قابل جس ، هغه کتلات چې په فزیکي معاینه کې د لاسونو پواسطه د جس وړتیا نلري .

**- Non-Paralytic Poliomyelitis**

غیر فلجي پولیو میالیت ناروغي .

**- Non-Secretor**

غیر مترشحه،غیر ترشحي ، هغه څوک چې یو لړ مواد د خپلې وینې ګروپ په مخاطي مایع لکه (مني او لاړو) کې نه ترشح کوي.

**- Non-Smoker**

نه ځنبونکی ،هغه څوک چې سګرټ او نور توکي نه څکي .

**- Non-Specific**

غیر وصفي ، هغه چې ډېر واضح او روښانه نه وي.

**- Non -Specific Urethritis**

غیر وصفي یورتریټ چې په جنسي لیږدېدونکو ناروغیو کې لیدل شي چې لنډه بڼه یې (NSU) ده.

**- Non-Sterile**

غیر معقم ، هغه چې پاک نه وي .

**- Non-Steroidal**

غیر ستروئیدي مواد.

**- Non-Steroidal Anti-Inflammatory Drug**

غیر ستروئیدي د التهاب ضد درمل چې د درد او روماتوئید ضد اغېزې لري چې لنډه بڼه یې (NSAID) ده.

**- Non-Union**

پرته له یو ځای کېدنې ، هغه چې یکې دوه ټوټې یا برخې سره نه یوځای کېږي لکه د مات هډوکو ځوکو نه ترمیم کېدنه. نه یو ځای کېدونکی، د ماتو هډوکو جوش نه کول .

**- Non -Urgent Surgery**

پرته له بیړنۍ جراحي، د (Non-emergency Surgery) په انډول .

## Nonage

قانوني وړوکتوب، قانوني اقلیت.

## Nonapeptide

هغه پیپتاید چې د نه امینو اسیدونو څخه لاس ته راغلي وي.

## Noncommittal

ځان کنبونکی، ډډه کوونکی، ځان ژغورونکی، په غاړه نه اخیستونکی، هغه څوک چې د کوم کار د کولو دپاره یې تعهد نه وی کړی، نه موافق نه مخالف.

## Nonconductor

ستنوونکی،عایق، هغه ماده چې (نور، تودوخه یا برېښنا) نه پرېږدي چې ولېږدول شي.

## Nondescript

نه تشریح کېدونکی، هغه څوک یاشي چې په ټاکلي ډله اوطبقه کې نشي راتلای.

## Nondisjunction

نه لېږدونکي ،نښتونکی، نه جدا کېدونکی، د کروموزومونو جوړ ي نه جلا کېدنه.د میبوزس په لومړنۍ وېش کې دوه ګوښیو حجروته په واردېدو کې د دوه هومولوګ کروموزومونو ناتواني .

## None

هیڅ نه، هیڅ یو، هیڅکله.

## Nonelectrolyte

غیر الکترولایټ، پرته له الکترولایت څخه.

## Nonhem

هغه چې د پورفایرین کړ ي سره اړ یکه نه لري پرته له هیم څخه.

## Nonneuronal

غیر عصبي، پرته له اعصابو څخه.

## Nonphotochromogen

هغه میکروب چې کله د روښنائي په وړ اندې راشي په روښانه توګه ځ انته رنګ نه نیسي.

## Nonresponder

پرته له ځوابه ، غیر عکس العملي ، ځواب نه ورکوونکي لکه د هغه چا چې د ویرس ضد واکسین کولو وروسته هیڅ معافیتي غبرګون نه ښکاره کوي.

## Nosectrotory

نه ترشح کوونکی جوړښت.

## Nonself

نتسلف، په ایمیونولوژي کې هغه شئ چې د بهرني انتي جنونونوسره تړاو نلري .

## Nonstop

پرله پسې، نه درېدونکی، روان.

**- Nonstop Action**

پرته له ودرېدنې (توقف) څخه عمل کول.

## Nontaster

هغه څوک چې ددې وړتیا نلري تر څو په خوند پوه شي، نه څکونکی.

## Nonviable

ژوندی نه پاتې کېدونکی،د ژوند کولو توان نلرل.

**Nonvisible**

نا مرئي ، غیر قابل د رویت ، د لیدلو وړتیا نلرونکي ، هغه چې په سترگو نه ښکاری لکه میکروب.

**Noodles**

آش، یوډول خواړه.

**Nook**

کونج، کوت، گوښه، دکوټې گوټ.

**Noopsyche**

عقلي پېښې د هوښ او عقل اړوند مرحلې په ذهن کې.

**Noothymopsychic**

ذهني- اغېزمن، عقلي- تاثیري.

**Nophn**

د عامې روغتیا نرسنگ (روغتیا پالانو) ملي ټولنه/ سازمان (National Organization for Public Health Nursing) لنډه نښه ده.

**Nor**-

دا یو کېمیاوي مختاړ ی ده چې د نورمال (جوړښت کمپوند او نه هم ، یه، نه) معنی ورکوي، هغه مرکب چې ځنځیر یې د خپل هومولوگ پرته د میتایلین یو گروپ کم ولری .

**Noradrenalin**

د (Norepinephrinاو Levartyronol ) په انډول.

**Noradrenergic**

د ناراپي نفرین په واسطه او مته فعالېدونکی.

**Noramidopyrine**

د (Dipyrone) په انډول.

**Norandrostenolone**

د (Nandrolon) په انډول.

**Nordefrin**

نارډیفرین ، دا د سمپاتیک پېښې کوونکو درملو په څېر پکارېږی.

**Norepinephrine**

ناراپینفرین ، دا هورمون د فوق الکلیوي غدی پواسطه افرازېږي او د سپلنکنیک عصب د پارېدنې د ځواب په وړاندې ترشح کېږی دا درمل د وینې ټیټ فشار د لوړ ولو لپاره پکارېږی.

**Norethindrolon**

دا مصنوعي اندروجن د تستوسترون په څېر انابولیک اغېزې لري.

**Norethindron**

دا یو ډول جوړ ښت دی چې بلاربتیا ضداغېزې لري او د بلاربتوب د مخنیوي لپاره ورکول کېږی او د امینوریا په درملنه کې پکارېږی.

**Norethynodrel**

پروجستین دی چې د پروجیسترون سره په گډه ښه جوړېږي او د بلاربتوب د مخنیوي لپاره ورکول کېږی او د اذیما کنترول منځ ته راوړی او د هایپرمینوریا درملنه پرې کېږی تر څو سیکلیک وینه بهېدنه نه با له سره پیل شي او یا هم امینوریا منځ ته راشي.

**Norgestrel**

دا پروجستین دي د استروجن سره په گډه توگه د هغه تابلیتونه د بلاربتوب د مخنیوي لپاره پکارېږی.

**Norisodrine**

د ایزوپروتونول لپاره سوداگریز نوم دی اود سمپاتیک پېښې کوونکی دی د قلبي عضلې محرک او سپزم ضد د قصباتو د سپزم ضد په استما کې ورکول کېږی.

**Norlutin**

د نارایتیندرون لپاره سوداگریز نوم دی او د بلاربتوب څخه د مخه د بلاربتوب د مخنیوي لپاره ورکول کېږی.

**Norm**

نورم، واقعي ستندرد معیار تثبیت شوی معیار.

**Norm**-

دا یو مختاړ ی دی او د (طبیعي، نورمال، د قانون سره سم ، معمول ) معنی بشپړوي.

**Normal**

نورمال، طبیعي، په اصلي بڼه، د منظم اوتثبیت شوی ډول سره همغږی او موافق.

**Normally**

په نورماله بڼه ، په عادی ډول سره.

**- Breathing Normally**

نورمال تنفس .

**Normetanephrine**

دا د ناراپي نفرین میتابولایت دی چې په متیازو کې اطراح کېږی.

**Normo**-

دا یو مختاړ ی دی او د (طبیعي، نورمال، د قانون سره سم ، معمول ) معنی بشپړوي.

**Normoblast**

نارموبلاست، هغه حجره د ودې وروستني پړاو ته رسېدلې وي او سره کریوه منځ ته راوړ وي.

- **Basophilic Normoblast**

بازوفلیک نارموبلاست.

- **Intermediat Normoblast**

منځنی نارموبلاست.

- **Polychromatic Normoblast**

پولي کروماتیک نارموبلاست.

- **Pronormoblast**

د نارموبلاست څخه دمخه پړ او کې حجره.

- **Nuorthochromatic Normoblast**

په هغه وروستنی مرحله کې دمخه تر دې چې نارموبلاست حجره چې خپله هسته له لاسه ورکوي.

**Normoblastic**

د نارموبلاست اړوند.

**Normoblastosis**

د هډوکی د ماغزو پواسطه د نورموبلاسټ حجرو دتولید زیادښت،په وینه کې د نارموبلاست حجرو زیاتوالي ته ویل کېږي.

**Normocalcemia**

په وینه کې د کلسیوم د نورمالې یا عادي بڼې شتون.

**Normocalcemic**

د نارموکلسیمیا اړوند.

**Normocapnia**

په وینه کې د کاربن دای اوکساید نورماله بڼه.

**Normocapnic**

د نارموکپنیا اړوند.

**Normochromia**

د سرو کریواتو نورمال رنګ درلودنه.

**Normocholesterolemia**

په وینه کې د نورمال کولسترول بڼه او اندازه.

**Normocholesterolemic**

د نورموکولستروليميا اړوند.

**Normochromasia**

د رنګ منلو عادي غبرګون په حجره یا نسج کې.

**Normochromocyte**

هغه سره کریوه چې عادي یا نورمال هیموګلوبین ولري.

**Normocyte**

د وینې سره کریوه. د (Erythrocyte) په انډول.

**Normocytine**

د (Vit- $B_{12}$) لپاره سوداګریز نوم دی.

**Normocytosis**

د وینې د سره کریواتو نورمال او طبیعي حالت.

**Normoglycemia**

د وینې د عادي او نورمال قند (ګلوکوز) اندازه.

**Normoglycemic**

د نارموګلایسیمیا (Normoglycemia) اړوند صفت.

**Normokalemia**

د وینې د عادي او طبیعي پوتاسیوم بڼه.

**Normokalemic**

د نارموکلیمیا اړوند.

**Normospermic**

د سپرم نورماله بڼې اړوند.

**Normotension**

د نورمال فشار حالت.

**Normotensive**

د عادي او نورمال فشار د ځ انګړ تیا درلودونکی.

**Normothermia**

د نورمال یا طبیعي تودوخې درجې حالت.

**Normothermic**

د نارموترمیا (Normothermia) اړوند صفت.

**Normotonia**

د نورمال مقویت درلودونکی حالت.

**Normotonic**

د نارموټونیا (Normotonia) اړوندصفت .

**Normovolemia**

د نورمال حجم (والیوم) درلودونکې .

**Normotopic**

طبیعي استقرار، په طبیعي محل کې ځای نیول.

**Normotrophic**

د عادي ودې په لوري، نورماله غټېدنه.

**Normovalemia**

د وینې طبیعي حجم.

**Norodin**

د هایدروکلورمیتا مفتامین لپاره سوداګریز نوم دی.

**Norsulfazole**

سلفاتیازول ، هغه سلفامیډ درمل چې په ربجیونال ائلیایتېس اوکرون ناروغان درملنه کې پکار وړله شی

د ناروغي شرحه، د ناروغي بیان.

**Nosologic**

د ناروغیو د تصنیف (طبقه‌بندي) د پوهې او علم اړوند.

**Nosology**

د ناروغیو د تصنیف (وېشنې) علم او پوهه.

**Nosomania**

د ناروغیو په شتون باندې په لېونی بڼه باوري کېدنه.

**Nosomycosis**

د فنګسونو له کبله ناروغي.

**Nosonomy**

د ناروغیو تصنیف.

**Nosoparasite**

هغه میکروب چې په ناروغیو کې تشبیت کېږي او کولای شي د ناروغیو بڼې او حالت ته بدلون ورکړي خو پخپله ناروغي منځ ته نشي راوړلای.

**Nosophilia**

د ناروغي سره په رواني ناروغي بڼه لېوالتیا او مینه درلودل.

**Nosophobia**

د ناروغي څخه وېره درلودنه دا رواني ناروغي ده.

**Nosopoietic**

د ناروغي منځ ته راوړ نکی، د ناروغیو لامل.

**Nosopsyllus**

دا د ورګو یو ډول دی.

**- Nosopsyllus Faciatus**

د موږکانو ورګه چې وبا لېږدوي.

**Nosotaxy**

د ناروغیو طبقه بندي د ناروغیو تصنیف.

**Nosotherapy**

د بلې ناروغي د منځ ته راوړلو پواسطه د پخواني ناروغي درملنه.

**Nostril**

د پوزې سوری، مناخرین الانف.

**Nostrum**

ښځینه درمل، هغه درمل چې جوړ ونکی یې تعریف وکړی ځانګړ ي درمل، انحصاري درمل.د ( Quack , Patent) په اند ول.

**Nostyn**

د اکتیل یوریا لپاره سوداګریز نوم دی چې د ملایم

، د (Sulfathiazole) په اند ول.

**Norton Score**

داسې یوه درجه بندی کړنلاره ده چې پکې د فشاري قرحې ودې څرنګوالی تاکل شی چې په زړو کسانو کې پکار وړل شی.

**Nortriptyline**

دا د انحطاط ضد درمل دي.

**Nos-**

دا یو مختاړې دی او معنی یې ناروغي ده.

**Noscapine**

دا یو الکلوئید دی چې په اپینو ( تریاکو) کې شتون لري د پوزې وینه کېدنه، د دماغ وینه.

**Nose**

پوزه، پزه، انف.

**-Nosebleed**

له پوزې څخه وینه راتګ حالت ، رعاف ، انفی –خونریزی ، د (Epistaxis) په اند ول.

**- Saddle Nose**

پیته پوزه ، زین وزمه پوزه ،د زین په څېر پوزه، هغه پوزه چې پُل یې ننوتې بڼه لری.

**Nosema**

د سپورلرونکي پرازیتونو یوه ډله ده.

**- Nosema Bombycos**

دا پرازیت د ورېښمو چینجی اخته کوي.

**Nosencephalus**

د جنین نیمګړې کوپړۍ او ماغزه.

**Nosepiece**

د میکروسکوپ هغه برخه چې د پړاو (Stage) ته نیږدې وي او عدسیه په برکې نیسی.

**Noso-**

دا یو مختاړې دئ اود ناروغۍ معنی بشپړوی .

**Nosocomial**

د روغتون اړوند .

**- Nosocomial Infections**

د روغتون انتانات.

**Nosogeny**

پتوجنیزس، دا ناروغي د منځ ته راتلو عملیه، د (Pathogenisis) په اند ول.

**Nosography**

انحطاط په مرکزي سیستم علت ګرځي.

**Not-**

دا یو مختاړ ی دئ د شا (خلف) معنی ورکوي.

**Notable**

دیادونی وړ، په تیره محسوس.

**Notal**

د شابرخې ته وایي، د ملا برخې ته یا خلفي لوري ته وایي.

**Notalgia**

د شا دردونه، خلفي دردونه.

**Natancephalia**

د کوپړ ی د خلفي برخې نشتوالی.

**Notation**

یادونه، یادګیرنه، نخښه علامه.

**Notch**

چوله کول، غاښی کول، چوله، تنګی، غاښی ،ورسک، ګردنه.سوری، غوڅه برخه، ننوتې برخه، غاښی، کنډو.

**- Aortic Notch**

د ابهر کنډو، د (Dicrotic Notch) په اړه ول.

**- Dicrotic Notch**

د ابهر کنډو، د (Aortic Notch) په اړه ول.

**- Craniofacial Notch**

د مخ او کوپړ ی ننوتې او کنډو برخه.

**- Parotid Notch**

د مندیبول بازو او مستوئید استطائي تر منځ کنډو برخه.

**- Sibson's Notch**

د (Pericardial Effusion) په اړه ول.

**- Trigiminal Notch**

د ترایجیمیتال عصب کنډو.

**Notencephalocele**

د کوپړ ی په خلفي برخه کې د ماغزو فتق.

**Notencephalus**

هغه جنین د ماغزو د فتق لري.

**Notice**

خبرتیا ، خبرونه، خځ ګندونه، پام اړول، وجه.

**Noticeable**

د پام وړ ، دخبرتیا وړ شئ.

**- Noticeable Symptoms**

د ناروغیو د پام وړ نښې (اعراض) .

**Noticeably**

د پاملرنی په توګه.

**Notifiable**

اخطار کوونکې هغه ناروغي چې مرکز ته یې خبر ورکول ضروري دی ګواښ کوونکی، ګواښېدونکی.

**- Notifiable Disease**

د پام وړ انتانی (خطرناکې) خپرېدونکې ناروغی چې باېد مخه یې و نیول شی.

**Notification**

خبرتیا ، مفکوره، تیوری، عقیده، نظریه.

**Notify**

خبرول، څرګندول ، پام کی نیول.

**Noto-**

دا یو مختاړ ی دئ د شا (خلف) معنی ورکوي.

**Notochord**

هغه استوانه یې طناب چې د جنین خلفي اړخ ته د جنین اوږد محور په ګوته کوي او د شمزی لرونکی (فقاریه) لپاره ځانګړنه ده

**Notoedres**

دا د (Mite) یو ډول دی او په پیشوګانو کې د جرب ناروغی پېښوی کېدای شی چې د ګورن ژوب او په نادر اولنډ مهالی ډول انسان هم اخته کړی.

**Notomelus**

هغه جنین چې د شا په برخه کې فرعي (زیاتې) نښې غړي لري .

**Not-Self**

دا یو نوم دی چې په عمومي توګه بهرنی انتي جن ته ویل کېږی.

**Notum**

د بدن د شا برخه، د بدن د خلف برخه.

**Noumenal**

عقلي، فکري، د عقلي او فکري تصوراتو اړوند.

**Nourish**

یوځا یا ناروغ ته غذائی مواد ورکول.

**Nourishment**

تغذیه کول ، تغذی ورکولو پروسه ، غذائی مواد لکه (پروټین ، غوړ-وازده، ویتامینونه) او نور.

**Novaldin**

نوالډین ، ډایپیرون(Metamizole)د درد او تبې ضد درمل

غېر سټېروئیدی ضد التهابی او د درد ضد درمل (Non - stroidal Anti Inflamatory Analgesics) لپاره لنډه نښه ده .

**NSAID**

غېر سټېروئیدی ضد التهابی او د درد ضد درمل (Non - steroidal Anti Inflamatory Drugs) لپاره لنډه نښه ده .

**NSCC**

د فلج ماشومانو لپاره ملي ټولنه (National Society for Crippled Children) لپاره لنډه نښه ده .

**NSCLC**

د غېر کوچنۍ حجرې ریوی کارسینوم (Non Small Cell Lung Carcenoma) لپاره لنډه نښه ده .

**Nsec**

د (Nanosecond) په انډول.

**Nsna**

د زده کوونکو نرسانو ملي ټولنه (National Student Nurse Association) لپاره لنډه نښه ده .

**NSPB**

د ړ وندوالي څخه د مخنیوي ملي ټولنه (National Society for the Prevention of Blindness) لپاره لنډه نښه ده.

**NTA**

د نري رنځ ملي ټولنه (National Tuberculosis Association) لپاره لنډه نښه ده .

**NSU**

غېر وصفی یورتریټ (Non-specific Urethritis) لپاره لنډه نښه ده .

**Nucha**

د څټ برخه، د غاړ ې د شا برخه.د (Nape) په انډول.

**Nuchal**

د څټ (Nucha) اړوند صفت .

**Nucle-**

دا یو روستاړې دئ او د (هستي، زړي، مرکز) معنی بشپړوی او د (Nucleo-) په انډول دئ .

**Nuclear**

هستوي، د هستوي اړوند ،ذروی، د ذروي اړوند ، د زړي اړوند صفت .

دي.

**Novobiocin**

دا یو ډول انتي بیوتیک دی د ستافیلوکوک او ګرام مثبت باکتریا یا ضد اغېزې لري او د سترپتومایسیس څخه لاس ته راځی.

**Novocaine**

دا د هایدروکلورو پروکائین سوداګریز نوم دی چې د موضعي بېهوشي او درد له منځه وړ لو لپاره یې له محلولونو څخه کار اخیستل کېږي.

**Novard**

دا د (Levo- propexyphene) لپاره سوداګریز نوم دی چې د ټوخي ضد اغېزې لري.

**Nowise**

په هیڅ توګه، په هیڅډول، هیڅکله.

**Noxa**

د ضرر رسولو لامل، مضر عمل.

**Noxious**

ضرر او زیان رسوونکی، مضر ، غېر صحی .

**Np**

دا د نیپتونیوم (Neptunium) کېمیاوي عنصر لپاره سمبول یا لنډه نښه ده.

**$Np^{-59}$**

آیدومیتایل نیوروکولسټرول.

**NPO**

د خولې له لارې خوراک او څښاک څخه منع کول.

د (Non Per Oral یا ne per oris) په انډول .

**NPN**

غیر پروټیني نایټروجن (Nonprotein Nitrogen) لپاره لنډه نښه ده.

**Nrem**

هغه سترګې چې چټک حرکت نلري ( Non Rapid Eye Movement) لپاره لنډه نښه ده .

**NS**

د (Nanosecond) په انډول.

**NSA**

د امریکا د نیورولوژي ټولنه ( Neurological Society of America) لپاره لنډه نښه ده .

**NSAIA**

**- Nuclear Magnetic Resonance**

په هستوی مقناطیسی ریزونانس محیط کې د راډیوګرافی یو ډول طریقه ده چې پکې د رخوه اقسامو او د بدن د مایع جوفونو برخو معلومات څرګندېږي چې لنډه نښه یې (NMR) ده ، د (Magnetic Resonance Imaging) په انډول .

**- Nuclear Medicine**

هستوی طبابت چې پکې د ناروغیو پېژندنې او درملنې په موخه د راډیو اکتیف (Radioactive) مادې څخه کار اخیستل شي .

## Nuclease

هغه انزایم چې نوکلئیک اسیدونه تجزیه کوي.

## Nucleated

هسته لرونکی، د زړی لرونکی.

## Nuclei

هستې، څو هستې، ګڼ شمېر زړي.

## Nucleic Acid

دا د هستې اسیدونه دي چې د اسید لرونکو نوکلیوتائیدونو څخه منځ ته راغلي او فاسفوریک اسید ، شکره، د پایریمیدین بیزونه لري.

**- Deoxyribosnucleic Acid**

ډي اوکسی رایبوزنیوکلیک اسید چې لنډه نښه یې (DNA) ده.

**- Riboseneuleic Acid**

رایبوزنیوکلیک اسید چې لنډه نښه یې (RNA) ده.

## Nuclein

د حجرې په هسته کې شته پروتینونه نوکلئین.

## Nucleo-

دا یو مختاړې دئ او د (حجراتو و اتوم هستې) معنی بشپړوی.

## Nucleocapsid

دا د ویروس یوه برخه ده چې (Casid) او نوکلیک اسید لري.

## Nucleofugal

له هستې څخه تېښته یا ګرېز.

## Nucleohistone

دا یو ډول نوکلیوپروتین دی چې(DNA)او هیستون څخه منځ ته راغلي او په هسته کې شتون لري.

## Nucleoid

د هستې جوړ ښت ته ورته او مشابه.

## Nucleoli

هسته چې ، څو ګڼ شمېر هسته چې.

## Nucleolonema

دا د تار په څېر ورته عنصر دی چې د جبیبوي موادو په څېر په هسته کې شتون لري چې (RNA) هم لري.

## Nucleolus

هسته چه ، د حجراتو د هستې دننه کې کوچنی ګرد بازو فیلي جسم چې (RNA) لری.

## Nucleolymph

د هستې لمفاوي مواد.د (Karyolymph) په انډول،

## Nucleomitophobia

د اټومي چاودنې څخه وېره درلودنه دا روحي ناروغي ده.

## Nucleon

د اټومی هستې یوه ذره ده لکه پروتون یا نیوترون.

## Nucleopetal

د هستې لوري ته خوځ ښت، د هستې لوري ته حرکت.

## Nucleophagocytosis

د هستې فاګوسایتوز عملیه.

## Nucleophile

د الکترون ورکونکی په یوه کېمیاوي تعامل کې چې کوولانت کتلایزس له کبله د بل عنصر سره اړ یکه جوړ وي، هسته خوښونکی.

## Nucleophilic

د نوکلیوفیل اړوند .

## Nucleoplasm

د حجروي هستې د پروتو پلازم برخه.د (Karyoplasms) په انډول.

## Nucleoprotamine

د پروتامین او یوه نوکلئیک اسید چې(DNA) وي ګډجوړښت دی چې په اصولي توګه د کبانو (ماهیانو) په سپرم کې شتون لري.

## Nucleoprotein

نوکلیوپروتین، ټول هغه پروتیني جوړ ښتونه چې په هسته کې شتون لري.

## Nucleosiddase

هغه انزایم چې کولای شي نوکلیوزیدونه د حجرې په دننه کې تجزیه او ویجاړ کړی .

## Nucleoside

نوکلوسید، هغه جوړ ښت دی چې د نوکلیوتایدونو د هایدرولایزس څخه لاس ته راځی او د یوه قند او (Base) لرونکي دي.

پنوم یادېږی.

**- Caudate Nucleus**

لکۍ لرونکې هسته، دا د آس نعل په شېر کتله ده.چې د مخطط جسم یوه برخه جوړ وي چې کاملاً د جانبي بطین د ماغزو پورې اړه لري.

**- Central Nucleus Of Thalamus Nucleus**

دا د تالاموس غدی هسته ده چې د دریم بطین جدار ته نېږدې موقعیت لري او مرکزي هسته یې بولي.

**- Cochlear Nucleus**

د کوکلیا او ویسیولوکو کلیار عصب د پایلې حسې فایبرونو ځانګې دي چې قسماً د سفلی پېډنکول چاپېر څخه تاوېږي او د حدبې او میډولاوبلانګاټا سره وصلیږي.د ( Ventral and Dorsal Nucleus) په انډول.

**- Cuneate Nucleus**

مېخي هسته چې دا خړه کتله ده چې په میډولاو بلانګاټا (پیازي ماغزو) کې شتون لري چې هلته د فاسیکولوس کونئیټ ځانګې پیوستون (Synapse) جوړوي.

**- Dieter's Nucleus**

د دهلیزي جانبې هسته.

**- Dental Nucleus**

غاښې لرونکې هسته.

**- Dorsal Neuceus**

ظهری هستې ، د (Thoracic Colums) په انډول.

**- Endopenduncularis Nucleus**

د ګلوبوس پالیدوس دننه ژۍ ته نږدې د هایپوتلاموس په داخلی کپسول کې کوچنۍ هسته .

**- Fastigial Nucleus**

تر ټولو دننه ژوره د سربیلي نوکلې چې په سپین دماغي نسج مادې د مخچې کې موقعیت لري دا د څلورم بطین د سقف په متوسطه کرښه کې پراته دي.

**- Fertilization Nucleus**

القاح شوې هسته.

**- Free Nucleus**

آزاده هسته.

**- Gracilis Uncleus**

هغه هسته چې په میډولا او بلانګاټا (پیازي ماغزو ، بصله) کې شتون لري هلته د نخاع رسۍ (Faciculo Gracilis) پیوستون یا ساینپس جوړ وي.

**- Gray Nucleus**

خړه هسته، د نخاع د رسۍ خړه ماده یا نسج.

**- Hypoglossal Nucleus**

د هایپوګلوسال هسته.

**- Interpeduncular Nucleus**

د پېډنکلونو تر منځ هسته.

## Nucleosome

د هیستون او (DNA) هر ډول جوړښت چې وي او په (Eukaryotic) حجره کې شته والی ولري.

## Nucleotidase

هغه انزایم چې نوکلیوتائیدونه په نوکلیوسید او فوستفوریک اسید باندې تجزیه کوي.

## Nucleotide

نوکلئیوتایدونه، هغه جوړښتونه دي چې د نوکلئیواسیدونو د هایدرولایزس څخه لاس ته راځی چې(Base)، پیورین یا پایریمیډین د قندونو سره متصل بڼه لري.

**- Cyclic Nucleotide**

هغه چې د فاسفیت ګروپ یې د دوه اټومه قندونو سره کړیزه اړیکه جوړه کړې وي، لکه په (Cyclic- AMP) کې.

**- Triphosphopyridine**

دا د درې فوسفیت لرونکی پایریډین نوکلیوتایدونه دي چې دا یو ډول کوانزایم دی او د دای فاسفیت لرونکې په شېر اغېزه کوي چې په غبرګونونو کې لږه ونډه اخلې.

## Nucleotidyl

د نوکلیوتاید پاتې شوني دي.

## Nucleotoxin

هغه توکسین چې د هستې څخه لاس ته راځی یا پر هسته اغېزمن وي او وکړای شي چې هسته ویجاړه کړی ، نو کلیوتوکسین، هستوي زهر.

## Nucleus

هسته، زړی، د حجرې مرکزي زړی چې (DNA) او (RNA) لری او د حجرې دندې او خواص کنترول کوی ،د اټوم هسته چې جسمونه او ګروپونه پرې څرخی لکه اکترونونه، ګڼه بڼه یې (Nuclei) ده.

**- Ambiguous Nucleus**

مبهم هسته، دواګوس د عصب حرکي ځانګې چې ګلوسوفارینجیوس او د میډولاو بلانګاټا اضافه عصبي ځانګه لري.

**- Arcuate Nucleus**

د دماغ په خړنسج کې غیر منظم کوچنۍ ساحه ده دا د میډولا اوبلانګاټا کې شتون لري.

**- Atomic Nucleus**

اټومیکه هسته، د اټوم هسته.

**-Caeruleus Nucleus**

د تصبغی نیورونونو یوه تخته غونډ چې د لوکوس سر ولیوس لاندې ځای لری چې ځینې وختونه د داخلی رتیکولار هستو

**- Lenticular Nucleus**

عدسي هسته عدسي ته ورته هسته، دا دريم بطين څخه بهر ته شتون لري. د (**Lentiform Nucleus**) په اند ول.

**- Meynert's Nucleus**

يو شمير نيورونونه چې د قدامي مغز په ښکتنۍ برخه کې پراته دي او د نيوکورټکس ته پراخه پروجکشن (استطاله) لري د استايل کولين ترانسفريز د لرلو له مخې بډايه دي او په اجيتيان فلج او الزايمر کې ډيجنري کيږي.

**-Motion Nucleus**

د (**Kinetoplast**) په اند ول.

**- Motor Nucleus**

حرکي هسته ،د مرکزي اعصابو سيستم په منځ کې د اعصابو کتلوي راټولېدنه چې اصلاً د موتور يا حرکي ځانګې پکې ځاى نيسي.

**- Nutrition Nucleus**

د (**Macronucleus**) په اند ول.

**- Olivary Nucleus**

دا د خړ نسج کوت يا قات او غونجه برخه ده چې د ميډولا او بلانګاټا د سپين کور(**White Core**)او زيتوني(**Olive**) راوتلې برخه ده.

**- Nucleus Of Origin**

د مبدائي هسته، د پيل هسته ، اصيله هسته .

**- Paraventricular Nucleus**

د بطينونو د چاپېريال هستې.

**- Opntine Nucleus**

دا د حدبې (**Pons**) په بطني مخ سطح کې د عصبي حجراتو جسمونه دي چې د کورتيکوپانتين قنات ساينپس فايبرونه دي.

**- Pontine Nucleus**

د حدبې په بطنی برخه کې د پرتې پيراميډالي لارې په يوه برخه کې د موجودو عصبی حجرو يوه ډله چې پورته د کورټيکوپونتيين له اليافو سره سينپس کيږي او بيا د اکسونونو ترمنځ ليکه کې تقاطع کوی اومنځنۍ مخيخی پډنکل جوړوی ، د (**Nuclei Pontis**) په اند ول.

**- Pulposus Nucleus**

دا نيمه مايع کتله ده او د بين الفقري ډيسک الاستيک رشتې دي.

**Pyramidal Nucleus**

هرمي هسته، د زيتوني هستې داخلې زائيده برخه.

**- Raghe Nucleus**

د ماغزو د ساقې يو شمير رتيکولار هستې چې د بصل النخاع د ( رافی ، حدبی ، ميزانسفالون) په اوږدو کې د مغزی ساقې په نريو او اوږدو پوښونو کې شته والې لری او سيروتونين افرازوی ، د (**Reapheal Nucleus**) په اند ول.

**- Red Nucleus**

سره هسته،بيضوی بڼه لرونکې هسته چې په تازه نمونو کې غنم رنګه وی او د ميزانسفالون په شبکوی جال کې شتون لری.

**- Reticular Nucleus**

شبکوی هسته، د مغزو د ساقې په شبکوی جال کې هستې چې له پيل څخه په دريو طولی ستونونو کې شته والې لری ،د ( مډيال يا انټرميډيت شبکوی هستې ، بهرنی شبکوی هستې ، رافه يې شبکوی هستې ) په څېر.

**- Nucleus of Roof of Cerebellum**

د (**Fastigial Nucleus**) په اند ول.

**- Nucleus Ruber**

سره هسته، دا د خړ نسج بيضوي ډول ه کتله ده دا د تلاموس لاندې برخه کې شتون لري.

**- Sacral Nucleus**

عجزي هسته د (**S3- S2**) په سويه کې.

**- Salivery Nucleus**

د پوزې د شبکوی جال په خارجی خلفی برخه کې حجروی دوه ستونونه چې د پاراسمپاتيک پلوه د لاړو د غدې تعصيب کوی.

**- Sensory Nucleus**

د محيطی عصب د حسی (موصله) اليافو انتهائی هستې.

**- Striated Nucleus**

مخطط هسته.

**- Subthalamic Nucleus**

د (**Nucleus Ruber**) په اند ول.د مغزی ستون (**Crus Cerebri**) او داخلی کپسول د اتصالی ځای په داخلی لوری کې هسته.

**- Supra Optic Nucleus**

فوق البصري هسته.هغه هسته چې د باصری عصب شيازما په مسير پرته ده او ډېرې حجرې يې افرازی کار پرمخ بيايې او ادرار ضد هورمون د آزادېدو په ځواب کې د آسموزس فشار د زيادښت په وړاندې غبرګون ښکاره کوی.

**- Tegmental Nucleus**

د (**Nucleus Fastigil**) په اند ول. د حدبې په شبکوی جال کې څو هستوی کتلې چې لاندينۍ مخيخی په پډنکل ته نږدې دئ.

**- Terminal Nucleus**

نهائي هستې.د مرکزی عصبی سيستم د حجرو يوه ډله چې د کرانيال اعصابو د موصله اوليه نيوروااکسونونو ورسره سينپس جوړوی.

**- Throacic Nucleus**

صدري هستې.

**- Trapizoid Body Nucleus**

د غصبی حجروی جسمونو دوه ډلې چې ترااپيزوئيد جسم دننه يا هغه ته نږدې پرتې دی .

**- Triangular Nucleus**

د (**Cuneate Nucleus**) په اند ول.

**- Trigiminal Nucleus**

هغه ځلور هستې چې د ترايجمينال عصب په اوږدو کې په ځانګړې ډول د په پونس (حدبه) او بصل النخاع کې ځای لري.

**- Vestibular Nucleus**

دهليزي هستې. د ځلورم بطين په غولی کې ځلور حجروی کتلې چې د ويستيبولو کوکليار عصب ځانګې وربانديې پای ته رسيږی.

**- Westphal's Nucleus**

دا يوه ډله حجرې دي چې د څوکه لرونکې حرکتي عصب د سترګو ګډه ځانګه چې د دريم زوج څخه منشه اخلي.

**- Zygote Nucleus**

د زايګوټ هسته، القاح شوې هسته.

## Unclide

هر هغه اټومی جوړ ښت چې د ( بريښنائی چارج، کتلې ، هستوی شمېری اوکوانټوم ) له مخې پېژندل شوا و وکړای شي څه موده ژوندی پاتې شي دا د ژوند موده ($10^{-10}$) ثانې ټاکلی شوی دی.

## Nudomania

د بربنډ حالت لپوتتوب، هغه حالت چې پکې لوڅ يا بربنډ حالت سره ډېره لېوالتيا شتون لري دا روحي ناروغي ده.

## Nudophobia

د بربنډ کېدنې حالت څخه وېره درلودنه.

## Nulipara

هغه ښځه چې ژوندی ماشوم يې نه وي زېږولی.

## Nuliparity

د نه زېږونې اړوند حالت.

## Nuliparous

د نه زېږونې اړوند صفت.

## Number

شمېره، لمبر، نمره، شماره.

**- Atomic Number**

اټومی لمبر. هغه عدد چې د اټوم په هسته کې د پروتونونو شمير ښيي نښه يې (**Z**) ده .

**- Avogadro's Number**

د اووګدرو لمبر يا شمېره. په يوه مول ماده کې د موليکولونو شمېر ، عددی شمېر يې ($6.023.10^{23}$) دئ او نښه يې (**N**) يا (**NH**)ده.

**- Mass Number**

کتلوي شمېره او لمبر. د هستوی کتلې ښودونکې عدد چې په واقعيت کې د اټوم د هستې يا نوکليوئيد دپروتونونو او نيترونونو بشپړ شمېر دئ.

**- Oxidation Number**

تحمضي لمبر. په يوه ماليکول يا آيون کې د هر يو اټوم شمېر ښيي چې دد تيوری له مخې له لاسه وتلې (منفی عدد) يا په لاس راغلی (مثبت عدد) دی البته د اتوم عنصری حالت څخه پرته کوم چې اوکسيډيشنی شمېره نلری ، په يوه خنثی مرکب کې د اتومونو د اکسيډيشن شمېر مجموعه صفر او د څو اټومی آيونونو لپاره آيوډين د بريښنائی چارج سره برابره ده.

**- Toth Number**

هغه عدد چې د هر دايمی غاښ ټاکونکې او ښودونکې وی.

**- Turnover Number**

د موادو ماليکولي وزن يا شمېره چې د ماليکول انزايم په يوه دقيقه کې بدلون مومي.

## Numbness

بې حسی، کرختی ، په يوه برخه کې د حسيت لړېدنه يا نشتوالی.

## Nummular

د سکې ته ورته. د (**Coin Shaped**) په انډول. د ډيسکو د يوې کتلې په څېر ترتيپېدل.

## Numorphan

هايدروکلورو اوکسي مورفون چې د(درد ضد او خوب راوړونکې) درمل دا تجارتی نوم دی.

## Nupercainal

د الفابيوتايل اوکسي نيکوتينيک اسيد سوداګريز نوم دی دا موضعي انستيتک درمل دي.

## Nurse

روغتياپال، نرس،د دايې پواسطه شيدې ورکول.

**- Anasthetist Nurse**

د انستيزي برخې نرس.

**- Charge Nurse**

د نرسانو د يوه واحد مشر، هغه نرس چې د ناروغه پالنې يونيت لپاره کار کوي او هلته د کار په وړاندې حق الزحمه اخلي.

**- Clinical Nurse**

د کلينينک برخې اړوند نرس.

**- Nurse Clinician**

هغه نرس چې د کلينيکي طبيب سره راجستر کوي.

**- Community Nurse**

عمومي روغتياپال.

**- Community Health Nurse**

عمومي روغتياپال.

**- District Nurse**

د (**Community Nurse**) په انډول . د ټولنې /ولسوالی نرس.

**- Nurse Executive Director**

د یوې ډلې نرسانو مشر، سرپرستار ، مخکښ نرس ، هغه نرس چې مسلکی او اداری چارې د نرسانو اړوند برخې تر څارنی او کنترول لاندی نیسی او مسؤلیت یې په غاړه پروت دئ.

**- General Duty Nurse**

هغه ځانګړې نرس چې په نورو اختصاصی برخو کې یې له فراغت وروسته زده کړې نه وی کړی او کولای شی د روغتون په عمومی ځانګو کې کار وکړی لکه د( راجستر کوونکی نرس ، څارنې نرس) . د (Registered Nurse) په انډول.

**- Graduate Nurse**

فوق بکلوریا فارغ التحصیله نرس.

**- Head Nurse**

د یوې ډلې نرسانو مشر، سر پرستار.

**- Hospital Nurse**

د روغتون کارکوونکی نرس.

**- Licensed Practical Nurse**

جواز لرونکی نرس.

**- Nurse Manager**

د نرسانو مدیر ، هغه نرس چې یوازې د نرسانو اداری چارې په روغتون کې پرمخ بیائی.

**- Private Nurse**

د شخصي کلینیک نرس. هغه نرس چې د نرسنګ د عادی سرویسونو کارونو پرته د ناروغانو په سر حاضرېدی برسېره پردې د ځانګړو ناروغیو په څانګه کې تخصص لری.

**- Public Health Nurse**

د عامې روغتیا څانګې نرس.

**- Nurse Practitioner**

د عملی کارونو تر سره کوونکې نرس چې ډیپلو یا درجه هم لری او په (Degree) لومړنی روغتیائی مراقبتونو کې ونډه اخلی .

**- Nurse Station**

د نرسانو د کښېناستې لپاره یوه ځانګړې خونه یا ځای.

**- Queen Nurse**

په انګلستان کښې هغه نرس ته وایي چې دوی د ملکه ویکتوریا د نرسنګ په ټولنه کې یوه دوره تېره کړې.

**- Register Nurse**

د راجستر کولو لپاره نرس.راجستر شوې نرس .

**- Scrub Nurse**

هغه نرس چې د جراح ډاکتر سره د سامانونو په ورکړه کښې مستقیمه مرسته کوي او د عملیات په ټیم کې ورګډ وي.

**- Spicialis Nurse**

د (Clinical Nurse of Spicialist) په انډول.

**- Nurse Tutor**

هغه تجربه لرونکې نرس چې نورو زده کوونکو نرسانو ته تدریس او ښوونه کوی.

**- Visting Nurse**

د (Public Health Nurse) په انډول.

**- Wet Nurse**

هغه مور چې د بل چا ماشوم ته شیدې ورکوي. دایه مور.

## Nursery

د نوی زېږېدلو ماشومانو روزنې او ساتنځای ، هغه ځای چې پکې ماشومانو ته شیدې ورکول کېږی او هلته ساتل کېږی .

**- Day Nursery**

د ورځې له خوا شیدې ورکولو ځانګه.

## Nurse- Midwife

هغه نرس چې د نرسنګ او میډوایف اصل یې زده وي او پدې هکله یې د جواز پاڼه په لاس وي.

## Nursing

د نرس چارې او تیاري.

**- Nursing And Midwifery Council**

د نرسنګ او قابلګی ټولنه / شورا چې د اړوند ستندردونو ،تعلیمی او عملی کارونو لپاره مسؤلیت لری لنډه نبنه یې (NMC) ده .

**- Nursing Audit**

د نرسنګ تفتېش ځانګه.

**- Nursing Development Unit**

د نرسنګ پرمختیائي واحد ترڅو هر راز اړوند چارې تر سره کوی لنډه نښه یې (NDU) ده .

**- Nursing Home**

هغه خونه یا مرکز چې دیوه مجرب نرس پواسطه د زړو خلکو طبی درملنې کېږی.

**- Nursing Intervention**

پرته له جراحی کړنلارو د نرسانومداخله دناروغیود درملنې په لړ.

**- Nursing Model**

د نرسنګ موډل .د یولړ معیارونو څخه جوړ شوې سټ یا فورمولبندی لری چې پکې اړوند چارې واضح لیکلی دی.

**- Nursing Mother**

شېدې ورکوونکې مور ، هغه مور چې خپل ماشوم ته تیبونو له لارې تغذیه ورکوی .

**- Nursing Officer**

د نرسګ برخې آمر یا مسلکی څوک .

**- Nursing Practice**

درملنه چې د نرس په ذریعه تر سره کېږی.د نرسنګ د څارنې او پالنې عمل تر سره کول.

د بدن د وضعیت اړیکه د تغذیې سره.

**Nutritive**

مغذي، تغذیه وي.

**Nuttallia**

دا د وینې پرازیت دی چې آسانو کې ناروغي منځ ته راوړي.

**Nuttalliellidae**

دا د غنې له کورنۍ یوه ډله ده.

**Nuttalliosis**

په نوتالیا پرازیت اخته کېدنه.

**Nux**

دا یو ډول مېوه ده.

**Nyct-**

دا یو مختاړی دی چې د (شپې، تیاره) معنی لري.

**Nyctalgia**

د شپې له خوا د درد احساس.

**Nyctalope**

د شین ړوند. هغه څوک چې د شپې څه نه وي، شبکور.

**Nyctalopia**

د شپې ړوندوالي حالت.

**Nycterine**

د شپې پاڅېدنه، د شپې له خوا له خوبه راویښېدنه.

**Nycto -**

دا یو مختاړی دی چې د شپې معنی لري.

**Nyctohemeral**

د شپې او ورځې اړوند.

**Nyctophilia**

د تیاره سره لېوالتیا ښودنه.

**Nyctophobia**

د شپې څخه وېره درلودنه.

**Nyctophonia**

د ورځې له خوا د غږ له لاسهورکول. د شپې غږ درلودنه.

**Nyctotyphlosis**

د شپې ړوندوالي حالت

**Nyctaria**

د شپې له خوا متیازې کول.

**Nydrazid**

د ایزونیازید (Isoniazid) لپاره سوداګریز نوم دی.

**- Nursing Process**

د نرسنګ پروسه چې پکې ټول معیارونه تطبیق کېږي.

**- Nursing Sister**

هغه نرس چې په روغتونونو کې اداری دندې تر سره کړي.

**- Nursing Standard**

د نرسنګ لپاره تر لاسه کېدونکی حدود او معیارونه.

**Nurture**

د ودې په حال ماشومانو څارنه او پالنه.

**Nutans**

د (Spasmus Nutans) په انډول.

**Nutation**

نوسان، د سر خوځېدنه، خوځښت.د (Nodding) په انډول.

**Nutatory**

د سر خوځېدنه.

**Nutrient**

غذائی مواد ، د تغذي ماده.

**Nutriment**

خوراکي مواد ، قوت، غذا .

**Nutriology**

د تغذي اړوند علم او پوهه، د خوراک اړوند عمل او پوهه.

**Nutrition**

تغذیه، قوت اخیستل.د تغذې د مطالعې او څېړنې علم .

**Nutritional**

د تغذي اړوند .

**- Nutritional Anaemia**

د تغذې اړوند وینه لږې .

**- Nutritional Disorder**

د تغذی اړوند ناروغۍ او اختلالات .

**- Total Nutritional Nutrition**

ټول د تغذي لپاره تغذیه.

**- Total Parenteral Nutritional Nutrition**

په هغه ناروغۍ کې چې د مرکزی ورید کتیتر له لارې د خوړو تجویز کېږی چې د هضمی جهاز له لارې د اړینو خوړو د ترلاسه کولو توان پکې له منځه ځی.

**Nutritionist**

د تغذی متخصص او کارپوه کس .

**Nutritious**

غذایي، خوراکي، قوت لرونکی.

**Nutriture**

**Nylidrin**

د محیطي رګونو د توسع ورکوونکي درمل.

**Nymph**

د ورږو په څېر په ځینې آرتروپودا ګانو کې د ودې یوه مرحله چې د لاروا او بلوغ تر منځ وی او د خپلو وروستیو مرحلو په څېر وی نوی زېږېدلی له هګۍ څخه دغه کوچنی بعضاً د خپلو ځوانو ډولونو ته ورته بڼه لري.

**Nymph**-

دا یو مختاړې دی د کوچنۍ شونډې معنی ورکوي.

**Nympha**

د ښځو د فرج د کوچنۍ شونډه.د (Lahiumminus) په انډول.

**Nymphectomy**

دا د جراحي کړنلاره ده چې د کوچنۍ شونډې غوڅولو معنی ورکوي.

**Nymphea**

د ښځینه د تناسلي غړي کوچنۍ شونډې ګڼه شمېره.

**Nymphitis**

د کوچنیو شونډو التهاب.

**Nympho**-

دا یو مختاړې دی د کوچنۍ شونډې معنی ورکوي.

**Nymphomania**

په ښځو کې په لېونۍ بڼه جنسي لېوالتیا ښودنې چلند پیاوړتیا او د نارینه و سره په مفرط توګه د ښځو د یو ځای کېدنې لېوالتیا .

**Nymphoncus**

د کوچنیو شونډو پړسوب او لوئېدنه.

**Nymphotomy**

د کلایتورس یا کوچنیو شونډو جراحي غوڅولو کړنلاره.

**Nystagmic**

د سترګو د ګاټو د اختلاج یا پاندولي حرکت اړوند .

**Nystagmiform**

نیستګموس ته ورته.

**Nystagmograph**

د سترګو د نیستګموس ټاکوونکې وسیله.

**Nystagmoid**

د سترګو د مداوم نیستګموس حرکت ته ورته حالت.

**Nystagmus**

نیستګموس ، د سترګو کوږوالې ، د سترګو د ګاټو پرلپسې پاندولي رپېدونکی او غیر عادي چټک خوځېدونکی (عرضانی ، عمودی و چرخنده ، یا مختلط) اختلاجي حرکت دی.

**- Aural Nystagmus**

د غوږ د لابیرنت د اختلال له کبله،ویستیبولار نیستګموس.

**- Caloric Nystagmus**

کالوریک آزمایښت ، د (Coloric Test) په انډول.

**- Cheyne's Nystagmus**

په سترګو ځانګړي ریتمیک همغږي حرکتونه .

**- Disjunctive Nystagmus**

لېرې کېدونکی نیستګموس.

**- Dissociated Nystagmus**

نا همګامه نیستګموس پدې ډول کې د دواړو سترګو حرکتونه سره مخالفه بڼه لري.

**- End Position Nystagmus**

دغه نیستګموس چې په نورمال کسانو کې یوه لوري ته د زیات کتلو په صورت کې منځ ته راځی ، د ګاز (Gaze) په نهایت کې منځ ته راځي.

**- Fixation Nystagmus**

دا ډول نیستګموس هغه مهال منځ ته راځی چې یو شی ته سترګې خیر شی،دا د ګاز (Gaze) پواسطه د تثبیت له مخې په سترګه کې منځ ته راځي.

**- Gaze Nystagmus**

دا ډول نیستګموس دکیڼ او ښي لوري کتلو په مهال لیدل کېږي او منځ ته راځي.

**- Gaze Paretic Nystagmus**

دا د ګاز (Gaze) نیستګموس.

**- Labyrinthine Nystagmus**

دا د دهلیز د لابیرنت په ناروغي کې وي.

**- Latent Nystagmus**

دا کله چې یوه سترګه وتړل شي لیدل کېږي.

**- Lateral Nystagmus**

جانبي نیستګموس.د سترګو عرضی او بنفسهی خوځښت.

**- Opticokinetic Nystagmus**

نورمال نیستګموس ، هغه مهال منځ ته راځی چې یو شئ د سترګو
د لیدلو ډګر څخه تېرېږي .

**- Pendular Nystagmus**

پنډولار نیستګموس چې د (to and fro) چې مساوي سرعت کې وي دا حالت لیدل کېږي.

**- Positional Nystagmus**

دا دکوپړۍ د موقعیت له مخې لیدل کېږي.

**- Retraction Nystagmus**

د اترکشن یا سپزم اړوند نیستګموس.

**- Rotatory Nystagmus**

څرخېدونکی نیستګموس.

**- Spontaneous Nystagmus**

بنفسهی نیستګموس .چې د ویستیبولار سیستم د ځانګړې حرکت څخه پرته منځ ته راځي .

**-Toratory Nystagmus**

د باصري محور په چاپېر د سترګو خودبخودي څرخېدل.

**-Undulatory Nystagmus**

د (**Pendular**) په اند ول.

**- Vertical Nystagmus**

عمودي نیستګموس. ښکته او پورته لورې ته د سترګو خودبخودي حرکت .

**- Vestibular Nystagmus**

د دهلېز د ناروغیو او نیمګړتیاوو اړوند نیستګموس. چې پکې د سترګو حرکتونه (ریتمیک ، پځ او تُند )اجزأ لري.

## Nystatin

نیستاتین، دا د انتي بیوتیک ماده چې او د فنګسونو ضد په ځانګړې توګه د کاندیدیازس ضد اغېزې لري.

## Nystaxis

د (**Nystagmus**) په اند ول.

## Nyxis

سوری کول، نیشتروهل، نېش وهل.

# O.o

دا د انګلیسي پنځلسم توری دی په طب کې ګڼ شمېر لغتونو د لنډه نښه (سمبول) بلل کېږی.

**O**

د اوکسیجن (**Oxygen**) لپاره سمبول دی.

**O**

سترګه، د (**Oculus**) لپاره لنډه نښه .

**O =Ω**

أوم (**Ohm**)يو واحد دی د اندازې ټاکنې لپاره لنډه نښه .

**O**

پوینټ (**Point**) دا د نیم لېتر ته نږدې واحد دی چې اته دانې یې د یو ګیلن برابر کېږی.او د (**Octarius**) لپاره لنډه نښه .

**O**

خوله، سوری، د لارې یا کوڅې خوله. او د (**Opening**)لپاره لنډه نښه.

**ω**

د (**Omega**)لپاره لنډه نښه د یونانی هجا څلورویشتم توری دئ.

**O-**

د(**Ortho-**) مختاړي لپاره مخفف دی چې د هېوکو معنی ورکوی

**O2**

د دوه اتومه یا مالیکولي اوکسیجن لپاره سمبول دی.

**O2**

د دواړه سترګو ګاټو لپاره علامه ده.

**O3**

د درې اتومه اوکسیجن ګډ جوړښت دی د (**Ozone**)لپاره لنډه نښه .

**OA**

د سترګو البینیزم (**Ophthalmic Albinism**) لپاره لنډه نښه ده .

**OAR**

د فضائی څېړنو اداره (**Office of Aerospace Research**) لپاره لنډه نښه ده.

**Oak**

د څېړۍ لرګی ،د څېړۍ ونه ،د بلوط ونه.

**Oakum**

د شاهداني پاټې شونې الیاف چې پخوا په جراحي کې د جراحي پوښنو جوړولو لپاره ورڅخه کار اخیستل کېده.

**Oaralgia**

د هګۍ ځالې درد.

**Oaric**

د هګۍ ځالې اړوند هګۍ ځالیز.

**Oario-**

دا یو مختاړی دی او د هګۍ ځالې معنی ورکوي.

**Oarium**

هګۍ ځاله ، د (**Ovarium**) په انډول.

**Oases**

د (**Oasis**)لپاره د ګڼ شمېر لغت دی.

**Oasis**

په یوه ناروغه یا ناسالمه برخه کې د یوه روغ ټکي یا روغې برخې شتون.

**Oat**

سارایي( صحرائی) اوربشی.

**- Oat Cell Carcinoma**

اوت حجروی کارسینوما ،د برانش سرطان یو ډول دئ چې ډېرې وړې (کوچنی) حجرې اخته کوی.

**Oath**

قسم، سوګند ،لوړه اخیستل ، لوړه کول ، هوډ کول.

**-Oath of Happocrates**

د هایپوکرات سوګند نامه چې نوموړې په لاندې ډول سره برابره کړې ده:

"زه په آپولو روغتیا روکوونکی، په اسکولاپ سوګند خورم، په هیژیا سوګند خورم، په پاناسه سوګند خورم او ټول خدایان او معبودان شاهدان ګڼم چې لاندې ټکي او لیدنې په ټول قوت سره په پام کې لرم او پر هغه عمل کوم. هر هغه چا چې دا مسلک او فن ماته رازده کړی لکه د خپل پلار او مور په څېر ګران او خواږه ګڼم او د هغه سره په ګډه ژوند کوم او د لزوم په صورت کې خپلې زده کړې او زېرمې له هغه سره وېشم، د هغه زامنو ته د وروری په سترګو ګورم او که چېرې هغوی ددغه مسلک سره مینه ولري پرته له حق الزحمې او شرایطو هغوی ته ورزده کوم. د زده کړې لازمه قوانین یوازې خپلو زامنو او د استاذ اولادونو او نورو هغه کسانو یا شاګردانو چې ددغه مسلک د زده کړې لپاره یې نومونه لیکلي دي او ددې مسلک مقررات یې منلي دي ورزده کوم زه به د خپلو ناروغانو د خیر ښېګڼې لپاره تر خپل وس او توان پورې په دقیقه توګه د غذایي دستورونو او

ځانګړي رژيم ورپه ګوته کوم بل چاته ضرر او زيان نه رسوم. د دستور او غوړه مالي له مخې هيڅ چاته وژونکي درمل نه ورکوم او بل چاته يې هم نه ورزده کوم تر څو د چا د مړينې علت وګرځي. د هيڅ ښځې په واک کې د سقط يا زيان ورکولو وسيله نه ږدم. زه د خپل مسلک عفت او رازونه پټ ساتم. زه به د ناروغ له بدن څخه د تيږو راويستلو لپاره د ناروغ بدن نه سورى کوم او هغه به د هغه کار متخصص ته ورسپارم. هر کور ته چې د يوازې د ناروغانو خير او ښېګڼې لپاره ځم ځان د هر بد کار چې عمدي وي او غولولو او فريب ورکولو څخه ځان ژغورم ځان د معشوقي او خوند هوس څخه د ښځې يا نرانو په وړاندې ساتم. هر هغه څه چې د کار کولو او معاشرت په لړ کې اورم يا وينم هغه بهر ته نورو ته نه رسوم او د ځان سره يې پټ ساتم او هيڅکله رازونه فاش کوم او بل چا ته يې نه وايم. که چېرې دغه سوګندونو ته وفادار اوسم ښايي چې له ژوند څخه خوند واخلم او په خپل مسلک کې بريالى اوسم او تل به ټول راته احترام وکړي. خوکه چېرې له هغه څخه تېرى او سترګې پټول وړم يا ترې سرغړونه وکړم ماته او ناکامې دې راپه برخه وي].

## OB

ولادي(Obstetrics) ، د زېږوني اړوند علم، د لنګون علم لپاره اړوندلنډه نښه ده .

## Ob-

دا يو مختاړى دى او د (په وړاندې، په مقابل کې) معنى ورکوي.

## Obcecation

نيمه ړوندوالى، نيم ړوندتوب.

## Obdormition

د بدن په يوه برخه کې د يوه عصب لپاسه د فشار له کبله د بېحسى او کرختې احساس منځ ته راوړل.

## Obducent

پوښ، د يو څه پر مخ غوړېدلې پاڼه.

## Obduction

د عدلي طب اړوند اوتوپس.

## O` Beirne's Sphencter

د غټو کولمو عضلاتي حلقوي رشتې او د ريکتوم او سيګموئيد کولون د اتصال برخه.

## O` Beirne's Tube

دا يو ډول تيوب يا نلکه ده چې کولمو ته د زرقي موادو لپاره پکاريږي.

## Obeliac

د (Obelion)اوبليون اړوند .

## Obeliad

د (Obelion) اوبليون لوري ته.

## Obelion

دا د سهمي درز په برخه کې په کوپړۍ کې يو ټکى دى.

## Ober's Operation

د مفصل د غوڅولو او څيرولو جراحي کړنلاره ده.

## Obermeler's Spirillum

د راجعه تبې (Q. Fever) سببي لامل چې بورلياركورنتيس نوميږي دا د سپږې پواسطه لېږدول کېږي.

## Obersteiner- Redlich Area

دا يوه تر فضار لاندې (منډل شوې) برخه په مياليين کې هلته چې عصبي خلفي ريښه نخاع ته ورننوزي.

## Obese

څربه، پنډ، چاغ ،ډېر چاغ ، قوى ، غوړين غټوالى.

## Obesitas

د (Obesity) په اند ډول.

## Obesity

څربوالى، چاغي، غوړين غټوالى، مزى توب ، پنډوالى.

**- Adult-onset Obesity**

دا ډول د ځواني پر محال زياتوالى مومي او چاغېدنه زياتوالى مومي د شحمي انساجو ضخامه منځ ته راځي.

**Alimentary Obesity**

د (Exogenous Obesity) په اند ډول.

**- Endogenous Obesity**

د ميتابوليزم د اختلال له کبله چاغي.

**- Exogenous Obesity**

د ډېر خوراک له کبله چاغي.

**- Hyper Insulinar Obesity**

د انسولين د ډېر افرازېدنې چې هايپو ګلايسيميا او لوږه او اشتها ورسره مل وي، چاغوالي ته وايي.

**- Hyper Inter- renal Obesity**

د فوق الکليوي غدى د هايپر تروفي له کبله پيدې حالت کې چاغي او د پښتورګو د قشر ډېر کار شته والى لري.

**- Hyper Plasmic Obesity**

د بدن د پروتو پلازم د زياتوالي له کبله چاغي.

**- Hypogonadal Obesity**

د جنسي غدواتو د لږ کار کړلو له کبله چاغي.

**- Hyeplasmic Obesity**

د پروتو پلازم د لږوالي له کبله چاغي.

**- Hypothyroid Obesity**

د تايرايد غدى د لږ کار کولو له کبله چاغي.

**- Lifelong Obesity**

دا د ماشومتوب له وخت څاغي پیل کوي او د شحمي انساجو په شمېر او اندازه کې زیاتوالی منځ ته راځي.

**- Morbid Obesity**

پدې حالت د عادي حالت څخه دوه یا درې چنده وزن زیاتوالی مومي چې د شدید ډول ژوند تهدید کوونکي تشوشاتو سره ښایي مل وي.

**- Simple Obesity**

ساده څربوالي ، د ډېر خوراک له کبله څاغي ، ( **Exogenous Obesity**) په انډول.

## Obex

د (**Ependyma**) ضخیم او پېړوالی چې د څلورم بطین د ریښې د لکۍ په زاویه کې لیدل کېږي.

## Obey

منل، غاړه ایښودل، قبلول، دچا خبره منل.

## Obfuscation

د ذهن تتوالی، ګنګس کول،مبهمیت، مبهم کول ، خړپړتیا ، نا مشخص کول.

## Obfuscate

د ذهن تتوالی، ګنګس کول، سرګرځي ، خړپړ کول، نا مشخص کول، مبهم کول.

## Objective

افاقی، واقعی، هغه شیان چه خارجی وجودولری اوشخص نظر پکی دخل ونلری: عینې ،یعنې هغه څه چې په سترګو لیدل کېږی، بهرنی، د درک وړ، موخه، هدف، عدسیه، د میکرو سکوپ د عدسي دستګاه چې د نظر وړ شیز ته نېږدې وي.

**-Achromatic Objective**

اکروماتیک شی عدسیه.

**- Dry Objective**

د وچ شیانو عدسیه.

**- Immersion Objective**

د ډوبوونکی (غوطه کوونکی ) شی عدسیه دا یو ډول عدسي دی چې د مایع یا غوړو په کارېدنې له کبله کار کوي.

**- Objective Sign**

د ناروغانو کلینیکی نښانې چې د ناروغۍ په لړ کې د ډاکټر پذریعه لیدل شي.

## Obligate

ملزم، مجبور. مقید ، اجبار ، ناچاره، اړکول،اړایستل ، ( مجبورول )، ګومارل، مؤظف کول (توظیف)، متعهد کول، مقیدکول.

## Obligation

اجبار ، اړتیا ، مجبوریت، قید تعهد ، هرومرو مکلف والې.

## Obligatory

واجب، جبری.

## Oblige

اړکول ( مجبورول )، ګومارل، مکلف کول، خوشالول.

## Oblique

کوږ، مایل، اریب ، ریونده .

**- Oblique Fascia**

مایل صفاق ، مایل ځاړ .

**- Oblique Fissure**

مایل درز، ماېل چاود لکه د سږو د علوی او سفلی لوبونو تر منځ درز.

**- Oblique Fracture**

د هډوکی مایل ډول ماتېدنه، مایل کسر.

**- Oblique Muscle**

مایله عضله لکه د ګېډې د جدار په برخه کې یا د سترګو ګاټې د حرکاتو کنترولونکی دوه عضلې .

**- Oblique Plan**

د اناټومی له پلوه د بدن د غړو څخه د مایل ډول تېرېدونکې خط مایل پلان بلل شي.

## Obliquely

په ریونده ډول.

## Obliquity

کوږوالی، ریونده والی ، مایلتوب.

**- Litzmann's Obliquity**

د زېږونې په کانال کې د ماشوم د کوپړۍ د پاریتال (جداري) هډوکي مایلوالی شتون چې ورته د ماشوم د کوپړۍ د (**Inclination**)بنه ویل کېږی.

**- Nagele's Obliquity**

د کوپړۍ د جداري (پاریتال) هډوکي د قدام برخې د زېږونې کانال کې راښکاره کېدنه چې د دوه جداري هډوکو قطر د حوصلې د کړۍ پر پرتله مایل حالت ولري.

## Obliterate

ترل ، ترونکي کړنه ، کاملاً تخریب کول ، توږل، ګرول، هیرول پاکول،کوره کول ( محوه کول )، له مینځه وړل، فسخ کول.

**Obliteration**

بندېدنه، انسداد، تړل،توږنه، بلاک کېدنه، استحاله.

**Oblong**

اوږدوزمه،اوږد غځېدلي مستطیل، اوږدغاړی، مستطیل.

**Oblongata**

بصل النخاع، بصله ، د ماغزو د پیاز برخه.

**- Medulla Oblongata**

د میډولاو بلانګاټا د مرکزی عصبی سیستم یوه برخه ده.

**Oblongatal**

د میډولاو بلانګاټا اړوند ، بصل النخاعي.

**Obnoxious**

ناوړه، کرغیړن، زیان رسوونکی، مضر.

**Obscene**

کرغیړن، بدمرغه، ناولی، ناوړه، احمق.

**Obscure**

تیاره، تت، خړ، پیکه، خپ، تغښتی ، پټ مبهم، کړ کیچن.

**Obscurity**

خپوالی، تتوالی، خړوالی.

**Observable**

دلیدو وړ، دکتنی وړ، مراعات کوونکی.

**Observant**

پام لرونکی، ساتونکی ( رعایت کوونکی ).

**Observation**

لیدنه، کتنه ( مشاهده )، یادونه.

**- Observation register**

د هغه ماشومانو ریکارډ چي د لنګون پرمهال یا لنډه موده وروسته ستونزه لری نو د تعقیب په موخه مراقبت او څارنې ته اړتیا لری.

**Observe**

کتل، ساتل ( رعایت کول )، اجراکول ( لکه دمراسمو).

**Obsess**

ځورول، پکوکول، کړول، ډارول.

**Obsession**

ځور، کړاو، ربړ،اندیښنه، سودا ،وسوسه، د ذهن ښکېلا او اشغال، داسې چې ذهن او ماغزو دومره تر فشار لاندې وي ناښایسته او غیر معمول کارونه ناوړه کارونه تر سره کېږی، تویش کول.

**Obsessional**

وسوسه یي، سودایي، تشویشي.

**Obsessive**

وسوسه یي- اضطرابي ، د (**Compulsive**) په اړه ول.

**- Obsessive Action**

وسواسی عمل او کړنه تر سره کول.

**- Obsessive –compulsive Disorder**

عقلی اختلالات دی چې پکې تکرار ډول وسواسی عملونه تر سره کېږی.

**Obsolescence**

تدریجی زوړوالی، ورو ورو زړېدنه.

**Obstetric**

ولادی ، زېږون(لنګون) د علمی څېړنې او عملی کارونو اړوند صفت ،قابله ګی اړوند .

**- Obstetric Patient**

ولادی ناروغ. هغه ښځه چې د لنګون لپاره روغتون ته راوړل کېږی .

**Obstetrical**

ددایی توب اړوند .د ولادي اړوند، د زېږونې اړوند صفت. د لنګون اړوند.

**- Obstetrical Forceps**

ولادی فورسپس چې د لنګون پرمهال ترې کار اخیستل شی .

**- Obstetrical Procedure**

ولادی پروسیجر او طرزالعمل .

**Obstetrician**

ولادی تخصص، د بلاربتوب او زېږونې په اړوند پوه ډاکتر، د ولادي متخصص.

**Obstetrics**

د بلاربتوب او زېږونې یا لنګون اړوند علم او پوهه. دایی توب، قابلګی، له ښځی سره دلنګیدو په وخت مرسته.

**Obstipation**

قبضیت، د کلکو او وچو غایطه مواړو "غولو" کولو حالت چې دا په څو ورځو کې یو وار تر سره کېږی.

**Obstruct**

خنډ اچول، بندیزاچول، اړیکی اچول.

**Obstruction**

انسداد ، بندښت، ودرېدنه د بهر.

**- Large Intestine Obstruction**

د غټو کولمو بندښت.

## Occipita

د (**Occiput**) په انډول.

## Occipital

د تاړاک هډوکی، د کوپړۍ د شا برخې هډوکی.

- **Occipital Bone**

د کوپړۍ د تاړاک هډوکی.

- **Occipital Condyle**

د کوپړۍ هډوکی د تاړاک ګردۍ برخه چې د (**Atlas**) فقرې سره مفصل جوړوی.

- **Occipital Lobe**

د کوپړۍ د تاړاک هډوکی سره تړلې دماغزو (دماغی ) لوب برخه چې په دواړه نیمکرې کې شتون لري.

- **Occipital Notch**

د دماغ د نیمکرې د ښکته څنډې هغه ټکې چې د سطحې برخه کې لیندۍ (قوس) لري.

- **Occipital Position**

په زېږونه کې د ولادې په کانال کې د تاړاک د هډوکي لومړۍ راښکاره کېدنه.

## Occipitalization

د اوکسپیتال هډوکي سره د لومړني فقري جوش خوړل یا پیستون.

## Occipito-anterior

د اکسیپیټ قدام د ماشوم زېږون پرمهال.

## Occipito -cervical

د تاړاک (اوکسپیتال) هډوکي او غاړې د هډوکو اړوند.

## Occipito-frontal

د تاړاک (اوکسپیتال) هډوکي او تندي هډوکي اړوند.

## Occipito-mastoid

د تاړاک (اوکسپیتال) هډوکي او مستوئید هډوکي اړوند.

## Occipito-mental

د تاړاک (اوکسپیتال) هډوکي او زنې هډوکو اړوند.

## Occipito-parietal

د تاړاک (اوکسپیتال) هډوکي او جداري هډوکي اړوند.

## Occipito -posterior

د اکسیپیټ خلف د ماشوم زېږون پرمهال.

## Occipito-temporal

د تاړاک (اوکسپیتال) هډوکي او صدغي (ټیک) هډوکي اړوند.

## Occipito-thalamic

د تاړاک (اوکسپیتال) د ماغزو لوب او تلاموس اړوند.

- **Small Intestine Obstruction**

د کوچنیو کولمو بندښت.

## Obstructive

خنډاچوونکی،د انسداد لامل،د بندښت لامل .

- **Obstructive Jaundice**

انسدادی ژیړې ، د صفراوی لارو تړلې حالت.

- **Obstructive Lung Disease**

د سږو تړونکی ناورغی لکه ( **Bronchitis** او **Emphysema**) په څېر.

- **Obstructive Sleep Apnoe**

د خوب پرمهال د یوچا د تنفس ودرېدل او سونږه منځ ته راتلل چې د خراړی او خرېدو لامل ګرځی.

## Obstruent

تړونکي او قبض کوونکي درمل.

## Obtain

لاس ته کول، حاصلول، ګټل.

## Obtrusive

هغه تندب چې له ورایه ښکاری . په یو چا یا نورو باندې ځان تپل.

## Obtund

پخول، وژل، له منځه وړل ، غېر حاد ګرځول ، د هوښ کمښت.

## Obtundation

د شعور اختلال ، لاشعوره کېدنه.

## Obtundent

آرامه او هوسا کوونکي درمل، مرهم کوونکي درمل ، د درد کمولو توان ، د شعور خرابتیا پېښونکې .

## Obturation

د بدن څخه د یو څه د وتلو بندښت لکه کلکو غایطی موادو بندښت په ریکټوم کې ، قبضیت .

## Obturator

تړونکي، مسدود کوونکي، انسدادي عضله هغه (غشا، ډیسک یا حجاب) چې په طبیعي یا مصنوعي توګه خوله وتړې یا سورې یې بند وی.

- **Obturator Foramen**

تړونکې سورې ، اوبتوراتور فورامین د (**Hip Bone**) هډوکي په منځ کې چې د (**Acetabulum**) جوف تر څنګ واقع دئ.

## Obtusion

د اعصابو راوېستل، بې حسه کول، پرته له اعصابو کول، د احساس پخول اوکمول .

## Occiput
د کوپړۍ د تاړاک (اوکسپیتال) هډوکي.

## Occlude
سره نښادي راوړل، جوخت کول، غبرګ کول.

## Occlusal
د تړل کېدو سره په تړاو کې ، د کوچنیو او لویو طواحنو غاښونو د ماصغوی سطحو په اړه کارول شي.

## Occlusion
تړل شوی، جوخت کول، مسدود.

**- Abnormal Occlusion = Malocclusion**
غیر نورمال تړل شوی.

**- Afunctional Occlusion**
غیر وظیفوي تړل شوي.

**- Anatomic Occlusion**
اناټومیک تړل شوی، یا جوخت شوی.

**- Balanced Occlusion**
انډولیز جوخت کېدنه.د غاښونو تړل کېدل په داسې حال کې چې د هغهوی همغږی تړاو حفظ شي.

**- Coronary Occlusion**
د زړه د یوه اکلیلي شریان تړل کېدنه.

**- Centric Occlusion**
مرکزي تړل کېدنه.هغه مهال تړل کېدنه چې ښکتنۍ ژامنه د خپل مرکزی موقعیت څخه بل موقعیت ته خوځښت ونکړی.

**- Eccentric Occlusion**
د ژامنې له مرکزه د بهرنۍ برخې جوخت کېدنه. هغه مهال تړل کېدنه چې ښکتنۍ ژامنه د خپل مرکزی موقعیت څخه بل موقعیت ته خوځښت وکړی.

**- Functional Occlusion**
وظیفوي جوخت کېدنه.

**- Habitual Occlusion**
عادتي جوخت کېدنه یا تړل کېدنه. د ماندیبولا په وړاندې د مګزیلا د غاښونو پرلپسې اړیکه هغه مهال چې د دواړو ژامنو غاښونه په اعظمی ډول یو له بل سره نښلېدلي وی.

**- Lateral Occlusion**
جانبي جوخت کېدنه یا تړل کېدنه.هغه مهال د غاښونو تړل چې لاندینی ژامنه د مرکزی اکلوژن ښی او کیڼ لوري ته ځای بدل کړی.

**- Lingual Occlusion**
دا هغه ډول ناوړه تړل کېدل دی چې په هغه کې د نارمل غاښی قوس په پرتله د ژبې وضعیت کې ځای لری ، دا د ژبې غیر نورمال جوخت کېدنه د غاښونو د نورمال قوس په وړاندې بلل شي.

**- Mesial Occlusion**
دننه یا وسطی لوري ته جوخت کېدنه یا تړل کېدنه یا دا چې د غاښونو منځ ته راتګ دننه او وسطی لوري ته.

**- Normal Occlusion**
نورمال ډول جوخت کېدنه.پدې کې په مرکزی حالت کې د پورتنیو او ښکتنیو غاښونو پیوستون شتون لری.

**- Protrusive Occlusion**
قدام ته تړنه.د (**Anterocclusion**) په انډول.

**- Retrusive Occlusion**
خلف ته تړنه او جوخت کېدنه. د (**Distocclusion**) په انډول .

**- Traumatic Occlusion**
د ترضیض له کبله تړل او جوخت کېدنه.

## Occlusive
د تړل کېدنې او جوخت کېدنې یا انسداد اړوند.

**- Occlusive Stroke**
هغه ضعف (شاک) چې د وینې د علقې (**Blood Clot**) له امله وی.

**- Occlusive Therapy**
د سترګو د حول لپاره درملنه ده چې یکې سترګه ت ړل شی تر څو سترګه سمون ومومی.

## Occult
پټ له نظره، د نه لیدنې وړ،له لید څخه ورکېدل .

**- Occult Blood**
د وینې پرڼ شوې ټوټه ، د وینې علقه .

## Occupancy
نیونه، لاس ته راوستنه،اشغال، خپلونه ، ډکونه ، دنده، پیشه، مسلک.

**- Bed Occupancy Rate**
په یوه روغتون کې د ناروغانو پذریعه د بسترونو اشغال یا ډکوالی حالت څرګندویه دئ چې په سلنه ښودل شی لنډه ننبه یې (**BOR**) ده.

**- Occupancy Rate**
په یوه روغتون کې د ناروغانو پذریعه د بسترونو اشغال یا ډکوالی حالت څرګندویه دئ .د نیولو چټکتیا ښودنه.

## Occupant
یوونکی، لاسته کوونکی، لاندي کوونکی لکه په روغتون کې ناروغان.

## Occupation
نیونه، خپلونه، دنده، حرفه، مسلک.

## Occupational
حرفوی، کسبی ، د حرفې او مسلک پورې تړلې.

**- Occupational Asthma**
حرفوی استما (سالنډی) ناروغی چې د موادو او توکو سره د

**Ochrodermia**

د پوستکی ژېړوالی.

**Ochrometer**

دا یوه دستګاه ده چې شعریه رګونو فشار ټاکنې لپاره ده.

**Ochrometery**

د اوکرومیتر پواسطه عملیه ترسره کول.

**Ochronosis**

په پوستکي او د بدن په ځانګړو انساجو (غضروف ، وتر ، فیبروزی نسج ) کې د الکاپتون اجسامو د راټولېدنې له کبله تور اوختنه ده چې د میتابولیزم د اختلال له کبله وي چې د انساج رنګ ته توربخن بدلون ورکوي.

**- Ocular Ochronosis**

د سترګو اکرونوزس.

**Ochronotic**

د اکرونوزس اړوند .

**Octa-**

دا یو مختاړی دی چې د (اته) معنی ورکوي.

**Octad**

اته ګونې.

**Octagon**

اته اړخیزه شکل.

**Octagonal**

اته اړخیزه، اته ګوټی ، د اته کنجونو لرونکې جوړښت.

**Octan**

اتمه، د اته څخه یو .

**Octanol**

اوکتانول (هر یو د څلور الکهولو څخه چې بې رنګه بڼه لری او د ($C_8H_{17}OH$) فورمول خاوند دئ.

**Octano-**

اوکتانو ، دا یو مختاړې دئ او د اته معنی بشپړوی .

**Octanophagia**

اوکټانوفجیا ، د ختېو او خاوروخوړل ، ختې خوړل .

**Octapamine**

اوکتاپامین، سمپاتومیمیتیک امین ګروپ لرونکې درمل دي چې دا د کبد د ناروغیو له کبله د تایروزین د نه استقلاب څخه منځ ته راځي.

**Octapeptide**

دا هغه ډول پیپتاید دي چې د هایدرولایزس څخه یې اته

تماس له امله وی.

**- Occupational Dermatitis**

حرفوی درماتیت ، د مسلک سره د تړلو الرژن توکو اړوند د پوستکی التهاب.

**- Occupational Disease**

د کاروبار پورې تړلې ناروغی لکه پسیتاکوزیس.

**- Occupational Hazard**

د کاروباری کارونو اضرار او تاوانونه یا خطرې .

**- Occupational Health Nurse (OH nurse)**

مسلکی روغتیاپال نرس.

**- Occupational Medicine**

حرفوی او مسلکی طبابتی چارې .

**- Occupational Therapist**

حرفوی او مسلکی طبابت اودرملنه کوونکې .

**- Occupational Therapy**

مسلکی درملنه ، حرفوی درملنه ، د یو لړ کاروبارونو تر سره کولوپذریعه د یولړ ناورغیو درملنه .

**Occupy**

نیول ، اشغالول ، خپلول لاسته کول، لګیاکول، بوختول.

**- Space Occupying Lesions**

د فضاګانو اشغالوونکې ناروغی لکه دماغی تومورونه ، دانې ، سیستونه او نور.

**Occur**

پیښیدل،واقع کیدل، په یادیدل، په زړه کیدل، موندل کیدل، څرګندیدل.

**Occurrence**

وقوع ، پېښېدنه ،واقع کیدنه، نابېره پرپیښیدنه، پیښه.

**OCD**

د تشوشی ناروغیو او اختلالونو( Obsessive-compulsive Disorder) لپاره لنډه نښه.

**Ocellus**

په حشرو او نورو غېر شمزي لرونکو ژوو کې یوه ساده کوچنۍ سترګه ، د وړانګو او روښنایي په وړاندې ساده حساس غړي، د یوې مرکب سترګې یو واحد .سترګې ته ورته ګردۍ رنګې پلاک.

**Ochrobium**

د شیزومایسیت د کورنۍ یوه ډله میکروب.

**Ochrodermatosis**

هغه حالت چې د پوستکی د ژېړي سره ښکاره کېږی.

د سترګې د ګاټې حرکت.

**Oculogyric**

د سترګې د ګاټې حرکت اړوند.

**Oculomandibulodyscephaly**

هغه مهال چې د سترګې د ناروغیو سره مل د مخ د سر کوپړۍ د هډوکو غبرګ سؤ اشکال او نیګړتیاوې شته والی ولری .

**Oculometroscope**

د سترګو د دننه کتنو لپاره وسیله.

**Oculomotor**

د سترګو د حرکاتو اړوند. حرکي بصري.

**- Oculomotor Nerve**

د سترګو محرک عصب د دریم قحفی زوج چې د سترګو حرکات کنترولوی.

**Oculomotorius**

د سترګو د حرکت اړوند ، د سترګو حرکي عصب.

**Oculomycosis**

د سترګو فنګسي ناروغي.

**Oculonasal**

د سترګې او پوزې اړوند.

**Oculoplethysmography**

د سترګو دننه فشار ټاکنې لپاره وسیله ده .

**Oculopupillary**

د سترګې د کسي (تورې) اړوند.

**Oculus**

د سترګه، بصر، د (**Eye**) په انډول.

**D.O**

طبي د سترګو طبیب چې یوازې د سترګو لپاره ښیښنه یا عینکې جوړوي او لمبر د سترګو ټاکي د ( **Doctor of Optometry**) لنډه ښه ده .

**OD**

ښی سترګه، د (**Oculus Dexter**) لنډه ښه ده .

**OD**

د اندازې (ډوز) زیاتوالی،د(**Over- dose**) لنډه ښه ده .

**OD**

د ورځې یوځل ، د (**Once a Day**) لنډه ښه ده .

**o.d.**

هره ورځ . چې بشپړه بڼه یې (**Omni Die**) ده لنډه ښه بلل شی .

ډوله امینو اسیدونه لاس ته راځي. د سوماتوستاتین یو سنتیتیک انالوګ دئ چې اسیتیت ایتر په بڼه د هضمی جهاز د غدوی تومورونو د ښو ښانو او پانکراس تومور درملنه پرې کېږی.

**Octaploid**

د اته او کتاپلوئید ځانګړتیاوو لرونکی.

**Octaploidy**

د اته کروموزوم دستګاه درلودونکی.

**Octavalent**

د اته ظرفیته لرونکی.

**Octin**

د (**Isometpten**) لپاره چې د سمپاتیک پېښې کوونکی او سپزم ضد دی تجارتي نوم دی.

**Octipara**

هغه ښځه چې اته ځله بلاربه او اته ماشومان یې زېږولي وی .

**Ocul (O)-**

دا یو مختاړی دی د سترګې معنی ورکوي.

**Ocular**

د سترګې اړوند ، بصري ، عینی .

**- Ocular Dominance**

هسې حالت چې یو حوک خپله یوه سترګه له بلې سترګې ډېره وکاروی

**- Ocular Prosthesis**

د سترګې پروتیز ، مصنوعی سترګه ، غلطه سترګه.

**Oculi**

سترګې ، ګڼ شمېر سترګې .د ( **Orbicularis Oculi** ) په انډول.

**Oculist**

د سترګې متخصص ډاکتر،د (**Ophthalmologist**) په انډول.

**Oculo-**

دا یومختاړې دئ او د سترګې معنی لری .

**Oculocutaneous**

د سترګې او پوستکي اړوند ، جلدي، بصري.

**Oculofacial**

د مخ او سترګې اړوند ، وجهي – بصري.

**Oculogyration**

**ODA**

د عملیات برخي مرستیال ( **Operating Department Assistant**) لنډه نښه ده .

**Oddity**

عجیب والی، تماشه والی، عجیب سړی یاشی.

**Oddly**

تماشه یا په عجیب ډول.

**Odious**

خوابدوونکی، دکرکې وړ ،بوی ناک ، کرغیړن.

**Odont(O)-**

دا یو مختاړی دی چې د غاښ معنی ورکوي.

**Odontalgia**

اوډنټالجیا ، د غاښونو درد.

**- Phantom Odontalgia**

د غاښ د حفرې نیورالژي.

**Odontectomy**

اوډنټیکټومی، د غاښ راویستنه.

**Odontexesis**

پاک کول، د غاښ تواِل او خلا ورکول.

**Odontiasis**

د غاښ راوتنه او یا هر راز اختلال د هغه له کبله.

**Odontic**

غاښیز ، غاښی لرونکې ، د غاښ اړوند، غاښي .

**Odontinoid**

د غاښ د مادي جوړ تومور.

**Odontitis**

د یوه غاښ التهاب.

**Odonto -**

دا یو مختاړې دئ او د غاښ معنی بشپړوی.

**Odontoblast**

دا د منظم نسج حجره چې د غاښ د پولپ بهرني مخ مجاور د غاښ عاج جوړښت منځ ته راوړی.

**Odontoblastoma**

د اودانټوبلاست حجراتو جوړ تومور.

**Odontoclamis**

د یوه غاښ پر مخ د وریو د نسج کتلې منځ ته راتګ.

**Odontoclasis**

د یوه غاښ ماتېدنه.

**Odontoclast**

دا یوه غټه حجره چې څو هستې لري او شیدو غاښونو د ریښې په جذب کې ګډون کوي.

**Odontodynia**

د غاښ درد.د (**Odontalgia**) په اندول.

**Odontogen**

اوډنټوجن، د غاښ منځ ته راوړونکې ماده، غاښ جوړونکی.

**Odontogenesis**

د غاښ د منځ ته راتللو میکانیزم ته ویل کېږی.

**Odontogenetic**

د اوداانټوجنیزس اړوند .

**Odontogenic**

د اوداانټوجن (**Odontogen**)اړوند .

**Odontogeny**

د (**Odontogenesis**) په اندول.

**- Odontogeny Imperfecta**

غیر حقیقي غاښ منځ ته راتګ په غیر نورمال یا نیمګړې بڼه غاښ منځ ته راځي.

**Odontography**

د غاښ توصیف، د غاښ راډیوګرافي.

**Odontoid**

اوډنټوئیډ ، غاښ ته ورته، د غاښ په څېر جوړښت.

**- Odontoid Process**

غاښ ته ورته جوړښت چې د یوې فقرې څخه راوتلې بڼه لری .

**Odontolith**

اوډنټولیت،د غاښ کاڼی، د غاښ ډبره، پر غاښ د کلکو موادو رسوب.

**Odontology**

د غاښونو د څېړنې اړوند علم او پوهه.

**Odontolysis**

د غاښ ویجاړېدنه یا د غاښ له منځ تلنه.د غاښی نسج بیا جذب .

**Odontoma**

د غاښ د منځ ته راتلونکو انساجو څخه جوړ شوی تومور.

**- Ameloblastic Odontoma**

دا میلوبلاست او غاښ د حجراتو ګډ تومور.

**- Composite Odontoma**

مرکب او دانتوما تومور چې د مینا او عاج دواړو نسجونو تومور دی.

په انډول .

**Odynacusis**

دردناکه اورېدنه.

**-odynia**

دا یو روستاړی دی او د درد معنی ورکوي.

**Odyno-**

دا یومختاړي دئ او د درد معنی ورکوی ، د (Odyn-) په انډول.

**Odynometer**

د درد د اندازې ټاکنې ډله یا وسیله.

**Odynophagia**

دردناکه بلع کول، د خوراک یوې مرۍ (کپ ) تېرولو په محال د مرۍ د درد احساس.

**Oe-**

دا یو مختاړی دی (E_) په څېر معنی بشپړوی او ورته دی.

**Oedema**

اذیما ، پړسوب ، د (Edema) په انډول. په انساجو کې د مایع ډنډکېدنې حالت دئ چې د پړسېدنې حالت پېښنوی.

**- General Oedema**

عمومی اذیما چې پکې ټول بدن په اذیما او پړسوب اخته وی .

**- Lower Extremity Oedema**

د پښو برخو اذیما شتون .

**- Nonpiting Oedema**

هغه ډول پړسوب یا اذیما چې د ګوتې فشار راوړلو او بېرته پرېښدولو وروسته چټک له منځه ځي .

**- Piting Oedema**

هغه ډول پړسوب یا اذیما چې د ګوتې فشار راوړلو او بېرته پرېښدولو وروسته چټک له منځه نه ځي او په هماغه برخه کې ژوره پاتې کېدا تر یو مهاله پاتې کېږي.

**- Pulmonary Oedema**

د سږو اذیما . ریوي اذیما .

**Oedematous**

اذیمائی ، پړسېدلې .د (Edematous) په انډول.

**Oedipal**

د(Oedipus)اړوند .

**Oedipus**

دا روانی - عقلی اختلال دئ .

**- Coronary Odontoma**

د تاج برخې اوانتوما تومور.

**- Folicular Odontoma**

د غاښ د فولیکول او دانتوما تومور.

**- Radicular Odontoma**

هغه تومور چې د غاښ په ریښه کې منځ ته راځي.

**Odontopathic**

د غاښ ناروغې اړوند .

**Odontopathy**

د غاښ هر راز ناروغي ته ویل کېږي.

**Odontoperiosteum**

د (Periodontinum) په انډول.

**Odontorrhagia**

د غاښ د وېستلو وروسته وینه بهېدنه.

**Odontoscope**

هغه هینداره چې غاښ پرې کتل کېږي.

**Odontoscopy**

د اودانتوسکوپ پواسطه د کتلو کړنلاره.

**Odontosis**

د غاښ منځ ته راتګ، د غاښ وده موندنه.

**Odontosis**

د یوه غاښ غوڅول، د غاښ وده موندنه.

**Odontotomy**

د یوه غاښ غوڅول، د غاښ پرې کول.

**Odontotrypy**

د غاښ سوري کول.

**Odor**

بوی، د بویولو احساس،ښه بوی، شهرت.

**Odorant**

هر هغه مواد چې د بوی احساس وپاروي.

**Odoriferous**

خوشبوی .

**Odorous**

خوشبویه.

**Odour**

بوی، ښه بوی، شهرت.

**Odourless**

بې بویه ، بوی نلرونکې .

**Odyn –**

دا یومختاړې دئ او د درد معنی ورکوی ، د (Odyno-)

**- Oedipus Complex**

هغه ډول عقلی –روانی ناروغی ده چې یو ماشوم داسې احساس کوی چې د خپلې مور سره د پلار په څېر جنسی رابطه ټینګه کړی .

## Oesophag-

دا یو مختاړې دئ او د مرۍ (Oesophago-) معنی بشپړوی.

## Oesophageal

د مرۍ (Oesophagus) اړوند صفت .

**- Oesophageal Hiatus**

د حجاب حاجز پردې یو سورې دې چې مرۍ ورڅخه تېرېږی.

**- Oesophageal Varices**

د مرۍ وریدی وریکوزس ، د مرۍ وریدی پړسوب .

## Oesophagectomy

د مرۍ د غوڅولو جراحی عملیات .

## Oesophagi

د (Oesophagus) لپاره ګڼه شمېره .

## Oesophagitis

د مرۍ التهاب .

## Oesophago-

دا یومختاړې دئ او د مرۍ معنی ورکوی.

## Oesophagocele

هغه حالت چې پکې د مرۍ له جدار څخه مخاطی غشأ راوتنه وکړی.

## Oesophagogastroduodenoscopy

د مرۍ معدې او اثناعشر کتنه د انډوسکوپ په ذریعه .

## Oesophagojejunostomy

د مرۍ او اثناعشر تر منځ د تفمم جراحی عملیات .

## Oesophagoscope

د مرۍ د لیدنې لپاره وسیله ده

## Oesophagoscopy

د ایزوفاګوسکوپ پذریعه د مرۍ د کتنې کړنلاره.

## Oesophagostomiasis

د ایزوفاګوستوم په اتتان یا چینجي اخته کېدنه.

## Oesophagostomy

د تغذیې په موخه د جراحی عملیات پذریعه د مرۍ وازولو کړنلاره.

## Oesophagostum

دا د ګردې چینجیو له ډلې دی چې د حیواناتو په کولمو کې ژوند کوي.

## Oesophagotomy

د جراحی عملیات پذریعه د مرۍ وازولو کړنلاره.

## Oesophagus

مرۍ ، د هضمی کانال د خولې پسې لومړنۍ نلکه چې تر معدې (ژرندې) اوږد والې لری.

## Oestradiol

ښځینه هورمون دې چې د هګۍ ځالې څخه افرازېږی او د ثانوی جنسی ودې اوصاف تنبه کوی او پاروی.

## Oestriol

د پلاسنتا پذریعه افرازېدونکې هورمون دې چې د بلاربې ښځې په متیازو کې یې مستحضرات موندل شی

## Oestrogen

د استروجن هورمون دې چې د هګۍ ځالې څخه افرازېږی او د ثانوی جنسی ودې اوصاف تنبه کوی او پاروی.

## Oestrogenic Hormone

استروجنی هورمون مصنوعی جوړېږی .

## Oestrone

د استروجن هورمون یوډول دئ د هګې ځالې څخه افرازېږی ، د (Estrone) په انډول .

## Oestrus

دا د مچانو له ډلې څخه دی چې لاروا یې د شخوند وهونکو په پوزه او سینوس کې د پرازیت په څېر ژوند کوي.

## Of.

د (Official) په انډول.

## Official

مامور ، اداری، رسمي، دفتري، هغه درمل چې فورمول او اندازه یې د فارمکولوژستانو فارمکوپې کې د تائید وړ ګرځېدلی وي.

**- Official Drug**

رسمی درمل هغه چې د کارولو جواز لری او په فورمولر کنبې یې نوم شتون لری.

## Officially

په رسمی توګه.

## Officinal

درملیز، درملي، طبي.

## OGD

د ایزوفاګوګاسترودیدینوسکوپی (Oesophagogastroduodenoscopy) لنډه نښه ده .

## $OH^-$

د هایدروکسیل (Hydroxyl⁻) ګروپ لپاره نښه ده.

**- OH Nurse**

مسلکی روغتیاپال نرس چې د ( Occupational Health Nurse)لنډه نښه ده.

## Ohm

دا د برېښنا مقاومت معادل دی چې دغه بهیر یو امپیر د یوه ولټ پواسطه منځ ته راځي.

## Ohmmeter

د اوم د ټاکلو وسیله.

## OI

د هډوکی جوړېدنې کې نیمګړتیا ، د ( Osteogenesis Imperfecta) لپاره لنډه نښه ده .

## -oid

دا یو روستاړی دی چې د ورته معنی ورکوي.

## Oidiomycosis

کاندیازس، د (Candidiasis) په انډول .

## Oil

غوړ، غوړینه مایع، د سوځېدنې لپاره تېل د غوړولو تېل ، غوړی .

**- All Spice Oil**

د (Pimento Oil) په انډول.

**- Almond Oil Bitter**

تریخ د بادام غوړي شحم لرونکی.

**- Almond Oil Express**

د بادامو غوړي.

**- Almond Oil Sweet**

د خوږو بادامو غوړي.

**- Animal Oils**

حیوانی غوړی، هغه غوړ یا تېل چې له حیوانی وازدو څخه پلاس راځی .

**- Cade Oil**

د عرعر غوړي.

**- Camphorated Oil**

د کامفر غوړي.

**- Cardamom Oil**

دا غوړي د الټاریا کاردا موم بوټي څخه لاس ته راځي او خوند لپاره پکار وړل کېږی.

**- Cassia Oil**

د (Cinnamon Oil) په انډول.

**- Castor Oil**

کاستر آیل دا غوړي دي چې د قبضیت د له منځه وړلو لپاره پکارېږی.

**- Chaulmoogra Oil**

دا ډول غوړ د جذام یا خوراړي په درملنه کې په کار وړل کېږی.

**- Chenopodium Oil**

دیاغي یا صحرایي قاز (مرغاوی) غوړي دا د چینجیو ضد درملو په څېر پکارېږی.

**- Cinnamon Oil**

د سینامون ونې (دارچیني ونې) څخه لاس ته راتلونکې تیل دی دار چېن رنګ ،قهوه ای ژیړ مایل .

**- Clove Oil**

د مېخک غوړي دا د غاښونو دردونو ضد اغېزه لري.

**- Cod Liver Oil**

د ماهیانو د ځیګر غوړي دا د ویټامین(B,A)لپاره غوره او ډکه زېرمه ده.

**- Corn Oil**

دا د (Zeamays) له ایمبریو څخه لاس ته راځي د جوارو غوړي همدا رنګه دا د ماشینونو او موټرانو د غوړېدنې لپاره پکار وړل کېږی. د جوارو تیل هم پدې نامه یادېږی.

**- Cotton Seed Oil**

د پنبه دانې غوړي.

**- Essential Oil**

بخارېدونکي غوړي. د (Volatile Oil ، Ethereal Oil ) په انډول.

**- Ethereal Oil**

بخارېدونکي غوړي. د ( Volatile Oil ،Essential Oil ) په انډول.

**- Ethiodized Oil**

د ایوډین ورګډ شوي غوړي او د خوند لپاره پکارېږی.

**- Eucalyptus Oil**

د ایوکالیپټس غوړي او د خوند لپاره پکارېږي.

**- Expressed Oil**

شحمي غوړي(Fatty Oil) .

**- Fatty Oil**

شحمي غوړي ، ( Expressed Oil) په انډول.

**- Flaxseed Oil**

د کتان د تخم غوړي، د زغر غوړي.د (Linseed Oil) په انډول.

**- Gaultheria Oil**

میتایل سالیسلیت غوړي.

د کالامین مرهم.

- **Hydrophilic Ointment**

اوبه لرونکي غوړين مرهم.

- **Rose Water Ointment**

دا د[ (**Spermaceti**، سپين واسلين ،د بادامو غوړي **Rose Water, Sodium Borat**) خالص اوبو ] څخه مخلوط ملحم دي.

- **Zinc Oxid Ointment**

د زینک اوکساید مرهم دا په موضعي توګه په خوله کوونکو برخو او قابضه برخو کې پکار وړل کېږي.

- **Yellow Wax Ointment**

د ژېړ واسلين مرهم چې پطرول لري.

## OL

او د کينه سترګه معنی لری د (**Oculus Leavus**) لپاره لنډه نښه ده.

## -ol

د يو روستاړې دئ او د يو مرکب د الکهول يا فينول درلودنې ښودنه کوی .

## Olamine

د ايتانول امين لپاره تجارتی نوم دئ.

## Old Age

زوړ سړې ، زړه ښځه ، ډېر عمر خوړلې کس په تېره بيا د(**65**) کالنو څخه اوښتې کس .

## Oleaginous

غوړين ، غوړ .

## Oleate

د اوليک اسيد(مالګه ، ايستر ، انيون) بڼه ، په اوليک اسيد کې د يوې مادې محلول چې د ملحم پتوګه کارېږي.

## Olecranarthritis

د څنګلې د بند التهاب ، د مرفق مفصل التهاب .

## Olecranarthropathy

د څنګلې د بند ناروغی ، د مرفق مفصل هر راز ناجوړتياوی.

## Olecranon

اوليکرانون ،، د مرفق مفصل اولکران هډوکې، د څنګلې د بند برخه کې د اولنار هډوکی راوتلې فنل ته ورته (**Funny Bone**) برخه هډوکې چې ورته د اولکران استطاله (**Olecranon Process**) هم وايی .

- **Heavy Oil**

د دراندە وزن لرونکي غوړي.

- **Hydono Carpus Oil**

د هيدنوکارپوس غوړي.

- **Linseed Oil**

د کتان غوړي، د زغزو غوړي.

- **Mineral Oils**

منرال لرونکی غوړی یا تیل.

- **Myristica Oil**

دا د ميريستيکا فراګرانس له نبات څخه لاس ته راځي او د خوند دپاره پکارېږی.

- **Orange Flower Oil**

د نارنج د ګل غوړي .

- **Peach Kernel Oil**

د شفتالو د زړي غوړي.

- **Peanut Oil**

د څمکني جلغوزي (ممپلیيو) غوړي.

- **Peppermint Oil**

د صحرائي نعناع غوړي، د نانا ائينلي غوړي.

- **Persic Oil**

د زرد آلو څخه جوړغوړي.

- **Pimento Oil**

د (**All Spice Oil**) په انډول.

- **osemary Oil**

د غرني اکليل غوړي، او د خوند لپاره پکارېږی.

- **Sesame Oil**

د کنجدو غوړي.

- **Thyme Oil**

دا د تايموس ولګاريس نبات څخه لاس ته راځي او دا غوړي د خوند زياتولو په موخه پکارېږي.

- **Turpentine Oil**

دا غوړي د پينوس پالوستريس څخه لاس ته راځي.

- **Vegetable Oils**

نباتی غوړی-تیل.

- **Volatile Oil**

بخارېدونکي غوړي د ( **Essential Oil**، **Ethereal Oil**) په انډول.

## Ointment

مرهم، ملحم، غوړي، د بهرني استعمال لپاره نيمه مايع غوړي.

- **Ammoniated Mercury Ointment**

د امونيا مرکيوري غوړي يا مرهم.

- **Benzoic & Salicylic Acid Ointment**

د بنزوئيک او د ساليساليک اسيد ګډ جوړښت مرهم.

- **Calamin Ointment**

- **Olecranon Process**
مرفق مفصل هډوکو د اولکران استطاله.

## Olecranonal
د (**Olecranon**) اړوند صفت.

## Oleic
د غوړو (**Oil**) اړوند صفت.

- **Oleic Acid**
دا یو (**18**) کاربنی غیر مشبوع شحمی اسید دې چې په ګڼ شمیر حیوانی او نباتی غوړو کې موندل شی.

## Olein
د اولیک اسید څخه لاس ته راغلې ترای ګلایسراید چې په ګڼ شمیر وازدو او غوړو کې موندل کیږی .

## Ole-
دا یو مختاړې دئ او د غوړو یا شحم معنی بشپړوی.

## Oleo-
دا یو مختاړې دئ او د غوړو یا شحم معنی بشپړوی.

## Oleoresin
د مفرو غوړو او رزین ګډ مرکب دئ لکه هغه غوړې چې له ناجو بوټی څخه لاس ته راځی . د یوه درمل څخه زیږنده مرکب چې د یو معطر محلل لکه (الکهول ، ایتر ، اسیتون) پواسطه یې محلول بخاروی .

## Oleovitamin
د کبانو د ینې د غوړو یا د (**Edible**) د بوټی د غوړو یو محصول چې په وازده کې د منحل یوه یا څو ویتامینونو لرونکی دی.

## Oleum
غوړی ، دا اصطلاح په فارمسی کې ډیره کاروله شی.

## Olfact
د یوه واحد ، د درک وړ بوی تر ټولو اصغری کچه چې په یوه مادې د هغه تر ټولو کم غلظت څخه عبارت دی چې د نارمل یو زیات شمیر وګړو پواسطه درک کیدای شی او په لیتر کې د ګرام د واحد په متې بیانیږی.

## Olfaction
د بویونو د درک او احساس یا پیژندنې وړتیا ، د بوی احساس، بویول، په بوی پوهیدنه.

## Olfactology
په شاموی (بویولو) حس پورې اړوند پوهه او علمی څیړنیزه څانګه.

## Olfactometer
د شاموی (بویولو) حس د ارزونې لپاره وسیله ده.

## Olfactory
په شاموی (بویولو) حس پورې اړوند صفت .

- **Olfactory Area**
د دماغ شاموی سیمه ، د بویولو ساحه .

- **Olfactory Bulb**
دشاموی جهاز (**Olfactory Tract**) د پایلې برخه هلته چې د پوزې برخه کې د حسی الیافو سره یوځای کیږی .

- **Olfactory Cortex**
د دماغی قشر هغه برخه او سیمه چې ورته د بوی / شاموی احساس معومات ور رسیږی.

- **Olfactory Nerve**
شاموی عصب ، د بوی اړوند عصب .د قحفی لومړی زوج چې د بوی احساس اړوند چاری سمبالوی.

- **Olfactory Tract**
د شاموی جهاز ، د شاموی سیستم چې پوزې څخه د تر دماغ پورې ټول عصبی ریښې په بر کې نیسی .

## Olig-
دا یو مختاړې دئ او د (اندک ، لږ او کم اندازې) معنی بشپړوی ، د (**Oligo-**) په انډول.

## Oligaemia
د وینې د بهیر لږوالې ، هغه څوک چې د وینې دوران کې یې وینه لږوالې وموی ،د ( **Oligemia**) په انډول.

## Olegemic
د ( **Oligaemia**) اړوند صفت.

## Oligo-
الیګو، دا یو مختاړې دئ او د (اندک ، لږ او کم اندازې) معنی بشپړوی.

## Oligochromemia
د وینې د رنګ کمښت ، د وینې د هیمګلوبین کمښت.

## Oligocystic
د سیستونو د کم شمیر لرل.

## Oligodactylism
دلاسونو اوپښو د یوې یا څوګوتو په ولادی توګه نشتوالې حالت ته ویل .

## Oligodactyly
هغه ماشوم چې د زیږون پرمهال په ولادی توګه دلاسونو اوپښو د یوې یا څوګوتو نشتوالې ولری .

## Oligodendrocyte
د اولیګودندروګلیا یوه حجره.

د هګۍ اچولو د بهیر کمښت د معمول په پرتله .

**Oligosaccharide**

هغه کاربوهایدریټ چې د هایدرولیز څخه یې په لږ شمېر مونوسکرایدونه په لاس راشي.

**Oligospermia**

په منوی مایع کې د منی یا سپرماتوزوا کمښت .

**Oligosynaptic**

د څو لړیو کې د ساینپسونو د شمېر کمښت .

**Oligotrophia**

ناکافی تغذیه .

**Oligotrophy**

د (**Oligotrophia**) په انډول.

**Oligozoospermia**

د ( **Oligospermia**) په انډول.

**Oliguria**

د شخص پواسطه د څښل شوو مایعاتو په پرتله د تشو متیازو د داطراح کمښت حالت ته ویل شي.

**Olivary**

د زیتون په څېر ، زیتون وزمه ، زیتونی .

**-Olivary Body**

زیتونی جسم .دا د بصل النخاع ( **Medulla Oblongata** ) د هر پیرامېد (هرم) د پورتنۍ برخې په بهرنۍ لورې ګردې راوتلتیا.

**Olive**

زیتون ، ښون ، دا یو ډول (**Olea Europeae**) ونې مېوه ده چې ګردې دانې لری او د هغې میوې دانې څخ غوړ تر لاسه کېږی او طبی ارزښت لری.

**-Olive oil**

دښون غوړ، دزیتون غوړ

**Olivifugal**

د زیتون څخه لرې کېدنه یا حرکت کول.

**Olivipetal**

د زیتون په لورې حرکت کول یا هدایت.

**Olivopontocerebellar**

د زیتون (منځنۍ ، پوډنکل او مخیخی) قشر سره اړوند صفت بلل شي.

**-ology**

دا یو روستاړې دئ او د هر ډول علمی څېړنو –علمی اصطلاحاتو په پای کې راځي او د هماغه ډول علم معنی بشپړوی.

**Oligodendroglia**

دجنینی اکتودرم د سرچینې لرونکې غیر عصبی حجره چې د مرکزی عصبی سیستم اډواتېشیا (نیوګلیا ) برخه جوړوی، هغه نسج چې ددغه ډول حجرو څخه منځ ته راغلې وی.

**Oligodendroglioma**

د اولیګو دندروسایټونو څخه منځ ته راغلې تومورچې د خپل تمایز او تفریق په بیلابیلو مرحلو کې وی.

**Oligodipsia**

هغه حالت چې یو څوک نه غواړی چې اوبه او څښاک وڅښی.د (**Hypodipsia**) په انډول .

**Oligodontia**

د غاښ کمښت حالت، د نورمال حالت څخه د غاښونو د کم شمېر لرل .

**Oligogalactia**

د شیدو د افراز کمښت.لرې شېدې (پی) کول،

**Oligohydramnios**

د د امنیون دننه امنیوتیک مایع د کمښت حالت .

**Oligohydruria**

د متیازو د غلظت غېر نارمل کمښت.

**Oligomeganephronia**

د پښتورګو په ولادی ټوګه هایپوپلازی چې د لوبونو او نفرونو کُلی شمېر یې کمښت موندلای وی .

**Oligomeganephronic**

د (**Oligomeganephronia**) اړوند صفت .

**Oligomenorrhoea**

هغه حیض چې په غېر نورمال توګه یې رامنځ ته کېدو وارونه لږوالې موندلای وی. د حېض د کراتو کمښت. د (**Oligomenorrhea**) په انډول.

**Oligomer**

هغه پولیمېر چې یو نسبتاً کم شمېر مونو میرونو څخه جوړ شوی.

**Oligonucleotide**

هغه پولیمېر چې نوکلیوتائیدونو د یو نسبتاً کم شمېر (**2-20**)څخه جوړ شوی.

**Oligophosphaturia**

د متیازو د فوسفیت طراح کمښت.

**Oligo-ovulation**

**Omentopexy**

د ثرب د غوځولو پیوند کولو یا تثبیتولو جراحی کړنلاره ده او ګڼه شمېره يې (Omentopexies) بلل شي.

**Omentum**

ثرب ،د ګېډې غوړينه پرده، د پريتوان پېړه (ډبله ، مضاعفه ، دوه پوښه) برخه ده چې د کولمو لپاسه ځوړنده پرته او له معدې څخه بطنی ګاونډيو هډونو ته غځېدلې ده او ورته (Epiploon) هم ويل شی ګڼه شمېره يې (Omenta) .ده او هر هغه لغت چې په (-Epiplo) بيل شی همدا د ثرب معنی بشپړوی.

- **Colic Omentum**

لوی اومنټوم چې مستعرض کولون پوښوی ، د ( Gasterocolic Omentum) په اړه ولوی .

- **Gasterocolic Omentum**

- لوی اومنټوم چې مستعرض کولون پوښوی ، د ( Colic Omentum) په اړه ولوی .

- **Gasterohepatic Omentum**

کوچنی ثرب . د معدې او کبد اړوند ثرب.

**Greater Omentum**

لوی ثرب ، ثرب کبير ، هغه ثرب چې له معدې څخه راوځی او ټولې کولمې پوښوی.

- **Lesser Omentum**

هغه ثرب (غوړينه پرده) چې د معدې د کوچنی کږلېچ او اثناعشر لومړنی برخه د پورټا هيپاټيس سره نښلوی.

- **Omentum Major**

کبير ثرب ، لوی اومنټوم ، د (Omentum Majus) په اړه ولوی .

- **Omentum Majus**

لوی اومنټوم ،ثرب کبير ، د (Omentum Major) په اړه ولوی .

- = **Omentum Minor**

کوچنی اومنټوم ،صغير ثرب ، د (Omentum Minus) په اړه ولوی

.

- **Omentum Minus**

ثرب صغير ،کوچنی اومنټوم ، د (Omentum Minor) په اړه ولوی.

**Omeprazole**

دا د (Proton (H+) Pumping Inhibitor) درملو څخه يو مشتق دئ او د معدې د تيزابيت د کمښت په موخه د (معدې ، مری ، اثناعشر ) قرحاتو درملنه کې پکاريږي.

**Omnipen**

دا امپيسيلين سوداګريز نوم دئ.

**Omniscient**

په هرڅه پوه، په هرڅه خبر( عالم کل ) .

**-olol**

دا يو روستاړې دئ او د بيټا بلاکر درملو په پايله کې راځی او معنی بشپړوی.

- **Atenolol**

اتينولول چې بيټا بلاکر درمل دی .

- **Propranolol Hydrochloride**

پروپرانولول هايدروکلورايد مالګه چې بيټا بلاکر درمل دی .

**Olophonia**

د ناوړه غږيزو هډونو د لرلو له امله په خبرو اترو کولو کې نيمګړتيا لرل.

**Olsalazine**

د ميسالامين يو مشتق دئ چې د قرحوی کوليټ په درملنه کې کارول شي.

**o.m.**

دا (Omni Mane) لپاره يوه لنډه نښه ده چې هر سهار معنی ورکوی او په نسخه ليکنه کې پکاريږی.

**-oma**

دا يو روستاړې دئ او د تومورونو په پايله کې راځی .

**Omasitis**

د (Omasum) په اړه ولوی.

**Omasum**

د شخوند وهونکو حيوان د معدې دريېمه برخه.

**Ombudsman**

د روغتيا خدمتونو کميشنر (Health Service Commissioner) په اړه ولوی.

**Oment -**

دا يو مختاړې دئ او د ثرب (Omentum) معنی بشپړوی

.

**Omenta**

د (Omentum) لپاره ګڼه شمېره .

**Omental**

د (Omentum) اړوند صفت.

**Omentectomies**

د ( Omentectomy) ګڼه شمېره ده.

**Omentectomy**

د ثرب د غوځولو او راويستلو جراحی کړنلاره ده او ګڼه شمېره يې (Omentectomies) بلل شي .

**Omentitis**

د ثرب التهاب . چې پريټونيټ ( Pritonitis) هم بلل شي.

**Omnivorous**

هغه څوک چه هر څه خوری، هغه څوک چه هر سابه اوهم غوښه خوري.

**Omoclavicular**

د اوږې د بند او ترقوې د هډوکی سره په تړاو کې .

**Omohyoid**

د اوږې د بند او هایوئید د هډوکی سره په تړاو کې .

**Omphal-**

دا یو مختاړې دئ او د (نوم ، نامه غوټۍ ، سُره ،حبل السُروی) معنی بشپړوی د (Omphalo-) په انډول .

**Omphalectomy**

د نوم (نامه غوټۍ) غوڅولو جراحی کړنلاره .

**Omphalelcosis**

د نامه غوټۍ (ټُرې ، صُرې) زخم .

**Omphali**

د (Omphalus) لپاره ګڼه شمېره ده .

**Omphalic**

د نامه غوټۍ اړوند صفت.

**Omphalitis**

د نامه د غوټۍ التهاب .

**Omphalo-**

دا یو مختاړې دئ او د نامه غوټۍ (Navel) معنی لری .

**Omphalocele**

اومفالوسل، د نامه غوټۍ برخې د ګېډې د جدار ولادې چُره ده چې د زېږون پر مهال شتون لری چې محتوی یې کولمې او کبد وی او ورته (Exomphalus) هم ویل شي.

**- Omphalocele Major**

لوی اومفالوسل.

**- Omphalocele Minor**

کوچنۍ اومفالوسل.

**Omphalomesentric**

د نامه او میزانتیر اړوند صفت.سُروی –میزانتریک.

**Omphalophlibitis**

د سُروې د ورید التهاب.

**Omphalorrhagia**

له نوم (سُرې) څخه وینه بهېدنه، سُروی –خونریزی.

**Omphalorrhea**

د سُروی برخې کې لمف راوتل .

**Omphalorrhexis**

د نوم څیرې والې ، د سُرې شلېدل.

**Omphalosite**

د (Allantoid Angiopagous) غبرګولونو څخه یو ناقص او نیمګړې هغه چې د حبل السُروی رګونو له لارې د بشپړ او کامل غبرګونی سره نښتنه .

**Omphalotomy**

نامه غوټۍ (حبل السُروی) د وازولو جراحی کړنلاره.

**Omphalus**

د نامه غوټۍ ، نوم ،سُره ، حبل السُروی او ګڼه شمېره بڼه یې (Omphali) ده. د (Navel, Umbilicus) په انډول.

**- Exomphalus**

د نامه غوټۍ برخې څخه فتق چې ولادی بڼه لری او پوستکې نلری.

**-omycin**

دا یو روستاړې دئ او د ماکرولېدونو (Macrolide Drug) درملو په پایله کې راځی لکه (Erythromycin) او نور.

**o.n.**

دا د (Omni Nocte) لپاره لنډه نښه ده او د شپې معنی ورکوی.

**Onaly**

هغه پیوند چې د یوه هډ یا جوړښت د سطحې پرمخ کارول کېږی ، د فلز او ګچو د جنسیت لرونکی ماده چې د غاښونو د تاج مخ پټوی او غاښ ته پخوانی توان ببرته ورکوی.

**Onanism**

موټک وهل ، جلق ، استمنا ، منقطع جماع، د (Masturbation) په انډول.

**Onchocerca**

د فلاریوئیډا د لویې کورنۍ یو ډول نیماتودا چې د (Onchocerca Valvulur) پکې شامل دی کوم چې په پوستکی او تحت الجلداونورو نسجونو د برید له لارې فیبروزی نوډولونه رامنځ ته کوی که په سترګه برید وکړی نو د ړوندوالی لامل ګرځی.

**- Onchocerca Valvulur**

د فلاریوئیډا د لویې کورنۍ یو ډول نیماتودا یو ډول پرازیت دئ.

**Onchocerciasis**

د (Onchocerca) پرازیت باندې اخته کېدنه چې لاروا ډول

یې سترګو کې ځای نیسي او د (River Blindness) ناروغۍ لامل ګرځي .

**Onc¹-**

دا یو مختاړې دئ او د (تومور ، پړسوب ، کتلې )معنی بشپړوي.

**Onco² -**

دا یو مختاړې دئ او د (تومور ، پړسوب ، کتلې )معنی بشپړوي.

**Onco³ -**

دا یو مختاړې دئ او د (چنګک ) معنی بشپړوي.

**Oncocyte**

تومورې حجره، لویه اپیتلیائی حجره چې شدیداً اسیدو فیلیک او ګرانولي سایتوپلازم لري چې ګڼ شمېر مایتو کاندریاګانې پکې شتون لري او خباثت ته هم اوښتلای شي.

**Oncocytic**

د (Oncocyte) اړوند صفت. د تومورې حجرې اړوند.

**Oncocytoma**

تومورې حجرو څخه جوړه تومورې کتله ، شدیداً اسیدوفیلیک او ګرانولي انکوسایتونو څخه جوړه اډینوما چې معمولاً سلیمه بڼه لري . د هارتل د حجرې سلیم تومور.

**- Renal Oncocytoma**

د پښتورګو (کلیوي) نسج انکوسایتوما ، دا حجرې سرطان ته ورته دی خو کپسولي او غیر تهاجمي خاصیت لري.

**Oncocytosis**

د انکوسایت حجرو څخه جوړه تومورې ناروغي ، انکوسایتونو میتاپلازیا .

**Oncofetal**

د (Carcinoemberyonic) په انډول.

**Oncogene**

د جنیټیک سیسټم هغه برخه چې تومور منځ ته راوړي.

د تومورونو پېښوونکې لاملونه ،تومورې .

**Oncogenesis**

د تومورونو د تولید یا منشه نیولو او ودې اصل پورې تړلې. د تومور منځ ته راتګ .

**Oncogenetic**

د تومورونو پېښوونکې لاملونه ،تومورې .

**Oncogenic**

د تومورونو پېښوونکې لاملونه ،تومورې .

**- Oncogenic Drugs**

سرطان پېښوونکي درمل.

**- Oncogenic Foods**

سرطان پېښوونکي خوراکي توکي.

**- Oncogenic Virus**

سرطان پېښوونکي ویروسونه.

**Oncologist**

د سرطاني پېښو او ناروغیو (Oncology) اړوندپوه او متخصص ډاکټر.

**Oncolysate**

هغه عامل چې تومورې حجرې تخریب (لایز) کوي.لایز کوونکې لامل .

**Oncolysis**

د سرطاني تومورونو یا سرطاني حجرو ویلې او تخریب کولو پروسه.

**- Oncolysis Drugs**

سرطان له منځه وړونکي درمل.

**Oncolytic**

د (Oncolysis) اړوند صفت.

**Oncometer**

هغه وسیله چې د (تومورونو ،بډوډو ، نوروغړو) پړسوبونو او د هغې تغیراتو ټاکنې لپاره پکار وړل شي .

**Oncosis**

هغه رنځورډوله حالت چې د تومورونو په ودې سره پېژندل شي.

**Oncosphere**

د فیتوي چینجیانو لاروا چې د یوه بهرني جنیني پوښ پواسطه ساتل کېږي.

**Oncotherapy**

دتومورونو درملنه .

**Oncotic**

انکوټیک، د تومورونو او پړسوبونو اړوند صفت .

**- Oncotic Drugs**

سرطان پېښوونکي درمل.

**- Oncotic Pressure**

آنکوټیک فشار، هغه فشار چې د وینې د پلازما د کلوئید او هایدرکلوئید برخې پورې اړوند وي.

**- Oncotic Tissues**

نیوپلاستیک نسج ، سرطاني نسج .

**Onyalai**
د آفریقأً په تورانو کې د تغذیې د خرابی له امله یو ډول ترومبوسایتوپینیا پورپورا ته ویل شی ، د (**Onyalia**) په انډول.

**Onych -**
دا یو مختاړې دئ او د (**Onycho-**) ، نوک ، معنی بشپړوی.

**Onychatrophia**
د نوک یا نوکانو اټروفی(ضمور) .

**Onychauxis**
د پښې د غټې (بټې) ګوتې د نوک ډېره اوږدېدنه .

**Onchectomy**
د یوه نوک د بستر څخه راویستلو جراحی کړنلاره ،د یوه حیوان د منګولو د نوکانو راویستل.

**Onychia**
د نوک د بستر (اوریو التهاب) او د هغه د (**Matrix**) برخې د التهاب له کبله د نوک غېر منظم کېدنه د لوېدلو لامل ګرځی.

**Onychitis**
د نوک د بستر (اوریو التهاب) او د هغه د (**Matrix**) برخې د التهاب.

**Onycho-**
دا یو مختاړې دئ او د نوک معنی لری د (**Onych-**) په انډول.

**Onchocryptosis**
په غوښه کې ننوتې نوک.

**Onchodystrophy**
د یوه نوک ډیسټروفی .

**Onchogenic**
د یوه نوک د مادې تولېد او جوړېدنه.

**Onchograph**
د نوکانو د شعریه دموی بهیر او ضربان د کتنې او تثبیت لپاره آله.

**Onychogryphosis**
هغه حالت چې پکې د پښې ګوتې د نوک د پایلې برخه په کږه بڼه د ګوتې لپاسه راواوړی او د منګولې بڼه غوره کړی.

**Onychogryposis**
د (**Onychogryphosis**) په انډول.

**Oncotomy**
د یوه ټومور یا پړسوب غوټول (پرې کولو) او وازولو جراحی عملیه .

**Oncotropic**
د ټومور حجرو ته ځانګړې لېوالتیا ښودنه.

**Oncovin**
دا د سرطان ضد (**Vincristin Sulphate** ) درملو سوداګریز نوم دئ.

**Oncovirinae**
د رتروویریدا د کورنۍ د تومور (**Rna**) ویروس .

**Oncovirus**
د انکوویرینه د کورنۍ د تومور زېږوونکو (**Rna**) ویروسونو یوه ډله ده.

**Ondansertron**
هغه کانګې ضد درمل چې د سرطان کېمیاوی درملنې له درملو سره یو ځای کارېږی.

**Oneir-**
دا یو مختاړې دئ او د خوب معنی ورکوی .

**Oneiric**
د خوب او خوب لیدنې سره په تړاو کې.

**Oneirism**
د خوب او ویښتوب حالت .

**Oneir(o)-**
دا یو مختاړې دئ او د خوب معنی ورکوی .

**Onomatomania**
دنومونو یا کلماتو په اړه د ذهن لېوتتوب.

**Onset**
یرغل، برید ، پیل ، یو څه د پیل وخت .

**- Onset of the Illness**
د ناروغۍ یرغل او پیل.

**Onslaught**
کلک یرغل، چپاو، کلکه حمله.

**Ontogenetic**
د (**Ontogeny**) اړوند صفت.

**Ontogensis**
د ( **Ontogeny**) په انډول.

**Ontogeny**
د یوه ارګانیزم اصیل ریښه یا ودې ،هستې زېږوونکې ، هستی زېږونه.

**Onychohetrotopia**

د نوکانو غېر نورمال ځای نیونه .

**Onycholysis**

هغه حالت چې پکې د گوتې د نوک د خپل بستر برخې ځخه جلاکېږي پرته لدې چې راوپرځېږي. د نوک بېلېدل له خپل بستر ځخه.

**Onychomadesis**

هغه حالت چې پکې د گوتې د نوک برخه راووځي او ختلې بنه لري.

**Onychomalacia**

د گوتو د نوکانو نرمېدل (پستېدل).

**Onychomycosis**

د نوک د چنیاسې (انتاناتو ) شتون حالت دئ.

**Onychopathic**

د نوکانو هر ډول ناروغۍ اړوند صفت .

**Onychopathy**

د نوکانو هر ډول ناروغۍ.

**Onychophagia**

د نوکانوخوړل ، د نوکانو چیچل .

**Onychophagy**

د (Onychophagia) په انډول.

**Onychorrhexis**

د نوکانو خود بخودی بېلېدل اوماتېدل.

**Onychoschizia**

د ( Onycholysis) په انډول ، دنوکانو تخریب / ویلېدل.

**Onychosis**

دنوک هر راز ناروغۍ، د گڼه شمېره یې (Onychoses) ده ،د نوکانو ډیفورمیتي یا بې شکله کېدنې ناروغي.

**Onychotitomania**

په روحی اختلالونو کې د نوکانو خوړل یا ژوول.

**Onychotomy**

د لاسونو یا پښو د نوکانو غوڅول یا اخیستل.

**O'nyong-nyong Fever**

د میاشی پواسطه لیږدېدونکی ویروسی انتانی ناروغی ده چې په ختیځ آفریقا کې معمول ده چې ( لوړه تبه ، لمفاوی عقداتو التهاب ، شدید مفصلی درد) پېښوی او ورته (Joint-Breaker Fever) هم ویل شي.د بندونو ماتوونکې تبه .

**Oo-**

دا یو مختاړې دئ او هگۍ یا ایمبریو (Ovum یا Embryo ) معنی بشپړوی .

**Ooblast**

هغه لومړنۍ (اولیه ) حجره چې یو اووم ورځخه منځ ته راځي.

**Oocyesis**

هغه ډول بلاربښت چې په هگۍ ځالې کې وده وکړي ،گڼه شمېره یې (Oocyeses) بلل شي.

**Oocyte** [1]

د غماشی د معدې په جدار کې یو سیسټ لرونکې (Ookinete) ،همدغه راز د هر ډول (Sporozoan ) په وده کې یوه د انالوگ مرحله.

**Oocyte** [2]

نا بالغه هگۍ،هغه حجره چې له (Oogonium) ځخه منځ ته راځي او بیا د میوزیس په نتیجه کې په اووم ( Ovum) باندې اوښتنه او هگۍ منځ ته راوړي.

**- Oocyte Donation**

د هگې ورکول له یوې ښځې ځخه بلې ښځې ته چې د لاپراسکوپی پذریعه پروسه تر سره کېږي .

**Oogamous**

د (Oogamy) اړوند صفت .

**Oogamy**

د یو خوځنده کوچنی سپرم پواسطه د یوې لویې غېر متحرکې هگۍ القاح کېدل ، لکه څه ډول چې په ځینې (Algae) الجیانو کې لیدل شي

**- Hetrogamy**

هیټروگامی، دوه غېر مشابه گامېټونو جوړه کېدل .

**Oogenesis**

د هگۍ د جوړېدنې (تشکل ) او ودې ته ویل شي .

**Oogenetic**

د (Oogenesis) اړوند صفت .

**Oogonium**

دجنینی ودې په بهیر کې د تخمدانی هگۍ حجره چې زېږون مهال ته نږدې وخت کې په اولیه اووسیت اوړي،هغه حجره چې د هگۍ د منځ ته راتلو پیل وخت بلل شي گڼه شمېره یې (Oogonia) ده .

**Ookinesis**

د بلوغ او القاح په بهیر کې د یوې هگۍ مېتوتیکه خوځېدنه.

**Oophoron**
هګۍ ځاله ، د (Ovary) په اند ول. ګڼه شمېره يې (Oophora) بلل شي.

**Oophoropexies**
د (Oophoropexy) ګڼه شمېره ده .

**Oophoropexy**
د هګۍ ځالې د تثبیت جراحي کړنلاره .

**Oophoroplasty**
د يوې هګۍ ځالې (تخمدان) جراحي ترميم کړنلاره .

**Oophorosalpingectomies**
د (Oophorosalpingectomy) ګڼه شمېره ده .

**Oophorosalpingectomy**
د هګۍ ځالې او نفيرونو دغوڅولو جراحي کړنلاره.

**Oophorostomy**
د يوې هګۍ ځالې د سیسټ د وازولو جراحي کړنلاره تر څو د هغه محتوی درېناژ کړل شي.

**Oophorotomy**
د يوې هګۍ ځالې د وازولو جراحي کړنلاره.

**Ooplasm**
د يوې هګۍ سایتوپلازم .

**Oosperm**
يوه القاح شوې هګۍ.

**Ootid**
هغه حجره چې د يوه ثانوی اووسیټ و مايوتيک وېش څخه پلاس راځي او وروسته په اووم اوړي ، په تی لرونکو کې ثانوی مرحله تر هغه مهاله نه بشپړېږي چې القاح صورت ونه نیسی .

**Ooze**
د ( مایع ،ويني او قيح ) په کراره سره څڅېدل او درېناژ کول ، تنیدل، څڅیدل، سوکه بهیدل. څړه، نرمه خټه، پسته خټه.

**Oozed**
څڅېدلې، بهېدلې ، درېناژ شوې .

**Oozing**
څڅېدنه، بهېدنه ، درېناژ کېدنه.

**OP**
د عمليات (Operation) لېاره لنډه نښه ده.

**OP**
د سراپا ناروغ (Outpatient) لپاره لنډه نښه ده.

**Ookinete**
د غوماشی په بدن کې د ملاريا د پرازيت القاح شوې ښځه چې د يوه مايكروګامېټ پواسطه د مايكروګاميت دالقاح کېدو څخه سرچينه اخلی او په اووسيت اوړي.

**Oolema**
د (Zona Pellucida) په اند ول.

**Oophor -**
دا يومختاړې دئ او د (هګۍ ځالې ، تخمدان ) معنی بشپړوی ،د (-Oophoro) په اند ول.

**Oophoralgia**
د هګۍ ځالې درد .

**Oophore**
هګۍ ځاله ، تخمدان . د (Ovary) په اند ول.

**Oophorectomy**
دهګۍ ځالې ( تخمدان) د جراحي پواسطه راويستل او قطع کولو کړنلاره ، ګڼه شمېره (Oophorectomies) ده . د (Ovariectomy) په اند ول.

**Oophoritis**
دهګۍ ځالې التهاب ، د تخمدان التهاب . د (Ovaritis) په اند ول.

**Oophoro-**
دا يو مختاړې دئ او د (هګۍ ځالې، تخمدان) معنی بشپړوی . د (Ovary) په اند ول.

**Oophorocystectomy**
د هګۍ ځالې د سیسټ د راليرې کولو جراحي کړنلاره.

**Oophorocystectomies**
د (Oophorocystectomy)ګڼه شمېره ده.

**Oophorocystosis**
د يوه يا ګڼ شمېر هګۍ ځالو د سيسټونو وده کول.

**Oophorocysterectomy**
د يوه هګۍ ځالې د سیسټ راويستلو جراحي کړنلاره .

**Oophoroma**
د هګۍ ځالې نادر ډول سیسټ دئ چې په منځنی عمرکې منځ ته راځي.

**Oophoromas**
د (Oophoroma) ګڼه شمېره ده .

**Oophoromata**
د (Oophoroma) ګڼه شمېره ده .

**Opacification**
تیاره کېدنه،خړپړتیا ، مکدر کېدنه ، هغه حالت چې پکې یو کدورت مومی ، لکه د سترګو د عدسیې مکدر کېدنه د ساد (Cataract) په ناروغۍ کې . د (X-Rays) وړانګې په وړاندې د کثیفه مادې له لارې د یوه نسج یا غړی د لیدلو وړ ګرځول.

**Opacities**
د (Opacity) ګڼه شمېره.

**Opacity**
تیاره توب ، خړ پړتیا ، د توروالی(مکدریت) کچه، د روڼتوب له منځه تګ ، تیرګي ، ناشفافي ، ګونګوالي .هغه چې روښانه نه وی ،کثافت .

**Opalescent**
دشنې او زرغونې رڼا ، دشنې او زرغونې رنګونه. د یوې کثیفه مادې له لارې د یوه نسج یا غړی د لیدلو وړ ګرځول.

**Opaque**
خړ پړ، مکدر ، ناځرګند ، مبهم ، تت، هغه چې روښانه نه وی. هغه مواد چې د (X-Ray) په راډیوګرافی ښکاره کېږی.

**Ope**
پرانیستل، ښکاره کول، ښکاره کیدل.

**Open**
پرانیستی، واز، خلاص، ځرګند، ښکاره، بی تعصبه، لاس خلاصی ، سخی ، هغه چې تړلې نه وی.

**- Open-angle Glaucoma**
د وازې زاویې درلودونکې ګلوکوما ، غبر معمولاً د لوړ فشارشتون په سترګه کې چې دا د (Drains Aqueous Humour) چینل د بهیر تړلوله امله پېښېږی ورته (Chronic Glaucoma) هم وایي.

**- Open Door**
پرانیستی ور، خلاصه دروازه ( په دیپلوماسی کی ).

**- Open Fracture**
د (Compound Fracture) په انډول.

**- Open -heart Surgery**
د زړه وازه جراحی کړنلاره.

**- Open-hearth**
دپولادودوبلولو بټۍ، یاداش.

**- Opening**
پرانیستنه ( خلاصونه )، خوله، سوړه، سوری، پیل، برید، شروع.هلته چې هر څه واز او خلاص وی.

**- Open Visiting**
د روغتونونو هغه ډول سمبالتیا او تنظیم چې پکې سیلانیان او کتونکی (Visitors) هر یوه وارد ته ورتلای شي.

**- Open Work**
په ټوکرانواو فلزاتو کی دسوریوپه جوړولو سینګارونه.واز ډول اوخلاص کارونه .

**Opener**
پرانیستونکی، وازوونکی ، خلاصوونکی .

**Openly**
په څرګندډول، په ښکاره ډول.

**Operable**
د عملیات وړ ، هغه چې د رغونې په موخه ورته یوه کړنه یا عملیه تر سره کېدونکې وی لکه جراحی عملیات .

**Operant**
غبرګونیز ، تر کار لاندې ، اغېزمن ، نتیجه لرونکې ، په اراوپوهنه کې هر ډول غبرګون چې د بهرنیو تحریکونو له لارې نه شی حذف کېدلای او منظم او تکراری ډول له ناروغه صادرېږی.

**- Operant Conditioning**
هغه ډول زده کړه چې د یوچا د یوې سرغړاونې او سزاموندنې وروسته ترلاسه کېږی.

**Operate**
عملیات کول ، تر سره کول ، عملی کېدل، عملی کول، په کاراچول، چلول، اداره کول.

**Operating**
عملیات کول ، د یوې عملیې تر سره کول ، عملی کول، عملی کول، په کاراچول، چلول، اداره کول.

**- Operating Department**
د عملیات برخه /ځانګه ، د جراحی عملیاتونو تر سره کولو لپاره ځانګړې ځانګه.

**- Operating Department Assistant**
د جراحی عملیاتونو تر سره کولو لپاره ځانګړې ځانګه کې مرستندویه کاروکوونکې کس چې لنډه ننبه یې (ODA) ده .

**- Operating Instruments**
عملیاتی سامانونه ، د جراحی عملیاتونو تر سره کولو لپاره ځانګړې سامانونه چې په عملیات کې کارول شي.

**- Operating Microscope**
د جراحی عملیاتونو تر سره کولو لپاره ځانګړې مایکروسکوپ چې (روښنائیز څراغ ، دوه سترګي لنز ) لری او په ځانګړی عملیاتونو کې ترې کار اخیستل شي .

**- Operating Patient**
عملیاتی ناروغ ، هغه ناروغ د جراحی عملیاتونو تر سره کولو لپاره ځانګړې تشخیص ورباندې کېښودل شوې وی او تر عملیات لاندې وی.

**- Operating Room** (OR)

عملیاتي خونه ، د جراحي عملیاتونو تر سره کولو لپاره ځانګړې خونه، د (**Operating Theatre**) په انډول.

**- Operating Site**

عملیاتي سیمه ، د جراحي عملیاتونو تر سره کولو لپاره ځانګړې سیمه لکه د ناروغ د ګېډې بوه سیمه .

**- Operating Table**

د عملیات میز،د جراحي عملیاتونو تر سره کولو لپاره ځانګړې خونه کې کېښودل شوې میز چې عملیات پرې تر سره کېږي.

**- Operating Theatre**

عملیاتي خونه ، د جراحي عملیاتونو تر سره کولو لپاره ځانګړې خونه، د (**Operating Room**) په انډول

## Operation

عملیات ، د یوه کار یا عمل تر سره کولو کړنلاره ده . جراحي کړنلاره ، جراحي عملیات . عمل، خوځیدا، حرکت کول.

**- Albee's Operation**

د ورانه د بند د شخوالي د سمون لپاره یو عملیات دئ.

**- Babcock's Operation**

د سفینوس ورید د غوټولو او قلم کولو له لارې د رګونو د واریسونو ناروغیو د له منځه وړلو جراحي عملیات.

**- Bassini's Operation**

د سپوغزې (مغبنی) چُرې پلاستیک جراحي عملیات .

**- Beer's Operation**

د سترګو د ساد (غمی ،کترکټ) لپاره د فلاپ کاروولو مېتود جراحي عملیات.

**- Belsely Mar IV Operation**

د ټټر (صدری قفس) په مخ دڅیرلو (شق) له لارې د معدې –مرۍ د رفلوکس درملنې لپاره عملیات چې پکې د معدې فونډوس (غور) برخه د مرۍ د کارډیا برخې په چارپېر (**270°**) تاوېږي او د هغې خلفي جدار آزادېږي.

**- Billiroth's Operation**

د معدې د یوې برخې لېرې کول او د اثناعشر سره د هغې تفمم (**Billiroth's-I**) او که دغه تفمم له جیجینوم سره وشي (**Billiroth's-II**) پنوم یادېږي.

**- Blalock – Taussing Operation**

د سږو (ریوی) سیستمیک شنټ د پېښولو په موخه د کېڼ ریوی شریان سره د کېڼ تحت الترقوی شریان څنډه په څنډه تفمم (اناستوموزس) چې د فالوټ –ټېټرالوژی کې دتسکیني درملنې لپاره کارېږي.

**- Bricker's Operation**

د جراحي له لارې د متیازو د راغونډولو لپاره د یوې ایلیومي مجرا منځ ته راوړلو جراحي کړنلاره .

**- Browne Operation**

د احلیل د هایپوسپډیازس ترمیم جراحي عملیات .

**- Brunschiwig's Operation**

د (**Pancreatoduodenectomy**) په انډول.

**- Calwell-luc Operation**

د (**Radical Maxillary Sinusotomy**) په انډول .

**- Cotte's Operation**

د (**Episacral**) عصب د ویستلو جراحي عملیات .

**- Daviel's Operation**

د عنبیې د څیرلو څخه پرته د قرنیې د پرې کولو (غوڅولو) له لارې د کترکټي عدسیې راویستلو جراحي کړنلاره –عملیات.

**- Denness -Browne Operation**

د احلیل د هایپوسپډیازس ترمیم جراحي عملیات .

**- Duhressen's Operation**

د مهبل له لارې د رحم تثبیت (فیکس) کولو جراحي کړنلاره.

**- Duplay Operation**

د احلیل د هایپوسپډیازس ترمیم جراحي عملیات کړنلاره ده .

**- Dupuy-Dutemps Operation**

د پورتني لېمه څخه د نسج لېرې کولو له لارې د کښتني لېمه ترمیم کړنلاره.

**- Elliot's Operation**

د تروفین پواسطه سکلیروټومي.

**- Equilibrating Operation**

د سترګې د فلج شوې یوې عضلې د مستقیم انتاګونسټ ټینډون پرې کول یا څیرلو کړنلاره.

**- Exploratory Operation**

استکشافي عملیات ، د یوې ناروغۍ د لامل موندلو لپاره د بدن د یوې برخې څیرلو جراحي عملیات کړنلاره.

**- Flap Operation**

هر عمل چې پکې د یوه پورته شوی نسج د ټوټې څخه ګټه اخیستل کېږي ، په پریوډنټولوژی کې هغه عملیات چې هډوکیزې نیمګړتیاوې او ګرانولیشن نسج ته د غوره او پراخې لارې د پېښولو په موخه تر سره کېږي چې پدې عملیات کې (اوری ، الویولار مخاط یا د الویولونو د مخاط ) یوه برخه راویستل کېږي.

**- Fothergill's Operation**

د کارډینال لیګامنټونو د تثبیت له لارې رحم د پرولاپس لپاره عملیات.

**- Frazier-Spiller Operation**

د منځنۍ قحفي ژورې له لارې د تراجمینال عصب ریزوټومي .

**- Fredet- Ramstedt Operation**

د پیلور د حلقوی عضلې طبقې وازول ، د (**Pyloromyotomy**) په انډول .

**- Mc Donald's Operation**
د نابشپړ شوی رحمی عنق لپاره عملیات چې په هغه کې د رحم عنق سوری د (Purse-String) خیاطې ګنډلو له لارې تړل کېږي.

**- Mc Gill's Operation**
د مثانې له لارې سوپراپوبیکه پروسټاټیکټومی عملیات .

**- Manchester's Operation**
د (Fothergill Operation) عملیات په انډول.

**- Motais' Operation**
د لېمه د راځوړندتوب د درملنې په موخه د پورتنی لېمه د ننه د سترګې د پورتنۍ عضلې د تینډون د یوې برخې ځای پرځای کېدنه.

**- Partsch's Operation**
د یوه غابن د کیست د (Marsupiliazation) لپاره تخنیک او عملیات

**- Pereyra Operation**
د متیازو د بې اختیاره تللو د رغوونې لپاره جراحی عملیات تخنیک

**- Pameroy's Operation**
د نفیرونو د لوپ د تړلو او د پاتې برخې قطع کولو له لارې د ښځینه شنډولو جراحی عملیات .

**- Radical Operation**
جذری عملیات چې پکې بشپړ ډول د ضایعې راویستنه ترسره کېږي

**- Ramstedt's Operation**
د ( Pyloromyotomy) په انډول . د معدې د بواب برخې د حلقوی عضلاتو پرې کولو له لارې د معدې د تنګوالی درملنه تر سره کېږي.

**- Saemisch's Operation**
د هایپوپیون د معالجې لپاره د سترګو د قرنیې او د ټپ د قاعدې ترانس فیکس کول.

**- Shirodkar's Operation**
د چاپېر ( Purse-String) د خیاطې پذریعه د رحم د عنق د سوری تړلو په مرسته درحم د غاړې د عدم کفایې د درملنې لپاره عملیات.

**- Surgical Operation**
هر ډول جراحی عملیات .

**- Werthem's Operation**
د (Radical Hysterectomy) په انډول،د رحم راویستلو جذری ډول د جراحې عملیات کړنلاره .

**- Ziegler's Operation**
د یوه مصنوعی کسی د جوړولو لپاره (V) شکله آیریډیکتومی جراحی عملیات.

**- Freyer's Operation**
د فوق العانی له لارې د پروسټاټ غدې ضخامې د لېرې کولو جراحی عملیات کړنلاره.

**- Frost -Lang Operation**
د ویستل شوې سترګې په ځای د یوې سره زرو ګاټې ایښودل.

**- Goin's Operation**
په سترګې منضمه (سکلرا) کې د منځ ته راغلی سوری له لارې د شبکیې اتصال (Detachment) د درملنې لپاره د شبکیې دفیسور ترموکواتری کولو جراحی کړنلاره.

**- Heart Operation**
د زړه هر راز عملیات .

**- Hartmann's Operation**
په ناروغۍ اخته کولون د یوې برخې څېرل او د پاتې کولون د پروګزیمال برخې سر د ګېډې څخه بهر ته د کولوستومی ډول ځای په ځای کول او ډیسټال برخې ګنډل.

**- Hiller Operation**
د (Achalasia) په ناروغی کې د مرۍ د کارډیا معصرې د حلقوی عضلاتو پرې کولو او وازولو جراحی عملیات ، د ( Cadriomyotomy) په انډول.

**- Kelly's Operation**
هغه کار چې په ښځوکې د متیازو د بې واکۍ د سمون په موخه تر سره کېږي، د (Arytenidopexy) په انډول.

**- King's Operation**
د (Arytenidopexy) په انډول.

**- Kraske's Operation**
د ریکټوم د کارسینوما ته دلاس رسی په موخه د عصعصی هډوکی د یوې برخې لېرې کولو جراحی کړنلاره.

**- Lagrange's Operation**
د (Sclerectoiridotomy) په انډول.

**- Le Fort's Operation**
د (Le Fort's-Negebauer Operation) په انډول. د رحم د پرولاپس د مخنیوی لپاره یا ترمیم په موخه په منځنۍ کرښه کې د مهبل د قدامی او خلفی جدارونو یو کولو پذریعه د عملیات کړنلاره ده .

**- Lorenz's Operation**
د ورانه د بند د ولادی ننوتلتیا د درملنې په موخه عملیات.

**- Mc Burney's Operation**
①د سپوغزې (مغبنی) چورې د درملنې جذری (راډیکاله) جراحی عملیات دئ. ②همدارنګه د اپنډکس د التهاب د درملنې لپاره هم همدغه عملیاتي ټکې ټاکل او عملیات تر سره کېږي.

**- Macewen's Operation**
د فتقیه کیسې څخه د جوړشوې یوه بالبنت له لارې د داخلی حلقې (رینګ) تړ لو په مټه د فتق راډیکاله جراحي عملیات .

د کروموزومونو یوه ټوټه چې کارګر جین او هغه ته نږدې جوړښتیز جینونه چې چارې یې یو له بله سره تړاو لري پکې ځای لري.

**Ophiasis**

د الوپسي (Alopecia Areata) یو ډول دئ د سکالپ په ټیمپورال او کسې پیټال برخو کې پرلپسې لړۍ نیسي.

**Ophidism**

د زهرجنو مارانو له خوا چیچلو پواسط مسمومیت.

**Ophryon**

د عرضاني سوپرا اوربیتال لیکې منځنۍ ټکې.

**Ophryosis**

د وریځو شخۍ یا سپزم.

**Ophth-**

دا یومختاړې دئ اود سترګې معنی بشپړوي.

**Ophthalm-**

دا یومختاړې دئ اود سترګې معنی بشپړوي.

**Ophthalm-**

دا یومختاړې دئ اود سترګې معنی بشپړوي.

**Ophthalmagra**

د سترګې ناڅاپي درد.

**Ophthalmagia**

دسترګې درد.

**Ophthalmectomies**

د (Ophthalmectomy) ګڼه شمېره.

**Ophthalmectomy**

جراحي عملیات دئ چې پکې د سترګې ګاټې راویستل کېږي.

**Ophthalmia**

د سترګې شدید التهاب.

**- Egyptian Ophthalmia**

تراخم ، د (Trachoma) په اند ول.

**- Gonorrheal Ophthalmia**

د ګونوکوکونو (Gonococcus) انتاناتو له امله د سترګې حاد او شدید تقیحي (زوې لرونکې) التهاب.

**- Ophthalmia Neonatorum**

د نوزادی دورې د سترګو د منضمې حاد ډول تقیحي التهاب چې په (10-21 Days) ورځ پیل او د ولادي کانال انتاناتو اړوند وي.

**- Periodic Ophthalmia**

هغه دوره یي د سترګې (اوئیت) په بڼه التهاب چې آسان پرې اخته کېږي.

**Operative**

عملیاتي ، عملیات کېدونکې ، تر عمل لاندې.

**- Atlas of Operative Surgery**

د جراحي عملیاتونو لپاره د اطلس کتاب.

**- Operative Case**

د جراحي عملیات پېښه.

**- Intra Operative**

د عملیات دننه مهال.

**- Operative Procedure**

د عملیات کړنلارې د پړاوونو پر بنسټ.

**- Operative Method**

د عملیات کولو نوع یا ډول ته ویل شي چې پکې ټول ټال کړنلاره ترشرحې لاندې راځي.

**- Pediatric Operative Surgery Book**

د ماشومانو جراحي عملیاتونو لپاره د جراحي اړوند کتاب.

**- Peroperative**

هر جراحي عملیات اړوند.

**- Preoperative**

د جراحي عملیات څخه دمخه حالت

**- Postoperative**

د جراحي عملیات څخه وروسته حالت.

**Operator**

عملیات کوونکې ، ماشین چلوونکې کس.

**Opercula**

د (Operculum) ګڼه شمېره.

**Opercular**

د (Operculum) اړوند صفت.

**Operculum**

د دماغ د نیمکړې هغه برخه چې د انسولا(Insula) لپاسه اووښتې پرته ده ، هودا راز د مخاط هغه کتله پلګ (Plug) چې د بلاربښت پر مهال د ښځې د رحم د عنق کانال مخه بندوي ګڼه شمېره یې د ( Opercula یا Operculums ) ګڼل شي.

**- Dental Operculum**

د غاښ پوښ ، د اوریو پوښ چې شنه کېدو نکې غاښ د تاج په مخ ځای لري.

**Trophoblastic Operculum**

د تروفوبلاسټ هغه برخه چې د هغه اندومتری درز د تړلو سره مرسته کوي چې د بلاسټوسیتونو ځای نیونې پذریعه منځ ته راځي.

**Operculums**

د (Operculum) ګڼه شمېره.

**Operon**

د ( **Oculogyric**) په انډول.

**Ophthalmolith**

د اوښکو (اشکیه) اړوند ډبره یا تیږه.

**Ophthalmologic**

د سترګو د علم (**Ophthalmology**)اړوند صفت .

**Ophthalmological**

د سترګو د علم (**Ophthalmology**)اړوند صفت.

**Ophthalmologist**

د سترګو اړوند کارپوه اومتخصص ، د سترګو د ناروغیو اړوند ماهر او متخصصی ډاکټر ،د (**Eye Specialist**) په انډول.

**Ophthalmology**

د سترګو د(اناټومی ، فزیولوژی ، پتولوژی، ناروغیو او اختلالاتو) څیړنو او مطالعې اړوند علم .

**Ophthalmomalacia**

د سترګو د ګاټو غیر نارمل نرمښت او پوستوالي .

**Ophthalmometry**

د سترګو د انکسار او نیمګړتیاوو ټاکنه.

**Ophthalmomycosis**

د سترګې هر ډول ناروغی چې لامل یې چنیاسې وی.

**Ophthalmomyotomy**

د سترګو د عضلاتو اړوند جراحې غوځولو کړنلاره.

**Ophthalmoneuritis**

د سترګو هر ډول ناروغی.

**Ophthalmopathy**

د سترګو او دهغې د زوایدو ترمیمی جراحی.

**Ophthalmoplasty**

د سترګې د عضلاتو فلج .

**Ophthalmoplegia**

د سترګو فلج (ګوزڼ) ناروغی.

**- External Ophthalmoplegia**

د سترګو د بهرنی عضلاتو فلج.

**- Internal Ophthalmoplegia**

د سترګو د عنبیې اوبانه ائیز جهاز فلج .

**- Nuclear Ophthalmoplegia**

د سترګو د اعصابو د حرکی هستو د ضایعاتو له امله فلج.

**- Parnaud's Ophthalmoplegia**

دننه لورې ته د سترګو د حرکت فلجوالی پرته پورته لوری ته د سترګو د حرکت همغږی فلج چې د مید برین د ناروغیو سره مل وی .

**- Phlyctennular Ophthalmia**

د قرنیې او منضمې ګډ ډول التهاب .

**- Purulent Ophthalmia**

د سترګو قیحی افرازاتو لرونکې التهاب چې معمولاً د ګونوکوکونو انتاناتو سره لیدل شی .

**- Sympathetic Ophthalmia**

د یوې سترګې د (**Uveal**) ګرانولومائی التهاب څخه وروسته د بلې سترګې په همدغه رنځ اخته کېدل چې په نتیجه کې د (**Uveal**) جهاز دوه اړخیزه ګرنولومائی التهاب رامنځ ته کېږی.

**Ophthalmic**

د سترګې( **Eye** )اړوند صفت .

**- Ophthalmic Nerve**

دسترګې اړوند عصب چې د تریجمینال عصب (پنځم زوج) یوه څانګه ده او د سترګې [ سترګې ګاټی ، پورتنې جفن ، وریځې او د (**Scalp**) یوه برخه] برخو تعصیب پرغاړه لری.

**- Ophthalmic Optician**

د سترګو اړوند ماهر کارکوونکې .

**- Ophthalmic Practitioner**

د سترګو اړوند عملی کارکوونکې .

**- Ophthalmic Surgeon**

د سترګو جراح ، د سترګو څانګې جراحی متخصص ډاکټر.

**Ophthalmitic**

د سترګو التهاب (**Ophthalmitis**) اړوند صفت .

**Ophthalmitis**

د سترګو التهاب .

**Ophthalmo-**

دا یومختاړې دئ او د سترګو معنی ورکوی .

**Ophthalmoblenorrhea**

ګونوریائی کانکټیویټ .

**Ophthalmocele**

د (**Exphthalmus**) په انډول.

**Ophthalmodynamometry**

د شبکوی شریانی وینې د فشار ټاکل .

**Ophthalmodynia**

دسترګې درد.

**Ophthalmoeikonometer**

د سترګې د انکساری توان او د سترګې د انځور ونو د بنې او نسبی اندازې ټاکنې لپاره وسیله ده .

**Ophthalmography**

د سترګې او دهغې د ناروغیو توصیف او شرحه.

**Ophthalmogyric**

**- Partial Ophthalmoplegia**

هغه فلج چې د سترګو د یو شمېر عضلات ونیسي.

**- Prograssive External Ophthalmoplegia**

د سترګو د هغه پرمختلونکي فلج چې خارج العینی عضلې او ځیني وختونه د اوربیکولاریس او کولی عضله نیسي او دپتوز او پرمختلونکی عیني نیمګړي فلج لامل ګرځي .

**- Total Ophthalmoplegia**

د سترګو د ټولو عضلاتو فلج یعنې د سترګو د دننه او بهرته عضلاتو ګډ ډول فلج شته والې.

## Ophthalmoplegic

د (**Ophthalmoplegia**) اړوند صفت .

## Ophthalmorrhea

د سترګو څخه وینه بهېدل.

## Ophthalmorrexis

د سترګې د ګاټې څیرې کېدل.

## Ophthalmoscope

د سترګو د کتنو تر سره کولو اړوند وسیله .

**- Direct Ophthalmoscope**

هغه وسیله چې یو سورې لرونکې هنداره او عدسیه لري او د سترګې دننه لیدنې لپاره کارول شي.

**- Indirect Ophthalmoscope**

هغه افتالموسکوپ وسیله چې شاو خوا (**15**) چنده مستقیم یا غېر معکوس انځور رامنځ ته کوي.

## Ophthalmoscopies

د (**Ophthalmoscopy**) ګڼه شمېره.

## Ophthalmoscopy

د سترګو د کتنو تر سره کولو اړوند وسیلې پذریعه د دکتنو تر سره کوولو کړنلاره .

**- Medical Ophthalmoscopy**

هغه اوفتالموسکوپي چې د ځانګړو ناروغیو د پېژندلو په موخه کارېږي.

**- Metric Ophthalmoscopy**

هغه اوفتالموسکوپي چې د انکسار ناروغیو د پېژندلو او ارزوونې په موخه کارېږي.

## Ophthalmostasis

د اوفتالموستیاټ پذریعه د سترګې ثابت ګرځول.

## Ophthalmostat

د جراحی عملیات په بهیر کې د سترګې د تثبیت (فیکس) کولو لپاره وسیله.

## Ophthalmotomy

د جراحی عملیات پواسطه د سترګو د ګاټي غوڅولو او پرې کولو جراحي کړنلاره.

## Ophthalmotrope

هغه مېخانیکی سترګه د رېښتینې سترګې په څېر حرکت کوي.

## Ophthalmotonometer

د سترګو د کتنو تر سره کولو ځانګړې وسیله ده چې د سترګو دننه فشار پرې ټاکل شي.

## -opia

دا یومختاړې دئ او د سترګو حالت څرګندونې معنی بشپړوي.

## Opiate

اپین،په تریاکو لړلی ګولۍ چه داستعمال په صورت کی (آرام کوونکي ، استرخأ راوستونکي ، خوب راوړونکي ، کرخت کنندهوونکي ، درد کراره کوونکي ) اغېزې لري ،د اپین (تریاک) لرونکی دارودرمل ، مخدر دارو لکه (**Morphine** یا **Codeine** ).

## Opine

نظرورکول، تصورکول، عقیده لرل: تصمیم نیول.

## Opinion

نظریه، مفکوره، فکر ، تصور ، رأی ، لید ، عقیده ، باور .

**- Surgeon's Opinion**

د جراحانو نظر .

## Opioid

اپین ته ورته جوړښت ، د اپین هستې لرونکې جوړښت.

**- Opioid Analgesic**

اپین درلودونکی انالجزیک درمل .

## Opisthion

د لړۍ سوری (فورامین مګنوم) د لاندینۍ څنډې منځنۍ ټکې.

## Opistho-

دا یو مختاړې دئ د شا لورې هډوکې معنی بشپړوي.

## Opisthorchiasis

د (**Opisthorchis**) په واسطه د تریخی جهاز ککړتیا .

## Opisthorchis

د ځینو الوتونکو او تی لرونکو د ینې او صفراوی جهاز یو ډول پرازیتی فلوکونه چې د له دې ډلې څخه (**Opisthorchis Felineus** او **Opisthorchis Viversini** ) په انسانانو کې اوپستورکیازیس او

تقابل ، مخالف ودربدل .

## Opsin

د سترګې د شبکيې د استوانه يې حجرو او مخروطی حجرو پروټين چې په ترتيب سره د اوسکوتوپسين او فوتوپسين په نومونو يادېږی او د (11-Cis-Rrtinal) سره يوځای کېږی او بين البينی صباغ رامنځ ته کوی.

## Opsiuria

د ناشتا پرمهال د متيازو د افراز زيادښت البته تر خوراک کولو وروسته د هغو د افراز په پرتله .

## Opsoclonia

د سترګو د پخپل سر غېر ريتميک عمودی عرضانی اهتزازونه.

## Opsoclonus

د (Opsoclonia) په اند‌ول .

## Opsonic Index

هغه لمبر يا ښنبه چې يوچاته د باکتريا په وړاندې د سيروم غبرګون ښودنې د قوت له کبله ورکول شی.

## Opsonin

يو ډول انتی باډی چې د فاګوسايتوز وړ باکترياګانې او نورې حجرې پېژنی.

**- Immune Opsonin**

معافيتی اوپسونين .هغه انتی باډی چې په بدن دننه يا بهرنی محيط کې د هومولوګ انتی جن سره تر پيوستون وروسته د فاګوسايتوز لپاره ځانګړې انتی جن جوړی.

## Opsonization

د فاګوسايتوز لپاره د باکتری ګانو او نورو حجرو پېژندل او وړاندې کول.

## Opsonocytophagia

د اوپسونينونو او د سيروم د هومولوګ لوکوسايتونو په شته والی کې د وينې فاګوسايتی فعاليت ته اقدام کول اونغوته .

## Opsonocytophagic

د (Opsonocytophagia) اړوند صفت .

## Optesthesia

د ليد حساسوالې ، د باصری تحريکونو د درک توان .

## Optic

دسترګو، دليدو، دباصرې اړوندصفت .

**- Optic Artery**

د باصری شريان .

(Opisthorchis Sinensis) کلونورکيازيس رامنځ ته کوی.

## Opisthotonic

د (Opisthotonos) اړوند صفت .

## Opisthotonos

د هغه ډول شخی او سپزم دئ چې د ملا تېر پکې د خلف خوا ته مقوس حالت مومی لکه د تېټانوس په ناروغۍ کې .

## Opium

اپين، ترياک، له کوکنارو ( Papaver Somniferum)څخه لاس ته راتلونکې ماده چې (25) ډوله الکلوئيدونه لری ورڅخه (Codeine And Heroin) هم منځ ته راځی.

## Opponens

هغه ډله عضلات چې د ګوتو حرکتونه کنټرول کوی له چې غټه ګوته او کوچنۍ ګوته يو تربله سره نږدې کوی.

## Opportune

وړ، مناسب، فرصت ، په وخت برابر په موقع ،ابن الوخته .

## Opportunism

اوپورتونيسم، له وخت نه ګټه اخيستنه بی له دې چه پر نسيپوته اهميت ورکړی، ابن الوختی کېدنه ، فرصت طلبی.

## Opportunist

فرصت لټوونکې ، خپل چاروکی، هغه څوک چه له وخت نه ګټه اخلی پرته له دی چه پرنسيبوته اهميت ورکړی لکه په بدن کې شته پرازيتونه چې دمناسبې موقع پرمهال خپل کارکوی منتن کېدنه پېښوی د (Opportunistic) په اند‌ول.

## Opportunistic

د (Opportunist) په اند‌ول.

## Opportunity

فرصت، وخت، موقع، ښه چانس.

## Oppose

مخالف کول، په لارکی ورته دريدل، مخته دريدنه ( دچا ).

## Opposite

مخالف، مخامخ، مقابل چپ ، ضد .

## Opposition

**- Optic Chiasma**

بصري شیازما ، هغه جوړښت چې دسترګود بصري عصبونو د یو پربل باندې تېرېدو پرمهال د هایپوتلاموس په برخه کې منځ ته راځي.

**- Optic Disc**

هغه پاڼه (صفحه) یا د شبکیې پرمخ ټکې چې د بصري عصب پیل بلل کېږي. د (**Optic Papilla**) په انډول.

**- Optic Fundus**

بصري غور ، د سترګو د دننه خلف برخه چې د عدسیې مقابل پرته ده.

**- Optic Lesions**

بصري ناروغۍ ، د سترګو اړوند آفتونه.

**- Optic Muscles**

بصري عضلات .

**- Optic Nerve**

بصري عصب ، دقحفي ازواجو څخه دوهم زوج چې د لیدنې اړوند دندې ترسره کوي .

**- Optic Neuritis**

د بصري عصب التهاب . د (**Retrobulbar Neuritis**) په انډول.

**- Optic Papilla**

د (**Optic Disc**) په انډول.

**- Optic Radiation**

بصري وړانګې ،د عصبي لارې هغه برخه چې د بصري سیالې د بصري لارې (**Optic Tract**) څخه تر بصري قشر (**Visual Cortex**) پورې رسوي.

**- Optic Tract**

بصري جهاز ، بصري لاره ، هغه عصبي بصري لاره چې د (**Optic Chiasma**) څخه تر (**Optic Radiation**) پورې غځېدلې ده .

**- Optic Veins**

بصري ورید .

## Optical

په لیدپوهنې ( بصري علم ) پورې مربوط، دلیدو وړ، رڼاته منسوب، د (**Optic**) اړوند صفت .

**- Optical Fibre**

هغه مصنوعي کېبل چې رڼا (نور) او انځورونه لېږدولای شي.

**- Optical Illusion**

هغه څه چې ناسم ولیدل شي او بل څه ښکاره کېږي.

## Optician

د سترګو عدسیې یا عینکو (چشمو) جوړونکې کارپوه کس. د (**Ophthalmic Optician**) په انډول.

**- Ophthalmic Optician**

هغه تخنیکي کارپوه کس چې عدسیې او دسترګو عینکې جوړونکې کس .

## Opticianary

د سترګې د ځانګې په طبابت پورې اړوند درملو سره د اړوند نسخو پېچل او تطبیقول لارې چارې سمبالوي.

## Opticochiasmatic

د باصري او شیازما عصب سره په تړاو کې .

## Opticopupillary

د بصري عصب او کسي (حُلېمې) اړوند صفت .

## Optics

دڼا (نور) او لیدو پوهنه او علم .

## Optimistic

هغه نظرچه پر خوشبینۍ ولاړوي.

## Option

واک، د ټاکلو واک، اختیار .

## Optional

د واک خاوند، اختیاري.

## Opto-

دا یو مختاړې دئ اود ( نور ،لید، بصر) معنی بشپړوي.

## Optogram

هغه شبکوي تصویر چې د نور تر اغېزې لاندې د باصري بنفش د سپین کېدو له امله رامنځ ته کېږي.

## Optokinetic

د نیستاګموس په څېر د سترګې د حرکتونو اړوند صفت.

## Optometer

د (**Refractometer**) په انډول. د لید د توان اوطیف د اندازې نیولو لپاره وسیله .

## Optometrist

دسترګو د لید څېر د عدسیې ټاکلو متخصص، د سترګو دچشمو دورکولودپاره اړوند کارپوه.

## Optometry

د لیدلو اړوند سنجولو او ټاکلو کړنلاره ، د سترګو د انکسار د اصلاح او درملنې په موخه اړوند آزمابښت بلل شي.

## Optomyometer

د سترګې د عضلاتي قدرت د اندازه کولو وسیله .

## OPV

د ماشومانو د فلج ضد واکسین (**Oral Polio Vaccine**) لنډه

د خولې له لارې غړپ ، ګوټ ، ګوټل.

**Orange**

نارنج، دمالټې کورنې څخه یو ډول، سنتره. نارنجی.

**Orangutan**

وحشی سړی، ځنګلی سړی. یوډول بیزوګې اوږده لاسونه لری اوپه بورنیواو سوماټراکی پیداکیږی.

**Orb**

کړی، دایره، ګردوالی، غونډوالی، کره، مدار.

**Orbicular**

غونډ، کروی ، حلقوی ،کړیز.

**Orbicularis**

په مخ کې حلقوی (کړیز) عضلات .

**- Orbicularis Oculi**

هغه عضلات چې سترګې وازې او بندوی .

**- Orbicularis Oris**

هغه عضلات چې شونډې وازې او بندوی .

**Orbit**

مدار، ستر غالی ، د سترګو کاسه ، د سترګو د ګاټې او اشکیه غدې د ځای پرځای کېدنې لپاره د سر په کتېوخه کې قدام ته یوه ژوره برخه ده . د (Eye Socket) په اړوند.

**Orbital**

دمدار، سترغالو او مدارته منصوب، د (Orbit) اړوند صفت.

**Orchi-**

دا یو مختاړې دئ او د( مرغېرى ، خصیې ، Testis) معنی لری.

**Orchid**

یوډول بوټې چې آبی - سره بخن ګلان لری.

**Orchidalgia**

د مرغیړی درد .

**Orchidectomies**

د (Orchidectomy) لپاره ګڼه شمېره .

**Orchidectomy**

د( مرغېرى ، خصیې ، Testis) د راویستلو جراحی کړنلاره ده .

**Orchidopexies**

د (Orchidopexy) لپاره ګڼه شمېره .

**Orchidopexy**

دجراحی عملیې پواسطه د ( مرغېرى ، خصیې ، Testis) د تثبیت کړنلاره بلل شی. د (Orchiopexy) په اړوند.

ښبه ده چې د خولې له لارې ژوندې ویروسی واکسین .

**-oquine**

دا یو روستاړې دئ او د ملاریا ضد درملو کې کارول شی لکه (Chloroquine) په څېر.

**OR**

د عملیات خونې (Operating Room) لپاره لنډه ښبه ده.

**Ora [1]**

د خولې (Os) لپاره ګڼه شمېره .

**Ora[2]**

ژی ، څنډه ، مورګه ،کنار .

**Orad**

دخولې په لورې .

**Oral**

فمی ، دخولی له لارې، تقریری، وینائیز، شفاهی .

**- Oral Cavity**

د خولې جوف .

**- Oral Drugs**

د خولې له لارې ورکول کېدونکی درملو مستحضرات.

**- Oral Contraceptive**

د بلاربښت ضد درمل چې د خولې له لارې تطبیق کېږی.

**- Oral Hygiene**

د خولې د پاکې او نظافت ساتنې اړوند.

**- Oral Medication**

د خولې له لارې تطبیق کېدونکی درمل.

**- Oral Rehydration solution**

د خولې له لارې د مایعاتو اعاده کوونکې محلول .

**- Oral Rehydration Therapy**

د خولې له لارې د دیهایدریشن د درملنې په موخه د مایعاتو اعادې پواسطه د درملنې میتود چې لنډه ښبه یې (ORT) ده.

**- Oral Thermometer**

په خوله کې کېښودونکې د تودوخی درجې ټاکنې وسیله .

**Orality**

هغه اصطلاح چې د روانی جنسی ودې د خولې (فمی) د مرحلو ټول اړخونه او اجزاوې (رودل ، څټل ،ژبښل) په برکې نیسی.

**Orally**

د خولې له لارې ، فمی .

**- Orally Fluid**

فمی مایع

**- Orally Nutrition**

فمی تغذیه .

**- Orally Sips**

## Orchidotomies

د (**Orchidotomy**) لپاره ګڼه شمېره .

## Orchidotomy

دجراحی عملیې پواسطه د ( مرغېړی ، خصیې ، **Testis**) د غوڅولو او وازولو کړنلاره بلل شی.

## Orchiepididymitis

د مرغېړو او بربخ دواړو ګډ ډول التهاب او پړسوب .

## Orchio-

دا یو مختاړې دئ او د مرغېړی یا خصیې معنی بشپړوی .

## Orchioepididymitis

د مرغېړی او بربخ ګډ ډول التهاب.

**- Acute Orchioepididymitis**

حاد ډول د مرغېړی او بربخ التهاب .

**- Chronic Orchioepididymitis**

مزمن ډول د مرغېړی او بربخ التهاب .

**- Traumatic Orchioepididymitis**

د ترضیضاتو له کبله د مرغېړی او بربخ التهاب .

## Orchiopexies

د (**Orchiopexy**) لپاره ګڼه شمېره .

## Orchiopexy

د مرغېړی د جراحی تثبیت عملیاتی کړنلاره ترسره کول ، د (**Orchidopexy**) په انډول .

## Orchis

نارینه جنس د سپرم تولید غړې ، مرغېړې ، خصیه ، د (**Testis**) په انډول.

## Orchitis

د ( مرغېړی ، خصیې ، **Testis**) التهاب چې پکې (ضخامه ، درد ، پړسوب ، تبه ، دروندوالی احساس) منځ ته راځی .

**- Acute Orchitis**

حاد ډول د مرغېړی (خصیې) التهاب .

**- Chronic Orchitis**

مزمن ډول د مرغېړی (خصیې) التهاب .

**- Traumatic Orchitis**

د ترضیضاتو له کبله د مرغېړی (خصیې) التهاب .

## Ordeal

سخته ازموینه یاتجربه ، په لرغونی زمانه کی دسخت جسمانی تعذیب په واسطه دګناه ثابتونه.

## Order

ترتیب، امر، حکم، پرماینه ( فرمایش )، سپارښتنه، لاربنودنه، سمون، آرامی، کنار، سنبالون (سمبالونه) ، نظم، ډول، پروګرام، کړنلاره، برنامه، درجه، طبقه.

**- Medical Order**

طبی لاربنودنه او سپارښتنه.

**- Preoperative Order**

له عملیات څخه دمخه طبی لاربنودنه او سپارښتنه.

**- Postoperative Order**

له عملیات څخه وروسته طبی لاربنودنه او سپارښتنه.

**- Treatment Order**

درملنیزه طبی لاربنودنه او سپارښتنه.

## Orderly

سم، منظم مرتب، برابر. هغه څوک چې په روغتون کې یې عمومی دندې ترسره کړېوی او تجربه لرونکې کس.

## Ordinary

عادی، معمولی، متوسط ( نه ښه نه بد )، باقاعده.

## Ordeal

سخته ازموینه یاتجربه ، په لرغونی زمانه کی دسخت جسمانی تعذیب په واسطه دګناه ثابتونه.

## Orem's Model

دا یو عصری موډل دئ چې د نرسنګ په اړه د یو چا (د خپل ځان مراقبت او روغتیا ساتنې ، ښه سلوک او کړه وړه )د توان تیاکنې او ورتیا باندې فوکس کوی.

## Organ

اله، وسیله، دستګاه، دبدن غړی ، سازمان، اُرګان ، د بدن هغه برخه چې د یوې مشخصې دندې اړوند چارې ترسره کوی لکه ( ینه ، سترګه ، هګۍ خاله ...او نور) .

**- Organ of Corti**

د کورتی غړی .دا یوه غشأ ده چې په کوکلیا کې موقعیت لری او غږ په سیالو باندې بدلوی او دماغ ته یې د ( **Auditory Nerve**) له لارې لېږی ورته (**Spiral Organ**) هم وایې .لومړی ځل د (**Marquis Alfonso Corti**) له خوا په کال (**1822–88**) کې ایټالوی هیستو - اناټومیست پواسطه شرحه شو .

**- Effector Organ**

اغېزمن (**Effector** ) غړی .

**- End Organ**

انتهائی غړې ، د پایلې هډ.

**- Enamel Organ**

د غاښ د پیپلا پرمخ ځای لرونکې اپیتلومی زائده چې په مینا اوړی.

**- Genital Organ**

د تناسلی برخې غړی ، هغه غړی چې د جنسی اړیکو ، تولد او تکثر اړوند دندې ترسره کوی لکه (نارینه او ښځینه تناسلی غړی).

**- Golgi Tendon Organ**

دهغه مېخانیکی رسپټورونو یوه ډله چې د عضلې سره یوځای د تي لرونکو د عضلاتو د ټینډونونو کې ځای لری او په اوږدوالی کې د زیادښت او کمښت څخه زېږنده غبرگونونه تر لاسه کوی .

**- Jacobson's Organ**

د پوزې ( **Vomer** ) غړې .

**- Senseo's Organ**

د احساس غړی ، د (**Sensory Organ**) په انډول .د احساس هغه غړی چې حسی تحریکونه چې د حس په درک باندې اوړی تر لاسه کوی یعنې هغه غړی چې د انرژی ځانگړی شکلونه په هغه عصبی پیغامونو اړوی چې د حس د درک سبب گرځی.

**- Sensory Organ**

د (**Senseo's Organ**) په انډول .

**- Spiral Organ**

د ( **Organ Of Corti**) په انډول ، فنری غړی .

**- Transplant Organ**

د غړو پیوند ، د ارگانونو ټرانسپلانټ جراحی کړنلاره .

**- Vestigial Organ**

هغه ناکامله غړی (هډونه) چې باید په جنینی دوره کې یا وروسته مرحلو کې تکامل وکړی او دنده پرغاړه واخلی ، پاتې شونې غړی .

**- Vomernasal Organ**

د پوزې د () غړې غضروف د پاسه کوچنۍ کځوړه چې د لویو انسانانوکې ابتدائی -لومړنۍ او ناکامله ده خو په سفلی حیواناتو کې ښه بشپړه وده موندلې ده .

**- Weber's Organ**

د پروستاتی اوتریکول په انډول.

**- Organ's of Zuckerkandl**

پارا أیورتیک جسمونه یا تنې .

## Organelle

ارگانیلا ، د (مایتوکاندریا ،گلچی جهاز ، لایزوزوم ، اندوپلازمیک ریټیکولوم ، رایبوزوم ، سنټریول و کلورپلاسټ ، سیلیوم او فلاجیلوم) په څېر د یوې حجرې دننه ځانگړی شوی جوړښتونه .

## Organic

عضوی ، د ارگان اړوند ،د یوه غړی سره په تړاو کې ، له حیواناتو څخه ترلاسه کېدونکي محصولات . دغړی داندام اړوند ، اساسی، سازمانی.

**- Organic Disease**

د غړی اړوند ناروغۍ، د غړی اختلال /تشوش . د یوه غړی هغه تشوش چې د نورو غړو د فزیکی بدلونونو سره مل وی، د (**Organic Disorder**) په انډول.

**- OrganicDisorder**

د (**Organic Disease**) په انډول.

## Organical

د ( **Organic**) په انډول.

## Organically

هغه چې په طبیعی بڼه منځ ته راغلې وی، وظیفوی،عضوی ډول اساساً.

## Organism

ارگانیزم، د ژوندی موجود عضویت، دغښت ( ترکیب ). لکه (**Plant, Animal, Bacterium, Fungus**) او نور.

**-Microrganism**

مایکروارگانیزم ، د مایکرو سکوپ پواسطه لیدل کېدونکي ارگانیزم .

## Organist

ارگان ( ارغون ) وهونکی.

## Organization

سازمان ، اداره ، د (**Organisation**) په انډول.

## Organization

اداره، سازمان، تنظیم، تشکیل.

## Organize

رغول، جوړول ( تنظیمول ) بڼه ورکول، تشکیلول.

## Organizer

جوړوونکی، تنظیموونکی.

**-Primary Organizer**

لومړنی تنظیم کوونکی ، ابتدائی جوړوونکی.

## Organo-

دا یو مختاړې دئ او د (غړی ،اُرگان ) معنی بشپړوی.

## Organogenesis

د ارگانونو سرچینه او وده موندنه د جوړښت پرمهال.

## Organogeny

د (**Organogenesis** ) په انډول.

## Organoid

یوه غړی ته ورته ، ارگانی ، هغه جوړښت چې د ارگان په څېر وی .

## Organomegaly

د غړو یا ارگانونو (احشاوو) لویوالې ، حشوی ضخامه.

## Organomericurial

هر هغه کېمیاوی مرکب چې سیماب ولری.

## Organometalic

د یوه عضوی راډیکال سره مل د یوه فلز مرکب جوړښت اړوند صفت .

**Organon**

ارګان ، هډ ، غړې ، اندام ، عضو.

**Organophosphate**

د فاسفوریک اسید یا پتو فاسفوریک اسید عضوی ایستر ، دغه په پیاوړی ډول اسیتایل کولین ایستریز نهی کوی او د حشراتو د وژونکو درملو په جوړولو او عصبی ګاز کې ورځخه ګټه اخیستل شی.

**Organophosphorous**

د (Organophosphate ) اړوند صفت .

**Organotherapy**

دحیواناتو غړو د عصارې ځخه د درملنې لپاره کار اخیستل لکه د ینې د عصارې (Liver Extract ) ځخه د وینه لږې (کمخونی) درملنه کې.

**Organotrophic**

د ( Hetrotrophic) په انډول .

**Organotrophism**

د بدن د ځانګړو غړو یا نسجونو ته پتوجن عواملو یا ځانګړو کېمیاوی مرکباتو لېوالتیا .

**Organotropic**

د (Organotrophism ) اړوند صفت .

**Orgasm**

د ښځینه جنس د جنسی اړیکې پرمهال د خوند اوج او هېجان لحظه .

**Oriental**

دختیځ پورې اړوند ،دلمرخواته، دشرق، شرقی.

**- Oriental Sore**

دا د جلدی ناروغی ده چې په حاره (تودو سیمو) کې منځ ته راځی . د (Leishmaniasis ) په انډول.

**Orientation**

اوړدونه، ورپېژندنه، ددریځ ټاکنه، دخواټاکنه، دموقیعت ټاکنه : لارښوونه .

**Orifice**

وره، سوری، خوله، مخرج لکه (مقعد ،خوله).

**- Cardiac Orifice**

د زړه اړوند خوله یا سورې .

**Orificial**

د (Orifice ) اړوند صفت.

**Orificium**

سورې ، منفذ ، خوله ، مخرج .

**Origin**

سرچینه، اصل، مبدأ، منشا ،د یوځه پیل حالت .

**Original**

لومړنی، پخوانی، ابتداې ځایی، حقیقی، اصلی، نوی تازه، ذاتی، فطری.هغه چې پکې بدلون نه وی پېښ شوې .

***- Original Position***

ابتدائی موقعیت ، لومړنې ځای .

**Originality**

لومړنی والی، نوی توب، دابتکارقوت.

**Originally**

په لومړی توګه، په ابتدأ کې.

**Originate**

نوی را ایستل، په ابتدایی توګه منځ ته راویستل، مبدأ درلودل، اصلیت درلودل، نوی راتلل، په ابتکاری ډول مینځ ته راتلل،د یوځه شی پیلامه .

**Originated**

پیل شوې ، نوې منځ ته راغلې .

**Originating**

له پیله منځ ته راتګ ،مبدأ کېدل .

**Originator**

نوی راایستون ، نوی ایجادوونکی، بنسټ ایښودونکی، مؤسس یا تأسیس کوونکې.

**Orinase**

د تولبوت آماید سوداګریز نوم .

**Ornithine**

دا یو ډول امینو اسید دئ چې په ینه /ځیګر کې تولیدېږی.

**- Ornithine Carbamyl Transfrase**

اورنیتین کاربامیل ترانسفریز انزایم .

**Ornithinemia**

په وینه کې د اورنیتین زیاډښت .

**Ornithodoros**

د نرم بدن لرونکو ورږو یو ډول چې ډېر ډولونه د راجعه تبې د زېږوونکو سپایروکیتونو لېږدوونکې وی .

**Ornithological**

دمرغه ( الوتونکو)پیژندنې علم اړوند .

**Ornithologist**

مرغه پوه، د الوتونکو (مرغانو) عالم.

**Ornithologist**

الوتونکي ( مرغه،پوه، د الوتونکو اړوند څانګې عالم.

**Ornithosis**

هغه د الوتونکو ناروغۍ چې انسانانو ته لیږدول کیږي او نومونیا (Pneumonia ) منځ ته راځي .

**Oris**

د ( Cancrum Oris او Orbicularis Oris ) په انډول.

**Oro-**

دا یو مختاړې دئ او د (خولې ، فم ، سوری) معنی بشپړوي.

**Orogenital**

فمي – تناسلي ،د خولې او تناسلي غړو اړوند صفت .

**Oroligual**

فمي –لساني ، دخولې ژبې غړو اړوند صفت

**Oronasal**

فمي –انفي ، د خولې او پوزې غړو اړوند صفت

**Oropharynges**

د (Oropharynxes ) په انډول ،د (Oropharynx) ګڼه شمېره .

**Oropharynx**

فمي بلعومي ، د خولې او بلعوم (حلق ) غړو اړوند صفت.

**Oropharynxes**

د (Oropharynges) په انډول ،د (Oropharynx) ګڼه شمېره .

**Orphinadrine Hydrochloride**

دا د درد او تبې ضد درمل دی.

**ORT**

د خولې له لارې د مایعاتو ورکړې درملنه ( Oral Rehydration Therapy) لنډه نښه ده .

**- ORT Corner**

د خولې له لارې د مایعاتو ورکړې درملنې څانګه .

**Ortho-**

دا یو مختاړې دئ او د( تصحیح یا ښغولو، مستقیم ، نارمل، سم او روغ) معنی لري .په عضوي کېمیاوکې هغه کړیز مشتقات ښیي چې په سره نږدې ځایونو کې استخلاف مومي ،په عضوي کېمیا کې د یوه اسید معمولي او عادي بڼه.

**Orthochorea**

د ولاړې په وضعیت کې د کوریا (Chorea ) حرکتونه.

**Orthochromatic**

طبیعي رنګ ورکول،نورمال ډول رنګول.

**Orthodeoxia**

د ولاړې حالت کې د شریاني هایپوکسیمیا پیاوړې کېدنه .

**Orthodiagraph**

د راډیوګرافي اخیستنې یو ځانګړې ډول دئ چې پکې یوازې (Thin Stream Of X-Rays ) کارول شي ترڅو دقیق ډول اندازه د یوه غړي وټاکل شي.

**Orthodontia**

د (Orthodontics ) په انډول.

**Orthodontic**

د (Orthodontics) اړوند صفت .

**- Orthodontic Treatment**

د (Orthodontics ) درملنه ترسره کول .

**Orthodontics**

د غاښ اړوند هغه علمي طبي څانګه ده چې پکې هغه غاښونه چې په بل بې ځایه او بد ځای کې ځای پرځای دي هغه ته سمون ورکول شي. د (Orthodontia)په انډول.

**Orthodontist**

هغه د ستوماتولوژي ډاکټر چې په (Orthodontia) جراحي کې خاص مهارت ولري .

**Orthodox**

پخپله عقیده ټینګ ولاړ، جزمي.

**Orthodox church**

دعیسوي دین یوښاخ چه په ختیځه اروپا کې عمومیت لري.

**Orthodoxy**

کلکه عقیده.

**Orthodromic**

په نورمال لوري کې د بهیر هدایت دا د عصبي الیافو په اړه پکار وړل شي.

**Orthograde**

پداسې حالت کې بدن په نیغ ډول یا وضعیت کې وي په لاره تلل بلل شي.

**Orthographic**

د سم لیک اړوند ، دسمې لیکنې سره په تړاو کې .

**Orthography**

سمه لیکنه، املاء، لیک دود.

**Orthopaedics**

په اورتوپیدی اړوند څېړنو ناروغیوپېژندنې – درملنې علمی څانګه ، د عضلاتی –اسکلیتې سیستم د سؤ اشکالو او هډوکو ،بندونو د ناروغیو د روغولو د طریقو سره اړوند علمی پوهه او څانګه. د (Orthopedics) په انډول.

**Orthopaedist**

د په اورتوپیډي یا د عضلاتی –اسکلیتې سیستم د سؤ اشکالو او هډوکو ،بندونو د ناروغیو د روغولو د طریقو اړوند یوه متخصص جراحی ډاکټر . د (Orthopedist) په انډول.

**Orthopercussion**

د ګوتې د ډیستال بند پواسطه د قرع د عمل تر سره کول.

**Orthophoria**

د سترګو د د غضلاتو نارمل تعادل یا عضلاتی بیلانس.

**Orthophoric**

د ( Orthophoria ) اړوند صفت.

**Orthophosphoric Acid**

د ( Phosphoric Acid ) په انډول.

**Orthopnoea**

په پراته (ملاستې ) وضعیت کې د سالنډۍ شته والې .

د (Orthopnea او Dyspnoea ) په انډول.

**Orthopnoeic**

د (Orthopnea) اړوند صفت.

**Orthopraxis**

د (Orthopraxy ) په انډول.

**Orthopraxy**

د ناوړه بڼو مېخانیکی سمون .

**Orthopsychiatry**

د سلوک او شخصیت اړوند اختلال د درملنې علم او پوهه .

**Orthoptic**

د یوه یا دواړو باصری محورونو د مایلوالی سمون .

**Orthoptics**

د سترګو د سترابیزم (Squints) د درملنې لپاره څانګړی میتودونه لکه د سترګو عضلاتو تمرینونونه او ورزش.

**Orthoptist**

د (Orthoptics) او سترګو حرکتونو سمون اړوند متخصص ډاکټر.

**Orthometer**

د سترګی د ګاټی بهر ته د راوتلتوب د اندازې ټاکنې لپاره یوه وسیله ده.

**Orthometric**

د ( Orthometer ) اړوند صفت .

**Orthomolecular**

د دې تیوری سره په تړاو کې چې ځینې ناروغۍ له هغه بیوشیمیکی ناجوړتیاوو سره ملتیا لری چې غذائی موادو ته د اړتیا د زیادښت لامل ګرځی . دغه ډول ناروغی د دې خور اکی موادو د زیادو مقدارونو په تجویزولو سره ښه والې مومی.

**Orthomyxovirous**

د انسانی او حیوانی انفلوانزا د ویروسونو پټ ګډون د میګزو ویروسونو یو فرعی ګروپ .

**Orthopaedic**

په اورتوپیدی پورې اړوند ، د عضلاتی –اسکلیتې سیستم د سؤ اشکالو او هډوکو ،بندونو د ناروغیو د روغولو او سمون د طریقو سره اړوند. د (Orthopedic) په انډول.

- **Orthopaedic Center**

د ارتوپیډي مرکز.

- **Orthopaedic Collar**

هغه حمایوی جوړ شوې د غاړې د تثبیت ساتلو لپاره د کارولو د غاړې بند دئ چې د ورمېږ او سر کوپړۍ په ترضیضاتو کې او د غاړې یا ورمېږ (Cervical Spondylosis ) ناروغۍ کې کارول شی.

- **Orthopaedic Equepment**

د اورتوپېدی وسائل،اروتوپیدی کارېدونکی سامانونه .

- **Orthopaedic Hospital**

هغه روغتون چې یوازې د هډوکو او عضلی –اسکلیتی سیستم ناروغیو درملنې کوی .

- **Orthopaedic Opertions**

د اورتوپیدی عملیاتونه.

- **Orthopaedic Patient**

د اورتوپیدی ناروغ.

- **Orthopaedic Service**

د اورتوپیدی چوپړتیاوو (خدمتونو) څانګه.

- **Orthopaedic Surgeon**

د اورتوپیدی جراحی ډاکټر .

- **Orthopaedic Surgery**

د اورتوپیدی جراحی څانګه.

- **Orthopaedic Ward**

د اورتوپیدی څانګړې څانګه.

## Orthoptoscope
د (Amblyoscope) په انډول.

## Orthoscope
هغه وسیله چې د اوبو د یوې طبقې له لارې قرنیوی انکسار خنثی کوی.

## Orthoscopic
د (Orthoscope) اړوند صفت. د یوه سم او څرګند تصویر رامنځ ته کول .له اورتوسکوپی سره په تړاو کې

## Orthosis
د ملاتیر ، په یوه لیکه کې د راوستلو د ضعیفو او ناسمه بڼو د مخنیوی او رغوونې یا د بدن د خوځنده برخو د ثابتولو لپاره یوه اورتوپیدیکه وسیله یا ماشین .ګڼه شمېره یې (Orthoses ) ده .

**- Cervical Orthosis**
د غاړې په ناروغیو کې د سمون لپاره تثبیتیه وسیله ،د (Neck Collar) په انډول.

**- Dynamic Orthosis**
د بدن ،سر ،ملاتیر د استناد او د سمون لپاره تثبیتیه وسیله چې د حرکی فعالیتونو په پیل او پای او غبرګونونو کې اغېز لری.

## Orthostatic
د نېغ ودرېدلو یا د هغه څخه پیښېدنې سره تړاو کې .

**- Orthostatic Hypotension**
د ولاړېدو سره سمو د وینې فشار رابښکته کېدنې اړوند چې پکې (سرڅرخی ، ګنګسیت او فشار ټیټوالې) منځ ته راځی.

## Orthostatism
د نېغ ودرېدنې حالت.

## Orthotics
د اورتوپیدی هغه طبی انجنیري (Orthoses ) علمی او پهنیزه څانګه چې پکې د اورتوپیدی ناورغیو درملنې لپاره له وسائلو لکه (Braces ) په څېر وسیله د طرح او جوړولو په اړوند چارو سره تړاو لری .

## Orthotist
د (Orthoses) تثبیتولو اړوند متخصص او ماهر ډاکټر.

## Orthotonos
هغه تېتانیک سپزم چې( سر ،بدن او اندامونه) په یوه مستقیم خط کې فیکس کېږی . د (Orthotonus) په انډول.

## Orthotonus
د (Orthotonos) په انډول.

## Orthotopic
په یوه طبیعی او نارمل ځای کې پیښېدنه.

## Ortolani’s Sign
د ( Ortolani Manoeuvre او Ortolani’s Test ) په انډول.

## Ortolani’s Test
هغه آزمایښت د حوصلی –فخذی مفصل ولادی خلعې ( Congenital Dislocation Of The Hip) لپاره په (6–12) عمرماشومانو کې تر سره کېږی چې پکې یو تېز غږ د بند (مفصل) تاوولو پرمهال منځ ته راځی دا لومړی ځل په (1937) کې د (Marius Ortolani ) ایتالوی اورتوپېدی جراح په ذریعه شرحه او معرفی شو.

## OS
ښی سترګه ، د (Oculus Sinistra ) په انډول.

## $Os^1$
هډوکې چې ګڼه شمېره یې (Ossa) ده، د (Bone) په انډول.

## $Os^2$
خوله چې ګڼه شمېره یې (Ora) ده ، د (Mouth) په انډول.

## Os
دا د کېمیاوی عنصر اوسمیوم (Osmium) لپاره لنډه نښه ده .

## OSA
د (Obstructive Sleep Apnoea) لپاره لنډه نښه ده.

## Osche-
دا یو مختاړې دئ او د (خوټلنګ ، سفن) معنی ښشپړوی.

## Oscheitis
د خوټلنګ (سفن ) التهاب .

## Oscheo-
دا یو مختاړې دئ او د (خوټلنګ ، سفن) معنی ښشپړوی.

## Oscheoma
د خوټلنګ برخې تومورونه بلل شی.

## Oscheoplasty
د خوټلنګ برخې ترمیمی جراحی پلاستیک کړنلاره.

## Oscillate
زنګیدل، خوځیدل، ښوریدل، له یوی خوابلی خواته خوځیدل ( نوسان )،ریږدیدل.

## Oscillation
خوځیدنه،اهتزاز ، ارتعاش ، تموج ، څپې څپې

Osmosis ) معنی بشپړوي.

## Osmate

هغه مالګه چې خپل جوړښت کې د اوسمیوم تترااوکساید انیون ولري.

## Osmatic

د شاموی (بوی ) د حس اړوند صفت .

## Osmic Acid

د (Osmium Tetroxide ) په اند ول.

## Osmics

د بوی د ا حساس اختلالونو پېژندنې او درملنې اړوند څېړنو علمی څانګه .

## Osmium

دا یو کېمیاوی عنصر دې چې اټومې شمېره یې (76) او کېمیاوی لنډه نښه یې (Os) ده.

### - Osmium Tetroxide

هغه تثبیتوونکې ماده چې د کېمیاوی نمونو د چمتوکولو لپاره پکار وړل شی او فورمول یې ($OsO_4$) دئ ،

## Osmo-[1]

دا یو مختاړې دئ او د (بوی ، شامې ، بویولو) معنی لری.

## Osmo-[2]

دا یو مختاړې دئ او د (ضربان ، اوزموزیس) معنی لری.

## Osmolality

په کیلوګرام محلل کې د منحلې مادې د اوزموزیس د شمېر له مخې د یوه محلول غلظت څرګندوی.

## Osmolar

د (Osmolality) اړوند صفت . په محلول کې د منحلې مادې د فعاله ذرو د اوزموزیس غلظت اړوند صفت.

## Osmolarity

په یوه لیتر محلل کې د منحلې مادې د اوزمولونو په بنه د محلول د غلظت څرګندونی کوی.

## Osmole

د ازموتیک فشار واحد چې د منحله مادې مقدار سره په انډول دی چې په محلل کې د ذرې د یوه مول په اندازه وی (د اووګدرو شمېره) د هغه لنډه نښه (Osm )ده.

### -Mili Osmole

میلی (زرمه) اوزمول .

## Osmometer

د اوزموزی فشار د ټاکنې لپاره وسیله .

.

کېدنه،په منظم سرعت سره زنګېدنه ، د دوه ټکو تر منځ یو حرکت، رقاصې په څېر مخ او شاته حرکت.

## Oscillator

زنګوونکی ،ښورونکی.

## Oscillo-

دا یومختاړې دئ او د ( خوځیدنه،لړزې ، اهتزاز ، ارتعاش ، تموج) معنی بشپړوی.

## Oscillometer

د ( خوځیدنې ،اهتزاز ، لرزې ،ارتعاش ، تموج ) لپاره دتثبیت وسیله .

## Oscillopsia

داد روانی او سترګو ناروغیو اړوند یو ډول باصری احساس چې د ثابتو جسمونو لیدل پکې د لامبو وهنې بڼه لری.

## Oscilloscope

نوسان نما ،د نوسان ټاکونکې داسې یوه وسیله چې د دسترګو او برېښنایېز متواتر بهیر تولید د کتود د وړانګو ټیوب له لارې ثبت کړی. دا په زړه او ماغزو برېښنائی سیالو ثبت پرمهال کارېږی.

## Osculum

دا یوه کوچنۍ وازه برخه (خوله ،سوړه) ده ، د (Small Opening او Pore) په انډول . ګڼه شمېره یې (Oscula) ده.

## -ose

دا یو روستاړې دئ او د (کاربوهایدرېټونو د مادې شتون ) معنی بشپړوی لکه د(سکروز ، مالتوز ، ګلوکوز .... او نور) .

## -osis

دا یو روستاړې دئ او دناروغۍ (Disease) معنی بشپړوی.

## Osler's Nodes

د ګوتې د نهایت په برخه کې حساس او دردناکه پړسوب (تورم) چې د تحت الحاد باکتریال اندوکارډیت ناروغانو کې منځ ته راځی په (1885–1919)کالونو کې د طب پروفیسر (Sir William Osler) له خوا په ( Montreal, Philadelphia, Baltimore او بیا په Oxford) کې شرحه شو

.

## Osm-

دا یو مختاړې دئ او داوزموزیس (بوی Smell او اوزموزیس

**Osmophilic**

د لوړو اوزموزی فشار لرونکو محلولونو په لوري لېوالتیا لرل.

**Osmophore**

د اټومونو یوه ډله چې په یوه مرکب کې د بوی مسؤلیت پر غاړه لري.

**Osmoreceptor**

اوزموزی رسپټور ، شاموی رسپټور، اهغه حجره په (Hypothalamus) په سوپرا اُپتیک هستو کې چې دځانګړو نیورونونو یوه ډله چې خارج الحجروی مایع د اسموزس فشار په زیادښت سره تحریک مومي د اوزموټیک فشار سویه په بدن کې د (Adh ) دافراز تغیر پذربعه کنټرول کوي .

**Osmoregulation**

د چاپیریال سره په تړاو کې د بدن د یوې حجرې یا ساده ارګانیزم د داخلي اسموټیک فشار تنظیم .

**Osmoregulatory**

د د بدن د یوې حجرې یا ساده ارګانیزم د داخلي اسموټیک فشار تنظیم کوونکې ،د (Osmoregulation) اړوند صفت.

**- Osmoregulatory Cells**

د د بدن د یوې حجرې د داخلي اسموټیک فشار تنظیم کوونکې.

**- Osmoregulatory Organ**

د د بدن د ساده ارګانیزم د داخلي اسموټیک فشار تنظیم کوونکې.

**Osmosis**

اوزموزس ( اوزموزیس) ،د لوړ غلظت په لوري د ټیټ غلظت له خوا د محلول د محلل تېرېدنې حالت پداسې حال چې دواړه محلولونه د یوې داسې غشأ پواسطه سره بېل شوی وی چې د منحله مادې مولیکولونو ته تېرېدنې مخه نیسی او یوازې د محلل په وراندې نفوذ منونکې وی.

**Osmotic**

د ( Osmosis) اړوند صفت .

**- Osmotic Pressure**

اوزموټیک فشار ،هغه فشار چې د غشأ له لارې د یوه محلل د تېرېدنې مانع ګرځي .

**Osmostate**

هغه تنظیموونکې مرکزونه چې د خارج الحجروی مایع اوسمولالیټي کنټرولوي.

**Osphresiology**

د بوئیولو او شامې حس اړوند څېړنو علم او پوهه.

**Osphresis**

بوی ، شامه .

**Osphretic**

د (Osphresis ) اړوند صفت .

**Ossa**

خولې ،دهنې ، سورې ، سوړې ، د (Os) لپاره ګڼه شمېره.

**Osse-**

دا یو مختاړې دئ او د (هډوکی یا یوه هډوکیزعنصر د محتوی ) معنی بشپړوی.

**Ossein**

د هډوکی غضروف ، د هډوکو کولاجن .

**Osseo-**

دا یو مختاړې دئ او د (هډوکی یا یوه هډوکیزعنصر د محتوی ) معنی بشپړوی.

**Osseocartilage**

له غضروف (کرپندوکی ) او هډوکی نسج څخه جوړ .

**Osseofibrous**

له فیبروزی او هډوکی نسج څخه جوړ .

**Osseomucin**

هغه زمینوی ماده چې د هډوکی الاستیکی فیبریلونه او کولاجن سره بانډکوی.

**Osseous**

د هډوکی څرنګوالی او طبیعت اړوند ، هډوکیز.

**- Intraosseous**

د هډوکو له لارې .

**- Osseous Labyrinth**

د (Bony Labyrinth ) په اند‌ول.

**Ossicle**

کوچنۍ هډوکې په ځانګړی ډول د منځنی غوږ کوچنۍ هډوکې .

**- Andernach's Ossicle**

د سر د کوپړۍ د هډوکو تر منځ پراته هډوکی .

**- Auditory Ossicle**

سمعی د منځنی غوږ کوچنی هډوکی (سندانی ،څټکی او رکابی) هډوکی.

**Ossicular**

د (Ossicle) اړوند صفت.

**Osthearhrotomy**

د یوه هډوکی د مفصلی نهایت لېرې کولوجراحی کړنلاره.

**Ostectomies**

د (Ostectomy) لپاره ګڼه شمېره .

**Ostectomy**

د یوه هډوکی یا د هډوکی د یوې برخې راویستلو جراحی کړنلاره.

**Osteectopia**

په بې ځایه موقعیت کې دهډوکی وده موندنه او بېځایه توب حالت.

**Ostetis**

د هډوکی التهاب ، د (Osteitis ) په انډول.

**Osteitis**

د یوه هډوکی د نسج التهاب ، د (Ostetis ) په انډول.

**- Condensing Osteitis**

هغه اوستیټ چې د آفت او ضایعې دننه د منرالی مالګو د سختو رسوبونو سره یوځای وی.

**- Osteitis Deformans**

هغه ډول د هډوکو ناروغۍ چې په تدریجی ډول هډوکی نرمښت مومی او پکې (کوپړۍ ، ملاتیر او د پښو د لینګیو ) هډوکی کوږوالې مومی ، د (Paget's Disease ) په انډول.

**- Osteitis Fibrosis Cystica**

د هډوکو هغه نادر ډول اوستیټ چې پکې فیبری نوډولونه او سیستونه منځ ته راځی او د فیبری ریجنریشن لامل ګرځی دغه ناروغی په ثانوی دول د هایپرپاراتایرایډیزم څخه زېږنده اوستیوکلاستیک فعالیت د پام وړ زیادښت له امه منځ ته راځی چې ورته (Von Recklinghausen's Disease ) نوم هم ورګړ شوې دئ .

د (Osteitis Fibrosis Localista ) په انډول .

**- Osteitis Fibrosis Localista**

موضعی ډول فیبروټیک اوستیټ.

**- Fragilitans Osteitis**

د (Os teogenesis Imperfecta ) په انډول.

**- Osteitis Fibrosa Cystica Generalisata**

د ( Osteitis Fibrosis Cystica) په انډول.

**- Osteitis Fibrosa Osteoplastica**

د ( Osteitis Fibrosis Cystica) په انډول.

**- Osteitis Fungosa**

هغه مزمن ډول اوستیټ چې د هاروس کانالونو د آزادېدلو او د ګرانولیشن نسج د زیاتېدو لامل ګرځی.

**Ossiculectomy**

د منځنی غوږ کوچنی (سندانی ،څټکی او رکابی) هډوکو د غوځولو او راویستنې جراحی کړنلاره.

**Ossiculotomy**

د منځنی غوږ کوچنی هډوکو (سندانی ،څټکی او رکابی) څیرلو او وازولو جراحی عملیات.

**Ossiculum**

ډېر کوچنی هډوکی لکه د (سندانی ،څټکی او رکابی) هډوکی.

**Ossiferous**

د هډوکی تولیدوونکی، د هډوکی منځ ته راوړونکی .

**Ossific**

هډوکیز کېدل .

**Ossification**

کلکونه، په هډوکی یا هډوکیزې مادې اوښتنه، هډوکی کیدنه. د ( Osteogenesis ) په انډول.

**- Ectopic Ossification**

پرته له منضم نسج بې ځابه په نورو نسجونو کې هډوکی منځ ته راتګ .

**- Endochondrol Ossification**

د غضروف دننه هډوکیز کېدنه.

**- Hetrotopic Ossification**

په غیر نورمال ځای کې د هډوکی جوړېدل چې د پتولوژیک حالت لپاره ثانوی بلل شی.

**- Intramembaranous Ossification**

د منضمی نسج دننه د هډوکی کېدنی بهیر .

**Ossify**

کلکول لکه هډوکی یاهډوکی کول، هډوکی ته اړول، کلکوهډوکو غوندی کول، هډوکی کیدل

**Ossifying**

په هډوکی حالت اوښتل.

**Ossium**

د ( Fragilitas Ossium ) په انډول.

**Ossuary**

هغه ځای یا ژوره چې پکې د مړه شوی کسانو هډوکي راټولول شی.

**Ost-**

دا یومختاړې دئ او د هډوکی معنی بشپړوی. د ( Osteo-) په انډول.

**Ostealgia**

د هډوکی درد.

## Osteoblast

اوستیوبلاسټ ، هغه حجره چې له فیبروبلاسټ څخه سرچینه اخلي او تر بلوغ وروسته هډوکي تولیدوي.

## Osteoblastoma

اوستیوبلاستوما ، د هډوکو د اوستیوبلاسټ حجرو څخه جوړ وعائي او دردناکه سلیم ډول تومور چې د اوستیوئید او اولیه هډوکي په جوړېدو سره پېژندل کېږي.

## Osteocampsia

د یوه هډوکي د کوږوالي لېږي کول.

## Osteochondral

اوستیوکانډرال، د هډوکي او غضروف اړوند. عظمي – غضروفي

## Osteochondritis

د هډوکو او غضروف التهاب .د هډوکي د اپیفیزیس برخې استحاله او تخریب.

**- Osteochondritis Deformans Juvenile**

د فخذ هډوکي د سر د اپیفیز برخې اوستیوکاندروزس.

**- Osteochondritis Deformans Juvenile Dorsi**

د ملاتیر (د فقراتو ستنې) اوستیوکاندروز.

**- Osteochondritis Dissecans**

هغه اوستیوکاندروز چې په رنځور بند کې دننه د غضروف د ماتېدو او ټوټه ټوټه کېدو لامل وګرځي.

## Osteochondrodysplsia

د غضروف او هډوکي د ودې هر ډول اختلال.

## Osteochondrodystrophy

د ( Morquino's Syndrome) په انډول.

## Osteochondrolysis

د (Osteochondritis Dissecans ) په انډول.

## Osteochondroma

هغه راوتلې هډوکې څخه جوړ هډوکیز سلیم تومور چې د غضروف (Cartilaginous Cells) پواسطه پوښل شوي وي.

## Osteochondromas

د (Osteochondroma ) لپاره ګڼه شمېره .

## Osteochondromata

د (Osteochondroma ) لپاره ګڼه شمېره .

## Osteochondromatosis

د څو اوستیو کاندروماګانو پېښېدل چې ځینې وختونه

**- Parathyroid Osteitis**

د سیستیک فیبروزیس په انډول.

**- Sclerosing Osteitis**

تصلب کېدونکې غیر تقیحي اوستیومیالیت ، سختېدونکې او کلکیدونکې اوستیت .

## Ostempyesis

د هډوکي د دننه برخې تقیحي کېدل.

## Osteo-

دا یو مختاړې دئ او د هډوکي (Bone) معنی بشپړوي.

## Osteoanagenesis

د هډوکود بیا رغېدنې او ریجنیریشن پروسه.

## Osteoarthritic

د (Osteoarthritis) اړوند صفت.

## Osteoarthritis

د بندونو د هډوکو غیر التهابي استحالوي ناروغي چې د بندونو د غضروف په (استحالې ، د هډوکو د څنډو په هایپرټروفي او ساینویال غشأ بدلونونه ، درد ، مفصلي شخي) په مرسته پېژندل شي ورته (Osteoarthrosis ) هم ویل شي.

## Osteoarthropathic

د (Osteoarthropathy ) اړوند صفت .

## Osteoarthropathy

د هډوکو د بندونو هر ډول ناروغي لکه چې د قصباتو په کارسینوما کې په بندونو کې منځ ته راځي.

**- Hypertrophic Pulmonary Osteoarthropathy**

د څلورو واړه اطرافو متناظر اوستیت چې په ځانګړي ډول د لېچې او پُنډۍ د هډوکو په انتهائي اپیفیزونو او فلانګسونو کې موضعي وي دغه ناروغي د زړه او سږو د مزمنو ناروغیو له مخې ثانوي ده.

**- Secondary Hypertrophic Osteoarthropathy**

د (Hypertrophic Pulmonary Osteoarthropathy) په انډول. ثانوي ډول ضخاموي اوستیوارټروپتي.

## Osteoarthrosis

د (Osteoarthritis) په انډول .

## Osteoarthrotomies

د (Osteoarthrotomy ) لپاره ګڼه شمېره .

## Osteoarthrotomy

د بندو نو هغه ډول جراحي کړنلاره چې پکې د هډوکي مفصلي نهایت رویستل او غوځېږي.

سایتوپلازمی زوائد لېږدوی چې د نورو اوستیوسایتونو له زوائدو سره نښتي بڼه لري.

## Osteocytoma

د (Osteocyte) څخه جوړ تومور.

## Osteodiastasis

د دوه ګاونډیو هډوکو بېلوالي.

## Osteodynia

د هډوکو درد.

## Osteodystrophia

د (Osteodystrophy) په اړه ول.

## Osteodystrophy

د هډوکی غېر نارمل وده چې مېتابولیزم اړوند اختلال بلل شي.

**- Renal Osteodystrophy**

د پښتورګو اړوند اوستیوډیستروفی ، چې د پښتورګو په مزمن ډول ناروغیو کې منځ ته راځي او پکې د (فوسفیټ سویې لوړوالي ، کلسیوم سویې ټیټوالي او پاراتایراید هورمون افراز تحریک ) په مرسته پېژندل کېږي.

## Osteoepiphysis

د هډوکو اپیفیزیس.

## Osteofibroma

د فایبروزی او هډوکیزو عنصرونو څخه جوړ سلیم تومور.

## Osteogen

د پریوسټ د داخلي طبقې جوړوونکې ماده کوم چې هډوکې ورڅخه منځ ته راځي.

## Osteogenesis

د هډوکو جوړېدنه ، د هډوکو تکامل. د (Ossification) په اړه ول.

**- Osteogenesis Imperfecta**

غېرحقیقی هډوکی جوړېدنه، د (I) ډول کولاجنونو نیمګړې بیوسنتیز له امله یوه کس ته په ارثی ډول د لېږدېدونکی کولاجنی څو ډوله ناروغیو یوه ډله چې اوستیو پوروتیکی هډوکو پواسطه چې په آسانۍ سره ماتېږي پېژندل کېږي .د (Brittle Bone Disease) په نوم هم یادېږي ، لنډه نښه يې (OI) ده.

## Osteogenic

د هر ډول داسې نسج څخه جوړ يا زېږنده چې د هډوکو له ودې یا ترمیم سره تړاو لري.

د څوګونی غضروف اګزوستوزیس اختلال له ډلې څخه د یوه پنوم هم یادېږي ،د (Enchondromatosis ) په اړه ول.

## Osteochondrosis

په ماشومانوکې د هډوکو د ودې د مرکز ونو ناورغۍ چې د استحالې يا نکروزیس په بڼه پېښېږي او پيل مومی ورپسې بيرته ريجنريشن يه کلسيفيکېشن منځ ته راځي او د مأوفه هډوکو د نومونو له مخې پېژندل شي.

## Osteoclasia

د هډوکو بیرته ماتوونه یا دهغو جراحی ماتوالي کړنلاره تر څو ناوړه شکل اصلاح شی ، د (Osteoclasis ) په اړه ول .

## Osteoclast

هغه څوهستوی لویه حجره چې د هډوکی د جذبېدو لامل ګرځی .هغه وسیله چې د اوستیوکلازیس لپاره کارول کېږي.

## Osteoclastic

د (Osteoclast) اړوند صفت.

## Osteoclastoma

د هډوکی د جیانټ حجرې سلیم ډول تومور چې د اوږدو هډوکو په نهایاتو کې منځ ته راځي.

## Osteoclastomas

د (Osteoclastoma ) لپاره ګڼه شمېره .

## Osteoclastomata

د (Osteoclastoma ) لپاره ګڼه شمېره .

## Osteocope

د هډوکی شدید درد.

## Osteocopic

د (Osteocope) اړوند صفت.

## Osteocarnium

د هډوکی کېدو په دوره کې د جنین د سرکوپړۍ .

## Osteocystoma

هډوکیز سیسټ .

## Osteocyte

دهډوکی حجره ، هغه اوستیوبلاسټ حجره چې د هډوکی په ماتریکس کې ځای لری یو هډوکیز لاکیونانیسی او هډوکیز کانالیکولونو له لارې نازک

هغه اوستیوما چې د هډوکی ماغزه لری .

- **Osteoid Osteoma**

د اسفنجی هډوکی درناکه خو سلیم کوچنی ګردی تومور چې د لاسونو او پښو او فقراتو په هډوکو کې په زیاته پیمانه خصوصاً په ځوانانو کې جوړیږی.

- **Spongiosum Spongy Osteoma**

هغه اوستیوما چې اسفنجی هډوکی لری.

## Osteomas

د (**Osteoma**) ګڼه شمیره .

## Osteomata

د (**Osteoma**) ګڼه شمیره .

## Osteomalacia

په بالغ اسفنجی او کورتیکال هډوکی کې د اوستیوئید ناکافی یا تأخیری منرالایزیشن ، دغه ناروغی په لویانو کې د راشیتیزم په اندول ده ، د هډوکو پوستوالي د ( **Calcium** او **Vitamin D**) د فقدان یا کمښت له امله پېښیږی.

- **Hepatic Osteomalacia**

د ینې او ځیګر اړوند اوستیوملاسیا چې د ځوګونو کسرونو اود هډوکو شدید درد سره مل وی .

- **Oncogenous Osteomalacia**

هغه اوستیوملاسیا چې میزانشیمال نیوپلازم سره یوځای لیدل کیږی معمولاً سلیمه بڼه لری.

## Osteomalacic

د (**Osteomalacia**) اړوند صفت .

## Osteomere

دفقراتو په څیر ورته د هډوکیز جوړښتونو یوه لړۍ.

## Osteometry

د هډوکو د اندازې ټاکنې کړنلاره .

## Osteomyelitis

د هډوکو د دننه ماغزو (مُخ عظم) برخې التهاب چې د بیولوژیک انتاناتو له امله موضعی یا عمومی بڼه منځ ته راځی.

- **Acute Osteomyelitis**

حاد ډول اوستیومیالیټ .

- **Chronic Osteomyelitis**

مزمن ډول اوستیومیالیټ .

- **Garre's Osteomyelitis**

د (**Sclerosing Nonsupurative Osteomyelitis** ) په اندول ، غیر تقیحی اوستیومیالیت،هغه ډول مزمن ډول چې اوږده هډوکی (فخذ ،تیبیا ) هډوکی اخته کوی او (منتشر التهابی غیرګون ، د کثافت زیادښت ،د هډوکی قشر دوکی ډوله تصلبی پیړوالې او د وازدې په نشتون) سره پېژندل کیږی.

## Osteohalisteresis

د هډوکی په معدوی عنصرونو کې نیمګړتیا .

## Osteoid

هډوکی ته ورته، د هډوکی ماتریکس ، هغه ځوان هډوکې چې لاتر اوسه یې تکلس نه وی موندلای .

## Osteoinduction

د اوستیوجنیزس د تحریک عمل یا چاره.

## Osteolipochondroma

د هډوکیز او شحمی عنصرونو سره مل غضروفی سلیم تومور.

## Osteology

د هډوکو (علمی څیړنو ،ناروغیو ، پیژندنې ، درملنې) اړوند پوهې او علم څانګه .

## Osteolysis

د هډوکو تخریب ، د هډوکو ویلې کیدنه په ځانګړې توګه د کلسیوم لیرې کیدنې یا نشتوالې له امله.د ( **Osteoclasts**) په اندول.

## Osteolytic

د (**Osteolysis** ) اړوند صفت .

## Osteoma

د هډوکو سلیم تومور دئ چې د کاملاً تفریق شویو سکلیروتیک شدیداً تخته شوو هډوکو څخه جوړ د ورو ورو ودې ښتن سلیم تومور چې اکثر د مخ او سر هډوکو کې منځ ته راځی.

- **Compact Osteoma**

تېغه یې بالغ هډوکې کلک کوچنی تومور چې کمه میډولاری فضا لری او معمولاً د (سر کوپړی ، مخ او پوزې) په هډوکو کې موندل کیږی.

- **Cutis Osteoma**

هغه حالت چې په هغه کې هډوکیز لرونکو نوډولونه په پوستکی کې جوړیږی.

- **Osteoma Durum**

کلک او تخته شوې اوستیوما. د (**Osteoma Eburneum** ) په اندول .

- **Osteoma Eburneum**

کلک او تخته شوې اوستیوما. د (**Osteoma Durum** ) په اندول .

- **Ivory Osteoma**

کلک او تخته شوې اوستیوما.

- **Osteoma Medullar**

اوسیوئیدونو د جوړښت د چټکتیا د کمښت له امله د هډوکیزې کتلې کمښت ، کوچنۍ نورمال کچې ته دهډوکیزې کتلې راکوزېدل.

## Osteopenic

د (**Osteopenia**) اړوند صفت.

## Osteoperiosteal

د هډوکو اود هغه د پریوسټ اړوند.

## Osteoperiostitis

د هډوکو اود هغه د پریوسټ اړوند برخو التهاب.

## Osteopetrosis

هغه ډله ارثي ناروغی چې پکې د هډوکو کثافت زیاتوالې مومی د غېر نورمال کلکو شویو هډوکو او پرلپسې هډوکیز کسرونو په مرسته پېژندل کېږی.د (**Marble Bone Disease**) نوم هم ورکړل شوېدئ.

## Osteophlebitis

د هډوکو د وریدونو التهاب.

## Osteophony

د هډوکی له لارې د غږ لېږدېدل لکه په غوږ کې دننه ، د (**Bone Conduction**) انډول.

## Osteophyma

له هډوکو څخه راوتلې توموری کتله .

## Osteophyte

د هډوکی راوتلتیا ، هډوکیزه نوې وده.

## Osteoplastic

د ( **Osteoplasty**) اړوند صفت .

**- Osteoplastic Cecrotomy**

د جراحی عملیات کړنلاره چې پکې د هډوکو مړه ټوټه یا نکروزی نسج راویستل کېږی.

## Osteoplasty

د هډوکو بیارغونې ترمیمی او پلاستیک جراحی کړنلاره.

## Osteopoikilosis

د ګڼ شمېر سکلیروټیک محراقونو د شته والې له مخې په راډیو ګرافیکو انځورونو کې د هډوکو داغ داغ (رټې) منځ ته راتګ .

## Osteopoikilotic

د (**Osteopoikilosis** ) اړوند صفت.

## Osteoporosis

اوستیپورزس،د هډوکی غېرنارمل کثافت چې آیډیوپتیک

**- Sclerosing Nonsupurative Osteomyelitis**

د (**Garre's Osteomyelitis** ) په انډول.

## Osteomyelodysplasia

هغه حالت چې د هډوکو د نسج په نازک کېدو او یا د هډوکی د مغز د جوف د اندازې په زیاتېدو سره پېژندل کېږی او د تبې او لوکوپینیا سره مل وی.

## Osteomyxochondroma

د (**Osteochondromyxoma**) په انډول .

## Osteon

د (**Haversian System** ) په انډول.د هاورسین دکانال او دهغه د شاوخوا متحدالمرکزو تېغو څخه جوړ کلک شوې د هډوکی جوړښتیز (ساختمانی ) واحد .

## Osteonecrosis

د هډوکی نکروزس .

## Osteoneuralgia

د یوه هډوکی نیورالجیا ، د هډوکو عصبی دردونه.

## Osteopath

هغه ځوک چې د (**Osteopathy**) اړوندعملی تمرینونه کوی او د هډوکو د ناروغیو په چارو کې کارپوه وی.

## Osteopathia

د (**Osteopathy** ) په انډول .

**- Osteopathia Codonsan Disseminata**

د (**Osteopathy** ) په انډول.

**- Osteopathia Steriata**

د څرګندې نښې نه لرونکې حالت چې د هډوکی راډیولوژی له مخې د اسفنجی نسج په تراکم سره چې یو مختلط انځور ورکوی پېژندل کېږی .

## Osteopathic

د (**Osteopathy** ) اړوند صفت .

## Osteopathies

د (**Osteopathy** ) لپاره ګڼه شمېره .

## Osteopathy

د هډوکو هر ډول ناروغۍ ، د مساژ او مانوپولیشن پذریعه د بندونو برخو ناروغیو درملنه . ددې نظریې له مخې درملنه که چېرې (بدن نورمال جوړښت ، مناسب چاپیریالی شرایط او په کافی اندازه کې تغذیه ولری ) د ناروغیو او نورو زهرجنو شرایطو سره له ځانه دفاع کوی.

## Osteopenia

د هډوکو نورمال ویلې کېدنې د چټکتیا په پرتله د

یا نوروناروغیو څخه په ثانوی ډول منځ ته راځی چې پکې کلسیوم او استروجن سویه ټیټوالې مومی هډوکې (پوست ،وروست ، نرې او ماتېدونکې )بڼه مومی.ورته ( Brittle Bone Disease) هم وایې .

## Osteoporotic

د (Osteoporosis) اړوند صفت.

## Osteoradionecrosis

د وړانګې په وړاندې د ځای نیونې له امله د هډوکی نکروزس.

## Osteorrhagia

د هډوکی څخه وینه بهېدنه ، هډوکیزه خونریزی.

## Osteorrhaphy

د تار یا سیم په ذریعه د هډوکو د ټوټو نښلول او تثبیت کولو جراحی کړنلاره.

## Osteosarcoma

دهډوکو حجراتو خبیث ډول ټومور ، د (غضروف ، هډوکی یا اوستیوئید ) سره مل د منضمې نسج د سټروما څخه جوړ هډوکیز خبیث لومړنی (اولیه) نیوپلازم.

**- Parosteal Osteosarcoma**

د په کراره وده کوونکې تومورونو څخه جوړ یو ډول چې اسفنجی هډوکو ته ورته دی خو د هډوکی د ماتریکس څخه سرچینه اخلی او په آرامی سره هډوکی څخه بهر ته پراخوالې مومی.

**- Periosteal Osteosarcoma**

د داسې تومورونو په ګډون یو ډول اوستیوکاندروما چې د اوږدو هډوکو د پریوسټ څخه سرچینه اخلی ، بهر لورې ته وده کوی نرمه او لوبولی بڼه لری.

**- Small Cell Osteosarcoma**

د بوئینګ سارکوما ته ورته یو ډول اوستیوسارکوما چې د اوستیوئید سیمو او حتی ځینې وختونه د کاندروئید د جوړېدنې سره مل وی.

## Osteosarcomas

د ( Osteosarcoma ) ګڼه شمېره .

## Osteosarcomata

د ( Osteosarcoma ) ګڼه شمېره .

## Osteosarcomatosis

د ګڼ شمېر اوستیوسارکوماګانو ګډه ملګرتیا ، په یوه وخت کې د څو محراقی اوستیوسارکوما شتون.

## Osteosarcomatous

اوستیوسارکوما ئی ،د ( Osteosarcoma ) اړوند صفت.

## Osteosclerosis

د هډوکی غېرنارمل د کثافت زیاتوالی او التهاب له کبله کلکېدنه او سختوالې .

**- Osteosclerosis Congenital**

د (Achondroplasma) په اند ول.

**- Osteosclerosis Fragilis**

د (Osteopetrosis) په انډول.

**- Osteosclerosis Fragilis Generalista**

د ( Osteopoikilosis) په انډول.

## Osteosis

د هډوکی د نسج جوړېدنه .

**- Osteosis Cutis**

د (Osteoma Cutis ) په انډول.

## Osteosuture

د (Osteorrhaphy) په انډول.

## Osteosynovitis

د ګاونډیو هډوکو له اوستیت سره مل سینویت .

## Osteosynthesis

د جراحی له لارې د یوه مات هډوکی د نهایتونو تړل.

## Osteotabes

هغه ناروغی چې په هغه کې د هډوکو د ماغزو حجرې له منځه ځی دا ناروغی اصلاً په ماشومانو کې لیدل شی.

## Osteothrombosis

د هډوکو د وریدونو ترومبوز.

## Osteotome

د هډوکو د غوڅولو او وازولو لپاره سکنه ډوله چاړه چې د جراحانو پواسطه پکار وړل شی.

## Osteotomies

د ( Osteotomy ) لپاره ګڼه شمېره.

## Osteotomy

د هډوکو د غوڅولو اوڅیرلو جراحی عملیات کړنلاره .

**- Cuniform Osteotomy**

د ماتو هډوکو د تېرې ټوټې لېرې کول او راویستل.

**- Displacement Osteotomy**

په هډوکې کې د منځ ته راغلی وزن د زغملو له کبله د راغلو فشار شرایطو بدلون لپاره د هډوکی د اوږدوالی د بدلون په منظور جراحی ډول د یوه هډوکی راویستل او بیا ویشل شوی ځایونه اړول-راړول او په پای کې ځای په ځای کول .

**- Le Fort Osteotomy**

د مګزیلا عرضانی غوځول او ځای بدلون ، د لیفوړت د کسرونو خط له مخې درې ډوله شقونه (څیرل ) تاکل کېږی.

**- Linear Osteotomy**

د یوه هډوکی خطی پرې کول.

**- Sandwich Osteotomy**

د اټروفیکې منډیبولا د پیاوړتیا لپاره جراحی طریقه .

**- Visor Osteotomy**

دا هم د اټروفیکې منډیبولا د پیاوړتیا لپاره جراحی کړنلارې تخنیک دئ چې په هغه کې منډیبولا په سهمی ډول پرې کېږی او کرانیال ټوټې پورته کش کېږی او د پیوند په واسطه کلکېږی .

## Ostia

د (Ostium ) لپاره ګڼه شمېره ده .

## Ostial

د (Ostium ) اړوند صفت .

## Ostitis

د (Osteitis ) په انډول ، د هډوکی التهاب.

## Ostium

خوله ، دهنه ، سوړه ، د یوه سوری نهایت.

**- Ostium Tubae Uterinae Abdomenalis**

د نفیرونو مجرأ پیاله ډوله خوله .

**- Coronary Ostium**

د ابحری سینوس دننه د دوه سوریو له ډلې څخه هر یو چې ښې او کیڼ اکلیلی شریانونو پورې تړلې وی .

**- Ostium Pharyngeum Tubae Uterinae**

د سامعوی تیوب شاتنې سوری.

**- Ostium Primium**

دهغه غشأ به ښکتنی برخه کې سورې چې د جنین زړه په ښی او کیڼ لورې ویشی.

**- Ostium Secundum**

د جنینی زړه د حجاب (پردې ) په پورتنی برخه کې سوری.

**- Ostium Tympanicum**

د غوږ د صماخی پردې په کاروټید دېوال باندې د اوربدلو د تیوب سوری د ( Ostium Tympanicum Auditoriae Tubae) په انډول .

**- Ostium Uteri**

د مهبل ته د رحمی غاړې (عنق) بهرنی سوری.

**- Ostium Uterinum Tubae Uterinae**

هغه ټکې چې د رحمی تیوب جوف د رحم سره نښلوی.

**- Ostium Vaginae**

د مهبل بهرنی سوری او خوله.

## Ostomate

هغه څوک چې د ( Enterostomy یا Ureterostomy) د جراحی تر عملیات لاندې وی.

## Ostomies

د (Ostomy ) لپاره ګڼه شمېره ده .

## Ostomy

هغه عمومی اصطلاح چې دهغه سوری (خولې) جوړولو لپاره پکارېږی چې په هغه کې یو مصنوعی منفذ (فوحه) جوړه شی لکه د ( Colostomy یا Ileostomy او Ureterostomy ) په څېر .

## -ostomy

دا یو روستاړې دئ او د [ یو مصنوعی منفذ ،خوله ،فوحه ، سوری ] جوړولو د عملیات کړنلارې معنی بشپړوی.

## OT [1]

د کار پذریعه درملنه کوونکی ( Occupational Therapist) لنډه ښنه ده .

## OT [2]

دعملیات خونې (Oparational Theature ) لپاره لنډه ښنه ده.

## OT [3]

په اناټومی کې پخوانی اصطلاح ده چې د توبرکولین معنی لری.

## Ot-

دا یومختاړې دئ او غوږ او هغه چې په (-Oto) پیل مومی معنی لری.

## Otalgia

د غوږ درد .د (Earache ) په انډول.

## OTC

په فارمسی کې هغه اصطلاح ده چې د داسې درملو لپاره پکارچې د نسخې د ښودلو پرته تر لاسه کېدای شی د بشپړې اصلاح (Over The Counter ) لپاره لنډه ښنه ده .

**- OTC Drug**

د بشپړې اصلاح (Over-The-Counter Drug) لپاره لنډه ښنه ده.

## Otic

د غوږ (Ear ) اړوند صفت .

**- Otic Ganglion**

د غوږ ګانګلیون عصبی حجرې اړوند چې د منډیبولار عصب سره مل وی هلته چې له کوپړۍ وزی.

**Otocranium**

په پتروس هډوکی کې یوه فضأ چې د داخلی غوږ د ځای نیولو ځای ، د کرانیوم سامعوی برخه .

**Otocyste**

اوتوسیسټ ،د جنین سامعوی ویزیکول ، د یو شمېر سفلی حیواناتو سامعوی کڅوړه (ساک).

**Otodectes**

د مایټونو یو ډول همدغه راز (**Otoacariasis**) لدې جنس څخه بلل شی .

**Otocephalitis**

د منځنی غوږ د التهاب له امله د ماغزو التهاب.

**Otogenic**

د (**Otogenous** ) په انډول.

**Otogenous**

دغوږ له دننه څخه سرمنشه اخیستونکې .

**Otolaryngologist**

هغه څوک چې د ( غوږ ، حنجرې –ستونی)اړوند متخصص وی .

**Otolaryngology**

هغه علم چې ( غوږ ، حنجرې – ستونی) ناروغیو (پېژندنې ، درملنې ، مخنیوی ) اړوند څېړنې کوی .

**Otolith**

د غوږ ډبره ، د غبر شمزی (فقاریه) لرونکو د غوږونو سیسټ ، د شمزی لرونکو په دننه غوږ کې آهکی کتله .د کلسیوم –کاربونیت نری ټوټه چې د غوږ د ویښته حجرې په ( **Saccule** او **Utricle** ) دننه منځنی غوږ پورې ځوړنده نښتې وی.

**- Otolith Organ**

یو د دوه جوړه حسی غړو څخه د دننه غوږ برخه د ( **Saccule** او **Utricle**) کې چې معلومات د دماغ دننه برخې ته لېږدوی .

**Otologic**

د (**Otology** ) اړوند صفت.

**Otologist**

د غوږ د غړ او ناروغیو څېړنو اړوند متخصص ډاکټر.

**Otology**

د طب هغه څانګه چې د غوږ د (اناټومی ، فزیولوژی ، پتولوژی ) په اړه څېړنې کوی .

**Otomucormycosis**

د غوږ میوکور مایکوزیس .

**Otitis**

د غوږ التهاب .

**- Aviation Otitis**

د فشار څخه زېږنده اوتیت میډیا ، د هوبازانو اوتیت.

**- Otitis Externa noun**

د بهرنی غوږ التهاب .

**- Furuncular Otitis**

د بهرنی غوږ په سوری کې د فرانکل منځ ته راتګ.

**- Otitis Interna**

د دننه غوږ التهاب ، د لابریټیټ (**Labyrinthitis** ) په انډول.

**- Otitis Media**

د منځنی غوږ انتانی التهاب چې د سر درد او تبې سره مل وی.

د (**Middle Ear Infection** او**Tympanitis**) په انډول.

**- Otitis Media Secretor**

په منځنی غوږ کې د موکوئید (مصلی ) افرازاتو له درد څخه پرته راغونډېدنه ده چې د هدایتی کوڼوالی او یا نفیراوستاخی تیوب د بندېدو لامل ګرځی .

**- Otitis Mycotica**

په پرازیتی چڼیاسو پورې اړوند اووتیت .

**- Parasitic Otitis**

د اوټواکاریازیس ( **Otoacariasis**) په انډول.

**- Sclerotica Otitis**

تصلبی اوتیت ، هغه اوتیت چې د غوږ د جوړښتونو په سختېدو سره پېژندل شی.

**Oto-**

دا یومختاړې دئ او د غوږ (**Ear** ) معنی بشپړوی.

**Otoacariasis**

د (**Otodectes**) له جنس څخه د یوه مایټ له امله د پیشوګانو ،سپیو او کورنیو شخوند وهونکو د غوږ انتان .

**Otoantritis**

د مستوئیډ هډوکی د انتروم اواټیک ټیمپانوم د جوف التهاب .

**Otobius**

د ډول ډول حیواناتو د غوږ یو ډول وریږه چې انسانان هم اخته او ککړ کوی.

**Otocephaly**

د ښکتنۍ ژامنې د نشتوالی او ښکته د غوږونو په ځوړندوالی سره پېژندل کېدونکی ولادی سؤ شکل.

**Otocranial**

د (**Otocranium** ) اړوند صفت .

**-otomy**
دا یو روستاړې دئ او د یوه غړي د پرې کولو یا غوڅولود جراحی کړنلارې تر سره کولو معنی ورکوی.

**Otomycosis**
د غوږد بهرنی کانال او سوری چنیاسی (فنګسی) انتان .

**Otoneurologic**
د (Otoneurology ) اړوند صفت.

**Otoneurological**
د (Otoneurology ) اړوند صفت.

**Otoneurology**
د طب هغه څانګه ده چې د مرکزی عصبی سیستم هغه برخه په تفصیلی ډول څېړی چې د غوږ سره تړاو لری.

**Otopathic**
د (Otopathy) اړوند صفت.

**Otopathy**
د غوږ هر ډول ناروغی.

**Otopharyngeal**
د (Otopharynx ) اړوند صفت. سمعی – بلعومی .

**Otoplasty**
د بهرنی غوږونو رغوونکې او ترمیمی جراحی کړنلاره.

**Otopolypus**
د غوږ پولیپ .

**Otopyurea**
د غوږ څخه پرېمانه قیحی افراز راتګ .

**Otorhinolaryngologist**
د غوږ ، پوزې او حنجرې ، ستونی اړوند متخصص ډاکټر .

**Otorhinolaryngology**
د طب هغه علمی څانګه چې ( غوږ ، پوزې او حنجرې ، ستونی) علمی څېړنو اړوند کاروبار تر سره کوی لنډه نښه یې ( Ent) ده

**Otorhinologic**
د (Otorhinology ) اړوند صفت.

**Otorhinology**
د طب هغه علمی څانګه چې ( غوږ او پوزې) علمی څېړنو اړوند څېړنې تر سره کوی.

**Otorrhagia**
له غوږ څخه د وینې بهېدنه.

**Otorrhoea**
له غوږ څخه د زوي (قیح ) بهېدنه. د (Otorrhea) په اند ډول.

**Otosalpinx**
د اورېدنې تیوب .نفیراوستاخی .

**Otosclerosis**
د غوږ تصلب . هغه حالت چې پکې د غوږ هډوکیز کېدل کېدای شی د رکابی هډوکی د آنکیلوزس او په نتیجه کې د هدایتی کوڼوالی لامل ګرځی .

**Otosclerotic**
د (Otosclerosis) اړوند صفت.

**Otoscope**
د غوږ د لیدنې یا اورېدنې اړوند څېړنو لپاره وسیله ، د (Auriscope ) په اند ول.

**Otospongiosis**
د غوږ په هډوکیز لابیرینټ کې د اسفنجی هډوکی جوړېدل . د (Otosclerosis ) په ناروغی کې پېښېدل.

**Otosporin**
هغه څاڅکی ډوله درملو سوداګریز نوم چې له ( Polymyxin او Hydrocortisone, Neomycin ) څخه په ګډ ډول جوړ شوېدی .

**Ototoxic**
د غوږ په عصب باندې (اتم زوج) یا سامعوی –تعادلی هډونو باندې زهرجن اغېز ی ښندل.

**OU**
د (Ocular Uterque ) لپاره لنډه نښه .

**Ouabian**
د (Strophsntur Gratus) څخه پلاس راغلی قلبی ګلایکوزید چې ډیجیتال په څېر اغېز ښندی خو ډېر چټک ډیجټالایزیشن رامنځ ته کوی دا درمل د زړه حاد عدم کفایې په بېړنیودرملنو کې پکارېږی.

**Ounce**
اونس، (Avoirdupois ) سیستم کې د دوزن مقیاس واحد چې د
[ 437.5 Grains یا 1/16 Lb یا ګرام (28 . 3495 Gr ) ]
سره اند ول دی او له بله اړخه په (Apothecaries) سیستم کې دغه واحد د ( 31.03gr، 1/12 Lb ) یا (480 Grains) سره اند ول دی لنډه نښه یې(Oz) ده .

**- Fluid Ounce**

په (Apothecaries) سیستم کې د مایع د اندازې نیولو واحد دئ چې د (8 Fluid Grains)یا (29.57mml) سره انډول دئ.

**- Metric Ounce**

هغه واحد چې (25 Grams) ګرامه دئ چې (20) د ( Metric Pound Of 500 Grams) کېږي.

**- Troy Ounce**

د (480 Grains) په انډول.

## Out

دباندې، ایستلې، وتلې، وریچینې، بهرته ،لیرې، موقوف ، له کاره وتلې .

**- Outbalance**

درنول، وزن پرزیاتول، متأثر کول، مخکې کېدل.

**- Outburst**

چاودنه، ترله وتنه، له هیجانه او غضبه اور اخیستنه .

**- Out-of-body Experience**

هغه موقع چې یو څوک داسې احساس او فکر کوي چې خپل بدن یې له لاسه ورکړې لکه څوک چې په یوه تونل (Tunnel) کې د روښنائي لورې ته حرکت کوي دا وروسته له انستیزي منځ ته راځي چې بنایي د اوکسیجن ناکافي والې له امله وي.

**- Out of date**

نادوده، له موډه لویدلی ، تاریخ تېره.

**- Out of door**

دباندې، وریچینې، بهر، له دروازې بهر.

**- Out of the way**

لیرې، ګوښې، وړیا ، وتلې، غیرمعمولي.

**- Outgrow**

بې وخته لوئیدل، په غیرطبیعي توګه وده کول، له اندازې نه غټیدل.

**- Outgrowth**

ښاخ،خاښ، نتیجه، حاصل اضافي غوښه.

**- Outlet**

سوری، سوړه، مخرج.

**- Outline**

غټ ټکي، عمده مطالب (دیوی موضوع)، طرح، شکل بندي.

**- Outlive**

اوږد ژوند کول، ډیر عمر کول

**- Outstanding**

وتلې، هسک ، برجسته ، دنګ ، پاتې ، هغه حساب چه تصفیه شوی نه وي.

**- Outstretch**

ویږول، غوړول، غځول.

**- Out weight**

غټېول، درنول، چاغول، درنیدل

**- Outworn**

زوړ، ستړی.

## - Outbreading

د دوه بېلابېلو افرادو جوړه کېدنه چې د دوی څخه د زېږنده نسل او بچیانو شمېر د دوی د هر یوه د مور او پلار د اولادونو له شمېر څخه څو ځله ډېر وي.

## Outbreak

چاودنه، غورځیدنه، پیل، شروع، خپریدنه ، یو لړ ناروغیو شیوع چې ناڅاپه پیل کوي .

**- Typhoid Outbreak**

د محرقې ناروغۍ خپرېدنه،

## Outcome

محصول ،پیامد، د یوې پروسې نتیجه ، عاقبت ، حاصل ، لاسته راوړنه ، راوتنه ، د یوې درملنې د پایلې نتیجه.

**- Medical Outcomes**

طبي محصول ، طبي لاسته راوړنه.

## Outcry

نارې سورې، شورماشور، غالمغال، کلک اعتراض.

## Outer

وتلې، هاخواته،دباندې ایستل ، یوڅه دباندې.

**- Outer Ear**

د غوږ پکه ، د غوږ صیوان ، د (External Ear ) په انډول.

**- Outer Layer**

دباندنۍ طبقه ،بهرنۍ پوښ .

**- Outermost**

لیرې، دباندې.

**- Outer Pleura**

جداري پلورا ، د (Parietal Pleura ) په انډول.

## Outflank

(لښ) اړخیز پرراتلل، له یوې خواپرراګرځیدل.

## Outgo

لګښت، خرڅ،مصرف، تګ، تر تېرېدل ، دمخه کیدل تر یوچا لومړې کېدل، وړاندې کېدل.

## Outgoing

وتونکی، دباندې تلونکی ،بهرتلونکی، تقاعد کوونکی، جلاکیدونکی.

## Outgrow

بې وخته لوئېدل، په غیرطبیعي توګه وده کول، له اندازې څخه ډېر غټېدل.

## Outgrowth
ښاخ ، نتیجه، حاصل اضافی غوښه ، اضافه وده اونموکول .

## Outlet
سوری، سوړه، مخرج، بهرنی خوله ،وازېدونکې چینل کوم چې د هغه له لارې د یوه ځه وتل تر سره کېږی.

**- Gastric Outlet**

د معدې بواب (خوله) .

**- Gastric Outlet Obstruction**

د معدې د بواب انسداد.

**- Pelvic Outlet**

د حوصلې لاندینی خوله .

## Outline
غوره او غټ ټکی، دیوی موضوع عمده مطالب ، طرح، شکل بندی ، خلاصه ،لنډیز.

## Outlive
اوږد ژوند کول، ډیر عمر کول.

## Outpatient
سراپا ناروغان ،هغه ناروغان چې روغتون ته د درملنی اوکتنې په موخه راځی او د شپې نه پاتې کېږی.

**- Outpatient Department**

پولیکلینیک برخه ، پرته له بستر کولو ځخه د ناروغانو د کتنې کلینیکی ځانګه د (**Outpatients' Clinic**) په انډول.

**- Outpatients' Clinic**

هغه کلینیک چې پرته له بستر شویو ناروغانو کتنو سره سروکار لری او بوخت وی.

## Outpocketing
د ( **Evagination**) په انډول.

## Outpouching
د یوه بندښت د پېښېدلو په موخه د یوې طبقې یا یوې برخې راوتل او برجسته کېدل.

## Output
لاسته راوړنه .ابره، محصول، حاصل. د بدن د یوه فعال سیستم پواسطه لاس ته راغلې تولېدی محصول،

**- Cardiac Output**

د زړه دهانه ، دا هغه اغېزمنې وینې حجم چې معمولاً په یوه دقیقه کې یا دوخت په یوه واحد کې د زړه له هر بطن ځخه خارجېږی .

**- Stroke Output**

د وینې د حجم کمښت له امله د وینې د دهانې کمښت.

**- Urinary Output**

د متیازو دهانه ،د پښتورګو پواسطه د اطراح شوې متیازو کچه.

## Outreach
هغه خدمتونه چې ناروغانو یا عمومی عامه خدمتونه پرته د روغتونو یا کلینیکونو له لارې رسوی.

## Outside
دباندی، بهر، ورچینی.

## Outspread
غوړول، خپرول، ویرول، غوړیدل، خپریدل، ویریدل، دبیې لوړیدل.

## Outwards
دباندی خواوی.

## Ov-
دا یومختاړې دئ او د[ هګۍ ،تخمې (اووم**Ovum**او-**Ovi**)] معنی بشپړوی.

## Ova
هګۍ ، تخمې ، د (**Ovum** ) لپاره ګڼه شمېره .

**- Ova of Ascaris**

د اسکاریس لومبرېکوئید پرازیت چینجی هګۍ.

**- Ova of Entameoba Histolytica**

د انتامیوبا هیستولایتیک پرازیت هګۍ.

**- Ova of Giardia Lambia**

د جیارډیا لامبیا پرازیت هګۍ .

**- Ova of H. Nana**

د هیمنلوپوس نانا پرازیت چینجی هګۍ .

**- Ova of Parasite**

د پرازیت هګۍ .

## Oval
هګۍ ډوله، هګۍ شکل.

**- Oval Window**

هګۍ وزمه کړکۍ ، د دننه او منځنی غوږ تر منځ هګې ډوله سورې چې ورته (**Fenestra Ovalis** ) هم ویل شی.

**- Plasmodium Oval**

د اووال پلازمودیم ،چې د ملاریا ناروغۍ پرازیت یو ډول دئ.

## Ovar-
دا یو مختاړې دئ او د [هګۍ ځاله، مبیض یا( **Ovari-** ) ] معنی لری.

## Ovaralgia
د مبیض درد ، د هګۍ ځالې درد.د (**Ovarialgia** ) په انډول.

## Ovarialgia
د (**Ovaralgia**) په انډول.

## Ovari-
دا یو مختاړې دئ او د [مبیض یا هګۍ ځالې (**Ovar-**)] معنی لري.

## Ovarian
مبیض ، هګې ځاله ، تخمدان ، هلته چې په ښځینه جنس کې د مثل تولید لپاره هګۍ منځ ته راځي،

**- Ovarian Cancer**

د مبیض کانسر چې خبیثه بڼه لري او معمولاً له انقاع الطمث (**Menopause**) وروسته منځ ته راځي.

**- Ovarian Cycle**

د مبیض سیکل ، هغه منظم بدلونونه چې د ښځو په تولیدی – تکثري دوره او عمر کې پېښېږي.

**- Ovarian Cyst**

د مبیض سیسټ ، دمبیض دننه منځ ته راغلی کیسټ .

**- Ovarian Disease**

مبیضي ناروغي .

**- Ovarian Follicle**

مبیضي فولیکول حجره چې په ځان کې هګۍ لري او ورته (**Graafian Follicle**) هم ویل شي.

**- Ovarian Hormones**

مبیضي هورمونونه لکه استروجن اوپروجسترون.

**- Ovarian Torsion**

د مبیض تدور ، مبیضي تاوېدنه .

**- Ovarian Tumor**

مبیضي تومور.

## Ovariectomies
د (**Ovariectomy**) لپاره ګڼه شمېره .

## Ovariectomy
د مبیض د قطع کولواو راویستلو جراحي کړنلاره ، د (**Oophorectomy**) په انډول .

## Ovaries
د مبیض(**Ovari**) لپاره ګڼه شمېره .

## Ovario-
دا یومختاړې دئ او د مبیض معنی بشپړوي.

## Ovariocele
د یوې هګۍ ځالې (مبیض) اړوند فتق یا څُره.

## Ovariocentesis
د جراحي کړنلارې پواسطه د یوې هګۍ ځالې (تخمدان) سوری کول.

## Overiopexy
د جراحي کړنلارې پواسطه د یوې هګۍ ځالې (تخمدان) د ګېډې جدار سره نښلول او تثبیت کول.

## Overiorrhexis
د یوه هګۍ ځالې څیرې والې یا شلېدل.

## Ovariosalpngectomy
د د هګۍ ځالې (مبیض) او نفیرونو د جراحي په مرسته د راویستلو جراحي کړنلاره.

## Ovariostomy
د نفیرونو د نهایتونو د خولې وازولو –سوری کولو جراحي کړنلاره .

## Ovariotomies
د (**Ovariotomy**) لپاره ګڼه شمېره .

## Ovariotomy
د جراحي عملیات له مخې د مبیض د وازولو –څیرلو جراحي کړنلاره لکه د تومورونو پرمهال .

## Ovariotubal
مبیضي –نفیري ،د هګۍ ځالې اورحمي تیبونو اړوند .

## Ovaritis
د مبیض التهاب .د (**Oophoritis**) په انډول.

## Ovarium
هګۍ ځاله ، مبیض ، تخمدان ، هلته چې په ښځینه وو کې هګۍ او هورمون تولیدېږي.

## Ovary-
دا یومختاړې دئ او د پښت (مبیض ، تخمدان، دهګیو ځای) معنی لري .

## Ovary
هګۍ ځاله ، مبیض ، تخمدان ، هلته چې په ښځینه وو کې هګۍ او هورمونونه تولیدېږي . د چرګانو او الوتونکو مرغانو پښت ( دهګیو ځای) ، د (**Oophoron**) په انډول ، هغه مختاړی چې (**Oophor-, Oophoro-**) ډول پیل کېږي هدا معنی ورکوي.

**- Polycystic Ovary**

د پولیسیسټیک ډول مبیض .

**- Torsion of Ovary**

د مبیض تاوېدنه چې پېړنۍ عملیاتي پېښه ده .

**- Tumor of Ovary**

د مبیض تومور.

**Overdose**

ترسپارښتنې اندازی ډیره پیمانه درمل خوړنه.لوړه دوز.

**Overeat**

ټنډیدل، د ډوډۍ ډیرخوړل، ترټاکلی اندازې ډیرخوړل.

**Overeating**

ترټاکلی اندازې ډیر پیمانه خوراک کول.

**Overexertion**

د ډیرې اندازی فزیکی کار کړنه یا تمرینونه تر سره کول.

**Overflow**

پرځنډ واوښتل، ترځنډوتوئیدل لکه د(اوبواونورو مایعاتو) په څیر ، لبریزه کېدل .

**- Overflow Incontinence**

د متیازو د توئېدنې هغه حالت چې په مثانه کې د ډیرې کچې د متیازو راټولېدنې له امله وی.

**Overgrow**

تراندازی ډیر غټول، ډیره پیمانه لویول.

**Overgrown**

تراندازی ډیر غټ شوي ، لوی شوي ،ستر شوي .

**Overgrowth**

د نورو انساجو لپاسه د نسجونو وده موندنه .

**Overhang**

راځړیدل (په)، غرغره کېدل ، ځړیدل.

**Overhead**

پرسر، دسر دپاسه، پرسربرسیره، سربیره.

**Overhear**

ښه غوږ ورته نه کیښوول، ښه غوږ نه ورته نیول، سطحی اوریدل، کله کله اوریدل.

**Overhydration**

د بدن د مایع د کچې زیادښت .

**Overjet**

هغه مهال چې نورمال ډول ژامنې تړل شوي وی د ښکتنیو غاښونو د څنډو او ثنایائی زېږمو په لورې د خولې یا شونډو له لورې د پورتنیو غاښونو د فمی څنډو تېرېدل.

**Overlap**

ویړول ( پر)، داسی غوړول چه ترځنډوېی واوړی، پریو بله ژۍ اوښتل، یوپربل تیریدل ( تضاعف وتداخل ).

**Overlay**

هغه ثانوی حالت چې دمخه د شته شرایطو یا حالتونو

**Ovate**

هګۍ وزمه، د هګۍ په څېر ورته .

**Over-**

ډیره اندازه ، پریمانه پیمانه ، لوړ، هسک، برسیره، پر،ډیر(تر) پای، سربیره پر، پوری غاړه،په دی برخه کی.

**- Overact**

خپل رول تراندازی زیات لوبول.

**- Overawe**

ویرول، بیرول، ډارول، تهدیدول

**- Overbalance**

ډیرول ، موازنه بایلل، درنول، په یوه اړخ کېدل، یوی خواته کږیدل یاکږول،درنیدل.

**- Overbearing**

کبرجن، دلوبی ښتن دکبر په توګه، دلوبی په دود.

**- Over draught**

هغه هواچې پورته (پاس) تیریږی.

**Overbite**

د غاښونو غیر معمول حالت چې پکې پورتنی ثنایا ( Incisors) ښکته راځی د تړلو پرمهال دلاندې ژامنی قوس څخه وتلې ښه غوره کوی هغه مهال چې خلفی مقابل غاښونه د اتصال په حالت کې وی.

**Overcome**

لاندی کول، بریالی کیدل.د یوچا د بیهوښه کولو حالت لکه د دودونو د ډیر انشاق له امله.

**Overcompensate**

ډیر زیاته اندازه معاوضه کول .مفرطه جبران.

**Overcompensation**

د یوې ریښتینې یا خیالی یا فزیکی نیمګړتیا له حد څخه زیاته سمونه ، ډیره اندازه معاوضه کول، د لزوم حد څخه ډیره پیمانه جبران .

**Overdenture**

هغه مصنوعی غاښونه چې د پاتې نورمال څو غاښونو یا مخاط پذریعه په خپل ځای کې ټینګیږی .

**Overdetermination**

هغه غیر شعوری میکانیزم چې د هغه له لارې د څو عواملو په پایله کې هیجانی غبرګون یا ښښه منځ ته راځی.

**Overdo**

ډیر ه اندازه کارکړنه ، ډیرتمرین کول ، د ډیرو سختوکارونو تر سره کول.

پربنسټ ولاړ وي ، پوښښ ، زینتي روکش کول ، د یو څه لپاسه واقع کېدنه .

- **Psychogenic Overlay**
پرمختللی یا زیات شوی هیجاني حالت چې د هغه پخوانیو نښو په مته ولاړ وي چې عضوي سرچینه ولري .

## Overload
درنول، دروند بارول، ترانداز ډېر پېټې پراړول.

## Overlook
له لوړې څخه کتل، څارل له اوچت ځای څخه نظاره کول. ستر ګې پرې پټول ( اغماض ) ، هېرول،سپک ګڼل. معذرت غوښتل.

## Overloud
تراوریځو لاندې کول، تراوریځولاندېکول، تراوریځی لاندې کېدل.

## Overpass
پر یو څه تېرېدنه ،اوښتنه، پوریوتنه ( لکه د پُل چې پرویاله پورې وتلی وي ، اویادموټر سړک داوسپنې پرلاز اوښتی وي.

## Overprescribe
د ډېرو نسخو او سپارښتنو ورکول لکه د درملو .

## Overproduction
ډېره پیمانه تولېدېدنې عملیه ، ډېر اندازه منځ ته راوړل . تر ټاکلی اندازې زیات تولید ، تراحتیاج زیات تولید .

- **Overproduction of Thyroxine**
د تایروکسین هورمون ډېره اندازه تولیدېدنه د تایراید غدې پذریعه.

## Oversew
د یوې سورۍ ( مثقوبه) برخې لپاسه د یوه نسج ګنډل .

## Overshadow
سیوری پراچول،دسیوری داچولوپه اثر تیاره کول، مهم برېښېدل ، تر نورو شیانو د یوه شي تتول ، تراغیزې لاندې راوستل.

## Oversize
ترانداز ډېر غټ، له عادي اندازې څخه لوی.

## Oversleep
ترانداز ډېر خوب کول ، ډېرېېدېدل.

## Overstock
ترانداز ډېره زېرمه کول ، ډېره پیمانه پاسره کول، ترانداز زیات غونډول، زیاته ذخیره کول.

## Overstrain
سټړی کول، ډېرفشار راوړل، ستومانه کول، زیات سټړی کېدل.

## Overstuff
ډېر ډکول، ډېر دشیانولګه (درملو ، تجهیزاتو ، سامانونو ) کوټه کول، دلې کول.

## Oversupply
د اړتیا تر اندازې دزیاتو او ډېرو موادو رسول، ترحد زیات مهیا کول ، ډېره پیمانه تیاری نیول ، له حده ډېره عرضه کول.

## Overt
روښانه ، واضیح ، بربنډ لیدنه ، آشکار ، اوڅار ، جوت ، څرګنده ، ظاهر، په ډاګه، علني ، هغه چې ناڅرګنده ندې .

## Overtake
پس رسېدل، لاندې کولو ، ډېر تر لاسه کول.

## Over-the-Counter Drug
هغه درمل چې هر څوک یې پرته د ډاکټر له نسخې څخه له درملتونو تر لاسه کولای شي لنډه نښه یې ( OTC Drug) ده.

## Overtime
ترټاکلي وخت زیات، اضافه کاري ، له وخته اووښتې .

## Overtone
ډېر اندازه مقویت ، پریمانه قوت.

## Overtop
ډېر جګېدل، له څو کې ورتېرېدل، له یو څه تېرېدل ، له یوڅه اوچتېدل.

## Overturn
په بل مخ اړول،ډېره اندازه تاوېدنه، له پښو غور ځول، چپه کول، ماته ورکول، تباه کول.

## Overventilation
ډېره اندازه تهویه ، د ( Hyperventilation ) په انډول.

## Overweight
ډېره اندازه وزن، ډېر دروندوالې. ترعادي اندازې ډېردرنېدل، بې انډوله کول، ترفشار لاندې راوستل. درنښت، ترټاکلی اندازې زیات دروندوالی.

- **Overweight Patients**
هغه ناروغ چې له خپل عادي وزن څخه ډېر دروندوالې ولري.

**Overwhelm**

لاندې کول، خچ پچ کول، ډوبول، غرقول.

**Overwhelming**

دروند ، فشار راوړونکی.

**Overwork**

ډېره اندازه کار کول ، پرېمانه کار کړنه ، ډېره خواری ایستنه ، ډېر ستړی کېدل .

**- Overworking Heart**

د زړه ډېره پیمانه کار کول،

**Overwrought**

ډېر زیات حساس او عصبی مزاجه کس. بی موجبه په قار، بی ځایه هیجانی، ډېر نمایشی، زیات ډولی.

**Ovi-**

دا یومختاړې دئ او دګڼ شمېر هګۍ معنی بشپړوی.

**Ovicide**

هګۍ وژونکې .هغه عامل چې د ځینو ارګانیزمونو هګۍ له منځه وړی.

**Oviduct**

نفیرونه ، د رحم تیوبونه ، د (**Fallopian Tube**) په انډول.

**Oviductal**

د (**Oviduct**) اړوند صفت.

**Oviferous**

د هګیو تولېدونه ، هګۍ درلودونکی .

**Oviform**

بیضوی ، د ګردې ورته ، د هګۍ په څېر ، هګۍ ډوله .

**Ovigenesis**

دهګۍ منځ ته راوړل .د (**Oogenesis**) په انډول.

**Oviparous**

په هغه حیواناتو کې د هګیو تولید چې خپل جنین له بدن څخه بهر روزی لکه الوتونکی مرغان .

**Ovipositor**

هغه ځانګړې ارګان چې د هغه په مټ ډېر حشرات خپلې هګۍ اچوی .

**Ovo-**

دا یومختاړې دئ او د[ هګۍ ،تخمې (اووم**Ovum**او-**Ovi**) ] معنی بشپړوی.

**Ovoid**

هګۍ وزمه، هګۍ ډوله، بیضوی.

**Ovolactovegeterian**

هغه څوک چې غذائی رژیم یې تر (شنه سابو،لبنیاتو او هګیو) پورې اړوند وی.

**Ovoplasm**

د یوې نا القاح شوې هګۍ سایتوپلازم .

**Ovotestis**

د مرغېړیو (خصیې) او مبیضی نسج لرونکې ، خصیوی – مبیضی.

**Ovovegeterian**

هغه څوک چې غذائی رژیم یې تر (شنه سابو او هګیو) پورې اړوند وی.

**Ovoviviparous**

نرۍ ته داسې ماشوم راوړل چې د مور د ګېډې دننه د هګۍ له داخل حځه بهر کېږی او په خپله رشیمی دوره کې د هګۍ د غذایی سرچینو څخه ګټه اخلی .

**Ovular**

د (**Ovum** ) او (**Ovual**) پورې اړوند صفت .

**Ovulate**

هګې اچوونه ، د ګرافین فولیکول څخه د نفیرونو لورې ته د هګۍ آزادېدنې پروسه او عملیه .

**Ovulated**

آزاده شوې هګۍ .

**Ovulating**

هګۍ اچولو پروسه .

**Ovulation**

هګې اچوونه ، د ګرافین فولیکول څخه د نفیرونو لورې ته د پخې اورسېدلې هګۍ آزادېدنه .

**Ovulatory**

د هګې اچوونې (**Ovulation**) اړوند صفت.

**Ovule**

د ګرافین فولیکول دننه هګۍ ، هګۍ ډوله کوچنې جوړښت ، هسته، ددانې زړی.

**Ovum**

هګۍ ، تخمه ، بیضه ، زېږوونکې حجره، د ښځینه جنس تکثری هډ چې د (**Spermatozoon**) تر القاح وروسته نطفه ترې جوړیږی او ځان ته د ورته شی په تولید قادر وی ، ګڼه شمېره یې (**Ova**) ده او هغه لغتونه چې د (**-Oo**) په توری مختاړی پیل مومی دا معنی ورکوی.

**Oxandrolone**
استروئیدال اندروجنیک لاکتون چې د انابولیزم د پیاوړی کوونکی یا دکتابولیزم د درووںکی مادې په توګه پکاریږی.

**Oxazipam**
د ترانکولایزر (آرامتیا بخښونکی) بنزوډیازیپین درمل چې د اضطراب ضد مادې

**Oxidant**
تحمض ورکوونکی ، سوځوونکې عامل، په یوه اوکسیدیشن – ریډکشن تعامل کې دالکترون منونکې.

**Oxidase**
أکسیډیز انزایم .د اوکسیدوریدکتیز د ډلې یو انزایم چې په هغه کې د اوکسیجن مالیکول هایدروجن منی.

**- Monoamine Oxidase**
مونو امینواکسیدیز .

**Oxidation**
تحمض ، أکسیډیشن ، اکسیایډکېدل، له بل جسم سره داکسیجن ترکیب او بل عنصر لېرې کول ، زنګ.

**- Oxidation- reduction**
أکسیدیشن – ریډکشن ، تحمضی – ارجاعی.

**Oxide**
هغه عنصر یا راډیکال مرکب چې د أکسیجن سره ترکیب موندلې وی ، اکسایډ، له نورومواد وسره داکسیجن ترکیب.

**Oxidize**
له اکسیجن سره ترکیب کول، په زنګ وهل.

**- Carbon Dioxide**
کاربن ډای اکساید ($Co_2$) فورمول لری .

**Oxidoreductase**
اکسایدوریدکتېز انزایم چې د اوکسیدیشن او ریدکشن عملیې تر سره کولو لپاره اړین انزایم دئ.

**Oxim**
د (Oxime) په انډول.د هغه موادو ډله چې په الدیهایډ یا کېتون باندې د هایدروکسیل امین د کار پواسطه جوړیږی.

**Oximeter**
هغه وسیله چې دوینې د بهیر اوکسیجن د مشبوعیت د کچې ټاکنې لپاره فوتوالکتریکی ماشین.

**Owlish**
ګونګ ډوله ، بومی ، بوم ته ورته .

**Ox**
غویی،غوځکی.

**Oxacillin**
د پنسیلینیز انزایم په وړاندې مقاوم پنسیلین جوړ شوی ترکیبی درمل چې د ګرام مثبت باکتریګانو ضد اغېز لری.

**-oxacin**
هغه روستاړې دئ چې د کینولون (Quinolone) درملو په پای ذکرکېږی لکه د سیپروفلوګزاسین (Ciprofloxacin) .

**Oxalate**
اګزالیک اسید مالګه .

**-Calcium Oxalate**
د اګزالیک اسید کلسیومی مالګه چې د بولی ډبرو په توګه رسوب کوی.

**-Oxalate Stone**
د اګزالیک اسید مالګو څخه جوړه ډبره.

**Oxalemia**
په وینه کې د اوګزالیت سویې زیادښت .

**Oxalic Acid**
اګزالیک اسید ، پیاوړې ډای کابوکسیلیک اسید چې په بېلابېلو سابو او مېوو کې موندل کېږی همدغه راز د (ګلایکولیک او اسکوربیک اسیدونو ) د مېټابولیک محصول په توګه پېژندل کېږی .

**Oxalism**
اګزالیک اسید مالګو یا اوګزالیټ سره مسمومیت .

**Oxaloacetate**
اګزالواسیتیک اسید مالګه یا ایستر جوړښت.

**Oxaloacetic Acid**
اګزالواسیتیک اسید مالګه، د ترای کاربوکسیلیک اسید په سیکل کې یوه منځنۍ مېتابولیکی ماده ده دغه ماده د اسپارټیټ ترانس امینیز انزایم پواسطه په اسپارټیک اسید اوښتلای شی.

**Oxalosis**
په پښتېورګوکې او له بډوډو څخه بهر په نسجونو کې د اګزالیتی کلسیوم رسوب لکه څه ډول چې په هایپر اوګزالوری کې لیدل شی.

**Oxaluria**
د (Hyproxaluria) په انډول . په متیازو کې د اګزالیک اسیدونو مالګو ډېره پیمانه اطراح .

**- Pulse Oximeter**

د نبضان او وینې د بهیر د اوکسیجن ټاکنې وسیله.

## Oximetery

د یوې وسیله پواسطه دوینې د بهیر اوکسیجن دمشبوعیت د کچې ټاکنې کړنلاره تر سره کول .

**- Pulse Oximetery**

د یوې وسیلې پواسطه د نبضان او وینې د بهیر د اوکسیجن ټاکنې کړنلاره اوطریقه تر سره کول.

## Oxolinic Acid

اوګزالونیک اسید .مصنوعی انتی باکتریال درمل چې د بولی جهاز د هغه انتاناتو درملنه کې پکاریږی چې د ګرام منفی باکتری ګانو له امله منځ ته راځی.

## 5-Oxoproline

(**5**) اوګزوپرولین .د ګلوتامیک اسید لکتیم اسید چې د ځینو پیپټایدونو او پروټینونو په (**N-Terminal**) کې موندل کیږی.

## 5-Oxoprolinuria

په متیازو کې د [(**5**) اوګزوپرولین] شته والې .

## Oxtriphylline

اوکسی ترپتیلین د (**Thiophyline Choline**) مالګه یو ډول مشتق دئ چې دد سږود قصباتو تنګوالی ناروغیو درملنه کې د توسع ورکولوپه موخه کارول شی.

## Oxy-

دا یو مختاړې دئ او اوکسیجن شتون په یوه مرکب کې څرګندوی .

## Oxyacetylene

اکسي استیلین ،داکسید اواستلین ګډوله (مخلوط).

**- Oxyacetylene blowpipe**

یوډول اله چه اکسیجن او استلین پکښی سوځی او دهغه په ذریعه نور فلزی اجسام پر یکوی او یایی سره پتلیز کوی.

## Oxyacid

په کیمیا کې اکسي اسید ، د اکسیجن لرونکې اسید .

## Oxybenzone

اوکس بنزون ،د لمر وړانګو مخنیوی کوونکی موضعی درمل دی.

## Oxybutynin

هغه درمل چې انتی کولینرجیک درمل چې په ښویه عضلاتو نبغ په نبغه اغیزه ښندی د متیازو د اطراح نیاز ته کمښت ورکوی او د نیوروجنیک او رفلوکسی مثانې ناروغۍ درملنه کې پکاریږی.د (**Oxybutinin**) په انډول.

## Oxycephalic

تیره سرې ، د (**Oxycephaly**) اړوند صفت.

## Oxycephaly

هګۍ ته ورته سر چې د کرونال او لامبوئید درزونو غیرنارمل بې مودې تړلو له امله کوپړۍ نیمګړې وده ده چې پکې راوتلې سترګې (**Exophthalmos**) او لید کمښت شتون لری . د مخروطی (**Turricephaly**) په انډول. تیره څوکه لرونکې سر ، د جمجمه نوک تیز ه بڼه لرونکې سر.

## Oxychlorosene

اوکسی کلوروسین ،د هایدروکلوریک اسید تثبیت شوې عضوی مرکب چې د موضعی انتاناتو په درملنه کې پکاریږی.

## Oxycodone

له مورفین څخه زیږنده نیمه ترکیبی نښه ائیز د درد ضد درمل دی چې هایدروکلورایدی مالګه لری.

## Oxygen

اوکسیجن . دا یو کیمیاوی عنصر دئ اېي رنګه وبې بویه او بې مزې و ګازی عنصر دئ چې کیمیاوی نښه یې (**O**) ، اټومي وزن یې( **15 .9994**) ،اټومی شمیره یې(**8**)، د ویلې کیدنې ټکې (**821°C**) د خوټیدنې (جوش) ټکې یې ( **18296°C**) [ دئ چې د ژوندانه لپاره اړین عنصر بلل شی.

**- Oxygen Acid**

اوکسیجنی اسید .د (**Oxyacid** ) په انډول.

**- Oxygen Concentrator**

د اوکسیجن تراکم ورکوونکې ماشین .

**- Oxygen Cylinder**

د اوکسیجن لپاره سلینډر چې فلزی جوړښت لری او دناروغانو سره د ماسک له لارې اړیکه ورکول شی.

**- Oxygen Exchange**

د اوکسیجن تبادله .

**- Hyperbaric Oxygen**

هغه اوکسیجن چې د اتموسفیر د ډیرې اندازې فشار تر اغیزې لاندې راغلې وی.

**- Oxygen Mask**

د اوکسیجن تبادله لپاره ماسک چې د پوزې او خولې لپاسه کیښودل شی او د هغه له لارې اوکسیجن سږو ته د تنفس پرمهال بهیږ مومی.

**- Oxygen Supply**

د اوکسیجن تیارول او آماده کول .

**- Oxygen Tent**
د اوکسیجن تېرولو لپاره خېمه یا څادر چې د ناروغ پوښولو په موخه پکاررو وړل شي.

**- Oxygen Therapy**
د اوکسیجن پذریعه درملنه چې د هایپوکسیا / زړه په عدم کفایه کې پکارووړل شي.

## Oxygenase
اوکسیجنیز انزایم ، د اوکسیدوریدکتیز ډلې یو انزایم دئ چې په یوه ساده مرکب کې د اکسیجن د دوه اتومی مولیکولونو ننویستلای شي.

## Oxygenate
په اوکسیجن سره مشبوع کېدل لکه د وینې هیموګلوبین په اوکسیجن مشبوع.

## Oxygenated
په اوکسیجن سره مشبوع شوې جوړښت.

**- Oxygenated Blood**
د وینې د هیموګلوبین برخه په سږو کې د اوکسیجن پواسطه مشبوع شوې وي چې ورته (Arterial Blood) هم وایي .

## Oxygenation
د اوکسیجن پواسطه ترکیب ،اکسیجن ورکول ،اوکسیجنی کول ، د اوکسیجن د زیاتولو کار بهیر .

**- Extracorporeal Membrane Oxygenation**
د نوي زېږېدلو ماشومانو د تنفس لپاره یو تخنیک چې په هغه کې وینه د داسې یوه مصنوعي سږي پذریعه د یوې غشأ څخه تېر بېږي چې مشبوع شوې او غېرمشبوعي وینه سره بېلېږي .

## Oxygenic
د اوکسیجن اړوند .

## Oxygenize
د اوکسیجن پواسطه مشبوع کولو کړنلاره.

## Oxygenator
هغه ماشین چې وینې ته اوکسیجن ورکوی معمولاً د (Artificial Lung In Surgery) پکاربړی .

## Oxygenous
د اوکسیجن اړوند .

## Oxygon
درې غوړې ،درې کُنجه لکه د مثلث په څېر .

## Oxyhematoporphyrin
هغه رنګه مواد چې څینې وختونه په متیازو کې موندل کېږي او په هیماتوپورپرین پورې تړاو لري.

## Oxyhaemoglobin
هغه مرکب د چې د هیموګلوبین او اوکسیجن څخه د سږو په اسناخو (الویول) سویه کې منځ ته راغلې وی او د سږو څخه د زړه و له هغه ځایه نورو انساجو د شریانونو پذریعه لېږدول شی

## Oxyhemoglobin
د (Oxyhaemoglobin ) په انډول.

## Oxyhydrogen
د اوکسیجن او هایدروجن مرکب .

**- Oxyhydrogen Blowpipe**
د زرګری بوری چې پکې اوکسیجن او هایدروجن سره ګډول کېږي مرکب جوړوی .

## Oxymetazoline
هغه ادرینرجیک درمل چې په موضعی ډول د هایدرکلورایدی مالګې څاڅکې په بڼه د پوزې د احتقان له منځه وړلو په موخه کارول شی .

## Oxymetholone
انابولیک اندروجنیک ستیروئید چې په خوراکی ډول کارول کېږي.

## Oxymorphone
هغه د مخدراتو ضد ماده چې د هایدروکلورایډ په بڼه پکار وړل کېږي.

## Oxymyoglobin
د اوکسیجن په متېه چارج شوې مایوګلوبین .

## Oxyntic
د معدې د جداری (اکسینتیک) حجرو په څېر د اسید افرازوونکې اړوند .

**- Oxyntic Cell**
د معدې اکسینتیک غدوی حجرې چې (Hydrochloric Acid) افرازوی ورته د (Parietal Cell) نوم هم ورکړل شوېدئ.

## Oxyopia
د افراط تر حد پورې تزئیني.

## Oxyphenbutazone
د فینایل بوتازون زېږنده ماده چې د (التهاب ، درد او تبې ) ضد اغېزې لری اود (آرتریت ، نقرص او ورته ) په درملنه کې پکار وړل شي.

## Oxyphencyclimine
انتی کولینرجیک ماده چې د (افراز ، تحرکیت ، او شخې /سپزم) ضد اغېزې لری هایدروکلورایدی مالګې یې د

ګرځی د زیږون څخه وروسته د وینې بهېدنې د کنترول او شیدو افراز د پارېدنې په موخه کارېږي

**Oxyuriasis**

په انسانانو کې د (Enterbius Vermicularis) یا نورو (Oxyurids) چینجیانوپرازیت پواسطه منتن کېدنه ، د (Enterobiasis ) په اند ول.

**Oxyuricide**

د چینجیانو پرازیت له منځه وړونکی درمل.

**Oxyurid**

تار ډوله یا سنجاقی کوچنی چینجی ، د (Oxyuroidea) د کورنۍ هر غړې .

**Oxyuris**

د کولمو نیماتودا ګانو چینجیو څخه یوډول د کونې د خارښت او سوځښت منځ ته راوړونکې عامل ، د (Enterobius) د کورنۍ څخه یو غړې ، د (Oxyuroidea) په انډول.

**- Oxyuris Equi**

هغه ډول (Oxyuris) چې په آسونو کې موندل کېږي.

**- Oxyuris Vermicularis**

دا د (Enterbius Vermicularis ) په انډول.

**Oxyuroidea**

دا د کولمو نیماتودا ګانو چینجیو د تار ډوله یا سنجاقی کوچنیو چینجیانو لویه کورنۍ چې د فقاریه حیواناتو په( سیکوم ،کولون ، ریکټیوم او مقعد ) کې ناروغی پېښوی .

**Oz**

د (Ounce) په انډول یا لپاره لنډه نښه ده.

**Ozaena**

ضموری یا اټروفیک رینیت ناروغی چې (زیاته اندازه پنډ چرکی مخاطی افرازات، پوزې بندښت ، بد بوی) منځ ته راوړی او د (Ozena ) په څېر هم لیکل شی.

**Ozena**

د پوزې (پزې ) د ټپ بد بوی، انفی قرحه ( زخم) چې بد بوی ولری ، د ( Ozaena ) په انډول.

**Ozocerite**

کاني موم ، معدني موم. د (Ozokerit ) په انډول.

**Ozone**

اوزون ، آبی رنګه چاودېدونکې ګاز یا مایع چې د اوکسیـــــــجن الوتروپیک شکل دی چې په اتموسفیر

پیپټیک ټپ او نورو هضمی ناجوړتیاوو په درملنه کې پکار وړل شی.

**Oxyphenisatin**

هغه مسهل درمل د کولمو د جراحی د کولون د کتنې دمخه د انیما له لارې د کولمو د محیط د پاکولو لپاره پکار وړل شی.

**Oxyphenonium**

د برومایدی مالګې په بڼه کارېدونکې انتی کولینرجیک چې د پیپټیک ټپ (زخم) او نوروهضمی ناجوړتیاوو چې د هایپر موټیلیټي او سپازم په مرسته پېژندل کېږي.

**Oxyphil**

په کېمیا کې اسید خوښوونکې ، اسیددوست ، اسید لېواله د ( Oxyphile او Acidophil ) هم ورته ویل کېږي.

**Oxyphillic**

اسید خوښوونکې ، اسیدرنګ اخیستونکی ، اسید رنګ لېواله د ( Oxyphile او Acidophil ) اړوند صفت .

**Oxyquinoline**

هغه دوه کړیز اروماټیک درمل چې په اساسی ډول یا سلفیټی مالګې بڼه (باکتریوستاټیک ، فنګس ضد، انتی سپټیک ) مادې پتوګه پکار وړل شی.

**Oxysulfide**

دکېمیا له پلوه اکسي سولفید ،هغه ماده یا مثبت بُنیان چې د اکسیجن و سولفور څخه ګډ ډول مرکب.

**Oxytetracycline**

په فارمسی کې د اکسي تتراسیکلین درملو جوړښت چې فورمول یې ($C_{22}H_{24}N_2O_9$) او وسیع الساحه طیف لرونکې انتی بیوټیک درمل دی .

**Oxytocia**

چټک زیږون .

**Oxytocic**

هغه دارو-درمل چې د زیږون پروسه چټک کوی د رحم د تقلصاتو منځ ته راوړونکی اغېز پرې ایستونکی د زیږونې چټکتیا بخښونکی درمل.

**Oxytocin**

اوکسی توسین ، هغه د هایپوتلاموس غدې خلفی فص اته پیپټیډی افرازی هورمون چې په هایپوفیزس کې زېرمه کېږي او د رحم اړوند تقلصی او شیدو افراز لامل

شتون لری دغه ماده د انتان (میکروب) ضد اغېزې لری او سږو سیستم لپاره محرک او زهرجن ګاز دئ .

## Ozone layer

د اوزون طبقه چې له ځمکې څخه په (**15** تر **30** کیلومتری ارتفاع لوړې ) کې شتون لری او لمر وړانګو ناوړه اغېزو څخه ځمکې ته مخنیوی کوی او همدا راز د پوستکی د کانسرونو مخنیوی کوی فورمول نښه یې (**$O_3$**)دئ.

**- Ozone Sickness**

د اوزون څخه منځ ته راتلونکې ناروغی. چې په هوابازانو کې د هوا د لوړ اوزون کچې شتون سره د مخامخ کېدو له امله پېښېږی.

## Ozonic

اوزون ورته ،اوزون درلودونکی.

جنسي نږدې کېدنه (امیزش) په ګډ وډې سره پرته دواده له اصولو په پام کې نیولو سره .

**- P. Wave**

په فیزیک کې هغه څپه چې د فشار له امله منځ ته راځی، تراکمي څپه (موج) ، فشاری موج مثلاً [ د غږ (ږغ) موج]

**P -**

مثبت دا یو مختاړې دئ او د (برېښنا ، برق ، مثبت ، پارا ، ایزومیر ) معنی بشپړوی .

## Pa

د پاسکال (Pascal) لپاره لنډه څرګندوونکې نښه ده.

## Pa

د پروټکټینیوم (Protactinium) کېمیاوی عنصر لپاره لنډه نښه ده.

## PA

د قدامی -خلفی (Posterior – Anterior) لپاره لنډه نښه ده.

## PA

د خلفي - شریان (Posterior- Artery) لپاره لنډه نښه ده.

## PA

دریوی - شریان (Pulmonary – Artery) لپاره لنډه نښه ده.

## PAB، PABA

د (Para-Aminobenzoic Acid) لپاره لنډه نښه ده.

## Pacemaker

پسمېکر ، هغه ماشین چې د زړه د ضربانونو رامنځ ته کولو کې رول لری او هغه تنظیم کوی ، په بیوشیمی کې هغه ماده چې د تعامل چټکتیا یې د هغې د ملګرو تعاملونو د ډلې د چټکتیا د تنظیم لپاره کارېږی ورد ته (Sinoatrial Node، Sa Node ، Cardiac او Pacemaker ) Epicardial Pacemaker هم ویل شی .

**- Cardiac Pacemaker**

د (Epicardial Pacemaker) په اندول.

**- Cardiac Artificial Pacemaker**

د زړه مصنوعی پسمېکر .

**- Demand Pacemaker**

ښځ کړای شوی دزړه ضربان پېښوونکې چې محرک جنراتوری د زړه د برېښنائی فعـالیت څخه د زېرنده سیګنال له لارې نهی کېږی (ډیپولارایزیشن ) او پدې تر تیب سره د ضربان پېښوونکې څخه د زېرنده فیبریلیشن خطر اصغری کچې ته راټیټوی .

# P.p

دانګلیسي ژبې دالفبا شپاړسم توری

## P

د پارا (Para) لپاره لنډه نښه ده.

## P

د تر د مخه[ پري (Pre) ]لپاره لنډه نښه ده.

## P

د چارپیرا[ پیری (Peri)] لپاره لنډه نښه ده.

## P

دفاسفیټ (Phosphate) جوړښت لپاره لنډه نښه ده.

## P

دفاسفورس (Phosphorus) لپاره لنډه نښه ده.

## P

د پیکو (-Piko) لپاره لنډه نښه ده.

## P

د[توان ، قدرت (Power)] لپاره لنډه نښه ده.

## P

د [خلف یا شاته (Posterior) ] لپاره لنډه نښه ده.

## P

د [پوټنشیال ، قوت (Potential)] لپاره لنډه نښه ده.

## P

د فشار (Pressure) لپاره لنډه نښه ده.

## P

د پري مولار (Premolar) لپاره لنډه نښه ده.

## P

د پروتون (Proton) لپاره لنډه نښه ده.

## P

د حدقې (Pupil) لپاره لنډه نښه ده.

## $P_1$

دپلرني نسل (Parental Generation) لپاره لنډه نښه ده.

## $P_2$

دزړه د ریوی وال ( Pulmonary Valve) د دوهم غږ لپاره لنډه نښه ده.

**- P. Delivery**

له ټاکلې مودې (طبیعی موعد) څخه دمخه زېږون .

**- P. Exercise**

بدني روزنه ،ورزش -تمرینونه تر سره کول، د اندامونو پرورش

**- P. Sexual Relations**

## Pachychelia

د شونډوپېړوالي یا پنډېدل.

## Pachychromatic

د پنډو رشتو په بڼه د کروماتین شته والي .

## Pachydactylia

هغه حالت چې پکې د (لاس او پښو) ګوتې له معمول څخه ډېره اندازه پېړوالي مومی چې معمولاً د (Neurofibromatosis) په سندروم کې لیدل شي.

## Pachydactyly

د ( Pachydactylia ) په انډول.

## Pachyderma

د پوستکی غیر نورمال پېړوالي چې پکې په غیر وصفی توګه خرم ډوله تحت الجلدی منضم نسج الاستیکیت بدلون او کمښت له امله منځ ته راځی لکه د ا کرومیګالی کې چې د ( Fibroblasts او Collagen ،Protein-Rich Mucin ) راټولېدنې له کبله منځ ته راځی او د (Myxoedema) په ناروغۍ کې شتون لری ، د (Pachydermia) په انډول.

**- Pachyderma Alba**

سپین ډوله پچی درما چې پکې د مخ د غومبری ( Buccal Mucosa) برخه داسې بڼه غوره کوی لکه چې سپین فیل یې تر شا پټ وی

**Pachyderma Circumscriptum**

پدې حالت کې د(غوټه، زخه، دانه.) ډوله موضعی اپتلیائی پېړوالي د صوتی حبول (Vocal Cords) لپاسه منځ ته راځی .

**- Pachyderma Laryngis**

حنجری پچیدرما ، پدې کې د ګلوټیس خلف ( Posterior Glottis) برخه کې اضافی وده منځ ته راځی چې بعضاً صوتی حبولونه هم اخته کوی.

**- Pachyderma Lymphangiectatica**

د لمفاوی چینل بهېر د ودرېدنې (ډنډېدنې) له امله د (Elephantiasis) حالت .

**- Pachyderma Oralis.**

د (Pachyderma Alba) په انډول.

**- Pachyderma Verrucosa**

د مزمن زخې دانې الیفانتیازس ( Chronic Wartlike Elephantiasis) حالت بلل شی

**- Pachyderma Vesicae**

مثانی پچیدرما ، ①دا یو ډول خبیث قوت لرونکې حالت دئ چې د د مثانې قاعدې د جدار د مخاطی غشأ برخه کې سپین پلکونه (White Plaques) منځ ته راځی .② همدا رنګه شدید ډول د (Elephantiasis) دئ چې پکې متوسع تناکې ډوله (-Vesicle Like) تحت الجلدی لمفاتیک منځ ته راځی.

**- Dual Chamber Pacemaker**

هغه مصنوعی دزړه ضربان پېښونکې چې په یوه دهلېز او بل بطین کې تثبیت او ښځ کړای شوی وی د دې له لارې د زړه د برېښنائی مېخانیکی فعالیت تناسب پیدا کوی.

**- Ectopic Pacemaker**

د سینوسی –دهلېزی ډول غوټې څخه پرته د زړه هر بیولوژیک ضربان پېښوونکې چې په نارمل حالت کې غیر فعال وی.

**- Epicardial Pacemaker**

دزړه پسمیکر .هغه الکترود چې معمولاً د اپې کارډیوم سره نښتې وی او ښائې د صدر په بېلابېلو برخو کې ځای پرځای شي تر څو د زړه نظم (ریتم ) کنترول کړی.

**- Escape Pacemaker**

هغه اکتوپیک ضربان پېښوونکې چې د سیالې په پیلوونه کې د سینوسی دهلېزی غوټې د کمزورۍ له امله ایمپالس تولیدېږی.

**- Fixed –Rate Pacemaker**

مصنوعی دزړه ضربان پېښوونکې چې یوازې د یوه ساده چټکتیا (Rate) لپاره پکاریږی.

**- Rate Responsive Pacemaker**

هغه مصنوعی دزړه ضربان پېښوونکې چې د زړه د دهلیزی فعالیت د نا اړونده پارامترونو لرونکې د تنظیم ور چټکتیا څښتن تحریکونه تولیدوی.

**- Runaway Pacemaker**

هغه مصنوعی دزړه ضربان پېښوونکې چې ښه کار نکوی او څل د زړه ضربان لوړوی او تاکی کاردیا منځ ته راوړی.

**- Secondary Pacemaker**

ثانوی پسمیکر ، اکتوپیک د زړه ضربان پېښوونکې .

**- Single Chamber Pacemaker**

د یوه منفذ لیږ درلودونکې ضربان پېښوونکې ماشین چې دغه لیږ په دهلیز یا بطین کې اینبودل کېږی.

**- Wandering Arterial Pacemaker**

هغه حالت چې پکې د زړه سرعت د کنترولوونکی ماشین ایمپالس د تولید سرچینه تقریباً په هر ضربان له یوه ټکی څخه بل ټکی ته لیږدیږی.

## Pachy-

دا یو مختاړې دی، او د (پېړوالي ، پنډ ، ضخیم، Thickening) معنی ورکوی .

## Pachyblepheron

د لېمو (سترغلو) پېړوالي یا پنډېدل.

## Pachycephalic

د (Pachcephaly) اړوند صفت.

## Pachcephaly

د سر دکوپړۍ د هډوکو پېړوالي یا پنډېدل.

## Pachydrmatocele

هغه شبکوی ډوله نیوروما چې خورا لویه اندازه پیدا کوی او الفانتیازیس ته ورته حالت رامنځ ته کوی.

## Pachydrmatous

پېړ پوستکي ، هغه څوک سړي چې پېړ او پنډ پوستکي لري. د (Pachyderma) اړوند صفت .

## Pachydermia

د (Pachyderma) په اړه ول.

## Pachydrmioperiosis

هغه پچیدرما چې مخ او سکالپ نیسی او ډیسټال هډوکو پنډوالي زیاتوی او اکروپتیی را منځ ته کوی .

## Pachyglosia

د ژبې د پنډوالي غیرنورمال زیاتوالي. پېړه ژبه .

## Pachygyria

د (Macrogyria) په اړه ول.

## Pachyleptomeningitis

د ډورا متېر او پیا متېر ګډ التهاب .

## Pachymeningitis

د دماغ او نخاغ د ډورا متېر(Dura Mater) طبقې التهاب .

**- Hemorrhagic Pachymeningitis**

وینه بهوونکې پچیمیننجیټ، د دماغ او نخاغ د ډورا متېر(Dura Mater) طبقې وینه لرونکې التهاب چې د بېلابېلو لاملونو له امله پېښېږی .

**- Hypertrophic Pachymeningitis**

ضخاموی پچیمیننجیټ ، د دماغ او نخاغ د ډورا متېر( Dura Mater) طبقې ضخاموی (Hypertrophic)التهاب چې د مزمن خپاره التهابی فیبروزس له امله پېښېږی او نخاع لپاسه فشار منځ ته راوړونکې دپام وړ (جدی) ناروغی ده د لومړی ځل لپاره د (Charcot And Joffroy) پذریعه په (19th Century) پېړۍ کې شرحه شو او د یولړ انتانی ناروغیو په لړ کې (Hepatitis B، Tuberculosis ، Syphilis Or Fungi او HIV ) پېښېږی.

**- Idiopathic Hypertrophic Pachymeningitis**

د دماغ او نخاغ د ډورا متېر(Dura Mater) طبقې ضخاموی آیدیوپتیک التهاب.

**- Ossifying Pachymeningitis**

تکلسی پچیمننجیټ ، د دماغ او نخاغ د ډورا متېر (Dura Mater) طبقې تکلسی التهاب چې ډیورا د هډوکي په څېر اوښتنه کوی او ورته (Perimeningitis) هم ویل شی.

**- Rheumatoid Pachymeningitis**

د دماغ او نخاغ د ډورا متېر(Dura Mater) طبقې روماتوئید التهاب چې پکې [ روماتوئید فکټور (100 IU/Ml) ، روماتوئید آرتریټ پاراستیزیا ، د اشیل وتر (Achill Tendon) روماتیک نوډولونه] ناروغۍ په ګډه ډول شتون لری .

## Pachymeningopathy

د ډورامتېر هر ډول غېر التهابی ناورغۍ.

## Pachymeninx

د (Dura Mater) په اړه ول .

## Pachyonychia

د نوک غېر معمول پېړوالي .

**- Pachyonychia Congenita**

ولادی ډول د نوک غېر معمول پېړوالي چې نادر او ارثی بڼه لری د لاسونو د ورغوو او پښو د تلو د ښېدربغه هایپرکراتوزی او د لوکپلاکیا سره پېژندل شی .

## Pachyostosis

هغه حالت چې په فقاریه حېواناتو کې د هډوکو پېړوالي زیاتوالي مومی چې پکې د مُخ عظم برخه لړوالي مومی او حتې ورکېږی چې په دواړه ( Terrestrial او Aquatic ) فقاریه وو کې لیدل شی.

## Pachyotia

د غوږ د پېړوالی او پنډ کېدنې حالت .

## Pachyperiostitis

د هډوکو د پریوسټ برخې د پنډوالی التهابی بڼه .

## PachyPeritonitis

د پریتوان د طبقې پېړوالی التهابی حالت بڼه.

## Pachypleuritis

د پلورا د طبقې پېړوالی التهابی حالت بڼه. د (Fibrothorax) په اړه ول.

## Pachyrhinia

د پوزې د پېړوالی حالت .

## Pachyrhizus Tuberosus

ممپلې ، د دوه زړی لرونکې نبات چې اوږدې جرړی لری په امازون کې موندل شی .

## Pachysalpingitis

د رحمی تیوب د پنډېدلو سره مل مزمن نفیری التهاب.

## Pachysalpingo-ovaritis

د رحمی تیوب د پنډېدلو سره مـــل مزمن نفیـــــری – مبیضی التهاب .

## Pachysomia

هغه حالت چې پکې د بدن رخوه اقسام (Soft Tissues)

پېړوالي مومي.

## Pachytene

د میوز (**Meiosis**) په پروفیز کې د زیګوټین څخه وروسته مرحله چې په لړ کې یې کروموزومونه لنډېږي ، پنډېږي او دوه مجزاً کروماتیدونو چې د سنترومیر په ځای کې سره نښتي دي ویشلې کېږي جوړ شوي هومولوګ کروموزومونه چې ساینپس پواسطه یو له بل سره نښلېدلي دي څلور کروماتیدي تتراد جوړوي .د ناخورلنې کروماتیدونو تر منځ تقاطع د تېر وبېر (**X**) شیازماد پیښېدنې لامل ګرځي.

## Pachyvaginalitis

د تونیکا وجینالیس پنډېدل او التهاب.

## Pachyvaginitis

د مهبل د جدارونو د پنډېدلو سره یو ځای مزمن واجینیت .

## Pacifier

د یوه ماشوم ګونګوالی حالت .

## Pacing

د ضربان منځ ته راوړل ، د جراحی عملیات له لارې د زړه د پسمېکر ځای پرځای کولو کړنلاره.

**- Asynchronous Pacing**

هغه زړه ته ضربان ورکول چې په هغه کې د ثابتې چټکتیا لرونکې پیسمیکر پواسطه سیاله تولیدېږي او د زړه فعالیت پوری چندان تړاو نلري.

**- Burst Pacing**

د (**Overdrive**) په انډول.

**- Coupled Pacing**

یو ډول غبرګ پسمېکر کېښودنه ده چې په هغه کې د ناروغ ډیپولرایزیشن لومړی تحریک دئ او دوهم هغه د زړه ضربان پېښوونکې ماشین پواسطه تر سره کېږي.

**- Overdrive Pacing**

د ځینوارېتمیا ګانو درملنې په موخه د زړه مصنوعی ضربان پېښوونکې پواسطه د زړه درزا (ضربان) چټکتیا زیاتول.

**- Paired Pacing**

په غبرګ ډول د زړه پیسمېکر پداسې ډول چې دوه پرلپسې سیالې زړه ته ورکول کېږي تر څو تاکی اریتمیا ګانې په ورو کړل شي او د زړه کار ښه والې ومومی.

**- Ramp Pacing**

پداسې ډول د دزړه پیسمېکر کېښودل چې زړه ته پرلپسې بدلون او چټک تحریکونه رسېږي او پدې ډول ټاکی اریتمیا ګانې ښه والې مومي .

**- Synchronous Pacing**

پداسې ډول د دزړه پیسمېکر کېښودل چې زړه د یو یا څو جوفون فعالیت څخه پلاس راغلې معلومات د پیسمېکر ماشین پواسطه د ایمپلس (سیالې) د تولید لپاره پکارېږي.

**- Under Drive Pacing**

د داسې پیسمېکرونو پواسطه د ځینو ټاکی کاردیا ګانو د لېرې کولو لپاره یوه طریقه ده چې ناهمغږی او دداسې چټکتیا څښتن وی چې ټاکی کارډیا د چټکتیا حتی تر یوه کسر پورې هم نه رسېږي.

## Pacinian Corpuscle

هغه حسی عصب د پایلې برخه چې په جلد کې خاتمه مومی چې تماس او اهتزاز پّه وړاندې حساس وی.

## Pack

ټامپون ، هغه تامپون د ګازونو یا مالوچ پاغونده چې معمولاًد سوریو لکه (پوزې ، مهبل ) د ډکون لپاره پکار وړل شي.د ملا یا شا غوټه ، ګېډۍ ،بنډل، پنډه ډله،ټولۍ، پنډول کول،انډۍ کول ، ترل،ډله کول،ټولول،غونډول ، دټګۍ اوبرګۍ په اتزلاس ته کول، دچل ول په ذریعه بودول ، یوډول څادر یا بړستن کې د ناروغ د پیچلو په مرسته درملنه او د غړو پټول او ګرم ساتل، بسته ، پاکټ ، بقچه ، کیسه ، توبره

**- Pack Animal**

څاروې ، چهارپا ، باروړونکې حیوان .

**- Packed Cell Volume**

د وینې د حجراتو څخه ډک حجم او پاکټ چې د ناروغیو په درملنه کې پکارېږي.لکه د سروکریواتو (**Haematocrit**)پاکټ یا ترومبوسیټونو پاکټ

**- Pack Ice**

دیخ ټوټه ، لامبوزن یخ .

**- Pack of Sticking Plaster**

د بسته بندی یا پاکټ لپاسه د لیبل وهنه .

## Package

بسته بندی کولو عمل ، بسته بندی ،بسته ، محموله ، کارټن ، جعبه ، صندوق ، صندوقچه ، مجموعه ، دسته ، یوځای ترل شوې کڅوړه ، د یوه ګاز یا اسفنج ترل شوې بسته.

## Packed

بسته ئی ، بسته بندی شوې.

## Packing

**1**- د موادو بسته بندی **2**-د غابښ د جوف دننه پلته

بوکسیناتور بهرنۍ سطحې تر منځ یې ځای نیولې او په ماشومانو کې یې ښه وده موندلې ده .

## Padded

هغه څه چې د نرمو موادو پتوګه بسته بندي شوې وي او په ببلابېلو بڼو واوړي.

**- Padded Cell**

د پوست او نرم پوښ لرونکې کوټه ګۍ چې تر څو رواني ناروغان یا زنداني کسان ځانته ضرر ونشي رسولای.

## Padding

نرمه طبقه جوړول ، طبقه ئی کول ، نرم پوښ ورکول .

## Pae-

دا یومختاړې دئ او د معنی پوهېدنې لپاره کارول شي او همدارنګه هغه کلمې چې په (Pe- ) پیل کېږي دا معنی لري.

## Paed-

دا یومختاړې دئ او د ماشوم معنی لري او هغه کلمې چې په ( Ped- ، Pedo- ، Ped ،Paedo-) پیل کېږي ورته معنی بشپړوي .

## Paediatric

د ماشومانو ناروغیو د درملنې اړوند صفت ، ماشومانو اړوند صفت ، کوچنیانو اړوندصفت ، اطفالو اړوند صفت .

**- Pediatric Neonatology**

د ماشومانو د نوي زوکړو اړوند ناروغیو څېړونو علم او پوهه.

**- Pediatric Allergy and Immunology**

د ماشومانو د الرژی او ایمیونولوژی اړوند ناروغیو څېړونو علم او پوهه.

**- Pediatric Cardiology**

د ماشومانو د دزړه اورګونو اړوند ناروغیو څېړونو علم او پوهه.

**- Pediatric Critical Care**

د ماشومانو د جدي څارنې اړوند ځانګه.

**- Paediatric Day Surgery**

د ماشومانو د ورځنې جراحي درملنې ناروغیو اړوند ځانګه.

**- Pediatric Dermatology**

د ماشومانو د پوستکی اړوند ناروغیو څېړونو علم او پوهه.

**- Paediatric Hospital**

د ماشومانو اړوند ناروغیو څېړونو اودرملنو ځانګړې روغتون.

**- Pediatric Emergency Medicine**

د ماشومانو د بېړنیو اړوند ناروغیو څېړونو او درملنو ځانګه.

کېښودنه تر څو جوف مجرا ونه ترل شي(د غاښ طب کې) ، د ترلو اړوند پروسه .

## Pack up

د کار ودرول لکه زړه ساده پک کېږي تر څوتر فشار لاندې راشي.

## PACT

د (Prescribing Analyses And Cost) لپاره لنډه نښه ده .

## Pad

د زخم ترلو بالښتګوټې ، ، لفاف کول یا پوښل ، د یوې پستې بڼه بالښت پواسطه پوښل ، یو کوچنۍ بالښت ته ورته چې د نرمې مادې څخه جوړ شوې زخم بندی لپاره کارول شي ، لاره ، معبر ، دزد پیاده ، لاروی آس ، پیاده سفر کول ،قدم وهل ، تر پښو لاندې ځپل ، د پښو غږ ، توشک ، هر نرم او پوست څیز ، اوبه وچ کوونکې مرکب ، د پوستکي د یوې برخې پېړوالې .

**- Abdominal Pad**

د ګېډې د تېونو د افرازاتو وچولو لپاره او احشاوو پاکوولو لپاره ټوکری پېډ ، بطني پېډ .

**- Buccal Pad**

د (Sucking Pad) په انډول .

**- Dinner Pad**

د پلاستري پوښ له کارولو د مخه د معدې په مخ ایښودل کېږي بیا پېډ لیرې کېږي او تر پوښ لاندې فضأ تر خوړو وروسته د معدې له اتساع سره انطباق ورکول کېږي.

**- Fat Pad**

لوی د وازدې څخه جوړ بالښت چې د زنګون د سترګې د څټ او کښتنۍ برخه کې ځای لري ، د (Suctorial Pad) په انډول.

**- Gauze Pad**

د ململ ګاز څخه جوړ شوې پېډ .

**- Knuckle Pad's**

د ګوتو تر منځ بندونو په شاتنی سطحه باندې د پوستکی نوډولر پنډ کېدل.

**- Reromolar Pad**

نسجي بالښت ډوله کتله چې د منډیبول د ډیستال ژۍ په نهایت کې پرته ده .

**- Pad of Soft Cotton**

د نرم او پوست مالوچ (پنبې) څخه جوړ پېډ .

**- Sucking Pad**

د (Suctorial Pad) په انډول.

**- Suctorial Pad**

د شحمی نسج لوبولی کتله چې د (Masseter) عضلې او د

د ماشومانو د ودې او سلوک سمون چارو اړوند څېړنیزه علمي څانګه.

## Paedo -

دا یومختاړې دئ او د ماشومانو معنی لري

## Paedodontia

د ماشومانو د غاښ جوړولو ناروغیو درملنې څانګه، د (**Pedodontia**) په انډول .

## PAF

د پلاټیلټ فعالوونکی فکټور ( **Platelet Activating Factor**) لپاره لنډه ننبه ده.

## Paget's Disease

د پجټ ناروغی ، د تیبونو د سرطان یو ډول چې په خارښت لرونکی سرې مخې (**Itchy Rash** ) سره رنګه اندفاعاتو سره د حلیمې چارپېر کې پیل مومی چې لومړې ځل د (**James Paget**) انګلستان جراحی عالم له خوا په (**1877-1899**)کالونو کې شرحه شو. د ( **Osteitis Deformans**) په انډول.

## -pagus

دا یو روستاړې دئ او د یوبل سره د ننښتو غبرګلونو (دوه ګونو) معنی بشپړوي.

## PAH. PAHA

د (**Para-Aminohiporic Acid**) لپاره لنډه ننبه ده.

## PAHEC

په جورجیا او ماکون د ( **Peyton Anderson Health Education Center**) لپاره لنډه ننبه ده .

## Pain

درد ، خوږ ، د یوه ځانګړې عصب د نهایت د پارېدنې څخه زېږنده نارامتیا / فشار احساس .

**- Back Pain**

د ملا درد ، د ملاتیر د شاتنۍ ښکتنۍ برخې درد.

**- Bearing –down Pain**

د زېږون د دوهمې مرحلې په بهیر کې د رحمي انقباضاتو سره مل دردونه.

**- Pain Clinic**

هغه کلینیک چې د دردونو درملنې لپاره ځانګړې وي .

**- False Pain's**

د زېږون د ورته دردونه چې د رحمي غاړې له اتساع سره مل نه وي او په هغې کومه اغېزه هم نلري.

**- Growing Pain's**

د غړو یا هډونو هغه روماتیزمي درد چې په ځانګړې ډول د

**- Pediatric Endocrinology**

د ماشومانو د اندوکرین اړوند ناروغیو څېړونو علم او پوهه.

**- Pediatric Gastroenterology**

د ماشومانو د معدې او کولمو (هضمي جهاز ) اړوند ناروغیو څېړونو علم او پوهه.

**- Pediatric Hematology**

د ماشومانو د وینې اړوند ناروغیو څېړونو علم او پوهه.

**- Pediatric Infectious Disease**

د ماشومانو د میکروبي (انتاني ) اړوند ناروغیو څانګه.

**- Pediatric Nephrology**

د ماشومانو د پښتورګو اړوند ناروغیو څېړونو علم او پوهه.

**- Pediatric Neuropsychology**

د ماشومانو د عقلي –عصبي اړوند ناروغیو څېړونو علم او پوهه.

**- Pediatric Nursing Care**

د ماشومانو د ناروغیو اړوند نرسنګ څانګه .

**- Pediatric Oncology**

د ماشومانو د تومورونو او سرطانونو اړوند ناروغیو څېړونو علم او پوهه.

**- Pediatric Ophthalmology**

د ماشومانو د سترګو اړوند ناروغیو څېړونو علم او پوهه.

**- Pediatric Orthopedics**

د ماشومانو د هډوکو اړوند ناروغیو څېړونو علم او پوهه.

**- Pediatric Otolaryngology**

د ماشومانو د (غوږ ، ستوني ،پوزې ، حنجرې) اړوند ناروغیو څېړونو علم او پوهه.

**- Pediatric Psychiatry**

د ماشومانو د رواني –عقلي اړوند ناروغیو څېړونو علم او پوهه.

**- Pediatric Pulmonology**

د ماشومانو د سږو اړوند ناروغیو څېړونو علم او پوهه.

**- Pediatric Rheumatology**

د ماشومانو د روماتیزم اړوند ناروغیو څېړونو علم او پوهه.

**- Paediatric Wards**

د ماشومانو د اړوند ناروغیو درملنې څانګه یا سرویس.

## Paediatrician

د ماشومانو د اړوند ناروغیو د څېړونو او درملنې پوه متخصص ډاکټر .

## Paediatrics

د ماشومانو د اړوند ناروغیو علمي څېړونو او درملنې څانګه.

**- Child Abuse Pediatrics**

د ماشومانو څخه ناوړه ګټې پورته کولو څېړنیزه علمي څانګه.

**- Developmental and Behavioral Pediatrics**

**- Pain Threshold**
هغه ټکي چې پکې د درد احساس منځ ته راځي ، د درد تریشولډ.

## Painful
خوږمن، درد لرونکې .

## Paint
رنګول ، رنګورکول ، په رنګ باندې ککړ کول.یو لړ رنګه رنګ لرونکي( انتي سپټیک ،انالجزیک او نورې مایع) چې د بدن د یوې برخې لپاسه اچول شي یا پوښل شي لکه د کالامین حملول چې د سرې مخې (Rash) لپاسه غوړول شي .

**- Paint brush**
در نګولو برس.

## Painter's Colic
د سرپو یو ډول مسمومیت چې خصوصاً رنګ کوونکو کارګرانو کې منځ ته راځي.

## Pair
جوړه، جوت ( جفت ) ،د دوه ورته شیانو سره یوځای والې یا ملتیا .

## Palae-
دا یومختاړې دئ او د زاړه یا لرغوني معنی ورکوي .

## Palaeo-
دا یومختاړې دئ او د زاړه یا لرغوني معنی ورکوي .

## Palaeocerebellum
د ماغزو د مُخیخ هغه برخه چې راتلونکی (ورودی) پیغامونه یې اکثر د پلیوسربیلار الیافو له لارې تأمینیږي.

## Palaeocerebellar
د (Palaeocerebellum) اړوند صفت .

## Palaeocortex
د اراکیوکورټکس سره مل د ماغزو د قشر هغه برخه د شاموي سیستم سره مل بشپړتیا مومي او د ففیلوجنی پلوه د نیوکورټکس څخه پخوانۍ ده .

## Palaeocortical
د (Palaeocortex) اړوند صفت .

## Palatable
خوندور، له ذایقې ډک جوړ، په زړه پورې.

## Palatal
د (Palate) اړوند صفت.

ځوانۍ په عمرونو کې شتون لري.

**- Hunger Pain**
هغه درد چې د لوږې پرمهال منځ ته راځي او معدې او اثناعشر د زخم په ناروغتیا کې منځ ته راځي.

**- Intermenstural Pain**
د هګې اچولو یا تبیض سره مل دردونه د حیض په ټوله دوره کې وي.

**- Labor Pain's**
.هغه ریتمیک دردونه چې د زېږون په ټول دور د رحم د انقباضاتو سره تړاو لري او شدت او شمېر یې پرلپسې زیاتولې مومي .

**- Pain Killer**
د درد ضد او له منځه وړونکی درمل

**- Painless**
پرته له درده حالت .

**- Painless Method**
پرته له درد څخه د یوې کړنلارې تر سره کول.

**- Pain Management**
د درد منجمنټ ، هغه لارې چارې چې پکې د درد د کمښت او له منځه وړلو لپاره کار تر سره کېږي.

**- Phantom Limb Pain**
هغه درد چې معلومېږي د غوڅ شوي هډ ځای څخه پیل مومي او احساس کېږي.

**- Psychogenic Pain**
د رواني سرچینې پورې اړوند دردونه چې پتالوژیک اړخ نلري.

**- Referred Pain**
هغه درد چې د خپل ځای څخه پرته په بل ځای کې احساسېږي.

**- Rest Pain**
د لاندینیو غړو (هډونو) په ایسکیمی پورې اړوند پرلپسې سوزېدونکې دردونه چې د( تګ ، کنبیناستو ،ودرېدنې ) پرمهال په پښو کې احساسېږي او د هوساینې -ارامتیا په وخت ښه والې مومي.

**- Sever Pain**
ډېر شدید درد .

**- Sharp Pain**
تیز درد ، هغه درد چې ډېر شدید او تېز وي.

**- Pain Pathway**
د درد لړۍ، چې د عصبي رشتو او نیورنونو سره تړاو لري او پکې سیاله له یوځای څخه د دماغ حسي قشر ته لېږدول شي.

**- Pain Receptor n**
د درد اخیستونکی رسپټورونه او عصبي پایلې برخه چې د درد په وړاندې حساس دي.

**- Pain Relief**
د درد د لږ کولو او ورک کولو عملیه .

**Palate**

تالو ، دخولې د جوف د چت (پورته تالو) برخه چې د پوزې د جوف فرش دېوال جوړولو کې رول لری اود خولې او پوزې جوفونه سره بېلوی ، څکه، خوند، ذایقه.

**- Palate Bone**

یو د هغه دوه هډوکو څخه چې کلک تالو ، د سترګو کاسه او جوف د پوزې تر شا برخه منځ ته راوړی او ورته ( Palatine Bone) هم وایی.

**- Hard Palate**

کلک تالو یعنی د تالو هډوکیزه جوړښت .

**- Soft Palates**

پوست تالو ، نرم تالو یعنی د تالو د رخوه اقسامو (پسته) برخه.

**Palatine**

د تالو (Palate) اړوند صفت دئ .

**- Palatine Arch**

د تالو د انساجو هغه فولډ (قات ) چې د نرم تالو او بلعوم تر منځ پرته ده.

**- Palatine Bone**

د تالو هډوکې ، د (Palate Bone) په انډول .

**Palatine Tonsil**

د تالو د لوزې برخه ، د (Tonsil)په انډول .

**Palatitis**

د تالو (حنک یا کام) التهاب .

**Palate-**

دا یو مختاړې دئ او د تالو(Palate) معنی لری .

**Palato-**

دا یو مختاړې دئ او د تالو(Palate) معنی لری .

**Palatoglossal Arch**

د تالو-ژبې اړوند لیندی ، لساني –حنکي قوس ، د تالو د انساجو هغه فولډ (قات ) چې د (نرم تالو ، ژبې او لوزې قدام ) تر منځ پرته ده.

**Palatognathous**

په ولادې ډول باندی دتالو درز اخته توب.

**Palatopharyngeal Arch**

د تالو-بلعوم اړوند لیندی ، بلعومی –حنکی قوس ، د تالو د انساجو هغه فولډ (قات ) چې د( نرم تالو ، بلعوم او لوزې خلف) تر منځ پرته ده.

**Palatoplasty**

هغه جراحی عملیات چې د تالو د بیا رغوونې لپاره د (Cleft Palate) په پېښو کې تر سره کېږی.

**Palatoplegia**

د نرم تالو فلج ، د پوست تالو ګوزڼ .

**Palatorrhaphy**

هغه جراحی عملیات چې د تالو د بیا رغوونې لپاره د ګنډلو طریقه ده چې د (Cleft Palate) په پېښو کې تر سره کېږی او ورته (Staphylorrhaphy او Uraniscorrhaphy ) هم ویل کېږی .

**Pale**

① پیکه، ژیړ بخون،خاثف ، رنګ الوتی حالت چې د ناروغیو له کبله پېښېږی چې پکې د مخ رنګ د وینې بهیر کمښت له امله سپین اوړی .② موږی، پوله، ټک، حد ، کېږ شپول.

**- Pale as Death**

خاثف لکه مړینه .

**- Pale Face**

سپین پوستی

**- Pale Hypertension**

خاثف فرط فشار .

**- Pale Infarct**

خاثف احتشأ

**- Looked Pale**

خاثف ښکارېدنه ، هغه ځوک یا ناروغ جې د مخ رنګ سپین ښکاره شی .

**- Pale Soft Exudative Pork**

د خوړګانو د پاسته نسج خاثف تقیحی بڼه .

**- Turn Pale**

خاثف ښکارېدنه ، هغه ځوک یا ناروغ جې د مخ رنګ سپین واوړی شی .

**Paleness**

پیکه توب، ژیړ بخون، رنګ الوتی ،خاثف ښکارېدنه ، هغه ناروغ جې د مخ رنګ سپین الوتې بڼه ولری .

**Paleo-**

دا یومختاړې دئ او د لرغونی او زاړه معنی بشپړوی.

**Paleontologist**

د لرغوني ژوندون پېژندونکي پوهاند او پوه کس .

**Paleontology**

لرغونی ژوند پوهنه ، دطبقات لارضی په اړوند اثراتو څېړنو پوهنه.

**Paleopathology**

د پخوانیو کالونو څخه راپاتې شویو بدنونو د ناروغیو

ځېړنو اړوند علمی ځانګه.

**Paleostriatial**

د (**Paleostriatum**) اړوند صفت.

**Paleostriatum**

د فیلوجنی پلوه د کرپوس سټریاټوم تر ټولو پخوانۍ برخه چې د ګلوبوس پالیدوس پواسطه ښودل کېږي.

**Paleothalamus**

د فیلوجنی پلوه د تلاموس پخوانۍ برخه یعنې هغه داخلی برخه چې د نیوپالیوم متقابل اړیکه غوځوی.

**Pali-**

دا یو مختاړې دئ او د [مکرر ، تکرار ، بیا ځلې (**Palin-**) ] معنی بشپړوی .

**Palilalia**

دا د تکلم او خبرې کولو (وینا ) اړوند اختلال دئ چې پکې ناروغ لغتونه په تکراری بڼه وایی .

**Palin -**

دا یو مختاړې دئ او د [مکرر ، تکرار ، بیا ځلې (**Pali-**) ] معنی بشپړوی .

**Palindromia**

بابېړې کوونکې ، عود کوونکې ، هغه ناروغۍ چې د درملنې په لړ کې ښه والې مومی یا رغېدنه کوی خو بیا پېښېږی .

**Palindromic**

د (**Palindromia**) اړوند صفت.

**- Palindromic Disease**

هغه ناروغۍ چې د درملنې په لړ کې ښه والې مومی یا رغېدنه کوی خو بیا پېښېږی ، عودتی ناروغۍ .

**Palinopsia**

د لید ساتنه ، د تحریک له لېرې کېدو وروسته د لید د احساس ادامه .

**Palinopsic**

د (**Palinopsia**) اړوند صفت.

**Pall-**

دا یومختاړې دئ او د ناروغیو د (عود ،بابېړې یا تکرار ) معنی ورکوی.

**Palladium**

دا یو کېمیاوی عنصر دئ چې د اټومې شمېره یې (**46**) او ښنه یې (**Pd**) ده .

**Pallaesthesia**

د ارتعاش یا اهتزاز د درک نشتوالې .

**Pallesthesia**

د زړه درزا ، د زړه ټکان ، د پښې د پُنډۍ د عضلاتو کلونیک سپزم چې ټکانی حرکتونه پکې شتون لری..

**Palmy**

دبریالې توب ښنه، نیک مرغه، خرمابڼ.

**Palpable**

دجس وړ ، هغه څه چې د بدن د فزیکې کتنې په لړ کې د لاسونو پذریعه د جس وړتیا لری او تثبیت کړای شی.

**- Palpable Mass**

د جس وړ کتله .

**- Palpable Pulse**

د جس وړ نبضان .

**- Non Palpable**

پرته له جس کولو څخه ، هغه چې د جس پر مهال نه تثبیت کېږی.

**Palpation**

جس ،لمس ، دفزیکی کتنې یوه کلاسیکه مانوره د لاسونو د ګوتو د تماس پذریعه د بدن د بېلابېلو برخو د( انساجو ،غړو ، کتلاتو) د حالت کتنې په موخه دغه ړنلاره تر سره کېږې چې د ناروغیو د تشخیص اړوند ځانګړې اهمیت لری.

**Palpebra**

لېمه ، جفن ، د سترګو سترغلی ، د (**Eyelid**) په انډول .

**Palpebrae**

د (**Palpebra**) لپاره ګڼه شمېره .

**Palpebral**

د (**Palpebra**) اړوند صفت .

**Palpebralis**

د (**Palpebra**) پورې تړلې – اړوند ، لېمه ائیز، جفنی.

**Palpebritis**

د (**Palpebra**) اړوند صفت

**Palpitate**

ریږدېدل ( لکه دزړه ټکانونه ) ، نبضان منځ ته راتګ .

**Palpitation**

رېږدېده ، نبضان ، ټکان ، د زړه پرلپسې درزا.

**Palsy**

فلج ، ګوزڼ ، پارالایزس، دفعال او منفعله حرکتونو کمښت یا کمزورتیا یا له منځه تګ .

**- Bell's Palsy**

وجهی فلج ،په وجهی (مخ) اړوند عصب کې د ناجوړتیا له امله په ناڅاپه توګه د مخ یو اړخیز فلج منځ ته راتګ .

**- Cerebral Palsy**

مغزی فلج ، د دامرکزی عصبی سیستم ناروغتیا اړوند تلپاتې (دایمی) حرکتی یوه ډله ناروغی ده چې په ماشومانو کې پېښېږی او زېږون وخت د مغزی صدمې له امله رامنځ ته کېږی.

**- Erb's Palsy**

د لاس د فلج اړوند د زېږون پرمهال رامنځ ته کېدونکې او د براخیال ضفیرې د صدمې لیدنې له کبله پېښېږی د ارب دوشن فلج بلل شی.

**- Facial Palsy**

د مخ فلج ، د (**Bell's Palsy**) په انډول.

**- Progressive Bulbar Palsy**

د ماغزو د ساقې د ښکتنی برخو د هستو د ضایعاتو له امله د (شونډو ، ژبې ، خولې ، بلعوم ،او حنجرې) د عضلاتو وژونکې پرمخ تلونکې مزمن فلج او اتروفی چې معمولاً عمر خوړلو (سپین ږیرو) کې رامنځ ته کېږی.

**- Shaking Palsy**

ټکان لرونکې فلج ، د (**Agitant Paralysis**) اجیتانټ فلج په انډول.

**- Wasting Palsy**

د نخاعی عضلی ضمور (اټروفی) له امله فلج چې پکې اخته برخې عضلی ویلې کېدونکې آفت رامنځ ته کوی.

## Pamabrom

یو کمزوری مدرر درمل چې د حیض څخه دمخه نښو نښانو (**Pms**) د آرامولو په موخه پکار وړل شي.

## Pamidron

د (**Pamidronate**) لپاره سوداګریز نوم دئ .

## Pamidronate

یو ډول مرکب درمل دی چې د دوه سوډیمی مالګو په بڼه په خباثتونو کې د (متوسط څخه تر - شدید او پیاوړې ) کچې پورې د هایپرکلسیمیا په درملنه کې پکار وړل شی.

## Pamoate

د[**4-4 Methylin Base (Hydroxy -2- Nephtoate**] درملو لپاره د (**Ussan**) له لوري ټاکل شوې نوم دئ .

**- Pyrental Pamoate**

دا یو ډول درمل دی چې د اسکاریس او فیتوی چینجیو په درملنه کې پکار وړل شی.

## Pampiniformis

د پربوټې بوټی (پېچلې ، عشقه پېچان **Tendril**) ته ورته بڼه او شکل .

**- Plexus Pampiniformis**

دپامپنیفورم ضفیره چې د مغبنی برخې کې سیر (تګ لوري) لري او د خوټلنګ او مرغېړو اړوند دندو تر سره کولو مسؤلیت پرغاړه لري.

## PAN

د (**Polyarthritis Nodosa**) لپاره لنډه نښه ده .

## Pan-

دا یو مختاړې دئ او] د هر څیز (**Everything** ، هر شی ، ټول ، بشپړ ، کامل) [ معنی بشپړوی .

## Panacea

هغه درمل چې د هرڅه ډول او هر راز ناروغیو د درملنې لپاره پکار وړل شي.

## Panadol

د { **Paracetamol (Acetaminophen)** } لپاره سوداګریز نوم دئ.

## Panagglutinin

هغه اګلوټینین چې د انسانی وینې د ټولو ګروپونو سره کریوات اګلوټینی کوی.

## Pananxiety

خپور (منتشر) او پراخ ډول اضطراب .

## Panarteritis

د ټولو شریانونو التهابی ناروغی .

## Panarthritis

د ټولو بندونو اړوند نسجونو التهابی ناروغی ،د (**Polyarthritis Nodosa**) په انډول.

## Panatrophy

د څو برخو ضمور ، د منتشر ډول اټروفی ، د ټولو برخو اټروفی.

## Panautonomic

د خودکاره عصبی سیستم (سیمپاتیک یا پارا سیمپاتیک) تر اغېزې لاندې یا له هغه سره په تړاو کې .

## Pancarditis

د زړه د ټولو طبقو (**Heart Muscle** ، **Endocardium** او **Pericardium**) التهاب .

## Pancolectomy

د ګېډې د غټو کولمو ټولو برخو قطع او راویستلو جراحی کړنلاره.

**Pancreas**

پانکراس ، هغه اوږده او لویه غد ه چې په ګېډه کې د دواړه پښتورګو تر منځ او معدې ،توری او اثناعشر تر شاپرته ده غده بهرنی افرازات هضمی انزایمونه لری او داخلی افراز یې انسولین هورمون دئ چې له بېټا حجرو څخه افرازېږی او بل یې ګلوکاګون هورمون دئ د الفا حجرو څخه افرازېږی او الفا او بېټا حجرو د یوځای کېدنې څخه د لانګرهانس(**Langerhans**)جزایر جوړېږی.

**Pancreat-**

دا یو مختاړې دئ او د پانکراس معنی بشپړوی.

**Pancreatectomy**

د پانکراس غدې د یوې برخې یا بشپړ راویستلو جراحی عملیات .

**Pancreatic**

د (**Pancreas**) اړوند صفت .

**- Pancreatic Duct**

د پانکراس قنات له پانکراس څخه اثنی عشر ته لېږدول شوېدئ او د هغه له لارې بهرنی ترشحات کولمو ته توئېږی.

**- Pancreatic Elastase**

د پانکراس الاستېز انزایم .

**- Pancreatic Juice**

د پانکراس جوس (عصاره)، د پانکراس ترشحات چې کولموته توئېږی لکه هضمی انزایمونه .

**- Pancreatic Secretion**

د پانکراس ترشحات چې کولموته توئېږی لکه هضمی انزایمونه چې کاربوهایدرېټونه هضم کوی ،د پانکراس جوس (عصاره).

**Pancreatico -**

دا یومختاړې دئ او د پانکراس معنی ورکوی .

**Pancreaticoduodenal**

د پانکراس او اثناعشر اړوند صفت.

**Pancreaticoduodenostomy**

د پانکراس او اثناعشر ترمنځ د تفمم یا د مجرا اناستوموز جراحی عملیات کړنلاره ده .

**Pancreaticoenterostomy**

د پانکراس او نرۍ کولمو ترمنځ د تفمم یا د مجرا اناستوموز جراحی عملیات کړنلاره ده .

**Pancreaticogastrostomy**

د پانکراس او معدې ترمنځ د تفمم یا د مجرا اناستوموز جراحی عملیات کړنلاره ده .

**Pancreaticojejunostomy**

د پانکراس او جیجونوم کولمې ترمنځ د تفمم یا د مجرا اناستوموز جراحی عملیات کړنلاره ده .

**Pancreatin**

هغه مواد چې د انزایمونو څخه لاس ته راځی او د پانکراس پذریعه افرازېږی او په هغه ناروغانو کې چې پانکراس یې انزایم نه تولېدوی پکار وړل شی.

**Pancreatitis**

د پانکراس د غدې د نسج التهاب .

**Acute Hemorrhagic Pancreatitis**

حاد ډول وینه بهوونکې پانکریاتیت چې د پانکراسی انساجو حجراتو ته پانکراسی انزایمونو د ننوتلو له امله پانکراسی اوتولایزیس چې د وینه بهېدنې لامل ګرځی .

**- Acute Pancreatitis**

حاد ډول پانکریاتیت .

**- Chronic Pancreatitis**

مزمن ډول پانکریاتیت .

**Pancreato-**

دا یو مختاړې دئ او د پانکراس معنی بشپړوی.

**Pancreatoduodenal**

د پانکراس او اثناعشر اړوند صفت.

**Pancreatoduodenectomy**

د پانکراس او اثناعشر د راویستلو ګډه جراحی کړنلاره.

**Pancreatogenous**

د پانکراس څخه منشه او سرچینه اخیستونکې .

**Pancreatography**

د پانکراس د راډیوګرافی انځور یا فیلم.

**Pancreatography**

د پانکراس راډیوګرافی اخیستلو ګرنلاره .

**Pancreatolithectomy**

د پانکراس د ډبرو د راویستلو جراحی عملیات کړنلاره.

**Pancreatolithiasis**

د پانکراس د قنات دننه د یا د پارانشیم د ډبرو شته والې .

**Pancreatolithotomy**

د پانکراس د ډبرو د راویستلو جراحی عملیات کړنلارې لپاره جراحی شق یا څیرنه.

**Pancreatolysis**

د پانکراس د نسج تخریب .

وی ، پراخه اپیډیمی .

- **Pandemic Disease**

پانډیمیک ناروغی .

## Panencephalitis

پان انسفالیت ، هغه دماغی التهابی ناروغتیا چې ویروسی سرچینه لری پکې داخل السایتوپلازمی او داخل الهستوی انکلوژن باډی ګانې تولیدېږی او دماغ د سپین او خړ نسج د پارانشیم د تخریب لامل ګرځی.

## Panel

دمنصفه هیئت دنومونو لست ،منځنۍ تخته، څلور کنجۍ تخته، دوره یا دېوال هغه برخه چې په چوکاټ کښې تنوتلی وي، پلنه لرګینه تخته چې په هغه کښې څېره کښل شوی وي.

## Panendoscope

هغه سیستوسکوپي کتنه چې د مثانې څخه په یوه لویه زاویه لید ته لاره هواروی.

## Panhypopitutarism

د هایپوفیز غدې د ناروغۍ یا بشپړ نشتوالی له امله د اړوند کارونو نه تر سره کېدنه یا کمښت له امله د جنسی غدې دکار نشتوالې د تایروئید غدې او اډرینال غدې عدم کفایې حالت منځ ته راتلل بلل شی.

## Panhysterectomy

د ځلانځې (رحم ) او سرویکس (عنق) په بشپړ ډول د جراحی پواسطه د راویستلو جراحی کړنلاره .

## Panhysterosalpingectomy

د جراحی عملیات پواسطه د ځلانځې (رحم ) او سرویکس (عنق) او نفیرونو په بشپړ ډول د راویستلو جراحی کړنلاره .

## Panhysterosalpingo-oophorectomy

د جراحی عملیات پواسطه د ځلانځې (رحم ) او سرویکس (عنق) ، نفیرونو او هګۍ ځالو (مبیضونو) په بشپړ ډول د راویستلو جراحی کړنلاره .

## Pang

څړیکه، نابېره ډېر تېز او شدید درد ، ناڅاپه خوږ .

- **Pangs of Hunger**

د لوږې له امله ډېر شدید د معدې درد .

## Panic

وېره، نابېره وېره، تروروالې، وار خطائی.

## Pancreatolytic

د (**Pancreatolysis**) اړوند صفت .

## Pancreatomy

د پانکراس د قنات د وازولو جراحی عملیات ، د (**Pancreatotomy**) په اند ول .

## Pancreatotomy

د پانکراس د قنات د وازولو /څیرلو جراحی عملیات ، د (**Pancreatomy**) په اند ول .

## Pancreatotropic

د پانکراس ته لېوالتیا لرل ، د پانکراس خوښوونکې .

## Pancrilipase

د سرکوزی (خوګ) د پانکراس یو ډول محصول چې د لایپیز ، امایلېز او پروتییز انزایمونه لری او د پانکراس ی عصارې په څېر اغېزی لری او د هضم درملو پتوګه کارول شی.

## Pancreoprivic

د پانکراس نشتوالې .

## Pancreozymin

د اثنا عشر کولمې د مخاط څخه افرازېدونکې هورمون چې د پانکراس د بهرنۍ افراز د پاروونې لامل ګرځی او کولیسیستوکاینین سره یو شان دئ.

## Pancronium

دا د اسکلیټی عضلاتو سست او شل کوونکې ماده ده چې د برومایدی مالګې په بڼه د بېهوښۍ سره د مرستې لپاره پکارېږی، پانکرونیوم .

## Pancystitis

د مثانې د بشپړ (ټول ټال ) جدار التهاب ، لکه د انترستیشیال سیستیت .

## Pancytopenia

په غېر نورمال ډول د وینې د ټولو حجراتو کمښت حالت.

## Pancytopenic

د (**Pancytopenia**) اړوند صفت.

- **Pancytopenic Disease**

د پانسایتو پینیک ناروغی .

- **Pancytopenic Disorders**

د پانسایتو پینیک اړوند اختلال .

## Pandemic

هغه ناروغۍ چې اپیډیمی یې د ټولو ځایونو کې خپره

چې په انسانانو کې پلاتیسما له دې ډلې څخه محسوبیږي.

## Pannus
د قرنیې لپاسه د نوې ودې ګرانولېشنی نسج سره مل د قرنیې سطحی واسکولرایزشن یا ډېر وعایې کېدنې سوروالې ، هغه التهابی اګزوډات چې د بندونو د ساینوویال حجرو په منځ کې واقع دی، تحت الجلدی وازده.

**- Pannus Trachomatosus**
د تراخم ناروغی څخه زېږنده د سترګې د قرنیې پانوس .

## Panophthalmia
دسترګو د ټول ټال نسج التهاب د (**Panophthalmitis**) په انډول .

## Panophthalmitis
دسترګو د ټول ټال نسج التهاب .

## Panosteitis
دهډوکو د ټول ټال نسج التهاب د (**Panostitis**) په انډول

.

## Panostitis
دهډوکو د ټول ټال نسج التهاب د (**Panosteitis**) په انډول .

## Panotitis
دغوږونو د ټول ټال برخو د نسج التهاب

## Panphobia
له هّر څه شی څخه ویر او ډار لرل ، د یوه ناپېژندل شوی عنصر څخه پرلپسې ډار درلودنه.

## Panproctocolectomy
د ریکټوم او کولون ټول ټال غوځولو او راویستلو جراحی عملیات کړنلاره.

## Panretina
ټول ټال د سترګو شبکیه (رتینا) .

## Panretinal
د ټول ټال شبکیې سره اړوند ، د (**Panretina**) اړوند صفت .

## Panstrongylus
د ( **Hemipterous**) حشراتو یو ډول چې تریپانوزوما لېږدوی.

## Pant
یوه لنډه دمه سا ایستنه د ډېر مهال ستړیا لېری کولو په موخه ، ستمیدل، دمه نیول ،سیلیدل، سا اچول

**- Acute Homosexual Panic**
هغه حاد غبرګون چې د نا شعوری کشکمکشونو له امله د په همجنس بازی اغېز ښندی او د شدید (اضطراب ، هیجان او فعالیت ) په مته پېژندل کېږی او غالباً د له هغه یرغلیزو حالتونو او سامعوی برسامونو سره مل وی چې تل همجنس بازی ته د لېواله ناروغ ملامتی او دګنه دسنه کوی .

**- Panic Attack**
سمدلاسه ناڅاپه د ترورالې او وارخطایې حمله .

**- Panic Disorder**
هغه اختلال چې پکې یو څوک څوکرته متکرر ډول د تروروالې او وارخطایې حمله ولری .

## Panleukopenia
د وینې بهیر د ټولو لوکوسیتونو (سپینوکرېواتو ) د شمېر کمښت حالت ،دا د پیشوګانو ویروسی ناروغی ده چې پکې د ( لوکوپینیا ، د فزیکی فعالیت کمښت ، د خوراک څخه ډډه کولو ، نس ناستی ، کانګو ) په څېر اعراضو له مخې پېژندل شی.

## Panmyelophthisis
اپلاستیک وینه لږې ، د ( **Aplastic Anemia**) په انډول.

## Panniculectomy
د جراحی کړنلارې پواسطه د خربه او چاغو کسانو د ګېډې جدار څخه د سطحی وازدې لیرې کولو عملیات.

## Panniculitis
د پوستکی د تحت الجلد برخې وازدې ( **Panniculus Adiposus**) التهاب په ځانګړې توګه د (ګېډې ، تیپونو، ورنونو ) برخو شحمی نسج (التهاب ،درد او پړسوب) منځ ته راتګ .

**- Nodular Nonsuppurative Panniculitis**
د پوستکی د تحت الجلد برخې وازدې غېر تقیحی التهاب په ځانګړې توګه د دغو برخو شحمی نسج (التهاب ، دردناکه غوټو او پړسوب) جوړېدو په مرسته پېژندل شی .

**- Nodular Relapsing Febrile Nonsuppurative Panniculitis**
د (**Nodular Nonsuppurative Panniculitis**) په انډول.

## Panniculus
د غشأیی نشج یوه طبقه .

**- Panniculus Adiposus**
د پوستکی د تحت الجلد برخې لاندې برته د وازدې نسجی طبقه .

**- Panniculus Carnosus**
په سفلی حیواناتو کې په صفاق (فاسیا) کې عضلاتی طبقه

(Anatomist) اناټومیسټ ښاغلی (George Nicholas Papanicolaou) له خوا په متحده ایالاتو کې د کار پرمهال شرحه شو.

## Papaveretum

د اپینو (تاریاک Opium) د مستحضراتو څخه یو مشتق دئ او د دردونو د کمښت په موخه کارول شي.

## Papaverine

هغه الکالوئید د اپینو څخه پلاس راځی او یا په موضعی ډول جوړېږی او د مالګي څخه یې د عضلاتی سست کوونکې مادې پتوګه کار اخیستل شي.

## Paper

کاغذ، سپینه پاڼه هغه ماده چې د فایبری موادو د نازکو پوښونو څخه جوړه شوېوی او په پیل کې د حمیرې په بڼه وی .

**- Laboratory Examination Paper**

د لابراتوار اړوند کتنواړوند کاربدونکې کاغذ.

**- Litmus Paper**

د نم زبېښونکې کاغذ چې پهه لیتموس محلول لړل شوېوی چې په اسیدی محبط کې سور او قلوی محبط کې آبی رنګ ته اوړی .

**- Test Paper**

هغه کاغذ چې یو لړ مرکباتو باندې لړل شوېوی او په کېمیاوی تعامل کې رنګ اړوی.

## Papery

کاغذي ،د کاغذ څخه جوړ شوې، کاغذ په څېر ورته.

## Papilla

حُلیمه ،پپیلا څوکه لکه د (تې څوکه او ژبې څوکه).

**- Papilla of Cornium**

د پوستکی د درم اړوند یوه طبقه ده . قرنی (ښکریزه) پپیلا.

**- Dental Papilla**

د غاښ په مینا کې سخته او کلکه میزانشیمال کوچنۍ کتله چې د ډنتین (Dentin) او غاښي پولپ سره توپیر مومي.

**- Dentinal Papilla**

د (Dental Papilla) په انډول.

**- Dermal Papilla**

د پوستکی د اپی درم برخې تر ټولو ښکتنۍ سطحه کې د (Reteridge) ترمنځ یا ښکتنیو فضاً ګانو ته د کوریوم اعصابو شعریوی دموی رګونو او الیافو مخروط ډوله خپراوې.

**- Duodenal Papilla**

د نری کولمو د اثنی عشر د مخاط په سر حجروی کوچنۍ دوه راوتلې برخې چې لویه یوه یې د پانکراس او صفراوی ګډې

تیګاوهل، ډېره آرزو لرل.

## Pant-

دا یومختاړې دئ او د (بشپړ ، ټول ټال ، کامل ، Pan) معنی بشپړوی.

## Panto-

دا یومختاړې دئ او د (بشپړ ، ټول ټال ، کامل ، Pan) معنی بشپړوی.

## Pantetheline

د (Pantothenic Acid) امايد ډول چې د (Coa) په بیوسنتېزس کې منځنۍ ماده ده ، دغه آماید د (Lactobacillus Bulgoricus) د ودې فکټور دئ او د ځینو انزایمی مرکبونو لپاره کوفکټور شمېرل کېږی.

## Pantothenate

د (Pantothenic Acid) مالګیزه بڼه درمل.

## Pantothenic Acid

د (A) کوانزایم یو جزء او د (B. Complex) ویټامینونو یو غړې دئ دغه ماده د حیواناتو د تغذیې لپاره اړینه او ترزښتناکه ماده ده او د (ینې ، تومنې ، هګۍ ) کې موندل کېږی.

## Pantotropic

د هغه ویروس پورې اړوند چې د بدن بېلابېلې برخې تر تېری لاندې راولی .

## Pantropic

د (Pantotropic) په انډول.

## Pap

دکوچنیا نو او ناروغانو دپاره پاسته اونرم خواړه لکه ( شوله، شیره اوداسې نور) ،دتیپونو څوکه.

## Papain

د (Carica Papaye) عصارې څخه پلاس راغلې پروتیولاتیک انزایم چې په امینواسیدونو د پولی پیپټایډ او پروټینونو هایدرولایزس کتلایز کوی او د پروټین هضم او انزایمونو د ډیبرېډمنټ لپاره موضعی ډول پکار وړل شي.

## Papanicolaou Test

دا یو ډول آزمایښت دئ چې د خباثت ټاکنې لپاره د تلوین مېتود دئ او رحم عنق د نمونې د تثبیت لپاره ډېر کارول شی دا د (Pap Test) پنامه هم یادېږی او لومړی ځل په (1933–1962) کالونو کې د یونانی ( Greek

- **Lingual Papillae**

د ژبې اړوند حلیمې لکه (Conical، Foliate، Filiform، Fungiformis) په څېر .

- **Pili Papillae**

د ویښتانو پاپیلاګانې .

- **Renal Papillae**

د ګردې شویو پښتورګو هرمونو اړوند رأسی برخه.

- **Vallate Papillae**

هغه (8-12) لویې پاپیلاګانې چې د (V) په بڼه د ژبې بېخ ته نږدې راغونډې شویوی .

## Papillary

راوتلې ، حُلیموی ، د پاپیلاوو(Papillae) اړوند صفت.

- **Papillary Breast Cancer**

د تیبونو اړوند کانسر (ناسور) ناروغی .

- **Papillary Dermis**

د جلد د درم پاپیلاوې چې تر ټولو سطحی موقعیت لری او د پستو او منظمو سست کولاجن رشتو څخه جوړ دئ.

- **Papillary Ducts**

حلیموی قناتونه .

- **Papillary Hidradenoma**

حلیموی هیدرادینوما تومور .

- **Hereditary Papillary Renal Cell Carcinoma (HPRCC)**

په ارثی ډول منځ ته راتلونکې د پښتورګو حجراتو حلیموی کارسینوما تومور چې خبیثه بڼه لری.

- **Papillary Intralymphatic Angioendothelioma**

حلیموی د لمفاوی چینلونو تر منځ پروت د انجیواندوتلوما تومور.

- **Papillary Layer**

حلیموی طبقه.

- **Papillary Mesothelioma**

حلیموی ډېر سخت تومور دئ چې (0.5 - 5.0 Cm) په اندازه تومور دئ او له پریتوان څخه په ( 40 - 30 کالونو Premenopausal) ښځو کې سرچینه اخلی د مکعبی حجرو پواسطه فرش دئ

- **Papillary Muscle**

حلیموی عضلات .

- **Papillary Muscle Dysfunction**

د حلیموی عضلاتو اختلال .

- **Papillary Necrosis**

دا د حاد پیلونفریت اړوند یو اختلاط دئ چې پکې د پښتورګو حلیموی برخې نکروز کوی او (کلیوی قلنج ، پایوریا منځ ته راځی). او

مجرأ د راوتلو ځای دئ او کوچنۍ یوه یې د پانکراس د فرعی مجرأ د راوتلو ځای دئ.

- **Gingival Papilla**

د اوریو مخروطی ډوله پاړ چې د پیوستون تر ځایه د غاښونو تر منځ فضأ ډکوی.

- **Hair Papilla**

فایبرووااسکولار مېزودرمی پاپیلاچې د وېښته پیاز احاطه کوی.

- **Incisive Papilla**

د تالو د رافی برخې د قدامی نهایت راوتلتیا .

- **Interdental Papilla**

د اوریو پاپیلا .

- **Lacrimal Papilla**

د سترګو د داخلی زاویې ته نږدې په ملتحه کې پاپیلا.

- **Mammary Papilla**

د تیبونو څوکه .

- **Optic Papilla**

د اوپټیک ډیسک ، بصری ډیسک.

- **Palatine Papilla**

ثنایائی پاپیلا.

- **Tectile Papilla**

د ( Corpuscle) په انډول.

- **Uretheral Papilla**

د احلیل د بهرنی سوری په خارجی برخه کې د مهبل په ویستیبولی سیمه کې کوچنۍ راوتلتیا .

## Papillae

ګڼ شمیر حلیمې ، د پاپیلا(Papillae) لپاره ګڼه شمېره .

- **Circumvallate Papillae**

د ژبې اړوند (Vallate) پاپیلاګانې.

- **Conical Papillae**

هغه خپرې بڼه راوتلتیاوی چې د ژبې په سر پرتې دی او غالباً د سمو شوو تار ډوله (فیلیفورم) پاپیلاګانو په توګه په پام کې ساتل شی.

- **Filiform Papillae**

د ژبې په سر پرتې دی تار ډوله پاپیلاګانې چې د ژبې لویه برخه یې پوښلې ده.

- **Foliate Papillae**

د ژبې د جسم او بېخ د پیوستون په ځای کې د ژبې په څنډو او ژبو کې موازی مخاطی چینونه /کوتونه.

- **Fungiformis Papillae**

هغه غوټه ډوله راوتلې پاپیلاوې چې د ژبې په مخ او د تار تار ډوله پاپیلاګانو تر منځ په خپره بڼه پرتې دی دا پاپیلاګانی د خوند (تریخ خوند شیانو ذایقې ، تودوخې رسپتورونه لری ) او د بڼه ارواء لرونکی دی.

د [Analgesics لکه (Aspirin) ، Phenacetin ، Cyclophosphamide پذریعه درملنه او Sickle Cell Anemia ، Ischemia ، Post-Obstruction (Pyelonephritis) په لړ کې پېښېږی د بډوډو نه بریالیتوب لامل ګرځی.

- **Papillary Process of Caudate Lobe of Liver**

د ینې (ځیګر) د (Caudate Lobe) کینې ښکتنی زاویه چې د (Caudate Process) مقابل ته واقع ده چې ورته نوم یې [Processus Papillaris Lobi Caudati Hepatis] دئ.

- **Papillary-marginal-Attached**

حلیموی کناری (څنډیزه) نښته.

- **Papillary Renal Cell Carcinoma**

د پښتورګو اړوند حجرو حلیمی کارسینوما.

- **Papillary Rhinosinusitis**

دا نادر پېښېږی چې پکې د پوزې د نسج التهاب د پولیپ سره مل وی لکه د (Nasal Polyps) په څېر.

- **Papillary Ring**

حلیموی حلقه (کړی).

- **Papillary Serous Cystadenocarcinoma**

د حلیموی ډول مخاطی سیسټ اډینوکارسینوما تومور.

- **Papillary Stasis**

حلیمی ستازیس ، حلیموی ډنډتوب (رکودت).

- **Papillary Thyroid Cancer**

حلیموی د تایراید غدې معمول کانسری تومور ، چې ورته (Papillary Thyroid Carcinoma) هم وایي په (75-85) سلنه منځ ته راځی دا تومور په ښځو د عمر په (20–55) کلنیو کې پېښېږی .چې په ماشومانو کې د کانسر پریډومیننټ (Predominant Cancer) ډول ګڼل شی

- **Papillary Tumors**

حلیموی کتلات او تومورونه چې په امریکا کې د هضمی جهاز (5%) د پانکراس تومور (12%) د هضمی جهاز لپاره ګڼل کېږی.

## Papillectomy

د جراحی عملیات پواسطه د حلیموی جوړښت غوڅولو جراحی عملیاتی کړنلاره بلله شی.

## Papilledema

د بصری ډیسک پړسوب او اذیما.

## Papilliferous

پاپیلا یا حلیمې منځ ته راوړونکې.

## Papilliform

حلیمې ته ورته او مشابه جوړښت.

## Papillitis

پاپیلایتیس ، د سترګو حلیمې برخې التهاب ، دسترګې په خلف کې د بصری ډیسک التهاب.

- **Acute Papillitis in Young Female**

دځوانو ښځو حلیموی التهاب .دا د توکسوپلازموزس ناروغی په لړ کې پیښېږی چې ورسره د (Retinochoroiditis) ناروغی مل وی او د بصری عصب او دماغی غشې او عیې اخته کوی او ښایې د [Juxtapapillary Retinitis (Jensen Choroiditis] له کبله په ثانوی ډول پیښ شی .

- **Eruptive Lingual Papillitis**

د ژبې اړوند پاپیلاګانو ګربدلې (Eruptive) التهاب / سیستمیک ناروغی ده چې د لمفاوی غدواتو ضخامه ورسره وی حمله نابېره وی او ښایی چې (Angular Cheilitis) ورسره مل ولیدل شی .

- **Optic Papillitis**

.

دبصری عصب د ډیسک حلیموی التهاب چې پکې د عصب د رأس برخې التهاب منځ ته راځی ورته د (Intraocular Optic Neuritis) او (Retrobulbar Optic Neuritis) نوم هم ورکړل شوېدئ چې ورسره د( لیدنې ،د ګاتی حرکی او حسی ) اختلال او د (Multiple Sclerosis) لپاره لومړنی نښه بلل شی.

- **Transient Lingual Papillitis**

د ژبې تېرېدونکې حلیموی التهاب ، دا ډول د (50%) حدودو حلک اخته کوی او معمولاً په ځوانو ښځو کې منځ ته راځی او ورسره به د [موضعی تخریش ، ترضیض د (Fungiform Papilla) اړوند] شتون ولری او سربېره پردې به د [فشار (Stress) ، هورمون تغیرات (Hormone Fluctuations) ، د معدی معائی سیستم اختلال د یولړ خوراک اړوند] څرګندونه ولیدل شی.

## Papillo -

دا یومختاړې دئ او د حلیمې معنی بشپړوی.

## Papilloadenocystoma

د (Papillary Cystadenoma) په اندول.

## Papillocarcinoma

حلیموی کارسینوماخبیث تومور.

## Papillocystoma

حلیموی سیستوما تومور.

## Papilloedema

د حلیمې اذیما ، دسترګې په خلف کې د بصری ډیسک (Optic Disc) دننه د مایع / اوبو راټولېدنه او پړسوب دئ چې د دماغی فشار لوړوالی حالت کې لیدل شی ، د (Papilledema) په اندول که چېرې په یوه لورې کې و موندل شی دا به د سترګو اړوند پتالوژی څرګنده کړی لکه د (Optic Nerve Glioma) په څېر .

## Papilloadenocarcenoma

پاپیلوآډینوکارسینوما ، د (**Papillary Cystadenoma**) په انډول .

## Papilloma

پاپیلوما ، هغه سلیم تومور چې د اپیتلیوم دپوستکي او مخاطي غشأ برخه کې منځ ته راځي.

**- Papilloma Choroid Plexus**

د کروئید ضفېرې (**Plexus**) اړوند پاپیلوما .

**- Papilloma Diffusum**

خپره بڼه لرونې پاپیلوما تومورونه.

**- Papilloma Durum**

دا یو غېر وصفي اصطلاح د تصلبي یا کلک شوي پاپیلائي ودې (**Indurated Papillary Growth**) لپاره چې د جلدي ښکر ( **Cutaneous Horn** یا **Verruca** ) په څېر ښلل شي.

**- Eyelid Papilloma**

د سترګو د سترغلو (لېمه ) اړوند پاپیلوما چې (ګرد ،ښویه او جذر ) درلودونکې دي.

**- Fibroepithelial Papilloma**

د اپیتلیال نسج سلیم تومور دئ چې د لیفي نسج پراخه پیمانه لري ، د(**Fibropapilloma**) په انډول.

**- Human Papilloma Virus**

د انسان پاپیلوما ویروس، چې د بدن په لمده برخو غشاګانو لکه ( **Throat**، **Mouth**، **Feet**، **Fingers**، **Nails** ، **Anus** او **Cervix** ) کښې موندل شي له (100) دولو څخه (40) یې د بولي سیستم ناروغۍ پېښوي چې [ **Verrucae (Warts)** ] منځ ته راوړي اولږ شمېر یې د سرطان ناروغۍ ( **Cervix**، **Penis**، **Vagina**، **Anus** او د **Oropharynx** ) کې پېښوي او دا پتیل شوی چې د زړه او رګونو ناروغۍ هم پېښوي لنډه نښه یې (**HPV**) ده.

**- Intracanalicular Papilloma**

دا یو سلیم ډول د ونې شکل ته ورته وده ده چې د ځینې ځانګړو غدواتو د قناتونو دننه منځ ته راځي لکه د تیبونو قناتونو دننه وده.

**- Papilloma Inguinale Tropicum**

دا یو ډول جلدي ګرېدنه اوتخریبي حالت دئ چې ګڼ شمېر یې ګلابي سلینډر (**Slender**) ته ورته د مغبني برخې (**Vegetation**) ښلل شي دا ناروغي په کولومبیا هیواد کې ډېر لیدل شي.

**- Introductal Papilloma**

داناروغي د ښځو د (**55 - 35**) عمر اړوند د تیبونو د ناروغیو (**2-3%**) جوړوي او یو سلیم ډول تومور دئ چې شیدو په قنیواتو دننه پېښېږي او د تیبونو د حلیمې ته څېرمه کتله او د حلیمې دیسچارج منځ ته راوړي محبطي تومور ډول یې د خباثت لورې ته لېوالتیا لري.

**- Inverted Papilloma**

هغه ډول تومور دئ چې د اپیتلیوم حجرو پر سطحه باندې منځ ته راځي او د حمایوي نسج لورې ته ښکته وده کوي د (پوزې ، سینوس،بولي لاره ) نیسي او ورته کلینیکي نښې څرګندوي.

**- Papilloma Molle**

دا یو ډول حلیموي وده ده اود یو غېر وصفي اصطلاح د پوستکي د سلیم آفاتو لپاره [ **Acrochordons (Skin Tags)**، **Neurofibromas** او **Nodular Pigmented Growths**] ګڼل شي چې په ډېر عمر لرونکو کسانو کې لیدل شي.

**- Papilloma Neuropathicum**

دا یو ډول حلیموي وده ده چې د عصب لپاسه منځ ته راځي لکه د (**Neurofibroma**، **Neurilemmoma** ) په څېر .

**- Papilloma Neuroticum**

دا یو ډول حلیموي وده ده چې د عصب لپاسه منځ ته راځي لکه د (**Neurofibroma**، **Neurilemmoma** ) په څېر .

**- Papilloma Papovavirus**

د پاپو ویروس پاپیلوما .

**- Papilloma Polyoma Vacuolating Virus**

د پولیوما واکیولیټنګ ویروس پاپیلوما .

**- Squamous Cell Papilloma**

د سکواموز حجرو پاپیلوما تومور چې عموماً سلیم تومور دئ چې د (**Skin**، **Lip**، **Oral Cavity**، **Tongue**، **Pharynx**، **Larynx**، **Esophagus**، **Cervix**، **Vagina** ) د (**Stratified Squamous Epithelium**) څخه سرچینه اخلي او د [ **Human Papillomavirus (HPV)**] اتنانتو له کبله پېښېږي .

**- Transitional Cell Papilloma**

د ترانزیشنال حجراتو پاپیلوما .

**- Urothelial Papilloma**

دا د ترانزیشنال حجراتو پاپیلوما ده چې د یورتیلیوم (**Urothelium**) څخه منځ ته راځي .

## Papillomas

د (**Papilloma**) لپاره ګڼه شمېره ، پاپیلوماګانې .

**- Breast Papillomas**

د تیبونو اړوند پاپیلوما ګانې .

## Papillomata

پاپیلوماګانې.

## Papillomatous

د پاپیلوماګانو منځ ته راوړونکي.

## Papillomatosis

په پاپیلوماګانو باندې اخته کېدنه ، د پاپیلوماګانو د جوړېدنې حالت.

## Pap test

د ( Pap Smear او Papanicolaou Test ) په اند ول.

## PAPU

د (Plasminogen Activators In Plasma And Urine) لپاره لنډه نښه ده.

## Papular

د (Papule) اړوند صفت دئ ، پاپولي ، پاپولار.

**- Papular Acrodermatitis of Childhood**

دا یوډول جلدي تظاهرات دي چې (Hepatitis-B) انتاناتو کې پېښېږي او هغه ګزانتیم چې (غیر خارښتي ډیسکي پاپول د پښو ، کوناتیو اومټ بسطي برخو کې منځ ته راځي ، کبدي ضخامه ، کسالت) سره مل وي .

**- Papular Culture**

د پاپول برخې کلچر په لابراتواري کتنو کې.

**- Papular Dermatitis of Pregnancy**

هغه درماتیت چې د بلاربښت پر مهال منځ ته راځي او د شدید ډول اپاپولي ایروپشن ، سیستمیک سمیت چې د ارتیکاریا خارښتي پاپول ته ورته او بلاربښت پلک (Plaques) [ سره مل وي .

**- Papular Fever**

غیر وصفي اصطلاح د تبجن حالاتو لپاره ده چې د پاپول لرونکي اندفاعاتو او بندونو درد (Arthralgia) سره مل وي

**- Papular Mucinosis**

دا یو ډول لیکیني پاپولي اندفاعي حالت دئ چې د مخاطي اذیما د (Glycosaminoglycans) په وړاندې منځ ته راځي او د فیبروبلاست حجرو ارتشاح به د اندوکرین ناروغیو د نشتوالي په صورت کې لیدل شي او د (Monoclonal Gammopathy) معمولاً شتون لري .

**- Papular Myxedema**

هغه ډول ناروغي چې پکې د تایروئید غدې د فعالیت کمښت په کاهلانو کې چې د (وچ پوستکی ، شونډواو پوزې چارپیر پرسوب ، عقلي ذوال او اساسي میتابولیزم ټیټې کچې) سره مل وي .

**- Papular -Purpuric Gloves and Socks Syndrome**

د پورپورا په ناروغیو کې د دستکشو یا جرابو په ډول منځ ته راتلونکې نښې دي چې د پاپول درلودونکي دي.

**- Papular Scaling Disease**

د پوستکي هره ډله اختلال چې د ( Dry، Raised،Discrete) تفلسي آفت سره مل وي لکه د (Pityriasis ،Lichen Planus، Rosea او Psoriasis ) ناروغیو په څېر ، ورته د (Papulosquamous Disease) نوم هم ورکړل شوېدئ .

**- Papular Stomatitis**

هغه ډول د خولې د مخاطي غشأ التهاب چې پکې پاپول ته ورته جوتې او غوټې شتون ولري.

**- Papillomatosis Coronae Penis**

د قضیب د کارونا برخې پاپیلوماګانو شتون.

**- Papillomatosis Inflammatory**

د التهابي ډول پاپیلوماګانو شتون.

**- Papillomatosis Multiple**

دګڼ شمېر پاپیلوماګانو شتون.

## Papillomavirinae

د پاپیلوماویروسونه چې پاپیلوما منځ ته راوړي یوه فرعي کورنۍ ده (پاپوویریډا) چې منفرد جنس یې (Papillomavirus) دئ.

## Papillomavirus

دا د ویروسونو یو ډول دئ چې خبیث ډول تومورونه منځ ته راوړي او ځینې یې لکه ( زخې Plantar او Venereal Warts ) سلیم دي چې په پوستکي او مخاطي غشأ کې منځ ته راځي او مستقیم یا غیر مستقیم لېږدول شي.

## Papilloretinitis

د بصري ډیسک – شبکیې التهاب ، د سترګو حُلیمي او شبکیې ګډ ډول التهاب دئ.

**- Toxical Papilloretinitis**

دا یو ډول د سترګو حلیمي –شبکیې التهاب دئ چې د نرۍ رنځ ناروغۍ په لړ کې د یوې نښې په څېر پېښېږي.

**- Das Auftreten von Papilloretinitis (Gát) an BCG-Geimpften**

دا یو ډول د سترګو حلیمي –شبکیې التهاب دئ چې د بي سي جي واکسین ورکړې په لړ کې د یوې نښې په څېر پېښېږي.

## Papillotomy

دا یو ډول عملیات دئ د چې پکې د صفراوي قنات او پانکراس قنات د یو ځاي کېدنې برخې د اثناعشر(پاپیلا) کې تر سره کېږي تر څو د صفرا (تریخی ) درېناژ سمون ومومي او تیږې یا ډبرې ترې راویستل کېږي.

## Papovaviridae

دا د (Dna) اړوند ویروس دئ چې اکثریت یې سرطان پېښوونکي دي او پکې او دوه فرعي کورنۍ (Papillomavirinae او Polyomavirinae ) شاملېږي.

## Papovavirus

د (Papovaviridae) د کورنۍ هر ډول ویروس چې وي.

**- Lymphtropic Papovavirus**

دا په اصلي ډول سره د (B-Lymphoblastic Cell) د آفریقائي شنو بیزوګانو حجرو څخه رابېلېږي د انتی جنی له پلوه پراخه پیمانه انسانان منتن کوي.

هغه جلدي اندفاعاتو اړوند چې پترۍ –پترۍ تفلس او پاپولونه ولري.

## Pappataci Fever

د پپتاسي تبه .

## Pappenheim

دا یو نوم دئ او د جرمنی هیواد (-Weißenburg Gunzenhausen) اړوند مرکزي ټاون دئ چې د (Bavaria) ولسوالي پورې تړلې د (Altmühl) رود تر څنګ چې ( 11 Km) سُهیل ته پروت دئ.

**- Pappenheim Stain**

د پاپنهایم اړوند تلوین .

**- Else Pappenheim**

دا یوه طبي عالمه وه چې په (1911-2009) کالونو جرمني کې اوسېده او دهغې پلار (Martin Pappenheim) چې د (-1881 1943) کالونو کې ژوند کاوه اودواړه ډېر وتلي –نامتو رواني –تحلیل کوونکي (Psychoanalysts) عالمان بلل کېده.

## Pappenheimer

د پاپنهایم اړونداو تړلي حالت .

**- Pappenheimer Bodies**

د پاپنهایم اړوند جسمونه .

**- Pappenheimer Body**

د پاپنهایم اړوند جسم یا بدن.

## Papple -shaped Abdomen

پاپل ته ورته ګېډه ، پاپلي ګېډه .

دا یو کېمیاوي کریستالي مرکب دئ چې د ( Brc6h4ch2br) فورمول لري اروماتیک بوی لري چې د جوش (ذوب) ټکې یې (61°C) دئ په یخو – سړو اوبو، ایتر او الکهولو کې منحل ده او ( Aromatic Carboxylic Acids) په پېژندلو کې پکار وړل شي.

## Para-bromophenacyl bromide

دا یو کېمیاوي کریستالي مرکب دئ چې د (C8h6br2o) فورمول لري چې د جوش (ذوب) ټکې یې (-109 110°C) دئ په جوش – ترمو اوبو او الکهولو کې منحل ده او (Carboxylic Acids) په پېژندلو کې پکار وړل شي او د ( Acids او Phenols ) لپاره ساتونکې ریېجنټ ماده ده.

## Para-bromophenyl Hydrazine

دا یو کېمیاوي ستني ته ورته کریستالي مرکب دئ چې د (C6h7brn2) فورمول لري چې د جوش (ذوب) ټکې یې (-108 109°C) دئ په بنزین، کلوروفورم او الکهولو کې منحل ده او

**- Papular Tuberculid**

پاپولي توبرکلوئیدي ناروغي .

**- Papular Urticaria**

هغه اورتیکاریا (Urticaria) چې د پاپول سره مل وي .

## Papulation

د پاپولونو جوړېدنې حالت .

## Papule

پاپول ، یو ډېر کوچنی جلدي ګردی کلک او له پوستکي راوتلې جوړښت یا اندفاع ده چې د پوستکي ناروغه حالت بلل شي.

## Papulo -

دا یو مختاړې دئ او د پاپول یا د پاپول ورته جوړښت معنی بشپړوي.

## Papuloerythematous

هغه جلدي پاپولي اندفاع چې سطحه یې سوروالي ولري.

## Papuloerythroderma of Ofuji

د پوستکي یا مخاطي غشأ لپاسه پاپولي سوربخنه جوړښت دئ چې د (Ofuji) پنامه د جاپاني جلدي متخصص پواسطه په شلمه پېړۍ کې شرحه شو دوه ډوله ناروغۍ معرفي شوې ① (Ofugi Disease I) چې پکې خارښت لرونکي ګردي پلاکونه چې فولیکولي پاپولونه یا پوستولونو سره مل وي لیدل شي،② ( Ofuji Disease II) شدید خارښت لرونکې او یو په بل پورې تړلي پوښ لرونکې سوربخن پاپولونه د ګېډې د جدار برخه کې منځ ته راځي د ګېډې فولډونه له منځ وړي .

## Papulonecrotic

هغه ډول پاپول چې د مرکزي برخې نکروزس ته لېواله وي چې په ځانګړې ډول د جلدي نرۍ رنځ لپاره مشخص وي.

## Papulopustular

پاپول او پوستول لرونکي اړوند صفت .

**- Papulopustular Rosacea**

د روزاسي پورې تړلي پاپول او پوستول اندفاع.

## Papulosis

د ځوداني /ګڼ شمېر پاپولونو شته والي .

**- Bowenoid Papulosis**

سلیم ډول سوربخن – تور پاپولونه چې لومړې په جنیتال سیمه کې په ځوانانو (زلمیانو) جنسي آلاتو شاوخوا کې منځ ته راځي چې ویروسي سرچینه لري.

## Papulosquamous

- **Paracentral Fissure**

پاراسنترال درز یا فیسور چې د دماغی نیمکرې په اُنسی سطحه باندې په کړه بڼه پروت دئ او د پاراسنترال تلم (Paracentral Gyrus) سرحد جوړوی او هغه له (Precuneus او Cingulate Gyrus) څخه بېلوی .

- **Paracentral Sulcus**

پاراسنترال مېزابه ، دا د دماغی نیمکرې په اُنسی سطحه باندې واقع ده او کله ناکله د داسې ښکاری چې د (Cingulate Sulcus) یوه څانګه ده چې د پاراسنترال لوبول او منځنی جبهی تلم زنبی منظرې تر منځ واقع ده .

- **Paracentral Lobule**

دمرکز ته نږدې یوه لوب (فص) کوچنۍ شوې / ویشل شوې برخه (دمرکز ته نږدې فصیص) .

- **Paracentral Scotoma**

پارا سنترال سکوتوما ، هغه سکوتوما چې د تثبیتیه ټکی سکوتوما سره نښتې ده او د لیدنی کمښت سیمه په لیدنې ساحه کې جلا کوی .

## Paracervical Block

د رحم د عنق د سره نږدې بېحسه کولو طریقه چې د ماشوم زېږونې پرمهال تر سره کېږی.

## Paracetic Acid

دا یوه کېمیاوی( بېرنګه ،مایع قوی بوی لرونکې او سمی) ماده ده چې د (Ch3coooh) فورمول لری او په (105°C) کې ذوب او جوش کوی او په ( Alcohol،Water ، Glycerin او Ether ) کې منحل ده او د باکتری ضد،چېیاسې ضد ، اوکسدایزر او تجزیه کوونکې مادې پتوګه کارول شی او (Peroxyacetic Acid) پنامه هم پېژندل شوېده.

## Paracetamol

د (Acetaminophen) لپاره سوداګریز نوم دئ او د متوسط ډول د تبې او درد ضد درمل دی .

## Para-chlorobenzoic Acid

دا یو ډول کیمیاوی مرکب سپین رنګه پوډری ماده ده چې د (Clc6h4cooh) فورمول لری او په (238°C) کې ذوب او خوټېږی په (میتانول ، خالص الکهول، ایتر ) کې منحل ده په (رنګ جوړولو ، فارمسی کې پکاروړل شی او د چنیاسې ضد اغېزې) چارو کې کارول شی.

## Para-chlorophenol

دا یو ډول موضعی استعمالېدونکی د انتان ضد درمل دی چې یو ډول کیمیاوی کریستالی مرکب ماده ده چې (Indoleacetic Acids) په تیارولو او دشکرې ( Sugar Phenylosazones) ترانس اوسازونیشن (Transosazonation) څېړنه کې پکار وړل شی.

## Paracasein

په کازئین باندې د رنین د اغېزو څخه زېږنده کیمیاوی محصول .

## Paracentesis

د جراحی کرنلارې ستنې تنویستلو پواسطه د مایع درېناژ د یوه جوف څخه ، د ( Peritoneocentesis ، Laparocentesis او Tapping) نوم هم ورکړل شوېدئ او همدارنګه ("Cent") په معنی د ("Pierce") ده چې پکې د ګېډې جوف د یوې ستنې پذریعه بذل کېږی او نمونه اخیستل شی.

- **Paracentesis Complications**

دپاراسنتیزس تر سره کولو اختلاطونه .

- **Paracentesis Prucedure**

دپاراسنتیزس تر سره کولو لپاره طریقه او کړنلاره.

- **Paracentesis Pulmonis**

د سږو په برخه کې د صدری پاراسنتیزس تر سره کول لکه د دانې او سیستې تخلیه .

- **Paracentesis Technique**

دپاراسنتیزس تر سره کولو تخنیک بلل شی.

- **Paracentesis Thoracis**

د صدر په جوف (پلورا) کې دپاراسنتیزس تر سره کول.

- **Paracentesis Tympani**

د صماخی پردې لپاسه سوری منځ ته راوړل دپاراسنتیزس تر سره کول د (Myringotomy، Tympanotomy ، Tympanocentesis) په انډول.

## Paracentetic

د (Paracentesis) اړوند صفت .

## Paracentral

مرکز ته نږدې .

- **Paracentral Branches Pericallosal Artery**

مرکز ته نږدې څانګې د (Pericallosal Artery) سور رګی لپاره چې د دماغی قشر د پاراسنترال لوبول او دواړه خواوو منځنۍ برخې د مرکزی مېزابې (Central Sulcus) اروأ کوی .

- **Paracentral Branches of Callosomarginal Artery**

مرکز ته نږدې څانګې د (Callosomarginal Artery) سور رګی لپاره چې د پایلې څانګې یې د (Cingulate Branch) ددې شریان ویشنه جوړوی تر څو د سریبیلوم د پاراسنترال لوبول برخې اروأ کړی .

وصفی فینول بوی لری د (C6h5clo) فورمول لری او په (43.2-43.7°C) کې ذوب او خوټیږی په (ګلایسرول ،الکهول، ایتر او کلوروفورم ) کې منحل ده موضعی مکروبی ضد یا انتی سپتیک اغېزې لری چې په غاښ طبابت کې کارول شی.

## Parachlorprophenol

دا یو ډول انتی بیوټیک ماده ده چې په ګرام منفی ارګانیزمونو اغېزې ښندی چې د غاښ په طبابت د پاکولو په موخه پکاریږی.

## Paracholera

آسیایی وبا ( Asiatic Cholera ) په هغې ته ورته ناروغی ده چې لامل یې (Vibrio Cholerae) نومیږی.

## Paracholia

دا یو مطلق ډول غیر وصفی اصطلاح د غیر نورمال صفراوی تولید او ترشح لپاره ګڼل شوېده .

## Parachor

دا د مایعاتو د مالیکولی وزن ټاکنې پرمهال د (سطحې فشار ، دوه برخې ویشنه د مایع کثافت او بخاراتو کثافت توپیر اوپکې تعادل‌شتون) ټاکنې کې پکاروړل شی چې په اساسی توګه د تودوخې په ټولو درجو کې ثابت پاتې کیږی.

## Parachordal

د نوتوکورد (Notochord) په هر طرف کې واقع کېدنه ځانګړې توګه هغه مهال چې د کوپړۍ (Rudiments Cartilaginous) په دواړولورو د نوتوکورد قدامی برخې کې شته والی کې پکار وړل شی.

**- Parachordal Cartilage**

پاراکورډال غضروف ، چې د تازه ایمبریو په ابتدائی توګه د په دواړه خواوو د (Cephalic Portion) نوتوکورډ کې واقع وی او د (Chondrocranium) د منځ ته راتلو ښودونکی وی.

**- Parachordal Plate**

پاراکورډال پلیټ ، هغه ابتدائی غضروف چې د تازه ایمبریو په ابتدائی توګه د کرانیوم د قاعدې په دواړه خواوو د (Cephalic Portion) نوتوکورډ کې واقع وی.

## Parachordoma

دا یو ډول غیر کپسولی سلیم ډېر نادر ډول تومور دئ چې د نهایاتو د ټینډونونو چې ساینوویوم او هډوکیز جوړښت سره نږدې منځ ته راځی.

## Parachroia

دا یو مطلق ډول غیر وصفی اصطلاح د غیر نورمال جلدی صباغی کېدنې لپاره ګڼل شوېده لکه (Dyschromoderma) په څېر.

## Parachroma

د جلدی غیر نورمال صباغی کېدنې یا غیر نورمال رنګ اوښتنې حالت دئ چې ورته (Parachromatosis) هم ویل شی.

## Parachromatin

دا یو ډول مطلق اصطلاح د کروموزومونو د هایپوتېکال (Hypothetical "Metastable") سیمو لپاره ګڼل شوېده چې د محیطی فکتورونو پواسطه د موټېشن (Mutations) فوق العاده حساس ګڼل کیږی.

## Parachromatopsia

①د نور (لید) اړوند پوهنځی ، د د سترګو لید له مخې د ضعیف لیدنې(Poor Vision) معنی لری ،② همدارنګه هغه څه چې د لیدنې وړتیا لری.

## Parachromatosis

د جلدی غیر نورمال صباغی کېدنې یا غیر نورمال رنګ اوښتنې حالت دئ چې ورته (Parachroma) هم ویل شی، د پوستکی صباغی بدلونونه.

## Parachrose

د رنګ اوښتل د تظاهر په وړاندې .د چاپېریال سره سم د رنګ اوښتنه.

## Parachute

دپاراشوټ په واسطه راښکته کېدل. پاراشوټ هغه وسیله ده چې یو څوک له هوا یا لوړې څخه راښکته کیږی .

**- Parachute Mitral Valve**

دا یوه ولادي سؤشکله د زړه دسامی (والف ) اړوند ناروغی ده چې پکې د زړه مایترال دسام (Mitral Valve) داسې بڼه اوښتنه کوی چې یوازې یوه حلیموی عضله (Papillary Muscle) لری .

**- Parachute Dome**

د پراښوټ چترۍ برخه ، دا یو نیمکروی ګنبذه (قبه ) چې مدور پلان لری لکه د چترۍ په څېر .

## Paraclinic

دکلینیک شاو خوا اختلالونو اړوند لکه (مورفولوژیک او بیوشیمیک) سره په تړاو کې چې ناروغیو ته لاره هواوری.

## Paraclinical

دکلینیک شاو خوا اختلالونو اړوند لکه (مورفولوژیک او بیوشیمیک) سره په تړاو کې چې ناروغیو ته لاره هواوری.

پربېږدی.

## Paracyclic

د ښځینه حیض دورې ته نږدې مودې اړوند .

**- Paracyclic Ovulation**

مطلق اصطلاح د هګۍ اچولو لپاره چې د ښځینه حیض دورې ته نږدې مودې اړوند هر مهال چې پیښیږي.

## Paracystic

د مثانې ته نږدې یا شاوخواسیمه کې ، د (Perivesical ، Pericystic) په انډول.

**- Paracystic Pouch.**

د مثانې د چارپېر برخې تشه چې د پریتوان پذریعه منځ ته راځي ، د (Paravesical Fossa ، Vesicouterine Pouch) په انډول.

**- Paracystic Tissues**

د (Paracystium) په انډول . د مثانې شاوخوا برخې نسج .

## Paracystitis

د مثانې د شاوخواسیمې د منضم نسج التهاب.

## Paracystium

د متیازو کڅوړې (مثانې) د شاوخواسیمې د منضم نسج.

## Paracytic

د هغه حجرو اړوند چې د نورمال په پرتله په بل ځای کې موندل شي. د منځ یا منځنۍ برخه خو مستقله حجرې.

## Paradenitis

د غدې د چارپېر برخې انساجو التهاب.

## Paradental

1. هغه برخه چې د غاښ جوړښت پوښ او احاطه کوي ، د (Periodontal Ligament) په انډول. د (Periodontal) په انډول. 2 . د (Paradent) اړوند صفت .

**- Paradental Abscea Periodontal abscess**

د غاښونو د چارپېر نسج حاد یا مزمن التهاب له امله موضعي ډول دانه ( خراج) ، که چېرې دا دانه د (Gingival Tissues ، Infrabony Pockets ، یا Periodontal Ligament ) برخه کې منځ ته راشي د (Periapical Abscess) پنامه پېژندل شي که چېرې د ذروې او (Alveolar Crest) برخه کې منځ ته راشي د (Lateral Abscess) پنامه یادېږي .

**- Paradental Cyst**

د التهاب څخه وروسته د غاښ برخې آفت چې ورسره یو لږ نښې نښانې او عودتی تبری (حمله ) ورسره مل وی په راډیوګرافی کې د غاښ جذر یا تاج څخه لېرې برخه کې

## Paracoccidioides Brasiliensis

د مونیلیاسه د کورنۍ نیمګړې چڼیاسه چې سردنګه یې (Moniliales) ده او دمځمرو حجرو د جوانه وهلو له لارې زیاتیږي.

## Paracoccidioidomycosis

دا مزمنه او وژونکې ګرانولومائی ناروغی ده د (Paracoccidioides Brasiliensis) په واسطه منځ ته راځی لومړی سږی نیسی او بیا (پوستکې ، مخاطی غشأ او لمفاوی غدو او داخلی غړو ) ته پراختیا مومی .

## Paracocolitis

د کولو دبهرنی پوښ (سیروزا یا مصلی)طبقې التهاب .

## Paracolpitis

د (Pericolpitis) په انډول.

## Paracortex

د تایموس غدې اړوند سیمه کې لمفاوی غوټه چې د تحت الکپسولی قشر او میډولاری کورډ تر منځ واقع ده.

## Paracrine

1.د هغه هورمون وظیفوی طریقه چې په اندوکرین حجرو کې جوړیږی –افرازیږی او په ګاونډیو حجرو کې د خپلو آخذو سره نښلی او اغیزی ښندی ، 2. غیر اندوکرینی ارګان پواسطه د یوه هورمون افراز ته تظاهر ورکول.

**- Paracrine Growth-Stimulatory Factor (PGSF)**

د اندوکرین اړوند د ودې پاروونکې فکټور .

**- Paracrine Hormones**

د اندوکرین اړوند هورمون .

**- Paracrine Signalling**

د اندوکرین اړوند هورمونونو پذریعه پاربدنه .

## Paracusis

د غږ غبرګېدنه ، د آواز انعکاس. دا د سمعی تشوش دئ چې پکې د غږ احساس بدلون مومی. د (Paracousia) په انډول.

**- Paracusis Loci**

د هغه ډول د غږ سمعی اختلال دئ چې پکې ناروغ نشی کولای د غږ د راتګ لورې وټاکی .

## Paracyanogen

دا یو ډول پولیمریک موډیفیکیشن د سیانوجن (Cyanogens) دئ چې د مرکیوریک سیانایډ د حرارت پذریعه نصواری / توربخن بې شکله پاتې شونې

رادیولوسنټ حالت لیدل شی.

## Paradidymis

هغه کوچنی ساختمان پاتې شونې چې ځینې وختونه د لویانو د سپرماتیک کورډ پرمخ کې موندل شی، د مرغېړیو د بربخ د چارپېر اړوند نسج .

## Para-dimethyl-aminobenzalrhodanine

دا یو کېمیاوی مرکب دئ چې د ($C_{12}h_{12}n_2os_2$)فورمول لری او ژور ، ستنې ته ورته کریستال چې په (270°C) درجه کې ذوب کېږی او په قوی اسیدونو کې منحل دئ دا ماده د اسیتون محلولونو کې د یو لړ آیونونو لکه (Mercury،Silver ، Copper،Gold ،Palladium ، او Platinum ) په لټه کې پکار وړل شی .

## Paradox

**1**- ظاهراً متناقص وضعیت چې بنائی سم او صحیح وی خو دعمومی عقیدې پرخلاف وی. لرغونې او قدیمي وینا **2**- متناقض نما وینا ، مُعما ښوونه یا ناځرګنده نما، ناسازه ، پاراډوکس ، ضد او نقیض ، مغالطه کوونکې .

**- Weber's Paradox**

د داسې عضلې اوږدېدل چې دومره کش شوېده چې نور نشی کولای انقباض وکړی.

## Paradoxic

د (Paradox) اړوند صفت.

## Paradoxical

د (Paradox) اړوند صفت.

**- Paradoxical Breathing**

د پاراډوکس ساکښل ، خلاف سا ایستنه (تنفس) کول چې د ټټر د ترضیض وروسته د ماتوپُښتیو (اضلاعو) کې منځ ته راځی . د (Paradoxical Respiration) په انډول.

**- Paradoxical Respiration**

د (Paradoxical Breathing) په انډول.

**- Paradoxical Sleep**

د (Rem Sleep) په انډول.

## Paradoxus

د (Paradox) اړوند صفت . د (Pulsus Paradoxus) په انډول.

**- Pulsus Paradoxus**

پاراډوکس نبض .

**- Paradoxus Respiration**

پاراډوکس تنفس کول .

## Paraesthesia

پاراستېزیا ، -د (ترضیض ،څپېړې ضربې ، سړښت ، هیجان) له امله د (جز جز، مورمور، سوزش ، د ستنې چوخېدنې ) په بڼه یو احساس منځ ته راتګ ،د احساس کمښت هغه بڼه چې د( محیطی اعصابو ، نخاعی اعصابو ، دماغ حسی مرکز )په ناروغیو کې د تظاهر په بڼه پېښېږی.

## Paraffin

پارافین، ①هغه غوړ چې د پطرولیم څخه منځ ته راځی او په ( ملحمونو جوړونه ، تودوخې او روښنايي ) کې ترې کار اخیستل شی.② خالص هایدروکاربنی موم چې د نسجی نمونو د تثبیتولو لپاره پکارېږی .

**- Paraffin Coal**

هغه ډول د ډبروسکاره چې ورڅخه پارافین او غوړ لاس ته راځی.

**- Paraffin Dirt**

د پارافین ناولتیا ، د پارافین اړوند خیری اوزوې .

**- Paraffin Distillate**

د پارافین اصل جوهر او عصاره.

**- Paraffin Gauze**

پارافین ګاز، هغه ګاز جوړښت چې په پارافین باندې ککړ شوېوی او پانسمانو په ترځ کې ترې کار اخیستل شی .

**- Paraffin Heater**

د پارافین استعمالوونکې څراغ چې تودوخه منځ ته راوړی.

**- Paraffin Jelly**

د پارافین جیلی جوړښت .

**- Paraffin Lamp**

د پارافین استعمالوونکې څراغ .

**- Paraffin Liquid**

د پارافین مایع چې په څراغونو کې استعمالېږی. معدنی غوړی .

**- Paraffin Liquid Light**

سپک معدنی غوړی

**- Paraffin Method**

د پارافین میتود /کړندود .

**- Paraffin Number**

د پارافین لمبر .

**- Paraffin Oil**

د پارافین غوړی.

**- Paraffin Press**

د پارافین تر فشار لاندې راوستل .

**- Paraffin Scale**

د پارافین تله چې دوروندوالې پرې ټاکل شی .

ځانګو سره په تړاو کې ځای لري.

## Paragastric

د معدې تر څنګ پروت او شاوخوا واقع شوې .د (Invertebrate Zoology) له پلوه هغه جوف چې په (Porifera) کې چې د راډیال کانال ته واز وی او د یوه کلوا کا له لارې بهر ته واز شوېوی.

## Paragenesis

د (Mineralogy) له پلوه د کریستالونو د یوځای کېدنې او په ډېره اوښتنې نظم او پروسه په یوه ډېره یا وریدکې . د یوه منرال اغېزه پر بل باندې

**- Paragenesis of Elemental**

د عناصرو یوځای واقع کېدنه او تر خاصو کېمیاوی بروسو لاندې په تیږه او ډېره اوښتنه چې پدې پروسه کې (Cu، Pb، Zn، Ag ، او Au; Sb، Hg ، او Sn; As، W ، او Ag; Mo، Co، Ni، U ، And Bi; And S، Se ، او Te ) عناصر برخه لری .

**- Elemental Paragenesis**

د (Paragenesis Of Elemental) په انډول.

**- Mineral Paragenesis**

دا اصطلاح لومړی ځل د (J. Breithaupt) پذریعه په کال (1849) کې د ځمکې کرې د قشر جوړېدنې اړوند څرګنده شوه چې دا پخوا تر دې د عالم (V. M. Severgin) پذریعه په کال (1798) کې طرحه شوېوه

## Paragenetic

د (Paragenesis) اړوند صفت .

**- Paragenetic Mineralogy**

د (Mineralogy) له پلوه د (Mineral Paragenesis) اړوند څېړنو سره په تړاو کې چې معمولاً د جیولوژیکی جوړښتونو او زمونږ بدن سره د اغېزو تحلیل سره تړاو لری.

**- Paragenetic Sequence**

پارجنیتیک اړوند (ترتیب ، تسلسل ، لړی ، ځنځیر ، پرلپسې اړیکې ، رشته) بلل شی.

## Paragenital

د ګوناډونو (جنسی غدواتو/ Gonads) په اوږدو کې او یا دهغوی اړوند.

**- Paragenital Tubules.**

د ایمبریونیک مېزونفریک تیوبولونو پاتې شونې چې ځینې یې پارا ډیډایمس (Paradidymis) جوړوی.

## Parageusia

د ذایقې یا خوند د احساس اړوند اختلال دئ ، په خوله کې دیوه بېخونده احساس شته والې ، ذایقی انحراف.

## Parageusic

د (Parageusia) اړوند صفت .

**- Paraffin Series**

د پارافین لړی یا سلسله .

**- Paraffin Therapy**

د پارافین پذریعه درملنه .

**- Paraffin Wax**

د پارافین څخه جوړ شوی موم / واکس .

**- Paraffin-base Crude**

د پارافین بېز او قاعده درلودونکې خامه مواد .

## Paraffinic

د پارافین لرونکی ، د (Paraffin) اړوند صفت .

**- Paraffinic Hydrocarbon**

پارافین درلودونکې هایدروکاربنی جوړښت .

## Paraffinicity

د پارافین ځانګړتیا درلودونکی .

## Paraffinoma

هغه مزمن ګرانولوم چې په اوږد مهالی ډول د پارافین په وړاندې د ځای نیونې له امله منځ ته راځی .

## Paraffinum Liquidum

د پارافین مایع .

## Paraformaldehyde

پارافورم الدیهاید ،چې $[HCHO]_N$ فورمالدیهاید اړوند پولیمیر دئ چې پکې (N) د (N > 6) څخه لوی وی او سپین الکلوئید د قلوی منحله جامده ماده ده او د (Alcohol، Ether ، او Water ) موادو کې غیرمنحل ده دا مواد د (Disinfectant، Fumigant، او Fungicide اود Resins په جوړونه کې ) په ځیر پکار وړل شی.

## Paraganglia

د اندوکرین غدواتو یوه لړی ده چې د کرومافین [ Chromaffin (Adrenal)] نسج څخه منځ ته راغلې وي او [ Adrenaline (Epinephrine)، Noradrenaline (Norepinephrine) ، او بنایي چې Catecholamines] د وینې دوران ته افراز کړی چې د ډېرو کوچنیو توډولونو او لوبولونو څخه منځ ته راځی

## Paraganglioma

د پاراګانګلیا څخه جوړ نسجی تومور.

**- Nonchromaffin Paraganglioma**

د (Chemodectoma) په انډول .غیر کرومافینی پاراګانګلیوما تومور.

## Paraganglion

د عصبی اکتودوم څخه زېږنده د کرومافین حجرو یوه ټولګه چې د ادرینال د مرکزی برخې څخه بهر پرته ده او معمولاً د سمپاتیک غوټو ته څېرمه د ابهر او د هغه له

## Paragglutination

د کولون د باکتریاګانو اګلوتینیشن (Agglutination) د منتن ناروغ د وینې سیروم سره ، هغه ناروغ چې د باسیلری ډیزانتری ناورغی ځخه ریکوری موندلې وی.

## Paragnath

د ژامنې شاوخوا ، ①یو د دوه جوړه پاڼې ته ورته لوب د تر سوری شاته (Metastoma) ځخه چې د ژامنې (Mandibles) شاته تر ټولو [ پوستکې ته ورته ، پوښبز (لایه) یې] برخه .② په یوه حشره کې. د هایپوفرینګس یو د جوړه لوبونو ځخه

## Paragnathus

د ژامنې شاخواته اړوند صفت . ①هغه انکشافی نقیصه چې په انفرادی ډول د ښکته ژامنې سره اضافی شتون ولری، ② پرازیتی جنین (Fetus) چې د یو(Autosite) ژامنې پورې نښتې او ځوړند وی .

## Paragnomen

غېر مترقبه غبرګون ، نابېره غیرګون ، پرته له انتظاره عکس العمل.

## Paragnoimus

د پاراګونیوم د جنس د کبدی چینجیانو په متېه منتن کېدنه.

## Paragon

د کارډیولوژی له مخې یو انتاګونیزم چې د حاد اکلیلی سندروم د پیښې د کمښت لپاره نړیوال شبکې لپاره لنډه نښه ده [ Platelet Iib/Iiia Antagonism For Reduction Of Acute Coronary Syndrome Events In A Global Organization Network] بلل شی .

## Paragonimiasis

د آسیا حاره سیمو مزمنه د سږو ناروغی ده چې پکې سږی د پلن کبانو (Fluke) د یوه ډول ( Paragonimus Westermani) جینوس پذریعه منتن کېږی او ناروغ ته ( برانشیت ،سره د وینه لرونکې توخی ، د ګېډې کتلې ، د ګېډې درد ،نس ناستې ، دماغی پرالایزس ، اختلاج ) پېدا کېږی ورته ( Endemic Haemoptysis) هم ویل کېږی منځ ته راځی

## Paragonimus

داد تریماتوداګانو یوجنس د پرازیتی پلن کب اړوند یو ډول جینوس (Genus) کوربه کې وی چې لومړی (حلزون Snail) او ثانیاً (چنګاښ Crab او پنځه پښې لرونکې حیوان کب ته ورته Crayfish) کې وي او چې لدې جملې ځخه (P. Westerma´Ni) یې د سږو/کبدی / پلورا پرازیتی ناروغی پېښوی.

**- Paragonimus Africanus**

آفریقایې ډول پاراګونیموس چې په زیات شمېر حیواناتو کې موندل شی.

**- Paragonimus Caliensis**

کالینیس ډول پاراګونیموس چې په زیات شمېر حیواناتو کې موندل شی.

**- Paragonimus Iloktsuenensis**

ایلوکتسوینینسیس ډول پاراګونیموس چې په زیات شمېر حیواناتو کې موندل شی.

**- Paragonimus Kellicotti**

کلیکوتی ډول پاراګونیموس چې په زیات شمېر حیواناتو(پیشو ، سپی او سرکوزی ) کې موندل شی.

**- Paragonimus Mexicanus**

مکسیکویی ډول پاراګونیموس چې په زیات شمېر حیواناتو کې موندل شی.

**- Paragonimus Ohirai**

اوهیرای ډول پاراګونیموس چې په زیات شمېر حیواناتو کې موندل شی.

**- Paragonimus Peruvianus**

پیروانیس ډول پاراګونیموس چې په زیات شمېر حیواناتو کې موندل شی.

**- Paragonimus Uterobilateralis**

یوترویبلاتیرالیس ډول پاراګونیموس چې په زیات شمېر حیواناتو کې موندل شی.

**- Paragonimus westermani**

ویسترمانی ډول پاراګونیموس چې په زیات شمېر حیواناتو کې موندل شی.

## Paragranuloma

د هوچکن د ناروغۍ یوه ډېره پراخه بڼه چې په ډېره لویه پیمانه لمفاوی غدې نیسی.

## Paragraphia

د بېلابېلو لغتونو یا لیکونو تحریر چې د ( Stroke یا Disease ) له امله پېښېږی.

## Paraguard Stretcher

د ایوه قوی ډوله کششی وسیله ده چې د یوه شخص په امن ساتلو کې د ټپی کېدوپرمهال پکاروړل شی دا اکثراً هلته چې خلک په غرونو یا لوړو تعمیرونو کې کار کوی تر کار اخیستل شی.

## Para-fluoroaniline

دا یو کېمیاوی مایع مرکب دئ د (Fc6h4nh2) فورمول لری چې د په نباتی فابریکو کې نباتاتو د ودې تنظیم کې ترې کار اخیستل شی.

چې چې په اوبو کې منحله ماده ده د تبې او درد ضد درملو پتوګه کارول شي.

## Paralalia

د خبرو اترو ناجوړتیا ، د داسې غږونو تولید چې دشخص لپاره پکار نه وی لکه یو توری په بل توری کې هجا کول.

## Paraldehyde

د اسیت الدیهاید د پولیمرایزیشن محصول چې خوب راوستونکی او چټک هیپنوټیک اغېزې لری د (بېخوبی ، هیجان، نارامی، هذیان ، تشنج)کنټرول لپاره پکار وړل شي.

## Parallagma

د یوه هډوکی یا دهغه د ماتو ټوټو پېځایه کول.

## Parallergic

د (**Parallergy**) اړوند صفت.

## Parallergy

هغه حالت چې په هغه کې د یوه ځانګړی حساسیت څخه زېږنده یو الرژیک غبرګون لامل ګرځی چې بدن د نورو الرژنونو په وړاندې له ځانه څخه کلینیکی نښې څرګندې کړی چې لوحه یې د لومړنی غبرګون په پرتله توپیر لری.

## Paralysation

فلج کول ، له فعالیته غورځول ، بې حرکته کول .

## Paralyse

فلج ،ګوزڼ ،بې حرکته کېدنه ، د عضلاتی یا عصبی میکانیزمونولرونکو آفتونو له امله حرکتی وظیفوی اختلال یا د حرکتونو نشتوالې ، د (**Paralyze**) په انډول.

## Paralysis

دګوزڼ یا فلج منځ ته راتګ ، بې حرکته کېدنې منځ ته راتګ ، د عضلاتی یا دماغی - عصبی میکانیزمونو لرونکو آفتونو له امله حرکتی وظیفوی اختلال یا د حرکتونو نشتوالې.

**- Paralysis Agitans**

د (**Parkinsonism**) په انډول. رعشه لرونکی ګوزڼ ناروغی هغه ډول چې ورو ورو پرمختګ کوی او په لوړو عمر خلکو کې منځ ته راځی .

**- Ascending Paralysis**

د نخاعی فلج چې د سر په لورې حرکت کوی.

**- Bell's Paralysis**

د بلز فلج ، د مخ د یوې لورې فلج د وجهی عصب فلج له امله.

## Para-fluorophenyl-Acetic Acid

دا یوه کېمیاوی اسیدی کریستالی مرکب دئ د ($Fc_6h_4ch_2cooh$) فورمول لری د (**86°C**) ذوب ټکې چې انستیزی فلورینیشن کې د منځنی مادې پتوګه ترې کار اخیستل شي.

## Parahemophilia

د وینې د پنځم (**V**) تحثری فکټور د نیمګړتیا له امله د وینې بهېدو ته لېوالتیا چې ارثی ناروغی ده .

## Parahormone

هغه ماده چې رېښتینې هورمون ندئ خو د یوه هورمون په څېر د بدن د ځینو لېږې پرتو غړو کار کنټرولوی.

## Para-hydroxybenzoic Acid

دا یوه کېمیاوی بېرنګه کریستالی مرکب دئ د [$C_6h_4(Oh)Cooh{\cdot}2h_2o$] فورمول لری د (**210°C**) ذوب ټکې لری چې په (الکهولو ، اوبو او ایتر ) کې منحله ده په درمل جوړولو کې د منځنی مادې پتوګه ترې کار اخیستل شي.

## Para-hydroxypropiophenone

دا یوه کېمیاوی کریستالی مرکب دئ د ($Hoc_6h_4coc_2h_5$) فورمول لری د (**149°C**) ذوب ټکې چې چې په (الکهولو ، ایتر ) کې منحله ده د نخامیه غدې ګونادوتروپیک هورمون نهی کوونکې مادې پتوګه ترې کار اخیستل شي.

## Para-influenza Virus

هغه ویروس چې د تنفسی سیستم دپورتنی برخې التهابات ناروغی پېښوی چې اودپارامیګزوویروس او شری ویروس په څېر ورته جوړښت لری.

## Parakeratosis

د پوستکی په تقرنی طبقه کې په کراتینی حجرو کې د هستو احتباس ، دغه وضعیت دخولې او مهبل د مخاطی غشأ ګانو په اپیتلیوم کې نورمال وی.

## Parakinesia

له حرکی کار څخه انحراف ، د سترګې په طبابت کې د سترګې د هر یوې عضلې نا منظم حرکتونه.

## Para-lactophenetide

دا یوه کېمیاوی کریستالی مرکب دئ د ($C_{11}h_{15}no_3$) فورمول لری د ایتایل اسیتیټ او هګزان محلول څخه کریستالی ډول ترلاسه کېږی د (**117-118°C**) ذوب ټکې

(Klumpke-Dejerine Paralysis) په انډول.

**- Landry's Paralysis**

ایدیوپتیک حاد پولي نیوریت.

**- Mixed Paralysis**

حسي او حرکي مختلط فلج.

**- Motor Paralysis**

د ارادي حرکي عضلاتو فلج.

**- Musculospiral Paralysis**

د لاس د ګوتو او مړوند د بسط (اکتانسور) عضلاتوفلج .

**- Normokalemic Periodic Paralysis**

د نارموکلیمیا خاوند پریوډیک فلج .

**- Periodic Paralysis**

د ارثي یا فامیلي ډول پریوډیک فلج .

**- Periodic Paralysis Thyrotoxic**

د ارثي یا فامیلي ډول پریوډیک فلج دئ چې د تایروتوکسیکوز له امله منځ ته راځي پکې د هایپوکالیمیا سره یوځای د عمومي یا موضعي فلج پرلپسې بایبړې (عود) چې د ګړېفز د ناروغۍ تر څنګ لیدل کېږي .

**- Postepileptic Paralysis**

د صرعي (مېرګي ، پېران نیولې) فلج له امله منځ ته راځي ، د (Todd's Paralysis) په انډول .

**- Progressive Bulbar Paralysis**

د ارثي یا فامیلي ډول پریوډیک فلج چې د بصلې د فلج له امله پېښېږي .

**- Pseudobulbar Paralysis**

د هغه ډول سپستیک کمزورتیا چې د کرانیال اعصابوله خوا تعصیب کېږي یعنې د (مخ ، بلعوم ، ژبې عضلاتو) فلج پکېوی لامل یې په کورټیکو سپاینل لاره کې د دوه اړخیزو ضایعاتو شته والي دئ.

**- Pseudohypertrophic Muscular Paralysis**

د کاذب ضخاموي عضلي فلج .

**- Sensory Paralysis**

د حسي فلج ،یو یوه رنځور ډوله بهیر له امله د حسیت له منځه تګ.

**- Temporary Paralysis**

د لنډمهالي فلج ، مؤقتي فلج.

**- Todd's Paralysis**

د صرعي تشنج څخه وروسته لنډ مهالي نیمايي طرف فلج یا مونوپلژیا بلل شي.

**- Vasomotor Paralysis**

د وازوموتور کنترول له منځه تګ یا فلج .

## Paralytic

د (Paralysis) اړوند صفت .هغه څوک چې په فلج اخته وي .

**- Bulbar Paralysis**

بولبار (بصلي) فلج .

**- Compressed Paralysis**

فشاري فلج ، هغه فلج چې د یوه عصب لپاسه د فشار راتلو له امله منځ ته راځي.

**- Conjugate Paralysis**

د سترګو د موازي حرکتونو د ترسره کولو د توان نشتوالې .

**- Crossed Paralysis،**

د (Crucciate Paralysis) په انډول.

**- Cruciate Paralysis**

هغه فلج چې د مخ یوه لورې او دبدن بل لورې نیسي .

**- Decubetus Paralysis**

هغه فلج چې په اوږد مهالي ډول د بدن د یوه لورې د اوږد غځېدلو له امله په عصب باندې د فشار له کبله منځ ته راځي.

**- Diver's Paralysis**

هغه فلج چې د سیندونو تل ته د لامبوزنو په سر د فشار دچټکې کمېدو له امله منځ ته راځي.

**- Duchenne's Paralysis**

د ارب دوشن فلج ، بولبار فلج .

**- Erb's Paralysis**

د مټ د ضفیرې یا عصبي شبکې د پورتنیو ریښو فلج د زېږون پرمهال د صدمې او ترضیض له امله پېښېږي.

**- Facial Paralysis**

وجهي فلج ، د مخ د عصب فلج یا کمزورې کېدنه ، د بلز (Bell's Paralysis) فلج په انډول .

**- Familial Periodic Paralysis**

دا یو نادر ارثي لېږدېدونکې فلج دئ چې د چټکې پرمختیا لرونکو شلو فلجونو د پرلپسې بایبړیو په مته چې د پوتاسیوم د سویې ټاکنې له مخې درې ډوله لری پېژندل شي.

**- Hyperkalemic Periodic Paralysis**

د هایپرکلیمیا خاوند پریوډیک فلج .

**- Hypokalemic Periodic Paralysis**

د هایپوکلیمیا خاوند پریوډیک فلج .

**- Immune Paralysis**

د (Immunologic Paralysis) په انډول.د ایمیونولوژیک زغمنې پخوانې نوم دئ.

**- Juvenile Paralysis**

د اجیټانس د فلج د ځانګړنو او فلج سره مل د عضلاتي ټون او مقویت زیاتېدل چې د ژوندون په پیل کې منځ ته راځي او د ګلوبوس پالیدوس پرمختلونکې تخریب پورې اړوند دئ .د (Agitans(of Hunt) Paralysis) په انډول.

**- Klumpke's Paralysis**

د زېږون پرمهال په ځانګړې ډول په بریچ زېږون کې د ترضیض له امله د مټ د شبکې د ښکتنیو برخو فلج . د

**- Paralytic Ileus**

د کولمو فلج چې د مېخانیکی انسداد له امله نه وی ، د (Adynamic Ileus) په اند ول .

**- Paralytic Poliomyelitis**

هغه پولیومیالیت چې دعضلات شل /فلج کوی.

## Paralytica

د عصب تخریب اړوند فلج .

**- Dementia Paralytica**

د عصب د تخریب له امله فلج یا پارالایزس.

## Paralyzant

فلج کوونکې لامل ، هغه فکتور / درمل چې د فلج کېدو لامل ګرځی.

## Paramastigote

د لوی فلاجیلوم ترځنګ د یوې فرعی فلاجیلوم شته والې .

## Paramastitis

د تی د غدې د شاوخوا نسجونو التهاب .

## Paramecium[1]

د سلیاتا پروتوزوا یو ډول.

## Paramecium [2]

د پارامېشیم ډول لرونکې ارګانیزم.

## Paramedian

د بدن د منځنۍ کرښې (Midline)ته نېږدې واقع شوې.

**- Paramedian Plane**

پارامیدیان پلان ، هغه اناټومیک پلان چې د منځنۍ کرښې ته نېږدې د سهمی پلان (Sagittal Plane) سره موازی تېرېږی او د کرونال پلان ښې زاویې سره واقع وی

## Paramedic

هغه څوک چې د روغتیا او نورمال فعالیت بیا راګرځولو اړوند په کاروبار بوخت وی ، روغتیایی کارپوه (درملنه کوونکې ، روغتیا ساتونکې ، امبولانس دریور ، رادیوګرافر ) چې (ډاکټر ، قابله او نرس )یکې نه ورګډ یږی.

## Paramedical

هغه سرویس او چوپړتیاوی چې دنرس ، ډاکټر او جراح پورې تړاو لری .

**- Paramedical Staff**

پارامېډیکال کسان او پرسونل.

## Paramenia

سخت یا ځنډېدلې حیض .

## Paramesonephric Duct

د جنینی دورې یو د دوه قناتونوڅخه چې په رحم او نفیرونو باندې وده کوی. د (Müllerian Duct) په اند ول.

## Parameter

پارامیتر ، د یو څه(وینې فشار) د اندازې کولو لپاره معیار چې ښایې په درملنه د پام وړتیا ولری.

## Paramethadione

د تشنج ضد درمل چې په پتیتمال صرعې درملنه کې پکارېږی.

## Paramethasone

هغه ګلوکوکورتیکوئید چې د ( 21-Acetate Ester)اسیتیت ایستر مشتق څخه یې د التهاب ضد مادې په توګه کارېږی.

## Parametrial

د (Parametrium) اړوند صفت.

## Parametric [1]

رحم ته نېږدې ، د رحم شاوخوا ته څېرمه نسجونو اړوند .

## Parametric [2]

د (Parametrium) اړوند صفت.

## Parametritis

د رحم د (Parametrium) طبقې اړوند نسج التهاب.

## Parametrium

هغه منضم نسج چې د رحم شاوخوا واقع دئ.

## Paramimia

په خبرو اتروکې د ناسمو او له تېروتنو د ډکو اشارو څخه ګټه اخیستل.

## Paramnesia

لاشعوری کاذبه خاطره،د حافظې هسې ډول اختلال دئ چې پکې داسې خاطره په یاد راوړې چې هیڅ نده پېښه شوې.

## Paramoeba

یو ډول پرازیتی یا خپلواکه آمیبی پروتوزوا .

## Paramucin

د هګۍ ځالې سیستونو کلوئیدی ماده چې له میوسین او سوډومولین سره توپیر لری.

## Parmyloidosis

په نسجونو کې د امایلوئید اتیپیک شکلونو راغونډېدل.

## Paramyoclonous

یو له بله سره په نا اړونده ځوعضلو کې مایوکلونوس.

## Para-morphine
مورفین ته ورته جوړښت ،د مورفین مشتقات .

## Paranasal
د پوزې (انف) شاوخوا اړوند برخې .

### - Paranasal Sinus
د پوزې ترخنګ سیونوس ،د (Paranasal Air Sinus ) په اند ډول.

### - Paranasal Air Sinus
پارانزال هوائي سینوس یو د څلورو جوړو څخه چې په کوپړۍ کې واقع دي چې د پوزې جوف ته ورخلاصېږي او (Sticky Mucus) پذریعه ستر دئ دا د (Frontal ، Maxillary ، Ethmoidal او Sphenoidal ) پنامه یادېږي .

### - Paranasal Sinuses
پارانزال سینوسونه ،دا هوائي جوفونه دي چې د قحف په هډوکو کې واقع دي چې د پوزې جوف ته یوې نرۍ کانال یا فیسو له لارې ورخلاصېږي.

## Paranecrosis
هغه غیر وصفي رجعتي مغلق بدلونونه چې په یوه ژوندۍ حجره کې د بیلابیلو جروحي لاملونو (تودوخه ، کیمیاوي ، بربښنا ، اسید او نارکوټیک درملو ) ذریعه منځ ته راځي دا په (1934) کې د ( D. N. Nasonov And V. Ia. Aleksandrov) پذریعه معرفي شوه.

## Paraneoplasia
هغه (هورموني ، عصبي ، هیماتولوژیک، او نور کلینیکي ) اختلال چې د خبیث نیوپلازم له کبله منځ ته راځي خو د تومور د مېتاستاز او تهاجم سره تړاو نلري.

## Paraneoplastic
د تومور یا مېتاستاز څخه په لېرې پراته نسج کې د بدلونونه پېښېدنې اړوند د (Paraneoplasia ) اړوند صفت .

### - Paraneoplastic Acrokeratosis
د نوک دتخریب نادر ډول ناروغي چې د ( Acral Erythema او Scaling ) چې د پورتني تنفسي یا پورتني هضمي جهازونو کانسر سره مل وي ، د (Bazex Syndrome) په اند ډول.

### - Paraneoplastic Cerebellar Degeneration
پارا نیوپلاستیک سریبیلوم اړوند تخریب چې دماغ اخته کوي او معمولاً د هګۍ ځالې او تیبونو کارسینوما او هوجکن ناروغۍ سره مل وي په وصفي ډول [د پُرکینج حجراتو (Purkinje's Cells) ضایع ،او کلینیکي ډول سره سمدلاسه پرمختلونکې ( Truncal او Appendicular Ataxia ، Dysarthria ، Nystagmus ، او ځینې وختونه

### - Paramyoclonous Multiplex
د نا څرګندې سرچینې لرونکې مایوکلونوس چې د مټ او اوږې د پورتنیوبرخو له عضلاتو څخه پیل کېږي او د بدن نورو برخو ته خپرېږي.

## Paramyotonia
دا د ارثي یا ولادي ډول اتوزومال ډومیننټ نیورموسکولار اختلال سرچینې لرونکې عضلاتي تونیسیتي ناجوړتیا له امله د تونیکو سپزمونو ("Paradoxical" Myotonia) په مرسته پېژندل شي ورته ( Paramyotonia Congenita Of Von Eulenburg او یا Eulenburg Disease) هم ویل کېږي.

### - Paramyotonia Congenital
دا ولادي میوټوني ته ورته ارثي ناروغي ده چې په (سړوخه کې پیل مومي ، په فعالیت سره شدیده کېږي) او یوازې د [اندامونو قریبه عضلات ،لمه یا سترغلي ، د سترګو اوژبې عضلات] تر اغېزې لاندې راځي.

## Paramyotonic
د ( Paramyotonia) اړوند صفت دئ .

### - Paramyotonic Syndromes
پارامایوټونیک سندروم، علامې او نښې عضلي شخي ،د ګرځېدلو څخه بېزاري ، سړوخه کې پیل مومي ، په فعالیت سره شدیده کېږي .

## Paramyotonus
یو مطلق ډول اصطلاح د عضلي فشار زیاتوالي چې د ټونیک سپزم سره مل وي .

## Paramyxoviridae
پارامیګزوویروسونه چې یو ډول رشتوي (Rna ) ویروسونه دي او ناروغۍ پېښوي .

## Paramyxovirus[1]
یوه ډله د ویروسونو څخه دي چې( بغوټونه Mumps ،شرې Measles اونورې انتاني ناروغۍ ) منځ ته راوړي.

## Paramyxovirus[2]
د (Paramyxoviridae) کورنۍ ویروسونو یو جنس چې د فقاریه حیواناتو کې تنفسي ناروغۍ منځ ته راوړي لکه پاراانفلوانزا او اوریون ویروسونه .

### - Paramyxovirus Encephalomyelitis
د پارمیګزوویروسونو له امله د دماغ او نخاع التهابي (انسفالو میالیت ) ناروغۍ چې پکې (Sendai Virus ، Parainfluenza Viruses او هغه ویروسونه چې Measles او Mumps منځ ته راوړي )ویروسونه ورګډېږي.

د Dementia ) او په ځینو ښځوکې تیبونو یا نسائی کارسینوما او ( Autoantibody "Anti-Yo". [ سره مل وی.

**- Paraneoplastic Cerebellar Syndrome**

د یو لړ مغلق اعراضو ستړ لړی چې یو سره مل او یوځای پیښیږی او معیوب حالت منځ ته راوړی چې د خبیث ډول نیوپلازم له کبله منځ ته راځی خو د اخته برخې د تومور شتون پورې تړاو نلری دا ډول اختلالونه د کانسر میتابولیک اغیزو له امله د انساجو په برخه کې پیښیږی لکه د ( Primary Endocrine، Hematological او Neuromuscular Disorders ) اختلالونه .

**- Paraneoplastic Disease**

د (Paraneoplastic Syndrome) په اند ول.

**- Paraneoplastic Encephalomyelopathy**

هغه انسفالومیالوپتی چې د تومور څخه په لیرې سیمه کې منځ ته راځی معمولاً دسږو د (Oat Cell Carcinoma ) په پیښو کې چې پراخه پیمانه د عصبی حجرو له لاسه تلل چې بنائي منتشر وی خو قسماً ( Limbic Lobes، Medulla، Cerebellum ، او د نخاع Gray Matter ) برخې نیسی .

**- Paraneoplastic Endocrine Syndromes**

د پارانیوپلاستیک انډوکرین سنډورم.

**- Paraneoplastic Granulocytosisn**

په وینه کې د ګرانولوسایتونو د سویې لوړ والې چې دپارانیوپلاستیک تومورونو د شته والی سره مل وی.

**- Paraneoplastic Hemorrhage**

هغه ډول دپارانیوپلاستیک تومورونه چې د وینه بهېدنې یا او رګونو تخریب لامل ګرځی .

**- Paraneoplastic Hyperhistaminemia**

هغه ډول دپارانیوپلاستیک ماسټ سل لرونکی تومورونه چې د وینه په بهیر کې د هیستامین بنفسهی آزادېدنې لامل وګرځی .

**- Paraneoplastic Myasthenia Gravis**

هغه ډول دپارانیوپلاستیک تومورونه چې دعضلی ضعیفوالی او کسالت / ستړیاوو لامل وګرځی د ( Myasthenia Gravis) سره مل وی.

**- Paraneoplastic Neurological Disorder**

د (Paraneoplastic Cerebellar Degeneration ) په اند ول.

**- Paraneoplastic Opsoclonus-Myoclonus Ataxia**

دا پارانیوپلاستیک اټاکسی چې د یو ډول عصبی اختلال بلل شی او دپارانیوپلاستیک تومورونو کې منځ ته راځی چې لنډه نښه یې (POMA) ده.

**- Paraneoplastic Pemphigus**

پارا نیوپلاستیک پامفیګوس چې دردناکه مخاطی او جلدی خراش -ګربدنه ده چې د بیوپسی نتیجه کې د ( Pemphigus Vulgaris) حالت چې نیوپلازم او وینې سیروم انتی باډی غبرګون او داخل الحجروی اپیتلیال سره مل وی او په چټکه توګه وژونکی دی .

**- Paraneoplastic Phenomena**

د (Paraneoplastic Syndrome ) په اند ول.

**- Paraneoplastic Polyneuropathy**

د (Paraneoplastic Syndrome ) په اند ول.

**- Paraneoplastic Subacute Cerebellar Degeneration**

د (Paraneoplastic Syndrome ) په اند ول. د پارانیوپلاستیک دماغی تخریب تحت الحاد حالت.

**- Paraneoplastic Syndrome**

پارانیوپلاستیک سنډروم ، دا د یو لړ مغلق نښو (اعراضو ) لړی ستړ چې یو سره مل او یوځای پیښیږی او معیوب حالت منځ ته راوړی چې د خبیث ډول نیوپلازم له کبله منځ ته راځی خو د اخته برخې د تومور شتون پورې تړاو نلری دا ډول اختلالونه د کانسر میتابولیک اغیزو له امله د انساجو په برخه کې پیښیږی لکه د (Primary Endocrine ، Hematological او Neuromuscular Disorders) اختلالونه .

## Paranephric

د پښتورګو (بډوډو) شاوخوا ته نږدې ، د ادرینال غدې پورې تړلې ، د (Pararenal ) په اند ول.

**- Paranephric Abscess**

د پښتورګو (بډوډو) شاوخوا ته نږدې برخو( دانه ،خراج یا ابسې) چې د [ Gerota (Renal) Fascia ] څخه بهر برخو ته بلل شی.

**- Paranephric Body**

هغه شحمی (غوړینه ) کتله چې د د پښتورګو (بډوډو) صفاق شاته پرته ده .

**- Paranephric Fat**

د پښتورګو (بډوډو) شاوخوا ته پرته د شحمی نسج کپسول ، د (Capsule Adipose) په اند ول.

## Paranephritis

د ادرینال غدې التهاب ، د هغه منضم نسج قیحی التهاب چې د پښتورګو (بډوډو) شاوخوا ته ځای لری .

## Paranephroma

هغه غیر وصفی اصطلاح چې د ادرینال غدې تومورونو لپاره پکار وړل شی ، د (Adrenal Tumour او Adrenal Neoplasm) په اند ول.

## Paranephros

د ادرینال غده.

**Paranesthesia**

د (Para-Nesthesia ) په انډول .د ترملا ښکته بېهوښی.

**Paraneural**

د یوه عصب په اوږدو کې .

**Paraneurone**

هغه وصفی اصطلاح چې د نیورواندوکرین حجرو یا هغه اړوند کلاسټر لپاره پکار وړل شی

**Para-nitroaniline**

دا یو ډول کېمیاوی ژیړ بخن کریستالی پوډر دئ چې د (No2C6h4nh2 ) فورمول لری او په (148°C) درجو کې ذوب او خوټیږی په (Ethanol ، Water) کې منحل ماده ده او د (Corrosion ) نهی کوونکې او انتی دوت دئ په رنګ جوړونې صنعت کې پکاریږی.

**Para-nitrophenylhydrazine**

دا یو ډول کېمیاوی نارنجی سور بخن کریستالی مرکب دئ چې د (C6H7N3O2 ) فورمول لری او په (157°C) درجو کې ذوب او خوټیږی په ( Water یا ګرم تیلو Hot Benzene) کې منحل ماده ده او د ( Aliphatic Aldehydes And Ketones) اړوند رییجنټ بلل شی..

**Paranoia**

پارانویا ، هغه چلند چې د سیستماتیک هذیانونو لکه (ځان لوی ګڼل، رنځ ، درد او یا د دوی ګډون یا د ورته جوړښت ) په مرسته پېژندل کېږی.

**Paranoiac**

د (Paranoia) اړوند صفت . هغه څوک چې په پارانویا اخته وی.

**Paranoid**

هغه څوک چې په تثبیت شوې بڼه په پارانویا اخته وی. پارانویا ته ورته حالت اړوندصفت.

**- Paranoid Disorder**

د پارانویا اختلال چې روانی –روحی اړوند ستونزه ده ، چې ځینې ورته د (Delusional Disorder) اصطلاح غوره ګڼی.

**- Paranoid Schizophrenia**

دپارانویا شیزوفرینیا اختلال حالت چې پکې شخص ځان تر ټولو اوچت او غوره ګڼی او یا هم په ځانګړې توګه د مذهب یا سیاست یا توکم - نژاد په خاطر د( ترخور -اذیت لاندې ، ستم روا ګڼلو ، آزار ورکولو ) وړ بولی .

**Paranomia**

یو ډول افازی چې په هغه کې ناروغ د لیدل شوو یا لمس شوو شیانو نومونه په یاد نشی راوړلای .

**Paranucleus**

هغه جسم چې ځینې وختونه هستې ته نږدې په حجروی پروتوپلازم کې لیدل کېږی.

**Paranuclear**

د (Paranucleus) اړوند صفت.

**Para-Oxon**

دا یو ډول کېمیاوی ژیړ- سور بخن غوړ مایع مرکب دئ چې د [(C2H5O)2P(O)C6H4NO2 ] فورمول لری او په ( 148-151°C) درجو کې ذوب او خوټیږی په اکثر عضوی محللونو کې منحل ماده ده او د حشره وژونکی درملو پتوګه کارول شی او د (Diethyl Para ) پنامه هم یادیږی.

**Paraparesis**

د لاندینیو غړو یا اندامونو (پښو) نیمګړې –قسمی فلج.

**- Tropical Spastic Paraparesis**

په توده(حاره) سیموکې مزمنه پرختلونکې میالوپتی چې.

**Para-pentyloxyphenol**

دا یو باکتری ضد درمل دی چې په (49-50°C) درجو ذوب کېږی او د (C11h16o2 ) فورمول لری .

**Parapertusis**

حاده تنفسی ناروغی ده چې د کلینیک له پلوه د کمزورې ټوخلې سره د توپیر وړ نده او عامل یې ( Bordetella Parapertussis) دئ .

**Paraphasia**

یو ډول افازی (Speech Disorder) چې په هغه کې ناروغ ناسم کلمات (Wrong Sound) ادا کوی یا له بې معنی کلماتو ( Word یا Phrase ) او ترکیبونو څخه ګټه اخلی د لیدل شوو یا لمس شوو شیانو نومونه په یاد نشی راوړلای .

**- Choreic Paraphasia**

د ناسمو کلیماتو سره یوځای بې معنی جملې او کلمې ځرګندولو پارافازی ناروغی .

**Paraphemia**

د (Paraphasia) په انډول.

**Para-Phenylenediamine**

دا یو ډول کېمیاوی عضوی بې رنګه کریستالی مرکب دئ چې د [C6 N2H4] فورمول لری د هوا او رڼا په وړاندې تور رنګ غوره کوی او په (147°C) درجو کې ذوب او(267°C) درجو خوټیږی د اتموسفیری اکسیجن سره مخامخ کېدو سره سم

اکسیدایز کېږي په (الکهول او ایتر) محللونو کې منحل ماده ده او د پوستکي شدید مخرش دئ په رنگ جوړولو صنعت کې او تحلیلي کېمیاکې کارول شي او د (P-Diaminobenzene) پنامه هم یادېږي.

## Paraphia
د لامسې د حس انحراف .

## Paraphilia
یو ډول روحي – جنسي اختلال چې په هغه کې ناروغ په ځان یا جنسي شریک پورې د اړونده شیانو په لورې شدیده جنسي لېوالتیا لري.

## Paraphilic
د (Paraphilia) اړوند صفت.

## Paraphimosis
دا یو ډول یورولوژیک ناروغي ده چې پکې د قضیب د حشفې پوښ پوستې د خلف لورې ته کش او رترکټ شوېوي او بېرته د حشفې لوری ته نه ارجاع کېږي چې کله ناکله د سُنت کولو (Circumcision ختنې) عملې ته اړتیا پرېوزي.

## Paraphrasia
د (Paraphasia) په انډول.

## Paraphrenia
دا یوه روانپوهنې پورې تړلې اصطلاح ده چې پکې ناروغ د رواني – روحي ستونزو له امله د هذیاناتو پرته د شدید ډول شخصیت تخریب څخه لري .

## Paraplasm
غېرنورمال وده ، د (Hyaloplasm) په انډول.

## Paraplastic
د (Paraplasm) اړوند صفت.

## Paraplectic
د (Paraplegia ) په انډول.

## Paraplegia
د بدن دملا برخې څخه ښکته یا د ښکتنیو اندامونو(پښو) برخو فلج چې د نخاع د جروحاتو له امله پېښېږي.

## Paraplegic
هغه څوک چې د پښو د اندامونو فلج ولري ، د (Paraplegia) اړوند صفت.

**- Paraplegic Center**
د پاراپلیجیک ناروغانودرملنې اړوند روغتیائي مرکز.

**- Paraplegic Patient**
د پاراپلیجیک په ناروغۍ اخته کس.

## Parapoxvirus
د زهر لرونکو ویروسونو څخه یو ډول دئ چې د ( Orf. Disease) او د پاراواکسینېز (Paravaccinase ) ناروغۍ لاملونه هم پکې ونډه لري.

## Parapraxia
بې منطقه چلند ، د ځانگړې حرکتونو په تر سره کولو کې ناتواني .

## Parapraxis
د حافظې د بهیر لنډ مهالې ودرېدنه یا ذهني گډوډې چې د ژبې د لړزېدو په بڼه وي دغه چاره د ځینو رواني فرضیو له مخې د بې شعورۍ تحریکونو او اړیکو له امله منځ ته راځي.

## Paraprofessional
هغه څوک چې د متخصص پرځای د مرستیال دنده ولري .

## Paraprotien
نورمال یا غېرنورمال پلازمائي پروټین چې په پتولوژیک حالت کې په زیات پیمانه شتون لري نن ورځ ددې کلمې پر ځای (M-Component) اصطلاح په ځای پکارېږي.

## Paraprotienemia
د وینې په بهیر کې د پارا پروټینونو سویې لوړوالې. د پلازماسلونو ډیسکاریزیا.

## Parapsis
د (Paraphia) په انډول.

## Parapsoriasis
د پوستکي یو لړ اریترودرمي ناروغۍ چې پکښې تفلس ورکوونکې ماکولونه –پاپولونه شته والې لري په وړاندې مقاومت څرگندوي لکه د پسوریازس ( Psoriasis) په انډول او ورته بڼه ولري.

## Paraquat
د ډای پیرېډیلیوم زهرجن مسموم کوونکې چې ډای کلورایدي او ډای میتایل سولفېتي مالگه یې د نبات وژونکي پتوگه پکارېږي ، لوړ غلضت یې په ( پوستکي سمي تحریکي ،وچېدونکې او د نوکانو د ماتېدو او لوېدو) لامل گرځي .

## Pararosanilin
یو قلوي (بېزي) رنگ ، د ترای فینایل مېتان یو مشتق

دئ د [Hoc($C_6h_4nh_2$)$_3$] فورمول لری چې د ښېزی فوشین له اجزاوؤ څخه شمېرل کېږی.

**Pararrhythmia**

د (Paracystole ) په انډول.

**Parasexual**

د غېرجنسی پېښو په واسطه تر سره شوی لکه په لابراتوار کې د سوماتیک حجرو هایبریډی جنیټیکی څېړنه.

**Parasite**

پرازیت ،① مفت تغذیه کوونکې حیوان ، ② هغه ژوې یا نبات چې د بل ژوندی موجود د بدن دننه یا پر سر ژوند کوی او له هغه څخه ګټه اخلی ،③ د غېر متناظر ښتنو غبرګ یا دوګونو کوچنې او نیمګړې هډ چې له ښېلېدلی ځای سره تړاو لری.

- **Ameobic Parasite**

آمیبیک پرازیت .انتامیوبا هیستولایتیک پرازیت.

- **Helmethic Parasite**

د چینجې بڼې لرونکې پرازیت.

- **Malaridial Parasite**

د ملاریا پرازیت ، پلازموډیم ملاریا .

- **Obligatory Parasite**

هغه ژوې پرازیت چې د خپل ژوندی پاتې کېدو لپاره په خپل کوربه پورې کاملاً تړلې وی، اجباری پرازیت.

**Parasitemia**

په وینه کې د پرازیتونو شتون لکه د ملاریاپرازیت.

**Parasitic**

د (Parasite ) اړوند صفت .

**Parasitism**

هغه ګډ ژوند چې په هغه کې یوه ډله (ګروپ) د بل یوه پر ضد

کار کوی خو دهغه له شته والی پرته ژوند نه شی کولای ، په پرازیت پورې تړلې منځ ته راغلې اختانی ناروغی.

**Parasitogenic**

له پرازیتونو سره په تړاو کې ، پرازیت منځ ته راوړونکی.

**Parasitology**

پرازیتولوژی، دپرازیتونو او د هغوی څخه د منځ ته راغلو ناروغیو پېژندنې ، درملنې اړوند څېړنو علم .

**Parasitotropic**

د پرازیتونو په لورې لېوالتیا .

**Paraspadias**

هغه ډول ولادی ناجوړتیا چې په هغه کې د متیازو لارې سورې د جنسی آلې په څنګ کې پرانیستل شویوی.

**Parasuicide**

د داسې ځان مسومولو یا ځان وژنې له لارې د ځان وژنې هڅه چې د وژلو په موخه نه تر سره کېږی .

**Parasympathetic**

پاراسیمپاتیټیک عصب اړوند صفت .

- **Parasympathetic Division**

د پاراسمپاټیک عصب څانګه یا ویشل شوې برخه .

- **Parasympathetic Functions**

د پاراسمپاټیک عصب دندې /وظیفې.

- **Parasympathetic Nerves**

د پاراسمپاټیک عصبی ربښې .

- **Parasympathetic Nervous System**

دپاراسمپاټیک عصبی سیستم چې یو خود مختاره عصبی جهاز دئ او د (زړه د سرعت کمښت ، دکولمو او غدواتو فعالیت ، د معصراتو د استرخا ) لپاره مسؤول د او دا د سیمپاټیک عصبی سیستم سره په ګډه اوتونومیک عصبی سیستم ( Autonomic Nervous System) منځ ته راوړی.

- **Parasympathetic Response**

دپاراسمپاټیک عصبی سیستم غبرګون (خواب ورکول) د پارېدنو په وړاندې.

- **Parasympathetic Stimulation**

دپاراسمپاټیک عصبی سیستم تنبه یا پارېدنه .

- **Parasympathetic System**

دپاراسمپاټیک عصبی سیستم.

**Parasympathic**

پاراسیمپاټیک عصب اړوند صفت .د ( Sympathetic Nervous System) په انډول.

**Parasympatholytic**

انتی کولینرجیک، پاراسیمپاټیکو لایتیک عصب د اغېزو پرېکون یا دعصب د انتقال بلاک، ( پاراسیمپاټیکو لایتیک) عصب

اړوند صفت .

**Parasympathomemitic**

پاراسیمپاټومیمیټیک عصب، د یوې برخې د پاراسیمپاټیکی عصب [تنبهی تحریک، همدغه راز هغه عامل (Drug or Agent) ] چې د غه ډول اغېزې پېښوی اړوند پروسه ګڼل کېږی.

## Parataxic

د (Parataxis ) اړوند صفت .

**- Parataxic Distortion**

دا یو ډول اظطراب دئ چې د درک او قضاوت حالت پکې مختل کېږی اود یو چا شخصی اړیکې پکې خرابوالي مومی.

**- Parataxic Mode**

دا د وړوکتوب دورې اړوند د درک او قضاوت اختلال دئ چې ماشوم یې د محیط په وړاندې ترلاسه کوی او ښایې په ځینوکسانو کې تر ځوانۍ پورې دوام ومومی.

## Parataxis

دا هم د روانی – روحی ناروغیو په لړ منځ ته راتلونکی اعراض دی چې پکې (هجاګانې او فقرې) پرته له ارتباطه او همغږۍ څخه ناروغ په کار وړی . همدارنګه د سایکولوژۍ له پلوه د شخصیت او نظریې اړوند اغېزناکه حالت دئ چې د ناروغانو اهمیت په ټولنه کې متضرر کوی.

## Paratendon

د سست منضم انساجو(Loose Connective Tissue ) ډکون د مخ په برخو کې چې تیندون لری خو آزادانه خوځښت ته اجازه ورکوی او دا برخه د تیندونی پوښ لرونکی ندی، د (Paratenon ) په انډول.

## Paratenesis

د یوه پرازیت تېرېدنه د یوه یا دوه کوربه څخه چې د پرازیت په حیاتی سیکل تکمیل باندې کومه خاصه اغېزه نه پرېباسی.

## Paratenic

د (Paratenesis) اړوند صفت.

**- Paratenic Host**

د پاراتینیزس اړوند کوربه ، د بیولوژۍ له مخې یو حیوان یا نبات چې پکې دننه بل ژوی (Organism ) ژوند کوی ، په طب کې ورته کرل شوې نسج یا غړی( Transplanted Tissue یا Organ) منونکې وائی .

## Paratenon

د (Paratendon ) په انډول.

## Parathelioma

پاراتیلوما تومور ، د (Interstitial Edometriosis) په انډول .

## Parathene

د درانه وزن لرونکی هر ډله هایدروکاربن چې د ملین غوړو څخه پلاس راځی .

**- Parasympathomimetic Drug**

د پاراسیمپاټومیمیټیک پر عصب باندې اغیزې ښندونکې درمل یا ټوکسین ،سمي موادچې پر [ Parasympathetic Nervous System(Psns)] باندې د یوه تنبهی / پېښې کوونکې فکتور پواسطه عمل تر سره کوی دا کېمیاوی موادو ته کولینرجیک درمل هم وایې ځکه چې استایل کولین یو ډول نیوروترانسمیتر دی چې د (Psns) پذریعه پکار وړل کېږی .

**- Parasympathomimetic Substance**

د پاراسیمپاټومیمیټیک مواد .

## Parasynaps

د (Parasynapsis) په انډول.

## Parasynapsis

د بیولوژۍ له پلوه د کروموزومونو څنګ تر څنګ یو بل سره واقع کېدنه ده پیوستون او یووالې لری د (میبوزس) په وېشنه کې .

## Parasynaptic

د (Parasynapsis ) اړوند صفت.

## Parasystematic

د سیستم تر اغېز لاندې، د سیستم په اوږدو کې توسعوی حالت دئ چې دا اکثراً طبی ځانګه کې پکار وړل شی ، د سیستم سره شاوخوا کې تړاو.

## Parasystole

د زړه دوه محراقونو تداخل چې هر یو یې تر ځان پورې په ځانګړی سرعت باندې د زړه ټکانونه تولیدوی او د زړه د بې نظمۍ (اریتمیا) لامل ګرځی.

## Parasystolic

د (Parasystole ) اړوند صفت.

**- Parasystolic Beat**

د پاراسیسټول اړوند ټکان (نبضان) چې د زړه بې نظمی څرګندوی.

## Parataniwha

د نیوځیلاند (New Zealand ) په هېواد کې نبات دئ چې د سرې ګلابی پاڼې لری او طبی نبات بلل شی.

## Paratarsium

دا یوه اصطلاح ده د هغه نسجونو لپاره پکار وړل شی چې د (Tarsus ) تر څنګ واقع دی.

## Parataxes

د (Parataxis ) په انډول.

## Parataxia

د (Parataxis ) په انډول.

## Parathesia
د (Paresthesia) په انډول.

## Parathion
حشره وژونکي کېمیاوی مرکب دئ چې بې رنګه ، بې بویه خاصیت لری په انسانانو او حشراتو باندې ډېر شدید مسموم کوونکي اغېز لرونکي ژیر بخنه مایع ده چې د ($C_8h_{10}no_5ps$ ) فورمول لری .

**- Parathion Poisoning**
د پاراتیون سمی مواد .

**- Parathion –methyl**
د پاراتیون میتایلین لرونکی سمی مواد .

## Para-tert-butylphenol
دا یو ډول کېمیاوی ستنې ته ورته کریستالی مرکب دئ چې د [ $(CH_3)_3CC_6H_4OH$ ] فورمول لری او په (98°C) درجو کې ذوب خوټېږی په (الکهول او ایتر) محللونو کې منحل ماده ده او د ( Varnish او Lacquer Resins ) تولید موټر غوړو (تېلو) په جوړولو صنعت کې ثبات ساتنې په موخه کارول شي.

## Parathuramminacea
د ( Foraminiferans) له کورنۍ سره په تړاو کې یو ځانګړې ډله ده .

## Parathormone
د (Parathyroid Gland ) غدې کې جوړېدونکې او آزادېدونکې هورمون چې وینې بهیر ته راتوئیږی او فاسفورس او کلسیوم تنظیم، نیوروموسکولار تنبهات او وینې علقه کېدنه تنظیم کوی.

## Parathymia
ناپایداری ، بدخویی کول ، لنډمهالي او لحظوی ناوړه – مخالف خوی او چلند.

## Parathyrin
د(Parathyroid Hormone ) لپاره سوداګریز نوم دئ.

## Parathyroid
د پاراتایراید غده .

**- Parathyroid Adenoma**
د پاراتایراید غدې سلیم ډول ادینوما تومور چې د وظیفوی پلوه فعال دئ.

**- Parathyroid Glands**
د پاراتایراید غده .

**- Parathyroid Hormone**
د پاراتایراید غدې افرازوونکي پیپټاید هورمون چې لنډه نښه یې (PTH) ده ، ( Parathyrin، Parathormone ) په انډول .

**- Parathyroid Hormone Test**
د پاراتایراېډ هورمون آزمایښت .

**- Parathyroid Hormone-Related Peptide**
د پاراتایراېډ هورمون اړوند پیپټاید.

**- Parathyroid Hormone-Related Protein**
د پاراتایراېډ هورمون اړوندپروټین.

**- Parathyroid Osteitis**
د پاراتایراېډ هورمون اړوند د هډوکو د اوستیټ ناروغی.

**- Parathyroid Scan**
د پاراتایراېډ هورمون اړوند کتنې او آزمایښتونه ترسره کول.

**- Parathyroid Squeeze Test**
د پاراتایراېډ هورمون اړوندتر فشار لاندې کتنې او آزمایښتونه ترسره کولو کړنلاره.

**- Parathyroid Tetany**
د پاراتایراېډ هورمون تېتانی .

## Parathyroid-
د یو مختاړې دئ د پاراتایراید غدې معنی لری.

## Parathyroidectomy
دپارا تایراېډ غدې غوځولو جراحی کړنلاره.

## Parathyroiditis
دپارا تایراېډ غدې منتشر التهاب .

## Parathyroidoma
د پاراتایراید غدې تومور .

## Parathyroids
د پاراتایراید غدې د افراز ا عصارې اړوند مواد-هورمون.

## Parathyropathy
دپارا تایراېډ غدې ناروغیو لپاره اړوندغبر وصفی اصطلاح ده.

## Parathyroprival
د (Hypoparathyroid) په انډول، د پارا تایراید د دندې کمښت ته ویل شی.

**- Parathyroprival Tetany**
د پارا تایراید د دندې کمښت له امله تېتانی ناروغی ته ویل شی.

## Parathyrotropic
د د پارا تایراید غدې نسج لوری ته لېوالتیا .

## Paration
دا یو ډول کېمیاوی عضوی مرکب دئ چې د [$C_{10}h_{14}no_5ps$] فورمول لری مالیکولي وزن یې (27،291) دئ او په (120°C) درجو کې ذوب او (375°C)کې خوټېږی په (اوبو) محلل کې منحل ماده ده.

## Para-toluenesulfonic acid
دا یو ډول کېمیاوی عضوی بې رنګه سمی کریستالی مرکب دئ چې د [ C6h4(So3h)(Ch3)] فورمول لری او په (107°C) درجو کې ذوب او خوټېږی په (اوبو، الکهول او ایتر) محللونو کې منحل ماده ده او د پوستکی شدید مخرش دئ په رنګ جوړولو صنعت کې او تحلیلی کېمیاکې کارول شی.

## Paratonia
ډېر قوت لرونکې ، ډېر مقویت لرونکې . غیر ارادی فعال حرکتونه چې د منفعله حرکتونو په وړاندې حرکت زیاتوالې مومی چې ښائی د (Forebrain) منتشر اختلال له امله وی چې د دماغ قدامی شریان د بندښت له امله وی دا د (—'Arteriosclerotic Parkinsonism'—Or Pseudoparkinsonism) پنامه هم یادېږی او د (Grasp Reflex) سره مل لیدل کېدلای شی.

## Paratonic
د (Paratonia) اړوند صفت. د بوتانی علم له مخې د یوې بهرنۍ تنبې په وړاندې غبرګون موندل .

### - Paratonic Movement
پاراټونیک حرکت ، د بوتانی علم کې د ټول نبات د بدن حرکتونه چې د بهرنۍ تنبهی سرچینې (جاذبې ، کېمیاوی مادې، تودوخې ، نور ، برېښنا ) په وړاندې منځ ته راغلې وی .

### - Paratonic Rigidity
پاراټونیک شخی یا تشنج .

## Paratope
د انتی باډی د مالیکول لپاسه هسې برخه په سر یوځای چې له انتی جن سره نښلی.

## Paratracheal
د شزن (توتکی) تر څنګ.

### - Paratracheal Lymph Node
د شزن (توتکی) تر څنګ لمفاوی غده، د عنق (غاړې) برخې قدامی لمفاوی غدې چې په خلفی منصف کې واقع دی او ورته د ( علوی او سفلی شزنی-قصبی ، شزنی ، مری )عقدې تخلیه کېږی چې بیا وروسته تر هغه قصبی-منصفی لمفاوی جذعې او صدری قنات ته توئېږی.

## Paratrachoma
د سترګې د تراخم / او ورته ناروغۍ. د ( Inclusion Conjunctivitis) په اند ول

## Paratransit Coordinating Council
د ترانزیت همغږی کوونکې شورا.

## Paratrichial
د ویښته د بېخ تر څنګ یا د ویښته د فولیکول په چارچېر کې کوچنۍ جوړښتونه .

### - Paratrichial Cystic Dilation
د ویښته د تر څنګ سیستیک اتساع اکثر د اپوکرین عرقیه غدواتو (Apocrine Sweat Gglands ) لپاره پکار وړل شی چې ښایی غدوی نسج د هایپرپلازیا سره مل وی یا هم نه وی.

### - Paratrichial Sweat Gland
د ویښته د تر څنګ غده ، د (Sweat Gglands ) په اند ول.

## Paratrichosis
هغه حالت چې په غېر نورمال توګه په بې ځایه موقعیت کې ویښته لرونکې کتله وده ومومی.

## Paratrigeminal Syndrome
د ترایجیمینال عصب پورې تړلې مجموعة الاعراض ناروغی چې پخپله عصب متضرر شوې نه وی.

## Paratripsis
① دا یوه اصطلاح ده چې د کتابولیزم کراره کېدو یا نهی کېدو لپاره کاروال شی.② بې ارزښته خاشې – بوس او ګیاه ، تخریشیت .

## Paratriptic
د تخریشی عامل اړوند (Paratripsis) صفت .

## Paratroch
په غېر فقاریه (Invertebrate Zoology ) علم کې هغه احداب چې د یوه (Trichophore Larvae ) لاروا د مقعد برخه یې چارچېر راتاو شوېوی اړیکه جوړوی .

## Paratrooper
د پارټروپونو(Paratroops ) یو غړې .

### - Paratrooper Fracture
د ښکتنی طرف (هډ) د قصبی هډوکی د ډیستال برخې د مالیول سره مل کسر دئ چې دلوړې ځخه د جمپ وهلو له امله منځ ته راځی ښایی چې دواړه لورو ته منځ ته راشی.

## Paratroops
په پیاده عسکری نظام کې د پراشوټ اړوند تربیه شوې.

## Paratropia
پاراټوپیا ، د (Schefflera ) له کورنۍ اصله هر یوه ببلګه چې د چترۍ ته ورته تل شنه نبات ځخه دئ او ژېړ-قهوه یې ګلان لری مرکب پاڼې او ښاخ او پنجې لری او سیوری او نوروشیانو په موخه ترې کار اخیستل شی ، د (Schefflera) په اند ول.

## Paratrophy
پاراټروفی ، د (Dystrophy ) په انډول.

## Paratuberclosis
پاراټوبرکلوزیس ، نری رنځ ته ورته ناروغی چې د مایکوباکتر یوم توبرکلوزس له امله نه وی ، د ( Johee's Disease) په انډول.

## Paratype
دا یوه بیالوژیکه نمونه اخیستنه ده چې په ( Taxonomic Group) تشریحاتو پکار وړل شی .

## Paratyphoid
د (Salmonilla Typhy ) څخه پرته د سلمونیلا په ټولو ډلو اخته کېدنه.

**- Paratyphoid Bacillus**
پاراټایفوئید باسیل .

**- Paratyphoid Fever**
پاراټایفوئید باسیل اړوند منځ ته راغلې تبه .

**- Paratyphoid Nodule**
پاراټایفوئید باسیل له کبله د نوډوا منځ ته راتګ .

**- Paratyphoid Vaccine**
پاراټایفوئید باسیل د ناروغیو په وړاندې د معافیت واکسین.

## Paratyphlitis
دا د دوه کلمو (Para + Typhlos ) څخه منځ ته راغلې او هغه التهاب بلل شی چې د سیکوم کولمې او اپنډکس برخې د چارپېر برخې نسج پورې اړوند وی. د (Perityphlitis) په انډول.

## Paraumblical
د نامه د غوټې په شاوخوا یا چارپېر کې برخې پورې اړوند ، د (Paraumblicus) په انډول .

**- Paraumblical Incision**
د نامه غوټې په شاوخواکې جراحی شق یا څیرل.

**- Paraumblical Lump**
د نامه غوټې په شاوخواکې کتله .

**- Paraumblical Mass**
د نامه غوټې په شاوخواکې کتله وغوټه.

**- Paraumblical Vein**
د نامه غوټې په شاوخواکې ورید .

## Paraurethral
د احلیل په شاوخواکې .

**- Paraurethral Cyst**
د احلیل په شاوخواکې د سیسټ منځ ته راتګ .

**- Paraurethral Gland**
د احلیل په شاوخواکې غده .

**- Paraurethral Incision**
د احلیل په شاوخواکې جراحی شق /څیرنه ترسره کول .

## Parauterin
د ځلانځې (رحم ) شاو خوا برخه .

## Paravaccinia
د غوائې د تیناکې په څېر .

## Paravaginal
د مهبل د شاوخوا نسجونو اړوند.

## Paravaginitis
د مهبل د شاوخوا نسجونو التهاب.

## Parazone
دهغه سپینو پټیو څخه هره یوه چې د غابښ په عرضانی مقطع کې د تورو پټیو په منځ کې پرتې دی.

## Paregoric
د پوډر شویو[ اپینو (تریاک) ، Anise Oil، بنزوئک اسید ،کافور ] رقیق شویو (الکهولو ، ګلایسرین) یو مخلوط چې په ځانګړی ډول په نس ناستی د اشتدادی حرکتونو د مخنیوی لپاره پکاریږی.

## Parenychyma
د یوه غړی ضروری او وظیفوی عنصرونه (جوړ نسج) چې دهغه له سټروما شبکې څخه د تشخیص کېدو وړ دی.

## Parenychymal
د (Parenychyma) اړوند صفت .

## Parenteral
د هضمی ټیوب له لارې څخه پرته د (تحت الجلدی، داخل العضلی، وریدی او نورو ) له لارو څخه درملو زرق کول.

**- Parenteral Injection**
پرنترال پیچکاری.

**- Parenteral Fluid**
پرنترال د مایعاتو تطبیق.

**- Parenteral Feeding**
د (Parenteral Nutrition ) په انډول ، زرقی پرنترال تغذي .

**- Parenteral Nutrition**
پرنترال یا د زرق له لارې تغذی .

**- Parenteral Therapy**
پرنترال درملنه .

**- Parenteral Treatment**
پرنترال له لارې د ناروغیو درملنه.

## Parepididymis
د (Parapididymis ) په انډول.

## Paresis
د لږ شدت لرونکې او نیمګړې فلج ، د

## Parietotemporal
جداری –صدغی ، د کوپړۍ د جداری او صدغی (ټپک) هډوکو اړوند .

**- Parietotemporal Suture**
جداری –صدغی درز.

## Pariety
هغه مېرمن چې ژوندۍ ماشوم دنیا ته زېږوي. یوشان والې ، زیات ورته والې .

**- Multy Pariety**
ډېر زیات ماشومان زېږونه.

## Parkinsonian
د پارکینسون ناروغی (Parkinsonism) اړوند صفت ،

**- Parkinsonian Disease**
دپارکینسون ناروغی .

**- Parkinsonian Syndrome**
دپارکینسون مجموعة الاعراض یا سنډورم .

## Parkinsonism
د نیورولوژیک اختلالتو یو ډله ناروغی چې پکې عضلی شخی (ریجیډیټی) او رعشوی (رپېدنه ،تریمور) لړ تحرکیت سره پېژندل شی .

**- Arteriosclerotic Parkinsonism**
د (Pseudoparkinsonism ) په اندېول.

**- Pseudoparkinsonism**
هغه ډول پارکینسونیزم ناروغی چې د دماغ د قدامی شریان د اتېروسکلروټیک انسداد / بندښت له امله پېښېږی .

## Paroccipital
د اوکسیپیټال هډوکی تر څنګ .

## Paromomycin
هغه وسیع الساحه انتی بیوټیک چې د ( Streptomyces Rimosus Paramomycinus) جنسونو څخه لاس ته راځی او د سولفیتي مالګو څخه یې د آمیب ضد مادې پتوګه کارول شی.

## Paronychia
هغه التهاب چې دلاس د نوکانو د شاوخوا نسجونو چینونه نیسی

## Paronychial
د (Paronychia)اړوند صفت.

## Paro-ophoron
هغه پېچلې او تاوراتاو ټیوبونه چې د مېزوسالپینکس د طبقو په منځ کې د کوچنیو ګروپونو په بڼه شته والې

( Paralytic Dimenssia ) په اندېول.

**- General Paresis**
عمومی پاریزیس ، د عصبی سیفلیس یو ډول چې په هغه کې مزمن مننګوانسفالیټ د ماغزو د قشری چارو د تدریجی فقدان د پرمختلونکی ډایمنشیا او عمومی فلج لامل ګرځی .

## Paresthesia
کرخت توب ، د حسیت کمښت ، د پوستکی برخه کې د مېږی مېږی کېدنې غېر نورمال احساس.

## Paretic
د ( Paresis ) اړوند صفت

## Pargyline
دهغه مونو امینو اکسیډیز انزایم نهی کوونکې چې د هایدروکلورایدی مالګه بڼه یې د وینې لوړ فشار درملنه کې پکار وړل شی.

## Paries
د یوه غړی یا یو جوف جدار (دېوال) .

## Parietal
جداری ، د (Paries) اړوند صفت ، د یوه غړی یا یو جوف جدار (دېوال) پورې تړاو کې ، د کوپړۍ د پاریټال هډوکی ته نېږدې پروت یا په هغه پورې اړوند .

**- Parietal Bone**
په کوپړۍ کې د پاریټال هډوکی.

**- Parietal Peritoneum**
د ګېډې جداری پریټونیوم طبقه .

**- Parietal Pleura**
جداری پلورا.

## Parietofrontal
د کوپړۍ کې د پاریټال او جبهی هډوکی ، جداری - جبهی .

**- Parietofrontal Suture**
جداری - جبهی درز .

## Parieto-occipital
جداری - اوکسیپیټال ، د کوپړۍ د جداری او اوکسیپیټال (تاراک) هډوکو اړوند.

**- Parieto-occipital Suture**
جداری - اوکسیپیټال درز.

## Parieto-occiput
جداری - اوکسیپیټال.

## Parietoparital
جداری -جداری هډوکی .

**- Parietoparital Suture**
جداری - جداری درز.

لري. دغه ټیوبونه تل نه وي او د مېزونفرونونو د افرازي برخو پاتې شونې څرگندونه کوي.

## Parophthalmia

د سترگې د شاو خوا منضمي نسج التهاب .

## Parochidilium

د يوې يا دواړه مرغېړو (خصيو) بې ځايه توب حالت.

## Parosmia

د بوئيولو د احساس اختلال دئ .

## Parostosis

د پريوسټ د بهرني نسجونو هډوکيز کېدنه .

## Parotid

پاروټيد ، غوږ ته نږدې ، د پاروټيد غده .

**- Parotid Gland**

د پاروټيد غده چې لاړې توليدوي او د غاړې برخې د ترژامنې او غوږ لاندې موقعيت لري.

## Parotiditis

د (Parotitis) په اند ول.

## Parotitis

د پاروټيد غدې التهاب .

**- Epidemic Parotitis**

انديميک پاروټايټس، اوريون .

## Parovarian

د هگۍ ځالې (تخمدان) ترڅنگ ، د (Epoophoron) سره په تړاو کې

## Paroxetine

د انحطاط ضد درمل چې د سيروټونين پر اغېزو ته په ماغزو کې اوږدېدنه وربخښي.

## Paroxysm

د يوې ناروغۍ د نښو نښانو سمدلاسه او نابېره شدت موندل يا ناڅاپه بابېږې، شخي يا تشنج ، نوساني حالت .

## Paroxysmal

د (Paroxysm) اړوند صفت.

**- Paroxysmal Disease**

پاروکسيزمال ناروغي .

**- Paroxysmal Dyspnoea**

پاروکسيزمال ذيق النفس ، هغه حمله چې د شپې له خوا د سالندۍ لامل گرځي او د زړه د احتقاني عدم کفايې له امله وي.

**- Paroxysmal Fever**

پاروکسيزمال تبه، نوساني تبه .

**- Paroxysmal Tachycardia**

پاروکسيزمال ټاکی کارډيا ، د (Nodal Tachycardia) په اند ول.

**- Paroxysmal Syndrome**

پاروکسيزمال سنډروم.

## Parrot Disease

د پسيتاکوزيس (Psittacosis) ناروغي په اند ول.

## Parous

د زېږوونکې ښځې اړوند صفت.

## Pars

يوه برخه ، د ويش يوقسمت ، بخش ، ونډه ، نابشپړه.

**- Pars Mastoidae Ossis Temporalis**

د ټيمپوړال (صدغي) هډوکي د مستوئيد برخه چې نامنظمه برخه ده او د هغه تر شا پرته ده .

**- Pars Petrosa Ossis Temporalis**

د ټيمپوړال (صدغي) هډوکي د د پټروزا برخه چې داخلي غوږ پکې پروت دئ او د کوپړۍ په قاعده کې واقع ده.

**- Pars Palana Corporis Ciliaris**

پانه ائيزه پانه ، د پانه ائيز جسم نرۍ –نازکه برخه.

**- Pars Planitis**

د پانه ائيز جسم د ښويه برخې گرانولوماتوز اووئيت.

**- Pars Squamosa Ossis Temporalis**

د ټيمپوړال (صدغي) هډوکي د صدفي ډوله پورتنۍ مخکښې برخه .

**- Pars Tympanica Ossis Temporalis**

د ټيمپوړال (صدغي) هډوکي هغه برخه چې د غوږ د بهرني سوري قدامي او لاندينۍ جدار ونه او د خلفي جدار يوه برخه.

## Parsus

د (Pars) اړوند صفت . برخه ائيز، د قسمت اړوند.

## Part

برخه، ونډه، دماشين پرزه، خوا ، لوري.

## Partake

په درملنه کې برخه اخيستل، په خوړوکې ونډه اخيستل.

## Partial

يوه برخه ، قسمت ،پلوي، طرفدار، غرضي،قسمي ، نابشپړه ، ناتمامه ، ناکامله ، نيمه کاره ، ناقصه ، جزئي.

**- Partial Amnesia noun**

قسمي ډول د يادښت او حافظې له منځه تلل چې پېښې يا نومونه هېرول کېږي .

**- Partial Deafness**

ناقصه ډول کونوالي .

**- Partial Denture**
د غاښونو قسمي ډول سیټ (**Set** ) چې پکې یو څو غاښونه تبدیل وي.

**- Partial Gastrectomy**
قسمي (نابشپړه) ډول د معدې غوڅولو جراحي عملیات کړنلاره.

**- Partial Hepatectomy**
قسمي ډول د کبد د غوڅولو جراحي عملیات کړنلاره.

**- Partial Hysterectomy**
قسمي ډول د رحم (ځلانځې) د غوڅولو جراحي عملیات کړنلاره.

**- Partial Mastectomy**
قسمي (نابشپړه ) ډول د تیپونو غوڅولو جراحي عملیات کړنلاره.

**- Partial Nephrectomy**
قسمي ډول د پښتورګي (بډوډۍ) د غوڅولو جراحي عملیات کړنلاره.

**- Partial Pancreatectomy**
قسمي (نابشپړه ) ډول د پانکریاس غدې غوڅولو جراحي عملیات کړنلاره.

**- Partial Thickness Burn**
د پوستکي نابشپړه ضخامت ډول سوځېدنه، د ( **Superficial Thickness Burn**) په انډول.

**- Partial Vision**
قسمي (نابشپړه ) ډول د لیدنې (رویت) وړتیا او توان لري چې نشي کولای په کامله توګه هر څه وګوري .

## Partiality
لوري، طرفداري ، د یو چا خواته ودرېدل.

## Partially
نا بشپړه ډول، په یوه برخه کښې طرفداري په ډول.

**- Partially Deaf**
نا بشپړه ډول کوڼوالي ،چې لږه اندازه غږ اورېدلای شي.

**- Partially Paralysed**
نا بشپړه ډول فلج ، ناکامله ګوزڼ.

**- Partially Sighted Register**
د هغه کسانو لیست چې ضعیف لید لري او کامل ړوندوالي نلري چې ځانګړې سرویس ته اړتیا لري.

## Participant
برخه اخیستونکی ، ګډونوال.

## Participate
د یوه اناټومیک جوړښت کې برخه اخیستل، ګډون کول.

## Participation
ګډون، برخه اخیستنه.

## Participator
ګډونوال ،په تعامل یا پروسې بشپړولو کې ګډون کوونکی عامل .

## Particle
د مادې یوه کوچنۍ ذره ،اندک برخه ، پارچه، ټوټه ، بڅرکی، خاشه.

**- Dane Particle**
د بي هیپاټیټ (**HBs**) ویروسي ذره چې سالمه وي .

**- Elementary Particle's of Mitochondria**
ډنډه یي کلب (**Club**) ډوله کوچني ګڼ شمېر ګرانولونه چې ګردي سرونه لري او د مایتوکاندریا له داخلي غشأ سره نښتي بڼه لري.

**- Viral Particle**
د (**Virion**) په انډول .

**- Virus Particle**
د (**Viral Particle**) په انډول .

## Particular
ځانګړی ، خاص، جلا، بیل ځانګړ توب، جلاوالی.

## Particularize
ځانګړی کول، خاصول، بیلول: تشریح کول، ځانګړی کیدل، ګڼل.

## Particulate
**1.**د ذراتو څخه منځ ته راغلی جوړښت او توکی اړوند ،
**2.**له بېلابېلو ذراتو څخه منځ ته راغلې .

**- Particulate Matter**
د لږ اندازه دراتو څخه جوړ چې ځانګړې اندازه نلري معمولاً د کاربن اړوند چې په هوا کې د ککړتیا اړوند چې د استما پېښنه کې رول لري.

## Partly
نابشپړ ، ناکامل ، یوه برخه .

**- Partly Paralysed**
ناکامله پرالایزس .

## Parting
بیلتون، جلاتوب، بیلونه ویشنه، ونډې ونډې کول، برخې برخې کول ، تجزیه.

## Partition
وېشل. وېش، تقسیم، تجزیه.

## Pertitioning
په څو برخو باندې ویشل .

**- Gastric Pertitioning**
د ګاسترو پلاستي یو ډول چې په هغې کې د معدې د یوه

کوچنۍ برخه ساتله کېږي او تر څو ډکېدل يې د مړينت سيګنالونه واستوی لدې طريقې حخه د ناروغ ډوله چاغښت په درملنه کې کار اخيستل کېږي.

## Partner

ملګری، مل، شريک.

## Parturient

لنګون، زېږون، د زېږونې سره په تړاو کې .

**- Parturient Canal**

د زېږون اړوند کانال.

**- Parturient Women**

زېږوونکې ښځه .

## Parturifacient

د زېږون پيل دئ چې زېږېدنې ته اساتتيا منځ ته راوړي لکه هغه درمل چې زېږېدنه ساده کوي.

## Parturiometer

هغه وسيله چې د رحمی کانال د عضلاتو د انقباضاتو توان د اندازه کولو لپاره پکارېږي.

## Parturition

زېږون ، لنګون ، ولادت کول، هغه عمل يا بهير چې د يوه ماشوم په زېږېدوسره پای ته رسېږي.

## Party

پلوی ،لنګه نيول ، طرفدار،ملګرې ، ملګرتيا، يوه اندازه، يوه برخه، يوڅه قسماً ، ګوند، حزب، ميلمستيا .

## Parulis

د اوريو سب پريوستی دانه /خراج يا (Gumboil) .

## -parus

دا يوروستاړې دئ او د( زېږوونکې ښځه ) معنی لري.

**- Multiparus**

څوځله زېږوونکې ښځه.

**- Primiparus**

ړومبی (لومړی) ځله زېږوونکې ښځه.

## Parvicellular

د کوچنيو حجرو څخه جوړ .

## Parvoviridae

پارووويروسونه ، د (Dna) لرونکی ويروسونو کورنۍ چې د رشتوی خطی (Dna) جينوم لري او د ( Parvovirus او Dependovirus) دوه جنسونه پکې شامل دي.

## Parvivarus

د (Parvoviridae ) د کورنۍ اړوند ويروس دئ چې تي لرونکي او الوتونکي مرغان اخته کوي.

## Parvivirus

د (Parvoviridae ) د کورنۍ اړوند ويروس دئ.

## PAS

د (Para-Aminosylisalic Acid ) لپاره لنډه نښه ده.

## Pascal

په (Si) سيستم کې د فشار واحد چې په متر مربع سطحه باندې د يوه نيوټن قوې څخه عبارت دئ او لنډنښه يې (Pa) ده.

## Paschen Bodies

هغه ذرات چې په پوستکی ناروغۍ د (Smallpox ) کې واقع کېږي دا اصطلاح لومړی ځل دجرمنی پتولوژست (Enrique Paschen ) پذريعه په (1860–1936) کالونو کې شرحه شوه .

## Pass

پورې وتنه، اوښتنه، تېرېدنه اواطراح لکه د (غولو ،متيازو اونورو بېکاره توليداتو) ، خورېدنه ، برياليتوب، پاس ( اجازه ليک). غاښې، بند ، کنډو.

**- Pass Away**

داسې يوه اصطلاح ده د مړينې ويلو څخه مخنيوی کوی او د هغې پرځای استعمالېږي .

**- Pass Faeces**

د غولو (غايطې موادو ) اطراح .

**- Pass Urine**

د متيازو (ادرار ) اطراح .

## Passable

دتېرېدوور، داوښتو وړ، دخورېدو وړ.

## Passage

تېرېدنه ، د تېرېدنې لاره ، د تېرېدو کانال . نرۍ ګودر يا لاره د بدن دننه جوړښتونو کې ، د فاضله موادو (متيازو ، غولو ) تېريدونکی حالت ،د يوې وسيلې تېرول د يوه جوف دننه . ،هوائی لارلکه (شزن او قصبات) چې سږو ته هواتېروی.

## Passenger

اعتلان ، د زېږون پرمهال زېږېدونکې ماشوم ،مسافر.

## Passer

تېريدونکی.

## Passionate

قار ، غضب ، قهر ، غوصه ، هیجان.

## Passionless

سوړ ، دسرې سینې څښتن، بې مینې.

## Passive

زغمونکی، گالونکی، متحمل صابر،غیر فعال.

**- Passive Activity**

غیر فعاله فعالیتونه .

**- Passive Immunity**

منفعله معافیت چې د مور د رحم یا د انتی ټوکسین زرق له لارې منځ ته راځی.

**- Passive Movement**

غیر فعاله حرکتونه .

**- Passive Smoker**

هغه څوک چې خپله سگرټ نه څکوی خو د نورو کسانو څښاک دود د هغه سږو ته ورننوزی .

**- Passive Worker**

غیر فعاله فعالیت کوونکی .

## Pass on

یو چاته ناروغی پیښول لکه د مور له لورې ماشومانو ته د (Haemophilia) ناروغی تېرېدنه . د (Passed Awy) په انډول.

## Pass out

ضعف کول وبېحاله کېدل ، بېهوښه کېدل.

## Paste

خمیره، سریښ، کریم.

## Pasteurella

دهیموراژیک سیپتیسیمیا د پېښوونکی د (Plague) ناروغی عامل (Pasteurella Multocida) په گډون د پرازیتیک گرام منفی باکتریاگانو یو ډول د (Pasteurellacae) له کورنۍ سره په تړاو کې.

**- Pasteurella Multocida**

د پاستوریلاسی کورنۍ اړوند گرام منفی باکتریاگانې.

**- Pasteurella Pestes**

د پاستوریلاسی کورنۍ اړوند گرام منفی باکتریاگانې.

## Pasteurellosis

د پاستوریلا کورنۍ اړوند جنس دگرام منفی باکتریاگانو یا ارگانیزمونو اخته کېدنه .

## Pasteurization

د تودونې او جوشولو کړنلاره، تعقیمونې کړنلاره.

## Pasteurize

تر هغې درجې (د 30min دقیقو لپاره په 60 °c) پورې ایشول چې مکروبونه پکښې ووژل شي یا وده یې ودرول شی ، تعقیمول لکه د شیدو خوټول.

**- Pasteurized Milk**

خوټېدلې یا جوش شوې شیدې .

## Past History

تېره تاریخچه چې د ناروغانو څخه دکتنې او بستربدو پرمهال پوښتل کېږی او په دوسیه کې رسول کېږی.

## Pastille

1. یو ډول خوږه جیلی چې درمل لری او ژبېښل شی د ستونی درد درملنه کې کارول شی.2. یوه کوچنۍ کاغذی ټوټه چې د باریوم (Barium Platinocyanide) پواسطه پوښلې ده او د وړانگو سره د مخامخ کېدو سره سم خپل رنگ ته بدلون ورکوی.

## Pat

دیو څوک دلاس په کراراه سره څپېړه وهنه .

## Patch

هغه کوچنۍ سیمه چې د خپلې شاو خوا سیمې سره توپیر لری ، پاچ ، هغه ماکول چې (3-4 Cm) قطر ولری . پاچ یوډول ټوکر، ټوټه پټی ( دټپ ) سره روغول، فیصله کول.

**- Peyer Patches**

د کولمو د جدار اړوند راوتلې بیضوی ډوله سیمې چې په واقعیت کې د کوچنیو کولمو په مخاط کې د لمفاوی فولیکولونو یو غونډ دئ او د دفاعی سیستم یوه برخه ده.

**- Salmon Patch**

د (Nervus Falmmeus) په انډول.

**- Patch work**

له بیلو بیلو ټوټو څخه جوړونه، له رنگارنگ ټوکرانو څخه جوړونه.

## Pate

سر ، ککری، کوپی، کرکره، جوغه.

## Patella

رتفه ، د زنگون سترگه ، زنگون بند گردۍ هډوکې چې د بند قدام کې واقع دئ.

## Patellar

د (Patella) اړوند صفت .

**- Patellar Reflex**

رتفی عکسه ، د رتفې هډوکی اړوند رفلکس (عکسه) چې د

ټکان په بڼه د زنګون په بند کې د یوه لنډې ضربې څخه وروسته منځ ته راځي دا د عصبي ناروغانو په کتنه کې ډېر مهال پکار وړل شي او ورته د (Knee Jerk) نوم هم ورکول شي.

**- Patellar Tendon**

د رتفي تینډون . د زنګون برخې د رتفي وترتر زنګون سترګې لاندې .

## Patellectomy

د زنګون سترګې د هډوکی د غوځولو او راویستلو جراحي عملیات کړنلاره.

## Patency

واز پاتې شوې حالت ، هغه چې په غېر عادي توګه نه وي تړل شوې

**- Patency of the Fallopian Tube**

د نفیرونو واز پاتې شوي بڼه .

## Patent

پرانیستې،څرګند ، ښکاره، جوت ، آزاد ، غېر مسدو اوتړلې ، واضیح ، عام.

**- Patent Ductus Arteriosus**

دا یو ډول ولادی نیمګړې ناروغی ده چې د (Ductus Arteriosus) برخه نه وی تړل شوې او وینه پرته لدې چې سږو ته واوړی په دوران کې پاتې کېدو لاملګرځی.

**- Patent Medicine**

هغه درمل چې تر تجارتی نوم لاندې خرڅېږی پرته له د نوم کاپی ولری د قانون له مخې خوندی دی.د (Proprietary Medicine) په انډول.

## Paternal

پلارنی.

## Paternalism

پلارولی، د پلار د کړه وړه او مسؤلیتونو تر سره کولو اړوند چارې .

## Paternity

پلاروالی، پلارتوب.

**- Paternity Test**

د پلارولی آزمایښت لکه و وینې ګروپ او د (Dna) تاکنه

.

## Path-

دا یو مختاړې دئ او د (ناروغی ، رنځ ، ناجوړتیا ) معنی ورکوی د (Patho-) په انډول.

## Path(o)-[1]

دا یو مختاړې دئ او د (لاره ، لارې ، شپوې ، دود ) معنی ورکوی .

## Path(o)-[2]

دا یو مختاړې دئ او د (ناروغی ، رنځ ، ناجوړتیا ) معنی ورکوی .

## Pathergic

د (Pathergy) اړوند صفت.

## Pathergy

هغه وضعیت چې د یوې مادې تلقیح یا د یوه تحریک واردول د بل تحریک په وړاندې یو موجود چمتو او بېدار کوی.

## Pathetic

اغیزه ناک، خواشینوونکی، احساسات پاروونکی، غریو راوستونکی ،خوځوونکی، پاروونکی.

## Pathetically

په موثر ډول، په اغیزه ناک توګه.

## Pathfinder

①لارموندونکې، د بولی مجرأ د تنګ ځای د معلومولو لپاره آله .②د غاښ په طبابت کې هغه وسیله چې د غاښ ریښو د تګلارو په ټاکنه مرسته کوی.

## Pathless

بې لارې.

## Pathoanatomical

د ناروغو نسجونو د اناټومی سره په تړاو کې .

## Pathobiology

پتوبیولوژی ، د (Pathology ) په انډول.

## Pathoclisis

دځانګړو زهرو وړاندې ځانګړې حساسیت یا د ځینو سیستمونو یا هډونو په لورې د ځینو زهرو ځانګړې لېوالتیا.

## Pathogen

پتوجن ، د ناروغۍ پېښوونکې عامل یا مایکروارګانیزم.

## Pathogenesis

د ناروغۍ یا ناروغۍ ډوله حالت پېښوونه ، د ناروغۍ د پېښېدنې د پروسې د مېکانیزم څرګنګوالی څرګندیدل.

## Pathogenetic

د (Pathogenesis ) اړوند صفت.

## Pathogenic

ناروغوونکی، دناروغتیا دمینځ ته راوستونکي ،ناروغی پېښوونکی عامل اړوند صفت.

## Pathogenicity

د ناروغۍ پېښونې وړتیا لرل .

## Pathogonomonic

د یوې ناروغۍ یا ناروغۍ ډوله حالت پېښوونې ځانګړې مشخصه چې د هغې ناروغۍ نښې ته اشاره کوی او دهغې په مټه پېژندل کېږی.

## Pathologic

دناروغۍ په پیژند ګلوی پورې اړوند او مربوط.

**- Pathological Depression**

د پتالوژیک ناروغیو اړوند انحطاط چې بنائي د ځانمرګی لامل شی.

**- Pathological Dislocation**

د بندونو د ناروغۍ له امله وتنه یا خلع منځ ته راتګ.

**- Pathologic Examination**

د پتالوژیک کتنې اړوند. پتالوژیک آزمایښت.

**- Pathological Fracture**

د هډوکو د ناروغیو له امله کسر یا ماتېدنه .

## Pathologist

دناروغۍ پیژندونکی.

## Pathology

پتالوژي دناروغۍ پېژندنه، رنځ پېژندنه، د طب هغه څانګه چې د یوې ناروغۍ د څرنګوالی او نسجی بدلونونو پېژندنې څخه بحث کوی .

**- Cellular Pathology**

حجروی پتالوژي. چې د ناروغیو منځ ته راتلو پورې تړلې حجرو پېژندنې سره تړاو لری.

**- Clinical Pathology**

کلینیکی پتالوژي ، کلینیکی رنځ پېژندنه ، هغه ډول کلینیکی پېښې پېژندل چې پکې نسجی - لابراتواری کتنې ته اړتیا پرېوزی

**- Comparative Pathology**

پرتله ائیز(مقایسوی) پتالوژی، یو ډول رنځ پېژندنه چې د سفلی حیواناتو د ناروغیو په پرتله د انسانی بهیر مقایسه کوی .

**- Histopathology**

هستو پتالوژی ، حجروی –نسجی پتالوژي. چې د ناروغیو منځ ته راتلو پورې تړلې حجرو پېژندنې سره تړاو لری.

**- Oral Pathology**

دخولې پتالوژی ، چې دخولې د اناټومیک جوړښتونو کې د ناروغیو بدلونونو منځ ته راتلو پورې تړلې او حجروی لامل پېژندنې سره تړاو لری.

**- Pathology Report**

د ناروغیو د لامل پېژندنې پر بنسټ رپورټ جوړول.

**- Speech Pathology**

د روغتیا پوهنې هغه څانګه چې د( غږ ، ژبې او خبرواترو ) ناجوړتیا ارزوونه کوی او ناروغۍ پېژندنه کوی.

**- Surgical Pathology**

دهغه ناروغیو پېژندنه چې د جراحی له لارې یې د تشخیص او درملنې وړ دی.

## Pathomimesis

ځان خپه نیول.

## Pathomorphism

غېر نورمال یا منحرف و بڼې او شکل منځ ته راتګ ، غېر عادي مورفولوژی.

## Pathophysiology

رنځور ډوله او اختلالی بڼه دنده –کار فزیولوژی. هغه علم چې د ناروغ غړی د (آفت ) چې د دندې یا وظیفې اړوند ناروغتیا رامنځ ته کړی څېړنې تر سره کوی .

## Pathos

اغیزه، تاثیر.

## Pathosis

د ناروغۍ حالت .

## Pathway

لار ، طریقه ، شېوه ، مسیر .

**- Accessory Conducting Pathway**

هغه مایوکارډی الیاف چې انقباضی سیالې له اُذین څخه بطین ته لېږدوی خو اذینی –بطینی نارمل هدایتی سیستم برخه نه دی.

**- Afferent Pathway**

موصله مسیر تګ لورې ، هغه اعصاب چې د هغو له لارې سیالې (ایمپالسونه) په ځانګړی ډول حسی عصبی سیالې د ماغزو قشر ته لېږدوی.

**- Alternative Complement Pathway**

د کلاسیکو لارو څخه پرته د نورولارو څخه د کمپلیمنتونو د فعالولو تګ لورې.

**- Amphibolic Pathway**

د میټابولیکی تعاملونو یوه ډله چې کوچنی میټابولایټونه د زیات میټابولېزم او یا د وروستیو محصولاتو یا سنتیتیک انابولیک تعاملاتو د پربکارسور لپاره چمتو کوی.

**- Circus Pathway**

هغه کړی یا دائره چې د مخ په لورې د تحریکی څپو د تېرېدو له امله منځ ته راځی.

**- Calssic Complement Pathway**

کلاسیک اړوند کمپلیمنت لارې چې د هغو کامپلمنټونو د فعالولو لپاره تګلورې چې [ 9-Complements (C9-C1)] لرې او د انټي باډي –انټي جن د کمپلکسونو پواسطه په ځانګړې ایمیونګلوبولینونه لرې پیلېږي.

**- Common Pathway of Coagulation**

په فیبرین د فیبرینوجن د اوښتنې او د (X-Factor) فکټورونو فعال کېدنې څخه زېږنده د تحثري (پرنډ کېدنې) مېکانیزم یوه مرحله .

**- Efferent Pathway**

هغه عصبي جوړښتونه چې د هغو له لارې مغزی سیالې (ایمپالسونه) د کاري غړو عضلاتو یا غدو په لورې استول کېږي.

**- Embden- Meyrerhof Pathway**

په لاکتیک اسید باندې د ګلوکوز په غېر هوازی بدلون کې د انزایمی غبرګونونو یوه ډله چې د (Atp) په بڼه د انرژی د پېښېدو لامل ګرځي.

**- Extrinsic Pathway**

هغه مېکانیزم چې د نسجي فکټور او اوم فاکټور تر منځ د فعال شوی کمپلکس د جوړېدنې او د یوهګډ تحثري مسیر د تعامل د القأ له لارې تر نسجي صدمې وروسته فیبرین تولیدوی.

**- Final Common Pathway**

هغه حرکی مسیرچې د حرکی اعصابو څخه جوړ شوې او له لارې یې د مرکزی برخو پیغامونه محیطی عضلاتو یا غدواتو ته رسېږي.

**- Intrinsic Pathway of Coagulation**

دننه تحثري لاره ، د تعاملونو هغه ترتیب چې د فیبرین په جوړېدنې پای ته رسیږي دغه تګ لورې د اوم فکټور (Vii-Factor) له تماس څخه زېږنده فعاله کېدنې څخه پیل او په ګډ مسیر کې د (X-Factor) په فعالېدو پای ته رسېږي.

**- Lipoxygenase Pathway**

د اراشېدانوئیک اسید څخه د (Hydroxyeicosatetraenoic Acid) او (Leukotrines) جوړېدنې لپاره تګ لاره.

**- Metabolic Pathway**

مېټابولیک تګلاره، د انزایمی غبرګونونو او تعاملونو هغه ډله چې یوه ماده په بلې باندې اړوی.

**- Motor Pathway**

حرکی تګلاره ، هغه مرسله تګلاره چې عصبي څپې له مرکز څخه عضلاتو ته لېږدوی.

**- Pentose Phosphate Pathway**

د کاربوهایدرېټونو د مېټابولیزم د (آمبدن میرهوف) د تګلارې څخه یوه مهمه ځانګه چې هګزوز اکسیډیز کوی او په پنټوز یې اړوی.

**- Properdin Pathway**

د کمپلیمنټ د فعالېدو تګلاره.

**- Reentrant Pathway**

هغه تګلاره چې پکې د بیا داخلېدو (Reentry) سیکل ته څپې ورننباسی.

## -pathy

دا یو روستاړې دئ او د ناروغۍ حالت معنی لری معمولاً د غېر التهابی ناروغیو اړوند استعمالېږي.

## Patience

زغم، ګالنه، صبر.

## Patient

ګالونکی، زغمونکی، صبرناک ، ناروغه،رنځور، مریض.

**- Patient Allocation**

دا یو سیستم دئ چې ناروغان د ځانګړې نرس پذریعه په ټول ټال درملنې لړ کې منظم ځارل شي.

**- Patient Identifier**

د ناروغ پېژندنه ، د لیکونو د کوډ لړی چې په میډیکل ریکارډ کې په ناروغانو لړ کې ثبت کېږي .

**- Inpatient**

د روغتون دننه بستری ناروغ.

**- Outpatient**

د روغتون څخه بهر (سرا پا) ناروغ .هغه چې په روغتون کې بستر نه وی.

## Pattern

نمونه، بېلګه ، ماډل، مثال، نخښه. په زوره غړېدونکی.

## Patulous

واز ، خلاص پاتې ، هغه چې تړلې نه وی ، وازه خوله.

## Paucisynaptic

د ( Oligosynaptic) په اندول .

## Paul–Bunnell Reaction

هغه د وینې ازماېښت چې د( Glandular Fever ) حالت په باسیل پېژندنه کې مرستندویه دئ لومړې ځل د امریکائی عالم( John Rodman Paul ) پذریعه په کال (1932–1966) کې شرحه شو ، د ( Paul–Bunnell Test ) په اندول.

## Paul’s Tube

دایو ښیښه ائیز ټیوب دئ چې د هغه پواسطه د کولمو محتوی دیوې وازې لارې څخه راټولېږي چې د لومړی

## PCG
د (Primary Care Ggroup) لپاره لنډه نښه .

## $PCO_2$
دکاربن ډای اکسایډ قسمی فشار ، د ( Carbon Dioxide Partial Pressure) لپاره لنډه نښه ده او د [ $PCO_2$ ، $Pco_2$ او یا $Pco_2$] هم لیکل کېږی .

## $pCO_2$
دکاربن ډای اکسایډتراکم د منفی ډیکالیک ( Negative Decadic Logarithm ) لوګاریتم لپاره لنډه نښه.

## PCOD
د (Polycystic Ovary Disease ) لپاره لنډه نښه .

## PCOS
د (Polycystic Ovary Syndrome ) لپاره لنډه نښه .

## PCP
د (Pneumocystis Carinii Pneumonia ) لپاره لنډه نښه.

## PCR
د (Polymerase Chain Reaction) لپاره لنډه نښه .دا یو آزمابښت دې چې پکې د وینې ګڼ شمېر کاپی ګانې د جن (Gene ) د بیلابیلو معیاری ( Strands Of DNA ) ټاکل کېږی او د (HIV ) کتنې او ویروس د فعالیت تثبیت لپاره تر سره کېږی .

## PCT
د (Palliative Care Team ) لپاره لنډه نښه .

## PCT
د (Papillary Carcinoma Of Thyroid ) لپاره لنډه نښه.

## PCT
د (Patient Care Technician ) لپاره لنډه نښه .

## PCT
د (Pediatric Cardiology Today ) لپاره لنډه نښه .

## PCT
د (Primary Care Trust) لپاره لنډه نښه .

## PCT
د (Percutaneous Tracheostomy ) لپاره لنډه نښه .

## PCT
د (Perfusion Ct ) لپاره لنډه نښه .

## PCT
د (Peripheral Conduction Time ) لپاره لنډه نښه .

## PCT
د (Photochemotherapy ) لپاره لنډه نښه .

ځل لپاره د برطانیوی عالم جراح (Frank Thomas Paul ) پذریعه په (1891–1941)کالونو کې شرحه او استعمال شو.

## Paunch
نس، ګېډه، لرئ.

## Pause
درنګ، تأمل، سوچ ، تم کېدا ،توقف ، استراحت ، لنډه هوساینه ، دمه نیول .

### - Compansatory Pause
د یوه اکستراسیستول ضربان څخه وروسته د سیالې په تولید کې ځنډ یا وقفه ،په هغه صورت کې چې که سینوسی غوټه ببرته په کار پیل ونه کړی وقفه بشپړه او که په کار پیل وکړی او سیکل غوځ شی نیمګړې یا غیر جبرانی بڼه خپلوی.

### - Sinus Pause
د سینوسی ریتم لنډ مهالې وقفه.

## Pavement Epithelium
د (Squamous Epithelium ) په انډول.

## Pavlov's Methods
د یولړ پروسجرونه چې د (Conditioned Reflexes ) تولید او څېړنې په موخه کارول شی.

## Pavor
په زیاته پیمانه ویره ، ترهه او ډار لرل.

### - Pavor Nocturnus
د ماشومانو د خوب اختلال چې د هغوی د ډار له امله له خوبه راویښېږی او ژړا لامل ګرځی چې ناوړه خوب په یاد نشی ساتلای .

## PAWP
د (Pulmonary Artry Wedge Presure ) لپاره لنډه نښه.

## Pb
د (Latin .Pulumbum ) لپاره لنډه نښه ده ، دا یو درووند سمی فلز دئ چې که چېرې تازه غوځ شی سپین – آبی رنګ ښکاری چې ژر په خړ رنګ اوښتنه کوی .

## PBI
د (Protein Bound Iodin) لپاره لنډه نښه .

### - PBI Test
د (Protein Bound Iodin Test ) لپاره لنډه نښه .

## p.c
د (Post Cibium ) لپاره لنډه نښه .

## PCC
د (Professional Conduct Committee ) لپاره لنډه نښه .

## PCT
د (Propria Cutana Tarda ) لپاره لنډه نښه .

## PCT
د (Portacaval Transposition ) لپاره لنډه نښه .

## PCT
د ( Positron-Computed Tomography Postcoital Test) لپاره لنډه نښه .

## PCT
د (Preoperative Chemotherapy ) لپاره لنډه نښه .

## PCT
د (Primary Care Team ) لپاره لنډه نښه .

## PCT
د (Procalcitonin ) لپاره لنډه نښه .

## PCT
د (Prothrombin Consumption Time ) لپاره لنډه نښه.

## PCT
د (Proximal Convoluted Tubule ) لپاره لنډه نښه .

## PCT
د (Pulmonary Circulation Time ) لپاره لنډه نښه .

## PCV
د (Pocket Cell Volum ) لپاره لنډه نښه .

## $PCV_1$
د ( Porcine Circovirus Type1 ) لپاره لنډه نښه .

## $PCV_2$
د (Porcine Circovirus 2 ) لپاره لنډه نښه .

## PCV-7
د (Pneumococ Cal Conjugate Vaccine ) لپاره لنډه نښه .

## PCWP
د (Pulmonary Capillary Wedge Presure ) لپاره لنډه نښه .

## PCTA[1]
د (Percutaneous Transluminal Angioplasty ) لپاره لنډه نښه .

## PCTA[2]
د ( Percutaneous Transluminal Coronary Angioplasty) لپاره لنډه نښه .

## PD
د دغه ګڼ شمیر طبی اصطلاحاتو (Paget's Disease ، Panic ، Pancreaticoduodenal ، Pancreatic Duct ، Paralysing Dose ، Papillary Dermatitis ، Disorder Partial ، Pars Distalis ، Parkinson's Disease ، Patent Ductus ، Dartial Denture ، Deficiency ، Perfusion Defect ، Percutaneous Drainage Pesistent ، Peritoneal Dialysis ، Perinatal Death Peyronie's ، Personality Disorder ، Diarrhoea Phosphate ، Pharmacodynamics ، Disease Pick's ، Physical Disabilities ، Dehydrogenase Population ، Poorly Differentiated ، Disease Posterior Descending ، Posterior Deltoid ، Doubling Prescribed ، Prenatal Diagnosis ، Postpartum Day ، ، Problem Drinker ، Progressive Disease ، Dose Protein ، Progressive Disease ، Programmed Death ، Psychiatric Disorder ، Protein Diet ، Deficiency ، Pupillary Distance ، Pupillary Diameter او Pyrimidine Dimer) لپاره لنډه نښه.

## $PD_{50}$
د انتی سیرم(Antiserum ) یا واکسین(Vaccine ) د (50%) حیواناتو نتګوني ژغوری .

## Pd
دا د (Palladium ) پنامه یوکېمیاوی عنصر دي لپاره لنډه نښه ده.

## p.d
د (Per Diem ) لپاره لنډه نښه چې بشپړه ورځ معنی لري.

## PDA
دا د (Patent Ductus Arteriosus او Posterior Descending Coronary Artery) طبی اصلاحاتو لپاره لنډه نښه ده.

## PDA -nail
دا دلاس د غتې ګوتې د نوک ترضیضی تخریب دئ چې د مېخانیکی فشار او دا [Personal Digital Assistant (PDA)] کیبورډ لپاسه د ورځې څو ساعتونو کار له امله پېښېږی .

## PDC
دا د (Pancreatic Ductal Carcinoma ، Parkinsonism- Paroxysmal Dementia Choreoathetosis Complex ، Poorly Differentiated Carcinoma ، Dystonic Public ، Private Diagnostic Clinic او Dividend Capital) طبی اصلاحاتو لپاره لنډه نښه ده.

## PDC-E2

دا د ( Pyruvate Dehydrogenase Complex E2 Component) لپاره لنډه نښه ده.

## PDC-P

دا د ( Personal D Igital Cellular-Packet) لپاره لنډه نښه ده.

## PDCAAS

دا د ( Protein Digestibility Corrected Amino Acid Score) لپاره لنډه نښه ده.

## PE

د ( Pulmonary Embolism) لپاره لنډه نښه .

## Peak

لوړ ټکي ، اعظمی ټکي .

**- Peak Expiratory Flow Rate**

د ذفير د بهير د سرعت اعظمی حد چې لنډه نښه يې (PEFR) ده .

**- Peak Period**

د ناروغيو د هغه مهال اړوند چې پکې اتتانی ناروغی (تبه ، سټرېا ، کسالت) يې د اعظمی حد رسېږی.

## Peaky

هغه څوک چې (نری – خوار ، خاڅف ، او ناروغه ) بڼه لری.

## Peach

شفتالو، دشفتالوونه.

## Pearl[1]

①د يوې درملنيزې مادې لرونکې ګرانول يا هغه کوچنی ښيښه يي کُره چې د يوه درمل منفرد ډوز کچه پکې وی.② د کلک بلغم يوه ګردی چې د برانشيال استما په لومړنيو مرحلو کې وی. ملغلره (مرغلره) .

**- Epidemic Pearl**

د اپتليال حجرو کروی متحدالمرکزه کتلې چې د سکواموس حجرو په کارسينوم کې ليدل شی.

**- Epithelial Pearl**

د ( Epidemic Pearl) په اند‌ول .

**- Laennec's Pearl's**

په کوچنيو برانشی تيوبونو پورې اړوند سيستونه چې برانشيال استما کې ليدل شی.

## Pearl[2]

د ( Bohn's Nodules) په اند‌ول .

## Pearly

دملغلرو په ډول، ملغلر وزمه.

## Pearson Bed

دا ي، ډول بستر دئ چې ( درې کنجه چوکاټ) لرونکې دئ او د څوړنديدنې ځای لری چې د هغه کسانو /ناروغانو لپاره پکار وړل شی چې د اتل /مېزابې لرونکی وی .

## Peau d'orange

دا يو پېړ پوستکې دئ چې ګڼ شمېر ننوتې برخې چې د لمفاوی اذيما( Lymphoedema ) له امله د تيبونو تومورونو يا ( Elephantiasis ) پيښېږی يوه فرانسوی کلمه ده د ( Orange Peel') په اند‌ول ده .

## Peccary

يوراز سرکوزومه غولا ځورامريکايي ژوی.

## Pecten

يوه اوږه (داوږې هډوکی او نور انساج ) ، په اناټومی کې د ځانګړی شکل لرونکو اوږو جوړښتونه ، په مقعدی مجرا کې يوه نری، او باريکه سيمه چې پکتينی کرښې (خط) پرې لپاسه تېرېږی او قرار لری او د ( . Pecten Analis) پنامه هم يادېږی .

**- Pecten Ossis Pubis**

د عانې د هډوکو پکتينی خط.

## Pectenosis

د هغه غېر الاستيکی نسجی کړی له امله د مقعدی مجرا تنګوالې چې د انال کانال کريپتونو او انال ژورې (Anal Groove) تر منځ پروت دئ .

## Pectic

د (Pectin) اړوند صفت .

## Pectin

وښين ، واښه ائيز ، جلاتين، دوښو جلاتين. د مېوې د قندی اسيدونو مونوسکرايدی پوليمير چې مناسب (Ph) کې د خوږې يا شکرې سره (Gels) جوړوی .

## Pectinate

اوږه ډوله ، اوږې ته ورته ، د اوږې په څېر بڼه .

## Pectineal

د (Pectin) اړوند صفت . د عانې د هډوکو سره په تړاو کې .

## Pectiniform

اوږه ډوله ، اوږې ته ورته ، د اوږې په څېر بڼه لرونکې شکل .

## Pectoral
د تي یا ټټر (صدری قفس) اړوند صفت ،د تنفسی سیستم د اختلالاتو تسکین ، صدری .

**- Pectoral Girdle**
داوږې کمربند ، د اوږې برخې هډوکی (کتف او ترقوه) چې د عضد/ مټ برخه ورپورې نښتې ده. د ( Shoulder Girdle) اندېول.

**- Pectoral Muscle**
د سینې (صدر ) برخې عضلات . د( Chest Muscle ) په اندېول.

## Pectoralis
د تي یا ټټر (صدری قفس) اړوند صفت، صدری .

**- Pectoralis Major**
صدری غټې عضلات چې د مټ د کشولو او تاوولو لامل ګرځی.

**- Pectoralis Minor**
صدری کوچنۍ عضلات چې د اوږې ته د انحطاط حالت ورکوی.

## Pectus
تې ، ثدیه ، صدری قفس ، ټټر ، سینه ، د سینې پنجره.

**- Pectus Carinatum**
دا یو ډول ولادی انومالی ده د کوترې ته ورته سینه منځ ته راځی . د (Pigeon Chest ) په اندېول .

**- Pectus Excavatum**
دا یو ډول ولادی انومالی ده د قیفی شکله صدری قفس یا سینه ته ورته سینه منځ ته راځی د (Funnel Chest ) په اندېول.

## Pedal
دپښې پل سره په تړاو کې ، په پښو تګ ،پیاده ګرځېدل، پایډل چلند ، دبایسکل پایډل.

## Pederasty
د یوه نارینه او یوه هلک ترمنځ د د مقعدی کانال له لارې همجنس بازی چې د هلک ښځه د مفعول شریک پتوګه کار اخیستل کېږی.

## Pedes
د (Pes ) لپاره ګڼه شمېره .

## Pediatric
ماشوم اړوند ، ماشومتوب پورې تړلې .

**- Pediatric Age**
د ماشومتوب عمر .

**- Pediatric Anasthesiolgy**
د ماشومانو انسیتزی اړوند څېړنو علمی څانګه .

**- Pediatric Dermatology**
د ماشومانو د پوستکی ناروغیو اړوند څېړنو علمی څانګه .

**- Pediatric Disease**
د ماشومانو اړوند ناروغۍ .

**- Pediatric ENT**
د ماشومانو غوږ، پوزې او ستونی اړوند څېړنو علمی څانګه.

**- Pediatric Hospital**
د ماشومانو اړوند ناروغیو د( څېړنو ، پېژندنې او درملنی) لپاره روغتون.

**- Pediatric ICU**
د ماشومانو د جدي څارنو اړوند څانګه .

**- Pediatric Oncology**
د ماشومانو د سرطانی –تومورې اړوند ناروغیو څېړنو علمی څانګه .

**- Pediatric Ophthalmology**
د ماشومانو د سترګې ناروغیو اړوند څېړنو علمی څانګه .

**- Pediatric Orthopedea**
د ماشومانو هډوکو ناروغیو اړوند څېړنو علمی څانګه .

**- Pediatric Medical Association**
د ماشومانو طبیبانو اړوند ملی ټولنه .

**- Pediatric Nephrolgy**
د ماشومانو بډوډو (پښتورګو) اړوند څېړنو علمی څانګه .

**- Pediatric Neurology**
د ماشومانو عصبی ناروغیو اړوند څېړنو علمی څانګه .

**- Pediatric Neurosurgery**
د ماشومانو عصبی جراحی اړوند څېړنو علمی څانګه .

**- Pediatric Physiology**
د ماشومانو فزیولوژیک بدلونو اړوند څېړنو علمی څانګه .

**- Pediatric Ward**
د ماشومانو اړوند وارد / څانګه .

**- Pediatric Surgery**
د ماشومانو جراحی ناروغیو اړوند څېړنو علمی څانګه .

## Pediatrics
د طب هغه څانګه چې په مفصل ډول د ماشومانو ودې ، څارنې ، د هغوی ، د ناروغیو او درملنیزو لارو چارو څخه بحث کوی ، د ماشومانو ناروغیو اړوند څېړنو علمی څانګه .

**- Essential of Pediatrics**
د ماشومانو د طب اساسات .

**- Principles of Pediatrics**
د ماشومانو د طب اصول .

## Pedicel
د پښو ته ورته برخه په ځانګړی ډول د یوه پوډوسیټ ثانوی زائدې.

## Pedicellation
د یوې جذعې (پډیکل) پیښېدنه او وده موندنه.

## Pedicle
پډیکل ، نری ، ډنډر ، ساقه یا پښه ډوله جوړښت یا پایه.

## Pedicular
د سپږو سره په تړاو کې ، دسپږو څخه منځ ته راغلې .

## Pediculation
د یوه پدیکل د جوړېدنې مرحله ، په سپږو اخته کېدنه.

## Pediculicide
د پډیکولېدیا د کورنۍ په سپږو وژنکې اغېزه لرونکی درمل ، سپږه وژونکی .

## Pediculosis
د پډیکولېدیا د کورنۍ په سپږو اخته کېدنه لکه د پډیکلولوس هوموناس ککړتوب.

## Pediculous 1
په سپږو اخته توب ، په سپږو د ککړ کېدنې حالت.

## Pediculous 2
یو ډول سپږه چې خاربښت منځ ته راوړونکې پرازیت دئ او دانسانانو وینه څېښې.

**- Pediculus Humanus**
د سپږو یو ډول ( **Pediculus Humanus**) یې هغه ډول دئ چې د انسانی وینې څخه تغذیه کوی د (ټایفیس او راجعه) تبې لېږدېدونکې دئ .

**- Pediculus Humanus Var Capitis**
د سر سپږه ، چې د سر په ویښتانو کې ژوند کوی او دسرخاربښت منځ ته راوړی .

**- Pediculus Humanus Var Carposis**
د کالیو سپږه ، چې په باندې موندل کېږی او د بدن خاربښت پیښوی.

## Pediculus
د (ثویق ، جذع، **Pedicle** ) اړوند صفت ، سپږه .

## Pedigree
د یوه چا په پلرونو او نیکونو پورې اړوند جدول ، چارټ یا
دیاگرام چې په جنیتیک کې د منډلی توارث په انلایزس کې کارېږی.

## Peditis
د پښو اوستیت ، د پښو د هډوکو التهاب .

## Ped(o)-1
دا یو مختاړې دئ او د ماشوم معنی لری .

## Ped(o)-2
دا یو مختاړې دئ او د پښې معنی لری .

## Pedo-
دا یو مختاړې دئ او د ماشوم معنی لری .د (**Paedo-** ) په انډول.

## Pedodontics
د غاښونو د طب هغه څانگه چې د ماشومانو غاښونو او خولې حالتونه څېړی.

## Pedophilia
د ماشومانو سره په غېر نورمال ډول مینه او لېوالتیا ښودنه ، د ماشومانو سره د لویانو جنسی فعالیت چې یو ډول جنسی انحراف بلل شی.

## Pedophilic
د (**Pedophilia** ) اړوند صفت.

## Pedorthic
د (**Pedorthics** ) اړوند صفت.

## Pedorthics
د هغه کسانو لپاره د پښو او بوټانو پلانونونه او جوړونه چې په یا لینگې (ساق) یې غوځ شوېوی.

## Peduncle
ثویقی ، ساقه یی ، د (**Peduncle** ) اړوند صفت.

## Pedunculate
ساقه لرونکې ، دنډریز، ثویقی .

## Peduncle
ساقه یې (ډنډری) شکله اړیکه ورکوونکې برخه چې په څانگړی ډول ؛ د اعصابو هغه غونډ چې د عصبی مرکزی سیستم دننه د بېلابېلو برخو تر منځ تېرېږی ، هغه ساقه چې د هغې له لارې یو تومور له کوم بنسټ پرته له نارمل سره نښلی

**- Cerebellar Peduncle**
مُخیخی ثویق ، مُخیخی ساقه .د خلفی ماغزو درې جوړې (پورتنی ، منځنی او لاندینی ) پیډنکولونه.

**- Cerebral Peduncle**
دماغی ثویق ، دماغی ساقه د منځنې ماغزو مخکینی نیمائی چې دوه برخې لری قدامی ( **Crus Cerebri**) او خلفی ( **Tegmentum**) چې د تورجسم پذریعه سره بېلېږی .

**- Penael Peduncle**
د (**Habenula**) په انډول.

**- Peduncle's of Thalamus**
تلاموسی انشعابونه / څانگې .

## Pedunculus
د (Peduncle ) په اړه ول.

## Pee
متیازې کول ، تبول ، د (Urinate ) په اړه ول.

## Peel
سپنول، د پوستکی رابېلول لکه د مېوی یا نباتاتو څخه.

## PEEP
د (Positive End-Expiratory Pressure ) لپاره لنډه نښه ده.

## Peep
چوړېدل، چوغېدل. کوککی کول، تر سوري کتل، تر وت کتل، په غلا غلا کتل، سرښکاره کول، دسترګو تر کونجو کتل.

## Peephole
سوری، سوره، کولک، نغول.

## Peer
کاږه کتل، په تعجب کتل ،تروت کتل، په ځیر کتل، تر سترګو راتلل. جوړه، ساری، سخی، دروند سړی، ښاغلی سړی.

## Peer Review
د یوچا د لیکلې نسخې (مضمون) ارزوونه د داسې کس پواسطه چې د هماغه اړوند ماهر وی.

## PEFR
د ذفیری بهیر د سرعت اعظمی حد ( Peak Expiratory Flow Rate) لپاره لنډه نښه ده.

## Peg
راوتلې جوړښت .

### - Rate Peg's
راوتلې تېغه ډوله جوړښت ،د (Ridge) په اړه ول.

## Pegademase
له غوایانو له کولمو څخه اخیستل شوې اډینوزین ډي امینیز چې په کوولانټ ډول له پولی ایتایلن ګلایکول سره نښتې بڼه لری او په معافیتی نیمګړتیا اخته کسانو کې د ( اډینوزین ډي امینیز) د ځای نیوونکی پتوګه پکارېږی.

## PELA
د (Peripheral Excimer Laser Angioplasty ) لنډه نښه ده چې په کارډیولوژی کې پکارېدونکی اصطلاح ده چې د غبر مهاجم درملنې چې د رګونو د بندښت چې د طبی درملنې په وړاندې ځواب نه ورکوی او د (Angioplasty Bypass Surgery) جراحی هم ممکنه نه وی دغه لایزری درملنه کوی ،

## Pel–Ebstein Fever
دا د هوچکن ناروغۍ (Hodgkin's Disease ) سره مل بڼه چې منظم ډول ښه والې مومی لومړی ځل په ( Germany، Göttingen ) کې د عالم (Wilhelm Ebstein ) پواسطه په (1836–1912) کالونو کې شرحه او بیا په (1852–1919) کې په (Netherlands، Amsterdam ) کې د عالم (Pieter Klaases Pel ) پواسطه تأئید او شرحه شوه.

## Pelage
د تی لرونکو ویښته ائیز پوښ ، د تنې د هډونو او سر ویښتان.

## Pele
د بیوګرافی له مخې د ( Edson Arantes Do Nascimento) اصلی نوم دئ چې (1940) کښې زېږېدلې برازیلی فوټبالیست دئ او په (1997) کښې یې (Honorary Knighthood) ویاړ وګټېلو .

### - Pele's Hair
د جیولوژی له مخې دا یوه تاوه شوې ښیښه ائیز ( Volcanic Glass) دئ چې د اور غورځونکې طبیعی پېښو په لړ کې منځ ته راغلې او همدا رنګه د[ ( Capillary Ejecta) ، ( Filiform Lapilli) او (Lauoho O Pele)] پنامه هم پېژندل شوی .

### Pele's Tears
د جیولوژی له مخې دا یوه کلک شوې څاڅکی ډوله ښیښه ائیز (Volcanic Glass ) دئ چې د اور غورځونکې طبیعی پېښو په لړ کې منځ ته راغلې چې د (Pele's Hair ) سره نښتې مهال او دمخه پیښېږی.

## Pelican
دا یو ډول الوتونکې مرغۍ چې پرده لرونکې پښې لری د (Pelecanus ) کورنۍ پورې اړوند په حاره سیمو کې ژوند کوی اوږده ژوره مښوکه لری کب خوړونکی دي .کجیر.

## Pelecanoididae
دا یو ډول سمندری الوتونکې مرغۍ چې پرده لرونکې پښې لری د (Procellariiformes ) کورنۍ پورې اړوند

## Pelecinidae
په زولوژی کې دا یو (Hymenopteran Insects ) حشراتو کورنۍ پورې اړوند چې عالی کورنۍ یې د ( Proctotrupoidea) ده .

حالت ښوونکي ده او د نهایاتو برخي اخته کوی لکه (مټ Arm یا لینګی Leg ) چې د شدید ډول نیاسین کمښت له امله پیښیږی چې د لمر وړانګو پواسطه شدت مومی او د (Vesiculobullous ) ډولونه هم لری نو کله چې د غاړې- ورمېږ برخه کې منځ ته راشی د ( Casal's Necklace) پنوم یادیږی.

## Pellegra

دا د نیاسین (Niacin ) غذائی کمښت اړوند د ( B Vitamins) ویټامینونو کورنۍ پورې اړوند ناروغی ده . د (Pellagra ) په اند‌ول.

## Pellegrini

د شلمې پیړۍ د پیل اړوند ایټالوی جراح دئ .

### - Pellegrini، Augusto

دا د شلمې پیړۍ د پیل اړوند(1877) د ایټالیا هېواد جراح دئ.

### - Pellegrini's Disease

دا هغه ناروغی ده چې پکې د (Medial Collateral Ligament ) برخه کې متکلس کثافت منځ ته راتلونکي یا د فخذ هډوکی د انسی کونډیل هډوکیزې ودې حالت دئ چې د ( Pellegrini-Stieda Disease) پنامه هم یادیږی .

### - Pellegrini-Stieda Disease

د (Pellegrini Disease ) او (Köhler's Disease ) په اندول چې معمولاً د ترضیض څخه وروسته منځ ته راځی چې ورته (-Post Traumatic Pararticular Osteoma Orthopedics) هم ویل شی . داسې له ترضیض وروسته حالت چې په وصفی ډول یوه هیماټوما برخه کې ( Calcification او Ossification ) منځ ته راځی او دا د (Medial Cruciate Ligament د Partial Avulsionقسمی شلېدنې ) پورې تړلی بلل شی.

## Pellicle

هغه نرۍ یا نازک څګ / فیلم چې د مایعاتو پرمخ د غشأ په ډول منځ ته راځی.

## Pellicular

د (Pellicle ) پورې اړوند .

## Pellicularia

د چنیاسو پورې اړوند چې پټری پټری بڼه جوړوی .

### - Pellicularia Disease

دا دنبات پتولوژی اړوند چنیاسې ناروغی ده چې حاره سیمو کې د (Pellicularia Koleroga ) پواسطه منځ ته راځی او د پاڼو لکې -خاپې منځ ته راوړی.

### - Pellicularia Filamentosa

دا دنبات پتولوژی اړوند چنیاسې ناروغی ده چې د آلوګانو پورې تړلې ناروغی ده .

## Pelidnoma

د پوستکی برخې تورګردی اندفاع ، د (Peliom) په اندول.

## Peliom

د سګرټ پذریعه د سوځېدلې برخې شین رنګ اوښتې په څېر یوه اندفاع د (Pelioma ) په اندول.

## Pelioma

د (Ecchymosis ) په اندول ، شینوالې ، کبود شوې ، توره اوښتې پرسېدلی برخه .

### - Pelioma Typhosum

د ټیفوس (Typhus-Like ) ته ورته حالت چې پکې شنه رټې (لکه) منځ ته راځی او د (Spotted Fevers ) یا ( Rocky Mountain Spotted Fever) نوم هم ورته ورکړل شوېدئ.

## Peliosis

په یوه جوف کې د وینې شتون ،د پورپورا(Purpura) په اندول .

### - Pelosis Hepatis

د پارانشیم په لاکیونا کې موضعی ډول د وینې راټولېدنې له امله داغ داغ شینوالی (آبی کبدنه) منځ ته راتګ حالت چې دحیواناتو په منځ کې (Pimelea) مسمومیت کې پیښیږی .

### - Peliosis Hepatitis

په ینه یا ځیګر دننه نسج کې د وینه لرونکو جوفونو منځ ته راتګ چې ښائې د انتانی پېښو (Hiv) کې چې فمی کانتراسپتیف او یا هم انابولیک سټیروئید درمل خوری منځ ته راشی.

## Pellagra

پلاګرا ، هغه سنډروم چې د نیاسین مادې د کمښت له امله په بدن کې منځ ته راځی هغه درماتیت چې د (نور او ګوزار) په وړاندې واقع دی د (مخاطی غشأګانو التهاب، نس ناستی ، روحی ناروغیو ) په مرسته پېژندل شی.

## Pellagrin

هغه څوک چې په (Pellagra ) اخته وی ، د (Pellagra ) اړوند صفت.

## Pellagroid

پلاګرا ته ورته ، د پلاګرا په شانه شبیه حالت ، پلاګرا وزمه .

## Pellagrous

د (Pellagrin) په اندول.

### - Pellagrous Boot

دا هغه اصطلاح ده چې د (Sharply-Demarcated Erythema )

**- Pellicularia Koleroga**

دا دنبات پتولوژۍ اړوند چنیاسي ناروغی ده چې د قهوې بوټی اخته کوی . د (Coffee Fungus) په انډول.

## Pellitories

**- Photoradiation Therapy**

د فوتوراډیشن درملنه .

**Photoreaction**

د وړانګو په وړاندې غبرګون .د وړانګ غبرګېدنه .

**Photoreactivating Enzyme**

د وړانګو بیا فعاله کوونکې انزایم . ورته نوم یې (Dipyrimidine Photolyase ) دئ.

**Photoreactivation**

د مرئی نور په وړاندې د ځای نیونې له امله شبکیې التهاب.

**Photoreceptive**

د نور تحریک او پارېدنې په وړاندې حساس .

**Photoreceptor**

نور پذیر، روښنائی منونکې ، دنور په وړاندې یوه ډله ځانګړې حساس دحجرې برخه (رسپټور) یا عصبی پایله چې د نور احساس دنده لری .

**- Photoreceptor Cells**

د نورپه وړاندې حساس او منونکې حجرې .

**- Photoreceptor Complex**

فوتورسپټور مغلق (کړکېچنه ) برخه .

**- Photoreceptor Layer**

فوتورسپټور طبقه .

**- Photoreceptor Neurone**

فوټورسپټور نیورون، د سترګو په شبکیه کې د ( Rod یا

**Phototropic**

د (Phototropism) اړوند صفت .

**Photuria**

د (Phosphorescent Urine) په انډول.

**Phren-**

دا یو مختاړی دئ او د( ډیافراګم ، حجاب حاجز ، فرینیک عصب ، فکر ، روان ، روح ) معنی بشپړوی ، د (-Phreno) په انډول.

**Phrenemphraxis**

د جراحی عملیات کړنه چې د فرینیک عصب ټپی کېدنې له امله د (Diaphragm ) فلج منځ ته راځي .د (Phreniclasia) په انډول.

**Phrenetic**

د ( Maniacal) په انډول. د(Phrenia-) اړوند صفت.

**-phrenia**

دا یومختاړې دئ او د روانی – فکر اختلال معنی لري.

**Phrenic**

د (Diaphragm) اړوند صفت . د فکر او ذکاوت اړوندصفت.

**- Phrenic Avulsion**

د جراحی عملیات پواسطه د فرینک عصب (Phrenic Nerve ) د یوې برخې راویستل چې د حجاب حاجز (Diaphragm ) فلج لامل ګرځی .

**- Phrenic Nerve**

هغه عصب چې د حجاب حاجز عضلي کنترول او تعصیب په غاړه لري.

**Phrenicectomy**

د فرینیک عصب (Phrenic Nerve ) د جراحی په مرسته د عصب د یوې برخې غوڅولو کړنلاره.

**Phreniclasia**

هغه عملیه چې پکې د فرینک عصب کلامپ (Clamp ) کېږی او ترل کېږی .

**Phrenicoexcreisis**

د فرینیک عصب راشلېدل.

**Phrenicotomy**

هغه عملیات چې پکې فرینیک عصب (Phrenic Nerve ) غوڅ او ویشل کېږی.

**Phrenicotripsy**

د (Phreniclasia) په انډول.

د وړانګو په ذریعه تنبه کېدونکې او وړتیا لرل.

**- Photostimulable Phosphor**

د وړانګو په ذریعه تنبه کېدونکې فاسفور .

**- Photostimulable Plate**

د وړانګو په ذریعه تنبه کېدونکې پاڼه.

**Photostimulator**

د وړانګو تنبه کوونکې وسیله /عامل.

**Photostress**

د وړانګو اړوند فشار.

**- Photostress Test**

د وړانګو اړوند فشار آزماېښت .

**Photosynthesis**

فوتوسنتېز، ضیائی ترکیب، هغه کېمیاوی مرکبونه چې د نور اغېزو لاندې منځته راځی لکه د ( دنور تر اغېز لاندې نباتی کلوروفیلی نسج کې د اوبو او کاربن دای اکسایډ څخه د کاربوهایدرېټ جوړېدل ).

**Photosynthetic**

د (Photosynthesis) اړوند صفت .

**Phototaxis**

د رڼا په وړاندې ځواب کې د حجرو او مایکروارګانیزمونو حرکت .

**Phototherapy**

د وړانګو (نور) پذریعه درملنه لکه د ژیړی او ویټامین ډي (Vitamin. D) کمښت /نشتوالی درملنه د (Ultraviolet-Rays) وړانګو سره د مخامخ کېدو پذریعه.

**Phototoxic**

هغه زهرجن اغېز چې د رڼا په وړاندې د ځای نیونې له امله پیاوړی کېږی د پوستکی حساسیت د لمر په وړاندې .

**Phototoxicity**

د سترګو د شبکیې تخریب دالتراویولټ وړانګو - تشعشع سره مخامخ کېدو له امله . د (Photoretinopathy) په انډول.

**Phototrophic**

له رڼا څخه د انرژی اخیستلو توان.

**Phototropism**

①د نور په لورې د یا د هغه مخالف لورې د حرکت لپاره د یوه ژوندی موجود لېوالتیا ،②د نور تر اغېز لاندې د یوې مادې د رنګ بدلون.

**Phthisis**
د نری رنځ (توبرکلوزیس لپاره زوړ نوم دئ ، د بدن کمزورتیا حالت .

**Phyco-**
دا یو مختاړي دئ او د (اوبړیو ، الجیانو) معنی بشپړوی .

**Phycomycetes**
د چنیاسو یو ډول چې په ګډه سره د (اوبو ، پانیو او ډوډۍ ) پوپنک یا چنیاسې وهنه منځ ته راوړی.

**Phycomycosis**
د (سږو ، مرکزی اعصابو سیستم او نوروغړو) د چنیاسو حاده ناروغیو یوه ډله چې د (Phycomycetes ) په واسطه منځ ته راځي.

**Phylogenic**
د (Phylogeny) اړوند صفت.

**Phylogeny**
د یوه توکم (نژاد ) یا ژویو د یوې ډلې بشپړه وده ائیزه تاریخچه .

**Phylum**
فایلوم ، د یوه عالم (Kingdom) لومړنۍ څانګه چې د اړونده کلاسونو او ګروپونو څخه جوړېږی.

**Phyma**
د جلدی توبرکل یا تومور.

**Physi-**
دا یو مختاړي دئ او د (فزیک ، فزیولوژی) معنی بشپړوی، د (Physio-) په انډول.

**Physiatrics**
د (Physiatry ) په انډول.

**Physiatrist**
هغه کارپوه متخصص چې د فیزیاتری (روانی ناروغیو) اړوند ماهر کس او تخصص ولری.

**Physiatry**
د طب هغه څانګه چې د عقلی – روانی (نا انډولتیاوو ، ناروغیو پېژندنې ، درملنې او مخنیوی ) تفصیلی ډول سره څېړنې کوی.

**Physic**
د طب او درملنې هنر ، درمل (چې مسهل اغېزې لري) .

**Physical**
فزیکی ، له[ بدن، موادو او فزیک (Physic ) ]پورې اړوند صفت .

**Phreno-**
دا یو مختاړی دئ او د( ډیافراګم ، حجاب حاجز ، فرینیک عصب ، فکر ، روان ، روح ) معنی بشپړوی ، د (Phren- ) په انډول.

**Phrenocolic**
د ډیافراګم او کولون اړوند صفت.

**Phrenogastric**
د ډیافراګم او معدې اړوند صفت.

**Phrenohepatic**
د ډیافراګم او ځیګر اړوند صفت.

**Phrenoplegia**
د ډیافراګم (حجاب حاجز) فلج یا ګوزڼ .

**Phrenosin**
فرینوزین (Phrenosine ) هغه سریبروسایډ چې په ماغزو او نورو عصبی نسجونو کې شتون لری او له سفینګوزین سره د نښتلی سریبرونیک اسید څخه جوړ شوی .

**Phrenotropic**
په ذهن او فکر باندې د اصلی اغېزو ښندل.

**Phrenoderma**
فولیکولری هایپرکراتوزیس چې د (Vitamin .A) ویټامین یا اړینو شحمی اسیدونو د کمښت څخه سر چینه اخلی .

**Phtalein**
هغه رنګه مواد چې د فینولونو سره د فتالیک انهایدراید د تینګو او تغلیظولو له امله په لاس راځي.

**Phtalylsulfathiazole**
د سولفامیدونو څخه یو مشتق چې د کولمو انتی باکتریال په څېر کارول شی.

**pH Test**
هغه آزمایښت چې د یوه محلول د تېزابیت او قلویت ټاکنې لپاره پکار وړل شی.

**Phthiriasis**
په ( Phthirus Pubis) باندې ککړتیا ، د (Crab Louse ) په انتاناتو منتن کېدنه .

**Phthirius Pubis**
هغه د (Louse ) انتان چې د سپوغزو –پوبیک برخې اخته کوی ، د (Pubic Louse, Crab ) په انډول.

**-Physical Dependence**

فزیکی اړیکه ، فزیکی ارتباط.

**-Physical Diagnosis**

فزیکي پېژندنه ، فزیکی تشخیص.

**-Physical Drug Dependence**

د درملو سره فزیکی تړاو ، د درملولکه (هیروئین، اپین ، مورفینو) سره د یوچا اعتیاد .

**-Physical Education**

فزیکی روزنه لکه په مدرسو او ښوونځیو کې د سپورټ تمرینونه تر سره کول دی .

**-Physical Examination**

فزیکی کتنه ، د ډاکټر پواسطه د ناروغ کتنه چې دناروغیو پېژندنې په موخه تر سره کېږي.

**-Physical Genetic Trait**

د یوچا د بدن د فزیکی کرکټر پېژندنې په اړه لکه د (سره ویښتانو ، غټو پښو ، کوچنیو سترګو ) اړوند چې ارثی بڼه ولري.

**-Physical Medicine**

د طب یوه څانګه چې د فزیکی ناتوانیو او تشوشاتو پېژندنې او درملنې اړوند څېړنې کوي.

**-Physical Sign**

فزیکی نښه ، فزیکی علامه ، دا ښائی د یوچا د بدن لپاسه د فزیکی کتنې د ( Percussion او Palpitation ) پرمهال ولیدل او تثبیت کړل شي.

**-Physical Therapy**

فزیکی درملنه ، فزیوتراپی کول ، هغه درملنه چې (مساژ ، تمرینونو ، تودوخې ، سړښت ) کړنو پذریعه تر سره کېږي.

## Physically

فزیکی، د فزیک اړوند ، د بدن پورې تړلې .

**-Physically Challenged**

فزیکی ننګونې ، د یو چا داسې حالت چې ونشی کړای اساسی فعالیوته په سمه توګه تر سره کړي.

## Physician

د داخلي طب معالجه کوونکې ډاکټر یا هغه ډاکټر چې جراح نه وي .

**-Physician Assitant**

د ډاکټر مرستیال . هغه ډاکټر چې د متخصص ډاکټر تر څارنې لاندې د ناروغانو د(کتنې ، څارنې او د درملنې) چارې تر سره کوي.

**-Attending Physician**

هغه ډاکټر چې په ټاکل شوو وختونو کې روغتون ته ځي او د درملنې لورې ټاکي.

**-Emergency Physician**

د بیړنیو (عاجل ) ناروغیو درملنه کوونکې متخصص ډاکټر.

**-Family Physician**

هغه متخصص ډاکټر چې د یوې کورنۍ د ټولو غړو طبی څارنه په غاړه لري .

**-Resident Physician**

هغه سند لرونکې فارغ التحصیل ډاکټر کارپوه په روغتون کې مېشت وی او د ریزیډنسی پروګرام پرمخ بیائی .

## Physicochemical

د کېمیا او فزیک سره په تړاو کې .

## Physics

د فزیک علم ،د طبیعت د قوانینو او پېښو په څانګړي ډول د موادو او انرژی د عمومی ځانګړنو څېړنه .

## Physio

1.دا د فزیوتراپی درملنې (Physiotherapy Treatment ) یو احساس ، 2 . د فزیوتراپسټ (Physiotherapist ) په اند‌ول.

## Physio-

دا یو مختاړې دئ او د (طبیعت ، Physiology او Physical) معنی بشپړوی .

## Physiochemical

د فزیولوژی او کېمیا اړوند صفت .

## Physiognomy

① له مخ څخه د ذهنی کیفیت او ځانګړنو ټاکنه ،② [( څېره ، رُخسار، صورت ، قیافه Countenance) یا مخ ، وجهه] ،③ د تشخیص لپاره د مخ بڼه.

## Physiography

طبیعي جغرافیه.

## Physiologic

د (Physiological ) په اند‌ول. طبیعی یا نورمال ، پرته له پتولوژی یا ناروغه حالت څخه .

## Physiological

فزیولوژیک ، دبدن د فزیولوژي یا عادی دندو تر سره کولو اړوند صفت .

**- Physiological Saline**

فزیولوژیک مالګین محلول ، د(Physiological Solution ) په اند‌ول.

**- Physiological Serum**

فزیولوژیک سیروم .

**- Physiological Solution**

فزیولوژیک محلول چې د حجراتو او نسج ژوندون لپاره ضروری دئ.

## Physometra
د رحم په جوف کې د هوا /ګاز شته والې .

## Physopyosalpinx
د رحم ټیوب (نفیرونو) په جوف کې د هوا/ ګاز او خېرې (چرک) شته والې .

## Physostigmine
هغه کولینرجیک الکالوئید چې معمولاً د (Physiostigma Venesum) له وچې شوې او پخې دانې څخه لاس ته راځي او د موضعي میوټیک او ګلوکوما درملنې په توګه پکاریږي همدغه راز د انتي کولینرجیک درملو د کارونې زیادښت څخه زیږنده عصبي اغېزې سرچپه کوي.

## Phyt -
دا یومختاړې دئ او د(بوټي، نبات یا د نبات څخه لاس ته راغلی ) معنی بشپړوي. د (Phyto-) په انډول.

## Phytanic Acid
یو منشعب (20) کار بوني شحمي اسید چې په زیات مقدار کې په لبني محصولاتو کې او د وابنه خوړونکو حیواناتو په وازده کې شتون لري او د (Refsum's) د ناروغۍ په ترځ کې په نسجونو کې راټولیږي.

## Phytic Acid
د اینوزیتول هګزافوسفوریک اسید ایستر چې د ډېرو (بوټو ، حیواناتو او مایکروارګانیزمونو )کې په نسجونو کې موندل کیږي.

## Phyto-
دا یومختاړې دئ او د( نبات ، بوټي یا د نبات څخه لاس ته راغلي) معنی بشپړوي. د (Phyto-) په انډول.

## Phytobezoar
هغه بزوار (په معده کې راټوله شوې کتله ) چې د سابو او سبزیجاتو له الیافو څخه سرچینه اخلي.

## Phytohemagglutinin
د نباتي سرچینې لرونکی هیماګلوتین .

## Phytohormone
نباتي هورمون ، هغه هورمون چې د نباتاتو په واسطه تولیدیږي او په بوټي پورې د اړونده حیاتي بهیرونو او ودې په کنترول کې ونډه لري.

## Phytol
غیر مشبوع خطي الکهول چې په کلوروفیل کې په

- **Physiological Tremor**
په طبیعي یا عادي هغه رعشه (لړزه ) چې پکې ښکتني او پورتني اطراف خوځنده او رپنده حالت څرګندوي .

## Physiologist
د فزیولوژۍ علم متخصص او کارپوه ډاکټر.

## Physiology
فزیو لوژي ، د بدن د غړو دندو تشریحي پوهنه ، هغه علم چې د ژوندي موجوداتو د کار او د بدن د بېلابېلو غړو د نسجونو د دندو او د هغوی د فزیکي او کېمیاوي فکتورونو او غبرګونونو څخه بحث کوي. هغه علمي څانګه چې دژوند یو موجداتو او بوټو دغړو چې ریښو او سلولونو( حجراتو ) دکار څېړنه کوي. دغړو دوظیفو پوهنه،

- **Morbid Physiology**
د (Pathologic Physiology) په انډول. د یوې رنځور شوې دندې یا دیوه رنځور شوي نسج دندې څېړنه .

## Physiopathologic
د ( Physiopathology ) اړوند صفت

## Physiotherapist
د فزیکي درملنې (Physiotherapy ) کارپوه متخصص ډاکټر . فزیکي درملنه کوونکې .

## Physiotherapy
دناروغیو فزیکي درملنه ، فزیوتراپي کول ، هغه درملنه چې (مساژ ، تمرینونو ، تودوخې ، سړښت) کړنو پذریعه تر سره کېږي تر څو اړوند غړې طبیعي او عادي دندې تر سره کړای شي.

- **Physiotherapy Clinic**
هغه کلینیک چې هلته ناروغان د (Physiotherapy ) لپاره ورځي اوخپله فزیکي درملنه کوي.

## Physique
①د یو چا د بدن سایز ، شکل او اندازه ،②د بدن تنظیم وده او جوړښت .

## Physo-
دا یو مختاړې دئ او د ( هوا ، ګاز یا د پړسوب سره لېوالتیا ) معنی ورکوي .

## Physohematometra
د رحم په جوف کې د هوا او وینې شته والې .

## Physohydrometra
د رحم په جوف کې د هوا او مایع –سېروم شته والې .

**- Pia Mater**

دعصبی نسج درې غشائی پوښونو تر ټولو دننه پوښ،د (Arachnoid, Dura Mater ) په انډول.

## Pia-arachnitis

د ( Leptomeningitis) په انډول.

## Pia-arachnoid

د خړنسج (Pia Mater) او اراکنوئید چې د کاری واحد په پکاروړل شی ، لیپتومیننج .

## Piaglia

د خړنسج (Pia Mater) او اراکنوئید طبقو څخه جوړ شوې وی.

## Pial

د (Pia Mater) اړوند صفت .

## Pian

د (Yaws) په انډول.دا یو ډول د حاره سیمو انتانی ناروغی ده چې(Treponema Pertenue ) پذریعه منځ ته راځی او د نهایاتو د کرست لرونکو ګرانولومائی قرحاتو چې ښائی هډوکی هم ونیسی منځ ته راځی خو مرکزی عصبی سیستم او زړه – رګونو سیستم نه اخته کوی ورته نومونه یې [ Boubas, Frambesia Tropica, Granuloma Tropicum, Mycosis Framboesioides, Zymotic Papilloma] وی .

**- Pian Bois**

د نړیوال ډول جلدی لشمانیازس ناروغی ده چې د ( Leishmania Braziliensis Guyanensis) پوسیله د امازون دلتا سیمه کې منځ ته راځی لړه اندازه یې د پوزې مخاط نیسی ورته نومونه یې ( Bosch Yaws, Bush Yaws) دي.

## Pianist's Cramp

هغه ضعیفی چې د لاسونو برخو عضلات اخته کوي ځینی وختونه د لېځو برخې د( پیانو وهلو یا کیبورډ) استعمال پرمهال یا نور ډول هغه کرمپونه چې د( لیکوالانو ، ټایپیستانو ، موسیقیارانو او ګلف لوبه کوونکو) تر منځ معمول او پېښېږی.

## Piarachnoid

د (Pia-Arachnoid ) په انډول.

## Pica

دخوراکی (غذائی) موادو پرته د نورومواد‌و خوړل ، داشتها انحراف حالت.

## Pick

د ګوتو یا وسائلو پواسطه د کوچنیو ټوټو(لېری کول ،

ایستر ی بنه موندل کېږی ، او د ( E اوK) ویټامینونو په جوړښت کې رول لري.

## Phytonandione

د (K1) ویټامین ، هغه ویټامین چې په شنو بوټوکې موندل کېږی یا په مصنوعی ډول جوړیږی او د پروترومبینوجنیک عامل په توګه پکار ول شی.

## Phyto-oestrogen

هغه مواد چې د حبوباتو د(Legumes) زړیو څخه لاس ته راځی او ایسترجن(Oestrogen) ته ورته اغېزې لری او د هورمونی تعویضی درملنې الترتیپف پتوګه کارول شی.

## Phytoparasite

هغه ارګانیزم چې د نباتاتو /سابو لپاره پرازیت ګڼل کېږی.

## Phytopathogenic

په نباتاتو کې د ناروغیو تولید.

## Phytopathology

د نباتاتو پتهولوژی .

## Phytophotodermatitis

دا د پوستکی حاد ډول غبرګونیز التهاب دئ چې د نباتاتوسره د تماس او لمر وړانګو په وړاندې د غبرګون له مخې منځ ته راځی.

## Phytopreciptin

هغه رسوب چې د سابه /سبزیو د انتی جن په ځواب کې منځ ته راځی.

## Phytosis

هغه ناروغی چې د نباتی پرازیت پواسطه منځ ته راځی.

## Phytotoxic

د فایتوتوکسین اړوند صفت، د نبات په وړاندې زهرجن.

## Phytotoxin

د نباتی سرچینې لرونکې زهر ، هغه اګزو توکسین چې د ځینو نباتاتو پواسطه منځ ته راځی.

## PI

د (Pressure Index ) لپاره لنډه نښه.

## Pia

د عصبی نسج خړنسج برخه .

پاکول، غونډول، شکول) لکه د یوټپ څخه د ښیښې راویستل ، هغخ وسیله چې نرۍ – تېره بڼه لری لکه د (غاښونو ویستنې انبور، د هوف انبور Hoof Pick ) په څېر . پارول، چول، ځیرل، دسه تار د تارونو څکول.

**- Pick, Arnold**

د آرنولډ (Arnold, Czech ) یو تن سایکولوژسټ ؤ چې د ارنولډ پیک سنډروم اړوند یې په (Pick Syndrome ) اړوند چې پکې دیوه شی لیدکې دقت توان له منځه ځی دا د (Apperceptive Blindness ) له کبله معلومات وړاندې کړېدئ .

**- Pick Atrophy**

دد کرښې په څېرکرښه چاپېر شوې د دماغی قشر ضمور ، د پیک اټروفی منځ ته راوړونکې ناروغی چې د ( Lobar Sclerosis, Progressive Circumscribed Cerebral Atrophy) نومونو هم یادېږی .

**- Pick Bodies**

د پیک جسمونه .د سایتو پلازم دننه (Argentophilic ) نیورونال انکلوژن باډی چې په (Pick Disease ) کې لیدل کېږی.

**- Pick Brain**

د پیک ډول دماغی ناروغی ، د (Pick Disease ) په انډول .

**- Pick Bundle**

د پیک بنډل ، د پیک ګېډۍ ، هغه د عصبی رشتو ګېډۍ چې د مښوکې انحنائی جوړښت په اهرمی ترکټ په ( Medulla Oblongata) کې منځ ته راوړی او داسې تصور کېږی چې ( Corticonuclear Fibers) لرونکې دی .

**- Pick Cell**

د پیک حجره چې (غټه ،ګردۍ ،څوګوښې ، یوې هستې) بڼه لری چې د حجرې سایتوپلازم ته خثافت –اسفنجی چې د ګڼ شمېر څاڅکو (فاسفتېد ، سفینګو میالین) لری چې دا حجرې په پراخه پیمانه په طحال اونورو نسجونو کې چې د رتېکولو اندوتېلیال یوه برخه ده شتون لری د (Niemann-Pick Disease ) ناروغۍ کې شتون لری ورته نوم ئي (Niemann-Pick Cell ) دئ.

**- Pick Disease**

د پیک ناروغی. دا یو ډول نادره له وخته دمخه استحاله ائیز ډوله تخریب (Presenile Dementia ) ناروغی ده چې پکې شحمی مېتابولیزم اختلال منځ ته راځی چې د (روانی –عقلی تخریب ، وینه لړې ، وزن بایلنه او کبدی –طحالی ضخامه) منځ ته راځي ،ورته نوم یې (Pick Atrophy ) دئ.

**- Pick's Disease 1**

د پیک 1 ډول ناروغی ، دا یو ډول تخریب دئ چې د عمر په منځنی برخه کې پېښېږی او پکې د ماغزو ( Frontal او Temporal Lobes) برخه تخریبېږی او دعقلی زوال، شخصیت او هېجان ناانډولتیا او استحالې ورسره مل وی.

**- Pick's Disease 2**

د پیک 2 ډول ناروغی.

**- Pick, Friedel**

پیک فریډل .

**- Hoof Pick**

دا یو ډول نیونکې وسیله (انبور ، نوسې ، کلامپ ) او د جروحاتو تطهیر پرمهال د اړوند (اضافی نسجونو ، ډبرو ، اجنبی اجسامو ) راویستلو او لېری کولو په موخه کارول شی.

**- Pick, Ludwig**

پیک لوډویګ یو جرمنی ډاکټر (German Physician ) ؤ چې (1868-1935) کې ژوند کاؤ.

**- Picker's Nodules**

د پیکر اړوند نوډولونه دا دپوستکی لېکینفیډ ( Lichenified Skin Nodules) نوډولونه دی چې په ( Prurigo Nodularis) کې لیدل شی .

**- Picket Fence Fever**

د پیکټ مخنیوی تبه . د اړې د غاښې په څېر تودوخې لوړه تبه (Spikes ) چې په (Pyogenic Hepatic Abscesses ) کې معمولاً د ( رېږدنې ، خولې ، کانګې ، زړه بدی ، بې اشتهائي او درد ) سره مل وی .

**- Pick Syndrome**

د پیک سنډروم یا مجموعة الاعراض ناروغي ، د ( Pick Disease) په انډول. دا یو ډول پرمختلونکې دماغی ضمور کوونکې تخریب دئ چې د عمر په منځنی برخه کې پېښېږی او پکې د ماغزو ( Frontal او Temporal Lobes ) برخه تخریبېږی او دعقلی زوال، شخصیت او هېجان ناانډولتیا او استحالې ورسره مل وی.

**- Pick Up Sticks Pattern**

د نمونې اخیستنې لپاره اړوند نوسې یا پیک وسیله .

**- Tooth Pick**

د غاښ ډکې / خلې ، هغه کوچنۍ د لرګې یا پلاستیکی ډکې چې د غاښونو له منځ څخه پاتې شونی ځیزونه راوباسی .

**- Pick's Tubular Adenoma**

د پیک تیوبولار اډینوما توموری ناروغی چې مرغېړو تومور دې او ورته نوم یې (Androblastoma ) دئ .

## Pickaxe

په اناټومی کې تسکورې ته ورته جوړښت ، کلنګ، مېتې، کشی.

## Picking Out

اوچتونکې ، راویستنه .

## Pickles

د (William ) پنامه دا یو انګریزی عمومی طب ډاکټر چې د اتنانی ناروغیو د سرایت –لېـــږدېدنې اړوند یـې پـــه

ځانګړي ټولنو کې څېړنې کړېدی او په (1885-1969) کالونو کې اوسېده.

**- Pickles Chart**

د پیکال چارټ یا ګراف چې د انتاني ناروغیو د اپېډیمی په اړه د ځانګړي ټولنې ځرګندویه دئ .

## Pickling

د بادرنګ څخه د اچارو جوړول .

**- Pickling Solution**

د پیکلینګ محلولونه چې د اچارو جوړونه کې کارول شي. دا یو ډول سرکه (اسیدی ) محلول دئ معمولاً د اوکساید راویستنې یا وینځنې په موخه کارول شي.

## Pickoma

د پیک د حجراتو څخه رامنځ ته شوي سلیم نوډولاړ غیرګونیز تومور دئ.

## Pick up

**1**. د ناروغه نسجونو او چتونه یا جګونه،په ناروغی ککړتیا لکه یو څوک چې دساری ناروغیو شتون سیمې ته لاړ شي او ناروغی راواخلي **2** .د یوڅه ښه او قوي یا سمون بخښل ، ښه کیدل یا پر مخ تګ. په موټر کې یو څوک راجیګول . ګړندی کیدل، چټکتیا .

## Pico-

دا یو مختاړې دئ او هغه کلمه ده کله چې د یوه واحد له پیل سره یوځای شي د هغه واحد یومیلیون میلیونوم ($10^{-12}$) اندازې څرګندونه کوی او نښه یې (**P**) ده.

## Picogram

د ګرام ($10^{-12}$) برخه ، لنډه نښه یې (**Pg**) ده.

## Picomole

داندازې لګولو دا هغه واحد دې چې د یومیلیون میلیونوم برخې ($10^{-12}$) اندازې څرګندونه کوی او نښه یې (**Pmol**) ده.

## Picornavirus

دا ډېر کوچنې د(**Rna** ) لرونکي ویروسونه دئ چې د ایترو په وړاندې مقاوم او د انټېرو ویروس( **Enteroa Viruses**) او رینوویروسونو (**Rhinoa Viruses** ) څخه عبارت دئ .

## Picrate

د پیکریک اسید مالګه.

## Picric Acid

د (**Trinitrophenol**) په اند‌ول.

## Picrocarmine

هغه رنګ چې په نسج پېژندنه کې پکاروړل شي او د ( **Carmine**،امونیوم ، مقطرو اوبو ، پیکریک اسیډ ) څخه پلاس راځي.

## Picrotoxin

هغه توکسیني مناسبه ماده چې د ( **Anamirta Cocculus** ) له دانو څخه پلاس راځي او باربیتوریټونو اونورو مرکزی عصبی سیستم نهی کوونکو په مسمومیت کې د تنفسی او عصبی محرک په توګه کارېږي .

## Pictorial

تصویري، عکسي، مصور.

## PID₁

د ( **Prolapsed Intervertebral Disc** ) لپاره لنډه نښه .

## PID₂

د( **Pelvic Inflamatory Disease** ) لپاره لنډه نښه .

## PIDS

د( **Primary Immune Deficiency Syndrome** ) لپاره لنډه نښه .

## Piebladism

هغه حالت چې په ترڅ کې یې د پوستکی یوه برخه سپینه او بله برخه توربخنه وی لکه نسبي یا ارثي وټیلیګو.

## Piecemeal

ټوټه ټوټه، ټوک ټوک.

## Piedra

د ویښته چنیاسې ناروغی چې په هغه کې د ویښته د تنې دننه سپین او تور چنیاسې نوډولونه جوړېږي.

## Pier

دپله ستنه، پایه، ډکه.

## Pierce

سوری کول، برمه کول، ټومبل، ننوتل، چول، لغم وهل، مطلب ته ورلویدل ( پوهیدل ).

## Pierre Robin Syndrome

هغه سنډروم چې د مخ برخې څرګندونې (کوچنۍ ښکته ژامنه ، چاک تالو ) له پیدا ښېت مودې څخه شتون لری او د تنفسی او تغذیې ستونزې په ماشومتوب لومړۍ وختونو کې پېښ کاندې .

## Piesesthesia

هغه حس چې پواسطه یې فشاری تحریکونه احساسېږي.

## Piesimeter
د فشار په وړاندې د پوستکی د حساسیت ښودلو د اندازې نیولو/ ټاکنې لپاره وسیله ده .

## -peisic
د (Peisis-)اړوند صفت

## -peisis
دا یوروستاړې دئ او د فشار معنی بشپړوی .

## PIF
د (Proliferation Inhibating Factor) لپاره لنډه نښه ده .د ارتشاح نهی کوونکی فکټور معنی لری.

## Pig
سرکوزی ، خوګ یو ډول حیوان دې چې غوښه یې خوړله شی، دخوګ غوښه،هغه سړی چې دخوګ په شان چټل اوسراښ وزې ځانګړنې لری، د اوسپنې ویلې ټوټه چې د بټۍ نه قالب (سانچې) ته ځي.

## Pigeon
کوتره ، د مرغۍ په څېر ورته ټټر لرونکې حالت ، ساده، بیړا.

**- Pigeon Breast**
د ( Pigeon Chest یا Pectus Carinatum ) په اړوند. د کوترې په څېر ورته سینه یا ټټر .

**- Pigeon Toes**
د کوترې په څېر ورته ګوتې (پنجال) چې یو چاد ولاړې پرمهال دننه لورې ته راټولېږی.

## Pigment
1.رنګ، درنګ ماده، صباغ . هغه مواد چې د بدن حجرو ته رنګ وربخښی لکه د(وینې حجرې ،جلد او ویښتان).
2. په فارمسی کې رنګ ته ویل شی.

**- Bile Pigment**
د تریخی صباغ ، صفراوی صباغ.

**- Blood Pigment**
د وینې صباغ لکه هیموګلوبین چې پوستکی حجرو او نسج ته ګلابی رنګ وربخښی.

**- Respiratory Pigment**
د تنفسی صباغ ، یو لړ حجروی صباغونه چې کولای شی اوکسیجن ولېږدوی .

**- Retinal Pigment's**
د سترګو د شبکیې صباغونه ،د (Visual Pigment ) په اړوند.

**- Visual Pigment's**
د لیدو اړوند ضروری صباغونه ،بصری صباغونه.

## Pigmentation
د بدن نسج ته رنګ وربخښل په ځانګړې توګه هلته چې د صباغ راټولېدنه اوذخیره کېدنه منځ ته راځی .

## Pigmented
رنګ اخیستې نسج ، د یو غېر معمول رنګ اخیستنه ښودنه

**- Pigmented Epithelium**
د ( Pigmented Layer ) په اړوند.هغه رنګه نسج چې د شبکیې په خلف کې واقع دئ، صباغی طبقه.

**- Pigmented Layer**
د ( Pigmented Epithelium ) په اړوند

## Pigmetophage
هغه حجره چې رنګه مواد ویجاړوی او په ځانګړې توګه په ویښتانو کې شتون لری.

## Pigmy
ټیټکې، لویشتینک (ولیشتینک )، خېنډکی.

## Pignut
پالې ، ممپلې ، ځمکنی بادام.

## Pigtail
چوټۍ ویښته، څنې، کوڅۍ چوټټی.

## PIH
د (Pregnancy-Induced Hypertension ) لپاره لنډه نښه ده.

## Pilar
د ویښته اړوند صفت، د (Pilary ) په اړوند.

## Pilary
د ویښته اړوند صفت.

## Pilates
په همغږی ډول او ګډ ډول د هغه تمرینونو تر سره کول چې په وضعیتی فزیکی درملنه (Postural Therapy ) کې د ګېډې د ژورو عضلاتو انکشاف چې وکړای شی د بدن کنترول وکړی او د بدن د شابرخه وساتی .

## Pile
① هیموروئید ، بواسیر ، د برېښنا د تولید لپاره ورته عنصرونو راغونډېدل .② اړم، ستنه. دلۍ کیدل، کوټه کېدل. دلۍ، ډیری، ټوپۍ، کوټه یوه لویه ودانۍ، دودانویوه دربله (مجموعه). دیوې ټوټې یاټوکر په مخ وورېت.

**- Sentinel Pile**
د یوه وقعدی فیسور په لاندینی نهایت کې د مخاطی غشاً هیموروئید ته ورته (مشابه) پنډوالې .

بالبنت، سرویږ دی. پربالبنت تکیه کول یاسر ایښودل.

## Pill-rolling

د ګوتوعصبی عمل چې داسې ښکاری چې یو څوک کوچنۍ شئ رغړوی دا کړنه د (Parkinson's Disease) ناروغی سره مل وی.

## Pilo-

دا یو مختاړې دئ او د ویښته معنی لری .

## Pilocarpine

پیلوکارپین ، دا یو کولینرجیک الکلوئید دئ چې د (Pidocarpun) نبات له پاڼو څخه پلاس راځی څخه پلاس راځی عضوی مرکب دئ هایدرکلورایدی او ناېتراېتی مالګې یې د میوټیک اجنټ او ګلوکوما درملنه کې پکارېږی.

## Pilocystic

ویښته لرونکې سیستیک ډوله ضایعه ده چې ورته (Dermoid Cyst) هم وائی.

## Piloerection

د ویښته نېغ ودرېدل .

## Piloleiomyoma

د ویښتانو نېغ ودروونکوعضلاتو څخه جوړ جلدی لایومایوما تومور.

## Pilomatrixoma

د ویښته د ماتریکس حجرو څخه زېږنده تکلسی ګردئ سلیم اپیتلیائی نیوپلازم یا تومور چې د داخل الجلدی ( کروی ،کلکې اوکوچنې) کتلې په بڼه معمولاً په (مخ، غاړه او مټو ) کې منځ ته راځي .

## Pilomotor

د ویښته نېغ ودروونکی عضلو سره په تړاو کې چې انقاض یې ( Cutis Ansernia ) ، (Gooseflash) او (Piloerections) رامنځ ته کوی .

### - Pilomotor Nerve

پیلوموتور عصب ،چې د ( Arrector Pili ) عضلې تعصیب کوی چې د ویښته فولیکول سره په تماس دی.

### - Pilomotor Reflex

پیلوموتور عکسه ، د جلدی پیپلاګانو غبرګون د (سړې هوا او وېرې) سره مخامخ کېدو پرمهال ویښتان نېغ ودرېږی.

## Pilonidal

د یوه ویښته ائیزا [ محراق یا کتلې ( Cyst یا Cavity ) ] لرل.

## Piles

د (Haemorrhoid) لپاره ګڼه شمېره .هیمورویئیدونه.

## Pileus

د امنیون هغه برخه چې ځینې وختونه د زیږون په مهال د جنین سر پوښې ، د (Caul) په انډول.

## Pili

د ( Pileus ) لپاره ګڼه شمېره.

### - Arrector Pili

د ( Arrector ) اړوند پیلوسونه .هغه کوچنی جلدی ښویه عضلې چې د ویښتانوفولیکول د نسجی پوښ سره په تماس دی او د ویښته نېغولو دنده کې مرسته کوی.

### - Pili Incarnati

هغه حالت چې د ( Burrowing) ویښتانو په شته والی پېژندل شی.

### - Pili Torti

د ( Twisted ) ویښتانوتاوراتاو حالت .

## Pill

ددارو ګولی، ګولی (ټابلیټ) ، مرد کی ، کوچنۍ کلک ګردی، د درملو جوړ پنډوسکی چې خوړل کېږی، دانه لکه دغنم دانه .

### - Contraceptive Pills

د بلاربښت ضد ګولۍ چې منظم ډولخوړل کېږی .

### - Enteric Pill

هغه ډول ګولۍ چې پوښ لری او د معدې څخه بهر په کولمو کې وازېږی.

### - Morning-after Pill

د بلاربښت ضد ګولۍ چې یوه او بله ورځ په ترتیب او منظم ډول سره خوړل کېږی .

## Pillar

نسجی هغه برخه جوړښت چې نرۍ او اوږده بڼه لری ، پایه، تنه، مټه، رکن.

### - Articular Pillar

د بندونو اړوند مټه یا پایه ډوله جوړښت .

### - Pillar's of the Fauces

د فاوس ( Fauces ) ستنې .

## Pillared

پایه دار، ستنیز، رکنې.

## Pillbox

ګولیو توبی ( صندوق، الماری ) بسته، د ټابلیټونو ډبلې، کوټې.

## Pillow

**- Pilonidal Cavity**

پیلونیدال جوف .

**- Pilonidal Cyst**

پیلونیدال سیسټ ،چې معمولاً د ملا په ښکته برخه نېږدې کوناټیو ته منځ ته راځی او وېښته لرونکې دئ .

**- Pilonidal Sinus noun**

پیلونیدال سینوس ،چې معمولاً د ملا په ښکته برخه نېږدې کوناټیو ته یو ژوره ته منځ ته راځی او وېښته لرونکې دئ .

## Pilose

شعریوی ، په وېښتانو پوښېدل.

## Pilosebaceous

د وېښته له فولیکولونو او سیباسې غدو سره په تړاو کې .

## Pilosis

د (Pilosism ) په انډول.

## Pilosism

هغه حالت چې پکې یو څوک غېر معمول ډول سره یو اندازه وېښته په یوه غېر وېښته لرونکې برخه کې ولری. د وېښتانو بې له عادي موقعیت څخه راوتنه.

## Pilot Study

هغه ډول پروژوی کړنه تر سره کول چې دلومړی ځل لپاره په آزمایښتی بڼه تر سره کېږی ، آزمایښتی څېړنه .

## Pilus

1. یو وېښته ، 2. د ځینو باکتر یاګانو پر سطحه باندې د وېښته ډوله بارزې راوتنې حالت دئ چې د انتی جنی خواصو سره مل دئ ګڼه شمېره یې (Pili ) ده.

## Pilial

د (Pilus ) اړوند صفت .

## Piliate

د (Pilus ) اړوند صفت .

## Pilic

د (Pilus ) اړوند صفت .

**- Pilic Cuniculati**

هغه حالت چې د ( Burrowing) وېښتانو په شته والې ځانګړې /مشخص کېږی.

## Pili

د (Pilus ) ګڼه شمېره ده.

**- Pili Incarmati**

هغه وېښته چې دننه (داخل ) پلو ته یې وده موندلې وی.

**- Pili Torti**

د وېښتانو تاوراتاو ( Twisted) حالت بلل شي.

## Pimelitis

د شحمی نسج التهاب .

## Pimelopeterygium

د ملتحې پر مخ د وازدې بهرنۍ وده .

## Pimelosis

په وازده (شحم) اوښتل، چاغښت.

## Pimple

دانه، نونکۍ (نینکۍ) ګرمکه، زخه ، د پاپول یا پوستول جلدی اندفاع.

**- Face Pimple**

د مخ ګرمکه /زخه / دانه .

**- Neck Pimple**

د غاړې ګرمکه /زخه / دانه .

## Pimply

د (ګرمکې /زخې / دانې) پواسطه پوښلې.

## Pin

هغه نرې او اوږده فلزی ټوټه چې د یوې برخې د [ میخولو، ټومبلو، پیېلو، ښښلولو، په بیړه نیولو ] لپاره پکار وړل شی لکه د ماتو هډوکو د تثبیت لپاره مېخونه. ټومبونی ( سنجاق ) کوچنی موړی د لرګي یا اوسپنې میخ، په لوبه کښې هغه موړې چې په پنډوس ویشتی شي .

**- Metal Pin**

د ماتو هډوکو د تثبیت لپاره فلزی مېخونه، د (Metal Nail ) په انډول.

**- Steinmann Pin**

د ماتو هډوکو د تثبیت لپاره هغه فلزی مېخونه چې له داخل څخه فیکس کولو لپاره پکار وړل شی.

## Pince -nez

هغه دسترګۍ چشمې ( عینکې ) چې یوازې په پوزه ښښلول کیږې.

## Pinch

1. د ګوتو پواسطه کښیکښلو کړنه ، 2. د یوه مقدار موادو نیولو ته د ګوتو په څوکه کې د خاصه اړتیا لپاره ویل شی لکه د مالګې راخیستل په ګوتو کې ، څورونه. څورول، ښښتیځل، په ولړه دیوشي وړوکی کول یا غونجول، ججول.

## Pine

د زنغوزي ( جلغوزی، زرغونځی ) ونه . له غمه ډنګرېدل ،

د غوږ صیوان ، د غوږ پکه ، غوږ بهرنۍ برخه ، د (Auricule) په اند‌ول .

## Pinnal

د (Pinna) اړوند صفت.

## Pinnaplasty

د غوږ د صیوان د بیا رغونې پلاستک جراحی کړنه .

## Pinning

د فلزی مېخونو د تثبیت جراحی کړنې تر سره کول .

## Pinocyte

هغه حجره چې په پینوسایتوزس توان لري.

## Pinocytic

د (Pinocyte) اړوند صفت.

## Pinocytosis

هغه مېکانیزم چې له لارې یې حجرې خارج الحجروی مایع او د هغې محتویات خوری ، پدې مېکانیزم کې حجره د پام وړ مادې په چاپېره د حجروی غشأ زائبدې راتاوېږی او بیا یې سره نښلوی او هغه ماده کاملاً رانیسی او یو سایتوپلازمیک واکیول رامنځ ته کوی.

## Pinocytotic

د (Pinocytosis ) اړوند صفت.

## Pinosme

هغه داخل الحجروی واکیول چې د پینوسایتوز په واسطه جوړېږی .

## Pins and Needles

یو ډول ځورونکې د ستنو چوخېدلو احساس دی چې معمولاً د مؤقت ډول وینه بهیر محدودولو له کبله پېښېږی ، بوډۍ نیولې ډول کرښت کېدنه ،د (Paraesthesia) په اند‌ول .

## Pint

په (Apothecaries) سیسټم کې د مایع د اندازه کولو لپاره واحد دئ چې د (16 Onces) اونسونو یا ( 0.56 = Of A Litre) یا (473.17 Ml) سره اند‌ول دئ.

### - Pints of Blood

د وینې پینټ اندازه چې د عملیات پرمهال پکارېږی.

## Pinta

د پوستکي ناروغی چې د امریکا تودو سیموکې معمول ده چې پکې لاس او پښې پوستکې پرسېږی او خپل رنګ له لاسه ورکوی او دسپایروکټ (Treponema) په واسطه منځ ته راځی.

ځوربدل بې سبکه کېدل، هیله درلودل، لیواله کېدل، کمزوری کېدل.

## Pineal

د ( Pineal Gland ) غدې اړوند صفت.

### - Pineal Body

پینیال جسم ، هغه کوچنۍ مخروطی(Cone-Shaped ) ډوله غده چې د دماغ د (Corpus Callosum ) څخه لاندې پرته ده او د مېلاټونین (Melatonin ) تولیدوی او د ( Circadian Rhythm) سره مل وی ،د ( Pineal Gland ) غدې په اند‌ول.

### - Pineal Gland

د پینیال غده .

## Pinealectomy

د پینیال غدې غوځولو او راویستلو جراحی عملیات.

## Pinealism

هغه حالت چې د پینیال غدې د افرازی ناجوړتیا له امله پېښ شوې وی .

## Pinealoblastoma

هغه پینیالوما تومور چې د پینیال حجرې پکې په ښه ډول تو‌پیر شوې نه وی.

## Pinealocyte

د پینیال جسم د اپیتلوئید حجره.

## Pinealoma

د پینیال جسم د اپیتلوئید حجرو له نیوپلاستیک شبکې څخه جوړ د پینیال جسم تومور چې د هایدروسفالی ، د بېرنۍ بلوغ او په لاره د تګ د ناجوړیو لامل ګرځی .

## Pinguecula

د بولبر ملتحې پرمخ سلیم ډول ژیړ رنګه داغ د قرنیې برخې تر څنګ أنسی لورې کې منځ ته راځی چې زاړه خلک اخته کوی .د (Pinguicula ) په اند‌ول.

## Piniform

مخروطی ډوله جوړښت ، مخروطی.

## Pink

سوری کول ( لکه په توره ) پریکول . ګلابي رنګ .

### -Pink Disease

د نهایاتو درد.د (Acrodynia ) په اند‌ول.

### -Pink eye

ګلابی سترګه چې د کانجکټیویت په ناروغۍ کې منځ ته راځی.

## Pinna

## Pinworm

سنجاقی ډوله یا ستنې ته ورته چینجی لکه د کخې چینجی ، د ( **Interbiosis Vermicularis** ، **Oxyurid** ، **Threadworm**) په انډول.

## PIP

د (**Proximal Interphalangeal Joint**) لپاره لنډه نښه ده.

## Pip

د پتو( قطعو ) په پاڼوخالونه یاڅېړی. دچرګا نو لېږدېدونکې ناروغی چې پکې له خولې - ستونی او مېښوکې څخه ضخیم مخاط اطراح کېږی . دانه ، تخم، زړی ، د بېلابېلو ناروغیو چې پخوا ورته ( کوفت ، سوء هاضمه او ټوخې) ویل د مزاج اختلال ، خال ، لکه / رټه ، د چورګوړو له هګۍ سر راویستل ، هګۍ ماتېدنه ،د مېوې دانه یا تخم (د مني تُخم ).

## Pipazetate

د ټوخی ضد درمل دی چې د (**2-(2-Piperidin-1-Ylethoxy)Ethyl 10H-Pyrido[3,2-B][1,4]Benzothiazine-10-Carboxylate**) فورمول لری ، د ( **Pipazethate** ) په انډول .

## Pipazethate

خوراکی ډول غېر نارکوټیک د ټوخی ضد درمل چې د مالګیز هایدروکلورایدی جوړښت په بڼه جوړېږی ، د ( **Pipazethate** ) په انډول .

### - Pipazetate Hydrochloride

د پیپازیتیت اړوند مالګیز هایدروکلورایدی جوړښت .

## Pipcracillin-Sulbactam

پیپکراسیلین سالبکتیم د ( **Cefoperazone** **Sulbactam**) لپاره نوم دئ چې د ګونوریائی یوریتریت او سرویکس التهاب درملنه کې پکارېږی.

## Pipe

پایپ ، شپېلندوی، شپیلۍ، نلکې ته ورته جوړښت سورنی، دروی، بیم، باجه، نلکه ، نل ، بلول، پایپ، بورغو.

### - Pipe Clamp

د پایپ کلامپ چې د یوه سر او ژامنې لرونکی دئ او پیپونو وسلولو ترې کار اخیستل شی.

### - Pipe Dream

په [خیال مین، خیال پرست، خیالی، هوسی (هوسناک)] خوب دئ چې غېر واقعی پلان یا هیلې څرګندویه وی.

### - Pipe Duct

هغه قنات چې پکې پایپ ځغلی .

### - Pipe Elbow

د پایپ ډوله څنګل .

### - Pipe Joint

د پیپونو تر منځ بندونه یا توصلی برخې .

### - Pipe Infiltration

پایپی ارتشاح .

### - Pipe Organ

پایپې غړی ، بل نوم یې د موزیک وسیله ده.

## Pipecolic Acid

یو سیکلیک امینواسید دئ چې په منځنی ډول د لایزین تخریب کې کوچنی (**Pathway**) منځ ته راځی او په (**Cerebrohepatorenal Syndrome** او **Hyperlysinemia**) کې یې سویه په وینه کې لوړوالې مومی .

## Pipecolic Acidemia

دا یو ډول مېتابولیک اختلال دئ چې پکې د وینې سیروم کې د (**Pipecolic Acid**) په زیاتې پیمانه راټولېږی او د عصبی سیستم د ( **Hepatomegaly** او **Progressive Generalized Demyelination**) پذربعه پېژندل شی او د (**Hyperpipecolic Acidemia**) پنامه هم یادېږی .

## Pipecolinic Acid

یو سیکلیک امینواسید دئ چې په منځنی ډول د لایزین تخریب کوچنی (**Pathway**) کې منځ ته راځی او په (**Cerebrohepatorenal Syndrome** او **Hyperlysinemia**) کې یې سویه په وینه کې لوړوالې مومی .

## Pipecuronium

دا یو ډول غېر ډیپولرایز کوونکې نیورومسکولار نهی کوونکې اجنټ دئ چې د برومایډ مالګې په څېر جوړېږی او د اسکلېټې عضلاتو استرخا منځ ته راوړی.

### - Pipecuronium Bromide

د پیپکورونیوم برومایډ مالګې اوږد اغېزې لرونکې یو ډول غېر ډیپولرایز کوونکې نیورومسکولار نهی کوونکې اجنټ دئ چې ورته نوم یې (**Tubocurarine**) دئ.

## Pipemidic Acid

دا یو ډول د کېنولون (**Quinolone**) مشتقاتو څخه انتی بیوټیک دئ چې نلیډیکسیک ته ورته دئ.

## Piperacetazine

دا یو ډول آرامتیا بخښونکې- ترانکولایزر د فینوتیازېن حلقې اړوند درمل دی چې د( لېونتوب یا شیزوفرینی درملنه سیډیشن او خارښت ضد) په موخه ورکول شی.

## Piperacillin

دا یو ډول نیمه ترکیبي پنسیلین انتی بیوټیک درمل سوداګریز نوم دی بل نوم یې (**Pipracil**) دئ.

**- Piperacillin Sodium**

د پیپریسیلین سوډیمی جوړښت.

## Piperaquine Phosphate

پیپراکین فاسفیت مالګیز ډول درمل.

## Piperazine

پیپرازین، د (**$C_4H_{10}N_2$**) فورمول لری او پرته له رنګه کریستالی مرکب دئ انتی هیستامین اغېزې لری او د کولمو د چینجیو ضد پتوګه کارول شي

**- Piperazine Citrate**

پیپرازین سیتریت مالګه.

**- Piperazine Diethanesulfonic Acid**

پیپرازین دای ایتان سلفونیک اسید مالګه.

**- Piperazine Dihydrochloride**

پیپرازین دای هایدرکلوراید مالګه.

**- Piperazine Hexahydrate**

پیپرازین هګزاهایدرېتی مالګه.

**- Piperazine-1,4-Bis-2-Ethanesulfonic Acid**

پیپرازین **1,4-Bis-2**- ایتان سلفونیک اسید مالګه.

## Piperidine

دا یو ډول قوی قلوی پرته له رنګه مایع چې د (**Phenothiazine**) څخه جوړه ده اود لېوتتوب ضد (**Antipsychotics**) درملو په څېر پکارېږي .لکه د (**Thioridazine Hydrochloride** او **Mesoridazine Besylate**) په څېر .

**- Piperidine Alkaloids**

پیپریډین الکلوئیدونه .

**- Piperidine-4-Sulphonate**

پیپریډین –**4** سلفونیت مالګیزه بڼه درمل .

## Piperocaine

دا یو ډول درمل دی چې هایدروکلوراید مالګېزه بڼه یې د نخاعی موضعی أنستیزی په موخه ناروغانو ته ورکول شي.

**- Piperocaine Hydrochloride**

پیپراکائین هایدروکلوراید مالګه.

## Pipet

د ( **Pipette** ) په انډول.

## Pipette

ټیوب ډوله نرۍ ښیښه ائیز لوښي (ظرف) چې د ګاز یا مایع په ډول نموني اندازه کولو او کېښودلو په موخه په لابراتوارونو کې تري کار اخیستل کېږي .

## Pipobroman

دا د سرطان ضد درمل دی او د قلوی کوونکی درملو مادی پتوګه کارېږی فورمول یې **3-Bromo-1-[4-(3-[(Bromopropanoyl) Piperazin-1-Yl]-Propan-1-One** دئ سوداګریز نومونه یې (**Vercite** یا **Vercyte** ) دی .

## Pipolphen

دا یو ډول د حساسیت ضد درمل دی چې معمولاً د الرژی او سفری کانګی درملنې لپاره کارول شي ، د ( **Promethazine**) په انډول.

## Piquance

ترېووالې ، ترېخوالې ، د کېفیت له مخې هغه موافق تریووالې چې د عصبی - عقلی هېجان لامل شي.

## Pique

خپګان [ چې د (سپکاوی ، بې پروایی) له امله پیداشوی وی ]. تندی، خوند ، مزه، خوندور توب، ښکلا.

## Pirbuterol

د بیتا ادرینرجیک (**Beta2-Adrenergic Receptor**) رسپټورونو ضد درمل چې خولې انشاق له لارې د ( **Acetate Ester**) په بڼه د قصباتوتوسع ورکوونکی (**Bronchodilator**) پتوګه پکار وړل شي.

**- Pirbuterol Acetate**

د پیربوتېرول اسیتیت مالګه.

## Pirazepine

دا د څینو موسکارینی رسپټورونو انټاګونیسټ ( **Selective M1- Cholinergic Antagonist**) چې هایدروکلورایډی مالګې په بڼه د معدې د اسیدو د افراز په زیادښت او دهغې په زخم (قرحې) کې د اسیدونو /تېزابو نهی کولو په موخه پکارېږی.

## Piriform

د ناشپاتی (ناک ) ته ورته جوړښت.

**- Piriform Aperture**

د ناشپاتی (ناک ) ته ورته جوړښت لرونکې سوړه یا سورې او مسافه.

**- Piriform Aperture Wiring**

د ناشپاتی (ناک) ته ورته جوړښت لرونکی ډول وایر یا فلزی ډول سیم تېرول دی . د بدن هغسې برخه یا فزیولوژي یا عصبی ښودنې چې د یو څه د کنټرول لګه د اختلال ظرفیت /توان څرګند کړي.

**- Piriform Area**

پریفورم سیمه ، د ناشپاتی (ناک) ته ورته جوړښت عصبی جوړښتیزه سیمه چې د دماغ په دواړه خواوو (Rhinencephalon) کې واقع ده.

**- Piriform Cortex**

پریفورم قشر ، د ناشپاتی (ناک) ته ورته جوړښت عصبی جوړښتیزه سیمه چې د دماغ په دواړه خواوو (Rhinencephalon) کې واقع ده.

**- Piriform Fascia**

هغه ناک ته ورته جوړښت د پریفورم عضلې شاوخوا صفاق.

**- Piriform Fossa**

د ناشپاتی (ناک) ته ورته جوړښت هغه دوه تشې ساحی یا سیمې چې د حنجرې پورته او پایله کې واقع دی .

**- Piriform Fossae**

د (Fossa) لپاره ګڼه شمېره ده .

**- Piriform Lobe**

د ناشپاتی (ناک) ته ورته جوړښت لوب بڼه لرونکې عصبی جوړښتیزه سیمه چې د دماغ په دواړه خواوو (Rhinencephalon) کې واقع ده.

**- Piriform Muscle**

پریفورم عضله .

**- Piriform Nerve**

پریفورم عصب.

**- Piriform Neuron Layer**

پریفورم عصبی طبقه .

**- Piriform Opening**

د پریفورم وازه خوله /دهنه یا سورې.

**- Oiriform Recess**

د ناشپاتی (ناک) ته ورته جوړښت هغه ژوره چې د انفی – بلعومی (Nasopharynx) دواړه لوروته په قدامی –جنبی ډول د حنجرې ویستیبول کې موقعیت لری چې د (Aryepiglottic Folds) پذریعه منځ ته راځی ورته نومونه یې (Piriform Sinus او Recessus Piriformis) دي.

**- Piriform Sinus**

پریفورم سینوس ، د (Piriform Recess) په انډول.

## Piroplasma

د باکتریاوو د جینوس (Bacterial Genus) لپاره غلط نوم چې اوس د (Babesia) پواسطه بدل شوېدئ.

## Piroplasmosis

په (Babesiasis) باندې اخته کېدنه .

## Piriton

د (Chlorpheniramine) لپاره تجارتی نوم دئ.

## Piroxicam

د غیر ستروئیدی التهاب او درد ضد درمل چې د [ Osteoarthritis او Arthritis Rheumatoid ] کې پکار وړل شی.

## PIs

د (Performance Indicators) لپاره لنډه نښه ده.

## Pisiform

دشکل او اندازې له مخې د چنې (نخود، Pea) ته ورته جوړښت

**- Pisiform Bone**

د لاس مړوند بند اړوند اته هډوکو (Carpal Bones) څخه یو کوچنی هډوکې دئ .

## Piriformis

د حوصلې کمربند پورې تړلې عضلې چې د سیاټیک عصب (Sciatic Nerve) سره تړاو لری.

**- Piriformis Fascia**

هغه صفاق چې د پریفورمیس عضله یې پوښلې ده او د سیاټیک غټ سوری (Greater Sciatic Foramen) په تړلو کې رول لری ، د (Fascia Musculi Piriformis) په انډول .

**- Piriformis Muscle**

د حوصلې هغه عضله چې د حوصلې څخه تر کوناټیو ، د حوصلې –سکرال فورامین څنډو ، د ورکی هډوکی د غټ سیاټیک قوس ساحې پورې رسیږی د سیاټیک عصب پواسطه تعصیبیږی.ورته نوم یې (Musculus Piriformis) دئ .

**Piriformis Tightness Test**

دا یو کلینیکی آزمایښت دئ چې د پرفورمیس تنګوالې او سیاټیک عصب فشار راوړل کړنې پذریعه د کونټیو درد یا (Sciatica) حالت پېښیږی.

## Pirimiphos

دا یو هیټروسیکلیک ارګانوفاسفیت مرکب دئ د یوه حشره وژونکی او کنټرولونکی مادې په توګه په ښارویو کې پکاریږی.

## Pirimiphosethyl

په عضوی کېمیا کې د بوس –رنګ (-Straw Colored) مایع ده چې د ($C_{13}H_{24}N_3O_3PS$) فورمولا لری چې په (130°C) درجو تودوخه کې تخریبیږی د

I.) وؤ چې ګڼ شمېر طبی درملنېزې کړنلارې یې مطرح او عملی کړېدی.

## Piroplasma

دا یو نوع غلط نوم د (Bacterial Genus) لپاره دئ چې اوس مهال د (Babesia) بدل شویدئ.

## Piroplasmida

د پروتوزوا ګانو سپورلرونکو ډلې څخه دئ چې د یو لړ ناروغیو لامل ګرځی او ګڼ شمېر تحت الکلاس لری.

## Piroplasmosis

دا یو ډول انتانی ناروغی ده چې د (Babesia) یوه نوع پواسطه منځ ته راځی. د ورګو (وربږو) پواسطه لېږدول شی په څارویو او انسانانو کې ناروغی پېښوی. په (Piroplasmida) اخته کېدنې ناروغی چې (Fever, Chills, او Hemolysis د Hemoglobinuria او Jaundice مل حالت، د ادرینال عدم کفایه، تنفسی ډیسترس سنډروم) منځ ته راوړی ورته نوم یې (Piroplasmosis) دئ.

## Pirquet Index

یو مېتود چې دئ چې د خوارځواکۍ (سؤتغذی) پېژندنه پرې کېږی.

## Pirquet Test

جلدی (Tuberculin Test) توبرکولین ټست، د (Dermotuberculin Reaction, Pirquet Reaction) په انډول.

## Pirquet's Reaction

د (Tuberculin Test) او (Mantoux Test) په انډول.

## Pit

یوه ډېره کوچنۍ ننوتلتیا یا جوف، بمبته، مندکه، زړی په منډهی کی دمخصوص جنس خرځلن ځای، کنده کول، ډوغلول، چرګان په جنګ اچول کنده، ډوغل، ژوره، ددوزخ کنده دوزخ، لټ، کوړکمی (تلکه)، چوخی (دنکوداغ) دحیواناتوجنګ غالی، په تیاترکښې دسازیانود ناستی ځای.

### - Pit of the Stomach

د شرسوفی (Epigastrium) معدې ژوره برخه چې د ګېډې د نامه غوټۍ او صدر تر منځ پرته ده.

### - Pit Viper

یو ډول وښ لرونکی منګور، یو ډول زهر لرونکی مار.

## Pitapat

حشراتو ضد (Insecticide) درملو په توګه په زراعتی بوټو اوسبزیجاتو کې پکارېږی.

## Piritrexin

د فولېټ (Folate Antagonist) انتاګونیسټ چې د (Toxoplasmosis) توکسوپلازموزیس ناروغۍ درملنه کې پکارېږی.

## Pirlimycin

دا د لینکوسامایډ (Lincosamide) ډول انتی بیوټیک دئ چې د (Lincomycin) ته ورته اغېزې څرګندوی.

## Pirogoff

دا یو تن د روسیې (Russian Surgeon) هیواد طبی جراحی عالم ؤ چې په (1810-1881) کالونو کې اوسېده نوم یې (Nikolai I.) وؤ.

### - Pirogoff Amputation

دا یو جراحی غوڅوونکې (قطع کولو Amputation) عملیات دئ چې پکې د پښو لاندینۍ مفصلونه سطحې د (Tibia And Fibula) هډوکو تر منځ خلف او سفلی ته غوڅېږی او د یوه هډوکیزې برخې پواسطه پوښل شی. د پیراګوف امپوټیښن.

### - Pirogoff Angle

د پیراګوف زاویه (کنج)، چې د داخلی جوګولار مفصل او تحت الترقوی وریدونو څخه منځ ته راځی دا د نیورو- راډیولوژی له پلوه هغه زاویه چې د (Superior Thalamostriate Vein) چې د (Internal Cerebral Vein) سره یو ځای کېږی منځ ته راځي ورته نوم یې (Venous Angle) دئ.

### - Pirragoff Aponeurosis

د پیراګوف اړوند نومول شوي صفاق دئ چې د منضم نسج څخه جوړ دئ اود انسی برخې تېنډون څخه راوځی او (Deep Fascia) پواسطه ښخېږی چې د لاسونو د لېچې (Forearm) برخې قدامی کمپارټمنټ پوښوی. ورته نوم یې (Bicipital Aponeurosis) دئ.

### Pirogoff Operation

-

د (Pirogoff Amputation) په انډول.

### Pirogoff Triangle.

هغه مثلث چې د (Digastric Muscle) عضلې د منځنی تېنډون، خلفی سرحد د (Mylohyoid Muscle) عضلې او (Hypoglossal Nerve) پواسطه منځ ته راځی.

### Pirogoff, Nikolai I.

دا یو تن د روسیې (Russian Surgeon) هیواد طبی جراحی عالم ؤ چې په (1810-1881) کالونو کې اوسېده نوم یې (Nikolai

تپیدنه، رپېدنه، لړزیدنه، په تپیدو ، په ر پېدو، په لړ زیدو.

## Pitch

له قیر تقطیر څخه زېږنده ماده ، د قیرو له ډوله ، د اهتزاز د غږ او فریکانس لوړ والي لکه د( داواز جګوالی یاټیټ والي) ،ودردول ( لکه خیمه ) ، غور ځول ویشتل په یوه اندازه ساتل لکه ( آواز ) ، کړول، غوره کول . سریښناکه ماده چه دتار کولو، پترولواونورونه پاتي کیږي، ژاوله، شیره، پورته غورځونه، درونه، ځوړ.

**- Pitch Doctor**

د مرکزي لوبغاړو مسافري اړوند طبي کارکوونکي چي طبي زده کړې نلري په امریکا کي په (1800s) وروستیو کي تري کار اخیستل کیده.

**- Pitch Wart**

پریکانسري کراتوتیک اپیدرمال زخي ته ورته تومور چي د قیر او ډبروسکارو فابریکو کارکوونکو کي معمول دئ.

**- Pitch Workers' Cancer**

حرفوي طبابت کي د (سر، غاړې ، سفن) د سکواموز سل کارسینوما منځ ته راتګ چي دا د پوستکي (-3,4-Benzpyrene Rich Pitch) سره د بیدریغه مخامخ کېدني سره تړاو ورکول کیږي

## Pitcher

1. د مایعاتو لپاره یو ظرف یا جګ، صراحي، منګی، کوزه ، غور ځوونکی ،ویشتونکی **2**. په بوټاني ( Botany) کي د صراحي ته ورته نباتي جوړښت چي لکه پاڼه اونور.

## Pithecoid

د بیزو په څیر ورته ، د بیزو په ډول د ( Pithecia ) د جینس څخه.

## Pithiatism

د یو چا د نفوذ څخه لیږي د هغه باوري کول چي هغه پرته د ډاکټر له درملني څخه ښه والي ترلاسه کوي .په مطلق بڼه د هیستیریا د علامو څرګندوالي یا هغه ته اوښتنه یا پسایکوتراپي کول.

## Pithily

په مغزلرونکي ډول سره ، جوهرلرونکي ، په قوت سره ،نیرو لرونکي .

## Pitta

یو ډول د انرژي تولیدوونکي (اوبو او اور) اړوند عناصر چي د میتابولیزم په نتیجه کي بدن ته انرژي وربخښي او د (هاضمي ، انزایماتیک ، اندوکرین سیستم ) اړوند دي او د خولي په توګه له بدن څخه خارجیږي .

**- Pitta Diet**

هغه غذائي رژیم چي د یولړ شیانو لکه (پنیر ، ائینلي چای، غوړ خوراک ، میوې داني ، تریخ او تریو خوراک ) څخه پرهیز منځ ته راځي.

**- Pitta Personality**

د پیتا شخصیت چي (ډیره خودخواهي ، ځان خوښونه ، مخرش ، غضبناک ، رقابتي ) بڼه لري دا یو ډول رواني ستونزه څرګندوي .

## Pitted

ننوتي برخه ، د یوه کوچني (سوري ،تشي او اندفاع ) پذریعه پوښل شوي ،لکه د ځوانکي (Acne ) پواسطه د پوستکي پوښلي بڼه.

**- Pitted Keratolysis**

دا د تودي سیمي اړوند د پوستکي کراتولایتیک ناروغي ده چي غیر انتاني سرچینه لري چي د لاس ورغوي او پښي پوندي او تلي برخه اخته کوي او ورته ( Keratolysis Plantare Sulcatum) هم ویل شي .

## Pitting

د بدن د پوستکي لپاسه د فشار راوړولو وروسته ننوتي یا تشه شوي ننبي برخه.

**- Pitting Edema**

هغه ډول اذیما چي د بدن د پوستکي لپاسه د فشار راوړلو وروسته پري ننوتي یا تشه شوي ننبي په څیر پاتي کیږي.

**- Pitting Sign**

دا علامه (ننبه) د اذیما په شته والي کي منځ ته راځي داسي چي د پړسیدلي برخي جلد کنبیکاږل کیږي هلته یوه ژوره او د ګوتي خاپه پاتي کیږي.

## Pittsburgh Brainstem Score

داسي یو ډول لمبر لرونکي جدول چي د کلینیکي حالت څرګندونه د قحفي ترضیضاتو په شتون کي څرګندوي چي پکي د قحفي ازواجو ارزوونه تاکل کیږي لکه د [انانزکي سترګه( 'Doll's Eye') ، سترغلي او یخ اوبو کالوري رفلکسونو ] څرګندوي.

## Pittsburgh Criteria

دا یو ډول (Now-Dated Criteria-Based System ) سیستم دئ چي د ناروغانو د غړو ترانسپلانټ لپاره د انتظار لیسټ څرګندوي .

## Pittsburgh Pneumonia

هغه ډول تنفسی پنومونیا ناروغی (**Legionnaires' Disease**) ده چې د (**Legionella**) پذریعه منځ ته راځی او په (**Immunocompromise**) ناروغانو کې لیدل شی.

## Pituicyte

هغه څرګندې دوکی[ماکو ( **Fusiform Cell** ) ]ډوله حجرې د نیورهایپوفیز لویه برخه جوړوی ، ډېرې کوچنۍ حجرې چې د نخامی غدې د خلفی لوب اړوند دی.

## Pituicytoma

د نیوروهایپوفیز( **Neurohypophysis** ) اړوند نیوپلازم لپاره غېر وصفی نوم دئ چې د ( **Gliogenous** **Neoplasm**) څخه مشتق شوېدئ چې د (**Pituicytes** ) پورې تړلې د او د سایتوپلازمیک موادو شبکوی کمپلکس منځ ته راوستلو اړونددئ .

## Pituit-

دا یو مختاړې دئ او د[ ("**Phlegm"**) **Pituita,** **Pituitary, Pituitous**] معنی بشپړوی .

## Pituita

د پوزې څخه د پېړ (ضخیم ) ډول افرازاتو راتګ .ورته نومونه یې [ **Glairy Mucus** (**L. Phlegm**) ] دی .

## Pituitarism

د هایپوفېزیس غدې خلفی لوب ، نیوروهایپوفیز ، د حیواناتو دهایپوفیز غدې خلفی لوب مواد چې هغه د هورمونونو(اوکسی توسین او وازوپریسین ) اغېزی لری بې خونده ډیابت کې د ادرار وازوکانستریکتېور په توګه کارېږی.

## Pituitary

1.د هغه څه اړوند چې د (**Pituitary Gland**) ) غدې پواسطه تولیدېږی.2 .د ( **Pituitary Gland**) غدې د اختلالونو او تشوشاتو پورې تړلې ، نخامی ، د ( **Pituitary Gland, Hypophysis, Pituitary Body,**) په انډول.

**- Pituitary Body** pituitary

د نخامې غدې جسم د اندوکرین سیستم ماستر غدې پنامه یادېږی او د دماغ په قاعده کې واقع ده، د ( **Pituitary Gland**) په انډول.

**- Pituitary Bovine Growth Hormone**

د نخامې اړوند حیوانی (غواګانو) د ودې هورمون .

**- Pituitary Cachexia**

د نخامیې غدې پورې تړلې د اختلالاتو څخه منځ ته راغلې خواری (وزن بایلنې ) حالت چې د نخامیې مزمنو ناروغیوکې منځ ته راځی.

**- Pituitary Diabetes Insipidus**

د نخامیې غدې اړوند بې مزې شکرې ناروغی چې د ( **Vasopressin**) هورمون د فقدان پورې تړاو لری.

**- Pituitary Diseases**

د نخامیه غدې اړوند ناروغۍ .

**- Pituitary Disorder**

د نخامیه غدې اړوند اختلالاتو ناروغی .

**- Pituitary Diverticulum**

د نخامیه غدې ډایورتیکولوم ناروغی ، ورته نومونه یې ( **Adenohypophysial Diverticulum, Craniopharyngeal Canal, Hypophysial Diverticulum, Hypophysial Pouch**) دي.

**- Pituitary Dwarf**

د نخامیه غدې اړوند لنډوالی چې د ونې لنډوالې د ودې هورمون د فقدان له امله منځ ته راځی ورته نومونه یې (**Hypophysial Dwarf, Levi-Lorrain Dwarf**) دي .

**- Pituitary Dwarfism**

هغه طبی ناروغه حالت د ونې لنډوالې د نخامیه غدې د عدم کفایې او ودې هورمون کمښت له کبله منځ ته راځی ورته نوم یې (**Nanism** ) دئ .

**- Pituitary Dysfunction**

د نخامیه غدې بې وظیفې کېدنې حالت .

**- Pituitary Dystopia**

د (**Neurohypophysis** ) او (**Adenohypophysis** ) ترمنځ د یوځای کېدنې عدم کفایې انومالوس ته ویل شی.

**- Pituitary Eunuchism**

د نخامیه غدې د وظیفوی ناروغیو حالاتو له امله د جنسی غړو د نه ودې او عقامت شتون ته ویل شی.

**- Pituitary Extract**

د نخامیه غدې اړوند افرازاتو (عصارې) ته ویل شی چې د هورمونی درملنې کې یې مستحضرات پکار وړل شی.

**- Pituitary Failure**

د نخامیه غدې نه بریالیتوب یا عدم کفایه چې نخامیه اړوند هورمونونو د نه افراز حالت ته ویل شی لکه ( **Hypopituitarism**او **Panhypopituitarism** ) .

**- Pituitary Fossa**

د (**Sella Turcica**) په انډول.

**- Pituitary Giantism**

د نخامیې غدې اړوند د ونې اوږدېدنې حالت چې پکې د ودې هورمون د زیات افراز له امله ډېره پیمانه وده پېښېږی

لپاره پریکارسور دئ.

- **Pituitary Lipotropin**

نخامی لایپوتروپین ، هغه هورمون چې د نخامیه غدې د قدامی لوب څخه افرازیږی چې د غوړو (شحمیاتو) مصرف تنبه کوی او د ( **Endorphins** ) لپاره پریکارسور دئ.

- **Pituitary Membrane**

د پوزې اړوند مخاط چې د پوزې جوف یې پوښلې دئ او د ( **Nasopharynx, Paranasal Sinuses, And Nasolacrimal Duct**) په برخوکې ځغلېدلې دئ.

- **Pituitary Myxedema**

د نخامې اړوند میګزوډیما ناروغی چې د تایراید غدې د فعالیت کمښت له کبله [د وچ پوستکی ، شونډو ، ژبې او پوزې د چاپېر پوستکی پړسوب او تخریب او د ( **Basal Metabolic Rate** ) تحت نورمال حالت] او همدارنګه د پوستکی ییړوالی سره د حسیت کمښت او ذکاوت لږېدنه د هایپوتایرایډیزم سره مل نښې نښانې منځ ته راځي.

- **Pituitary Nanism**

هغه حالت اوناروغی چې پکې ( **Dwarfism** ) او ( **Hypophyseal Infantilism**) ګډ ډول لیدل شی.

- **Pituitary Neoplasms**

نخامیه غدې نیوپلازمونه یا تومورونه.

- **Pituitary Tumor**

نخامیه غدې نیوپلازم یا تومور.

## Pituite

د پوزې څخه د پېړ (ضخیم ) ډول افرازاتو راتګ .ورته نومونه یې [ **L. Phlegm, Glairy Mucus** ] دی. د ( **Mucus, Phlegm**) په اند ول.

## Pituitous

د ( **Pituite** یا **Mucus** یا له مخاط څخه ډک) لپاره اړوند صفت ، د پوزې څخه د پېړ (ضخیم ) ډول افرازاتو راتګ اړوند صفت .

- **Pituitous Fever**

محرقه ، دلویی تبی، لویه تبه ، ترتکه، وچکې . د (**Typhoid Fever; Enteric Fever**) په اند ول.

## Pituitrin

هغه هورمون چې د ( **Pituitary Gland** ) پذریعه افرازیږی. د نخامی غدې عصاره.

## Pituitarism

دا د نخامیه غدې غیروظیفوی حالت لپاره ډېر پخوانی غیر وصفی نوم دئ ، د نخامیه غدې تشوش یا اختلالات بلل شی لکه ( **Hyperpituitarism-** او **Hypopituitarism**) حالتونه.

- **Pituitary Gigantism**

د نخامیې غدې اړوند د ونې اوږدېدنې حالت چې پکې د ودې هورمون د زیات افراز له امله ډېره پیمانه وده پېښېږی او پکې د هډوکو د اپیفیزیس برخې ترلې پاتې کېږی او د (**Acromegaly**) سره مل وی .

- **Pituitary Gland**

نخامیه غده ، دا یوه ګیلاس ډوله (**Cherry-Shaped** ) دوه لوبه ( **Double-Lobed** ) لرونکې جوړښت لری او د دماغ قاعدې کې واقع ده چې اندوکرین غده بلل شی او چې هغه هورمونونه ( **ADH، ACTH** او**TSH**) افرازوی چې نور غدوات تنبه کوی او د ټولو هورمونونو دندې کنترولوی ، د ( **Pituitary Body** او **Hypophysis Cerebri**) په اند ول.

- **Pituitary Gland Anterior**

د نخامیه غدې قدامی برخه .

- **Pituitary Gland Posterior**

د ( **Pituitary** ) خلف ته برخه ، د ( **Posterior Pituitary**) په اند ول.

- **Pituitary Gonadotropic Hormone**

د هګیو (ګونادونو) اغېز منځ ته راوړونکی هورمون چې د نخامی غدې څخه قدام افرازیږی اړوند وګڼل شی، ورته نوم یې ( **Hypophysial Gonadotropic Hormone** ) دئ.

- **Pituitary Gonadotropins**

د ( **Pituitary Gonadotropic Hormone**) په اند ول.

- **Pituitary Growth Hormone**

د نخامیه غدې د ودې هورمون .

- **Pituitary Hormones**

هر هغه ډول هورمون چې د نخامی غدې څخه افرازیږی.

- **Pituitary Hypoplasia**

د نخامیه غدې لږه اندازه وده ، هغه نخامیه غده چې ښه او بشپړه وده یې نه وی کړې.

- **Pituitary Hypothyroidism**

هغه هایپوتایرایډیزم چې د نخامې سره تړاو لری.

- **Pituitary Incidentaloma**

دا هغه اصطلاح ده چې پرته له اعراضو ( **Asymptomatic Prolactinoma**) ته ویل شی.

- **Pituitary Infantilism**

د ( **Pituitary Dwarfism** ) په اند ول.هغه حالت چې د ودې هورمون د ابتدائی ډول فقدان له امله منځ ته راځی.

- **Pituitary Insufficiency**

د نخامیه غدې نه بریالیتوب ، نخامی عدم کفایه چې په (**Pituitary Apoplexy, Pituitary Infarction**) کې لیدل شی .

- **Pituitary Lipotropic Hormone**

هغه هورمون چې د نخامیه غدې د قدامی لوب څخه افرازیږی چې د غوړو (شحمیاتو) مصرف تنبه کوی او د ( **Endorphins** )

## Pityriasic

د (Pityriasis) اړوند حالت لرل .

## Pityriasis

پټریازیس ، د پوستکی هغه ناروغی چې پکې پوستکې تفلسونه منځ ته راوړی.

**- Pityriasis Alba**

هغه ناروغی چې ماشومان اخته کوی چې د زنې په برخه کې سپینې رنګې (لکې) او صفحوی تفلسی هایپوپګمنټیشن منځ ته راځی چې معمولاً پخپله طبیعی بڼه والې مومی مزمن ډول وی .

**- Pityriasis Alba Atrophicans**

هغه ډول پټریازس البا چې ضموری بڼه لری.

**- Pityriasis Capitis**

د سر پینه ، د سر برخه پټری پټری ډوله تفلسات منځ ته راتګ ، د (Dandruff) په انډول.

**- Pityriasis Circinata**

د خارښت لرونکو سرې مخې (Itchy Rash) منځ ته راتګ چې د تنې او نهایاتو برخه کې لیدل شی. د (Pityriasis Rosea) په انډول .

**- Pityriasis Lichenoides**

لیکینوئید پټریازیس.

**- Pityriasis Lichenoides Chronica**

مزمن ډول لیکینوئید پټریازیس.

**- Pityriasis Linguae**

د ژبې (Idiopathic) غیر عرضی سوروالې چې د (Circinate Macules) په څېر ورته دئ چې د (Filiform Papillae) ضمور سره مل دئ د وخت په تېرېدو سره آفتونه له منځه ځي بې رنګه ځایونه په خپره بڼه د فیسورونو سره ملتیا کوی لیدل کېږی ورته نومونه یې (Benign Migratory Glossitis, Glossitis Areata Exfoliativa, Lingua Geographica) دي. د (Geographic Tongue) په انډول.

**- Pityriasis Maculata**

د (Pityriasis Rosea) په انډول.

**- Pityriasis Nigra**

دا یو ډول چنیاسې اتانی ناروغی ده چې د (Exophiala Werneckii) له امله پیښېږی پکې دلاس په ورغوی کې تیاره آفتونه جلا ډول منظره منځ ته راوړی .

**- Pityriasis Rosea**

خفیف ډول تخریشی سره مخه چې ماشومان اخته کوی او کوم ډول واضیح لامل نلری دا ناروغی د پستکی د جلدی کرښو په اوږدو کې لیدل کېږی.

**- Pityriasis Rubra Pillaris**

هغه جدی ډول مزمن جلدی التهابی ناروغی ده چې ځینې وختونه وژونکی جلدی ناروغی منځ ته راځی او د (Exfoliative Dermatitis) یو ډول دئ چې پکې( تفلسی ماکولونه، فولیکولار پاپولونه ،تقرن او د مخ سیبوریک درماتیت تیاره سور رنګ لری) چې د تفلساتو پذریعه پوښلې دئ پېژندل شی .

**- Pityriasis Versicularis**

هغه ډول نصواری –سبوس لرونکی آفتونه د تنې په پوستکی کې هایپر پګمنټډ برخې منځ ته راځی چې د دوبی (اوړی) د لمر سره د مخامخ کېدنې له امله پېښېږی هلته د (Malassezia Furfur) چنیاسې وده کوی او اقل ډول التهابی غبرګون سره مل وی ،د (Pityriasis Versicolor, Tinea Versicularis) په انډول.

## Pityroid

د پټریازیس ناروغی ته ورته ، د (Furfuraceous; Branny) په انډول.

## Pityrosporum

د (Malassezia) په انډول او د هغه غیر رسمی نوم دئ.

**- Pityrosporum Canis**

دا یو ډول (Malassezia Pachydermatis) دئ چې د (Facultatively Lipophilic Yeast) پورې اړوند دئ او ورسره (External Otitis Externa) په سپیانو کې هم لیدل شی دا ناروغی کولای شی چې په هغه ماشومانو کې نوی زېږېدلی او لږ وزن (Low-Birth-Weight Infants) لری چې هغوی ته (Lipid Emulsions) ورکړل شی د سیپسیس لامل شی .

**- Pityrosporum Furfur**

دا یو ډول چنیاسی دئ چې د پوستکی نورمال فلورا بلل شی خو د (Tinea Versicolor, Folliculitis, Or Fungemia) ناروغی په هغه کسانو (Intravenous Lipids) ورته ورکول شی منځ ته راوړی ، ورته نومونه یې (Pityrosporum Orbiculare, Pityrosporum Ovale) دئ.

**- Pityrosporum Orbiculare**

د (Malassezia Furfur) په انډول .

**- Pityrosporum Ovale**

د (Malassezia Furfur) په انډول.

**- Pityrosporum Pachydermatis**

د (Pityrosporum Canis) په انډول.

**- Pityrosporum Rhinoserosum**

د (Malassezia Pachydermatis) په انډول.

## Pivalate

د (Trimethylacetate) درملو لپاره د (Usan) مخې لنډ نوم دي .

## Pivalic Acid

د (Trimethylacetate ) درملو لپاره د (Usan ) له لوري منل شوي لنډ نوم دئ چې فورمول يې [ $(Ch_3)_3c\text{-}Co_2$ ] دئ د ( Pivalate) په انډول.

## Pivamdinocillin

دا د پینسیلین کورنۍ څخه نیمه ترکیبي انتي بیوټیک درمل دئ چې د (Amdinocillin ) لپاره ایستری بڼه ، د (Pivmecillinam ) په انډول .

## Pivmecillinam

دا د پینسیلین کورنۍ څخه نیمه ترکیبي درمل دئ چې د (Amdinocillin ) لپاره ایستری بڼه او د (Ampicillin) ایستر چې وسیع الساحه انتي بیوټیک اغېزې لری .

## PIVKA

د ( Proteins Induced By Vitamin K Deficiency Or Antagonists) لپاره لنډه نښه ده .دا یوه غېر وظیفوی پریکارسور ماده چې د ویټامین (Vitamin K ) چې د ( Coagulation Factors) لپاره اړین دئ او د ( Carboxylation Of Glutamic Acid Residues) کې فقدان منځ ته راځی په هغه حیواناتو کې چې انتي‌کواګولانت درملنې مسمومیت لری موندل کېږی .

## Pivot

چور لیدل ، تاویدل . چورلیځ، محور .مصنوعی تاج د غاښونو جذر برخه کې ، په یورولوژی کې د پروستاټ د کانسرونو (خپرېنې ،مداخله ، کتنې) برخې ته ویل شی.

### - Pivot Joint

چورلېدونکې بند ، هغه بند چې د هغه لپاسه یو هډوکې چورلېږی یا تاوراتاویدلای شی لکه د ( Radius And Ulna) هډوکو بند. ورته نومونه يې ( Articulatio Trochoidea, Rotary Joint, Rotatory Joint او Trochoid Joint ) دي.

### - Pivot, Occlusal

په مصنوعی ډول سره د بند شوې سطحې پورته کول معمولاً دغاښونو مولار برخې چې د منډیبولار سهمی برخې تاوېدنه (څرخېدنه ) طرحه کېږی.

## pKa

د پوتاسیوم (K) یو اسید د پرلپسې آیونایزیشن منفي لوګاریتم ؛ د هغه محلول (Ph) چې د داسید نیمائی مالیکولونه پکې آیونایز شوېوی .

## PKD

د (Polycystic Kidney Disease ) لپاره لنډه نښه ده.

## PKU

د (Phenylketonuria ) لپاره لنډه نښه ده.

## Placebo

هغه غېر فعاله ماده چې درملو ته د ناروغ سیمبولیکې اړتیا د پوره کولو لپاره د هغه ته ورکول کېږی او اغېز يې د ریښتینو درملو د اغېزو سره پرتله کېږی.اکثر ډول دا درمل د رواني ستونزو ناروغانو (هیستېریا) کې پکار وړل شي.

### - Placebo Effect

د پلاسیبو اغېزې .

## Placenta

پلاسنټا ، پریوان ، جوړه ، جفت ، ①هغه غړې یا نسجی کتله چې د بلاربښت په بهیر کې د جنین او مور ترمنځ اړیکه ټینګوی او پکې جنین وده مومی یولړ هورموني افرازات لری او د تروفوبلاستیک واسکولاریزی برخو له لارې د موجود موادو بدلون ورتیا هم لری.② په بوټاني کې د نبات هغه برخه چې پکې ګلان او زړی منځ ته راځی

### - Placenta Ablatio

دا حالت هغه وخت منځ ته راځی چې د ماشوم زېږون څخه دمخه پلاسنټا (پریوان) له رحم جدار څخه رابېلېږی دا پېښه د جنین په (20th Week) اونۍ کې پېښېږی چې ډېره شدیده بڼه وینه بهېدنه پېښوی .

### - Placenta Abruptia

د (Placenta Ablatio) په انډول.

### - Placenta Abruptio = Placental Abruption

د (Placenta Ablatio) په انډول.

### - Placenta Accreta

هغه ډول پلاسنټا چې پکې پلاسنټا قسمی ډول د رحم د مایومتریوم دننه وده مومی غېرنورمال حالت دئ او پلاسنټا د جدار سره نښتې بڼه لری او پّه قسماً یا بشپړ ډول پکې ( Decidua Basalis) نشتوالې لری .

### - Placenta Accreta Verae

هغه مهال پکار وړله شی چې ذغابې (Villi ) د رحم په مایومتریوم کې (Juxtaposed ) بڼه ولری .

### - Placenta Adherence

نښتې پلاسنټا ، د (Placenta Accreta ) په انډول.

### - Placenta Artificial

مصنوعی پلاسنټا.

### - Placenta Battledore

کناری پلاسنټا ، مورګېزه پلاسنټا ،هغه ډول پلاسنټا چې پکې د نامه رسۍ (Umbilical Cord ) د سرحد برخه کې تماس ولری

**- Placenta Biloba**
مضاعف پلاسنتا ، هغسې پلاسنتا چې د يوې متضيقې سيمې پذريعه په دوه برخو ويشل شوېوی .د (**Placenta Bipartita** او **Placenta Duplex**) په انډول.

**- Placenta Bipartita**
د (**Placenta Biloba**) په انډول.

**- Placenta Circumvallata**
هغه ډول پلاسنتا چې د يوه (متکاثف ، لوړ ، جګ نوډولار حلقې) پواسطه چې د يوې غشأ سره په تماس ده چې په څنډو برخو کې مضاعف کېږی.

**- Placenta Creta**
د (**Placenta Accreta**) په انډول.

**- Placenta Deciduate**
ديسيډوائی پلاسنتا ، چې پکې ډيسيډوائي يا مورنۍ برخه د پلاسنتا له رحم څخه جلا وی او د ټروفوبلاستيک برخې يو له بل سره اچولې بڼه لری. د (**Deciduous Placenta** ) په انډول.

**- Placenta Diffusa**
خپره او منتشره پلاسنتا ، د غشأ په ورته پلاسنتا چې په غير نورماله نری بڼه منځ ته راځی چې د رحم جدار په ټولو برخو کې خپره پرته ده ، د ( **Placenta Membranacea** ) په انډول.

**- Placenta Dimidiata**
دا سې يوه غير نورماله پلاسنتا چې د هغې ټولې برخې جلاشويوی او يوازې د کوږ برخه کې نښتنه لری ورته نوم يې (**Placenta Biloba**) دئ .

**- Placenta Diseases**
د پلاسنتا ناروغي ، ناروغه پلاسنتا.

**- Placenta Dropsy**
د پتالوژی له مخې هغه ډول پلاسنتا چې پکې په وصفی توګه د انساجو منځ کې اوبه يا مايع راټولې شوېوی .اذيمائی پلاسنتا ، د (**Placenta Hidropesía** ) په انډول .

**- Placenta Duplex**
د (**Placenta Biloba** ) په انډول .

**- Placenta Eating**
د پلاسنتا خوراک ، داحالت په يو لړ تی لرونکو حيواناتولکه (**Herbivores** ، **Insectivora, Rodentia, Chiroptera,** **Lagomorpha, Carnivora**) کې شتون لری چې حيوان کله چې زوکړه وکړی نو خپله پلاسنتا پخپله خوری.

**- Placenta Encapulation**
هغه کپسول چې پکې يولړ مواد ځای پرځای کېږی او د درملنې په موخه کارول شی.

**- Placenta Extrachorales**
هغه ډول پلاسنتا چې پکې (**Chorionic Plate** ) يوې نرۍ غشأيی فولد پواسطه د څنډې برخه کې محدودېږی .

**- Placenta Fenestrata**
هغه ډول پلاسنتا چې پکې په هغه برخو کې پلاسنتائی نسج شتون نلری يو ډول لکې / خاپې (**Spots**) منځ ته راځی .

**- Placenta Fetal**
د (**Placenta Fetalis**) په انډول.

**- Placenta Fetalis**
هغه برخه د پلاسنتا چې د (**Chorionic Sac** ) څخه جنين راټولوی منځ ته راغلې وی او دکوريوپاټو او ذغابو ( **Chorionic Plate And Villi**) درلودونکې دی .

**- Placenta Gonadotropin**
هغه پلاسنتائی ګونادوتروپين هورمون چې د کوريون پواسطه ترشح مومی .

**- Placenta Hemochorial**
هغه چې د مورنۍ وينې څخه راځی او مستقيم ډول د کوريون سره تماس او تړاو لری .

**- Placenta Increta**
هغه پلاسنتا ميومټريوم ته يې نفوذ موندلې وی، د (**Placenta Accreta**) په انډول .

**- Placenta Marginata**
کناری (مورګې ، څندې ) برخې پلاسنتا چې د ( **Placenta Circumvallata**) په پرتله لږه اندازه پورته والې ولری .

**- Placenta Maternal**
مورنۍ پلاسنتا ، چې د (**Decidua Basalis**) څخه منشه او سرچينه اخلی.

**- Placenta Membranacea**
غشأيي پلاسنتا ، په نرۍ او خپره بڼه د رحم جدار مايومتريوم په پراخه پيمانه پوښوی .

**- Placenta Multiloba**
د څولوبونو درلودونکې پلاسنتا چې د ساده تضيقاتو پذريعه لوبونه يو له بيل شويدی ، د (**Placenta Multipartita** ) په انډول .

**- Placenta Multipartita**
هغه ډول پلاسنتا چې معمولاً له دريو لوبونو څخه ډېر او د څولوبونو درلودونکې وی چې د ساده تضيقاتو پذريعه لوبونه يو له بيل شويدی ، د (**Placenta Multipartita** ) په انډول .

**- Placenta Panduraformis**
د يو ډول د (**Placenta Dimidiata** ) پلاسنتا چې د دوه نيمائی برخې د يوبل سره کېښودل شی داسې منظر جوړوی چې د موسيقی آلې ورته (**Lutelik**) چې ورته (**Pandura** ) ويل شی بڼه غوره کوی .

**- Placenta Percreta**
هغه ډول (**Placenta Accreta**) چې مايومتريوم تر تهاجم لاندې راولی او ځينې وختونه د رحم د څيرېدنې لامل ګرځی.

**- Placenta Pill**
هغه کپسول یا پوښ چې د درملو راز راز مواد ځای پرځای کېږي او د درملنې په موخه ورکول شي.

**- Placenta Praevia**
د یو ډول د (Placenta Dimidiata) پلاسنټا چې د کله څخه چې د هګۍ (تخمه) القاح شی د رحم د ښکتنې برخې کې کامل یا قسمي ډول غرس کېږي داسې معنی لري چې پلاسنټا د سرویکس برخه پوښوی او د زېږون پرمهال د ماشوم د دماغی تخریب لامل ګرځی دا په هغه ښځو کې (Multiple Pregnancies) ولری او د (Over 35) کالو څخه یې عمر ډېر وی منځ ته راځی.

**- Placenta Reflexa**
منعکسه پلاسنټا .دا یو غېر نومال ه بڼه ده چې د پلاسنټا څنډې پېړې (ضخیم) دی او بیرته شاته په ځان راتاوه بڼه لری .

**- Reniform Placenta**
پښتورګی ته ورته بڼه لرونکې (Kidney-Shaped Placenta) پلاسنټا .

**- Placenta Reniformis**
د (Kidney-Shaped Placenta) په انډول.

**- Placenta Spuria**
د پلاسنټا اضافی برخه لرونکې بڼه ده چې پرته له وینی رګونو څخه ده او د اساسی او اصلی پلاسنټا سره نښتې اړیکه جوړوی.

**- Placenta Succenturiata**
د پلاسنټا اضافی برخه لرونکې بڼه ده چې د وینی رګونو له لارې د اساسی پلاسنټا سره نښتې اړیکه جوړوی.

**- Placenta Triloba**
د درې لوبونو لرونکې پلاسنټا.

**- Placenta Tripartita**
د درې برخو لرونکې پلاسنټا چې دننه یې تړوله جدا شوې ، سره جلاشوې برخې چې د صروی حبل پواسطه سره نښتې دی او جنینی .د (Placenta Triplex او Placenta Triloba) په انډول.

**- Placenta Triplex**
د درې ګونې په درې برخو ویشل شوې پلاسنټا.

**- Placenta Uterina**
د رحم اړوند پلاسنټا چې د (Decidua Basalis) څخه یې سرچینه اخلی ورته نوم یې (Maternal Placenta) دئ .

**- Placenta Velamentosa**
پلاسنټا ویلامنټوزا چې صروی حبل یې د نېږدې نښتې غشأ او حبلی رګونو چې خپره او مستقله بڼه لری سره تماس لری .

**- Placenta Villous**
ذغابی لرونکې پلاسنټا چې د کوریون بهرته وده بلل شی.

## Placental
د (Placenta) اړوند صفت .

**- Placental Barrier**
پلاسنټائی سرحد (پوله) ، د پلاسنټا هغه سرحد چې د جنین او مور د وینې دبهیر ګډېدو څخه مخنیوی کوی خو د( اوکسیجن ،اوبواو هورمونونو ) تېرېدنې ته له مور څخه جنین ته اجازه ورکوی .

**- Placental Bleeding**
د پلاسنټا اړوند وینه بهېدنه .

**- Placental Bruit**
د پلاسنټا غږ او شورماشور چې د ماشوم وینې بهیر له کبله دئ په بلاربو ښځو کې د مور د نبض سره همګامه وی.

**- Placental Cadherin**
د (CDH3) جوړښت چې دا یو جن دئ چې د (Chromosome 16q22.1) کروموزوم لپاسه پروت دئ او د [Calcium-Dependent Cell–Cell Adhesion Glycoprotein (Cadherin)] چې د (Regulating Cell–Cell Adhesions, Mobility) او اپیتلیال حجرو ارتشأح مسؤل دی هغوی ته کوډینګ ورکوی.

**- Placental Circulation**
د پلاسنټا د وینې بهیر (دوران).

**- Placental Clock**
د پلاسنټا د سنجش وسیله .

**- Placental Calcification**
د پلاسنټا تکلس ، چې په پلاسنټا کې د مینرالونو ذخیره کېدنې له امله د (رګونو او الانتوئیس) شاوخوا منځ ته راځی،

**- Placental Cavities**
پلاسنټائي جوف چې ورته (Amniotic Sac) او (Allantoic Sac) هم ویل کېږی.

**- Placental Dysfunction**
د پلاسنټا غېر وظیفوی حالت ناروغی .

**- Placental Dysfunction Syndrome**
د پلاسنټا غېر وظیفوی حالت سنډروم .

**- Placental Dysmature**
د پلاسنټا غېر پوخوالي (اوُم–خام) حالت .

**- Placental Dystocia**
د نسائی –ولادی مسلک له مخې د پلاسنټا (Dystocia) بڼّه چې (غېر نورمال ، کراره ، ستونزمن ) ماشوم زېږونه ده چې پکې اختلالات او غېر اغېزمن ولادی رحمی تقلصونه منځ ته راځی.

**- Placental Edema**
د پلاسنټا اذیمائی حالت چې د ماشوم /جنین لپاره ضروری نه بلل کېږی .

**- Placental Estrogen**
د پلاسنټیا څخه افرازېدونکی ایسټروجن هورمونی ماده .

**- Placental Failure**
د پلاسنټیا عدم کفایه ، چې پکې پلاسنټیا ددې وړتیا نلری چې اوکسیجن او غذائي مواد جنین ته ولېږدوی.

**- Placental Growth Hormone**
د پلاسنټیا د ودې هورمون .

**- Placental Hormone**
د پلاسنټیا اړوند هورمون .

**- Placental Implantation**
هغه پلاسنټیا چې فیټوس لری او تکثری -تناسلی غړو څخه تنبتی او په بریالۍ توګه په پریتوان کې غرس او کرلې کېږی او هلته وده مومی

**- Placental Inflammation**
د پلاسنټیا التهاب ، د (**Placentitis**) په اند‌ېول.

**- Placental Infarct**
د پلاسنټیا احتشأ.

**- Placental Insufficiency**
د پلاسنټیا نه بریالیتوب (عدم کفایه) چې پکې پلاسنټیا ددې وړتیا نلری چې اوکسیجن او غذائي مواد جنین ته ولېږدوی.

**- Placental Lactogen**
دا یو پلاسنټیائی هورمون دئ چې د غواګانو په محیطی دوران کې شتون لری او د بلاربښت په تقریباً (**160 Days**) ورځو کې لیدل شی او د (**Prolactin**) او (**Growth-Hormone**) په څېر وړتیاوی لری.

**- Placental Lobe**
د پلاسنټیا لوب (فص).

**- Placental Lobes**
د پلاسنټیا لوبونه .

**- Placental Membrane**
د پلاسنټیا غشأ .

**- Placental Mole**
د پلاسنټیا اړوند مول .

**- Placental Plaques**
هغه نورمال بڼه جوړښت چې په اکثر امنیون کې لیدل شی او د سکواموس اپیتلیوم محراقونه بلل شی.

**- Placental Polyp**
د پلاسنټیا اړوند پولیپ .

**- Placental Removal**
د لاسون پذریعه د پلاسنټیا د پاتې شونو برخو راویستلو جراحی کړنلاره ده .

**- Placental Scan**
د پلاسنټیا کتنه / معاینه کولو کړنه .

**- Placental Septa**
د پلاسنټیا پرده .

**- Placental Sign**
د پلاسنټیا اړوند نښه /علامه .

**- Placental Sinus**
د پلاسنټیا اړوند سینوس / جوف .

**- Placental Site Trophoblastic Tumor**
د پلاسنټیا برخې د تروفوبلاستیک تومور.

**- Placental Souffle**
د پلاسنټیا اړوند سوفل (مرمر) یا ملایم غږ.

**- Placental Stage of Labor**
د پلاسنټیا د زېږون مرحله/ یاد زېږون دریم پړاو .

**- Placental Sulfatase Deficiency**
د پلاسنټیا د سلفیټېز انزایم کمښت/ نشتوالې .

**- Placental Thrombosis**
د پلاسنټیا ترومبوزیس .

**- Placental Transfer of Immunoglobulins**
د د پلاسنټیا له لارې د ایمیونوګلوبولین لېږد چې د منفعله معافیت ډول منځ ته راوړی.

**- Placental Transfusion**
پلاسنټیائی نقل الدم ، د پلاسنټیا اړوند ترانفیوژن .

**- Placental Transfusion Syndrome**
د پلاسنټیا د ترانفیوژن اړوند سنډروم .

**- Placental Transmission**
د پلاسنټیا له لارې د درملو یا نورو موادو لېږد یا تېرولو کړنه .

## Placentalia
په تی لرونکو حیواناتو کې چې پلاسنټا ولری اړوند بلل شی.

## Placentascan
د پلاسنټیا کتنه /معاینه .

## Placentation
د پېښو یوه لړۍ چې پکې د جنین ځای نیونې څخه وروسته پیل مومی او پلاسنټیا منځ ته راوړی .

## Placentitis
د پلاسنټیا التهاب .

## Placentography
پلاسنټوګرافی ، د راډیولوژیکی کتنې ترسره کول وروسته د کثیفه مادې (**Radiopaque Dye**) له تزریق څخه انځور اخیستنه.

## Placentoid
د پلاسنټیا ورته جوړښت ،د پلاسنټیا په شان.

## Placido's Disc

پلاسیډو ډیسک ،د **(Keratoscope)** په انډول چې د سترګو عالم **(Placido,Portuguese Oculist)** پذریعه منځ ته راغلې دئ.

## Placod

یو پانیز جوړښت چې په ځانګړی ډول د اوُم (خام) جنین د اکتودرمی پنډه شوې پاڼه چې حسی غړی لکه [غوږ **(Auditory Part)**،سترګه **(Lens Part)** او پوزه **(Olfactory Part)**]ورڅخه منځ ته راځی.

## Plagiocephalic

د **( Plagiocephaly )** اړوند صفت .

## Plagiocephaly

کوږ سری ، د سر د شکل (بڼې) غیږ متناظر وده او تاو خوړلې شکل او حالت د سر د کوپړۍ د وزرونو د نامنظمې تړل کېدنې څخه منځ ته راځی.

## Plague

د [طاعون اخته کیدل ، په بلا اوښتل خوړول . طاعون،وبا، بلا، اپت ، تبه لرونکې ] حالت ، دا هغه انتانی وژونکې اپیډیمیک تبه لرونکې ناروغی چې عامل یې **(Yersinia Pestis)** دئ چې په تبه او لړزه پیل کوی او سمدستی په پرمخ پرېوتنه **(Prostration)** اوړی همدا رنګه (دلیریوم ، سرخوږی ، کانګې ، او نس ناستی ، لمفاوی غوټو ضخامه) لیدل کېږی .

### - Bubunic Plague

د وبا (پلاګ) هغه ناروغی چې د لمفاوی غدواتو ضخامه له امله د (فخذی ، مغبنی ،ابطی او رقبی) عقداتو برخې پکې راوتلې بڼه مومی شدیده بڼه یې د تور مرګ په نوم یادېږی سیپټی سیمیا رامنځ ته کوی او د پوستکی په مخ پتیشیا ته ورته وینه بهېدنه لیدل شی.

### - Cattle Plague

د اهلی څارویو اړوند وبا ناروغی . د **(Rinderpest)**په انډول،

### - Duck Plague

د مرغاویو(بتکو) په منځ کې رواجه انتانی حاده ناروغی چې د( نسجی وینه بهېدنې ، د جوفونو وینه بهېدنې ،مخاطی تیاکې ، پارنشیمائی تخریباتو او لمفای غوټو پړسوب) په څېر نښې نښانې منځ ته راوړی ورته **(Duck Virus Enteritis )** هم وائی .

### - Equine Plague

دا په آسونو کې رواجه ناروغی ده چې ورته **( African Horse Sickness)** هم وائی چې د کتلوی مرګونو وبا لامل ګرځی ..

### - Fowl Plague

د چرګانو او الوتونکو**(Avian)** پو رې تړلې والګې **(Influenza)** ناروغی چې د کتلوی مرګونو وبا لامل ګرځی .

### - Pulmonic Plague

ریوی وبا، د سږو پراخه بڼه اخته کېدنه او بلغم (خراشکی لرونکی، توخلې سره مل وی چې خراشکې په کې (موکوئید، وینه لرونکې ، خګ لرونکې او د پلاګی باسیلونو) څخه ډک وی.

### - Septicemic Plague

د وینې له لارې خپرېدونکې انتانی سیپټی سیمیا منځ ته راوړونکې د وبا ناروغی ده چې د **( Disseminated Intravascular Coagulopathy)** او ریوی او نورو غړو تخریب کوونکې ده او د مرګ لامل ګرځی .

### - Swine Plague

د خوږ (سرکزی ، خنځیر) اړوند د وبا ناروغی .

### - Sylvatic Plague

په وحشی ژوونکو کې وبا (طاعون) چې د انسانانو ککړولو لپاره د زېرمتون په توګه کار کوی.

## Plan

پلان ، تد بیر نیول ، د کارونوترسره کولو نخشه /کړنلاره ، طرحه، دکار دکولوتدبیر. نخشه کول، تد بیرکول، اراده کول.

### - Action Plan

عملی پلان ، د عمل تر سره کولو پلان .

### - Assesment Plan

د ارزوونې تر سره کولو پلان .

### - Capacity Building Plan

د ظرفیتونو لوړولو پلان .

### - Plan -do-study-act cycle

د کېفیت د اصلاح لپاره یو مېتود دئ چې په طبی پرکتیس تطبیق کې بدولون منځ ته راوړی او پکې د **( ISO 9000 Standard)** سټینډردونو څخه کار اخیستل کېږی او همدارنګه د لاندې لغتونو څخه بحث کوی : پلان **(Plan )** چې د شته معلوماتو د عمل اوطبی لکچرونو فورمولبندی او پلانوولو لپاره کار اخیستل شی، تر سره کول **(Do )** د پلان تطبیق دئ ، څېړنه-ارزوونه **(Study )** هغه چې پکې تطبیق شوی پلان منځ ته راغلی بدلون ارزول کېږی ، عمل **(Act )** د بدلونونو او بدلونونو تعدیلول د راتلونکی سیکل لپاره دی.

### - Operational Plan

عملیاتی پلان .

### - Reasearch Plan

د څېړنو تر سره کولو پلان .

### - Teaching Plan

د ښوونې پلان ،د تدریس او تعلیم پلان.

کیڼ او ښي برخو باندې ویشي.

**- Nuchal Plane**

هغه فرضي پاڼه چې دلوی سوری (فورامین مګنوم) او پورتنی نوکال خط پر سر د اوکسي پیټال هډوکو بهرنۍ سطحه کې واقع وي.

**- Occipital Plane**

اوکسیپیټال پلان، هغه فرضي پاڼه چې د پورتني نوکال خط پر سر د اوکسي پیټال هډوکو بهرنۍ سطحه کې واقع وي.

**- Orbital Plane**

اوربیټال پلان، هغه فرضي پاڼه چې د مګزیلا اوربیټالي سطحه کې واقع وي. د لید پاڼه.

**- Sagital Plane**

سهمي پلان، هغه فرضي عمودي پاڼه چې د میډیان پاڼې سره په موازي ډول له بدن څخه تېرېږي او بدن په دوه نیمائي ښي او کیڼ برخو باندې ویشي.

**- Temporal Plande**

صدغي پلان، هغه فرضي پاڼه چې د صدغي کرښې لاندې د سر کوپړۍ څنګزنه ننوتلې برخه.

**- Transverse Plane**

مستعرض پلان، هغه فرضي پاڼه چې د فرونټال او سجیټال پاڼو سره په قائمه زاویه کې په عرضاني ډول له بدن څخه تېرېږي او بدن په دوه پورتنۍ او ښکتنۍ برخو باندې ویشي.

**- Vertical Plane**

عمودي پلان، هغه فرضي پاڼه چې د عرضاني پاڼې په پرتله له بدن څخه په عمودي ډول تېرېږي او بدن په دوه کیڼ او ښي (قدامي او خلفي) باندې ویشي.

**- Visual Plane**

باصري پلان، هغه فرضي پاڼه چې د دواړو سترګو له باصري محورونو څخه تېرېږي.

## Planigraphic

د (Planigraphy) اړوند صفت.

## Planigraphy

توموګرافي، د (Tomo Graphy) په انډول.

## Planing

د اصغري ډول ندبې (Scar) سره بیا اپیتلایزیشن د پاروونې لپاره د بڼه اووښتي پوستکي ګرول چې د مېخانیکي وسایلو (Dermabration) یا سوځوونکو هغو (Chemabration) پواسطه تر سره کېږي.

## Planned Parenthood

هغه حالت چې پکې دوه کسان پلان لري چې یوه اندازه ماشومان ولري او کانټراسپټیف د کورنۍ د ماشومانو کنټرول په موخه مصرف کوي.

**- Training Plan**

د روزنې اړوند پلان.

**- Treatment Plan**

د ناروغیو درملنې پلان.

**- Working Plan**

د کارونو تر سره کولو پلان.

## Plane

①د اناټومي له مخې هغه پاڼه چې په فضأ کې د دریو ټکو ځای نیونې له امله منځ ته راځي، د یوه جوف په دېوال /جدار یا دنسجي طبقو طبقو ترمنځ سطحي شق (انسیزیون) په ځانګړي ډول په پلاستیک جراحي کې دغه کار جوف یا طبقو ترمنځ ته د ننوتلو د ځای ټاکنې لپاره تر سره کېږي، ②یوه ځانګړې سطحه چې پکې بدن له یوې ځانګړې زاویې ولیدل شي لکه د بېهوښۍ سطحه ،③ تراشل –پاکول او له منځه وړل ، اوار، صاف، مسطح، اواره سطح ، د ودی اوپر مختیا سطح، الوتکه.

**- Axial Plane**

محوري پلان ، هغه فرضي پاڼه چې د یوه جوړښت له طولاني محور سره موازي وي.

**- Base Plane**

قاعدوي پلان ، هغه فرضي پاڼه چې له مخې یې د مصنوعي غاښ اېښودلو ډول ارزوونه کېږي .

**- Coronal Plane**

تاجي پلان ، هغه فرضي پاڼه چې د فرانټال (کوپړۍ جبهي برخې) څخه تېرېږي.

**- Frankfort Horizontal Plane**

هغه فرضي پاڼه چې د اوربیټ له ښکتني ټکي او د بهرني غوږ دسوري د حاشیې د پورتني ټکي تر منځ افقي ډول منځ ته راځي.

**- Frontal Plane**

جبهي پلان ،هغه فرضي پاڼه چې په طولاني ډول تېرېږي او بدن په دوه قدامي او خلفي برخو باندې سره ویشي.

**- Horizontal Plane**

افقي پلان ، هغه فرضي پاڼه چې له بدن څخه تېرېږي او له فرونټال او میډیان (منځنۍ) پاڼو سره زاویه جوړوي او بدن په دوه پورتنیو او لاندینیو برخو باندې سره ویشي. هغه فرضي پاڼه چې د غاښ له طولاني محور سره په قائمه زاویه له هغه څخه تېرېږي .

**- Median Plane**

منځنۍ (متوسط) پلان ، هغه فرضي پاڼه چې په طولاني ډول د مخ څخه د شاټ لورې ته له بدن څخه تېرېږي او هغه په دوه برخو

**Planning**

هغه کاری تصمیم نیولو څرنګوالي تر څو د یوه څه تر سره کولواو تنظیم اوسمون پرې وشی .د پلان کولو پروسه .

**Planocellular**

د صافو حجرو څخه جوړ ، د صافو حجرو اړوند .

**Planocancave**

د یوې هموارې (اوارې) او یوې مقعرې سطحې لرل.

**Planocanvex**

د یوې هموارې (اوارې) او یوې محدبې سطحې لرل.

**Plant**

نبات ، بوټي .

**- Plant Alkaloids**

نباتی الکلوئید.

**- Plant Anatomy**

د نبات اړوند اناټومی.

**Planta**

تلې لکه د پښې تله .

**- Planta Pedis**

د پښو د لاندینۍ برخې اواره سطحه یا تلې ، د پښې تله .

**Plantago**

د [ (Plantago.Indica, Plantago.Psyllium) اسپانیائي پیسیلیوم او ( Plantago.Ovata ) پیسیلیوم بلونډ] په ګډون د وښو یو ډول .

**- Plantago Indica**

دپلانتاګو وښو یو ډول

**- Plantago Ovata**

دپلانتاګو وښو یو ډول

**- Plantago Psyllium**

دپلانتاګو وښو یو ډول

**- Plantago Seed**

د ( Plantago ) زړې یا تخم (دانه) .

**Plantar**

دپښو تلی اړوند صفت .

**- Plantar Arch**

دپښو تلی اړوندلیندۍ (قوس) برخه چې د تلې برخه کې ځغلبدلې دئ. د ( Longitudinal Arch ) په اند ېول.

**- Plantar Flexion**

دپښو تلی قبض برخه چې ښکته لورې ته واقع دئ .

**- Plantar Reflex**

دپښو تلی منعکسه برخه چې معمولاً ښکته لورې ته د تلی برخه د تنبه له امله تاوېږی یا قبض مومی د ( Plantar Response او Babinski Test ) په انډول .

**- Plantar Response**

د( Plantar Reflex او Babinski Test ) په انډول .

**- Plantar Region**

د پښو تلی برخه.

**- Plantar Surface**

د پښو د تلی جلدی سطحه .

**- Plantar Wart**

د پښو د تلی برخې زخه /جلدی ماکولو –نوډولار اندفاع.

**Plantaris**

د پښو تلی اړوند صفت.

**Plantigrade**

د پښو په ټوله تلی تګ کول .

**Planula**

هغه جنین چې له دوه طبقو څخه جوړ شوېوی.

**Planum**

پاڼه ، صفحه ، مخ .

**Planus**

د (Lichen Planus) په انډول.

**Plaque**

1.اواره یا صافه سطحه /سیمه ،2. د (لاړو،مخاط، باکتری ، غذائی بقایاوو ) څخه جوړه سطحه یا فلم چې د غاښونو پرمخ منځ ته راغلې وی او غاښ د تخریب لامل ګرځی . سطحی ، کتلوی او راوتلې جلدی ضایعه ، لوخه شیندونی، اوبه پاشل ، اوبه شیند ل.

**- Attachment Plaque**

تماسی سطحه ، د اسکلېټی عضلاتو د ساکولوم په اوږدو کې کوچنۍ سیمه چې کثافت زیات شوېوی او مایوفیلا منټونه م ورسره نښتې وی.

**- Bacterial Plaque**

باکتریائي کتله ، د غاښونو د سر د( مړو اپیتلیائی حجرو ، میوسین او د خوړو د کوچنیو ټوټو ) نرۍ طبقه چې د باکتریاګانو ، د ودې لپاره ښه محیط چمتوکوی ، دغه محیط د (کلسیوم ، فاسفورس ،مالګې ، پولیسکرایډونو، پرټینونو او لیپیډونه) لری او د اوریو او پریوډنټیال ناروغیو په وده کې ونډه لری. د (Dental Plaque) په انډول.

**- Dental Plaque**

د غاښونو پلاک ، د (Bacterial Plaque) په انډول .

**- Fibrous Plaque**

فیبروټیک (لیفی) پلاک.

**- Hollenhorst Plaque**

پلازما سل حجره .

## Plasmacytoma

د پلازماسلونو ډیسکاریزیا ناروغی ، منفرده میالوما ، هغه خبیث ډول تومور چې له (Plasma Cell) څخه یې سرچینه اخیستې وی معمولاً په لمفاوی غدواتو یا هډوکو ماغزو کې موندل شی.

## Plasmacytosis

د وینې د پلازماسلونو د شمېر زیادښت .

## Plasmalemma

پلازمائی غشأ ، د یوې القاح شوې هګۍ په شاوخوا کې د اکتوپلازم نری (نازکه) محیطی طبقه.

## Plasmalogen

د فاسفولیپیډونو د یوې ډلې د نومونې لپاره اصطلاح چې د ایستری الکهولو ځای یې له ایتر سره نښتی شحمی اسیدونو نیولې وی.

## Plasmapheresis

له وینې څخه د پلازما بېلولو کړنه اوبل چا ته د بېلوشوو عناصرو تېرول یا تزریق کړنه.

## Plasmid

د باکتری ګانو یو پخپله ډېرېدونکې خارج الکروموزومی جوړښت چې ځینې هغه جینونه لېږدوی چې د حجروی ودې لپاره اړین نه دی او د کانجوګېشن او ترانسډوکېشن له لارې نورو حجرو ته لېږدېږی .

- **F. Plasmid**

هغه مزدوج پلازمید چې په [ F+ (نارینه) ]باکتری حجرو کې شته والې لری او په لوړ فریکانس سره د هغه [ F- (ښځینه) ] باکتری ته د ځان د لېږدولو او په لږ کچې کې د باکتری کروموزوم د لېږدولو لامل ګرځی چې دغه ډول پلازمید نلری.

- **R.P. Plasmid**

د باکتری ګانو مزدوج فکتور چې د انتی بیوټیکونو فلزی آیونونو ، ماورا بنفش وړانګو ، او باکتریوفاژونو په وړاندې د هغوی د مقاومت لوړېدو لامل ګرځی.

## Plasmin

پلازمین ، هغه انډوپیپټایدیز چې په پلازما کې د پلازمینوجن په بڼه شتون لری چې د پلازمینوجن د فعالوونکی په واسطه ماتېږی او فعالېږی ، دغه ماده د فیبرین پرڼ شوې بڼه حل کوی ، نور تحثری پروتینونه تجزیه کوی او کولای شی چې درملیز ترومبولایز په توګه وکارېږی. د (Fibrinolysin ) په انډول.

دا یو ډول د کولیسټرول څخه د جوړې شوې کتلې آموبولې چې د سترګو د شبکیې (Retina) په وینې رګونو کې لیدل شی.د [ "Eickenhorst Plaque" ] په انډول.

- **Senile Plaque**

د زړښت دورې اړوند پلاک .

## -plasia

دا یوروستاړې دئ چې د یوه شی( ودې ،نمو ، انکشاف ) معنی بشپړوی.

## Plasm -

دا یو مختاړې دئ او د پلازما معنی لری. د (Plasmo-) په انډول.

## Plasma

1 .پلازما (پلاسما) ،2 . د وینې مایع برخه چې اساسی برخه جوړوی ،3 . د لمف مایع برخه چې حجرې ونلری ، د سایتوپلازم (Cytoplasm ) په انډول .

- **Antihemophilic Human Plasma**

د انسانی د هیموفیلیا ضد پلازما جوړښت هغه فکټورونه لری چې په هیموفیلی اخته ناروغانو کې د لنډ مهالې وینې ودرېدنې لپاره پکارېږی.

- **Blood Plasma**

د وینې پلازما . د وینې مایع برخه چې د وینې عناصر (اجزاوی) پکې معلق پاتې کېږی .

- **Dried Plasma**

وچه پلازما چې اوږدې مودې لپاره ساتل کېدای شی.

- **Fresh Frozen Plasma ( FFP )**

د پلازما کنګل تازه بڼه.

- **Human Plasma**

د انسانی وینې پلازما .

- **Plasma Cell**

هغه لمفوسایت حجرې چې قسمی ډول انتی باډی ګانې تولیدوی.

- **Plasma Protein**

د پلازما پروټینی برخه لکه ( Albumin, Gamma Globulin او Fibrinogen).

- **Seminal Plasma**

د منوی مایع اوبلنه برخه چې سپرم پکې لامبو وهی .

## Plasmatic

د پلازما اړوند صفت .

## Plasmablast

پلازموبلاسټ، د پلازما سلونو نابالغه پریکارسر بڼه..

## Plasmacytic

## Plasmolysis

د اوسموزیس په طریقه د اوبو د نشتوالی( Dehydration) له امله د حجروی پروتو پلازم انقباض چې پکې چارپېر حجروی جدار کوچنۍ کېږی.

## Plasmolytic

د ( Plasmolysis) اړوند صفت.

## Plasmon

د تخمې حجرې سایتوپلازمی ارثی فکټورونه .

## Plasmorrhexis

د حجروی پروتوپلازم شلېدل ، د (Erythrocytorrhexis ) په انډول.

## Plasmoschisis

د حجروی پروتوپلازم ماتېدل.

## Plaster

پلاستر ، هغه پوډر (ګچ) ماده چې د اوبو سره یوځای کېږی او کلکوالې مومی او ماتو هډوکو برخو د تثبیت او کلکولو په موخه کارول شی.

**- Plaster Cast**

پلاستر کول ، هغه کلک ډول حمایوی ګچ چې په یوه ټوکر پورې د ګچ ګډ ډول منځ ته راغلې وی او د مات طرف تثبیت په موخه پر طرف تاوول شی چې له وچېدو ورسته کلکوالې مومی او د هډوکو ترمیم د استراحت پرمهال ښه صورت نیسی.

**- Plaster of Paris**

پلاستر پاریس، کلسیوم سلفېټ چې له اوبو سره تر یوځای کېدو وروسته یوه سوری سوری کتله جوړوی چې له وچېدو ورسته کلکوالې مومی او د هډوکو ترمیم او بېحرکته کولو بنداژونو جوړولو کې کارېږی ، همدا رنګه د غاښونو طب کې د (Dental Impresnious) پټوګه پکارېږی.

## Plasterer

پلاسترکونکی کس .

## Plastic

①پلاستیک ، مصنوعی مواد چې له پټرولیم څخه پلاس راځی (لکه دپلاستیک هنر مند) نرم، پوسته چې په هر قالب کښې ولوېږې دهغه شکل اختیاروی. ②د هغه نسجونو له سره بیا رغول او جوړول چې له منځ تللی وی. ③د شکل د بدلون توازن .

**- Plastic Lymph**

پلاستیک لمف ، هغه ژیړه مایع چې د یوه التهابی نسج /جرحې پذربعه تولید ېږی چې په ترمیم کې مرسته کوی.

## Plasminogen

د پلازمین غېر فعال پریکارسر ماده چې په پلازما کې شتون لری او یورکاینېز انزایم پواسطه په پلازمین باندې اوړی.

**- Plasminogen Activator**

د پلازمینوجن فعالوونکی انزایم .

## Plasmo-

دا یومختاړې دښ او د وینې پلازما معنی لری.

## Plasmocyte

د پلازما سل په انډول.

## Plasmodial

د (Plasmodium) اړوند صفت .

## Plasmodicidal

د پلازموډیم پرازیټونو له منځه وړونکی او وژونکی ، د ملاریا ناروغۍ له منځه وړونکې عامل.

## Plasmodium[1]

د پلازموډیم د جنس پرازیټ ، څو هستوی پروتوپلازمی کتلې چې د آمیوبونو د میکس پیوستون او راغونډېدو جوړېږی .

## Plasmodium [2]

د یو حجروی ( وحیدالحجروی) ژوو یا د (پلازموډیا کورنۍ ) جنسونه چې د حیواناتو او انسانانو سرو کریواتو پرازیټونه دی او د ملاریا ناروغی پېښوی .

**- Plasmodium Falciparum**

خبیثه ملاریا ، د ملاریا ناروغۍ یو ډول پرازیټی لامل دې چې د دماغی ملاریا پنامه هم یادېږی او( تبه، لړزه ،هیماتوریا او هیمولایز ) لامل ګرځی .

**- Plasmodium Malaria**

پلازموډیم ملاریا ،د ملاریا ناروغۍ یو ډول پرازیټی لامل دې چې او (تبه، لړزه ،هیماتوریا او هیمولایز) نښو نښانو لامل ګرځی په آفریقا کې ډېر معمول پرازیت دئ .

**- Plasmodium Oval**

پلازموډیم اووال ،د ملاریا ناروغۍ یو ډول پرازیټی لامل دې چې او ( تبه، لړزه ،هیماتوریا او هیمولایز ) نښو نښانو لامل ګرځی په آفریقا کې ډېر معمول پرازیت دئ.

**- Plasmodium Vivax**

پلازموډیم وایواکس ،د ملاریا ناروغۍ یو ډول پرازیټی لامل دې چې اوهر (24 H) ساعته وروسته (تبه، لړزه) او هیمولیز نښو نښانو لامل ګرځی په تودو –حاره سیمو کې ډېر معمول پرازیت دئ .

**- Plastic Surgeon**

هغه جراح چې د هغه نسجونو له سره بیا رغول او جوړول چې له منځ تللی وی تر سره کوی ، پلاستیک جراح.

**- Plastic Surgery ،**

پلاستیک جراحی کړنلاره چې د هغه نسجونو له سره بیا رغول او جوړولو لپاره پکاریږی چې له منځ تللی وی. د ( Reconstructive Surgery او Cosmetic Surgery' ) په اندیول .

## -plasty

دا یو روستاړې دئ او ناسمو برخو د بیا رغونې جراحی ـپلاستیک معنی لری .

**- Angioplasty**

د رګونو پلاستیک جراحی کړنلاره.

**- Anoplasty**

د مقعد پلاستیک جراحی کړنلاره.

**- Arthroplasty**

د شونډو پلاستیک جراحی کړنلاره.

**- Chiloplasty**

د بندونو پلاستیک جراحی کړنلاره.

**- Craneoplasty**

د قحف هډوکو پلاستیک جراحی کړنلاره.

**- Cystocoloplasty**

د مثانې او کولونونو پلاستیک جراحی کړنلاره.

**- Hernioplasty**

د فتق (چُرې ) پلاستیک جراحی کړنلاره.

**- Occuloplasty**

د سترګو بیا رغونې پلاستیک جراحی کړنلاره.

**- Pyeloplasty**

د پښتورګو د حویضې جراحی بیا رغونې پلاستیک کړنلاره.

**- Rhinoplasty**

د پوزې بیا رغونې پلاستیک جراحی کړنلاره.

**- Uretheroplasty**

د احلیل دبیا جوړولو پلاستیک جراحی کړنلاره.

**- Vaginoplasty**

د مهبل اړوند پلاستیک جراحی کړنلاره.

**- Valvuplasty**

د زړه د والفونو (دسامونو) پلاستیک جراحی کړنلاره.

**- Venoplasty**

د وریدی رګونو پلاستیک جراحی کړنلاره.

**- Z. Plasty**

د کنترکچرونو د سمون لپاره د (Z) په ډول پلاستیک جراحی کړنلاره.

## Plasticity

هغه ماده چې دکش کیدو تاب لري، پلاستیک، نرمی.

## Plat

دځمکې وړه ټوټه، نخشه، پلانی انځور.

## Plate

د هډوکی د یوې طبقې په څېر د یوه شی یوه طبقه یا مسطح جوړول ،غاښی پاڼه ، کله چې د زرعیه محیط په اړه کارېږی د پتری لوښی ته ویل شی ، په دغه ډول لوښی کې د باکتری تلقیح کول.

**- Axial Plate**

محوری پاڼه ، هغه پاڼه چې (Primitive Streak) پنامه یادېږی .

**- Bite Plate**

د [ غاښ شوکولو ، غاښ چیچلو (نیش وهلو) ، چیچل ،غاښ چیچنې] اړوند پاڼه

**- Bone Plate**

هډوکیزه پاڼه ، هغه سور لرونکې فلزی پاڼه چې پېچونه وربانديې نصب کېږی او د هډوکو ماتو شوو ټوټو د بې خوځښته کولو لپاره پکارېږی .

**- Cribriform Plate**

سوری لرونکې صفاق .

**- Dental Plate**

غاښیزه پاڼه ،اکریلیک (رزین یا فلز یا نور مواد) چې د خولې د اندازې سره سم جوړېږی او د مصنوعی غاښونو د ساتنې لپاره ورڅخه کار اخلی .

**- Dorsal Plate**

ظهری پاڼه ، شاتنۍ پاڼه .

**- Epiphyseal Plate**

اپیفېزی پاڼه، دودې په حال کې د اوږدو هډوکو د اپیفېز او مېتافېز ترمنځ غضروفی پاڼه .

**- Equatorial Plate**

په مایتوز حجروی وېشنه کې د دوک په منځ کې په مرکزی کرښه بانديې د کروموزومونو راغونډېدل.

**- Floor Plate**

د عصبی ټیوب منفرد بطنی (وینټرال) اوږده طولی سیمه.

**- Foot Plate**

د پښو پاڼه ، د پښو اواره برخه. د یوې پښې جنینی پریکارسور.

**- Growth Plate**

داږدوهډوکو د اپیفېز برخې پاڼه .

**- Hand Plate**

د جنینی هډ (غړی) د یوې زخې انتهائي مسطح اتساع، د لاس پریکارسور .

**- Medullary Plate**

عصبی پاڼه .

## Platy-

دا یومختاړي دئ او د (اواري - هموارې، Flat ) معنی لري

## Platybase

بنستیز اغېز.

## Platycelous

د یوې اوارې او بلې مقعرې سطحې لرل .

## Playtcoria

د سترګو د کسی (تور) متوسع کېدل.

## Platyhelmenth

یو پلن چینجی .

## Platyhementhes

د ( Acoelomate یو فایلم چې د څټ او مخ څخه اوار شوېدئ او په دوه اړخیز ډول متناظر دئ او په عمومی ډول د پلنو چینجیانو د فایلم په توګه پېژندل کېږی د غه چینجیان په دوه ډولو [ Cestoidea (Tapeworms) او Trematoidea (Flukes) ] وېشل شویدی.

## Platyhieric

په (100) د پاسه ساکرال ضریب لرل .

## Playtepllic

هموار ه حوصله لرل ، د حوصلې اواره حالت.

## Playteploid

د ( Playtepllic ) په اند ول.

## Platypodia

هموار ه پښه .

## Platysma

پلاټیزما ، هموار ه عضله چې د ( Collarbone ) څخه تر ښکته ژامنې ( Lower Jaw ) پورې ځغلی.

## Pleasant

په زړه پورې، خوشالوونکی، خوشال، ښه، خوندور، شوخ.

## Pleat

چوڼ (چین)، ګونځه .

## Pledge

خبرداري ورکوونکې وینا (بیانیه).

**- Nightingale Pledge**

هغه رسمی وینا چې په کال ( 1893 ) کې د نرسانو د یوې کمېټې له خوا تنظیم شوېده او د هغوی د خولې اېښودلو مراسمو کې لوستل کېږی.

**- Motor Plate**

انتهائی پاڼه .

**- Muscle Plate**

میوټوم ، عضلی پاڼه .

**- Neural Plate**

جنینی اکټودرم ،عصبی پاڼه.

**- Roof Plate**

د عصبی ټیوب منفرد شاتنې /ظهری طولی سیمه .

**- Tarsal Plate**

د منضمی نسج څخه هغه پاڼې چې د سترګې د لبمه اسکلېټ جوړوی.

**- Tympanic Plate**

صماخی پاڼه ، هغه هډوکیزه پاڼه چې د بهر غوږد سوری غولې او څنډې جوړوی .

**- Ventral Plate**

بطنی پاڼه ، غولې ائیزه پاڼه ، د( Floor Plate ) په اند ول.

## Plateau

لوړه سطحه مرتفع، فلزي پاڼه په چاپ خانه کښې هغه فلزي پاڼه په چاپ خانه کښې هغه فلزي تخته چې کاغذ په تورو کیکاږي.

## Platelet

ترومبوسایت حجرې ، د (2-4 Micrmeter) مایکرومترونو په قطر سره ډیسکی شکله جوړښت چې په وینه کې شتون لری د ( Thromboplastin ) ماده افرازوی او دوینې تحثری چارې سمبالوی ، صفیحات د (Megacaryocyte) د سایتوپلازم یوه برخه ده چې هسته او (Dna) نلری خو فعال مایتوکاندری انزایمونه لری.

**- Platelet Count**

هغه آزمایښت چې د پلاټیلیټ ځانګړې کچې تعداد پرې ټاکل شی.

## Platinum

پلاټین عنصر ، دا یو سپین دروند کېمیاوی کمیابه/ قیمتی فلز دئ اټومی شمېره یې (78) ، اټومی وزن ( 195/09) ، مخصوصه کثافت یې ( 21/45) او کېمیاوی نښه یې(Pt) ده چې طبی ارزښت لری او دګاڼو ( جواهرو) او بریښنائی توکو جوړولو کې پکار وړل کېږی او د سوداګری پلوه ډېر ارزښتناکه فلز دئ .

## Platitude

بې خوند توب، ابتذال، چټی.

## Platter

پتنوس، مجمه.

اوښتواو د مخ منګولیائی کېدو ] سره مل د بېدرېغه زیاتې نابالغه هډوکیز کېدنې ارثی سنډروم.

**Pleoptics**

هغه درملنه چې قسمی لیدونکو ناروغانو کې پکار وړل شی.

**Plessesthesia**

جسی قرع.د جس فزیکی کتنې پذریعه قرع کول.

**Plessor**

هغه کوچنۍ څټک چې ربړی څوکه لری او د عصبی ناروغانو کې د وترونو (تېنډونونو) عکساتو آزمایښت او صدری قرع په موخه کارول شی ورته (Plexor ) هم ویل شی.

**Plethora**

په بدن کې د وینې زیادښت .

**Plethoric**

د (Plethora) اړوند صفت . په بدن کې د وینې زیادښت له کبله دسطحی رګونو توسع د منظرې پېښېدل .

**Plethysmograph**

د یوه( هډ ،غړی، برخې یا ارګان ) د حجم د بدلونونو د ثبت لپاره وسیله .

**Plethysmography**

د (Plethysmograph ) پواسطه د حجم د تغیراتو ټاکنه .

**Pleur-**

هغه مختاړې چې د (پلورا ، -Pleuro ) معنی بشپړوی .

**Pleura**

پلورا ، هغه مصلی طبقه ده چې په صدر کې یې سږی ، د صدر جدارونه، او اړوند نور جوړښتونه پوښلی دی.

**- Mediastinal Pleura**

د منصف برخې پلورا .

**- Parital Pleura**

جداری پلورا ، چې د صدر ټول جدار پوښوی .

**- Visceral Pleura**

حشوی پلورا ،چې د صدری قفس ټول اړوند احشأ پوښوی .

**Pleuracentesis**

د پلورا بذل ، د (Pleurocentesis ) په انډول.

**Pleuracotomy**

د پلورا د جوف پرې کول / څیرل / وازول.

**Pleurae = Pleuras**

د پلورا ګڼه شمېره .

**Pledget**

کوچنۍ د (ګاز ، پنبې ، پشم یا وړیو ) ټوټه یا غونډله /کلاوه چې معمولاً د ساتنې یا درملو استعمالولو په کوچنې برخه کې کېښودل شی لکه د غوږ تېرېدنې لارې کې.

**-plegia**

دا یو روستاړې دئ او (ګوزڼ، فلج ، Paralysis ) معنی لری.

**- Hemiplegia**

د نیمائی بدن د لورې ګوزڼ .

**- Monoplegia**

د یوه طرف فلج لکه یو لاس یا یوه پښه.

**- Paraplegia**

د لاندینیو طرفونو (پښو) ګوزڼ .

**- Quadriplegia**

د څلور واړه (دوه لاس او دوه پښو ) طرفونو ګوزڼ.

**Pleiotropism**

د (Pleiotropy ) په انډول.

**Pleiotropic**

د (Pleiotropy ) اړوند صفت.

**Pleiotropy**

د یوه جنین له لارې د څو ګونو فینوټایب اغېزو لرل.

**Pleio-**

دا یو مختاړې دئ او د (ګڼ شمېر ،زیات ، ډېر ، پرېمانه او -Pleo) معنی لری.

**Pleo-**

دا یو مختاړې دئ او د (ګڼ شمېر ،زیات ، ډېر ، پرېمانه او -Pleio) معنی لری.

**Pleocytosis**

په دماغی –نخاعی مایع کې د وینې د سپینو کریواتو پرېمانه کچې شته والې.

**Pleomorphic**

د (Pleomorphism ) اړوند صفت.

**Pleomorphism**

هغه ارګانیزم چې څو حالتونه او بېلابېل او ځانګړو شکلونو او ګڼ شمېر بڼو (قوارې) لرل.

**Plenostenosis**

له حد څخه په زیاته پیمانه هډوکیز کېدنې حالت اخته والې.

**- Liri's Plenostenosis**

د اونې کوچنیوالی ، دحرکتونو محدودیت، د ګوتو پلنېدنه او بڼه

د سږو د لوبولونو ترمنځ پېښېدونکې محدوده پلوریزي.

- **Plastic Pleurisy**
پلاستیک پلوریزی ، چې د نرم او نیمه جامد اګزودات په رسوب سره پېژندل کېږي.

- **Purulent Pleurisy**
توراسیک آمپیم . صدري ایمپیما.

- **Serous Pleurisy**
مصلي پلوریزي ، چې د مایع د آزاد اګزوډېشن پواسطه پېژندله شي.

- **Wet Pleurisy**
لمده (لنده) پلوریزي،چې د سېروزي اګزودات پواسطه پېژندله شي. د (Pleurisy With Effusion) په اندول.

## Pleuritis
پلوریزي (پلوریسي،Pleurisy) ، د پلورا التهاب

## Pleuritic
د پلوریزي (پلوریسي،Pleurisy ، Pleuritis)، پلورائي التهاب اړوند صفت.

## Pleur(o)-
هغه مختاړې چې د (پلورا ،- Pleur ، پښتیو او ښنګ) معنی بښېږوي . پلورا(Pleura) اړوند صفت.

## Pleurocele
1 .د سږي د نسج یا پلورا فتق. 2. د صدر د جوف مایع.

## Pleurocentesis
د صدر بذل کولو کړنلاره ، هغه جراحي عملیه چې د هغه پواسطه د صدر جوف څخه مایع بهر ته راویستل کېږي ، د (Pleuracentesis او Thoracenthesis) په انډول.

## Pleuracentrum
د ملا تیر جانبي عنصرونه.

## Pleurodesis
د درملنې هغه کړنلاره چې پکې د سږو د کولاپس حالت بنه والی په موخه د سږو او صدري جدار پلورا ګانو ګنډل تر سره کېږي تر څو دغه تړلې حال له منځه لاړ شي او سږي توسع وکړي.

## Pleurodynia
د پلورا درد ، چې د التهاباتو لکه (روماتیزم ناروغي) له امله پېښېږي.

-**Epidemic Pleurodynia**
اپیډیمیک ډول د پلورا درد شتون چې د ویروسي ناروغیو له امله منځ ته راځي .

## Pleural
د (Pleura) اړوند صفت.

- **Pleural Cavity**
د پلورا جوف / مسافه چې د جداري او حشوي پلورا څخه منځ ته راغلي.

- **Pleural Effusion**
د پلورا انصباب ، دپلورا د جوف مایع راټولېدنې حالت.

- **Pleural Fluid**
پلورائي مایع چې د پلورا جوف کې شتون لري.

- **Pleural Membrane**
د پلورا غشأ ، د پلورا پاڼې .

- **Pleural Mesothelioma**
هغه پلورائي تومور چې (Asbestos Dust) یامېزوتېلیال حجرو انشاق له امله منځ ته راځي.

- **Pleural Space**
د پلورا مسافه (واټن) چې د جداري او حشوي پلورا څخه منځ ته راغلې او یو جوف منځ ته راوړي .

## Pleuralgia
د پلورا درد ،د پلورا په طرف کې درد .

## Pleuralgic
د ( Pleuralgia ) اړوند صفت .

## Pleurapophysis
د پوښتنې یه په پوښتنه پورې اړوند فقرې زائیده برخه

## Pleurectomy
د پلورا د یوې برخې غوځولو او لیرې کولو جراحي کړنلاره.

## Pleurisy
پلوریزي ( پلوریسي) ، پلورائي التهاب،د طب له مخې دا یو مرض چې دپړپوس (سږو) په پرده پړسوب یادانه پیدا شي او ناروغ وچ ټوخی کوي اوپه زحمت سا وُباسي.

- **Adhesive Pleurisy**
نښتونکې پلوریزي چې پکې اګزودات د کلک سرېښوالی لامل ګرځي چې پخپله نسبي یا بشپړ ډول پلورائي فضأ بندوي.

- **Diaphragmatic Pleurisy**
ډیافراګم ته پلورا په نېږدې برخو کې محدوده شوې پلوریزي.

- **Dry Pleurisy**
وچه پلوریزي ، چې د فیبریني وچ اګزودات سره یوځای وي.

- **Fibrinous Pleurisy**
فیبریني پلوریزي ، چې د پلورا جوف کې د زیات مقدارونو فیبرین په رسوب سره پېژندل شي.

- **Interlobular Pleurisy**

**Pleurogenic**

د پلورا څخه منځ ته راغلي ، د پلورا اړوند عامل.

**Pleurogenous**

د پلورا څخه سرچینه اخیستونکي،د پلورا څخه منځ ته راغلي.

**Pleurography**

د پلورا د جوف راډیوګرافی .

**Pleurohepatitis**

د پلورا او کبد (ځیګر) نسج التهاب .

**Pleurolysis**

د جراحی پواسطه د خپل اتصالی ځای څخه د پلورا بېلول .

**Pleuron**

هغه غشأ چې سږی پوښوی .

**Pleuroparitopexy**

د احشائی او جداری پلورا د پیوستون پواسطه د سینې د قفس له جدار سره د سږی تثبیت .

**Pleuropericarditis**

د پلورا او پریکارډیوم ګډ التهاب.

**Pleuroperitoneal**

د پلورا او پریتونیوم اړوند صفت.

**Pleuroperitonitis**

د پلورا او پریتونیوم ګډ التهاب.

**Pleuropneumonia**

حاد ډول لوبر پنومونیا (Acute Lobar Pneumonia) چې د یو کلاسیک ډول پنومونیا بلل شی.

**Pleurothotonos**

یوه لورې ته د بدن تیتانیک کږېدل.

**Pleurotomy**

د پلورا غوڅول یا پرې کولو جراحی کړنلاره.

**Plexal**

د ( Plexus ) اړوند صفت .

**Plexectomy**

د یوې ضفیرې یا شبکې بشپړ ډول غوڅول او راویستلو جراحی عملیات کړنلاره.

**Pleximeter**

هغه واسطوی جسم چې په واسطوی قرع کې پکارېږی ، د (Diascope) په انډول.

**Plexitis**

د یوې ضفیرې یا شبکیې التهاب .

**Plexogenic**

په یوه ضفیرې یا شبکیې ډوله جوړښت پای ته رسېدل ضفیروی ، شبکوی .

**Plexopathy**

د یوې ضفیرې یا شبکیې ( اختلال یا ناروغی ) لکه عصبی ضفیرې.

**- Lumber Plexopathy**

د قطنی (ملا) اړوند برخې ضفیرې نیوروپتی ناروغی .

**Plexor**

د (Plessor) په انډول.د قرعې اړوند څټک یا د قرع په تر سره کولو کې د څټک / ګوزار ورکوونکی په توګه پکار وړل شی.

**Plexus**

ضفېره ،د عصبی – وینې او لمفاوی رګونو شبکه یا ګېډۍ.

**- Batson's Plexus**

هغه فقروی ضفیره چې د یوه سیستم په توګه په پام کې نیول شی.

**- Brachial Plexus**

عضدی ضفیره ، هغه عصبی ضفیره چې د رقبی څلورو اعصابو بطنی څانګو او د سینه ئی لومړنی عصب څخه منشه اخلی او اوږې ،سینې او متو ته ډېری څانګې لېږدوی .

**- Cardiac Plexus**

قلبی ضفیره ، هغه عصبی ضفیره چې د زړه د قاعدې د شاو خوا ضفیره یا شبکه چې اساساً په اپې کارډ کې شتون لری او د واګوس عصب له څانګو او سیمپاتیک ګانګلیونونو او جسمونو څخه جوړېږی.

**- Carotid Plexus**

ثباتی ضفیره ، هغه عصبی ضفیره چې دبهرنیو او دننه ګډو کاروټید شریانونو شاوخوا احاطه کوی.

**- Celiac Plexus**

سیلیاک ضفیره ، هغه عصبی ضفیره چې دګانګلیونونو او اعصابو څخه جوړ دئ چې د ابهر په مخ کې او د معدې په څټ کې ځای لری او بطنی احشأوو ته عصب ورکوی ، د سلیاک او پورتنیو مېزانتېریک لمفاوی رګونو څخه جوړ ه ضفیره.

**- Cervical Plexus**

رقبی ضفیره ، هغه عصبی ضفیره چې د رقبی څلورو اعصابو مخکینۍ څانګو څخه جوړ دئ او د غاړې جوړښتونو ته څانګې لېږدوی .

**- Choroid Plexus**

عجزي - قطني ضفیره ، هغه عصبي ضفیره چي دد عجزي–قطني ضفیرې رشتې په ګډه پکې لري او یو له بلې سره اړوندې دي.

- **Meissner's Plexus**

میسنر ضفیره ، د کولمو تحت المخاطي طبقې ضفیره.

- **Myenteric Plexus**

مائینټریک ضفیره ،د کولمو د عضلاتي طبقې (تونیکا-مسکولاریس) دننه معائي شبکه یوه برخه.

- **Pampiniformis Plexus**

پامپینیفورم ضفیره ، د مرغېړیو د او اپیډرم وریدي یوه ضفیره چي د سپرماتیک طناب یوه برخه جوړوي ، د پلن لیګامنټ دننه د هګۍ ځالې (تخمدان) وریدونو یوه ضفیره.

- **Pherinic Plexus**

حجاب حاجزي ضفیره،هغه عصبي ضفیره چي د د لاندیني فرینیک شریان سره یوځای عصبي ضفیره چي ډیافراګم او ادرینال غدې ته ځي.

- **Prevertebral Plexus**

قبل الفقري ضفیره ، هغه عصبي ضفیره چي خودکاره ده چي د (صدري پنجرې ،ګېډې او حوصلې ) ته ورځي او د ملا تیر په مخکینۍ برخه کې ځای لري او د( حشوي موصله فایبرونو ، پاراسمپاټیک فایبرونو، قبل العقدوي سمپاټیک فایبرونو او هغه ګانګلیونونو څخه چي ګانګلیوني حجرې لري او په بعدالعقدوي فایبرونو پای ته رسېږي) څخه جوړېږي .

- **Pulmonary Plexus**

ریوي ضفیره ،هغه عصبي ضفیره چي د واګوس عصب د څو پیاوړو تنو څخه جوړېږي او د سږو په بنسټ کې د سمپاټیک تنې د څانګو او قلبي ضفیرې پواسطه سره نښلي . دغه شبکه غالباً په مخکینیو او شاتنیو برخو وېشله کېږي.

- **Sacral Plexus**

عجزي ضفیره هغه عصبي ضفیره چي د ښکتنیو قطني دوه عصبونو او پورتنیو عجزي څلورو عصبونو د وینټرال څانګو څخه جوړېږي ، د حوصلې عجزي سطحي پر مخ وریدي شبکه چي ساکرال بین الفقري وریدونه تر لاسه کوي.

- **Solar Plexus**

سلیاک ضفیره .

- **Submucosal Plexus**

تحت المخاطي ضفیره ، هغه عصبي ضفیره چي د معائي ضفیرې هغه برخه چي تر مخاط لاندې ده جوړوي.

- **Subserosal Plexus**

تحت المصلي ضفیره ، هغه عصبي ضفیره چي د معائي ضفیرې هغه برخه چي تر مصلي (پریتواني طبقې ) لاندې ده جوړوي.

- **Tympanic Plexus**

صماخي ضفیره ، هغه عصبي ضفیره چي د صماخي پردې مخاط، مستوئید هوائي حجرو او غوږ بلعومي ټیوب

کروئیدي ضفیره ، هغه عصبي ضفیره چي د پیامټېر د وینې د رګونو د ننوتلتیا چي د اپانډیمال حجرو د یوې طبقې پواسطه پوښل شوېدي او د درېیم ، څلورم او جانبي مغزي بطینونو داخل ته راوتلې ده دغه رګونه مغزي نخاعي مایع افرازوي.

- **Coccygeal Plexus**

عصعصي ضفیره ، هغه عصبي ضفیره چي د کوکسیجیال عصب او پنځم ساکرال عصب د قدامي څانګو څخه جوړه ده او د څلورم ساکرال ښاخ سره هم اړیکه لري او په پای کې تر انوکوکسیجیال عصب پورې رسېږي .

- **Cystic Plexus**

صفراوي ضفیره ، هغه عصبي ضفیره چي د صفراوي کڅوړې ته نېږدې څانګې لېږدوي .

- **Dental Plexus**

غاښیز ضفیره ، هغه عصبي ضفیره چي دوه عصبي شبکې (پورتنۍ او لاندینۍ ) چي یوه یې دلاندیني سنخي عصب څخه سرچینه اخلي او د ښکتنیو د ریښو شاو خوا ځای لري او بله پورتنۍ سنخي عصبي څخه سرچینه اخلي چي د پورتنیو غاښونو د ریښو په چاپېر ځای لري.

- **Enteric Plexus**

معائي ضفیره ، هغه عصبي ضفیره چي دخود کاره (ویجیټاټیف ) الیافو څخه جوړه ده چي د هضمي احشاوو د جدار دننه ځای لري او (تحت المخاطي ، مېیانټریک ، او تحت المصلي ) شبکې جوړوي .

- **Esophageal Plexus**

د مرۍ ضفیره ، هغه عصبي ضفیره چي د واګوس د سینې او کېنو څانګو او سیمپاټیکو تنو څخه جوړېږي او له مرۍ څخه احشائي موصله الیاف هم لري.

- **Exner's Plexus**

هغه عصبي ضفیره چي د ماغزو د قشر په مالیکولي طبقه کې سطحي (**Tangential**) فایبرونه بلل شي.

- **Gastric Plexus**

معدوي ضفیره ، هغه عصبي ضفیره چي د فقري شبکو څخه د سیلیاک ضفیرې یوه څانګه چي د معدې شریانونه او د هغې له څانګو سره یوځای معدې ته ځي او هغې ته عصب ورکوي.

- **Heller's Plexus**

د کولمو تر مخاط لاندې شریاني شبکه.

- **Lumbar Plexus**

قطني ضفیره ، ① هغه عصبي ضفیره چي د دوهم نه تر پنځم قطني عصب پورې د قدامي څانګو څخه جوړه شبکه چي په (**Psoas Major**) عضله کې منځ ته راځي.② په قطني سیمه کې لمفاټیک ضفیره.

- **Lumbosacral Plexus**

(Pharyngotympanic) ته عصب لیږدوي.

**- Vascular Plexus**

وعائی ضفیره ، د وینې د رګونو څخه جوړه ګېډۍ چې د رګونو ترمنځ اړیکیز جال یا ضفیره جوړوی ، د محیطی اعصابو شبکه چې د وینې رګونو تعصیب کوی .

**- Vertebral Plexus**

فقری ضفیره ، هغه عصبی ضفیره چې د ملا تیر ته نږدې وریدی شبکه ، د فقری رګونو سره مل عصبی ضفیره چې د سمپاتیک عصبی فایبرونه د قحفی اعصابو له لارې د سر کوپړۍ د خلفی برخې جوف ته لیږدوی.

## -plexy

دا یو روستاړې دئ او د (سکتې ، فلج ، ګوزڼ) معنی بشپړوی .

## -plectic

د (Plexy-) اړوند صفت.

## Pliable

په آسانه توګه کوږوالې موندونکې ، ساده تاوېدونکې .

## Plica

فولډ ، کوټ ، ګونځه،چین، کتول (قات کول)، غبرګول، احاطه کول. د ( Fold ) په انډول.

## Plicamycin

د ا یو ډول انتی بیوتیک او انتی نیو پلاستیک درمل دی د (Dna) پورې نښلې او (Rna) سنتېزیس په شاتنبوی او نهی کوی.

## Plicate

پاڼه ائیز ، چین لرونکې ،کت کړل شوې ، غبرګول شوې.

## Plication

**1** . د جراحی عملیه چې پکې د یوې عضلې د اندازې (Size) لږ کول کېږی او هغه قات کول کېږی ، **2**. د کت کولو عملیه تر سره کول .

## Plicotomy

د جراحی عملیات پواسطه د صماخی پردې د خلفی چین غوڅولو / پرې کولو کړنلاره.

## Ploidy

په یوه حجره کې د یولړ کروموزومونو دستېونو شمېر.

## Plombage

**1** .د هډوکو د جوفونو پکینګ (Packing) د انتی سیپټیک موادو پذریعه ، **2** . د پلورا جوف یا سږو پکینګ د دننه (داخلی) موادو پذریعه.**3**.د خنثی موادو پواسطه د بدن د یوه تش جوف ډکول.

## PLSS

د (Portable Life-Support System ) لپاره لنډه نښه ده.

## PLT

د (Psittacosis-Lymphogranoloma Tumor ) لپاره لنډه نښه.

## Plug

پلګ، خوله بندوونکې ، تړونکې کتله ،د بر ېښنا د نښلولو پرزه ، درډوونکې، خوله پوټی.

**- Dittrich's Plug**

د شحمی ګلوبولونو ، شحمی اسیدی کریستالونو او باکتری ګانو څخه جوړې کتلې چې په برونشکتازی اخته ناروغانو په قصباتو کې موندل شی.

**- Epithelial Plug**

اپیتلیال پلګ ، هغه د اکتودرمال حجرو یوه کتله چې په لنډمهالی ډول د جنین د پوزې بهرنی سورې بندوی.

**- Mucous Plug**

مخاطی پلګ ، هغه کتله چې د رحم د غاړې د مخاطی غدو د افرازاتو څخه جوړېږی او د بلاربښت بهیر کې د رحم غاړې کانال بندوی.

**- Vaginal Plug**

مهبلی پلګ ، د پرېن شوي سپرمونو او مخاط څخه جوړه کتله چې تر مقاربت وروسته د حیواناتو په مهبل کې جوړېږی.

## Plugger

د هغه موادو د تخته کولو لپاره وسیله چې د غاښ ډکولو لپاره پکارېږی.

## Plumber

نل غځونکی،نل جوړونکی( نلکې تړونکې ، نلدوان .)

## Plumbic

د (Plumbism ) اړوند صفت.

## Plumbing

هر هغه سیستم چې په بدن کې د ټیوب یا رګ په بڼه وی لکه د بولی سیستم .نلکه ائیز سیستم.نل غځونه، نل کاري.

## Plumbism

د سرپو مزمن مسمومیت (Lead Poisoning ) په انډول.

## Plumbum

د سرپ کېمیاوی عنصر ته ویل شی چې لنډه نښه یې (Pb) ده.

## Plummer–Vinson Syndrome

پالمر –وینسن سنډروم ، چې د اوسپنې وینه لږې یو

د ( Premenstrual Syndrome ) لپاره لنډه نښه ده .

## PMT

د (Premenstrual Tension) لپاره لنډه نښه ده .

## -pnea

دا یوروستاړي دئ او د [تنفس ، تنفس کولو، -Pnoea ] معنی بشپړوي.

## -pneic

د (-Pnea) اړوند صفت .

## Pneo-

دا یو مختاړي دي د (-Pnoea) په انډول.

## Pneogram

د سپایروګرام (Spirogram) په انډول.

## Pneometer

د سپایرومتر (Spirometer) په انډول.

## PNET

د (Primary Neroectodermic Tumor ) لپاره لنډه نښه ده .

## Pneum -

دا یو مختاړي دئ او د (سږو ، ریوی ، -Pneumo ) معنی بشپړوي.

## Pneumo-

دا یو مختاړي دئ او د (سږو ، ریوی ، -Pneum ) معنی بشپړوي .

## Pnemoarthrography

د کثیفه مادې په توګه د هوا یا ګاز تزریق وروسته د یوه مفصل یا بند څخه راډیوګرافي اخیستني کړنلاره.

## Pnemoarthrosis

په مفصل کې د ګاز یا هوا شته والي ، د راډیوګرافی په موخه د مفصل دننه ته د هوا –ګاز تېرول.

## Pneumat-

دا یو مختاړي دئ او د (هوا ، سږو ، ریوی ، - Pneumato) معنی بشپړوي .

## Pneumatic

د هوا یا تنفس (-Pneumat(O)) اړوند صفت .

## Pneumatization

په نسج کې په ځانګړی ډول په صدغی هډوکو کې د هوائی جوفونو جوړول بلل شي.

## Pneumato-

ډول دئ چې پکې ژبه او خوله التهابی کېږی او ناروغ نشی کولای یوڅه په ښه توګه تېر (بلع) کړی. دا اصطلاح په کال (1912) کې د (Plummer ) بیاوروسته تر هغه په کال (1919) کې د (Vinson ) پذریعه لومړي ځل شرحه شوه .

## Plumpness

چاغ توب، پوست والی.

## Plunger

دا یو ډول هایپودرمیک سورنج دئ چې د تحت الجلدی زرقیاتو لپاره په کارېږی.

## Plural

جمع، دیونه زیات، ( په ګرامر کښې ) دجمع صیغه.

## Pluri

د ګڼلو د زیاتوالي ښودني لپاره مختاړي دئ.

## Plutonium

پلوتونیم، یو ریډیواکتیف کېمیاوي عنصر چې د اټومی شمېرې (94) لرونکې کېمیاوی نښه یې (Pu) ده او داتومي انرژي دتولید دپاره استعمالیږي .

## PM

د ( Particulate Matter ) او ( Post Mortem ) لپاره لنډه نښه ده .

## PMA

د پرمختلونکې عضلی ضمور ( Progressive Muscular Atrophy) لپاره لنډه نښه ده .

## Pmol

د ( Picomole ) لپاره لنډه نښه ده .

## Pm

د ( Promitonium ) کېمیاوی عنصر لپاره لنډه نښه ده.

## PMI

د ( Private Mortgage Insurance ) او ( Point Of Maximum Impuls) لپاره لنډه نښه ده، د زړه د ضربان لپاره اعظمی ټکې .

## PMMA

د ( Polymethyl Methalcrilic Acid ) لپاره لنډه نښه ده .

## PMR

د ( Polymyalgia Rheumatica ) لپاره لنډه نښه ده .

## PMS

په پنوموکوک باکتریا باندې اخته کېدنه.

**Pneumococcosuria**

په متیازو کې د پنوموکوک باکتریاوو اطراح.

**Pneumococcus**

پنوموکوک باکتریا ، هغه باکتریا چې د تنفسي سیستم التهاني ناروغۍ د پنوموئیا په ګډون پېښوي ګڼه شمېره یې (Pneumococci ) ده .

**Pneumoconiosis**

د سږو ناروغي چې فیبروټیک نسج په سږو کې منځ ته راوړي چې د ډبرو د ټوټو / ډوړو او خاورو دانشاق وروسته تلپاتي رسوب په اوږد مهال کې منځ ته راوړي.

**Pneumocranium**

په داخل القحفي یا ماغزو کې د هوا شتون.

**Pneumocystiasis**

د بین البیني پلازما سلونو پنومونیا.

**Pneumocystis**

د مایکروارګانیزمونو یوه ډله چې ځینې یې پروتوزواګانو او ځینې یې د تخمري چنیاسو برخه بولي.

**- Pneumocystis Carinii**

دبین البیني پلازماسلونو د پنومونیا اغېزمن لامل .

**- Pneumocystis Carinii Pneumonia (PCP)**

د (Pneumocystis Carinii ) د لامل له امله د پنومونیا منځ ته راتګ بلل شي چې په هغه کسانو کې چې د معافیت سیستم یې د (Radiotherapy )او (Aids ) له کبله ویجاړوي پېښېږي .

**Pneumocystography**

د ګاز یا هوا ترزیق وروسته د مثانې راډیوګرافي.

**Pneumocyte**

هوائي حجره ، هغه حجره چې د سږو د هوائي کڅوړې په جدار کې شتون لري.

**Pneumoderma**

تر پوستکي لاندې د هوا شتون، تحت الجلدي آمفزیما .

**Pneumoencephalocele**

د (Pneumocephalocelus ) په انډول.

**Pneumoencephalography**

د ماغزو د جوړښتونو ته د هوا تېرونې وروسته راډیوګرافي اخیستل .د (Encephalogram ) په انډول.

**Pneumoenteritis**

د سږو او کولمو ګډ ډول التهاب .

دا یو مختاړې دئ او د (هوا ، سږو ، ریوي ، - Pneumato) معنی بشپړوي.

**Pneumatocele**

①د سږو د نسج فتق (چُره) ،② د نرۍ ډېوال (جدار) لرونکي هوائي سیستونه چې په سږي کې منځ ته راځي او معمولاً سلیم وي ،③ ګاز لرونکي تومور یا کڅوړه (Sac) چې د هوا څخه ډکه وي لکه د سفن دننه ګازي پړسوب .

**Pneumatometer**

د (Pneometer ) په انډول

**Pneumatometery**

د (Pneumatometer ) پواسطه د هوا د شهیقي او ذفیري کچې ټاکنې کړنلاره تر سره کول .

**Pneumatonometer**

.هغه طبي وسیله چې د هغه پواسطه د سترګو د هوا-ګاز فشار ټاکل شي او په ګلوکوما کې د آزمابښت په توګه پکاریږي چې د یوه مقدار هوا پوکل د قرنیې لپاسه تر سره کېږي .

**Pneumatosis**

په بدن کې په یوه غېرنورمال ځای کې د هوا یا ګاز شته والي.

**- Pneumatosis Cystoides Intestinalis**

د کولمو په جدار د نرۍ دېوال لرونکي ګازي سیستونو شته والي لکه د نکروتایزینګ انټیروکولیت ناروغۍ کې .

**Pneumaturia**

په متیازو کې د هوا یا ګازاتو اطراح .

**Pneumo-**

دا یومختاړې دئ او د (سږي او تنفس)معنی بشپړوي.

**Pneumobilia**

د ترېخي (صفراوي ) لارې کې د ګاز /هوا شته والي .

**Pneumocephalus**

په داخال القحفي برخې یا په ماغزو کې د هوا شتون .

**Pneumococcal**

د (Pneumococci ) اړوند صفت .

**Pneumococcemia**

په وینه کې د پنوموکوکونو شته والي .

**Pneumococcidal**

د پنوموکوکونو له منځه وړونکي لامل .

**Pneumococcosis**

**Pneumonia**

پنومونیا ، نیومونیا ، د سږو د نسج کلکېدنه،د سږو هغه ناروغي چې پکې د سږو د نسج دننه اګزودات تراکم سره مل التهاب منځ ته راځي.

**- Acquired Pneumonia**

کسبي پنومونیا .

**- Acute Pneumonia**

حاد ډول پنومونیا.

**- Pneumonia Alba**

په نويو زوکړو ماشومانو کې وژونکې ډیسکوامي کوونکې پنومونیا چې د ولادي سیفلیس له امله منځ ته راځي.

**- Aspiration Pneumonia**

سږو ته د معدوي یا نورو اجنبي اجسامو یا موادو ورتګ چې هلته د سږو التهابي ناروغي پېښوي.

**- Atypical Pneumonia**

غیر وصفي (اټیپیک ) پنومونیا .

**- Bacterial Pneumonia**

د باکتریایي مکروبونو (ستریپتوکوک ، پنوموکوک ، ستافیلوکوک اونورو ) له امله پنومونیا ناروغي .

**- Bronchial Pneumonia**

د قصباتو اړوند پنومونیا.

**- Chronic Pneumonia**

د سږو مزمنه پنومونیا چې د هغه مکروبونو له امله پېښېږي چې مزمن ناروغي منځ ته راوړي لکه نرۍ رنځ .

**- Desquamative Pneumonia**

د بین البیني نسج او اپیتلیوم د پرولیفریشن او فیبرواګزوډاټ کلکېدو سره مل مزمنه پنومونیا.

**- Desquamative Interstitial Pneumonia**

د لويو هوائي حجرو د ډیسکوامي کېدو او ډیستال هوائي لارو جدارونو پنډېدو سره يوځای مزمنه پنومونیا چې د سالنډۍ او له خراشکي ټخه پرته ټوخي منځ ته راوړي.

**- Double Pneumonia**

هغه پنومونیا چې دواړه سږو نسجونه يې اخته کړي وي.

**- Friedlander's Pneumonia**

هغه پنومونیا د سږي په يوه لوب کې پرېمانه موکوئيدي التهابي اګزوډاټ پواسطه پېژندله شي او عامل يې کليبسېلا نومونیا دئ.د ( Friedlander's Bacillus Pneumonia ) په اند ول.

**- Fungal Pneumonia**

د سږو چنیاسي پنومونیا چې د هغه مکروبونو له امله پېښېږي چې چنیاسي يې دا ناروغي منځ ته راوړي .

**- Hospital Acquired Pneumonia**

د روغتون دننه د شته انتاناتو پنومونیا چې د هغه مکروبونو له امله پېښېږي چې په روغتون کې شتون لري او ډېر مهال د

**Pneumogastric**

د سږو او معدې اړوند صفت ، ریوي – معدوي.

**Pneumograph**

هغه وسیله چې د صدر حرکتونه د تنفس پر مهال ثبتوي.

**Pneumography**

د ( Pneumograph ) پذريعه د صدري حرکتونو ثبت کړنلاره.

**Pneumohaemopericardium**

د پریکارډ جوف کې د هوا او وینې شتون.

**Pneumohaemothorax**

د پلورا په جوف کې د هوا او وینې شته والې ، د (Haemopneumothorax ) په اند ول.

**Pneumohydrometra**

په رحم کې د ګاز او مایع شتون .

**Pneumohydropericardium**

د پریکارډ جوف کې د هوا او مایع شتون.

**Pneumohydrothorax**

د پلورا جوف کې د هوا او مایع شتون.

**Pneumolithiasis**

په سږو کې د تکلسي کانریشن (Concretion) شتون .

**Pneumomediastinum**

د منصف نسجونو کې د هوا شتون چې دا پتالوژیک یا قصدي کېدای شي.

**Pneumometer**

په رحم کې د هوا شتون، د (Pneumometra ) په اند ول.

**Pneumomycosis**

دا يو ډول انتان ناروغي ده چې د سږو فنګسي (چنیاسي ) ناروغي پېښوي.

**Pneumomyelography**

د ماغزو –نخاعي مایع راويستنې وروسته د هوا یا ګاز تزریق وروسته د نخاعي کانال راډیوګرافي.

**Pneumon -**

دا يومختاړې دئ (سږو، ریوي، -Pneumono) معنی بشپړوي .

**Pneumonectomy**

د جراحي عملیات پواسطه د سږي یا د سږي د يوې برخې د غوڅولویا راويستلو کړنلاره.د (Pulmonectomy ) په اند ول.

انتی بیوتیکونو په وړاندې مقاوم وی.

**- Hypostatic Pneumonia**

هغه پنومونیا په کمزورو او زړښت عمر لرونکو کسانو په سږو کې د ملاتیر د قطنی فقری برخې کوږوالی له امله منځ ته راځی.

**- Influenzal Pneumonia**

هغه پنومونیا چې د( شدیدې تبې ، کمزورتیا او سستوالی ، د ستونی سوروالی ، ګونګ دردونو ، شدید سالنډۍ او چټکې اذیما ) سره مل وی او د انفلوانزا د ویروس څخه زېږنده وی دا حاده وژونکې ناروغی ده چې باکتریاوړباندې برسېرنه منځ ته راځی.

**- Influenza Virous Pneumonia**

د (Influenzal Pneumonia ) په انډول .

**- Inhalation Pneumonia**

انشاقی پنومونیا ، اسپایریشن پنومونیا . هغه پنومونیا چې د مخرشو او محرکو ګازاتو انشاق له امله منځ ته راځی .

**- Interstitial Pneumonia**

هغه پنومونیا چې دسږو د (بین البینی نسجونو د زیادښت ، د سږی اصلی نسج کمښت او انډوریشن سره مل) د مزمن ډول التهاب دئ.

**- Interstitial Plasmacell Pneumonia**

هغه پنومونیا چې د ماشومان او کمزوری کسان لکه هغه چې ځانګړی درمل خوری اخته کوی پدې ډول کې د سږو نسجونو کې د پلازماسلونو څښتن حجروی (Ditritus) لیدل کېږی .

**- Lipid Pneumonia**

شحمی پنومونیا ، هغه پنومونیا چې د غوړو د اسپایریشن له کبله نومونیا ډوله غیرګون منځ ته راځی

**- Lobar Pneumonia**

د سږو د یوه لوب (فص) برخې اخته کېدنې پنومونیا چې د پنوموکوکونو اړونده حاده ناروغی دهیو څو لوبونه اخته کوی.

**- Lobular Pneumonia**

د سږو د یوه لوبیولونو (فصیصونو) برخې اخته کېدنې پنومونیا چې د ورته برانکو پنومونیا هم وائی.

**- Mycoplasmal Pneumonia**

اولیه غیر وصفی (اتیپیکه) پنومونیا ده چې د مایکو پلازما پنومونیا له امله منځ ته راځی.

**- Paranchimatous Pneumonia**

پارانشیمائی پنومونیا ، ډیسکوامه کوونکې پنومونیا

**- Pittsburgh Pneumonia**

دا یو ډول لیجیوناری ناروغی ته ورته پنومونیا ده چې لامل یې (Legionella Micdadei) دئ او د روغتون اړوند انتان دئ.

**- Pneumocystis Pneumonia**

د بین البینی پلازماسلونو پنومونیا .

**- Postoperative Pneumonia**

له عملیاتونو څخه وروسته د پنومونیا منځ ته راتګ .

**- Primary Atypical Pneumonia**

اولیه غیر وصفی پنومونیا چې په حاد ډول د [پلازمانومونیا ، ریکتزیا، کلامیډیا ویروسونو لکه د (اډینوویروس ، پاراانفلواینزاویروس ) ] پواسطه منځ ته راځی .

**- Rheumatic Pneumonia**

د حاد روماتیزمی تبې وژونکی خو نادره ډول عارضه چې د( چټک ریوی تراکم او چټک پرمختلونکی وظیفوی اختلال ، الویولی اګزوډاټ ، بین البینی انفیلټریشن ، نکروزی آرتریټ) پواسطه پېژندل شی.

**- Tuberculosic Pneumonia**

د نری رنځ لامل مایکوباکتریوم له امله پنومونیا ناروغی.

**- Varicella Pneumonia**

دا پنومونیا د ( Chicken Pox) کې د جلدی دانو وروسته رابرسېره کېږی او لامل یې هماغه ویروس دئ ننبې یې ښائي (تبه ،شدید ټوخې ، هیموپتایزی او د صدری شدید درد ) وی .

**- Viral Pneumonia**

د سږو ویروسی لامل له امله پنومونیا چې یو لړ ویروسونو لکه د (اډینوویروس ، پاراانفلواینزاویروس او وریسیلا ) پکې ورګډ ېږی .

**- White Pneumonia**

د پنومونیا البا ویروس.

## Pneumonic

د (Pneumonia ،Pneumon ) اوسږو (Lungs ) اړوند صفت.

**- Pneumonic Plague**

دا د یو بوبونیک پلاګ لامل لری چې اساساً سږی اخته کوی.

## Pneumonitis

د سږو د نسج التهاب .

## Pneumono -

دا یو مختاړې دئ او د( سږی ،ریوی ، Lungs ) معنی لری .

## Pneumonocentesis

د اسپایریشن لپاره د سږی دننه (داخل) ته د یوې ستنې ننویستل .

## Pneumonocyte

د سږی د الویولی اپیتلیائی حجرو الویول فاګوسایتونو لپاره عمومی اصطلاح ده .

## Pneumonolysis

د هغه نسجونو جلاکېدل چې سږی له صدری پنجرې سره نښلوی او د سږی د کولاپس لامل ګرځی.

## Pneumonopathy

د سږو ناروغۍ ، ریوی ناروغۍ.

## Pneumonopexy

د سږو د نسج تثبیت د صدر د جدار سره د جراحی عملیات په مرسته تر سره کولو جراحی کړنلاره.

د سږو د ناروغیو درملنه .

**Pneumothorax**

د صدر پلورائی جوف دننه د هوا شتون ، د ( Collapsed Lung) په اند ېول.

**- Hemopneumothorax**

هیموپنوموتوراکس ، د صدر پلورائی جوف دننه دوینې او هوا ګډ ډول شتون.

**- Open Pneumothorax**

واز ډول پنوموتورکس ، د صدر پلورائی جوف دننه د هوا ګډ شتون چې پکې صدر د بهرنی اتموسفیر سره تماس ولری.

**- Simple Pneumothorax**

ساده پنوموتورکس ، د صدر پلورائی جوف دننه د لږ هواشتون.

**- Tension Pneumothorax**

ټنشن پنوموتوراکس ،د صدر پلورائی جوف دننه دهوا راټولېدنه چې پکې د هوا یو طرفه بهیر شتون لری چې سږی تر فشار لاندې نیسی.

**Pneumotomy**

د سږو د پرې کولو یا غوڅولو جراحی عملیات کړنلاره.

**Pneumoventriculography**

دهوا د تزریق وروسته د ماغزو د بطیناتو راډیوګرافی اخیستلو کړنلاره.

**Pneumovirus**

د سږو ویروس ، د پارامیګسوویریدیا د کورنۍ څخه تنفسی سنسیشیال ویروسونه چې انسانی او بقری سنسیشیال ویروسونه او د موږکانو د پنومونیا ویروس پکې شاملیږی.

**-pnoea**

دا یو روستاړې دئ او د تنفس معنی لری.

**PNS**

محیطی عصبی سیستم ( Peripheral Nervous System) لپاره لنډه نښه ده .

**PO**

(Per Os) لپاره لنډه نښه ده ، د خولې له لارې .

**Po**

د پولونیوم ( Polonium) کېمیاوی عنصرلپاره لنډه نښه ده .

**PO2**

د اکسیجن د نسبی فشار چې د ( $Po_2$, $PO_2$, $Po_2$) په بڼو لیکل کېږی .

**Pneumonorrhaphy**

د سږو د نسج ګنډلو تر سره کولو جراحی کړنلاره.د سږو ترمیم کړنه.

**Pneumonosis**

د سږی ناروغی ، ریوی ناروغی.

**Pneumonotomy**

د سږو د غوڅولو / پرې کولو جراحی عملیه .

**Pneumopericardium**

د پریکارډ جوف کې د هوا شتون .

**Pneumoperitoneum**

د راډیولوژی علم له مخې د ګېډې د پریتوان په جوف کې د هواشته والی ته وائی.

**Pneumoperitonitis**

د سږو او پریتوان التهاب . هغه پریتونیت چې په کې د ګېډې د پریتوان په جوف کې د هواشته والی ولری.

**Pneumopluritis**

د سږو او پلورا التهاب .

**Pneumopyelography**

د هوا تېرولو څخه وروسته د پښتورګو د حویضی راډیوګرافی اخیستلو کړنلاره.

**Pneumopyopericardium**

د پریکارډ په جوف کې د هوا او قیح شته والې بلل شی.د ( Pyopneumopericardium ) په اند ېول.

**Pneumopyothorax**

د پلورا دجوف دننه د هوا او زوي (قیح) شته والې.

**Pneumoradiography**

د هوا تېرولو وروسته د یوه جوړښت راډیوګرافی .

**Pneumoretroperitonium**

د خلف پریتوان جوف کې د هوا شتون.

**Pneumorrhagia**

د سږو څخه وینه بهېدل . شدید ډول هیموپتازی .

**Pneumotachograph**

د تنفسی هوا د چټکتیا د تثبیت لپاره وسیله .

**Pneumotachometer**

د ذفیری هوا دبهیر د اندازه نیولو لپاره وسیله.

**Pneumotaxic**

د تنفس د چټکتیا تنظیم .

**Pneumotherapy**

**Pock**

پوستېول ، په ځانګړې ډول د ( **Smallpox** يا **Chickenpox**) پوستېول

**Pocket**

کڅوړه ، جیب، بټوه، وړوکی څوړه ډوله جوړښت .

**- Endocardial Pocket**

د اندوکارډ جیب، د جداری انډوکارډیوم تصلبي پېړوالې چې غالباً د ناتوانه ابهری دسام لاندې د کېڼ بطین په سیپتوم کې منځ ته راځی.

**- Gingival Pocket**

د اوریو جیب ، د اوریو مېزابه چې د پریوډنټال نسج له ویجاړتیا پرته د اوریو د پړسوب له امله د پتولوژیکو حالتونو پواسطه منځ ته راځي.

**- Pocket of Infection**

انتاني جیب، هلته چې انتان یا میکروب پاتې کېږي .

**- Pacemaker Pocket**

د پسمېکر جیب ، تحت الجلدی سیمه چې د ضربان پېښوونکی ماشین او د پیس مېکر ماشین لیدونه پکې ایښودل کېږي دغه سیمه په پری پکټورالیس یا خلف ثدیوی فضاً کې شتون لری .

**- Periodental Pocket**

د اوریو مېزابه چې د پریوډنټال لیګامنټ په ښخ کې ځای لری.

**Pockmark**

ددانې داغ، چوماخی، چوخی ، هغه پوستېولی تندبی نښه چې په ځانګړې ډول د ( **Smallpox** یا **Chickenpox** ) پوستېول .

**Pockmarked**

هغه مخ چې پکې د پوستېول نښې شتون لری لکه په ځانګړې ډول د ( **Smallpox** یا **Chickenpox** ) پوستېول په څېر .

**Pod-**

دا يو مختاړې دئ او د ( پښې ، **Foot** ) معنی لری .

**Podagra**

نقرص ، د پښې د بټې ګوتې نقرصی درد ،د ( **Gout** ) په انډول .

**Podalic**

د پښو (**Pod-**) اړوند صفت.

**- Podalic Version**

د جنین پښو پذریعه د رحم دننه د جنین راتاوولو پروسیجر تر سره کول بلل شی.

**Podarthritis**

د پښو د بندونو التهاب.

**Podiatric**

د ( **Podiatry** ) اړوند صفت.

**Podiatry**

هغه ځانګړې څانګه چې د پښې د ( اناتومی ، پتالوژی ، طبی او جراحی ) درملنو څانګو څخه په تفصیلی ډول بحث کوی.

**Podocyte**

د پښتورګو د د یوه ګلومیرول د ویسرال طبقې اپی تلیالی حجره چې يو شمېر پښه ډوله بارزې لری.

**Pododynamometer**

د پښو د عضلاتو د قدرت ټاکنې لپاره وسیله .

**Pododynia**

د پښې درد .

**Podology**

د (**Podiatry**) اړوند صفت .

**Podophyllin**

د پوډوفیلوم رزین په انډول.

**Podophyllum**

د ( **Podophyllum Peltatum**) ریښه او د هغې ځانګې .

**Poe-**

دا یومختاړې دئ او د ( هغه کلمه چې په **Pe** پیل مومی) معنی بشپړوی

**Pogoniasis**

هغه ښځې چې د مخ ویښتانو یې له حده زیاته وده کړېوی.

**Pogonion**

د زنې مخکینې منځنۍ ټکې .

**-poiesis**

دا یو روستاړې دئ او د (جوړېدنې ، تشکیلېدو ، منځ ته راتلو ) معنی لری.

**-poietic**

د (**-Poiesis**) اړوند صفت.

**Poietin**

د هورمونونو یوه ډله چې په محیطی وینه کې د حجرو ډولونو شمېر تنظیموی .

**Poikilo-**

دا یو مختاړې دئ د (ډول ډول او نامنظم ) معنی لری.

## Poikiloblast
د غیر نورمال بڼې لرونکې ځوانه (بلاسټ) سره کرېوه.

## Poikilocyte
د غیر نورمال بڼې لرونکې ځوانه د وینې سره کرېوه.

## Poikilocytosis
په محیطي وینه کې د غیر نورمال ډول ډول بڼې لرونکې کرېواتو شتون بلل شي.

## Poikilotherm
هغه حیوان چې د بدن تودوخې بدلېدونکې درجه لري ، د سړې وینې خاوند حیوان ، خونسرده حیوان.

## Poikilotherma
هغه حالت چې پکې د پوستکي د پګمنټ په بدلون او ضمور ځانګړې کېږي او پوستکې داغ داغ حالت خپلوي .

## Poikilothermal
د (Poikilotherm ) اړوند صفت .

## Poikilothermic
د (Poikilotherm ) اړوند صفت .

## Poikilothermy
هغه حالت چې له محیط سره د بدن د تودوخې درجه بدلون مومي .

## Point
داغ یا کوچنۍ سیمه ، نښه، علامه ،د یو شي تیره څوکه یا تېز نهایت، اشاره کول، نښه کول، ټکی اېښودل ، نمره ، نکته، اصلي موضوع، څوکه، د اعشاري نښه، ټاکلې وخت.

**- Point A**
د سر د نیم کښې تصویر څخه د راډیوګرافیک فیلم په مخ د سفالومتری نښه .

**- Point B**
د سر د نیم رخې راډیوګرافیک فیلم تصویر څخه د سفالومتری یو ټکې .

**- Boiling Point**
د جوش ټکې ، و خوټېدلو ټکې د تودوخې هغه درجه چې د بحر (سمندر) په سطحه کې پکې اوبه ایشېږي اوبه په ( 100°c) یا (212°f) کې په جوش راځي .

**- Cardinal Point**
د سترګې د مختلفو انکساري محیطونو په مخ ټکي چې سترګې ته نوراني وړانګو د ننوتلو تګ لورې ټاکي.

**- Craniometric Point**
د سر د اندازې ټاکلو لپاره یو انتخابي ټکې .

**- Far Point**
هغه تر ټولو لېرې ټکې چې د استراحت په حالت کې پکې یو شئ د سترګو پواسطه په څرګند ډول لیدل کېږي.

**- Point of Fixation**
د سترګو د شبکیې هغه ټکې چې د یوه شي څخه راغلي وړانګې وربانديې راغونډېږي او لید وربانديې ثابت کېږي.

**- Freezing Point**
د کنګل کېدو ټکې ، د مایعاتو د کنګل (انجماد ) ټکې چې د اوبو لپاره (0°c) یا (32°f) بلل شي.

**- Isobestic Point**
د څپې (موج) هغه اوږدوالې چې په هغه کې دوه مادې دجذب یو قدرت لري.

**- Isoelectric Point**
د (Ph) هغه اندازه چې په هغه کې د یو محلول چارج لرونکی مالیکولونه په یوه برېښنائي چاپېریال کې حرکت نکوي.

**- Jugal Point**
هغه زاویوي ټکې چې زیګوماتیک هډوکی د د ماسټریک او ماګزیلاري ژیو تر منځ جوړېږي.

**- Lacrimic Point**
د لېمو دمعیه پاپیلا په سر سوري چې د سترګې داخلي زاویې ته نېږدې پروت دئ او له لارې یې اوښکې د اوښکو کانال ته ځي.

**- Mc Burney's Point**
په ښي ښکتني کوادرانټ کې د اپانډیسیټ ځانګړې حساسیت (ټینډرنیس) ټکې برخه .

**- Point of Maximum Impulse**
د صدري پنجرې دپاسه هغه ټکې چې هلته تر ټول هرځای څخه د کیڼ بطین ضربان ښه احساسېږي. چې په نارمل توګه د په پنځمه بین الضلعي فضأ کې د ثدیوي خط لپاسه پروت دئ لنډه نښه یې (Pmi ) ده

**- Meeting Point**
د تودوخې هغه تر ټولو لږ درجه چې جامد ماده پکې په مایع اوړي.

**- Near Point**
د واضیح لیدنې تر ټولو نېږدې ټکې ، قطعي نېږدې ټکې چې هرې سترګې په اړوند په یوازې سر ټاکل کېږي خو پدې شرط چې چې د تطابق بهیر شتون ونلري .

**- Nodal Points**
د باصري سیستم د محور لپاسه دوه ټکي په داسې حال کې چې که په یوه وړانګه لوېږي له بل څخه د تېرېدونکي وړانګې سره موازي وي.

**- Pressor Point**
فشاري ټکې ، هغه ټکي چې دفشار په وړاندې ځانګړی حساسیت ولري .

- **Subnasal Point**

د پوزې د قاعدې مرکزی ټکې .

- **Trigger Point**

د بدن پرمخ هغه ټکې چې فشار یا نور تحریکونه وربانديې د ځانګړی حس یا نښې لامل ګرځی .

- **Triple Point**

د تودوخی او فشار هغه درجه چې په ګازی و مایع او جامد حالتونو کې د تعادل په حال کې وی.

## Pointer

د یوې هډوکیزې راوتلتیا کانتیوژن .

- **Hip Pointer**

د ایلیاک تېغې د هډوکی کانتیوژن یا د ایلیاک د تېغې سره د نښتې عضلاتو د راشلېدو برخه .

## Poise

دیوې مایع د وازیکوزیتی واحد چې په ثانیه کې په سانتی متر کې د ګرام څخه عبارت دئ لنډه نښه یې (**P**) ده.

## Poisen

زهر ، توکسین ، مسمومیت منځ ته راوړونکی (انشاقی ، خوراکی ،زرقی ، څښاکی ) ماده .

## Poison

مسمومیت ، زهر ، سم ،زهری ماده ، د یوې مادې یا درملو او توکسینونو له کبله د توکسیک (سمی) حالت منځ ته راتګ.

- **Poison ivy**

د (**Rhus Radicans**) په انډول . د (**Poison Oak**) په انډول .

- **Poison Oak**

دا یو امریکائی نبات دئ چې پاڼې یې د شدید ډول جلدی سرې مخې (**Painful Rash** ) لامل ګرځی .

- **Poison Pill**

مسمومیت منځ ته راوړونکې ګولۍ.

- **Poison Sumac**

د (**Rhus Vernix**) په انډول .

## Poisoner

زهر ورکوونکی.

## Poisoning

هغه رنځور ډوله حالت چې د زهرو له امله منځ ته راځی ، مسمومیت منځ ته راتګ .

- **Blood Poisoning**

سیپټیسیمیا ، د وینې مسمومیت .

- **Food Poisoning**

غذائي مسمومیت ، چې ملوثو خوراکی موادو له امله پېښېږی.

- **Forage Poisoning**

هغه ناروغی چې د خُسا (وراسته) شویو یا چنیاسو ککړو خوراکی موادو (وابنه ) خوراک وروسته پېښېږی لکه په آسانو کې .

- **Heavy Metal Poisoning**

د یوه درانده فلز په ځانګړی ډول (ارسینیک ، انتیمونی ، سرپ ، سیمابو، کاډیوم ،تالیوم ) پواسطه رامنځ ته کېږی.

- **Mushroom Poisoning**

د مرخېړیو مسمومیت ، د زهرجنو مرخېړیو خوراک له امله مسمومیت منځ ته راتګ.

- **Salmon Poisoning**

د ( **Neorichettsia**) په انډول .

- **Sausage Poisoning**

د ( **Alantiasis**) په انډول .

- **Scombroid Poisoning**

د (**Scombroidea**) په انډول .

## Poisonous

مسمومیت منځ ته راوړونکی مواد ، سمی مواد ، زهری مواد .

- **Poisonous Drugs**

سمی /زهری درمل.

- **Poisonous Fluid**

سمی /زهری مایعات .

**Poisonous Gas**

سمی ګازات ، هغه ګاز چې زهری وی.

## Poisons

سمی یا زهری مواد .

- **Poisons Act**

هغه مقرره یا لایحه چې په برطانیه کې د درملو (جوړونې ، سپارښتنې ، خرڅلاو) اړوند ترتیب په کال (**1972**) کې د پارلمان له خوا تصویب شوېده.

## Poke

بوجی، کڅوړه، ګوډی، جوال. تنویستل، لړل، لاسوهنه ، دچاپه کارکښې لاس وهل، لټول، په سوک وهل، سوکه تلل.

## Pokey

تنګ، خپه (لکه کوټه) لټ، پخ.

## Polar

د قطب لرونکې ، قطبی .

- **Polar Body**

هغه کوچنۍ حجره چې د (Oocyte) څخه منځ ته راځي خو په هګۍ کې وده نه کوي.

- **Polar amine**

د ډکسکلور فنیرامین سوداګریز نوم دئ.

## Pole

د یوه غړي ګردۍ پایلي برخه لکه د (Cerebral Hemisphere) کې د یوه لوب د پایلي برخه . قطب، دمحور هر یوه څوکه (نهایت) او د پایلي برخه لکه د جنین د انحنأ یا د بدن د محور څوکې ، دمقناطیس یا بیټرۍ بل سره ( منفي، مثبت). پایه، ستنه، متیه، داوړ دوالي واحد.

- **Animal Pole**

د هګۍ هغه قطب چې د زیړو د غذائی مادې لویه برخه پکې پرته ده .د هستې د شتون ځای دئ او قطبی جسمونه ورڅخه لېرې وی

- **Cephalic Pole**

د بیضوی جنین نهایت د جنین د سر ځای دئ .

- **Pole and Canvas Stretcher**

هغه ساده نېغوالې چې یوه ټوټه ټوکر ته قطب وربښنی.

- **Frontal Pole of Hemispheric of Cerebrum**

د ماغزو د هرې نیمکرې دقدامی نهایت تر ټولو راوتلې برخه .

- **Germinal Pole**

حیوانی قطب . جرمینال قطب .

- **Negative Pole**

منفی قطب ، کتود. د یوه برېښنائی بهیر منفی اړخ قطب.

- **Occipital Pole of Hemispheric of Cerebrum**

د ماغزو د اوکسیپیتال لوب دخلفی نهایت تر ټولو راوتلې برخه .

- **Pelvic Pole**

د بیضوی جنین هغه نهایت چې د جنین بېخ دئ .

- **Positive Pole**

مثبت قطب ، انود. د یوه برېښنائی بهیر مثبت اړخ قطب.

- **Temporal Pole of Hemispheric of Cerebrum**

د ماغزو د ټیمپورال لوب دمنځنی نهایت تر ټولو راوتلې برخه.

- **Vegetal Pole**

د هګۍ هغه قطب چې د زیړو د غذائی مادې لویه برخه پکې پرته ده . د ( Vegetative Pole او Vitelline Pole ) په انډول.

## Polish

ځلاور کول، پالش، ځلا ورکول ، په کلتوري لحاظ سپیځلی کول تهذیب. پولینډی طبعه کس .

## Poli-

دا یو مختاړې دئ او د (توربخني مادې ، Polio- ) معنی بشپړوی.

## Policeman

هغه ښیښه ئی استوانه چې یو لاستیکی ټیوب یې په سر کې ایش،دل شوې چې ښوونکې او لېږدوونکې استوانې پتوګه په کېمیاوی تحلیل (انالایزیس ) کې پکارېږی .

## Policlinic

پولیکلېنیک ، هغه د روغتیائی چارو پرمخ بیوونکې ادا ره چې پکې څو ډوله د کلینیکی تشخیصیه او څارنو ځانګې شتون ولری ، د (Polyclinic ) په څېر هم لیکل شی.

## Polio

د (Poliomyelitis ) په انډول.

## Polio -

دا یو مختاړې دئ او دعصبی سیستم (توربخني مادې، Grey Matter) معنی بشپړوی.

## Polioclastic

دعصبی سیستم د (توربخني مادې، Grey Matter) مادې تخریب.

## Poliodystrophia

د (Poliodystrophy) په انډول.

- **Poliodystrophia Cerebri**

د آلپر ناروغی (Alper's Disease) ته ویل شی.

## Poliodystrophy

د ماغزو د توربخني مادې ضموری (اټروفیکه) ناروغی.

- **Prograssive Cerebral Poliodystrophy**

د آلپر ناروغی (Alper's Disease) ته ویل شی.

- **Infantile Poliodystrophy**

د آلپر ناروغی (Alper's Disease) ته ویل شی.

## Polioencephalitis

د ماغزو د توربخني مادې التهابی ناروغی.لکه ویروسی پولیومیالیت

- **Inferior Polioencephalitis**

د بولبر پرمختلونکې فلج .

## Polioencephalomeningomyelitis

د ماغزو د توربخني مادې ،نخاع او سحایاوو التهابی ناروغی.

## Polioencephalomyelitis

د ماغزو د توربخنې مادې نخاع التهابی ناروغی ، مغزی پولیومیالیټ.

## Polioencephalopathy

د ماغزو د توربخنې مادې ناروغی.

## Poliomyelitis

پولیومیالیټ ، د ماشومانو فلج ، حاده ویروسی ناروغی چې معمولاً د پولیو د ویروس پواسطه د نخاع دقدامی ښکر حرکی حجرات اخته کوی او پولیومیالیټ (د اطرافو فلج،تبه ، او غاړې شخی) منځ ته راځی.د ( **Polio,** **Infantile Paralysis**) په انډول.

**- Abortive Poliomyelitis**

د پولیومیالیټ خفیف ډول.

**- Acute Anterior Poliomyelitis**

د پولیومیالیټ شدید ډول.

**- Ascending Poliomyelitis**

د پولیومیالیټ هغه ډول چې پورته لورې ته پرمختګ کوی.

**- Bulbar Poliomyelitis**

د پولیومیالیټ شدید ډول چې بصل النخاع اخته کوی د تېرولو او ساکښلو د ناجوړې لامل ګرځی او همدغه راز د تنفسی ډیسټرس پېښېدو لامل ګرځی .

**- Cerebral Poliomyelitis**

د پولیومیالیټ هغه ډول چې د ماغزو دننه (داخل) خپرېږی.

**- Poliomyelitis Immune Globulin Human**

پولیومیالیت ناروغی اړوند د انسانانی ایمیونوګلوبولین .

**- Poliomyelitis Immunoglobulin**

د تعقیم ایمیونو ګلوبولین درلودونکی محلول چې انتی باډی ګانې چې په نورماله توګه په کاهل انسانانو وینه کې شتون لری چې د پولیومیالیت حالاتو کې لوړېدنه مومی چې د ( **Paralytic Polio**) څخه مخنیوی کوی .

**- Poliomyelitis Paralytic**

دفلج سره مل پولیومیالیت.

**- Spinal Paralytic Poliomyelitis**

د حاد قدامی پولیومیالیټ کلاسیک ډول چې د یوه یا څو اندامونو د شل کېدو(فلج) لامل ګرځی.

**- Poliomyelitis Suum**

دا یو ډول په لوړې کچې ویروسی انتانی ناروغی ده چې په حاد ډول ماشومان اخته کوی او د هغوی د ( **Spinal Cord** او **Brainstem**) حرکی اعصاب فلج کوی او عضلی ضمور او ځینې وخت سؤاشکال پېښوی دې ( **Infantile Paralysis**) هم وایی.

**- Poliomyelitis Vaccine**

د پولیومیالیت ضد واکسین ، د پولیو ویروس ضد واکسین.

**- Poliomyelitis Virus**

د پولیو یا پولیومیالیت لامل ویروس ته ویل شی.

## Poliomyelopathy

د نخاع د توربخنې مادې ناروغی.

## Poliosis

د ویښتانوله وخته دمخه سپینېدنې حالت اوویښتانو د پګمنټ له لاسه ورکولو په ځانګړې توګه د ویښتانو ناروغیو وروسته پېښېږی.

## Poliovirus

د پولیومیالیټ ( **Poliomyelitis** ) ناروغۍ ویروسی لامل چې د انټېرووېروس ( **Enterovirus**) دئ اودرې ډوله سېروټایپ لری .

**- Poliovirus Hominis**

د پولیومیالیټ ( **Poliomyelitis** ) ناروغۍ ویروسی لامل چې د ( **RNA Virus** ) له ډوله او د انټېرووېروس ( **Enterovirus Genus** ) او د ( **Picornaviridae** ) کورنۍ څخه دئ اودرې ډوله سېروټایپ ( **Serologic Types 1, 2, And 3** ) لری او اپیډیمی منځ ته راوړی.

**- Poliovirus Receptor**

د پولیو ویروس رسپټورنه یا آخذې .

**- Poliovirus Vaccine**

د پولیو میالیټ ضد واکسین .

**- Poliovirus Vaccine Inactivated**

د پولیو میالیټ ضد غېرفعاله شوې واکسین .

**- Poliovirus Vaccine Live Oral**

د پولیو میالیټ ضد ژوندې فمی واکسین .

## Polip

پولیپ ، هغه غېر مهاجم او پرته له خباثت څخه توموری کتله چې د مخاطی غشاألپاسه وده مومی لکه په (پوزې ، مثانې، کولمو) کې وده مومی ، د ( **Polyp** ) پا انډول.

**- Polip Syndrome**

دا یو ډول نادره پرمختلونکې ( **Progressive Autosomal Recessive Multisystem Disorder**) اختلالاتو سره مل سنډروم دئ چې د عمر په ( $2^{nd}$ - $5^{th}$ ) لسیزه کې پېښېږی چې پکې [عصبی بدلون ( **Diffuse Leukoencephalopathy, Polyneuropathy, Progressive External Ophthalmoplegia, Ptosis, Hearing Loss**) هضمی جهاز تشوش ( **Chronic Intestinal Pseudo-Obstruction (CIPO), Small Bowel Diverticula, Cachexia.**) او ( **Mitochondrial Cytopathy In Smooth Muscle Cells**) ] منځ ته راځی ، د ( **Mitochondrial Neurogastrointestinal Encephalomyopathy**) په انډول.

## Politzer Bag

ته راځي او پکې ( Histamine, Leukotrienes C4, او Kinins, Kininogen D4, E4, B4, Pgd2, Serotonin) په څېر الرجن توکې آزادېږی ، د (Allergic Rhinitis او Pollenitis) په انډول.

## Pollutant
هغه مواد چې( لوث ، ککړتیا ،آلودګی ، کثافت ، ناپاکی ) منځ ته راوړی.

## Pollute
ککړ کول ، ناولی کول ، ملوث کول ، ناپاکه کول .

## Polluting
ککړېدنه ، په ککړتیا اخته کېدنه .

## Polluted
ککړشوې ، ناولې ، ملوث

## Pollution
ناولتیا ، ککړتیا ، د ککړکولو عمل .

## Polocyte
قطبی حجره ، قطبی جسم ، د (Polar Bodies) په انډول.

## Polonium
دا یو طبیعی ډول راډیو اکتیف فلزی کیمیاوی عنصر دئ چې اټومی شمېره یې (84) او د ($Po^{210}$ ) ایزوتوپ پتوګه ساده ترلاسه کېږی نیمائی عمر یې ( 138.39 Days) او په یورانیوم کې ډېره لږه پیمانه شتون لری کیمیاوی نښه یې ($Po^2$ ) ده.

## Poloxalene
دا د( Ethylene ) او( Propylene Oxides ) یو ډول (Block Polymer) دئ دا یو سرفکتانټ دئ او د ورځې تغذیې پتوګه ورکول شی او د (Ruminal Tympany) مخنیوی منځ ته راوړی .

## Poloxamer
دا هرډول غیر آیونی د (-Polyoxypropylene Polyoxyethylene اړوند Copolymer Type) سرفکتانټ دئ او د (نرموونکی Emulsifiers، تثبیتوونکی Stabilizers اوتغذیې زیاتوونکی Food Additives ) پتوګه پکار وړل شی.

## Poloxamine
د سطحې فعال مواد دي ، هغه مواد چې د لایپوپروټین څخه جوړ دی او د سږو د سنخی حجرو څخه ترشح کوی او د سږو نسج ته ثبات او تداوم د سطحې د فشار کمښت له مخې وربخښی ، د (Surfactant) په انډول.

هغه ربړی کڅوړه (Rubber Bag ) چې معمولاً د متوسط غوږ دننه هوا د هغه پواسطه پوکل شی تر څو غوږ( Eustachian Tube)برخه وازه کړل‌شی چې دا لومړی ځل د (Otology In Vienna, Austria ) د غوږ متخصص ډاکتر د (Adam Politzer ) پواسطه په کال (1920) کې شرحه شو.

## Pollen
د ګل لرونکو بوټو ګرد جنه نارینه خاصیت لرونکې(Male Gametes) ماده ده چې د (Hay Fever) لامل ګرځی.

**- Pollen Allergen**
د ګلانو د ګردې الرجن ماده .

**- Pollen Allergy**
د ګلانو د ګردې الرجن مادې په وړاندی غبرګون یا حساسیت .

**- Pollen Antigen**
د ګلانو د ګردې الرجن مادې اړوند انتی جن .

**- Pollen Count**
هغه شکل بڼه چې د (Pollen ) اړوند اندازه په یوه هوائی نمونې کې ټاکی.

**- Pollen Extract**
د ګلانو د ګردې اړوند جوس یا عصاره .

## Pollex
د لاس غټه (بټه ، Thumb ) ګوته ، د لاس لویه ګوته ، ګڼه شمېره یې (Pollices ) ده .

**- Pollex Pedis**
د پښې اړوند بټه (لویه ) ګوته .

**- Pollex Valgaris**
داخل لوری ته د لاس د غټې ګوتې کوږوالې .

**- Pollex Varus**
د بهر لوری ته د لاس د غټې ګوتې انحراف او کوږوالې .

## Pollicization
د یوې ګوتې څخه د جراحی په مرسته د بټې ګوتې بیا رغوونه.

## Pollenitis
د ګلانو د ګردې الرجن ماده په وړاندې الرجیک غبرګون چې د (سترګو ، تنفسی سیستم) مخاطی غشأ اخته کوی او ورڅخه دیسچارج منځ ته راځی چې پکې پرلپسې (پرنجېدنه ، اوښکې اوخارښت) پېښېږی.د (Pollinosis او Hay Fever) په انډول .

## Pollinosis
دا یوډول الرژیک رینیت څخه دئ چې پکې ( سترګو ، تنفسی سیستم د مخاطی غشأ الرجیک غبرګون ) منځ

## Polt-foot
د پښو کوږ والې ولادی ناروغی ، د (Clubfoot) او (Distorted Foot) په انډول.

## Polus
قطب ، قطبی ، قطب لرونکی.

## Poly -
دا یومختاړي دئ او د (ډېرې اندازه ، زیاتې پیمانې، ګڼ شمېرې ، څو دانې) معنی بشپړوی .

**- Polyandry**
څو مېړونه لرل ، د څو مېړونو خاونده ښځه .

**- Polyclinic**
څو ډوله کلینیکی څانګو لرلو روغتیائی مرکز .

**- Polyethylene**
پولی ایتایلین کیمیاوی مرکب .

**- Polymeric**
پولیمېریک کیمیاوی مرکب .

## Polyadenitis
د ګڼ شمېر غدواتو التهاب .

## Polyadenosis
د ګڼ شمېر اندوکرینی غدواتو ناروغی .

## Polyamine
هغه مرکبونه چې د امین دوه یا څو ګروپونه ولری لکه سپرمین یا سپرمیډین.

## Polyangitis
د ګڼ شمېر وینې یا لمفاوی رګونو التهاب .

## Polyarteritic
د () اړوند صفت

## Polyarteritis
هغه ډول ناروغی چې پکې ګڼ شمېر شریانی رګونو التهاب په یوه وخت کې .

**- Polyarteritis Nodosa**
په کلاسیک ډول د کولاجن سیستمیک ناروغی. نکروز کوونکې واسکولیټ یو ډول چې د متوسطې اندازې لرونکی شریانونه پرې اخته کېږی او د (اخته هډونو د سکار او احتشأ ، د وینې لوړ فشار ، کلیوی عدم کفایه ) په مرسته پېژندل شی. د ( Periarteritis Nodosa) په انډول

## Polyarthric
د څو یا ګڼ شمېر بندونو اړوند .

## Polyarthritis
د ګڼ شمېر بندونو التهاب لکه په روماتوئید آرتریټ کې.

**- Chronic Villous Polyarthritis**
ګڼ شمېر بندونو د سینویال غشأ مزمن التهاب آرتریټ .

**- Polyarthritis Rheumatica Acuta**
حاد روماتیک آرتریټ ، روماتیزمال تبه .

## Polyarticular
د څو مفصلونو اخته توب اړوند صفت

## Polyatomic
د څو ډوله اټومونو لرونکو مرکبونو اړوند .څو اټومی.

## Polybasic
د تعویض وړ څو اټومه هایدروجنونو لرل ، د څو ډوله قلوی اړوند ، څو قاعدې لرونکې جوړښت .

## Polycarbophill
هغه پولی اکریلیک اسید چې له ډای وینایل ګلایکول سره متقابل یوند جوړوی او په هضمی جهاز کې د جاذب په توګه پکار وړل شی.

## Polycholia
ډېره اندازه تریخې (صفرا) لرونکې . د صفرا زیات بهیر/ افراز.

## Polychondrial
د ګڼ شمېر غضروفونو (کرپندوکو) اړوند .

## Polychondritis
د ګڼ شمېر مفصلی سطحو (کرپندوکو،غضروفونو) التهاب.

**- Chronic Atrophic Polychondritis**
راجعه پولیکاندریټ،مزمن ضموری پولیکاندریټ.

**- Relapsing Polychondritis**
مزمنه ایډیوپتیکه ډول اکتسابی ناروغی چې د بابېړی کولو په لورې لېوالتیا لری او غضروفی التهابی -استحالوی ناروغی منځ ته راوړی .

## Polychromasia
د وینې د سرو کریواتو د هیموګلوبین په مقدار کې رنګارنګ والې ، د (Polychromatophilia) په انډول.

## Polychromatic
څو رنګه .

## Polychromatophil
هغه حجره چې د څو ډوله رنګونو په واسطه د رنګېدو وړ وی.

## Polychromatophilia
هغه نسج یا جوړښت چې په څو ډوله رنګونو رنګېدلای شی.

## Polychromatophilic

د (Polychromatophilia) اړوند صفت .

## Polychromemia

د وینې د رنګه مادې زیادښت .

## Polyclinic

هغه روغتون چې پکې ډول ډول څانګې او د ناروغیو درملنې کېږی.

## Polychlonal

د څو ډول حجرو څخه زېږنده ، د ګڼ شمېر کلونی ګانو اړوند .

## Polychthemia

د وینې د حجروی کتلې زیادښت .

**- Absolute Polychthemia**

د سرو کریواتو د تولید زیادښت له امله کوم چې د نسجی هایپوکسیا یو جبرانی غبرګون /ځواب یا د پولی سایتیمیا ویرا یو تظاهر دئ ، دسروکریواتو د کتلې زیادښت .

**- Polychthemia Hypertonica**

د (Stress Polychthemia ) په انډول.

**- Relative Polychthemia**

د سروکریواتو له بدن څخه پرته د پلازما د حجم کمښت چې د سرو کریواتو د غلظت د زیادښت لامل ګرځی او په حاد یا مزمن ډول رامنځ ته کېږی.

**- Polychthemia Rubra**

د (Polychthemia Vera) په انډول.

**- Secondary Polychthemia**

د (Polychthemia Vera ) د لامل څخه پرته د سرو کریواتو د کتلې زیادښت چې لامل یې د نسجی هایپوکسیا په وړاندې فزیولوژیک غبرګون دئ.

**- Stress Polychthemia**

هغه خفیفه پولی سایتیمیا چې د سپین پوستکی د منځنی عمر څښتن نسبتاً چاغ نارینه چې فعال وینې فشار او اضطرابی زمینه ولری اخته کوی .

**- Polychthemia Vera**

د ناپېژانده لامل لرونکې میلوپرولیفراتیف اختلال چې د( هډوکی د ټولو عنصرونو د غیرنورمال ارتشاح ، د سروکریواتو کتلې د مطلق زیادښت ، طحالی ضخامه ، لوکوسایتوز او ترومبوسایتیمیا )پواسطه پېژندل شی.

## Polycoria

په یوه سترګه کې له یوه څخه د زیاتو سیستهونو شته والې ، په نسج یا هډوکو کې د ذخیروی موادو رسوب د اندازې زیادښت.

## Polycrotism

د نبض د هر ضربان لپاسه د څو اضافه څپو شته والې .

## Polycrotic

د (Polycrotism ) اړوند صفت.

## Polycyesis

څوګونې بلاربښت ، ګڼ شمېر بلاربتیاوی .

## Polycystic

ګڼ شمېر سیستهونو اړوند صفت. د هغه غړی ( Organ) اړوند چې ګڼ شمېر سیستیک جوړښتونه ولری.

**- Polycystic Disease Kidney**

د ګڼ شمېر سیستهونو درلودونکې پښتورګې .

**- Polycystic Disorders**

دګڼ شمېر سیستیک تشوشاتو اړوند.

**- Polycystic Kidney Disease (PKD)**

د ګڼ شمېر سیستهونو ناروغی درلودونکې پښتورګې چې درملنه یې د وینې ډیالایزس او یا هم (Transplantation ) بلل شی.

**- Polycystic Liver**

د ګڼ شمېر سیستهونو درلودونکې ینه (کبد) ناروغی .

**- Polycystic Ovary Disease (PCOD)**

د ګڼ شمېر سیستهونو درلودونکې هګۍ ځاله ، د (Polycystic Ovary Syndrome) په انډول .

**- Polycystic Ovary Syndrome (PCOS)**

دا یو ډول هورمونی اختلال دئ چې پکې د ښځو هګۍ ځاله لویوالې مومی او ګڼ شمېر پرته له درد څخه سیستهونه لری هودا رنګه مخ کې یې زیات ویښتان او ځوانکې وده کوی ښائی چې عقامت هم منځ ته راشی ، د ( Stein Leventhal Syndromeاو Polycystic Ovarian Syndrome ) په انډول.

**- Polycystic Pancreas**

د ګڼ شمېر سیستهونو درلودونکې پانکریاص .

**- Polycystic Renal Disease**

د ګڼ شمېر سیستهونو ناروغۍ درلودونکې پښتورګې .

## Polycystid

د (Polycystidea ) څخه هر یو چې وی .

## Polycystidea

دا د (Gregarinæ ) یوه ډله چې په نورو ډلو هم ویشل شوېدی .

## Polycystina

دا د (Radiolaria ) یوه ډله چې په ګڼ شمېر نورو ډلو هم ویشل شوېدی

## Polycystine

## Polydactylia
د (Polydactyly ) په انډول.

## Polydactyls
په غیر عادی بڼه د لاس او پښو د ګڼ شمیر ګوتولرونکي کس.د بدن د ویني زیاد ښت .

## Polyendocrine
د ګڼ شمیر اندوکرین غدواتو سیستم شتون .

**- Polyendocrine Autoimmune Disease**
د ګڼ شمیر اندوکرینی اوتو ایمیون ناروغیو شتون .

**- Polyendocrine Deficiency Syndromes**
د ګڼ شمیر اندوکرینی فقدان ناروغیو شتون .

**- Polyendocrine Gland Failure**
د ګڼ شمیر اندوکرینی غدواتو عدم کفایې شتون .

## Polyendocrinopathy
د ګڼ شمیر اندوکرینی ناروغیو شتون .

## Polyene
دا یو کیمیاوی مرکب دئ چې څلور کاربنی ځنځیرونه او ګڼ شمیر اټومی دوګوني اړیکی د یوځای کیدو لپاره جوړښت لری.هغه د چنیاسې ضد انتی بیوتیک ډله چې د (Streptomyces) څخه پلاس راځی لکه د (Amphotericin او Nystatin ) په څیر چې حجروی دیوال ویجاړوی.

**- Polyene Antibiotics**
هغه نیمه ترکیبی جوړښت او د چنیاسې ضد انتی بیوتیک ډله چې د (Streptomyces) څخه پلاس راځی لکه د ( Amphotericinb ، Candicidin او Nystatin ) په څیر چې حجروی دیوال ویجاړوی.

**- Polyene Antimycotic**
د چنیاسې ضد انتی بیوتیک درمل .

## Polyenoic Acid
هر یو د شحمی اسیدونو څخه چې یوه یا ډیرې دوه ګونې اړیکه د کاربن ځنځیر سره ولری لکه د ( Linoleic Acid) په څیر.

## Polyergic
د ډیرو ګڼ شمیر مختلفو لارو – طریقو د عمل وړتیا لرونکې.

## Polyergin
د (TGFB2 ) جن د (Chromosome 1q41 ) لپاسه چې د کود ورکوونکې غړی دئ او [ Transforming Growth Factor Beta (TGFB] د (Cytokines ) له کورنۍ څخه

د (Polycystina ) اړوند دئ.

## Polycystinea
د (Polycystina ) اړوند دئ.

## Polycystinia
د (Polycystina ) اړوند دئ.

## Polycystoma
دا د تومور(Tumour ) لپاره غیر وصفی اصطلاح ده چې د ګڼ شمیر سیستونو لکه د تیپونو اړوندفیبروسیستیک ناروغی کې چې اوس مهال په طب کې دومره نه کارول کیږی .

## Polycytemia
هغه حالت چې ویني دورانی بهیر کې د سروکریواتو غیر نورمال ډول زیادښت لیدل شی.

## Polycytemic
د (Polycytemia) اړوند صفت .

## Polycystitis
دا یو ډول ولادی ناروغی ده چې په پښتورګو کې ګڼ شمیر سیستونه شتون لری چې ورسره د سیستونو التهاب هم شته والې لری.

## Polycythaemia
د ویني د حجراتو د سرو کریواتو په زیاته پیمانه شتون .
د (Polycythemia ) په انډول.

**Polycythemia Hypertonica**
هغه پولیسایتیمیا چې د فرط فشار او طحال ضخامې سره مل وی ، د (Gaisböck Syndrome ) انډول .

**- Polycythemia Rubra** ,
د ویني د سروکریواتو د کتلې زیادښت .

**- Polycythaemia Vera**
د ناپیژانده لامل لرونکې میلوپرولیفراتیف اختلال چې د( هډوکی د تیلو عنصرونو د غیرنورمال ارتشاح ، د سروکریواتو کتلې د مطلق زیادښت ، طحالی ضخامه ، لوکوسایتوز او ترومبوسایتیمیا )پواسطه پیژندل شی ، د (Erythraemia, Vaquez-Osler Disease ) په انډول .

## Polycythemic
د (Polycythaemia )اړوند صفت .

## Polycyttaria
دا د (Radiolaria ) یوه ډله ده چې ګڼ شمیر مرکزی پوښونه لری.

## Polydactyl
په غیر عادی بڼه د لاس اوپښو د ګڼ شمیر ګوتولرل .

دئ دا د ګڼ شمېر دندو تر سره کوونکي پيپټايډ پورته او کښته ارتشاح ، تو پير ، نښتنه ، مهاجرت ، مرګ او نورې دندې په ډېرو حجرو کې تنظیموي او د ( Peters' Anomaly) سره مل وي چې د سترګو دقدامي چمبر ولادي انومالي ده.

**Polyester**

پولي ايستر ، دا یسترونو یو مشتق د ګڼ شمېر ترکیبي پولیمیر هر یو تولیدچې عمدتاً د (Dibasic Acids ) اود ( Dihydric Alcohols) غبرګون منځ ته راوړي . ګڼ شمېرفیلمنټ( Multifilament Strand ) تار چې ترکیبي پولي میر دئ .

**- Polyester Base**

هغه فلم چې لپاسه وربادي فوتوګرافیک غوړ مواد اچول شي تر څو یوه صفحه جوړه شي.

**- Polyester Fiber**

د پولي ايستر فايبرونه يو چټک وچېدونکې ( Resilient Synthetic Fiber) دئ چې د ابتدائي پولي ايستر څخه جوړېږي.

**- Polyester Laminate**

پولي ايستر صفحه ،د ښیښې اړوند فایبری څیز چې د بڼو جوړولو پوښونو ، تارونو جوړولو کې پکار وړل شي .

**- Polyester Mesh**

جراحي مش (Mesh) هغه مصنوعي ټوټه چې د جراحي عملیاتونو د په لړ کې د ضعیفه برخو تقویه لپاره پکارېږي.

**- Polyester Resin**

د پولي یستر اړوند ریزین مرکب چې ( Thermosetting یا Thermoplastic Synthetic Resin) دئ چې د ایسترېفیکېشن له لارې لاس ته راځي .

**- Polyester Suture**

هغه د جراحي عملیاتونو کې پکارېدونکي (Multifilamen) تارونهچې ګڼ شمېر ډولونه لري لکه [ Dacron Impregnated یا چې د ( Teflon, Silicone Or Polybutylate) پذریعه پوښل شوېدي] چې د غیر جذبي تارونو په څېرپکار وړل شي.

**Polyesthesia**

داسې یو احساس چې د یوه ټکي سره تماس وروسته د ګڼ شمېر ټکو سره تماس نیولو احساس پېښېږي .

**Polyestradiol Phosphate**

پولي ايسترادیول فاسفېټ مرکب .

**Polyestrus**

د پولي ایستر لرونکي.

**Polyethylene**

پولي ايتايلين کېمياوي مرکب جوړښت چې پولیمریز شوی چې فورمول يې ($-Ch_2-Ch_2-$) هغه مصنوعي پلاستیک چې په ترمیمي جراحي کې پکارېږي .

**- Polyethylene Glycol (PEG)**

دا د ایتایلین اکساید او اوبو پولیمیر چې په اوبلن یا موم ډوله بڼه چمتو کېدای شي او د درملو په مختلفو بڼو کې ورڅخه ګټه اخلي .

**Polyglactia**

د شیدو د افراز زیاتوالې .

**Polygeline**

دا یو ډول پولیمیر دئ چې د پلازماد حجم د زیاتوونکي په توګه ورڅخه ګټه اخیستلای شي.

**Polygene**

د غیر الیلي جینونو یوه ډله چې اضافي اغېز لرونکي یوه کرکټر د پېښولو په موخه په بل کې تداخل کوي.

**Polygenic**

د (Polygene) اړوند صفت . د ګڼ شمېر جینونو درلودونکي.

**Polyglactin [910]**

د جذب وړ جراحي تار .

**Polyglandular**

د ګڼ شمېر غدواتو اړوند.

**Polygraph**

هغه وسیله چې په و وخت کې دبدن د بېلابېلو برخو د[نبض ، فشار ، تنفس] ثبتولو اړوند پکاروړل شي.

**Polygyria**

د (Polymicrigyria ) په انډول.

**Polyhidral**

دڅو سطحو یا ژبو لرل .

**Polyhidrosis**

د (Hyperhidrosis) په انډول.

**Polyhydramniose**

د( Hydroamnios ) په انډول.

**Polyhydric**

د هایدروکسیل له دوه څخه د زیاتو ګروپونو لرل.

**Polyinfection**

ګڼ شمېر انتانات، د یوه ارګانیزم څخه د زیاتو مکروبونو په ذریعه اخته کېدنه .

## Polymicrobial
د ګڼ شمېر مېکروبونو شته والې . د (Polymicrob) اړوند صفت .

## Polymicrobic
د (Polymicrob) اړوند صفت .

## Polymicrogyria
د ماغزو د تکاملی انومالیو څخه چې د زیاتو تلفیفونو او تاوراتاوي (Microgyria) په شته والی سره پېژندل شی.

## Polymorph
د ډېرو بڼو خاوند ، د (Neutrophil) په انډول.

## Polymorphic
د (Polymorph) اړوند صفت .

## Polymorphism
د څو بېلابېلو څېرو (شکلونو) د شتون څرنګوالې .

**- Balanced Polymorphism**
د هومو زایګوټونو او هیتروزایګوټونو انډول لرونکی مخلوط چې د هوموزایګوټونو پر ضد طبیعی انتخاب په واسطه رامنځ ته کېږی.

## Polymorphocellular
د څو بېلابېلو څېرو (شکلونو) حجرو شتون اړوند.

## Polymorphnuclear
د څو بېلابېلو څېرو (شکلونو) څو لوبیزه هسته چو اړوند. د څوګونو هسته په بڼه لیدل کېدنه ، پولیمورفونوکلیر لوکوسیټ په انډول.

## Polymorphous
د څو بڼو لرل ، څو شکله ، د ګڼ شمېر څېرو لرل.

## Polymyalgia
هغه درد چې عضلات اخته کوی .

**- Polymyalgia Rheumatica**
درماتیزم له امله د عضلاتو درد ، شخی ، ضعیفی او حساسیت چې په سپین ږیرو کې لیدل شی.

## Polymyoclonus
په یوه وخت کې په څو عضلاتی ګروپونو کې مایوکلونوس .

## Polymyopathy
هغه ناروغی چې په یوه وخت کې څو عضلې اخته کوی ، د عضلاتو اړوند ناروغی.

## Polymyositis

## Polyionic
د څو متفاوتو آیونونو (پوتاسیوم ،سوډیم ، مګنیزیوم ...) لرل لکه څو آیونی محلول.

## Polylactic Acid
د هایدروفوبیک هایدروکسی اسید پولی میر چې د ګرانولونو په بڼه جوړېږی او د غاښ تر ویستلو وروسته د پانسمان لپاره پکارېږی.

## Polyleptic
د څو ځله جوړېدو او بابېړی کولو لرل.

## Polymastigote
څو فلاجیلونه لرل ، هغه (Mastigote) چې څو فلاجیلونه لری

## Polymelus
هغه شخص چې ډېر اندامونه لری.

## Polymenorrhoea
د حیض ډېره واره منځ ته راتګ ، ګڼ شمېر د حیض دورې ، د زیات مقدار لرونکې حیض دوره ، د (Polymenorrhea) په انډول.

## Polymer
پولیمیر ، هغه ماده چېمعمولاً لوړ مالېکولی وزن لری او د ساده مالیکولونو (مونومېر) له خطی ترکېب څخه جوړېږی . دغه ماده کېدای شی د بل اضافی محصول له جوړېدو سره یوځای وی .

## Polymerase
هغه انزایم چې (POLYMERIZATION) پولیمېریزیشن کتلایز کوی .

**- Polymerase Chain Reaction (PCR)**
هغه تخنیک چې د جنیتیک موادو تقویه او د جنیتیک تشوشاتو د تحلیل تنظیم لپاره پکار وړل شی. د پولیمرایز ځنځیر غبرګون یو چټک تخنیک دئ چې په (Vitro In) کې د (Rna) او (Dna) وسعت اوقوت پېژنی.

## Polymeric
د (Polymer)اړوند صفت.د پولیمیری ځانګړنو لرونکې.

## Polymerization
د پولیمیر د جوړېدو لپاره د څوساده مادو ترکیب.

## Polymethal Methacrylate
پولی میتایل –میتاکریلیک اسید مالګه .

## Polymicrob
ګڼ شمېر مېکروبونه.

د استحالوی او ریجنیراتیف بدلونونو سره مل د څو عضلو التهاب چې د عضلاتی کمزورتیا لامل ګرځی چې د عضلی کتلې د له لاسه ورکولو سره په تناسب کې نه وی چې درملنه یې د (ستروئیډی درملو ، معافیت شاتنبوونکو درملو او تمریناتو) پذریعه تر سره کیږی .

## Polymyxin

پولي مېګزین درمل، چې د (**Bacillus Polymyxa**) ترلاسه کیږی انتی بیوتیکونه دی دا انتی بیوتیکونه د الفبا تورو پذریعه یو له بله جلا کیږی .

**- Polymyxin B**

دا د پولي مېګزین درملو یوه ډله انتی بیوتیک دی چې لږ زهرجن دی سلفیتی مالګې جوړښت څخه یې د ګرام منفی باکتریاوو درملنه کې کار اخیستل شی.

## Polynesic

په څومحراقونو کې واقع .

## Polyneural

د ګڼ شمېر اعصابو اړوند چې د یوه غړی تعصیب پرغاړه لری.

## Polyneuralgia

د څو اعصابو درد .

## Polyneuritis

په یو مهال د ګڼ شمېر محیطی اعصابو التهاب .

**- Acute Febrile Polyneuritis**

د صعودی او چټکې پرمختیا سره مل حاد حرکی فلج چې له پښو څخه پیل او په پورته لورې ته ځی او غالباً د تنفسی یا کولمو انتانی ککړتیا وروسته منځ ته راځی ،تبه لرونکې حاد پولی نیوریټ.

**- Acute Idiopathic Polyneuritis**

د (**Acute Febrile Polyneuritis** ) په انډول .

## Polyneuromyositis

له پولی میوزیټ او پولی نیوریټ ګډ ډول التهاب.

## Polyneuropathy

پولی نیوروپتی ، یو له بل سره د څو اعصابو په ګډه پولی نیوریټ.هغه ناروغی چې ګڼ شمېر اعصاب اخته کوی ،ګڼه شمېره یې د (**Polyneuropathies** ) په انډول ده .

**- Amyloid Polyneuropathy**

د امایلوئید ناروغی له امله پولی نیوروپتی چې د (خودکار عصبی سیستم بې دندېتوب ، کارپو ټونل سنډروم ، د نهایاتو حسی ناروغی) پېښوی.

**- Erythrederma Polyneuropathy**

د نهایاتو درد لرونکی ناروغی چې د نهایاتو سوروالی سره مل وی ، د (**Acrodynia**) په انډول .

**- Familial Amyloid Polyneuropathy**

فامیلی امایلوئیدی نیوپتی چې اوتوزومال او ارثي بنه لری .

## Polyneuroradiculitis

د (**Acute Idiopathic Polyneuritis**) په انډول.

## Polynuclear

څو هستې لرونکې ، پولی مورفو نوکلیر حجره.

## Polynucleate

څو هسته ائیز ، د ګڼ شمېر هستو خاوند .

## Polynuleotide

د مونونوکلیوټایډ هر یو پولی مېر .

## Polymavirinae

پولیوما ویروسونه ، د پاپوواویریدیا د کورنۍ د ویروسونو یوه کوچنۍ ډله ده .

## Polymavirus[1]

د پولیوما ویرینا دکوچنۍ کورنۍ د ویروسونو یوه کوچنۍ ډله ده چې په لابراتواری حیواناتو کې تومورونه پېښوی.

## Polymavirus [2]

د پولیوما ویرینا دکوچنۍ کورنۍ د ویروسونو هر یوغړی.

## Polyopia

د یوشی څخه د څو تصویر (انځورونو) باصری درک .[د (**Polyopsia**) او (**Polyopy** ) ]په انډول

## Polyorchidism

د دوه څخه د زیاتو مرغېړیو لرل ، د ګڼ شمېر مرغېړیو (خصیېو ، بیضې) لرلو حالت .

## Polyorchis

د ګڼ شمېر غېر عادی مرغېړیو(بیضې) لرونکې کس .

## Polyostotic

د څو هډوکو اخته توب اړوند.

## Polyovular

د غېر عادی ګڼ شمېر هګیو پواسطه تولید شوې لکه د څو بیضوی غبرګولی یا دوه ګونی .

## Polyovulatory

په یوه هګۍ ځالې (تخمدان) سیکل کې د څو هګیو منځ ته راتګ اړوند.

## Polyoxyl

د سرفکتانټونو یوه ډله چې د استیاریټ د مونو او ډاکسي ایتایلین د واحدونو د منځنی اوږد والی له مخې شمېره اېښودنه دغه مرکبونه په درملیز مرکباتو کې پکارېږي.

## Polyp

پولیپ، د مخاطي غشا اړوند وده موندلې تومور یا وده چې معمولاً په (پوزه ، خوله ، ستوني ، ریکټوم ، او غټوکولمو) کې منځ ته راځي چې ورته (Polypus ) هم وائي.

**- Adenomatous Polyp**

اډینوماتوئید پولیپ ، سلیمه نیوپلاستیک وده چې ښائي خباثت ته واوړېدلای شي چې معمولاً په (معدې ، خوله ، ستوني ، ریکټوم ، او غټوکولمو) کې منځ ته راځي د اپیتلیائي نسج پرولفیریشن په بڼه رابښکاره کېږي .

**- Fibrinous Polyp**

فیبریني پولیپ، د احتباس شوي وینې او فیبرین څخه جوړ داخل الرحمي پولیپ.

**- Juvenile Polyp**

دکوچنیوالي پولیپ ،د لویو کولمو سلیم همارټوما تومور چې په ماشومانو کې لیدل شي .

**- Rectal Polyp**

د ریکټوم برخې اړوند پولیپ .

**- Retention Polyp**

احتباسي پولیپ، د (Juvenile Polyp او Fibrinous Polyp ) په انډول .

## Polypectomy

د جراحي عملیات پواسطه د پولیپ د راویستلو او غوڅولو کړنلاره بلل شي ګڼه شمېره یې (Polypectomies) ده .

## Polypeptide

پولي پیپټایډ، د پروټین هغه ډول چې د امینواسیدونو دیوځای کېدنې اړیکو څخه ترلاسه کېږي.

## Polypeptidemia

په وینه کې د پولیپیپټایډونو(Polypeptide) شته والی حالت .

## Polyphagia

دډېرې اندازې خوراک ، ډېر خوراک ته لېوالتیا لرل.

## Polyphalangia

د یوې ګوتې د ډېر شمېر بندونو مضاعف کېدنې حالت. ګوتو د ډېر بندونو لرل.

## Polyphalangism

هغه حالت چې پکې یوه ګوته ګڼ شمېر بندونه ولري. د (Polyphalangia )په انډول.

## Polypharmacy

په یوه وخت کې په ګډ ډول د ګڼ شمېر درملو تجویز ، د درملو له حد څخه د زیات مقدارونو سپارښتنه کول.

## Polyplastic

د ډېرو جوړښتیزو عنصرونو لرل، د بې شمېره جوړښتیز بدلونونو لاندې راتلل.

## Polyploidy

د هومولوګ کروموزومونو د دوه ډوله لړیو زیاتو لړیو لرل.

## Polypnea

ډېره ساکښنه ، د (Hyperopnea) په انډول.

## Polypoid

پولیپ ته ورته. د پولیپ په څېر جوړښت.

## Polyporous

د ګڼ شمېر سوریو لرل .

## Polyposis

د په کولمو کې د ګڼ شمېر پولیپونو شته والې حالت ، د څوپولیپونو جوړېدل .

**- Familial Adenomatous Polyposis**

د کولمو (کولون) د مخاطي غشأ ګڼ شمېر پولیپونو منځ ته راتګ چې دا په ارثي او فامیلي ډول شتون لري چې د خباثت اووښتنې ته په لوړه کچه لېواله دی .

## Polypous

پولیپي شکله ، د پولیپ (Polyp ) په انډول ، ګڼه شمېره یې (Polypi ) ده.

## Polypropylene

صنعتي کریسټالیني ترومبوپلاستیک پولیمېر دئ چې مالیکولي وزن یې (40000) او فورمول یې $(C_3H_5)N$ دئ او په غشالرونکو اوکسیجنیراتورونو او جراحي سیسټمونو کې د غشأیي مادې پتوګه پکارېږي.

## Polyptychial

څو کړیز ، ګڼ شمېر حلقوي جوړښت .

## Polypus

پولیپي شکله ، د پولیپ (Polyp ) په انډول.

## Polyradiculitis

داعصابو دګڼ شمېر ریښو (جذرونو ) التهاب .

## Polyradiculoneuritis

## Polyspermy

1.د یوه ځخه د زیاتو سپرمونو (Spermatozoa ) پواسطه د هګۍ القاح کول (Fertilisation) چې د ځینو جنسونو لپاره نورمال ( Physiologic Polyspermy ) او د ځینو لپاره غیر نورمال (Pathologic Polyspermy ) دی . 2. د زیاتي پیمانې مني افراز .

- **Pathologic Polyspermy**

غیر نورمال (مرضی ، پتالوژیک) ډول پولی سپرمی .

- **Physiologic Polyspermy**

نورمال (عادی ، فزیولویک) ډول پولی سپرمی .

## Polystyrene

د ستیرول د پولی میریزیشن ځخه تولید شوې رزین چې د شفاف او رڼه ترومبوپلاستیک نوعیت ځخه برخه من دی او د غاښونو په جوړولو صنعت کې ترې کار اخیستل شی.

## Polysynaptic

د ګڼ شمیر ساینپس درلودونکی عصبی بهیر اړوند .

## Polysyndactyly

یو له بل سره ساینډکټیلی او پولی ډکټیلی ارثی ملګرتیا لرل ، یو له بل سره دزیاتو ګوتو نښتې بڼه شتون.

## Polytef

د تیترا فلوروایتیلین پولیمیر چې د پروتیز په توګه پکاریږی.

## Polyten

د کروماتین د ځو ځنځیرونو ځخه جوړ شوې مرکب.

## Polytenosynovitis

یوه وخت کې د ځو ټینډونونو پوښونو التهاب. د ګڼ شمیر وترونو (ټینډونونو) د پوښونو ګډ التهاب.

## Polythelia

د تی د ځوکو شته والې .

## Polythiazide

تیازیدی ډیوریټیک چې د هایپرټنشن او اذیما په درملنه کې پکاریږی.

## Polytomogram

د پولی ټوموګرافی ماشین ، د د پولی ټوموګرافی ماشین پذریعه ثبت شوې انځور.

## Polytomography

د (Acute Idiopathic Polyneuritis) په اندول. هغه عصبی ناروغی چې د عصبی رشتې د جذری برخه اخته کوی.

## Polyradiculoneuropathy

د محیطی اعصابو د نخاعی جذرونود ریښو ناروغی ، د (Acute Idiopathic Polyneuritis) په اندول.

## Polyribosome

د رایبوزومونو یوه ټولګه چې له (M RNA) سره ګډه سره نښلی چې د پیپټاید په جوړښت کې ونډه لری.

## Polysaccharide

پولی سکراید ،هغه کاربوهایدریټ چې هایدرولیز او تجزیه یې ګڼ شمیر مونوسکرایډونه رامنځ ته کوی لکه د ( Starch او Cellulose ) په څیر چې په اوبوکې غیر منحل دی او کریستالونه نه رامنځ ته کوی..

## Polyserositis

د ګڼ شمیر مصلی طبقو التهاب ، د سیروزا غشأ ګانو اوبلن یا انصباب لرونکې التهاب .

## Polysome

د ( Polyribosome ) په اندول.

## Polysomnograph

د خوب په مرحلو او حالتونو پورې اړوند ځوګونې فزیولوژیک رنګارنګتوب ثبت او ریکارډ لپاره وسیله.

## Polysomnography

د خوب په مرحلو او حالتونو پورې اړوند ځوګونې فزیولوژیک رنګارنګتوب ثبت او ریکارډ چې د خوب دناجوړتیاو احتمالی بیولوژیکو تشوشونو د علتونو ارزوونې په موخه تر سره کیږی.

## Polysomy

د یوه ځانګړی کروموزوم د شمیر زیاتوالې .

## Polysorbate

د ایتایلین اکسایډ د پولیمیرونو سره یو ځای د سوربیټول او د هغه د انهایدرس کانډنسډ د اولیاتی ایسټرونو یو ډله ده چې د سرفیکټانټ عواملو په توګه پ ّپام کې نیول شی.

## Polyspermia

د (Polyspermy ) په اندول .

## Polyspermism

د (Polyspermy ) په اندول .

د پولی ټوموګرافی ماشین پواسطه ثبتولوکړنه چې د ګڼ شمېر مقطع ګانو کې د د نسج توموګرافی.

## Polytrauma

د بدن د ګڼ شمېر برخو ټپی کېدنه ، د بدن د ګڼ شمېر برخو مصدومېدل ، د بدن د ګڼ شمېر برخو ترضیضونه.

**- Polytrauma Guideline**

د پولی تراوما د اړوند لارښود .

**- Polytrauma Management**

د پولی تراوما د اړوند درملنې او تدابیرو کول.

**- Polytrauma Patient**

د پولی تراوما ټپی ناروغ .

**- Polytrauma Protocol**

د پولی تراوما د اړوند د درملنې پروتوکول.

**- Polytrauma Service**

د پولی تراوما د اړوند سروېس او د خدمتونو څانګه.

**- Polytrauma Therapy**

د پولی تراوما د ټپی ناروغانو درملنه .

**- Polytrauma Treatment**

د پولی تراوما د ټپی ناروغانو درملنې لارې چارې .

**- Polytrauma Ward**

د پولی تراوما د اړوند سروېس او د خدمتونو څانګه.

## Polytrichia

د (**Hypertrichosis**) په انډول.

## Polyunsaturated

د شحمی اسیدونو په څېر کېمیاوی ماده چې دوه یا څو دوه ګونې یا درې ګونې رابطې په خپل هایدروکاربنی ځنځیر کې لری.

**- Polyunsaturated Fat**

د شحمی اسیدونو هغه ډول چې ډېره پیمانه هایدروجن د نورو په پرتله جذب کوی لکه (نباتی او کبانو ) غوړی.

## Polyuria

د متیازو د اطراح زیاتوالې چې په بې خونده شکرې ناروغۍ کې لیدل شی. پرېمانه او زیاته اندازه متیازې کول.

## Polyvalent

د ګڼ شمېر ظرفیت (**Valency**) او اړیکو نیولو کېمیاوی جوړښت . د (**Multivalent** ) په انډول.

## Polyvinyl

د وینایل مونومیریک مرکب د پولی میریزیشن محصول.

**- Polyvinyl Chloride**

یو بې خونده او بې بویه رزین چې د کلورایدی وینایل له پولي میریزیشن څخه په لاس راځي او دنساجي په صنعت کارېږی ، هغه کارګران چې چې لدې مادې سره سروکار لری د وینایل کلوراید د زهرجنتوب له امله د خطر سره مخامخ دی.

**- Polyvinyl Pyrrolidone**

د پاویډون (**Pavidone**) په انډول.

## POM

د (**Prescription-Only Medicine** ) لپاره لنډه نښه ده.

## Pompholyx

د پوستکی شدیداً خارښت لرونکی (**Eczema**) ناروغی چې د لاسونو او پښو دګوتو د څنډو او اړخونو کې ددانو په بڼو رامنځ ته کېږی د (کوچنیو، ګردیو ، او څرګندو پولو لرونکو ،پزیکولونو) څېرې یا شکلونه لری.

## Pomum

منه .مڼې په څېر جوړښت.

## Pons

① حدبه یا پُل ، ② هغه نسجی ژبې چې د یوه هډ دوه برخې سره نښلوی.مغزی پُل ،③د مرکزی اعصابو سیستم یوه برخه چې د مخیخ په قدامی برخه کې د بصل النخاع کې د بصل النخاع او منځني مغز تر منځ پرته ده ګڼه شمېره یې (**Pontes** ) ده .

**- Pons Hepatis**

هغه راوتلې برخه چې ځینې وختونه شتون لری او د ینې د طولی مېزابې پر سر پُل جوړوی .

**-،Pons Varolii**

د (**Hindbrain** ) یوه برخه چې د هغه رشتو څخه منځ ته راغلې چې د (**Medulla Oblongata** ) تعقیبوی ګڼه شمېره یې (**Pontes Varolii**) ده دا لومړې ځل د ایټالوی طبی اناټومیست د (**Constanzo Varolius**) پذریعه په کال (**1543– 75**) کې ژوند کاوه شرحه شو.

## Pont-

دا یو مختاړې دئ د (حدبې ، پونس ، **Pons** ) معنی لری.

## Pontes

د (**Pons** ) ګڼه شمېره.

## Pontic

د (**Pons** ) اړوند صفت .حدبه ئی .

## Ponticular

د (**Ponticulus** ) اړوند صفت.

## Ponticulus

د پُل ته ورته کوچنی جوړښت.

## Pontifical
داسقف. د اسقف، په اسقف پوري اړوند صفت .

## Pontine
د (**Pons**) اړوند صفت . حدبه ئی.

**- Pontine Cistern**
حدبی سیسترن ، هغه د (**Subarachnoid Space**) واټن چې د حدبې قدام ته پرته او قاعدوی شریان (**Basilar Artery**) لرونکې دئ.

## Ponto-
دا یو مختاړې دئ د (حدبې ، پونس ، **Pons**) معنی لری.

## Pontobubar
د حدبې او بصل النخاع هغه برخې سره په تړاو کې چې د هغه په شټ کې قرار لری.

## Pontocerebllar
حدبی –مخیخی ، د حدبې او مخیخ اړوند صفت.

## Pontomesencephalic
حدبی –میزانسفالی ، د حدبې او مېزانسفالون اړوند صفت.

## Poor
ضعیف، ناتوانه ، کمزوره .

**- Poor Circulation**
ضعیف ډول د وینې بهیر .

**- Poor Condition**
ضعیف حالت ، ضعیفه بڼه ، ضعیف وضعیت.

**- Poor Function**
ضعیف دنده ، ضعیف وظیفه .

**- Poor Health**
ضعیف روغتیائی حالت .

## Poorly
په ضعیف بڼې سره ، ضعیف ډول سره.

## POP
د (**Progesterone Only Pill**) لپاره لنډه نښه ده .

## Popeyes
د راوتلې سترګې لپاره ګڼه شمېره .

## Popliteal
د پوپلیتیال یا ګونډې (زنګون) د خلفی برخې اړوند صفت.

**- Popliteal Artery**
د پوپلیتیال برخې شریانی رګ چې د فخذی شریان یوه څانګه ده.

**- Popliteal Fossa**
د پوپلیتیال فوسا یه هغه برخه چې د زنګون د خلف د (**Hamstring**) او (**Calf Muscle**) ترمنځ پرته ده چې ورته (**Popliteal Space**) هم وائی .

**- Popliteal Muscle**
د پوپلیتیال عضلات ، د (**Popliteus**) په اړوند.

**- Popliteal Space**
د (**Popliteal Fossa**) په اړوند.

## Popliteus
د زنګون د شټ او شا برخې عضلات ، د (**Popliteal Muscle**) په اړوند.

## Population
خلک ، نفوس ، وګړی .د یوې ټولنې اوسېدونکی .

**- Hospital Population**
د روغتون د ناروغانو تعداد.

**- Population Statistics**
د وګړو سرشمېرنه ، د نفوس احصایه .

## POR
د (**Problem Oriented Record**) لنډه نښه ده.

## Poradinitis
د کوچنیو دانو (ابسېګانو)له جوړښت سره مل د لمفاوی غوټو التهاب .

## Porcine
د خنځیران (خوږ ، **Swine**) اړوند صفت .

## Pore
په پوستکی کې کوچنې سورې چې ورڅخه خوله بهر ته راوځی ،تشه فضأ ، د دوه جوفونو ترمنځ د اړیکې تېرېدنې لپاره کوچنی لاره .

**- Alveolar Pore**
سنخی کوچنی فضأ ، دسږو د دوه الویولونو تر منځ سوری چې اجازه ورکوی هوا له یوه الویول څخه بل ته تېر شی.

**- Nuclear Pore**
هستوی کوچنی تشه فضأ ، د دواړو هستوی غشأګانو تر منځ د پیوستون په ځای کې د هستوی پوښ پرمخاته مخیز سوری چې دغه سوری د منفذونو یوه ټولګه جوړوی .

**- Slit Pore**
و پښتورګو د ګلومیرولونو د پوډوسایټونو د پیډیکلونو تر منځ پرې شوې سوری ډوله فضأګانې.

## Porencephalia
د پورانسفالی ( **Porencephaly**)ناروغه حالت شتون.

## Porencephalitis
د پورانسفالی سره مل او ګډ ډول التهاب.

د پورانسفالی ( **Porencephaly** )اړوند صفت.

## Porencephaly

د ماغزو د قشر په نسج کې د غېر نورمال سیستونو او جوفونو شته والي چې د یوه اړخیزه بطین سره تړاو لری د ( **Porencephalus** او **Porencephalia** ) ته ورته نوم دئ.

## Poro- 1

دا یو مختاړې دئ او د (تیریدو لارې ، منفذ ، سوری ، تشې فضأ) معنی بشپړوی.

## Poro-2

دا یو مختاړې دئ او د (ډبرې ، تیږې ، کاڼی ) معنی بشپړوی.

## Porokeratosis

د رګونو د منفذونو د شاوخوا تقرنی طبقې د هایپرټروفی (ضخامه) سره مل د ارثی درماتوز چې د مرکز په لورې خپرېږی او د ( **Porokeratosis Of Mibelli**) پنامه هم یادېږی

## Porokeratotic

د (**Porokeratosis** ) اړوند صفت.

## Poroma

هغه ټومور چې له یوه منفذ څخه یې سرچینه اخیستې وی.

**- Ecrine Poroma**

هغه سلیم ټومور چې د ایکرین غدې د درمی دننه (داخلی ) برخې څخه یې سرچینه اخیستې لکه معمولاً د پښو د تلی تومور.

## Porosity

سورې شوې حالت ، سورې والې ، سورې توب ، منفذی.

## Porotomy

د خولې جوړول ، سورې کول ، میاتوټومی کول .

## Porous

**1.**د سوری ګانو لرل ،چاڼیز، د تشې فضأ څښتن ، . **2**دهغه جوړښت اړوند چې مایع ته د تیریدو اجازه ورکوی .

**- Porous Bone**

هغه هډوکې چې د غوږ د (**Eustachian Tubes** ) چاپیر یې احاطه کړیدئ.

## Porphin

د څلورو پایرولی کړیو یو تر بله سره د نښلیدو اسکلیټ ، چې د (پورفایرین، هیمین ، سایتوکرومونو ، او کلوروفیل ) څخه منځ ته راځي.

## Porphobillinogen

دا د هیم (**Haem**) په سنتېزیس کې یو منځنۍ محصول دئ.

## Porphyria

دا یوه ارثی ناروغی ده چې د پورفایرین صباغ د مېتابولیزم د ناجوړتیا یوه ډله ده چې د ( **Porphyrin Pigments**) یا د هغه د پریکارسورونو د تولید یا افراز په زیادښت د ګېډې دردونه او عقلې اختلالونو سره پېژندل شي .

**- Acute Intermitant Porphyria(AIP)**

حاد کبدی پورفایرین چې د پایرول په میتابولیزم کې د نیمګړتیا له امله منځ ته راځی د( ګېډې دردونه ، عصبی ٠هضمی اختلالونه او په متیازو کې ګاما امینو لوولینیک اسیډوز پورفو بلینوجن د کچې زیاتوالې) پېښوی .

**- Congenital Erythropoitic Porphyria (CEP)**

د وړانګو په وړاندې د جلدی حساسیت له زیاتېدو سره مل د ارثی اریتروپوئیتیکه پورفایریا چې په (هیمولایټک انیمیا ، سپلینومېګالی، د پورفایرین بولی اطراح زیاتوالی ، ایریترودانشیا او هایپر کراتوزیس ) سره پېژندل شی.

**- Porphyria Cutanea Tarda (PCT)**

د وړانګو په وړاندې د جلدی حساسیت له زیاتېدو سره مل چې د (تندب لرونکو بولونو ، هایپرپګمنټیشن ، د مخ هایپر کراتوزیس ، او کله ناکله د سکلیرودرماتوزی ضخامت د زیادښت ،الوپسیا ) لامل ګرځی چې هیم د سنتېز د انزایم د فعالیت کمښت سره مل وی.

**- Porphyria Cutanea Tarda Hereditaria**

د ( **Verigate Porphyria** ) پخوانې نوم دئ چې لنډه نښه یې (**PCT H**) ده.

**- Porphyria Cutanea Tarda Symptomatica (PCTS)**

د(**Cutanea Tarda Porphyria**) پخوانې نوم دئ.

**- Erythrohepatic Porphyria**

هغه پورفایریا چې په لړ کې یې په ینه او هډوکو ماغزو کې د پورفایرین او د هغه د پریکارسورونو د افراز زیاتوالې شتون لری .

**- Erythropoitic Porphyria**

پدې ډول کې د پورفایریا چې په لړ کې یې په هډوکو ماغزو کې د پورفایرین او د هغه د پریکارسورونو د جوړښت یا د افراز

هغه مستعرض ډول فیسور چې د کبد پرسطحه د مېزابې په څېر واقع دئ او د هغه له لارې (کبدی شریان ، باب ورید ځېګر ته تېرېږي او کبدی قناتونه بهر ته راوځي).

**- Porta Lienis**

د طحال یا توری اوړند ضُره چې د طحال معدوی مخ لپاسه واقع ده او د هغه له لارې (طحالي شریان ، طحالي ورید د توری دننه ته تېرېږي) ، د ( **Hilum Splenicum, Hilum Lienale**، **Hilum Of Spleen**) په انډول.

**- Porta Pulmonis**

**1.** د سږو اړوند ضُره ، د ( **Wedge-Shaped Depression**) په ننوتې برخه چې د سږو د مدیاستینوم (منصفي) سطحې لورې کې واقع دی د هغه له لارې (ریوی شریان ، ریوی ورید ، اساسی قصبه ، عصب د سږو دننه ته تېرېږي او لمفاوی چینل غدې او قناتونه ورڅخه بهر ته راوځي ). **2.** د راډیولوژی فلم ارزوونې له مخې هغه خیال (سیورې) چې د دواړه سږو د اناټومیک ضُرې ته څېرمه برخه کې منځ ته راځي، د( **Hilum Of Lung** ، **Hilum Pulmonis**) په انډول.

**- Porta Renis**

د پښتورګو ضُره ، کلیوی ضُره، د بډوډی هغه ننوتې برخه چې انسی ته متوجه ده او د (سګمنتیي کلیوی شریان ، سګمنتیي کلیوی ورید ،کلیوی عصب د بډودو دننه ته تېرېږي او لمفاوی چینل غدې او متیازو تخلیوی حویضه ورڅخه بهر ته راوځي). د ( **Hilum Of Kidney**، **Hilum Renale** ) په انډول .

## Portability

د لېږدولو توان لرونکې .

## Portable

د لېږد وړتیا لرل ، لېږدېدونکې، له یوه ځایه وبل ځای ته انتقال کېدونکې.

**- Portable Blood**

د لېږد وړتیا لرونکې وینه .

**- Portable Blood Testing Unit**

د لېږد وړتیا لرونکې وینې نمونه چې د آزمایښتونو لپاره پکار وړل شي .

**- Portable Chest X- ray**

د لېږد وړتیا لرونکې صدری راډیوګرافي فلم .

**- Portable Coverage**

د لېږدولو وړتیا لرونکې پوښښولو څېزونه .

**- Portable First Aid Kit**

د لېږد وړتیا لرونکې لومړنیو مرستو بسته / ټولګه .

**- Portable Radiography**

د لېږد وړتیا لرونکې راډیوګرافي .

## Portacaval

د باب ورید او ښکتنی بطنی اجوف ورید اړوند صفت .

زیاتوالي رامنځ ته کېږي پدې ډول پورفایریا کې ولادی اریټروپوئیټیک پورفایریا او اریټروپوئیټیک پرو پورفایریا ورګډ یږي.

**- Hepatic Porphyria**

هغه پورفایریا چې په لړ کې یې په ینه کې د پورفایرین او د هغه دپریکارسورونو د تولید زیاتوالي شتون لري .

**- Hepato erythropoitic Porphyria (HEP)**

د جلدی تارډا (**Cutanea Tarda**) پورفایریا یو شدید ډول دئ چې داسې انګېرل شي د هغه اړوند انزایم د فقدان له امله منځ ته راځي چې د هیم (**Haem**) د تولید او سنتیېزس لارې (**Pathway**) په لړ کې چې د پورفیبرینوجن باندې د یوروپورفیبرینوجن اووښتنه کتلایز کوی .

**- Variegate Porphyria**

ارثي کبدی پورفایریاچې د جلدی مزمنو تظاهراتو سره مل وي.

## Porphyrin

دا د (**Metal-Containing Biological Pigments**) مرکبونو یوه ډله چې د پورفین (**Protoporphyrin- IX**) جوړښت لري او بېلابېل جانبي ځنځیرونه ورسره نښلي او د ځنځیرونو ماهیت د یوه مختاړي په راوړلو سره ټاکل کېږي .دغه مواد د د فلزي آیونونو سره یوځای په (هیموګلوبین ،مایوګلوبین سایټوکروم او همدا ډول په آزاد بڼې پورفایریا ناروغۍ کې) په نسجونو کې لیدل شي .

**- Porphyrin Pigments**

د پورفایرین صباغ .

**- Porphyrin Poisoning**

د پورفیرین مسمومیت .

**- Protoporphyrin**

پروټوپرفایرین .

## Porphyrinuria

په تشمو متیازو کې د ګڼ شمېر پورفایرینونو شته والې او اطراح چې د ( **Porphyria** یا د **Metal Poisoning**) لپاره یوه نښه ده.

## Porta

ضُره ، دروازه ، دننوتلو ځای ، دغړو یا ارګانونو ته د وینې د رګونو د ګېډې د ورتلو یا ننوتلو برخه چې غړې تغذیه یا تخلیه کوی ګنه شمېره یې (**Portae** ) ده .

**- Porta cath**

یو ډول کتېټر چې تر پوستکي لاندې وریدونو ته تېرېږي او د هغه له لارې( کېموتراپي ، نقل الدم ، د وینې آزمایښتونو نمونې اخیستلو) کړنلارې تر سره کېږي.

**- Porta Hepatis**

لری او د(کبد سیروز ، الکهولیک سیروز ) کې منځ ته راځی دباب بندښت د رګونو دننه طبقې تخریب (د کبد ، زړه ، طحال ، پښتورګې ، دماغ ) خبیث فرط فشار وژونکی بڼه لرلای شی.

**- Portal Hypertensive Gastropathy**

د باب اړوند فرط فشاری معدوې ناروغی.

**- Portal Hypophysial Circulation**

د باب او هایپوفیز کپیلری شبکې بهیر چې پکې هورمونونه د هایپوتلاموس څخه د اړوند ځایونو چې په قدامی هایپوفېز کې واقع دی عمل کوی. ورته نوم یې (**Hypothalamohypophysial Portal System**) دئ .

**- Portal Lobule of Liver**

د ینې د باب اړوندلوبیولونه ، کبدی باب-فصیصونه.

**- Portal Obstruction**

د باب وریدونو اړوند بهیر بندښت چې د (تومورونو،دانو، فایبروزیس ، جراحی غلطو تخنیکونو ، تضیقاتو ) له امله دا بهیر بندېږی چې پر( هضم ، جذب) اغېز کوی او د حبن او نس ناستی لامل ګرځی .

**- Portal Pyemia**

تقیحی ډول د باب ورید انتانی التهاب چې دانې ( **Abscesses**) رامنځ ته کوی ، د ( **Suppurative Pylephlebitis**) په انډول.

**- Portal Site**

د ننوتلو دروازه ، د باب ورید د پیل برخه .

**- Portal System**

①د باب سیستم چې پکې د باب اړوند د وینې بهیر چې د یوه غړی د کپیلېرونو څخه د بل غړی تر کپیلېرونو پورې غځېدلې وی لکه د (کولمو ، کبد ، طحال ) ترمنځ بهیر. ②د باب او هایپوفیز کپیلری شبکې بهیر چې پکې هورمونونه د هایپوتلاموس څخه د اړوند ځایونو چې په قدامی هایپوفېز کې واقع دی عمل کوی. ورته نوم یې ( **Hypothalamohypophysial Portal System**) دئ .

**- Portal Systemic Shunt**

باب ورید او بطنی اجوف ورید ترمنځ شنټ کېښودلو جراحی عملیات چې د (باب فرط فشار، باب ورید بندښت ، باب ورید تضیقاتو ) درملنې په موخه ترسره کېږی ، د (**Portacaval Shunt**) په انډول.

**- Portal Tomb**

د دروازې (باب) اړوند ګنبذی (قبې) ته ویل شی چې دا د ( قبر، ګور، زیارت) کې لېدل شی چې درې یا څلور ستنې لری او یوه خولې ته ورته جوړښت لری .

**- Portal Triad**

د اناتومی له مخې د ( **Branches ، Interlobular Bile Duct Artery Of Hepatic** او **Portal Vein** ) نېږدې او مل باب یا لاره .

**- Portacaval Shunt**

د باب ورید او اجوب وریدونو تر منځ شنټ .

## Portagen

د (**Nutritional Supplement**) چې د ( **Protein,** **Carbohydrate** او **Fat** ) لپاره لرونکې دئ سوداګریز نوم دئ

## Portal

د باب (**Porta**) اړوند صفت ، د پورټا هیپټیس اړوند .

**- Portal -azygos Anastomosis**

د باب او ازیګوس تر منځ تفمم یا خوله په خوله ګنډلو جراحی کړنلاره چې وریدی تخلیه د ازیګوس لورې ته تأمینوی .

**- Portal Biliary Bacterial Circulation**

د باب او تریخی باکتریاوو بهیر لړی چې د تریخی سیستم څخه د کولمو لورې ته پرلپسې ترسره کېږی .

**- Portal Canal**

د باب کانال ، هغه نسجی فضأ چې د درې یا ډېرو کبدی لوبولونو نسجونو ترمنځ پرته ده چې ورڅخه د وینې او لمفاوی رګونه او منضم نسج تېرېږی.

**- Portal Canals**

د باب کانالونه .

**- Portal -caval**

د باب او اجوف ورید اړوند.

**- Portal Circulation**

د باب اړوند د وینې بهیر چې د یوه غړی د کپیلېرونو څخه د بل غړی تر کپیلېرونو پورې غځېدلې وی لکه د (کولمو ، کبد ، طحال) ترمنځ بهیر.

**- Portal Cirrhosis**

د باب اړوند سیروزیس ، د باب پورې تړلې کبدی حبن ( **Interstitial Inflammation**) ناروغی .

**- Portal of Entry**

هغه لاره چې ورڅخه پتوجن مواد یا باکتریاوی د بدن دننه ننوزی دا بنائی چې (غوڅه برخه ، آفت وهلې ،د پېچکاری ستنې چوخولو یا طبیعی فوحې) وی .

**- Portal Fibrosis**

د باب اړوند فیبروزیس (لیفی کېدنې) ناروغی.

**- Portal Fissure**

هر هغه (ژوره، فیسورته ورته ، میزابه ئی ) برخه چې ورڅخه یوڅه تېر شی،لکه د ماغزو دقشر ژور فولډ یا د غاښ د اینامل ( **Enamel**) سطحې ژوره .

**- Portal Hypertension**

د باب اړوند فرط فشار ، د باب بندښت چې پکې (باب ورید فرط فشار ، د طحال لویوالې ، د کولاترال وریدونو پړسوب ) شتون

**- Portal Vascular Anomalies**

د باب رګونو انومالی (نیمګړتیاوی).

**- Portal Vein**

د باب ورید ، هغه لنډ پیړ او لویه تنه لرونکې ورید چې د ( Caudal Mesenteric او Splenic Veins ) څخه منځ ته راځی چې د (Porta Hepatis ) لورې ته ورننوزی دا پخپله په کوچنیو څانګو ویشل شی او کبدی شریانونه سره مل ځغلی تر څوچې دسینوسوئیدونو کپیلیری ګانې جوړېکړی. د باب ورېد وینه له (معدې ،پانکریاص ، تریخی ، کولمو او طحال) څخه راټولوی او کبد ته ئې لیږدوی ،همدارنګه هغه لغتونه چې د (Pyl-, Pyle- ) مختاړو پوسیله پیل مومی همدا معنی بشپړوی.

**- Portal Vein Obstruction**

د باب ورید بندښت ، د باب انسداد .

**- Portal Vein Rupture**

د باب ورید شلېدنه ،د باب تمزق چې نادره ناروغی ده د وینه بهېدنی لامل ګرځی او په داخلی فتقونو په لړ کې پېښیږی.

**- Portal Venule Absence**

د باب ورېدونو ولادی ډول نشتوالې چې [په کبد کې د ګڼ شمېر شنتونو ،کبدی –باب فاییروز ، حبن ، عمومی اوم والی ( General Immaturity) او کبدی انسفالوپتی] د رامنځ ته کېدو لامل ګرځی

## Porter

د روغتون کارکوونکې چې (عمومی درانه شیان د ناروغانو ټرالی) په عملیاتخانه کې لیږدوی ، د عملیاتخانې کارګر.

## Portocaval

د باب ورید او سفلی اجوف ورید اړوند صفت .

**- Portocaval Anastomosis**

د باب ورید او سفلی اجوف ورید ونو تر منځ تفمم جراحی کړنلاره ترسره کول .

**- Portocaval Shunt**

د باب ورید او سفلی اجوف ورید تر منځ شنټ کېښودنه تر څو د باب فرط فشار راټیټ کړل شی.

## Portfolio

پورټفولیو، اواره بکس (کځوړه) چې له څرمینه پوښ څخه جوړ وی او د(شیانو ،طبی‌وسائلو، درملو‌او‌نوروڅیزونو) لیږد لپاره کارول شی.

**- Portfolio Doctor**

هغه ډاکټر چې پورټفولیو له ځانه سره لیږدوی.

**- Portfolio Dressing**

هغه د (پانسمان بسته ،بکس ، کځوړه )چې په پورټفولیو کې لیږدول شی.

## Portio

یوه برخه ، یوه ویشل شوې بېلګه ، قسمت ، بخش .

**- Portio.Supravaginalis Cervicis**

د رحم د غاړې هغه برخه چې د مهبل داخل ته راوتلتیا نه لری.

**- Portio. Vaginalis Cervicis**

د رحم د غاړې هغه برخه چې د مهبل داخل ته ننوتې ده.

## Portoenterostomy

دیِنې او اثناعشر کولمې له یوې برخې سره د جیجینوم کولمې اناستوموز . دا عملیات په صفراوی اتریزی اخته ناروغانو کې د کولمو او د داخل الکبدی صفراوی مجراګانو ترمنځ د یوې ارتباطی لارې د جوړولو لپاره ترسره کېږی. د باب ورید او کولمو تر منځ تفمم.

## Portography

د پورټنی مېزانتېریک ورید ته د یوې کثیفه مادې تزریق وروسته د باب ورید راډیوګرافی اخیستل.

## Portosystemic

د باب سیستم اړوند.د سیستمیک ورېدی وینې بهیر او باب سیستم تر منځ اړیکه.

**- Portosystemic Encephalopathy**

د باب سیستم اړوند د دماغی ناروغی چې د کبدی اختلالونو او باب فرط فشار له امله منځ ته راځی.

## Port Wine Stain

د ګلابی خدائی خال ، هغه ګلابی رنګه خال چې زېږون پرمهال په ماشومانو کې شتون لری.د( Purple Birthmark) په انډول .

## Porus

سورې ، منفذ ، سوړه ، لاره .

**- Porus Aucusticus Externus**

د بهرنی غوږ اړوند سو رې .

**- Porus Aucusticus Internus.**

د داخلی غوږ اړوند سو رې .

**- Porus Opticus**

په سکلرا کې یو سورې چې باصری عصب ورڅخه تیرېږی.

## -opsia

دا یومختاړې دئ او د مایع تر لاسه کولو معنی لری.

## Position

**1.**د بدن وضعیت ، د بدن قرار نیول، **2.** د مور د حوصلې په ټکی کې د جنین د پرزنټ شوی برخې د یوه ټکی تر منځ اړیکه ، د شیا نو /څیزونو موقعیت نیول،

**- Anatomic Position**

اناټومیک موقعیت / وضعیت. د انسان د بدن هغه وضعیت چې انسان پکې ولاړ او د لاسونو ورغوی یې قدام ته متوجه وی

**- Bonner's Position**
د حرقفی هډوکی په التهاب کې د ورانه د بهرنی روټېشن ، ابډکشن او فلکشن حالت او وضعیت.

**- Bozeman's Position**
د (Straps) سره یوځای د د ځنګل ،ګونډې (زنګون) پوزیشن چې د ژغورنې لپاره ترې کار اخیستل شی.

**- Brickner Position**
پدې ضعیت کې ود لاسونو مړو ندونه د بستر له پورتنی برخې سره ترل کېږی دغه پوزېشن د اوږې په ناتوانی کې د بهرنی روټېشن او ابډکشن د حالت پېښولو لپاره کارول کېږی .

**- Correctly Position**
سم او صحیح وضعیت ،د ناروغانو سم وضعیت د بستر لپاسه.

**- Decubitus Position**
د ځمکې پرسطحه اوږد غځېدل ، چې د هراړخ لپاره یې جلا نوم دئ.

**- Exact Position**
حقیقی وضعیت ، د نظر وړ صحیح وضعیت.

**- Fowler's Position**
په بستر کې اوږد غځېدلې پداسې ډول چې سر ( **18-20 Inches**) اینچه لوړ وی او ګونډې هم پورته وی.

**- Knee Chest Position**
دسجدې وضعیت ،ناروغ په خپلو ګونډو او دسینی د قفس په پورتنی برخه تکیه کوی .

**- Knee Elbow Position**
د ناروغ د په ګونډو او څنګلو تکیې کولو وضعیت چې صدر یې پورته نیولې وی.

**- Lithotomy Position**
د ناروغ د ستونی ستاغ پرېوځی او ورون او ګونډې راکږې شوی وی او ورون په بهرنی روټېشن او ابډکشن حالت کې وی.

**- Mayer Position**
د ټیمپورو منډیبولار بند ، د بهرنی غوږ بهېدنې ،مستوئید او پتروس بازو څخه د د راډیوګرافی وضعیت چې یو اړخیز او پورتنی لاندینی نما پلاس ورکوی.

**- Position Pulse**
د نبض موقعیت د ناروغ د بېلابېلو غړو په برخو کې .

**- Recovery Position**
دناروغانو د ښه کېدنې (ریکوری) په وضعیت کې .

**- Roses Position**
ستونې ستاغ پرېوتل ، پداسې ډول چې سرد مېز په ژۍ او په اعظمی اکسټېنشن کې قرار ولری.

**- Semi Fowler's Position**
د (Fowler's) حالت ته ورته وضعیت چې یوازې سر لږ څه پورته دئ.

**- Semisitting Position**
د ناروغ د نیمائی د ناستې وضعیت .

**- Sims' Position**
ناروغ په کیڼ اړخ پرېوزی ، ښې ګونډه او ورون یې پورته غځول کېږی کیڼ مټ یې تر ځټ لاندې نیسی.

**- Sitting Position**
د ناستې وضعیت ،

**- Trendelenburg' Position**
ناروغ په داسې سطحه ستونی ستاغ ځملی چې د ( **45°** ) مېلان لری چې سر یې ښکته او ورنونه یې د هغې په پورتنی نهایت په سر اچول کېږی.

**- Verticosubmental Position**
هغه راډیوګرافیکی وضعیت چې د منډیبول محوری نما ښکاره کوی.

**- Waters' Position**
هغه راډیوګرافیکی وضعیت چې د ماګزیلار سینوس منځنی –شاتنی نما ښکاره کوی .

## Positive
مثبت ، هغه چې د هوکړې ځواب ورکوی .هغه چې د یو څه شی څرګندویه په یوه کتنه یا آزماینبت کې وی.

**- Positive End-Expiratory Pressor (PEEP)**
هغه پروسیجر چې پکې د سږو په فشار سره د ذفیری – پایله څرګندونه وشی.

**- Positive Feedback**
مثبت غبرګون یا ځواب ترلاسه کول ، مثبت فیډبک.

**- Positive Pressor Respirator**
هغه وسیله چې د مثبت فشار پواسطه سږو ته هوا وردننه کوی.

**- Positive Pressor Ventilation (PPV)**
هغه تنفس چې د مثبت فشار تولېدوونکی وسیلې پواسطه سږو ته هوا وردننه کوی تر څو سږی توسع وکړی .

**- Positive Smear**
مثبت نمونه ، هغه اخیستل شوی نمونه چې په لابراتوار کې مثبت وګڼل شی او د توقع وړ نتایج وښیې.

**- Positive Test**
مثبت آزماینبت ، مثبت کتنه ، مثبت تسټ.

## Positively
په مثبت ډول سره ، مثبته کړنه یا لاره .

## Positron
هغه چارج لرونکی ذره چې چارج یې د الکترون د چارج ضد دئ ،د مثبت چارج لرونکی الکترون ، پوزیټرون.

**- Positron-emission Tomography(PET)**
هغه مېتود یا کړنه چې په غېر معمول ډول مېتابولیک

## Postaxial
د تخرګ تر شا ، د یوه محور تر شا ، په اناټومي کې د (اولنار د داخلي سطحې ، دمټ پورتنۍ برخې او د فیبولا د بهرنۍ سطحې او د پښې لاندینۍ) برخې ته ویل کېږي،خلفي – محوري.

## Postbrachial
د مټ (بازو) د پورتنۍ برخې شاته ، خلفي – عضدي.

## Postcava
د (سفلي –اجوف ، لاندینی اجوف ، د ګېډې اجوف) ورید

## Postcaval
د (**Postcava**) اړوندصفت .

## Postcentral
د مرکز شاته اړوند، د خلفي -مرکزي (**Postcenter**)اړوند صفت.

### - Postcentral Gyrus
د مرکز شاته جیروس هغه حسي برخه چې د ماغزود قشر واقع ده چې هلته د حسي حجرو ځخه سیالې رسېږي او دیوه راجستر شوي حسیت لکه (درد ،تودوخې او تماس ) په څېر ثبتېږي.

## Post-cibal
داسې یو درک چې د غذاخوراک وروسته پېښېږي.

## Post Cibum
د سیبوم خلف ته چې لنډه نښه یې (**P.C**) ده.

## Post-coital
د جنسي نږدې کېدنې(**Sexual Intercourse**) ځخه وروسته حالت .

## Postconcussional Syndrome
له کانکشن وروسته سنډروم ، د هغه اعراضو (نښو) تنظیم چې ځینې وختونه د قحفي ترضیضاتو وروسته چې ناروغ شعور له لاسه ورکولو وروسته منځ ته راځي لکه (سردرد، د تمرکز نشتوالي ،د حافظې له لاسه ورکول ،خپګان او تخریشیت ) په څېر .

## Postcornu
د ماغزو د بهرنی بطین شاتنۍ ښاخ.

## Postdiastolic
تر ډیاستیول وروسته .

## Postdicrotic
د سفیګموګرام له ډیکروټیکي راوتلتیا وروسته.

فعالیت د یوې راډیواکټیف مادې د زرق وروسته د (دماغ ، صدر او بطن ) نسج کې د هغه دغه مادې څېړنه او ارزوونه کېږي.

## Posologic
د ( **Posology** ) اړوند صفت .

## Posology
د درملو د ډوز یا کچې ټاکلو اړوند څېړنې – علم یا سیستم .

## Posseting
هغه عمل چې د یوې کوچنۍ مقدار چې په خوله کې د پرېږ (لخته – ماسته ) شوې شیدی ځرګند کړی .

## Possum
هغه الکترونیک سویچي وسیله چې پکې د یو چا سره چې په شدید فلج اخته وی د یوه ماشین په څېر عمل کوی لکه د ټیلفون په څېر دا نوم د ( **Patient-Operated Selector Mechanism**) د لومړی حرفونو ځخه رامنځ ته شوېدی.

## Post-
دایو مختاړې دئ او د( وروسته ، وروسته **After** ،بعدي **Later** ، شاته) معنی ورکوی.

### - Postgraduate
دلسانس ددرجې نه پورته زده کړه،یا دلومړۍ زده کړې محصل.

## POST
د عصبي (**Neurology** ) له پلوه یو کلینیکي آزمایښت دوه ډوله معنی لری او د یوې لنډې نښې په څېر لیکل شي. **1**– د (**Posterior Stroke Trial** ) لپاره لنډه نښه، **2**–د (**Potassium-Channel Opening Stroke Trial** ) لپاره لنډه نښه ده.

## Postal
د پُسټ اړوندصفت، پُستي .

### - Postal card
پوسټ کارډ

## Postage
پُستي کول ، پُسټ وهل ، پُستي .

### - Postage Stamps
پُستي ټاپه ، پُستي مُهر. دپوستي ټیکټ.

## Postauricular
خلفي - صیواني، د غوږ د صېوان تر شا ،د غوږ د پکې په شاتنۍ برخه کې ځای پرځای .

## Postdoctoral

له دوکتورا درجې وروسته اړوند .

## Postepileptic

له صرعې (اپي ليپسي) حملې وروسته حالت اړوند .

## Posterior

خلف ، شاته ، د شا خواته ځای پر ځای شوې ، د قدامی (Anterior) مخالف حالت ، د (Buttock ، Behind ، Back) په انډول.

**- Posterior Approach**

خلفی طریقه ، خلفی کړنلاره ، هغه عملیاتی پروسیجر چې د شا لورې څخه تر سره کېږي.

**- Posterior Aspect**

د خلف منظره ، د بدن د شالورې منظر ، د شاتنی برخې له نظره.

**- Posterior Chamber**

خلفی چمبر ، د سترګې د (Aqueous Chamber) برخه چې د (Iris) شاته پرته ده.

**- Posterior Fontanelle**

خلفی فونتانیل ، خلفی شیردان ، هغه غضروفی برخه چې د کوپړۍ د شا برخه (Occipital) کې واقع دئ چې د کوپړۍ د دواړه جداری (Parietal) هډوکو د یوځای کېدنې څخه لاس ته راځی. د (Bregma) په انډول.

**- Posterior Lobe**

خلفی لوب ، شاتنۍ فص،د (Caudate Lobe) په انډول.

**- Posterior Nares**

د پوزې خلفی سوریو اړوند ، د (Internal Nares) په انډول.

**- Posterior Synechia**

د سترګو هغه حالت چې پکې مشیمه (Iris) د عدسیې قدامی سطحې سره ښاخې ډوله اړیکه مومی.

## Posteriorly

د خلف اړوند ،خلفی،د خلف پورې تړلې،د شابرخه کې واقع شوې.

## Postero-

دا یومختاړې دئ او د (شا ، خلف ،روسته، بعدی) معنی لری.

## Posteroanterior

د شا له خوا څخه دمخ په لورې واقع ، خلفی –قدامی .

## Posteroclusion

له خلف څخه تړلې ، د (Distoclusion) په انډول.

## Posteroexternal

د خلفی نما په بهرنی برخه کې ځای پرځای شوې .د خلفی –خارجی اړوند صفت.

## Posteroinferior

خلفی - سفلی ، د شا له خوا څخه دښکته په لورې واقع.

## Posterolateral

خلفی – جنبی ، د شا له خوا څخه داړخ په لورې واقع.خلفی – وحشی اړوند صفت.

## Posteromedian

خلفی –متوسط، دشا له خوا څخه په منځنۍ برخې کې واقع.خلفی-اُنسی.

## Post-exposure Prophylaxis

هغه درملنه چې پکې یو چا ته چې د یوه مضر اجنټ (Harmful Agent) په وړاندې واقع وی هغه هڅه کول چې د ترضیض او انتان مخنیوې وشی .

## Postganglionic

له ګانګلیون (Ganglion) څخه وروسته برخه کې واقع اړوند صفت ، ګانګلیون څخه بعید ، بعدالعقدوی.

**- Postganglionic Fibre**

بعدالعقدوی رشتې ،د عصبی حجرې د اکسون هغه برخه چې له ګانګلیون څخه پیل او له هغه لېرې پایله مومی.

**- Postganglionic Neurone**

بعدالعقدوی عصبی نیورون ،د عصبی نیورون چې له ګانګلیون څخه پیل کېږی او له هغه لېرې په غده یا عضلاتو (Unstriated Muscle) کې پایله مومی.

## Postgastrectomy Syndrome

له ګاستریکټومی جراحی عملیات څخه وروسته هغه ډوله نښې نښانې (د غذائی موادو ژر ورتګ کولمو ته ، سرخرخی ، زړه بدوالې ، خوله کول او ضعیفی ) چې د خوراک وروسته پېښېږی .د (Dumping Syndrome) په انډول.

## Postgraduate

د لیسانسه زده کړو (تحصیلاتو) څخه وروسته .

**- Postgraduate Education**

د لیسانسه زده کړو څخه وروسته نورې لوړې ښوونې او زوزنې (تحصیلات) پروګرامونو تعقیب کول .

**- Postgraduate Education Allowance (PGEA)**

د لیسانسه زده کړو (تحصیلاتو) څخه وروسته د نورو زده کړو اجازه ورکولو لپاره د پیسو ورکړې بها ورکول تر څو نورې زده کړې هم وکړی.

**- Postgraduate Education Policy**

د لیسانسه زده کړو (تحصیلاتو) څخه وروسته د نورو لوړو زده کړو پالیسی .

پوستې ماچور، له مودې اوښتې زېږون ، د (42 Weeks) اونېو له مودې بشپړېدنې څخه وروسته زېږون ، ډېر رسېدلې.

## Postmaturity

پوستې ماچور والې ، د (42 Weeks) اونېو له مودې بشپړېدنې څخه وروسته زېږون اړوند حالت ، له مودې اوښتې حالت.

## Postmenopausal

له مینوپاوز (Menopause) څخه وروسته حالت اړوند .

**- Postmenopausal Bleeding**

د مینوپاوز یا زېږښت مودې وروسته غېر نورمال وینه بهېدنه .

## Postmortem

تر مرګ وروسته ، بعد الموت ، له مړینې وروسته .

**- Postmortem Examination**

له مړینې وروسته کتنې.له مړینې وروسته د جسد (مېیت) کتنې تر سره کول چې دا د عدلې طب اړوند څانګې او پتولوژی څانګې تر سره کوی ، د (Autopsy) په انډول.

## Postnasal

د پوزې خلف ته واقع ، خلف –انف ، د پوزې خلف اړوند صفت

**- Postnasal Bleeding**

د پوزې خلفی وینه بهېدنه .

**- Postnasal Block**

د پوزې خلف بلاک او بندښت .

**- Postnasal Discharge**

د پوزې خلف څخه د افرازاتو راتګ .

**- Postnasal Drip**

هغه حالت چې پکې د پوزې خلف څخه د افرازاتو راتګ د ستونی لور ته شتون ولری او هغه بلع کېږی.

## Postnatal

د زېږون څخه وروسته مرحلې اړوندصفت .

**- Postnatal Care**

د زېږون څخه وروسته مرحلې څارنې –مراقبت اړوند .

**- Postnatal Depression**

د زېږون څخه وروسته مرحلې اړوند خپګان یا انحطاط حالت.

## Postnecrotic

له نکروز څخه وروسته اړوند صفت.

**- Postnecrotic Cirrhosis**

له نکروز څخه وروسته اړوند مرحلې د کبد اړوند سیروزس چې د ویروسی کبدی التهاب (Viral Hepatitis) له امله منځ ته راځی.

## Posthepatic

له کبد څخه وروسته ته واقع .خلفی –کبدی.

**- Posthepatic Bilirubin**

له کبد څخه وروسته د بلېروبین مادې لوړېدنې اړوند. د بلیروبین د صباغی مادې اړوند چې پلازما ته له کبدی درملنې وروسته ورننوزی.

**- Posthepatic Jaundice**

بعدالکبدی یرقان ، د ځیګر څخه وروسته ژېړی ، دانسدادی ژیړی (Obstructive Jaundice) په انډول.

**- Postherpetic Neuralgia**

د ځیګر څخه وروسته د عصبی درد شتون ، هغه درد چې د (Shingles) له حملاتو وروسته منځ ته راځي.

## Posthioplasty

د قضیب د پریپوسیوم ترمیم جراحی عملیات کړنلاره.

## Posthitis

د قضیب د پریپوسیوم (Foreskin)التهاب.

## Posthumous

له مړینې څخه وروسته پېښېدنه ، بعد الموت.

**- Posthumous Birth**

1. د هغه ماشوم زېږون چې پلار یې دمخه مړ شوې وی. 2. د مړې شوې مور څخه د سیزارین (Caesarean Section) پواسطه د ماشوم زېږون.

## Posthypnotic

د هیپنو ټیزم څخه وروسته مهال او حالت ته ویل شی.

## Postictal

له تشنج (اختلاج) څخه وروسته .

## Posticteric

د ناروغانو له ژېړی تېرولو وروسته حالت اړوند.

## Post-irradiation

له وړانګو (X-Rays) ورکولو او درملنې څخه وروسته چې درد او اختلالات پېښوی.

**- Post-irradiation Allopicy**

هغه جلدی الوپسی حالت چې له وړانګو (X-Rays) ورکولو او درملنې څخه وروسته منځ ته راځی .

**- Post-irradiation Enteritis**

هغه حالت چې له وړانګو (X-Rays) ورکولو او درملنې څخه وروسته د کولمو التهاب (Enteritis) منځ ته راغلې وی.

**- Post-irradiation Therapy**

له وړانګو (X-Rays) ورکولو څخه وروسته اختلالاتو او ناروغېو درملنې ته ویل شی.

## Postmature

**Post -op**

د عملیات څخه وروسته مرحلې اړوند ، د (Postoperative) او (Postoperatively ) په انډول.

**Postoperative**

دجراحی عملیاتونو څخه وروسته مرحلې اړوند ، د (Post-Operative) او (Postoperatively ) په انډول.

**- Postoperative Adhisions**

له عملیات څخه وروسته التصاقات / نښتنې .

**- Postoperative Angina Pictoris**

له عملیات څخه وروسته صدری خناق.

**- Postoperative Care**

له عملیات څخه وروسته څارنه /مراقبت.

**- Postoperative Incisional Hernias**

له عملیات څخه وروسته د جرحې فتق .

**- Postoperative Complications**

له عملیات څخه وروسته اختلاطونه /ناوړه پېښې.

**- Postoperative Nausia**

له عملیات څخه وروسته زړه بدوالې .

**- Postoperative Management**

له عملیات څخه وروسته تدبیرونه / منجمنټ.

**- Postoperative Nursing Care**

له عملیات څخه وروسته د نرسنگ څارنې .

**- Postoperative Pain**

له عملیات څخه وروسته دردونو احساس .

**- Postoperative Pneumonia**

له عملیات څخه وروسته پنومونیا(سینه بغل).

**- PostoperativeVomiting**

له عملیات څخه وروسته کانگې .

**Postoperatively**

له جراحی عملیات څخه وروسته مرحلې اړوند .

**Postorbital**

د سترگو د حجاج خلف ته ، د سترگو د کاسې شاته واقع.

**Postpartum**

تر زېږون وروسته مرحلې اړوند صفت .

**- Postpartum Fever**

تر زېږون وروسته مرحلې تبه ، د (Puerperal Infection ) په انډول.

**- Postpartum Haemorrhage (PPH)**

تر زېږون وروسته مرحلې کنټلوی ډول وینه بهېدنه .

**- Postpartum Infection**

تر زېږون وروسته مرحلې انتانات/ مېکروبونه.

**Postprandial**

تر خوړو وروسته .

**Postpuberal**

تر ځوانۍ ( بلوغ ) وروسته.

**Postpubertal**

تر ځوانۍ ( بلوغ ) وروسته پورې اړوند او تړاو کې .

**Postpubescent**

تر بلوغ وروسته .

**Post-primary Tuberculosis**

له لومړنی نری رنځ وروسته بیا راښکاره کېدنې (تظاهرات) چې یو څوک پخوا منتن شوېوی.

**Post-registration Education and Practice (PREP)**

له راجستر (ثبت ) وروسته زده کړو پرکټېس چې په برطانیه کې عموماً د (نرسانو ، دایو ) لپاره وی.

**Postrenal**

له پښتورگو څخه وروسته ، بعدالکلیوی . له پښتورگو تر شا برخه کې ځای پرځای شوې.

**- Postrenal Anuria**

له پښتورگو څخه وروسته انیوریا .

**- Postrenal Disease**

له پښتورگو څخه وروسته ناروغی.

**- Postrenal Disorders**

له پښتورگو څخه وروسته اختلالات .

**- Postrenal Hematuria**

له پښتورگو څخه وروسته په متیازو کې وینه(هیماچوریا).

**- Postrenal Obstraction**

له پښتورگو څخه وروسته بندښت.

**- Postrenal Pyuria**

له پښتورگو څخه وروسته په متیازو کې قیح (پایوریا).

**Postsinusoidal**

د یوه سینوزوئید تر شا واقع شوې اړوند صفت.

**Poststenotic**

له تنگوالی (تضیق) تر شا اړوند صفت.

**Postsynaptic**

له ساینپس(Synapse) څخه وروسته او ترشا واقع شوې .

**- Postsynaptic Axon**

له ساینپس(Synapse) څخه وروسته د اکسون برخې اړوند.

**Post-traumatic**

له ترضیض وروسته ، له ضربې څخه ورسته مهال ، له صدمې لیدنې وروسته ، له ټپی کېدنې لکه (تصادم، تبری

سرخرخي ، ګنسیت ، خوب ستونزې ، د ملا بربخ ، ستړیا ، خپګان) منځ ته راتګ.

## Post-term

د ځنډېدلې ترم تر وروسته مهال پورې اړوند دا اصطلاح د بلاربښت اړوند پکارېږي.

## Postural

د وضعیت ( **Posture**) اړوند صفت.

**- Postural Disorders**

وضعیتي اختلالونه ،وضعیتي تشوشات.

**- Postural Drainage**

وضعیتي درېناژ .هغه پروسیجر چې د زوبو (قیح) جوفونو تشېدنې لپاره پکارېږي.

**- Postural Hypotension**

د وضعیت تفریط فشار ، هغه ډول د فشار ټیټېدنه چې سمدلاسه د وضعیت بدلون (تغیر) سره تړاو لري.

## Posture

وضعیت .هغه حالت چې بدن یکې سمون مومي

**- Bad Posture**

ناسم ډول وضعیت ، ناوړه وضعیت.

## Postvaccinal

له واکسین کولو څخه وروسته حالت اړوند .

**- Postvaccinal Fever**

له واکسین کولو څخه وروسته تبه .

## Postviral

له ویروس ککړتیا څخه وروسته .

**- Postviral Fatigue Syndrome**

له ویروس ککړتیا څخه وروسته ستړیا او کسالت سنډروم ، د (**Myalgic Encephalomyelitis** ) انډول .

**- Postviral Infection**

له ویروس ککړتیا څخه وروسته منتن کېدنه.

## Potash

نا خالصه پوتاسیوم کاربونېت.

**- Caustic Potash**

پوتاسیوم هایدروکساید.

**- Sulforated Potash**

د پوتاسیوم پولي سولفاید او پوتاسیوم تیوسلفېټونو مخلوط چې په درملیزو موادو کې د سلفایدونو د سرچینې پتوګه ترې کار اخیستل شي.

## Potassemia

په وینه کې زیاتې پیمانې پوتاسیوم عنصر شتون.

## Potassium

پوتاسیوم ، دا یو کېمیاوي فلزي عنصر دئ چې اټومي

، اورلګېدني، پېښې) وروسته مهال اړوند .

**- Post-traumatic Amnesia**

د یادښت له منځه تګ چې له ترضیض وروسته پېښېږي.

**- Post-traumatic Bleeding**

له ترضیض وروسته وینه بهېدنه.

**- Post-traumatic Brain Edema**

له ترضیض وروسته دماغي اذیما .

**- Post-traumatic Bruit**

له ترضیض وروسته ایکیموزیس .

**- Post-traumatic Coma**

له ترضیض وروسته کوما .

**- Post-traumatic Concussion**

له ترضیض وروسته کانکشن .

**- Post-traumatic Contusion**

له ترضیض وروسته کانټیوژن .

**- Post-traumatic Convulsion**

له ترضیض وروسته شاړن (اختلاج ، تشنج).

**- Post-traumatic Epilepsy**

له ترضیض وروسته مېرګي ، له ترضیض وروسته صرعه.

**- Post-traumatic Echymosis**

له ترضیض وروسته ایکیموزیس .

**- Post-traumatic Fracture**

له ترضیض وروسته د هډوکو ماتېدنه.

**- Post-traumatic Headach**

له ترضیض وروسته د سردرد شته والي .

**- Post-traumatic Hemothrax**

له ترضیض وروسته هیموتورکس (په پلورائی جوف کې وینه راټولېدنه)

**- Post-traumatic Hemopneumothorax**

له ترضیض وروسته هیموپنوموتورکس (په پلورائی جوف کې وینه او هوا راټولېدنه) .

**- Post-traumatic Hematoma**

له ترضیض وروسته هیماټوما .

**- Post-traumatic Injuriy**

له ترضیض وروسته د ټپ یا پرهر منځ ته راتګ .

**- Post-traumatic Laceration**

له ترضیض وروسته شلېدنه (څیرېدنه).

**- Post-traumatic Pneumothorax**

له ترضیض وروسته هیموپنوموتورکس (په پلورائی جوف کې هوا راټولېدنه) .

**- Post-traumatic Shock**

له ترضیض وروسته د شاک شته والي .

**- Post-traumatic Stress Disorder (PTSD)**

له ترضیض وروسته د رواني فشار د اختلالتو لکه (صدری درد،

- **Potency Ratio**

د توان اوقدرت نسبت او رسد .

## Potent

①توان لرونکې ، قبولوونکې . ②د فزیکي او کېمیاوي اغېزو د قوت منځ ته راوړونکې ، د ډېر تمرین او قدرت نفوذ لرل، ③ هغه نارینه چې د جنسي مقاربت د توان خاوند وي

- **Potent Drugs**

توانمنده د ډېر قوت لرونکي درمل.

## Potential

①پوټانشیال ، د قدرت او توان لرلو اړوند صفت .②د کار لپاره چمتو خو غېر فعاله بڼه ، ③د چارج په یوه واحد کې د کار اندازه (مقدار) چې د یوه ټکي څخه بل ټکي ته د په یوه بریښنائي ډګر کې د یوه چارج لرونکي جسم د حرکت لپاره اړین دئ او د اندازې نیولو ولحد یې ولټ دئ.

- **Potential Abnormality of Glucose Tolerance**

د ګلوکوز په وړاندې د تحمل (زغملو) د توان غېر نورماله او ابنارملتیا حالت دئ لکه د شکرې په ناروغۍ کې چې د ګلوکوز په وړاندې تحمل نلرل منځ ته راځي ، د ( **Potential Diabetes**) په انډول.

- **Potential Acoustic Gain( PAG)**

د غږ د بیا تقویتي سیستم( **Sound-Reinforcement Systems**) چې غوږ د اورېدنې ستونزو حل اړوند پکاریږي .

- **Action Potential**

کاري پوټانشیال ، هغه بریښنائي فعالیت چې د فعالیت په بهیر کې د یوې عضلې یا عصبي حجرې دننه رامنځ ته کېږي.

- **Potential Acuity Meter**

دا هغه کلینیکي وسیله ده د لیدنې تېزبینۍ اندازه کولو اړوند پکار وړله شي یو واحد بیم (**Beams** ) چې وړانګې نېغ په نېغه د حدقې لپاسه فوکس کوي لکه د (**Snellen Test Types**) چې یکې کله چې ساد (**Cataract**) راویستل شي د لیدنې دنده په شبکیه کې تر سره کېږي ، او دې مېتود ته د ( **Laser Interferometry**) هم وائي ، د ( **Maxwellian View System**) په انډول.

- **After Potential**

د وروسته پوټانشیال .

- **Potential Alpha-Energy Concentration**

د پروټین الفا –انرژۍ متمرکزي پوټانشیال .

.

شمېره یې (**19**) او لنډه نښه یې (**K** ) ده دا یو اصلي د حجرې دننه کتیون بلل شي.

- **Potassium Acetate**

پوټاسیوم اسیټیټ، دالکترولایټونو ځای نیوونکې او د متیازو قلوي کوونکې ماده .

- **Potassium Bicarbonate**

پوټاسیوم بای کاربونېټ ، دالکترولایټونو ځای نیوونکې ماده او د
متیازو قلوي کوونکې ماده .

- **Potassium Chloride**

پوټاسیوم کلوراید ، دالکترولایټونو ځای نیوونکې چې په خوراکي موادو او وریدي بڼه ورکول کېږي.

- **Potassium Citrate**

پوټاسیوم سیټرېټ ، دالکترولایټونو ځای نیوونکې سیستمیک قلوي کوونکې ماده چې دیوریټیک او خراشکي نرموونکې او سستوونکي اغېزې لري .

- **Potassium Gluconate**

پوټاسیوم ګلوکونېټ ، دالکترولایټونو ځای نیوونکې او د پروفیلاکسي لپاره او د هایپوکلیمیا په درملنه کې پکارېږي.

- **Potassium Hydroxide**

پوټاسیوم هایدروکساید، هغه قلوي کوونکې ماده چې په درملیزو محصولاتو کې ورځخه ګټه اخیستل شي.

- **Potassium Iodide**

پوټاسیوم آیوډاید . دخراشکي (بلغم) سستوونکي چې د آیوډین لرونکي دئ او د چنیاسې ضد اغېزې لري.

- **Potassium Metaphosphate**

هغه بفري عامل چې د درملو جوړولو صنعت کې پکارېږي .

- **Potassium Permanganate**

پوټاسیوم پرمنګانېټ ، ګلابي رنګه اسیدي پوټاسیومي مالګه چې د (موضعي انتاناتوضد مادې ، د اوکسیدیشن د عامل او د ځینې زهر و انتي ډوټ) پتوګه پکارېږي.

- **Potassium Salicylate**

د التهاب ضد ، درد او تبې ضد درمل.

## Potency

**1**- د (توانمندي ، نیرو، زور، قدرت ، قوت ، توانايي ) حالت بلل شي. **2** - هغه نارینه چې د جنسي مقاربت د توان خاوند وي، سړیتوب / نارینتوب لرونکې . **3**- د ودې – انکشاف لپاره د یوې جنیني برخې (استعداد، توان ، امکان او ظرفیت) لرل. **4**- د یوه درمل د درملیزې اغېزو او د هغه د اغېزې لپاره د اړین ډوز ترمنځ تړاو .

- **Potency Factor**

د توان او قدرت فکټور.

**- Potential Angina Class Improvement for Intramyocardial Channels**
هغه پوتانشیال چې پکې د صدري خناق کلاس اصلاح دداخل المایوکارډ چینلونو کې تر سره کېږي.

**- Potential Asbestos-Containing Material**
د (**Asbestos**) موادو لرلو پوټانسیال .

**- Potential Barrier**
پوتانشیالي سرحد .هغه سرحد لرل چې ورځخه د یوې ساحې ځخه بلې ساحې ته دموادو نفوذ تر سره شي ، د ( **Barrier Potential Hill**) په انډول .

**- Potential Barrier Field-Flow Fractionation**
هغه پوتانشیالي سرحد لرل چې ورځخه د یوې ساحې د فرکشنی کېدنې بهیر تر سره کېږي.

**- Potential Best Management Practice**
د تمرین او عملي تر ټولو ښه او غوره منجمنت پوتانشیال.

**- Potential Capability Index**
د پوتانشیال د ظرفیت ټاکنې انډکس.

**- Potential Carcinogen**
د کارسینوما منځ ته راوړلو پوتانشیال.سرطاني پوتانشیال.

**- Potential Carrier Recovery**
د ریکوري خواصو –کرکټر پوتانشیال.

**- Potential Cautery**
د کواټري (سوځېدنې او علقې ) منځ ته راوړلو پوتانشیال.

**- Potential Density**
د کثافت پوتانشیال ، کثافتي پوتانشیال.

**- Potential Diabetes**
د شکرې ناروغۍ پوتانشیال.

**- Potential Diagnosis**
د ناروغیو پېژندنې پوتانشیال چې په نرسنګ کې روغتیائي ستونزو کې پکار وړل شي . د (**Potential Problem** ) په انډول.

**- Potential Difference**
د پوتانشیال توپیر کول .

**- Potential Divider**
د پوتانشیال ویشونکې .

**- Potential Drop**
د ځځېدو پوتانشیال.

**- Electric Potential = Electrical Potential**
برېښنائي پوتانشیال.

**- Potential Energy**
د انرژي پوتانشیال.

**- Evoked Potential**
هغه چې برېښنائي سیګنال د حسي رسپتورونو ،عضلې سیستم د یوې برخې ځخه دبرېښناپواسطه پاړول کېږي.

**- Membrane Potential**
برېښنائي پوتانشیال چې د غشأ یا حجروي دېوال په دواړه خواوو کې شتون لري.

**- Potential Problem**
د ستونزې پوتانشیال، د پرابلم اړوند پوتانشیال.

**- Resting Potential**
د استراحت پوتانشیال ، داستراحت په حال کې د یوې نورمال حجرې د غشأ په دواړو اړخونو کې د پوتانشیال اختلاف.

**- Spike Potential**
د تحریک په بهیر کې د یوې د تحریک منونکې حجرې د غشأ په پوتانشیال کې ډېر لوی او اولیه بدلون .

**- Potential Unit**
د پوتانشیال واحد .

**- Potential Well**
د پوتانشیال سرچینه .

## Potentialization
پوتانشیالي کول.د (**Potentiation**) په انډول.

## Potentiate
پوتانشیالي کول، د درملو یا درملنې د اغېزمنتیاوو اصلاح کولو کړنه چې پکې نور درمل یا اجنټونه ورزیاتول کېږي .

## Potentiated
پوتانشیالي شوې .

## Potentiating
پوتانشیالي کولو عملیه.

## Potentiation
پوتانشیالي ورکول ، توان وربخښل ، توانا کول ، قوت ورکول.

**- Post-tetanic Potentiation**
له ټېټاني ځخه وروسته توان ورکول.

## Pott's Caries
ملا تیر نرې رنځ ، دد پاټ اړوند ناروغي،په قسمي ډول د فقراتو د هډوکو تخریب چې د نرۍ رنځ اتنان له کبله پېښېږي او د ملا دکوږوالي لامل ګرځي ، د ( **Pott's Disease** او **Spine Tb** ) په انډول دا اصطلاح لومړې ځل د انګلیسي جراح (**Percivall Pott** ) پذریعه چې په (**1714-1788**) کالونو کې اوسېده شرحه شوه

## Pott
د انګلیسي جراح (**Percivall Pott** ) چې په (**1714-1788**)

کالونو کې اوسېده د (Pott) ناروغي يې شرحه کړه .

**- Pott Abscess**

د ملا تير برخې نرى رنځ دانه ، د فقراتو اړوند توبرکلوزيک خراج (ابسې).

**- Pott Aneurysm**

د پاټ انيوريزم ،دا وريدى کړلېجن (معوج) اتساعى حالت چې د هغه له لارې په کسبى ډول د تر څنګ شريان سره اړيکه منځ ته راوړى ، د (Aneurysmal Varix) په انډول .

**- Pott Curvature**

د کوهان لرونکى (Gibbous Deformity) کږه او راوتلې بڼه چې د ملاتير تېره ډول زاويه لرى او د نرى رنځ ناروغى کې منځ ته راځى د (Angular Curvature) په انډول .

**- Pott's Caries**

ملاتير تېره د نرى رنځ انتانى ناروغى چې د(ملا زاويه لرونکى ډول ډيفورميتى ، توبرکلى آفتونه) پکې شتون لرى او د فلج حالت پېښوى ورته نوم يې (Tuberculous Spondylitis) دئ ، د (Pott Disease) په انډول .

**- Pott's Disease**

د (Pott's Caries) په انډول.

**- Pott Eversion Osteotomy**

د هډوکو د په څټ کولو (اړولو ، اوښتنې) اوستيوټومى جراحى کړنه .

**Pott's Fracture**

د پاټ کسر ،د پښې د لېنګۍ برخې د فيبولا ښکتنى او ټيبيا د مليول برخې کسر چې بهر لورې ته بې ځايه کېدنه چې د نرى رنځ په ناروغى کې معمول وى.

**- Pott gangrene**

د پاټ ګانګرين ، هغه وچ ګانګرين چې د عمر زياتوالى له امله د شريان تړل کېدو له کبله پېښېږى ، د (Senile Gangrene) په انډول.

**- Pott Paralysis**

د پاټ فلج ، د پاټ ګزڼ ، د (Pott Paraplegia) په انډول.

**- Pott Paraplegia ]**

د بدن د ښکتنۍ برخې د نهاياتو فلج چې د ملاتير د نخاع لپاسه دفشار له امله چې د (Tuberculous Spondylitis) له امله منځ ته راځى.

**- Pott's Puffy Tumor**

هغه ګردې ډول د سر د سکلاپ پړسوب چې د سر د کوپړۍ هډوکو التهاب {(Osteitis) يا (Extradural Abscess)} له امله منځ ته راځى.

**- Pott's Syndrome**

د پاټ سنډروم ، وچ ګانګرين چې د زړښت مودې د شريانى انسداد له. امله پېښېږى، ] (Dupuytren Fracture) او (Senile Gangrene) [ په انډول

**- Pott Spinal Curvature**

د ملا تير کوږوالې د ملا د نرى رنځ په ناروغى کې .

**- Pott's Technique**

د پاټ اړوند تخنيک .

## Potter

د (Edith L) پنامه د شلمې پېړۍ لومړيو اړوند امريکائى (Perinatal Pathologist) چې په (1868-1956) کالونو کې اوسېده.

**- Potter Disease**

د (Potter Facies) په انډول.

**- Potter Facies**

د مخ هغه ډول وصف چې د اواره پوزه ، قبض زنه (Receding Chin) ، سوره وره (Wide Interpupillary) مسافه ، غټ او شکته واقع شوى غوږونه ] پکې شتون لرى او د (Oligohydramnios Sequence) حالاتو کې منځ ته راځى .

**- Potter Syndrome**

د پوټر سنډروم چې پکې ] د Renal Agenesis او Hypoplastic Lungs د Neonatal Respiratory Distress، Hemodynamic Instability، Acidosis، Cyanosis، Edema ، او وصفى ډول د Potter Facies سره مل وى ] شتون لرى او مرينه د (Respiratory Insufficiency) چې د (Uremia) لامل ګرځى منځ ته راځى دا د ( Prenatal Renal Failure او Oligohydramnios ) امله منځ ته راځى .

## Potts

د (Willis J) پنامه آمريکائى د ماشومانو جراحى اړوند عالم چې په (1895-1968) کالونو کې اوسېده.

**- Potts Anastomosis**

د پاټ تفمم جراحى، هغه جراحى تفمم چې د ابهر او ريوى شريان ترمنځ (Side-By-Side) په ډول تر سره کېږى او د (Tetralogy Of Fallot) ناروغۍ درملنې لپاره جراحى کړنلاره ده.

**- Potts Aortic Clamp**

د پاټ اړوند د ابهر کلامپ.

**- Potts Bronchial Forceps**

د پاټ قصبى فورسپس .

**- Potts Bulldog Forceps**

د پاټ بولډاګ فورسپس .

**- Potts Cardiovascular Clamp**

د پاټ دزړه –رګونو کلامپ .

**- Potts Clamp**

د پاټ کلامپ چې نرې او نظيف ډول غابنى څوکې خوله لرى

- **Potts Vascular Scissors**
د پاټ اړوند د رګونو لپاره پکارېدونکی بیاتی (قیچی) ګاڼې.
- **Potts-Smith Bipolar Forceps**
د پاټ –سمېت اړوند قطبی فورسپس.

## Pouch

جوف ، جېب ، کڅوړه ، کڅوړې ته ورته جوړښت لکه پرېتوان.

- **Abdomenovesical Pouch**
د بطن (ګېډې) او مثانې تر منځ هغه منځ ته راغلې فضأ چې د پریتوانی غبرګېدنې/ راستنېدنې په نتیجه کې منځ ته راځی.
- **Branchial Pouch**
بلعومی جېب، دبلعوم اړوند جنبی اندودرمال دایورتیکولوم چې د (**Pharyngeal Groove**) سره د جنین اکټودرم په دوره کې مخامخ کېږی او تړونکې غشأ (**Closing Membrane**) جوړوی د (**Pharyngeal Pouch**) په انډول .
- **Pouch of Douglas**
د دوګلاس جیب/ جوف ، د ( **Rectouterine Pouch** ) په انډول.
- **ileoanal Pouch**
دایلیوم –مقعدی جوف، هغه د ایلیوم اړوند ذخیره کوونکې (**Reservoir** ) مخزن برخه چې تر (**500 To 1000 Ml**) پورې ظرفیت لرې او ترمینال ایلیوم برخه کې د تغلف څخه منځ ته راځی دا کړنه معمولاً د نوې مثانې (**Neobladder**)جوړولو پرمهال تر سره کېږی، د (**Reservoir.Kock Pouch**) په انډول.
- **Kock Pouch**
د ( **Ileoanal Pouch** ) په انډول.
- **Prussak's Pouch**
د غوږ د څټکی هډوکی د غاړې ( **Neck Of The Malleus** ) او شلې غشأ( **Flaccid Part Of The Membrane** ) تر منځ په صماخی پرده کې یو سینوس .
- **Rathke's Pouch**
د جنینی فمی جوف( **Buccal Cavity** ) یو ډایورتیکولوم (رتج) چې قدامی هایپوفیزیس (**Adenohypophysis**) ورڅخه سرچینه اخلی او وده کوی.
- **Rectouterine Pouch**
په ښځینه وو کې د مثانې او رحم تر منځ فضأ چې پریتوانی جوف منځ ته راوړی ،د (**Rectovaginal Pouch** ) په انډول.
- **Rectovaginal Pouch**
د ( **Rectouterine Pouch** ) په انډول.
- **Rectovesical Pouch**
هغه پرېتوانی جوف یا فضأ چې د مثانې او ریکټوم تر منځ شته والې لرې.
- **Seessel's Pouch**
د جنینی بلعوم راوتلې کڅوړه(**Outpouching** ) چې د بلعومی

او د رګونو تثبیت کلامپ دئ چې د رګونو جراحی عملیاتونو کې پکار وړل شی.
- **Potts Coarctation Clamp**
د پاټ د کوارکټیشن جراحی لپاره پکارېدونکی کلامپ .
- **Potts Coarctation Forceps**
د پاټ د کوارکټیشن جراحی لپاره پکارېدونکی فورسپس .
- **Potts Dilator**
د پاټ د اتساع ورکولو لپاره پکارېدونکی وسیله .
- **Potts Dissector**
د پاټ د انساجو تسلیخ لپاره پکارېدونکی وسیله .
- **Potts Elevator**
د پاټ د انساجو اوچتولو لپاره پکارېدونکی کلامپ/ وسیله .
- **Potts Expansile Dilator**
د پاټ د اتساع ورکولو لپاره پکارېدونکی انبساطی وسیله .
- **Potts Expansile knife**
د پاټ د پرې کولو لپاره پکارېدونکی انبساطی چاړه /وسیله.
- **Potts Forceps**
د پاټ د انساجو نیولو لپاره پکارېدونکی فورسپس/ وسیله .
- **Potts Ligature**
د پاټ غوټه اچولو مېتود ، د پاټ لیګاتور کړنې کړنلاره.
- **Potts Needle**
د پاټ د ستنې وهلو لپاره پکارېدونکی ستنه / وسیله .
- **Potts Operation**
د پاټ د جراحی عملیات کړنلاره /طریقه چې د ابهر او ریوی شریان څنګ تر څنګ تفمم عملیه تر سره کېږی ، د ( **Potts Anastomosis**) په انډول.
- **Potts Patent Ductus Clamp**
د پاټ اړوند کلامپ چې د (**Patent Ductus**) رګونو درملنه کې پکارېږی.
- **Potts Rib Shears**
د پاټ اړوند لویه بیاتی (قیچی) چې د پښتیو (اضلاعو) غوڅولو کې پکار وړله شی.
- **Potts Scissors**
د پاټ اړوند لویه بیاتی (قیچی) ګاڼې .
- **Potts Shunt**
د پاټ اړوند شنټ (لاره) .
- **Potts Splint**
د پاټ اړوند تثبیت کوونکې سپلنټ (اتل) .
- **Potts Tenaculum**
د پاټ اړوند د تیناکولوم فورسپس چې د غړو انساجو نیولو کې پکارېږی.
- **Potts Valvulotome**
د پاټ اړوند هغه جراحی وسیله چې د فرج په غوڅولو / پرې کولو جراحی عملیات ترې کار اخیستل شی.

پوډول جوړیږي .

- **Indigestion Powder**

د هضم وړ پوډري درملو جوړښت.

## Powdered

په پوډري ډول سره جوړ شوي مرکب/ درمل.

## Power

زور ، توان ، قدرت ، طاقت ، د لویولو وسیله لکه مایکروسکوپ ، د کار د تر سره کولو چټکتیا ، لنډه نښه یې (**P**) ده .

- **Difining Power**

د یوه شي د ځرګندولو لپاره د یوې عدسیې توان

- **Resoving Power**

د نږدې شویو کوچنیو شیانو او د هر شي د جوړښتونو د ښودلو لپاره د یوې عدسیې یا سترګې توان .

## Powerfull

توان درلودونکې ،طاقتور، قوي.

## Pox

پاکس ، هر ډول د پوستکي ناروغي چې د( پوستول ، ویزیکول ، جلدي داني ) رامنځ ته کړي لکه ویروسي جلدي ناروغي لکه د ( سیفلیس او چکن پاکس) ناروغۍ .

- **Checkenpox**

چیچک ، کځوک ، کوځکې .

- **Cowpox**

د غواګانو چیچک .

- **Smallpox**

سمالپاکس.

## Poxviridae

د (**Dna**) ویروسونو یوه کورنۍ چې دوه رشتوي ( **Dna**) جینوم لري د حیواناتو د ( **Smallpox , Pox , Vaccinia** ) ناروغۍ رامنځ ته کوي .

## Poxvirus

د (**Poxviridae**) د کورنۍ ویروسونه چې اړوند ویروسي ناروغۍ رامنځ ته کوي لکه د ( کځوک او **Molluscum Contagiosum**) .

## p.p.

دا د (**Post Prandium** ) لپاره لنډه نښه ده چې له ډوډۍ خوراک وروسته معنی لري.

## PPD

دا د (**Purified Protein Derivative** ) لپاره لنډه نښه ده او خالص پروټیني مشتقاتو معنی لري.

غشأ څخه دمخه او د راتیکي کڅوړې په پرتله ترشا پرته ده ، د (**Rathke's Pouch** ) په انډول.

- **Vesicouterine Pouch**

په ښځینه وو کې د مثانې او رحم تر منځ فضأ چې پریتواني جوف منځ ته راوړي ،د (**Rectovaginal Pouch** ) په انډول.

## Pouchitis

د ایلیوانال یا دکولمو د ایلیال برخې د ټول جدار یا مخاط التهاب ، د پوچ (جیب ، جوف) برخې التهاب.

## Poudrage

د یوې سطحې پرمخ دپوډر کارول لکه د (حشوي او جداري پلورا) ترمنځ د پوډر کارول تر څو د هغوی د نښتنې مخنیوی وشي.

## Poultice

هغه نرمه او نمجنه (مرطوبه) ماده (**Compress** ) چې د (ترمو اوبو او کریم طبقو ) څخه جوړ شوې او ګاز د طبقو په منځ کې په هغه ځای کې چې ورته اړتیاوي شتون لري او پخې شوې نشایستې په څېر قوام په ګرمه بڼه کاریږي تر څو په سیمه کې تحریک او موضعي تودوخه رامنځ ته شي ، د (**Fomentation** ) په انډول.

## Pound

پونډ ، په ( **Aviordupois**) سیستم کې د وزن واحد چې د (**453,6 Gr**) سره انډول دئ او په (**Apothecaries**) سیستم کې د (**373.2 Gr**) سره معادل دئ لنډه نښه یې (**Lb** ) ده .

## Poupart's Ligament

د پوپارټ لیګامنټ ، چې د سپوغزې (مغبنی ) کانال تر څنګ پروت وئ ورته (**Inguinal Ligament** ) هم ویل شي.دا د لومړي ځل لپاره فرانسوي جراح او اناټومیسټ (**François Poupart** ) په ذریعه شرحه چې په (**1616–1708**) کې یې ژوند کاوؤ.

## Povidone

دا یو ډول انتسیپټیک دي چې د پولي وینایل پیرولیډین څخه جوړ دئ او یو مصنوعي پولیمېر دئ چې محلول جوړونکي پټوګه ترې کار اخیستل شي.

- **Povidone Iodine**

هغه مرکب چې د پویډون سره د آیوډین د تعامل له امله منځ ته راځي او موضعي انتي سپټیک پټوګه کارول شي.

## Powder

پوډر ، دوړه ، ګرده . هغه طبي درمل چې د وچې ګردې

## Practical
عملي، ګټور، حقیقي ، تطبیقی .

## Practically
په عملي توګه، تقریباً ، واقعاً .

## Practice
په یوه ځانګړی مسلک کې د یوه شخص د پوهنې کارول د د بېلګې په توګه د ناروغیو په تشخیص او درملنه کېد شخص د پوهې او طبی تجربې کارول.

**- Practice Nurse**
د نرسنګ پرکتیس چې د ناروغانو د څارنې ، کتنې او پرمختګ اړوند تولې اړوند معلوماتی خدمتونه/ نور تکی راټولېږی او ترې درملنه کې کار اخیستل شی.

**- Practices Homeopathy**
د طب اړوند هومیو پتیک درملنو اړوند عملی کارونه تر سره کول بلل شی.

## Practiced
آز مایلی، کار شوی ، د **Practice** دوهم او یا دریم حالت.

## Practise
د ( **Practice** ) په انډول.

## Practitioner
هغه کارپوه کس چې د طبی ځانګې اړوند کاروبار سمبالوی. څوک چې په یوه حرفه کې کار کوي په تیره طبیب او مدافع وکیل.

**- Nurse Practitioner**
د نرسنګ اړوند کاروباری کس نرس . د نرسنګ ستاژر نرس.

## Prae-
دا یو مختاړې دئ او د ( **Pre-** ) په توری پیل کېدونکو لغتونو معنی بشپړوی.

## Praecox
نعوذ ، لکېدنه.

**- Ejaculatio Praecox**
احتلامی نعوذ .

## Praevia
نښتې پلاسنتا ، پریویا .

**- Placenta Praevia**
د پلاسنتا د نه راشلېدنې له امله وینه بهېدنه.

## Pragmatognisia [1]
د (**Agnisia**) په انډول.

## PPH
دا د ( **Postpartum Haemorrhage** ) لپاره لنډه نښه ده چې له زېږون وروسته وینې بهېدنې معنی لری.

## PPM
دا د ( **Parts Per Million** ) لپاره لنډه نښه ده چې د یومیلیونمې برخې معنی لری.

## PPTA
د ( **Plasma Protein Therapeutics Association**) لپاره لنډه نښه ده.

## PPTA
د (**Pennsylvania Physical Therapy Association**) لپاره لنډه نښه ده.

## PPTA
د (**Pre-Physical Therapy Association**) لپاره لنډه نښه ده.

## PPV
دا د (**Positive Pressor Ventilation**) لپاره لنډه نښه ده دمثبت فشار تنفس معنی لری.

## PQRST Complex
د (**Electrocardiogram**) اړوند (**Deflections**) چې په (**P To T**) کې وی او د بطینی تقلص (**Ventricular Contraction**) اړوند ښوونکی وی.

## p.r.
دا د (**Per Rectum**) لپاره لنډه نښه ده او د ریکتوم له لارې معنی لری.

## Pr [1]
دا د (**Prascodymium**) لپاره لنډه نښه ده.

## Pr [2]
دا د (**Presbiopia**) لپاره لنډه نښه ده.

## Pr [3]
دا د (**Prism**) لپاره لنډه نښه ده.

## PRA
دا د (**Panel Reaction Antibody**) لپاره لنډه نښه ده چې انتی جن د (**Panel**) په پرتله غبرګون ښکاره کوی.

## Practicability
دکیدو وړ، داجرا وړ.

## Practicable
عملي کیدونکی، دتطبیق وړ.

هغه کلینیکی کتنې چې جراح یې د انستیزی څخه دمخه تر سره کوی.

**Preauricular**

د غوږ د صیوان (پکې) دمخه.

**Preaxial**

د یوه محور څخه دمخه ځای پر ځای شوی ، قبل المحوری.

**Prebetalipoprotienemia**

د هایپرپری بېټالایپوپروټینمیا .

**Precancer**

هغه حجره یا وده چې خبیثه بڼه نلری خو کېدای شی چې سرطان ته واوړی ، له سرطان څخه دمخه.

**Precancerous**

له سرطان څخه دمخه (Precancer) اړوند صفت

**Precapillary**

له کپیلری څخه دمخه رګونه، قبل الکپیلری.

**Precardiac**

د زړه په قدام کې ځای پرځای شوې .

**Precaution**

هغه عمل چې د مخه تر یوڅه واقع کېدنې ترسره شی لکه د سمندری ناروغیو په وړاندې عمل.

**Precava**

پورتنۍ اجوف ورید.

**Precaval**

د (Precava) اړوند صفت.

**Precede**

دمخه واقع شوې .

**Precentral**

له مرکز دمخه اړوندصفت.

**- Precentral Gyrus**

د دماغ د قشر حرکی سیمه .

**Preceptor**

هغه متخصص چې محصلینو ته عملی زده کړه ورکوی.

**Preceptorship**

هغه زده کوونکې (نرس ، قابله ، روغتیائی کتونکې) چې د یوه متخصص تر څارنې او لارښوونې لاندې زده کړه کوی.

**Prechordal**

دنوتوکورډ په مخ (قدام) کې .

**Pragmatognisia** [2]

باصری اګنوزیا .

**Pralidoxime**

د کولین ایستریز فعالوونکې چې مالګه یې په اورګانو فاسفورونو باندې د مسمومیت په درملنه کې پکارېږی.

**Prandial**

له غذائی خوراک خوړلو سره په تړاو کې .

**Praseodymium**

پرازئودیمیم، یو کېمیاوی عنصر فلز دئ اټومی شمېره یې (59) او نښه یې (Pr) ده ،د اتومي وزن یې (140/907) ، مخصوصه وزن یې (6/73) ده ، د جوش ټکې یې (3520°c) او ذوب ټکې یې (931 °c) ده.

**Prate**

اپلتې ویل، ډیرې خبرې کول، کړتې کول.

**Prattle**

دماشومانو په ډول خبر ېکول: کړتې کول، پرتې ویل.

**Prawn**

یوډول سمندري چنګاښ.

**Praxiology**

د اړیکو څېړنې او مطالعاتو علم.

**Pravastatin**

هغه درمل چې د وینې کولسترول (Cholesterol ) د لوړې سوئې درملنې او راټیټونې په موخه ورکول شی.

**Prazosin**

د کینازولین یو مشتق ، هغه درمل چې د رګونو توسع ورکوونکې اغېزې لری او د فرط فشار درملنه کې پکار وړل شی.

**Pre -**

هغه توری چې دیوه لفظ نه مخکې راشي د (دړومبي، مخکښي، وړاندې، داول ،Before یا د Front) معنی ورکوی.

**Preadmission Information**

هغه معلومات چې دروغتون ته د بستر کېدو څخه دمخه شتون لری.

**Peragonal**

د مرګ تر راتلود مخه.

**Pre-anaesthetic**

له بېهوښۍ /بې حسی دمخه اړوند .

**- Pre-anaesthetic Round**

**Precipitant**

هغه ماده چې د رسوب لامل ګرځی .

**Precipitate**

رسوب کول ،جلاکول ، ته نشین کېدنه، په یوه محلول کې د موجودو جامدو ذرو رسوب .

- **Precipitate Labour**

رسوبی زېږونه ، غیر معمول چټکه زېږونه چې دوه ساعته یا لږه موده نیسی چې ښائی د مور او ماشوم دواړو لپاره مضر وی.

**Precipitation**

د رسوب کولو عملیه تر سره کول.

**Precipitin**

د منحل انتی جنونو پر ضد انتی باډی ګانې چې د ژوندی موجود په بدن یا لابراتوار په محیط کې د انتی جن ماکرومالیکولونه په داسې حال کې چې د لیدلو وړ وی په تشخیصیه آزمایښت کې پکارېږی.

**Precipitinogen**

هغه منحل انتی جن چې د رسوب جوړېدل پاروی.

**Precise**

ډېر حقیقی ، دقیق ، صریح او صحیح.

- **Precise Measurements**

حقیقی او صحیح اندازې ټاکنې.

**Preclinical**

قبل الکلینیکی ،له کلینیک څخه دمخه چې له تشخیص / پېژندنې څخه مخکی منځ ته راغلې وی.

- **Preclinical Stage**

قبل الکلینیکی پړاو/ مرحله .

**Preclotting**

له علقې (پرن کېدنې) دمخه، د رګونو د پروتیز په پیوند عملیات کې پکار وړله شی .

**Precocious**

فکری یا ذهنی / فزیکی له وخت څخه دمخه وده چې غېر معمول وی .

- **Precocious Puberty**

له وخت څخه دمخه ځوانی / پېغلتوب.

**Precocity**

فکری یا ذهنی / فزیکی له وخت څخه دمخه ودې اړوند صفت .د (Precocious ) اړوند صفت.

- **Sexual Precocity**

له وخته دمخه دجنسی بلوغ حالت .

**Precognition**

د غېر حسی لارو څخه د راتلونکو پېښو درک کول .

**Precoma**

د کوما څخه دمخه ، د کوما څخه دمخه روحی عصبی حالت چې د بېلګې په توګه په کبدی انسفالو پتی پېښو کې لیدل شی.

**Precomatic**

د (Precoma) اړوند صفت .

**Preconscious**

د شعور څخه دمخه حالت ، هغه وضعیت چې په لړ کې یې ناروغ شعور په حالت کې ندې خو د منځ ته راتلونکو تحریک سره د شعوری حالت ته راګرځېدلو لپاره چمتو دئ.

**Precordia**

د (Precordium ) لپاره ګڼه شمېره .

**Precordial**

د (Precordium ) اړوند صفت .

**Precordium**

پریکارډیوم ، د صدر قدام کې هغه برخه چې هلته زړه پروت دئ ، د زړه پوښوونکی پرده .

**Precostal**

د پُښتیو (اضلاعو) په مخ کې .

**Precuneus**

هغه کوچنۍ تاوراتاو والې چې د ماغزو د جداری لوب (پاریتال لوب) په دننه سطحه کې ځای لری.

**Precursor**

هغه څه چې له وخت دمخه راشی یا په بله ژبه مخکینۍ وی ، په بیولوژی کې هغه ماده چې تر هغې فعاله ورڅخه جوړېږی ، دمخه ، پریکارسور هغه ماده په بله فعاله بڼه اوښتنه کولای شی.

**Prediabetes**

له شکری څخه دمخه ، د کاربوهایدرېتونو د میتابولیزم ناجوړی چې پته وی او د ډیابټ د ناروغۍ ځانګړنې لاهم شتون ونلری.

**Prediastole**

له ډیاسټول څخه دمخه دمه / وقفه .

**Prediastolic**

د (Prediastole ) اړوند صفت .

## Prediverticular
د کولون د عضلاتی جدار پیړوالي او د لومن د دننه فشار لوړوالي چې رتج (دایورټیکول) ته زمینه مساعدوی.

## Prednisolone
پریدنیزولون ، د ستیروئید کورنۍ اړوند درمل چې له کورټیزول څخه زیږنده دئ او تصنعی ګلوکوکورټیکوئید دئ د التهاب ضد او معافیت په شاتنبوونکی اغېزی لری.

## Prednisone
د کورټیزون څخه رامنځ ته کېدونکی تصنعی ستیروئید درمل چې د الرژی او التهاباتو ضد اغېزې بښندی .

## Predominant
له نورو څخه ډېر پیاوړي ، برجسته ، وتلي، مسلط، غالب ، برتاو لرونکي ، برتر، بارز، حاکم.

## Pre-eclampsia
د بلاربښت د وروستیو مرحلو توکسیمیا چې د( فرط فشار ، پروتین یوریا او اذیما )سره مل وی چې ښائی د ایکلامپسیا (Eclampsia ) لامل وګرځی ، د ( Pregnancy-Induced Hypertension) په انډول .

## Pre-ejection
له اخراج یا وتلو (Ejection ) څخه دمخه منځ ته راغلي.

## Pre-emie
په آمریکائي ژبه کې بې مودې ماشوم ته ویل شی ، د (Premature Baby ) په انډول.

## Pre-embryo
له جنین تشکل دمخه، د هګۍ د ځای پرځای کېدو دمخه مرحله چې وخت یې تر القاح وروسته لومړنۍ دوه اونۍ دی .

## Pre-excitation
له هیجان څخه دمخه،قبل التهیج،دهغه سیالې (ایمپالس) له امله دبطینونو د دوخت څخه دمخه فعالېدل چې له فرعی تګلارې څخه راځی او په اذینی – بطینی نوډ باندې فزیولوژیک ځنډ نه رامنځ ته کوی.

## Prefrontal
د جبهی لوب (Frontal Lobe ) د سیمې څخه دمخه په قدامی برخه کې ځای په ځای شوې .

## Predicrotic
دسفیګموګرام له مخې د ډایکروټیکی څپې دمخه منځ ته راغلې اړوند .

## Predict
وړاندوینه ،پېش بینی کول ، هغه وینا کول په راتلونکی کې ښائي پېښېنه شی.

## Prediction
وړاندوینه ،پېش بینی ، د راتلونکې اړوند پېښېدنې دتوقع وړ وینا ، لکه د [عامی روغتیا وزارت وړاندوینه کوی چې د (Hepatitis B) ناروغی به زیاتوالې ومومی] .

## Predictive
د (Prediction ) اړوند صفت .

- **Predictive Value**

د وړاندوینې وړتیا لرونکی .

## Predigest
غذائی درملنه چې د یولړ انزایمونو او کېمیاوی موادو زیاتوولو مېتود دئ چې د هاضمې آسانتیاوی منځ ته راوړی هغه کسانو کې چې د هاضمې ستونزې لری پکار وړل شی.

## Predigested
د ( Predigest) تېر حالت .

- **Predigested Food Factor**

هغه غذا( خوراکی مواد ) چې تر ( Predigestion ) دمخه پروسې لاندې راځی.

## Predigestion
هغه مصنوعی ډول د هضم پروسې چې د غذا خوړلو دمخه پیل مومی .

## Predisposed to
مهیه ، زمینه مساعد کوونکې ، لېوالتیا درلودونکې ، لا دمخه تیاروالې لکه د (رګونو ناروغیو ته فامیلی ډول مساعد والې) .

## Predisposing
مساعد کېدونکې ، زمینه مساعد کوونکې .

**Predisposing Factor**

مساعد کېدونکې لامل، زمینه برابرونکې فکتور. هغه فکتور چې د نورو ناروغیو رامنځ ته کېدو لپاره خطری بلل شی.

## Predisposition
مساعد والې ، برابر والې ، مهیا توب ، د اسانتیاوو رامنځ ته کوونکې .

**- Prefrontal Leucotomy**
هغه جراحي عملیات چې پکې د (**Prefrontal Lobe**) څخه د سپین نسج ماغزو (**White Matter**) یوه برخه بېلېږي او د شیزوفرینیا (**Schizophrenia**) درملنه پرې کېږي.

**- Prefrontal Lobe**
د ماغزو (دماغ) هغه برخه چې دواړه لورو نیمکرو کې واقع وي او د(**Frontal Lobe** ) په قدام کې واقع ده او د زده کړې او حافظې دنده تر سره کوي .

## Preganglionic
د عصبي ګانګلیون (**Ganglion** ) څخه دمخه او نېږدې واقع شوې.

**- Preganglionic Fibre**
د اعصاب هغه رشتې چې پرګانګلیون باندې خاتمه مومي او د (**Synapse** ) سره د (**Postganglionic Fibre** ) برخو کې وصل دي.

**- Preganglionic Neurone**
له ګانګلیون څخه دمخه د عصب (**Neurone** ) هغه برخه په (**Ganglion** ) پایله مومي .

## Pregenital
د جنیني ودې پرمهال دتناسلي دستګاه له جوړېدو دمخه مرحلې پورې اړوند.

## Pregnancy
بلاربښت ، بلاربتیا ، اُمیدواري ، حاملګي ، د بارداري دوره ، د هګۍ او سپرم د تر یوځای کېدو وروسته په بدن کې د جنین وده ، د ( **Gestation Period**) او (**Cyesis** ) په اند ول.

**- Abdomenal Pregnancy**
بطني بلاربښت ، د پریتوان په جوف کې بېځایه بلاربښت.

**- Ampular Pregnancy**
نفیري بلاربښت ، د رحم په امپول کې بېځایه بلاربښت .

**- Cervical Pregnancy**
د عنق بلاربښت ، د رحم -سرویکس کې بېځایه بلاربښت.

**- Comboined Pregnancy**
مختلط بلاربښت ، په یوه وخت کې د داخل الرحمي پرځای او دخارج الرحمي بېځایه بلاربښت شته والې .

**- Cornual Pregnancy**
ښاخي بلاربښت ، د رحم په یوه ښاخ کې بلاربښت.

**- Ectopic Pregnancy**
بېځایه بلاربښت ، لکه د بطني د پریتوان په جوف کې بلاربښت یا د رحم څخه پرته په نورو برخو کې بلاربښت د (**Extrauterine Pregnancy**) په اند ول.

**- Extrauterine Pregnancy**
د رحم څخه پرته په نورو برخو کې بېځایه بلاربښت د ( **Ectopic Pregnancy**) په اند ول.

**- False Pregnancy**
غېر حقیقي بلاربښت ، د کاذب ډول بلاربښت ، د جنین له شته والي څخه پرته د بلاربښت د ټولو نښو شته والې .

**- Intraligamentary Pregnancy**
په پلن لېګامنټ کې د بې ځایه بلاربښت شته والې .

**- Intraligamentous Pregnancy**
د (**Intraligamentary Pregnancy** ) په اند ول.

**- Interstitial Pregnancy**
د رحمي تیوب (نفیرونو ) په یوه داسې برخه کې بلاربښت چې رحم د جدار دننه پرته وي.

**- Multiple Pregnancy**
په رحم کې د ګڼ شمېر (څوګونو) جنینونو شته والې .

**- Mural Pregnancy**
د (**Interstitial Pregnancy** ) په اند ول.

**- Overian Pregnancy**
په هګۍ ځالو منځ کې د بېځایه بلاربښت شته والې .

**- Phantom Pregnancy**
کاذب‌بلاربښت چې د رواني –روحي ستونزو فکټورونو له امله منځ ته راځي.

**- Post-term Pregnancy**
د وروستني پریوډ له پیل څخه د (**42 Weeks**) اونیو یا دالقاح د پیل څخه د (**40 Weeks**) اونیو بشپړېدو څخه د زیاتې مودې تېرېدنې بلاربښت .

**- Pregnancy-associated Hypertension**
هغه بلاربښت چې د وینې فشار لوړوالي سره مل وي .

**- Pregnancy-Induced Hypertension (PIH)**
هغه بلاربښت چې د وینې فشار لوړوالې منځ ته راوړي .د ( **Pre-Eclampsia**) په اند ول.

**- Pregnancy Test**
د بلاربښت د تثبیت په موخه آزمايښت چې معمولاً په هغه ښځوکې د القاح دوه اونۍ یې اوښتې وي په متیازو کې مثبت وي.

**- Tubal Pregnancy**
د ټیوبونو (نفیرونو) دننه بېځایه بلاربښت

**- Tuboabdomenal Pregnancy**
هغه ډول بېځایه بلاربښت چې یوه برخه یې د د رحمي تیوبونو د فیمبریا او بله برخه یې د ګېډې د جوف دننه منځ ته راغلې وي .

**- Tubo-overian Pregnancy**
د رحمي ټیوب په فیمبریاوو کې دننه بېځایه بلاربښت .

**Prehormone**

هغه ماده چې په هورمون باندې اوښتنه کوی .

**Prehyoid**

د لامې (هایوئید) هډوکی څخه دمخه ځای پرځای .

**Prehypophysis**

له هایپوفېز (درقیه) غدې دمخه یا قدامی لوب.

**Preictal**

تر (شاړن ، تشنج، سکتې، اختلاج) حملې دمخه پېښېده.

**Preinvasive**

بې بریده خواصو لرونکې، غېرمهاجم ، د هغه آفت / ناروغی اړوند چې خپل تر شاوخوا نسجونه یې تر برید لاندې نوی راوستلی .

**Preleukemia**

هغه نښې نښانې چې د لوکېمیا ورته څرګندونې کوی ، له لوکېمیا دمخه حالت ، میالو ډیسپلاستیک سندروم.

**Preleukemic**

د (**Preleukemia** ) اړوند صفت .

**Prelimbic**

د لیمبوس (**Lymbus**) په مخ (قدام) کې واقع .

**Pre-β-lipoprotien**

د لږ او کم مولیکولی وزن لرونکې لایپو پروټین ماده .

**Preload**

د ډیاستول په پای کې کې د زړه مېخانیکی حالت ، د بطینی حجم اعظمی کچه یا ډیاستولی پای فشار چې په بطینونو واردېږی.

**Prem**

بې مودې ماشوم. د ( **Premature**) په انډول.

**Premalignant**

قبل السرطانی ،له سرطان (کانسر) څخه دمخه.

**Premarine**

د مزدوج استېروجن لپاره سوداګریز نوم.

**Premature**

بې مودې ،بې وخته ، نارسېدلې ، خام ، اوُم ،له ټاکلی وخته دمخه، په بېړنی ډول سره ، پریماچور.

- **Premature Baby**

بې مودې ماشوم چې د (**37 Weeks**) اونیو بشپړولو څخه دمخه زېږون یې کېږی او متوقع وزن یې تر (**2.5kg**) لږ وی خوکولای شی چې ژوندې پاتې شی .

**Pregnane**

دا یو ډول ستیروئید دئ چې ($C_{21}h_{36}$) فورمول لری او مشبوع هایدروکاربنی کریستالین بڼه لری

- α-**Pregnane**

د الفا پرګنن یې هغه بڼه ده چې هورمونونه ورڅخه سرچینه اخلی لکه پروجیسټرون هورمون .

- β-**Pregnane**

د بېټا پرګنن یې هغه بڼه ده چې په متیازو کې اطراح کېږی .

**Pregnanediol**

د ډای هایدروکسی کریستالین پرګنن مشتق چې له بیولوژیک پلوه غېر فعال دی او د پروجیسترون له ارجاع څخه ترلاسه کېږی او د بلاربو ښځو په متیازو کې اطراح کېږی .

**Pregnanetriol**

هغه (**17-Hydroxyprogestrone**) مېتابولایټ چې د ادرینال غدې د قشر په ناروغتیاوو کې په متیازو کې اطراح کېږی .

**Pregnanolone**

د ستېروئید هورمون په جوړېدو کې منځنۍ ماده چې د مصنوعی مرکبونو څخه یې د روماتوئید آرتریت درملنه کې ګټه اخیستل کېږی.

**Pregnant**

بلاربه ، امیدواره ، حامله ، هغه رحم چې په دننه کې ماشوم (جنین) روزی.

**Prehallux**

په پښه کې څو هډوکی چې د سکافوئید هډوکی له داخلی څنډې څخه وده مومی.

**Prehensile**

منګولې لګول ، منګولې ښخول ، بنجه لګول .

**Prehension**

منګولې لګولو کار .

**Prehepatic**

له ځیګر څخه دمخه ، قبل الکبدی ، د ینې قدام ته واقع.

- **Prehepatic Bilirubin**

د پلازما د هغه بلیروبین اړوند دمخه تردې چې د ینې (ځیګر) څخه تېرشی.

- **Prehepatic Jaundice**

هغه ژیړې چې د ینې اړوند نه وی ، قبل الکبدی یرقان ، د (**Haemolytic Jaundice** ) انډول.

**Premenstrual**

د حیض (**Menstruation**) له پیل څخه دمخه پېښې اړوند.

**- Premenstrual Syndrome (PMS)**

هغه نښې نښانې (سنډروم) چې د حیض څخه دمخه رامنځ ته کېږي.

**- Premenstrual Tension (PMT)**

هغه عصبی – روانی فشار چې په ښځو کې د حیض مودې د پیل څخه دمخه پیل کېږي.

**Premenstrum**

د حیض پسې سمدستی وروسته وخت.

**Premolar**

د پری مولار غاښونه ، په حیوان پېژندنه کې د غاښونو د شمېرې په پام کې نیولو پرته د غاښونه چې ژرندې (طواحنو) غاښونو دمخه پراته دی .

**Premonocyte**

د (**Promonocyte** ) په انډول.

**Premorbid**

د ناروغی‍ څخه دمخه، د معیوبیت څخه دمخه.

**Premunition**

د انتان په وړاندې مقاوم کېدل چې د یوه حاد انتان یا هغه ته ورته پتوجن ارګانیزمونه وروسته منځ ته راځی.

**Premunitive**

د (**Premunition**) په انډول.

**Premyeloblast**

پریمیالوبلاسټ ،یوه میلوبلاسټ پرکارسر.

**Premyeloblastic**

د (**Premyeloblast**) اړوند صفت.

**Premyelocyte**

د (**Promyelocyte**) په انډول.

**Premyelocytic**

د (**Premyelocyte** ) اړوند صفت.

**Prenatal**

د زېږون څخه دمخه. د (**Antenatal**) په انډول.

**- Prenatal Diagnosis**

د زېږون څخه دمخه پېژندنه. د (**Antenatal Diagnosisp**e)په انډول.

**- Prenatal Period**

د زېږون څخه دمخه دوره.

**- Premature Birth**

بې مودې ماشوم زېږون چې د (**37 Weeks**) اونیو بشپړولو څخه دمخه یې زېږون کېږی.

**- Premature Ejaculation**

بې وخته خلاصېدنه ، هغه احتلام (خلاصېدنه) چې له جنسی اړیکی سرته رسولو دمخه منځ ته راغلې وی.

**- Premature Labour**

بې مودې ماشوم زېږون چې د القاح وروسته د (**37 Weeks**) اونیو بشپړولو څخه دمخه یې زېږون کېږی.

**Prematurely**

په بې مودې توګه ، بې مودې والې .

**Prematurity**

بې وخته توب ، بې مودې توب،هغه حالت چې له مودې بشپړولو دمخه وی.

**Premaxilla**

مخکینی‍ غاښ . له مګزیلا دمخه (قدام) ته .

**Premaxillary**

د مګزیلا دمخه (قدام) ته ، د (**Premaxilla**) اړوند صفت .

**Premed**

هغه مرحله چې پکې ( **Premedication**) ورکول کېږی.

**Premedical**

د طب څخه دمخه، هغه زده کړې چې یو چا له طب فاکولتې څخه د شمولیت دمخه بشپړې کړېوی.

**Premedicant Drug**

هغه درمل چې د جراحی عملیات څخه دمخه ناروغانو ته د (**Parasympathetic Nervous System** ) نهې کولو په موخه ورکول شی تر څو د کانګو څخه مخنیوی وکړی او آرمتیا منځ ته راوړی.

**Premedication**

هغه حالت چې د عملیات څخه دمخه د درملو ورکړې له کبله منځ ته راغلې وی ، پریمېډېکېشن ، هغه درمل چې له عملیات څخه دمخه ورکول شی تر څو پاراسمپاتیک عصبی سیستم نهی منځ ته راوړی .

**Premenarchal**

د نجونو کې لومړنی حیض (**Menarch** ) له پیل څخه دمخه.

**Premenopausal**

په ښځو کې د مینوپاوز (**Menopause**) مرحلې راتګ څخه دمخه موده .

تیارول ، آماده کول ، چمتوکول .

**Preprotein**

د پروټین څخه دمخه ، د پروټین پرکارسور ماده.

**Prepatellar**

له رتفي (پټیلار هډوکی) څخه دمخه.

**- Prepatellar Bursitis**

له رتفي (پټیلار هډوکی) څخه دمخه برخې د بورسا التهاب ، د (Housemaid's Knee) په انډول .

**Preproinsulin**

د پرو انسولین یو پریکارسور ماده چې په خپل (V-Terminal) کې یو زیات پولی پیپټایډ لري.

**Preprotein**

د پروټین پریکارسورماده چې د(Signal Peptide) پیپټایډونو لړۍ لري چې په پولیپیپټایډ باندې اوړي او پروټین منځ ته راوړي .

**Prepsychotic**

د سایکوز تر حملې څخه دمخه وخت پورې اړوند.

**Prepuberal**

له ځوانې (بلوغ ، Puberty ، Prepubescent ) څخه دمخه موده.

**Prepubertal**

له ځوانې (بلوغ ، Puberty ، Prepubescent ) څخه دمخه مودې اړوند صفت .

**- Prepubertal Castration**

له ځوانې څخه دمخه مودې د مرغېړې راویستلو جراحی اړوند صفت

**- Prepubertal Diabetic**

له ځوانې څخه دمخه مودې شکرې (دیابټ) اړوند

**- Prepubertal Panhypopituitarism**

له ځوانې څخه دمخه مودې پان هایپوپیټوریزم .

**- Prepubertal Periodontitis**

له ځوانې څخه دمخه مودې پریوډنټیټ اړوند.

**Prepuberty**

له ځوانې څخه دمخه موده.

**Prepubescent**

هغه ځوک چې له ځوانې څخه دمخه مودې مرحله کې واقع وي .د (Preopubertal ) په انډول.

**- Preopubescent of Clitoris**

د هغه بذر (کلایتور) چې له ځوانې څخه دمخه مودې اړوند وي چې پکې د کلایتور یس لپاسه چین چې د کوچنیو شونډو

**Preneoplastic**

د یوه نیوپلاستیک ټومور له ودې څخه دمخه.

**Pre-op**

دعملیات څخه دمخه، د (Preoperative ) په انډول.

**Preoperative**

دعملیات څخه دمخه مهال اړوند.

**- Preoperative Assesment**

دعملیات څخه دمخه د ناروغانو ارزونې اړوند.

**- Preoperative Care**

دعملیات څخه دمخه څارنه /مراقبت اړوند.

**- Preoperative Management**

دعملیات څخه دمخه تدابیر او منجمنټ اړوند.

**- Preoperative Medication**

دعملیات څخه دمخه د درملو ورکړه چې تر څو آرامتیا رامنځ ته شي او د کانګې مخنیوی وشي.

**- Preoperative Sedation**

دعملیات څخه دمخه آرامتیا او سډیشن اړوند.

**Preoperatively**

دعملیات څخه دمخه اړوند.

**Preoptic**

د باصری شیازما په مخ کې .

**Preovulatory**

له هګۍ اچولو څخه دمخه چې د حیض سیکل د (6 To 13 Days) ورځو اړوند ، د حیض او هګۍ اچولو تر منځ.

**Prep**

تیارې ، آماده ګی ، چمتووالې ، د (Preparation) په انډول.

**PREP**

د (Post-Registration Education And Practice) لپاره لنډه نښه ده.

**Preparation**

تیارې نیول ، آماده ګی لرل ، چمتووالې . د (Prep ) په انډول.

**Prepare**

تیارې ، آماده ګی ، چمتووالې.

**Prepared**

تیار ، آماده ، چمتو.

**Preparing**

او د کلایتوریس تر پټلیز کېدو وروسته منځ ته راځي .

**Prepubic**

له عانې اتفاق د فوقانی برخه کې واقع ، قبل العانی.

**- Prepubic Angle of Urethra**

د احلیلي هغه زاویې اړوند چې د قبل العانې برخې پورې تړلې وی.

**Prepuce**

د قضیب د سر پوښوونکې پوستکې ، د (**Foreskin**) په انډول.

**- Prepuce of Clitoris**

د بظر پوښوونکې پوستکې .

**- Prepuce of Penis**

د قضیب پوښوونکې پوستکې .

**Preputial adj**

د پریپوسیوم اړوند صفت،د (**Preopubescent**) په انډول.

**- Preputial Calculus**

د پریپوسیوم اړوند ډبره – تیږه .

**- Preputial Gland**

د پریپوسیوم اړوند غده .

**- Preputial Glands**

د پریپوسیوم اړوند ګڼ شمېر غدې .

**- Preputial Sac**

د پریپوسیوم اړوند کڅوړه .

**Preputioplasty**

د پریپوسیوم اړوند پلاستیک بیارغوونکې جراحی تر سره کول دی .

**Preputiotomy**

د پریپوسیوم اړوند پلاستیک بیارغوونکې جراحی په موخه د یوه شق (څیرلو/وازولو) تر سره کول دی .

**Preputium**

هغه پوښوونکې پوستکې چې د قضیب سر برخه پوښوی ، د (**Prepuce**) په انډول.

**Prepyloric**

د معدې له بواب دمخه اړوند، دمعدې د پیلور برخې دمخه برخې اړوند.

**- Prepyloric Sphincter**

دمعدې د پیلور برخې دمخه معصره .

**- Prepyloric Vein**

دمعدې د پیلور برخې دمخه ورید .

**Prepyramidal**

د اهرامونو دمخه برخې اړوند ، قبل الاهرمی .

**- Prepyramidal Fissure**

قبل الاهرمی فیسور .

**Prerace Testing**

د پریراس آزماینښت تر سره کول .

**Prerectal**

تر ریکتوم دمخه برخې اړوند صفت.

**- Prerectal Lithotomy**

دا یوه پوانۍ اصطلاح ده چې پکې د (مقعدی قدام ته د پرینیوم برخې په انسی) متوسط کرخې تر حنګه شق (څیرنه) تر سره کېږی او ډبره –تیږه راویستل شی .

**Prerenal**

د پښتورګو دمخه ، قبل الکلیوی .

**- Prerenal Albuminuria**

د پښتورګو دمخه البومین یوریا .

**- Prerenal Anuria**

قبل الکلیوی یا د پښتورګو دمخه انیوریا.

**- Prerenal Azotemia**

د پښتورګو دمخه لاملونو له امله د وینې بهیر ازوت مقدار لوړوالې بلل شی.

**- Prerenal Uremia**

د پښتورګو دمخه لاملو له امله یوریمیا .

**Preretinal**

د سترګې شبکیې برخې دمخه ، قبل الشبکیه وی.

**- Preretinal Macular Fibrosis**

د سترګې شبکیې برخې دمخه د مکولافیبروزیس .

**Prerubral**

پرې روبرا (**Prerubra**) اړوند صفت . دا د لید هغه سیمه ده چې درې ډوله کرښې محاط سیمی لری چې د (**Subthalamus**) اړوند دی او د[**(From Haubenfelder**) **H Fields**] پنامه پېژندل شی. چې[ ① - (**Field H1**) یې د تلامیک فاسیکولوس ، فایبر طبقه چې د زونا انکریتا مفصلی برخه ده او د تلاموس لپاسه چې د (**Pallidothalamic And Cerebellothalamic Fibers**) جوړه ده (**Brachium Conjunctivum**) بلل شی چې زونا انکریتا له ښکته بطنی برخې (**Field H2**) څخه جلا کوی، د ② - (**Field H2**) چې د (**Lenticular Fasciculus**) او هغه قوس (**Arching**) چې د (**Subthalamic Nucleus**) د پورتنی سرحد لپاسه واقع ده چې زیاته پیمانه پیپلوتلامیک فایبر جوړوی منځ ته راځی ، ③ - (**Field H3**) هغه لویه اوغتېه سیمه چې د (**Intermingling Gray Matter** او **White Matter**) ترمنځ واقع او د (**Red Nucleus**) پوزې لورې ته پرته ده] .

**- Prerubral Field**

پری روبرال سیمه - (**Field H3**) هغه لویه اوغتېه سیمه چې د

د عمر په لوړېدوسره دزړه د چارو ناجوړه کېدل چې په بدن کې د عمر د زیاتېدو څخه د زېږنده نوروبدلونونو سره یوځای رامنځ ته کېږی .

## Presbycusis
دوه اړخیزه ، یوشان اوپرمختلونکي کوڼوالي چې د عمر په زیاتېدو رامنځ ته کېږی.

## Presbyopia
د سترګې د عدسیې د تطابق کمښت چې په د عمر په زیاتېدو سره منځ ته راځي لنډه ښه یې (Pr) ده .

## Presbyopic
د (Presbyopia ) اړوند صفت.

## Presbytia
د (Presbyopia ) په اند ېول.

## Presbytic
د (Presbytia) اړوند صفت .

## Presbytism
د دننه غوږ د تخریب له امله هغه حالت چې پکې په زاړه کسانو کې د اورېدنې فعل په تدریج سره کمښت مومی .

## Prescapula
له کتف هډوکی قدام ته ، تر کتف دمخه .

## Prescapular
د کتف هډوکی قدام اړوند .

**- Prescapular Fossa**
د کتف هډوکی قدام ته ژوره (فوسا) .

## Preschool
د ښوونځی (مکتب ، مدرسې) ته د شمولیت دمخه موده.

**- Preschool Age**
د ښوونځی څخه د مخه عمر.

**- Preschool Education**
د ښوونځی څخه د مخه عمر زده کړې لکه د وړکتون زده کړې.

## Prescience
د علم دمخه ،د هغه علمیت عمل چې دمخه تر پیښېدنې تر سره شی.د زده کړې هغه قدرت چې پکې علم سپما کېږی او چلند توپیر مومی.

## Prescientific
تر علمیت دمخه وخت اړوند ، قبل العلمیت ، د یوه آزمایښت یا فورمولبندی دمخه چې په علمی اصطلاح واوړی.

( White Matter او Intermingling Gray Matter ) ترمنځ واقع او د Campi Foreli) ، د ( Red Nucleus) پوزې لورې ته پرته ده ، د ( او Tegmental Felds Of Forel ) په اند ېول .

**- Prerubral Nucleus the of**
د (Field H2 ) اړوند خړ نسج (Gray Matter ) بلل شی.

## Presacral
له عجز دمخه ، قبل العجزی ، دعجز (Sacrum ) قدام ته.

**- Presacral Anesthesia**
د عجز قدامی بېهوښی.

**- Presacral Block**
د عجز قدامی عصبی نهی کول یا بېهوښی.

**- Presacral Fascia**
د عجز قدامی صفاق .

**- Presacral Nerve**
د عجز قدامی عصب .

**- Presacral Neurectomy**
د عجز قدامی د عصب قطع کولو (غوڅولو) جراحی عملیات .

**- Presacral Space**
د عجز قدامی ته واټن یا مسافه.

**- Presacral Sympathectomy**
د عجز قدامی د سمپاتیک اعصابو غوڅولو جراحی کړنلارې تر سره کولو کړنه .

## Presamine
دا د ( Dibenzazepine Class ) کلاس اړوند (Tricyclic ) درمل دی چې د[ انحطاط (خپګان ) ، دشپې متیازو کولو ( Enuresis) ] ضد اغېزې لری ، د (Imipramine) لپاره سوداګریز نوم دئ .

## Presb. /Presby
د (Presbyterian) لپاره لنډه ښه ده .

## Presbiopia
د (Presbyopia , Presbicia ) په اند ېول.

## Presby-
دا یو مختاړې دئ او د (زړښت ، سپین ږیرتوب ،ډېر عمر او Presbyo-) معنی بشپړوی .

## Presbyacusis
هغه حالت چې پکې په زاړه کسانو کې د اورېدنې فعل په تدریج سره کمښت مومی چې د دننه غوږ د تخریب له امله وی.

## Presbycardia

## Presbyo-

دا یو مختاړې دئ او د( زړښت ، زوړوالی، پیری ، سپین ږیرتوب) معنی بشپړوی .

## Presbyopia

هغه حالت چې په زړښت پوري اړوند د سترگو د عدسیې تدریجی کلک والې او لید کمښت منځ ته راځی.

## Prescribe

سپارښتنه ، هدایت او لارښوونه، هغه ډول لارښوونه چې ناروغ ته د درملو ډوز د درملنیز مقصد لپاره ورکول شی ، نسخه ورکول.

## Prescribed

سپارښتنه شوې.

**- Prescribed a Course of Antibiotics**

د انټی بیوتیک درملو د کورس سپارښتنه شوې .

**- Prescribed Disease**

سپارښتنه شوې ناروغی چې د یو ډول کار کړنې له امله منځ ته راځی لکه (کونوالې ، پنوموکونیوزیس) .

**- Prescribed illness**

هغه ناروغی چې د کار د چاپېریال پوري تړلې دی لکه (کېمیاوی موادو ، مرکیوري مسمومیت ، خطرناک فعالیتونه ، ډیکامپریشن ناروغی) .

## Prescribing

سپارښتنه کول ، توصیه کول ، نسخه ورکول .

**- Prescribing Analyses and Cost (PACT)**

د نسخې ورکولو تحلیل او بیعې اړوند معلومات راټول .

## Protactinium

پروټاکتینیم دا یو کېمیاوی نادر فلزی عنصر د (Actinide) له ډلې دئ چې د (91) اټومی شمېره لری ، اټومی وزن یې (036/231) کېمیاوی نښه یې (Pa) ده او په (1600°C) کې په خوټېدو راځی .

## Protamine

د ځینو کبانو (ماهیانو) په سپرم کې شتون لری د اساسی پروټینونو یو ډله ده چې د هیپارین خنثی کوونکی اغېزې لری او د سلفېټی مالگې څخه یې کار اخیستل شی.

## Protanopia

د سترگو ناروغی ده چې پکې د رنگونو د لید اړوند بلل شی او پکې یوازې د دوه رنگونو (آبی او ژیړ) لیدلای نور رنگونه نه وینی.

## Protanopic

د (Protanopia ) اړوند صفت.

## Protease

پروټیز، دا هغه یو پروټیولایټیک انزایم دئ چې د پروټیولایز عمل د پروټینونو کتابولیزم د هایدرولایز له لارې تر سره کوی او د پولیپیپټاید اړیکې په امینواسیدونو اړوی ، د (Proteinase ) یا (Peptidase ) په انډول .

**- Aspartate Proteases**

اسپارټیټ پروټېز انزایم.

**- Cysteine Proteases**

سیتین منځ ته راوړونکې پروټېز انزایم.

**- Glutamic Proteases**

گلوټامیک منځ ته راوړونکې پروټېز انزایم.

**- Metalloproteases**

مېټالو پروټېز انزایم.

**- Serine Proteases**

سیرین منځ ته راوړونکې پروټېز انزایم.

**- Threonine Proteases**

تریونین منځ ته راوړونکې پروټېز انزایم.

## Protect

خوندي کول، ساتل، دفاع کول.

## Protectant

ساتونکې ، ژغورونکې ، ساتندویه .

## Protection

دفاع، ساتنه، حمایه، دیوملک په تجارتي مارکیټ کښې په خارجي مالونو دومره دروند محصول اېښودل چې باندې هیوادونه په دغه مارکیټ کښې تجارتي رقابت ونشي کړای.

## Protectionist

دساتنې پالیسی ملاتړ، ژغورونکې لامل ، ژغورونکې ماهر.

## Protective

ساتندوی، ساتونکی، ژغورونکی، ملاتړ. دفاع کول یا دژغورنې او معافیت کار په مخ بیول .ژغورونکې لامل.

## Protector

ساتندوی، ساتونکی حامې.په کتالیست کې یوه ماده چې د فعالې چټکتیا زیاتوی.

## Protectorate

هغه پروټینونه چې په ټولیز ډول نه حل کېدای شي او د بدن مهم پروټینونه جوړوي ،لکه( کولاجنونه، الاستینونه ،کریاټینین ، اکتین او مایوزین).

**- G- Protein**

د حجروي غشأ دننه برخې د پروټینونو یوه کورنۍ چې د رسپټوري ټولګو سره په فعال ډول یوځای کېږي او د جوړښتیزو بدلونونو او کړیز اړیکو او د (**Gtp**) د هایدرولایز له لارې په ورودي کانالونو کې د بدلون لامل ګرځي او بیا د حجروي سطحې له رسپټورونو سره د داخل الحجروي ځواب رامنځ ته کولو په موخه یوځای کېږي .

**- Glial Fibrillary Acidic Protein**

د استروسایټونو د ګلیال فیلامنټونو جوړوونکي پروټین چې ددې حجرو معافیتي نسجي کیمیاوي مارکر په توګه پکاریږي.

**- Globular Protein**

په اوبو کې د کنحل پرټینونو یوه ډله چې د الفا امینواسیدونو د هایدرولایزیس څخه لاس ته راځي او اکثراً د بدن پروټینونه لکه البومین او ګلوبولین پکې شامل دي.

**- Guanyl –nucleotide –binding Protein**

د (**G –Protein** ) په اند ول.

**- Heat Shock Protein**

هغه پورټینونه چې د( تودوخې ، هایپوکسیا او نیوروسټرس )پېښوونکی لاملونو په غبرګون کې رامنځ ته کېږي او باور دئ چې حجرې ددې پروټینونو پواسطه دسترس په وړاندې خوندي کېږي.

**- HIV Protein's**

د انساني معافیتي نیمګړتیا د ویروس ځانګړي پروټینونه ، د (**Hiv** ) د ځانګړو پروټینونو شتون د (**Hiv** ) د ګلایکو پروټینونو سره مل د(**Hiv** ) د سیرولوژیک پېژندنې لامل ګرځي .

**- Myeloma Protein**

د ایمیونوګلوبولینونو یوه ډله چې د میالوما د حجرو پواسطه افرازېږي لکه د جونز (**Jones Protein** ) پروټین .

**- Partial Protein**

قسمي پروټین، هغه پروټین چې د بدن د نورو پروټینونو په وړاندې د اړینو امینو اسیدونو متفاوت نسبت لري.

**- Plasma Protein's**

پلازما پروټین ، د (البومینو، ایمیونوګلوبولینونو ، کمپلمنټونو ، تحثري فکټورونو او انزایمونو ) په ګډون د وینې پلازما د پروټینونو ټولیزه سلنه

**- Serum Protein's**

سېرومي پروټینونه ، د (البومینو، ایمیونوګلوبولینونو ، کمپلمنټونو ، تحثري فکټورونو او انزایمونو ) د سېروم پروټینونه.

**- Sphingolipid Activator Protein (SAP)**

د غېر انزایمي لایزوزومي پروټینونو یوه ډله چې د سفینګولیپیډي جوړښتونو د حلولو او نښلولو له لارې د ځینو

ترساتنې لاندې ( دقیمومیت سیمې )، تر څارنې لاندې علاقې.

## Protein

پروټین ،هغه مغلق او پیچلې مرکب چې د [ کاربن، هایدروجن ، اکسیجن ، نایتروجن ، سلفر او امینواسیدونو] څخه رامنځ ته شوی او دحجرو د پرتوپلازم د جوړونکې مادې اصلي برخه شمېرل شي او دودې او بدن ترمیماتي نسج لپاره اړینه ماده ده په (حبوباتو ، غوښه ، هګۍ ، شیدو ، ماسته ، کباتو ) کې په ډکه پیمانه شتون لري.

**- Acute Phase Protein**

له انتنې باډې ګانو پرته پروټینونه چې د (**Phage**) حالت کې دوینې سیروم کې په زیاته پیمانه لیدل کېږي دا پروټینونه (**C-Reactive Protein**) او فیبرینوجنونه دي.

**- Protein Balance**

هغه حالت چې پکې د خوراکي نایتروجن اندازه د میتیازو کې د اطراحي نایتروجن کچې سره معادل وي.

**- Bence Jones Protein**

د تودوخې په وړاندې حساس بولي پروټین چې ټیټ مالیکولي وزن لري او د مولتیپل میالوما کې لیدل شي.

**- Protein-bound Iodine**

د (**Thyroxine** ) او (**Iodine** ) ګډ ډول مرکب یا جوړښت بلل شي.

**- Protein-bound Iodine Test ( PBI test)**

هغه ډول آزماېښت چې د تایروئید غدې د تایروکسین مقدار د تولید په اړوند معلومات څرګندوي.

**- Complete Protein**

د اړینو امینواسیدونو لرونکی پروټین چې دانسانانو د تغذیې لپاره اړین او مهم دئ.

**- Compound Protein**

هغه پروټینونه چې له غې ر پرټیني مالیکولونو یا له مالګې څخه پرته ګروپونو سره یوځای کېږي لکه (نوکلیوپرټین ، ګلایکوپروټین ، او مالتوپرټین) په څېر.

**- Conjugated Protein**

د (**Compound Protein** ) په اند ول.

**- C-reactive Protein**

هغه لوبولین چې د نوموکوک په (**C**) پولیسکرایډ سره رسوب کوي دا ماده د حاد مرحلې (**Acute Phase** ) تر ټولو ارزښتناک پروټین دئ .

**- Protein Deficiency**

په خوراک او غذا کې د کافي اندازې پروټینونو نشتوالې.

**- Fibrillar Protein**

## Proteinogenic

د پروټين منځ ته راوړونکي لامل ، پروټين زېږوونکي ، پروټين جوړوونکی .

**- Proteinogenic Amino Acid**

پروټين جوړوونکی امينواسيدونه.

## Proteinkinase

هغه انزايمونه چې په نورو انزايمونو يا پروټينونو کې د (سيرين ، تريونين ، ټايروزين ) د ګروپونو فاسفوريلېشن کتلايز کوی او له (Atp) څخه د فاسفيټ ورکوونکی په توګه ګټه اخلی .

## Proteinoid

پروټين ته ورته او مشابه جوړښت .

## Proteinometer

د تحليلی کېميا علم له مخې د پروټينونو د کچې ټاکنې وسيله .د (Hand Sugar Refractometer) په اندېول.

## Proteinoplast

په حجروی او ماليکولار بيولوژی کې هغه ډول حجره چې ( کريستالين ، فيبريلار، بې شکله پروټيني کتلې ) ولری .

## Proteinosis

دا يو ارثی ډول اختلال دئ چې پکې په وصفی توګه د حجرې بهر (Extracellular ) برخه کې (-Phospholipid Protein Conjugate) ذخيره کېږی چې د بدن په بېلابېلو برخوکې منځ ته راځی.

**- Lipid Proteinosis**

شحمی پرټينوزيس .د ليپيډونو د مېټابوليزم ناروغی چې د (شونډو په داخلی سطحه ، ژبه ، اوروفرينکس او حنجرې ) کې د کاربوهايدريټ او شحم ګډ ډول هيالينی ژيړ رنګه رسوب او جلدی ضايعه منځ ته راځی .

**- Pulmonary Proteinosis**

د سږو پروټينوزيس .د سږو مزمنه ناروغی چې د ډيستال الويولونه د ايوزينوفيليا پروټينی موادو په واسطه چې احتمالاً انډوجنيک هم شمېرل کېږی ډکېږی چې د تهوئی مخه نيسی .

## Proteinotherapy

د پروټينونو ورکړې پذريعه درملنه په ځانګړې توګه په (هايپوپرټينيميا او خوار ځواکی ) کې

## Proteinous

پروټينی ، د پروټينونو اړوند .

## Proteinphobia

لايزوزومی هايدرولايزونو فعاليت راپاروی.

## Proteinaceous

پروټينی ، د (Protein) اړوند صفت ، د پروټينونو د له طبيعت اړوند .

## Proteinase

پروټينېز ، هغه انزايم دئ پورټينونه ماتوی او هغه هايدرولايزيس کوی او په کوچنيو پيپټايډونو او امينواسيدونو يې اړوی لکه ( Trypsin ، Pepsin يا Papain) په څېر ، د ( Peptidase, Protease, Proteolytic Enzyme) په اندېول.

**- Proteinase 3**

هغه (Endopeptidase ) انزايم چې د لوکوسايټونو پذريعه توليدېږی او د (Elastase ) په څېر ورته عمل کوی.

**- Proteinase Accumulated by Inhibitors**

د پروټينېز راټولېدنه د مخنيوی (نهی) کوونکو پذريعه .

**- Proteinase-Activated Receptor 2(F2RL1)**

هغه رسپټورونه چې پروټينېز انزايم پذريعه فعال کېږی دا هغه جين دئ چې د (Chromosome 5q13 ) لپاسه پروت دئ او (Trypsin ) او (Trypsin-Like Enzymes ) انزايمونو فعالېدنه منځ ته راوړی.

**- Proteinase Inhibitor 13**

دا هغه جين دئ چې د ( Chromosome 18q21.3-Q22 ) لپاسه پروت دئ چې د [ Serine Protease Inhibitor (Serpin)] کورنۍ غړی دی او دوی ته (Encodes ) کېدنه ورکوی او چې د ( Proliferation ) او (Keratinocytes ) توپيرولو کې رول لوبوی.

**- Proteinase Inhibitor 9**

د پروټينېز نهی کوونکی انزايم.

**- Proteinase Inhibitor II**

دا هغه ډول پروټينېز نهی کوونکی انزايم دئ چې وزن بايلنی مواد او محتوی لری .

**- Proteinase Inhibitor-Inducing Factor**

د پروټينېزونو نهی کوونکی توليدولو فاکټور .

**- Proteinase Resistant Protein (PRP)**

د پروټينېزونو مقاوم پروټين .

## Proteinemia

په وينه کې د پروټينونو کچې لوړ والی ، د (Hyperproteinemia ) په اندېول.

## Proteinic

پروټيني ، پروټين درلودونکې ،د (Protein) اړوند صفت .

له پروټینو څخه ویره، دا د پروټین په وړاندې د الرجی لرونکو کسانو کې شتون لری .

## Proteinsynthesis

د پروټین جوړېدنې او ترکیب پروسه ده چې پکې د امینو اسیدونو څخه د [ Transfer Rna، Ribosomal Rna، Messenger Rna، او ګڼ شمېر انزایمونو (Various Enzymes) ] په مرسته پروټینونه جوړېږی.

## Proteinuria

په متیازو کې د پروټینونو اطراح بلل شی.

**- Proteinuria, Severity**

شدید ډول پروټینیوریا . د پروټینیوریا شدت.

## Proteinuric

د ( Proteinuria ) اړوند صفت .

**- Proteinuric Pregnancy-Induced Hypertension**

د بلاربښت اړوند پروټین یوریا لرونکی د وینې فرط فشار تولیدېدنه .

**- Proteinuric Syndrome**

د پروټینیوریا مجموعة الاعراض یا سنډروم.

## Protense

د توسعې او بسط ( Extension ) په انډول.

## Protension

له فشار څخه دمخه ، د توسعی او بسط ( Extension ) عمل تر سره کولو حالت .

## Protensity

دا د روانی-عقلی پروسې تسلسل اړوند اصطلاح ده چې د مؤقت پرمختیا او یا حرکت د وخت پرمختیا لپاره وصفی دئ.

## Protensive

د توسعې او بسط ( Extension ) موندلې حالت اړوند صفت ، توسع موندلې .

## Proteo-

دا یو مختاړې دئ اود (پروټین ، Protein ، Proteolysis ) معنی بشپړوی.

## Proteobacterium

هر هغه ګرام منفی باکټیریا چې د ( Phylum Proteobacteria) اړوند وی چې پکې ( E. Coli او Salmonella) ورګډېږی.

## Proteocephalidae

د فیتوی چینجیود کورنۍ یو آرډر (Order ) دئ چې پکې د مثل تولید غړې د سګمنټ د مرکزی مېزانشیم منځ کې شتون لری.

## Proteocephaloidea

د فیتوی چینجیود کورنۍ یو آرډر (Order) دئ چې د (Cestoda) یو (Subclass ) دئ چې غړې یې څلور چوشکونه په څوکه کې لری.

## Proteocephalus

د فیتوی چینجیود کورنۍ یو جینوس (Genus) دئ چې د (Proteocephalidea) په (Order) کې ورګډېږی.

**- Proteocephalus Amboplitis**

د فیتوی چینجیود کورنۍ یو جینوس ( Genus) دئ چې د (Proteocephalidea ) په (Order ) کې ورګډېږی چې په کلچر شوی کبانو کې موندل شی دا پرازیت ګونادونه اخته کوی او د عقامت لامل ګرځی.

## Proteoclastic

د پروټینونو ماتوونکې او ټوټه کوونکې لامل، د (Proteolytic، Proteolysis) په انډول.

## Proteogenic

د پروټین تولید ورتیا لرونکې عامل ، (Proteinogenic) په انډول.

## Proteoglycan

د پروټینی –پولی سکراید مرکبونو(Glycoproteins ) یوه ډله چې په منضمی نسج او کرپندوکی یا غضروف په خارج الحجروی مټریکس (Extracellular Matrix ) کې شتون لری دا مواد پولی پیپټایډی اسکلېټ لری چې د کوولانټ اړیکې پذریعه ورسره د ګڼ شمېر ګلایکوز امینوګلایکانونو ځنځیرونه نښلی دا ماده نرموونکې اوژغرونکې ده.

**- Proteoglycan Aggregate**

د پروټیوګلایکان تجمعی غیر کوولانټی اړیکه د لوی مالیکول لرونکی هیالورونیک اسید سره ده چې پکې تېروبېر ډول کولاجن رشتې د غضرفی ماټریکس شتون لری..

**- Proteoglycan -I , (2 & 4 )**

دا د پروټیوګلایکان کوچنی [ Leucine-Rich Repeat (LRR)] ماده ده چې د (BGN ) پواسطه د ( Chromosome Xq28) لپاسه (Encoded ) کېږی چې د غضلاتو د ریجنریشن لپاره کولاجن رشتې جوړوی دا بین النسجی ( Interstitial Proteoglycan) پروټیوګلایکان دئ چې د (Glycosaminoglycan) دوه ځنځیرونه لری د ( Biglycan )

په اندول .

**- Proteoglycan-Induced Arthritis**

د پروتیوګلایکان له امله منځ ته راغلي د بندونو التهاب .

## Proteoglycanase (MMP3)

د د پروتیوګلایکانېز انزایم هغه جن چې د (Chromosome 11q22.3) لپاسه د ( Matrix Metalloproteinase 3) د (Encodes ) منځ ته راوړی چې د (Fibronectin ، Laminin ، IX ، IV ، Collagens III او X، او همداډول د Cartilage Proteoglycans ) کمښت او لړوالي منځ ته راوړی دا د (جروحاتو ترمیم ، شریانی تصلب پرمختګ او تومورونو ) منځ ته راتګ کې شامل ګڼل شي. پتولوژیک ډول نقیصه یې د زړه اکلیلی شراینو د ( Type 6) ناروغي منځ ته راوړي.

## Proteohormone

هغه هورمون چې د پروتین جوړښت سره مل وی لکه ( Peptide Hormone) په څېر .

## Proteolipid

هر هغه کلاس یا ډله پروتین په شحم کې منحل جوړښت لري.

**- Proteolipid Protein**

په شحم کې منحل پروتین لرونکي پروتین.

**- Proteolipid Protein, Myelin**

پروتیولیپید پروتین میالین .

## Proteolysin

هر هغه لایزین چې د پروتیولایزیس (Proteolysis ) عمل تر سره کړای شي .

## Proteolysis

د پیپتایډی اړیکو د هایدرولایزیس له مخې د پروتینونو د تجزیې او ټوټه کولو پروسه ده چې پکې کوچنیو (Polypeptides) اود امینواسیدونو جوړېدل پېښېږي .

**- Proteolysis Inducing Factor**

د پرتیولایزیس پېښوونکي فاکتور .

## Proteolytic

د (Proteolysis) اړوند صفت.

**- Proteolytic Cleavage**

هر هغه انزایم ( Endopeptidases او Exopeptidases )چې د پرتینونو هایدرولایزیس اړوند کتلایزیس منځ ته راوړی او پروتین په (Amino Acids ) او (Peptides ) باندې واړوی چې ورته (Peptidase) هم وائی .

**- Proteolytic Enzyme**

هر ډول پروتیولایتیک انزایم ، د (Protease ) په اندول.

**- Proteolytic Fragment**

پروتینی ماتې شوې ټوټې .

**1** .د پسایکوز پېښې کوونکې ، **2** .د روانی اختلالونو د اوصافو په مخ ځانګړې کېدونکې او پېښېدنې په څېر د نښونښانو تولیدوونکی اړوند .

## Psychotopic

په ماغزو باندې اغېز ښندل چې د درملو په اړه پکارېږی.

## Psychotropic

د هغه درملو اړوند (منبه–پاروونکی یا آراموونکی) چې د یو چا پر شخصیت او کرکټر باندې اغېز پرېباسی.

## Psychr(o)-

دا یو مختاړې دئ او (سړښت ، ساړه ، یخ ، کنګل ) معنی بشپړوی.

پېژندله کېږی.

**- Affective Psychosis**

خُلقی اختلال .

**- Alcholic Psychosis**

هغه پسایکوز چې د الکهولو د خوراډېرې کارونې له امله منځ ته راځی .

**- Bipolar Psychosis**

دوه قطبی پسایکوز روانی اختلال.

**- Brief Reactive Psychosis**

د پسایکوز نښو اپې زوډ چې د ژوندانه د ځوروونکو پېښو په وړاندې غبرګون دئ، ناڅاپی پیل لری او له یوې میاشتې څخه د لږ مودې لپاره غځېږی.

**- Involutional Psychosis**

د ( **Melancholia** ) په اند‌ول.

**- Korsakoff's Psychosis**

د کورسکوف سنډروم په اند‌ول.

**- Maniacodepressive Psychosis**

دوه قطبی پسایکوز روانی اختلال.

**- Organic Psychosis**

د ارګانیک سایکوټیک سرچینې لرونکې ذهنی ناجوړتیا .

**- Snile Psychosis**

د (هذیانونو ، ډپرسیف اندېښنو خپګان یا پارانوئیډ اندېښنو سره مل د زړښت ډیمنشیا ) حالت شتون.

**- Symbiotic Psychosis = Symbiotic Infantile Psychosis**

په ( **2-4** ) کلنو هغه ماشومانو کې یو حالت چې له مور سره غېر نورمال اړیکه لیدل کېږی او د بېلتون څخه د زړبړنده (اظطراب ، شدید رګړېشن ، دګته ورو خبرو او ویناوو ور کړې ، **Autism** ) په مرسته پېژندل کېږی.

**- Toxic Psychosis**

سمی پسایکوز، هغه پسایکوز چې د زهرجنو عواملو یا په بدن کې د زهرونو په شته والی سره منځ ته راځی.

## Psychosocial

روانی- ټولنیز ، د ټولنیزو پېښو په وړاندې د روحی – روانی غبروګونو اړوند .

**- Psychosocial Care**

د روانی –ټولنیزو څارنه .

**- Psychosocial Relationships**

د روانی –ټولنیزې اړیکې .

## Psychosomatic

روانی –بدنی ، د بدن او روانی حالاتو ترمنځ د اړیکو اړوند .

**- Psychosomatic Pain**

د (Folic Acid ) په انډول.

## Pterygium

په لېمه ايېز درز کې غېرنورمال مثلثی غشائی چين يا وزر ډوله جوړښت درې کنجه وده (Triangular Growth) چې له ملتحې څخه دقرنيې د حدقې لورې ته غځېږی.

**- Pterygium Coli**

هغه پنډ جلدی چين چې د غاړې په هر لوری کې له مستېوئيد څخه تر اکروميون پورې شتون لری.

## Pterygo -

دا يومختاړې دئ او د (Pterygoid Process ) معنی لری .

## Pterygoid

پترگوئيډ ، وزر ته ورته بڼه ، درې کنجه جوړښت .

**- Pterygoid Plate**

کوچنی همواره هډوکيزه استطالهٔی جوړښت د پترگوئيد استطالې لپاسه.

**- Pterygoid Plexus**

پترگوئيد ضفيره ، د وريدونو او سينوسونو يوه ډله چې د زنې تر شا يوبل سره وصلېږی.

**- Pterygoid Process**

پترگوئيد استطالې، د وتدی هډوکی (Sphenoid Bone ) لپاسه دوه دانې استطاله يې راوتلتياوی .

## Pterygomandibular

د پترگوئيد او ژامنې اړوند ، د (Pterygoid Process) او (Mandible ) برخو اړوند .

## Pterygomaxillary

د (Pterygoid Process ) او (Maxillary) بارزو اړوند .

## Pterygopalatine

پترگوئيد استطالې او تالو هډوکی اړوند .

**- Pterygopalatine Fossa**

پترگوئيد استطالې او تالو هډوکی اړوند حفره (فوسا) چې د پترگوئيد استطالې او پورتنۍ ژامنې ترمنځ مسافه جوړوی .

**- Pterygopalatine Ganglion**

پترگوئيد استطالې او تالو هډوکی اړوند گانگليون چې ( Pterygopalatine ) حفرې کې د ( Maxillary Nerve ) سره مترافق وی او ورته ( Sphenopalatine Ganglion ) هم وائي.

## Ptilosis

د سترگو د لېمو رالوېدل .

## Ptomaine

پتومائين ، هغه ډله نايټروجنی کېمياوي ماده چې په

## Psychroalgia

د سړوخې دردناک احساس .

## Psychrophilic

د سړوخی لېوالتيا /مينه ناک ، د هغه باکتری گانو په اړه يکاروړله شی چې په ساړه محيط (15-20°c) کې ښه وده کوی.

## Psychrophore

يو ډوبل کتېتر چې د سړوخی د برقراری لپاره يکارېږی.

## Psyllium

د (Plantego) د جنس يو بوټې.

## PT

د (Prothrombin Time ) لپاره لنډه نښه ده.

## Pt

پلا تين د (Platinum) کېمياوی گران فلزی عنصر چې د سپين زرو طبيعی رنگ لری اتومي وزن يې (195/09) ، اټومی شمېره يې (78) مخصوصه وزن يې(21/45)د ذوب ټکې يې (Oc 1772 ) او د بخارېدنې ټکې يې ( 3827Oc) دې او د کېمياوی نښه يې (Pt ) ده او زيورو او گانو جوړونې يکار وړل شی .

## pt

د اوبلنې مايع پيمانه ده چې د څلورمې (Quart ) نيمائی په انډول يا أونس ( 16) يا د امريکائی ليټر (0/ 473) اندازه يا د انگريزی ليټر ( 0/568) په اندازه اټکل کېږی . د (Pint ) په انډول لپاره لنډه نښه ده .

## PTA

د(Plasmathromboplastin ) لپاره لنډه نښه ده ، د ( Factor- XI) په انډول.

## Ptarmic

پرنجې پېښوونکې .

## Ptarmus

سپزموډيک پرنجې .

## PTC

د پلازما اړوند ترومبوپلاستين برخه (Factor- Ix ) تحثری فکتور .

## Pterion

د کوپړۍ د (Frontal ، Temporal Parietal او Sphenoid ) هډوکو ترمنځ د پيوستون ټکی .

## Pteroylglutamic Acid

ورستو او خوسا شیانو باندې پیدا کېږي او هغې ته ځانگړې بوی وربخښی.

**- Ptomaine Poisoning**

د پتومائین پذریعه مسمومیت .

## Ptosed

د ( Ptosis) منځ ته راغلې حالت.

## Ptosis

1 .د یوه غړی یا ارگان یا دهغې د یوې برخې رالوېدلې او پرولاپس ، 2 .د فلج له کبله د پورتنی لېمه رالوېدل (جفنی سقوط)

## -ptosis

دا یو مختاړې دئ چې د (سقوط ، رالوېدنې ، پرولاپس Prolapse) معنی لری .

## Ptotic

د ( Ptosis ) اړوند صفت.

## PTSD

د (Post-Traumatic Stress Disorder ) لپاره لنډه نښه ده.

## Ptyal-

دا یو مختاړې دې او د (لاړو ، لعاب، -Ptyalo ) معنی لری.

## Ptyalagougue

د (Sialagougue) په اند‌ول.

## Ptyalectasis

د لاړو د مجراگانو آزادېدل ، د لعابیه قنیواتو توسع ، په جراحی عملیات سره د مجراگانو آزادول.

## Ptyalin

هغه انزایم چې په لاړو کې پیدا کېږی چې خوله پاکوی او نشایسته په قند (خوږو ) اړوی .

## Ptyalism

د لاړو د زیاتې پیمانې ( د لاړو ډېر افراز) منځ ته راتگ بلل شی .

## Ptyalith

د لاړو د قناتونو ډبرې ، د (Sialolith) په انډول.

## Ptyalo -

دا یو مختاړې دئ او د (لاړو ، لعاب ، Sialo او Saliva) معنی لری.

## Ptyalocele

سیستیک ډوله تومورونه چې لاړې ولری.

## Ptyalogenic

د لاړو څخه جوړ شوې ، لاړې منځ ته راوړونکې لامل.

## Ptyalorrhea

د (Ptyalism ) په اندول.

## Ptyalography

د لاړو د قناتونو راډیوگرافیک کتنه چې د یوې رنگه مادې تېرولو وروسته اخیستل شی ، د (Sialography ) په انډول.

## Pu

پلوتونیم (Plutonium ) لپاره لنډه نښه ده ، دا یو کېمیاوی راډیو اکتیف عنصر دئ چې غوره ایزوتوپ یې( $^{239}$- Plutonium ) دئ چې داتومي انرژي دتولیددپاره استعمالیږي او په اټومی (هستوی) وسلو کې کارول شی نښه یې(Pu): اټومي وزن یې(13/239)، اټومي شمېره یې (94)، مخصوصه وزن یې (84/19)، د ویلې کېدنې ټکې یې (641°c )، و جوش (بخاربدنې) ټکې یې ( 3232 °c) ده .

## Pubarche

د سپوغزې ( زهر ) برخې د ویښتانو د شته والی لومړنۍ نښې

## Puberal

د بلوغ (Puberty ) اړوند صفت.

## Pubertal

د بلوغ (Puberty ) اړوند صفت.

## Pubertas

د (بلوغ ، بالغ توب ، ځوانتوب ، پېغلتوب) دورې اړوند .

**- Pubertas Praecox**

د وخت څخه دمخه بلوغ .

## Puberty

د فزیکی او عقلی نظر څخه د (بلوغ ، بالغ توب ، ځوانتوب ، پېغلتوب) حالت چې پکې د جنسی ثانوی صفات او یولړ بدلونونه پېښېږی چې ماشومتوب پای ته رسېږی او د جنسی پلوه هلک یانجلۍ د بچی زېږون وړتیا تر لاسه کوی دا په نجونو کې د (10) کلنۍ څخه او په هلکانو کې لږ مهال ورسته منځ ته راځی.

**- Praecocious Puberty**

د وخت څخه دمخه بلوغ .

## Pubes [1]

سپوغزه (سپوخزه) هغه برخه چې د (Groin ) څخه پورته وی هلته چې د پوبیک هډوکو اتفاق کوی .

## Pubes [2]

د (**Pubis** ) لپاره گڼه شمېره ده.

## Pubescent

①د (ځوانتوب ، پېغلتوب ، بلوغ) مرحلې ته رسېدلې .

② په لانوگو وېښتانو باندې پوښل شوې .

## Pubic

د (**Pubis** ) اړوند صفت چې هغه برخه چې تناسلی غړو ته نږدې ده.

**- Pubic Bone**

د پوبیک هډوکی چې د حوصلې قدام ته واقع وی ورته ( **Pubis**) هم وائی.

**- Pubic Hair**

هغه وېښتان چې د پوبیک برخه ( بهرنی تناسلی غړو) کې وده کوی.

**- Pubic Louse**

د (**Pediculus Pubis** ) په انډول.

**- Pubic Symphysis**

د دوه پوبیک هډوکو تر منځ غضروفی مفصل ، د ( **Symphysis Pubis**) په انډول.

## Pubiotomies

د ( **Pubiotomy** ) لپاره گڼه شمېره .

## Pubiotomy

دجراحی عملیات پواسطه د عانې اتفاق برخې د ببلولو عملی کړنلاره چې د زېږون پرمهال ځینې وختونه پکارېږی.

## Pubis

د حوصلې قدامی برخه د پوبیک هدوکو ته ویل شی.

## Public Health

عامه روغتیا ، هغه علمی څانگه چې په سیستماتیک ډول سره د ناروغیو ، روغتیا لارې چارې په ټولنه کې څېړی .

**- Public Health Laboratory Service (PHLS)**

د عامې روغتیا لابراتواری چوپړتیاوې او خدمتونه چې په ملی سطحه د ناروغیو د پېژندنې ، درملنې لپاره د لابراتواری کتنې تر سره کوی تر څو انتانات امحا کړل شی.

**- Public Health Master Degree**

د عامې روغتیا اړوند د ماستری درجې درلودونکې ډاکټر او دې اړوند پروگرام .

**- Public Health Medicine**

د عامې روغتیاطبابت ، د طبابت هغه څانگه چې پکې د ټولنې ناروغیو او روغیتا (د خلکو مسؤلیتونو د ناروغی اړوند ، روغتیائی څارنې ، روغتیائی اړتیاوو پېژندنې ، د پالیسی گانو جوړولو او انکشاف) په اړه سروکار لری تر روغتیائی خدمتونه بنه والې ومومی.

**- Public Health Nurse**

د عامې روغتیا نرس ، هغه نرس یا روغتیائی کارکوونکې چې په عامې روغتیا څارنې کې بلد او پوه وی .

**- Public Health Physician**

د عامې روغتیا ډاکټر ، هغه مشوره ورکوونکې طبی ډاکټر چې د عامې روغتیا په طبابت کې روزل شوې وی یا ئې اړوند زدهکړې کړېوی .

## Pubovisical

د عانې او مثانې اړوند صفت .

## Pucker

کتول، گونځې کول، کتېدل، گونځې کېدل.

## Pudenda

د (**Pudendum** ) لپاره گڼه شمېره ده .

## Pudendal

د (**Pudendum** ) اړوند صفت .

**- Pudendal Block**

د شونډو بلاک ، د مهبل د شونډو (**Pudendum** ) برخې بې حسه کولو کړنلاره چې د ماشوم زېږون جراحی پرمهال تر سره کېږی .

## Pudendum

د ښځودبهرنی تناسلی غړوشونډې چې گڼه شمېره یې (**Pudenda** ) ده .

**- Pudendum Femininum**

ښځینه د مهبل شونډې (پوډنډوم ) .

**- Pudendum Mulibre**

ښځینه د مهبل شونډې (پوډنډوم ) .

## Pudic

د (**Pudendum**) اړوند صفت .

## Puerile

ماشومتوب، له ماشومانو سره په تړاو کې.

## Puerpera

زچه ، هغه مېرمن چې سمدستی یې ماشوم زېږولې وی او رحم لاهم توسع ولری.

## Puerperae

د ( **Puerpera**) گڼه شمېره ده .

یوه وسیله چې کړۍ (حلقه) لري چې د هغې لارې ( Wires یا Cords ) تېرېږي او د کشش (ترکشن) په موخه کارول شي.

## Pollicide
وږه وژونکې درمل / مواد .

## Pullulation
د غوټۍ (جوانې ، تبغې) وهلو له لارې وده کول .

## Pulmo-
دا یو مختاړې دئ او د (سږو ، ریوی ، Lungs او Pulmon-) معنی لري.

## Pulmoaortic
ریوی – ابهري ، د سږي او ابهر اړوند صفت .

## Pulmonale
د سږي اړوند صفت لکه د (Cor Pulmonale) په څېر .

**- Cor pulmonale**

د زړه او سږو ګډه ناروغي چې معمولاً په زړو کسانو کې منځ ته راځي .

## Pulmonary
د سږو ( Pulmonal او Lungs ) اړوند صفت.

**- Pulmonary Artery**

د سږو سور رګې ، سږو شریان ، هغه جوړه رګو نه چې وینه د زړه څخه سږو ته د اوکسیجن اخیستلو په موخه لېږدوي .

**- Pulmonary Circulation**

د سږو بهیر ، هغه د وینې بهیر چې د جوړه رګو نو پواسطه وینه د زړه څخه سږو ته د اوکسیجن اخیستلو په موخه لېږدوي او بیا بېرته د ریوي وریدونو له لارې زړه ته راوړله شي ، د ( Lesser Circulation) په اند ول.

**- Pulmonary Disease**

د سږو ناروغي ، د سږو د هراز ناروغیو اړوند.

**- Pulmonary Embolism (PE)**

د سږو آمبولي ، د سږو د شریانونو تړل کېدنه (بلاک) د وینې د پړن –علقې پواسطه .

**- Pulmonary Hypertension**

د سږو د اروأ کوونکو رګونو په منځ کې د وینې لوړ فشار شته والي.

**- Pulmonary Insufficiency**

د سږود اساسي شریانونو او اړوند دسامي کړۍ دننه د عدم کفائی منځ ته راتګ چې د ریوي فرط فشار له کبله منځ ته راځي د ( Pulmonary Incompetence ) په اند ول.

**- Pulmonary Incompetence**

## Puerperal
نفاسي ، د نفاس مرحلې اړوند صفت ، د (Puerperium او Puerpera ) اړوند صفت .

**- Puerperal Infection**

د نفاس دورې اړوند انتانات چې ښځې یې وروسته د زېږون څخه د تناسلي غړو برخه کې اخلي (د سیزارین وروسته ، ککړ زېږون) پرمهال دې ته د (Postpartum Fever او Puerperal Fever) نوم هم ورکړل شوېدی چې لوړه درجه تبه او د سیپسیس نښې لري .

**- Puerperal Fever**

نفاسي تبه ، د (Puerperal Infection) په اند ول .

**- Puerperal Psychosis**

نفاسي پسایکوز ، دا حالت معمولاً ځینې ښځې د زېږون وروسته په لومړنیو دوه اونیو کې لري.

**- Puerperal Sepsis**

نفاسي سیپسیس چې د پلاسنتیائي برخو د انتاناتو له کبله منځ ته راځي .

## Puerperalism
د ماشوم یا مور هره هغه ناروغي چې دلنګون / زېږون له کبله یا ورسره منځ ته راغلې وي .

## Puerperium
نفاس ، تر لنګون / زېږون وروسته مرحله چې تر ( 6 Weeks) پورې مودې سره تړاو ولري .

## Puerperous
نفاسي ، د نفاس مرحلې اړوند ،د (Puerperal ) په اند ول.

## Puke
کانګې کول ، ګرځون ، د (Vomit ) په اند ول.

## Pulex
عادي وږه ، هغه حشره وږه چې په انسانانو او حیواناتو کې ژوندون کوي.

## Pull
کش ، کشول ، د ځان لورې ته راکشول، د انحراف لورې ته د عضلاتو کشول.

**- Pull Through**

د شدیدو ناروغیو څخه خلاصون (ریکوري) موندنه . د درملنې پواسطه د ښه کېدو لورې ته کشول.

**- Pull Through Opreration**

دا یو ډول جراحي عملیات کړنلاره ده چې پکې کولون یا کولمې د مقعد برخې ته ښکته راکشول کېږي او مصنوعي مقعد جوړېږي .

## Pulley

دپولپ جوف، د غاښ دننه مرکزی برخه چې پکې پوست نسج پروت دئ.

- **Corona Pulp**

د غاښ د تاج پورې اړوند پولپ.

- **Dental Pulp**

د غاښ پولپ .غاښیز پولپ .

- **Digital Pulp**

د ګوتې پولپ .

- **Red Pulp**

د توری سور پولپ .

- **Splenic Pulp**

د توری (طحال) اړوند پولپ .

- **White Pulp**

د توری سپین پولپ

## Pulpa

د (**Pulp**) په اندول.

## Pulpal

د (**Pulp**) اړوند صفت

## Pulpectomy

د غاښ د پولپ راویستلو جراحی عملیات کړنلاره .

## Pulpitis

د غاښ د پولپ التهاب .

## Pulpotomy

دغاښ د پولپ پرې کولو (وازولو) جراحې عملیه .

## Pulpy

د پولپ څخه منځ ته راغلې ، پولپی جوړښت .

- **Pulpy Tissue**

پولپی نسج ، هغه پوست نسج چې د غاښ دننه شتون لری.

## Pulsate

نبضان ، د یوه منظم قوی تقلص او توسع سره مل نبض .

## Pulsated

نبضانی ، نبض منځ ته راغلې حالت .

## Pulsating

نبض منځ ته راتګ ، نبضانی کېدل.

## Palsatile

ضربان لرونکې ، نبضانی حالت.

## Pulsation

نبض منځ ته راتګ ، نبضانی کېدل ، ضربان.

## Pulse

نبض ، ضربان، د یوه شریان یا زړه (منظم ،قوی تقلص او توسع) سره مل پړسېدنه او راټولېدنه چې د وینې د بهیر

د (**Pulmonary Insufficiency**) په اندول.

- **Pulmonary Oedema**

ریوی اذیما ، د سږو پړسوب چې د سږو په انساجو کې د مایعاتو راټولېدنې له کبله پېښېږی دا کېنې زړه عدم کفایه کې پېښېږی .

- **Pulmonary Stenosis**

د ریوی دسام د تنګوالی ناروغی ، ریوی شریانی دسام تضیق.

- **Pulmonary Tuberculosis**

د سږو نری رنځ ، دسږو توبرکلوزیس ،

- **Pulmonary Valve**

ریوی دسام ، هغه والف چې د سږو شریان ته وازېږی.

- **Pulmonary Vein**

ریوی ورید ، هغه ورید چې پاکه وینه زړه اذین ته د سږو څخه لېږدوی.

## Pulmonectomies

د ( **Pulmonectomy** ) ګڼه شمېره ده.

## Pulmonectomy

د سږو غوڅولو او راویستلو جراحی عملیات ، د (**Pneumonectomy**) په اندول .

## Pulmonic

ریوی ، د سږو (**Pulmon**) اړوند صفت.

## Pulmonis

ریوی ، د سږو (**Pulmon**) اړوند صفت.

- **Left Pulmonis**

کیڼ سږې ، چپ لوری ته سږې .

- **Right Pulmonis**

ښې سږې ، راسته لوری ته سږې .

## Pulmonitis

د سږی د نسج التهاب ، د سږو دالتهابی ناروغیو اړوند .

## Pulmonology

دطب هغه علمی څېړنیزه څانګه چې د سږو جوړښتیزو ، فیزیولوژۍ او د سږو ناروغۍ څېړنو سره سروکار لری.

## Pulmotor

د مصنوعی سا اخیستلو (تنفس) ماشین.

## Pulp

د غاښ ماغزه ، نرمه ، یو پوست او نرم حیوانی یا نباتی نسج . هغه پوست نسج چې د یوه کلک نسج پذریعه احاطه شوې وی لکه د غاښ دننه.

- **Pulp Cavity**

او د زړه د حرکتونو او پمپ کولو له امله پېښېږي.

**- Pulse Abnormality**

غیر نورمال نبض چې پکې بې نظمه ډول هم ورګډېږي چې د مودې او څپې توپیر پکې شاړت لري چې په ( **Pulse, Corrigan's Pulse, Dropped Pulse, Pulse Deficit, Waterhammer Alternating Pulse** او یو لړ نورو) کې منځ ته راځي،

**- Alternating Pulse**

متناوب نبض ، نبض چې دسیکل له بدلون څخه پرته پیاوړې او کمزورې کېږي.

**- Pulse Amplitude**

د نبضان پراخوالې او لویوالې چې د شریاني وینې فشار ځرګندوی چې هرنبض د یوې څپې په څېر د ګوتو پواسطه جس کېږي .

**- Anacrotic Pulse**

غابنیز نبض ، د نبض په ګراف کې په پورتني او صعودي برخه کې یوه کوچنۍ څپه او موج شتون لري .

**- Anadicrotic Pulse**

هغه چې پکې صعودي هڅه چې ترسیم کې دوه کوچنۍ یا نورې اضافه څپې یا لیندۍ (**Notches** ) په څېر لري .

**- Anatricrotic Pulse**

هغه چې پکې صعودي هڅه چې ترسیم کې ددرې کوچنۍ یا نورې اضافه څپې یا لیندۍ (**Notches**) په څېر لري د ( **Anadicrotic Pulse**) په انډول.

**- Arterial Pulse**

شریاني نبض چې د شریان لپاسه د جس وړ دئ دا د شریاني وینې د ضربې (**Left Ventricle**) له امله چې د کیڼ بطین پذریعه د ابهر لورې ته منځ ته راځي چې د څپې ترسیم د وینې د حجم پورې اړه لري .

**- Atrial Venous Pulse**

هغه رقبي نبض چې پر یوه څپې باندې د اذیني سیستول پرمهال تأکید وکړي او د تقلص پر قوې باندې په ښي اذین کې د زیاتوالي اغېز پرېباسي او د غبرګ اړوند ښکته او ټیټوالې منځ ته راوړي دا د (**Tricuspid Stenosis** ) کې لیدل شي د ( **Atriovenous Pulse**) په انډول.

**- B-B shot Pulse**

د (**Water-Hammer Pulse** ) په انډول.

**- Bigiminal Pulse**

غبرګ نبض ، د نبض په ګراف کې د یوې اوږدې فاصلې سره مل د دوه پرلپسې د چتکوضربو (څپو ) شتون لري او په (**Ventricular Premature Beats**) منځ ته راځي .

**- Catadicrotic Pulse**

دوه څپه ائیز نبض ، د نبض په ګراف کې په نزولي برخه کې د دوه کوچنیو ضربو (څپو ) شتون، د (**Catatricrotism**) په انډول.

**- Pulse-chase Experiment**

تعقیبي تجربوي نبض، د مالیکولونو د حرکتونو څېړنه او مطالعه ده چې حجرې یې د یوې [ **Radiolabeled Precursor (Pulse)**] پذریعه تلقیح کې مومي او بیا د [ **Unlabeled Precursor (Chase)**] باندې اوښتنه کوي

**- Corrigan's Pulse**

غورځنګ لرونکې نبض ، هغه نبض چې په ډېرې چټکۍ سره ډک او تشېږي ، د (**Pulse Pressure**) په انډول .

**- Pulse Deficit**

تناقصي نبض ،دا د (**Apical Pulse** ) او (**Radial Pulse** ) ترمنځ تفاوت ځرګندوي چې زړه دپاسه ستاتیسکوپ کېښودل شي او یو مهال کې ورسره د شریاني نبض حسابېږي او د ګڼ شمېر (**Several Arrhythmias** ) اوصاف لري.

**- Dicrotic Pulse**

د دوه څلې نبض ، دوه قله ئي هغه نبض چې دوهمه څله (قُله) د ډیاستیول پرمهال وي او شدت یې موندلې دئ.

**- Dorsalis Pedis Pulse**

د پښو په خلفي (ظهري) برخه کې د (لومړۍ او دوهمې مېتاتارس هډوکو ) ترمنځ دجس وړ وي چې په (**10 Per Cent**) سلنه کسانو کې دا د جس وړ نه وي .

**- Pulse Dosing**

نبضاني ډوز ، د درملو(انتي بیوتیک، ستیروئیدونو) ورکړې مېتود چې پکې د درملو اغېزې څېړل شي او نورو درملو ورکړې اړوند معلومات څېړل شي.

**- Dropped Pulse**

بې نظمه رالوېدلې نبض ، د (**Arrhythmic Pulse** ) په انډول.

**- Entopic Pulse**

هغه حالت چې د زړه هر ضربان په تیاره چاپېریال کې د یوې نوراني سپرغۍ او جرقې احساس سره مل وي.

**- Femoral Pulse**

فخذي نبض ، چې د فخذي شریان لپاسه د جس وړ دئ

**- Fetal Pulse Detector**

دجنیني نبض لټوونکې ، هغه د ډاپلار التراساوند وسیله چې په یو ژوندي جنین د نبض تثبیت لپاره کارول شي.

**- Funic Pulse**

هغه نبض چې د نامه غوټۍ د تړل شوي شریان لپاسه د جس وړ وي.

**- Pulse Generator**

هغه د قوت زېرمه چې د(**Cardiac Pacemaker System** ) زړه د پسمېکر سیستم دننه کېښودل شي معمولاً د ( **Lithium**

**- Quadrigiminal Pulse**

څلور غبرګیز نبضان ، دا نبض تر هر څلورو ضربانونو وروسته د استراحت یوه اوږده مرحله لري .

**- Quincke's Pulse**

کوینیک نبض ، دا د ابهر په عدم کفایه کې د نبض د ضربان له امله د نوک له بستر سپین او سور کېږي.

**- Rapid Pulse**

چټک نبض ، پرلپسي د لږې وقفې درلودونکی نبض .

**- Regular Pulse**

منظم نبض ، ټولې څپې د نبضان په جس کې منظمې دي.

**- Pulse Rhythm**

د نبضان نظم ته ویل چې د کتنې پرمهال د پام وړ وي .

**- Riegel's Pulse**

دا نبض د تنفس په مهال کمښت مومي .

**- Slow Pulse**

ډېر په کراره ورو نبض .

**- Thready Pulse**

تاریز (سپنسیز) نبض ، دا ډول خطی نبض چې په ستونزې سره د جس وړ وي.

**- Pulse Tracing**

د (Sphygmogram) اړوند د نبض څپو ثبت او انځور بلل شي

**- Tricrotic Pulse**

درې څپه ائیز نبض ، د ګراف په لړ کې درې څپې لری، د (Tricrotism) په اند ول.

**- Trigiminal Pulse**

درې غبرګې نبض چې د هر دریم ضربان وروسته د استراحت اوږده دوره لري.

**- Undulating Pulse**

هر هغه یو چې په بریالی توګه د څپې احساس اخلي .

**- Vagus Pulse**

پخ نبض ، واګی نبض ، د (Slow Pulse ) په انډول .

**- Venous Pulse**

وریدی نبض .

**- Waterhammer Pulse**

هغه ډول نبض چې پکې شریان ناڅاپه ډول واضیح توګه توسع کوی او بېرته د استراحت حال ته ځی دا د ( Patent Ductus Arteriosus) ناروغی کې لیدل شی ، د ( B-B Shot Pulse ، Jerky Pulseاو Corrigan's Pulse) په انډول.

**- Weak Pulse**

ضعیف نبض ، هغه چې په مشکل جس کېږي.

**- Wiry Pulse**

کوچنې او پیاوړې- حساس (Tense Pulse) نبض .

## Pulsion

وتل ، د مخ په لوري فشار .

(Battery) لرې چې د غرس شوی الکترودونو ته سیاله ورکوی د (Pacemaker) برخه کې وګورئ .

**- Hard Pulse**

کلک (سخت) نبض ، د زیات فشار په شتون کې نبض منځ ته راځي.

**- Irrigular Pulse**

غېرمنظم نبض ، تش اوډک څپې نبضان .

**- Jerky Pulse**

ټکان لرونکې نبضان، هغه نبض چې په هغه کې شریان په ډېر ځرګند ډول آزادېږی د (Water-Hammer Pulse) په انډول.

**- Jugular Pulse**

وداجی (Jugular ) نبض ، چې پکې د وداجی وریدی جدار حرکت د بنی اذین د فشار بدلون سره سم لیدل شی او معمولاً د همدغه ورید پړسوب سره مل وی او د (Right A-V Valve ) عدم کفائې حالتونو کې تر سترګو کېږي.

**- Pulse Monitor**

د نبض پلټونکې او تثبیت کوونکې وسیله چې معمولاً د ( Doppler) التراسونوګرافی پواسطه تثبیت کېږي.

**- Pardoxical Pulse**

متناقص نبضان ، د شهیقی تنفس پرمهال پدې ډول نبض کې د څپې زیات کمښت لیدل کېږي.

**- Peripheral Pulse**

محیطی نبض ، دا ډول نبض په هډونو [د نهایاتو (لاسونو، پښو) ] برخو کې د نبض تعداد شمېرلو لپاره پکار وړله شی.

**- Pistol –shot Pulse**

ضربه ئي نبضان ، هغه نبض چې شریان پکې سمدلاسه ډک او تشېږی او ( Distention او Collapse ) حالت منځ ته راځي .

**- Plateau Pulse**

د دې نبض ګراف آرامه پورته ځی په ادامه مومی .

**- Pulse Oximetry**

هغه مېتود چې پکې د شریانی وینې د اوکسیجن کچه ټاکل کېږي.

**- Pulse Point**

د نبضان ټکې ، د بدن هغه برخه چې هلته نبض د جس وړ ګرځی.

**- Pulse Pressure**

د سیتولیک او ډیاستولیک فشار تر منځ توپیر ته ویل شی. د (Corrigan's Pulse ) په انډول.

**- Radial Pulse**

د راډیوس شریان لپاسه د جس وړ نبض .

**- Pulse Rate**

د نبضان چټکتیا ، په یوه دقیقه کې د نبض شمېرلو اندازه چې معمولاً د نهایاتو (اطرافو) برخه کې شمېرله شی نورماله اندازه یې د عمر له مخې توپیر لری .

( Hard Pulse ) په انډول.

- **Pulsus Filiformis**

خېطی نبض چې د ګوتي څوکې پواسطه ضعیف او لکه د نرۍ سپنسي په څېر جس کېږی ، د ( Thready Pulse ) په انډول.

- **Pulsus Fluens**

پرلپسې -متوالی څپه ائیز (موجه ئي ، متموج) نبض ، د ( Undulating Pulse ) په انډول.

- **Pulsus Formicans**

ډېر کوچنی نبږدي نه احساسېدونکې نبض .

- **Pulsus Fortis**

یو ډېر قوی او ډک نبض ، د ( Full Strong Pulse ) په انډول.

- **Pulsus Frequens**

ډېر چټک نبض ، د ( Rapid Pulse ) په انډول.

- **Pulsus Heterochronicus**

غېر منظم اریتمیک نبض ، د ( Arrhythmic Pulse ) په انډول.

- **Pulsus Inaequalis**

په ریتم او قوې کې غېر منظم نبض .

- **Pulsus Incongruens**

متفاوت نبض .هغه نبض چې د راډیال ( Radial )شریانونو برخه کې یو له بله سره توپیر لری.د ( Pulsus Differens ) په انډول.

- **Pulsus Infrequens**

ډېر په ورو او کراره نبض ، د ( Slow Pulse ) په انډول.

- **Pulsus Intercidens**

متناوب نبض چې لوړې –ژورې د نبض جس پرمهال لری چې بنائي ځینې ضربې هم شتون ونلری چې د زړه د ( -Second Degree Heart Block یا Extrasystole ) منځ ته راځي ، ( Intermittent Pulse او Dropped-Beat Pulse ) په انډول

- **Pulsus Intercurrens**

ځینې وختونه قوی دوه څپه ائیز نبض شتون لری داسې څرګندوی چې یو ( Intercurrent Ventricular Contraction ) شتون لری.

- **Pulsus Irregularis Perpetuus**

دایمی اوتلپاتې غېرمنظم نبض چې معمولاً د ا اذینی فیبریلېشن ، او ګڼ شمېر نورو ګډوډیو او بشپړو بې نظمیو ( Chaotic Rhythms ) سره مل ) لیدل شی.

- **Pulsus Magnus**

ډېر غټ او ډک نبض ، د ( Full Pulse ) په انډول.

- **Pulsus Mollis**

د( نرم ، پوست او په آسانه سره د فشار په وړاندې کنبېناستونکې) نبض .

- **Pulsus Monocrotus**

د یوې څپې (موجې ) لرونکې نبض ، د ( Monocrotic Pulse ) په انډول.

# Pulseless

پرته له نبض څخه ، بې ضربانه .

- **Pulseless Limb**

پرته له نبض څخه طرف (لاس یا پښه ، او بله برخه).

# Pulsus

نبض ، ضربان، د ( Pulse ) په انډول.

- **Pulsus Abdominalis**

هغه نبضان چې په بطن کې د ( Abdominal Aorta ) شریان د جس وړ وی .

- **Pulsus Altenans**

متناوب نبضان چې قوی او ضعیف بڼه نبض لری.

- **Pulsus Bisference**

مضاعف نبض د اضافه امتوپیک ضربې سره.

- **Pulsus Caprisans**

د غېر مستوی سرحدونو لرونکې نبض چې په ریتم او قوې دواړو کې غېر منظم بڼه لری.

- **Pulsus Catacrotus**

هغه ډول نبض چې پورته صعودی قوس یې د ښکته نزولی اړوند بازو ته مزاحمت په ( Sphygmogram ) کې پېښ کړی ،د ( Catacrotus Pulse ) په انډول.

- **Catadicrotic Pulsus**

هغه ډول نبض چې صعودی ښاخې (بازو) یې د انځور برخه کې دوه اضافی کوچنی نورې څپې لری.

- **Pulsus Celer**

هغه نبض چې د لوړې –ژورې (صعودی او نزولی) چټکې نبضانی څپې لری. د ( Swift, Abrupt Pulse ) په انډول .

- **Pulsus Celerrimus**

د ( Water-Hammer Pulse ) په انډول.

- **Pulsus Cordis**

د زړه د ذروې برخې نبضان ، د ( Apex Beat Of Heart ) په انډول.

- **Pulsus Debilis**

ډېر ضعیف نبض .د ( Weak Pulse ) په انډول.

- **Pulsus Differens**

متفاوت یا متغیر نبض .هغه نبض چې د راډیال ( Radial )شریانونو برخه کې یو له بله سره توپیر لری.

- **Pulsus Duplex**

مضاعف (غبرګ ) نبض ، هغه ډول نبض چې دوه غبرګې نبضانی ضربې لری چې دوهمه ضربه یې د لومړۍ په پرتله ضعیفه وی،د ( Dicrotic Pulse ) په انډول.

- **Pulsus Durus**

کلک یا سخت نبض ، هغه نبض چې د ګوتې څوکې په وړاندې سخت او فشار سره جس کېږی دا د وینې لوړ فشار ښودنه کوی

پوډر ډوله جوړښت .

## Pulvinar

په خلفي تلاموس کې منځنۍ راوتلې برخه .

## Pulvis

د پوډر ، دوړې ، گردې (Powder) ته ويل شي .

## Pumice

هغه ماده چې په غابنيز طبابت کې د سولولو او ځلا ورکولو لپاره پکار وړله شي.

## Pump

پمپ ، هغه ماشين چې فشار توليد پواسطه مايع يا هواد د يو تشيالي ځيز دننه تېروي يا د هغه ځخه يط بهر راوباسي.

**- Breast Pump**

د تيبونو پمپ کولو حالت .

**- Calcium Pump**

د کلسيوم عنصر پمپ کول د بدن په حجروي سيستم کې.

**- Heart Pumps**

د زړه پمپ چې وينه ابهر شريان ته تېروي .

**- Intra-aortic Baloon Pump (IABP)**

د ابهر دننه بالوني پمپ .

**- Proton Pump**

د هايدروجن آيون پمپ چې د معدی جدار حجراتو کې منځ ته راځي.

**- Sodium Pump**

د سوډيم عنصر پمپ ، د ( Sodium –Potassium Pump) په انډول.

**- Sodium –potassium Pump**

د سوډيم او پوټاسيوم پمپ .

**- Potassium Pump**

د پوټاسيوم عنصر پمپ .

**- Pump Oxygenator**

د ويني د پمپ او اوکسيجناتور ځخه جوړ ماشين چې د زړه د جراحی په بهير کې تري گټه اخيستل کېږي .

## Pumping Chamber

يوه هغه برخه د زړه چې ورځخه وينه پمپ کېږي لکه د زړه کينې بطين .

## Punch

پنچ، يو ډول آله چې دسوري کولو،مهر کولو اوپريکولودپاره استعماليږي. په سوک وهل: سوری کول: پوول: سوک. يو ډول مشروب چې شراب، شدې چای، ليمودبورې او نورو شيانو سره گډوي.

**- Pulsus Myurus**

هغه نبض چې وصفي ډول ( يوه ځپه ،ذروه ) چې سمدلاسه لوړوالي مومي خو په کراره سره له منځه ځي لکه د موږک - لکۍ په ځېر ورته ده ، د (Mousetail Pulse) په انډول.

**- Pulsus Paradoxus**

متناقص نبضان ، د تنفس پرمهال پدې ډول په دې ډول نبض کې زيات کمښت ليدل کېږی دا د ( Cardiac Tamponade او ريوی وريدی بهير بيا راگرځېدنې کمښت ) حالت کې منځ ته راځي.

**- Pulsus Parvus**

هغه نبض چې کوچنۍ ځپه لري او ابهر دسام تضيق کې ليدل شي.

**- Pulsus Parvus et Tardus**

کوچنۍ خو کلک نبض لوړېدنه او ټيټېدنه يې په کراره سره منځ ته راځي.

**- Pulsus Quadrigeminus**

هغه ډول نبض چې د هرې ځلورو ځپو (ضربانونو) وروسته وقفه پکې منځ ته راځي ، د (Quadrigeminal Pulse ) په انډول.

**- Pulsus Quick**

چټک نبض ، د[ Pulsus Celer ] په انډول.

**- Pulsus Rarus**

هغه ډول نبض چې په ډېر کراره او تدريجی سره لوړېدنه او ټيټېدنه مومی ، د (Pulsus Tardus) په انډول .

**- Pulsus Tardus**

هغه ډول نبض چې په ډېر کراره او تدريجی ډول سره لوړېدنه او ټيټېدنه مومی ، د ( Slow Pulsus او Pulsus Rarus) په انډول.

**- Pulsus Tremulus**

هغه نبض چې چټک او لنډ مهالي وي او نبږدې يو اوبل ته د جس وړ وی .

**- Pulsus Trigeminus**

هغه ډول نبض چې د هرې درې ځپو (ضربانونو) وروسته وقفه پکې منځ ته راځی ، د (Trigeminal Pulse) په انډول.

**- Pulsus Vacuus**

هغه ډول نبض چې ډېر ضعيف وی په سخت ډول د شريان جدار برخه کې توسع منځ ته راځی.

**- Pulsus Venosus**

وريدی نبضان .

## Pult

کښنودنه ،ځای پرځای کول .

## Pultaceous

نرم ،پوست ،خوړين شوې ،خميره ډوله هسې چې مايع ته نږدېوالي ولری .

## Pulverulent

- **Punch Drunk**

د سوک وهونکو عقلی زوال .

- **Punch Drunk Syndrome**

هغه سنډروم چې د سوک وهونکو په منځ د سر لپاسه د ګزارونو لګېدو له امله عقلی زوال منځ ته راوړی چې پکې ( د عقل کمزوری ، د پښو لرزه ، او خبرو اترو اختلال ) پېښېږی.

## Puncta

د (**Punctum** ) لپاره ګڼه شمېره ده .

- **Puncta Lacrimalia**

هغه کوچنۍ وازه خوله چې د سترګو اړوند ده او اوښکې ورڅخه راوځی او پوزې ته تېرېږی .

## Punctuate

ټکي ټکې ، د هغه نسج یا سطحې اړوند چې (خاپه ، ښه ، ټکي ټکې ، سوری ، غابښې ) ولری .

## Punctiform

ټکی ټکی ډوله برخه .

## Punctum

یوکوچنې ټکې ، د (**Point** ) په انډول ، چې ګڼه شمېره یې (**Puncta** ) ده.

- **Punctum Caecum**

ړوند ټکې .

- **Punctum Lacreamale**

د اوښکو ټکې .

- **Punctum Proximum**

نېږدې ټکې ، قریبه ټکې .

- **Punctum Remontum**

لېرې ټکې ، بعیده ټکې .

## Puncture

1 . بذل ، سورې کول ، 2 . د یوه تېره شی پذرېعه سوړه یا خوله جوړول .

- **Aqupuncture Anaesthesia**

د ستنې چوخېدنې پذریعه د بې حسی منځ ته راوړل.

- **Bone Marrow Puncture**

د هډوکو د ماغزو بذل کول چې د وینې کتنې په موخه تر سره کېږی د ناروغیو پېژندنې لپاره نمونه اخیستل کېږی.

- **Cisternal Puncture**

د مغزی نخاعی مایع (**Csf** )تر لاسه کولو لپاره د ( **Cisterna Cerebellomedullaris**) بذل کول.

- **Hydrocele Puncture**

د هایدروسل له جوف څخه د مایع راویستنې په موخه بذل .

- **Lumbar Puncture**

د مغزی نخاعی مایع (**Csf**) تر لاسه کولو لپاره د قطنی بذل کول.

- **Peritoneal Puncture**

د پریتوانی مایع کتنې لپاره د پریتوان جوف بذل تر سره کول.

- **Plural Puncture**

د پلورائی مایع کتنې لپاره د پلورا جوف بذل تر سره کول.

- **Pericardial Puncture**

د پریکارډیال مایع کتنې لپاره دپریکارډیوم جوف بذل ترسره کول.

- **Spinal Puncture**

د نخاعی مایع کتنې لپاره د نخاع بذل تر سره کول.

- **Sternal Puncture**

د صدری قفس د قص هډوکی بذل چې د قص هډوکی د مانوبریوم سټرنې له لارې د هډوکی ماغزه بذل کېږی.

- **Ventricular Puncture**

د ماغزو د بطین برخې بذل چې د مغزی – نخاعي مایع راویستنې په موخه تر سره کېږی.

- **Venous Puncture**

وریدی بذل چې د وینې راویستنې په موخه تر سره کېږی .

- **Puncture Wound**

بذلی جرحه ،هغه ټپ یا جرحه چې د یوه تېرې څوکی چړې پذریعه د یوه نسج لپاسه تر سره کېږی لکه د یوې دانې درېناژ لپاره.

## Punctured

بذل شوې ، سوری شوې .

## Puncturing

بذل کول ، سورې کولو حالت .

- **Puncturing Methode**

د بذل مېتود / کړندود .

- **Puncturing Prucedure**

د بذل طریقه /کړنلاره .

## Pupa

د حشراتو د ودې اړوند د شفیرې مرحله چې د بشپړی حشرې او لاروا تر منځ مرحله ده .

## Pupal

شفیروی ، د شفیرې مرحلې اړوند ، د (**Pupa** ) اړوند صفت .

## Pupil

①حدقه ، یو کسې، نینک، دسترګو تور ، ②د عنبیې (**Iris**)په منځ کې سورې چې نور (رڼا) ورڅخه سترګې دننه ته تېرېږی ، ③ځوان زده کوونکی.

- **Adie's Pupil**

د (**Tonic Pupil**) په انډول.

خالص ، نګه شئ ،تصفیه شئ، هغه چې ورسره نور څه ګډ نه وی ، ډېر چاڼ شوی او صاف مواد .

**- Pure Alcohol**

خالص الکهول د برطانيې فارمکوپی مطابق وی چې (**% 99**) سلنه وی او ورسره (**5%**) اوبه ګډې وی.

## Purgation

جولاب منځ ته راتګ ، مسهل پېښېدنه ، هغه درمل چې د کولمو حرکتونه زیاتوی او د مسهل پتوګه پکارېږی.

## Purgative

جولاب ، مسهل ، هغه درمل چې د کولمو حرکتونه زیاتوی او د مسهل پتوګه پکارېږی او کولمې تشوی، د (**Laxative**) انډول.

## Purge

مسهل ، د کولمو د تخلیې آسانوونکې ، قبضیت ماتوونکې.

## Purged

مسهل پېښ شوې ، جولاب کړې ، تش او تخلیه شوې.

## Purging

مسهل (نس ناستې) پېښونه ،د کولمو د تخلیې منځ ته راوړنه ، د قبضیت ماتوونه .

## Purified

خالص شوې ، صفا او چاڼ شوې ،نګه شوې ، تصفیه شوې.

**- Purified Camphor**

خالص کامفور .

**- Purified Protein Derivative(PPD)**

د پروټین د مشتقاتو تصفیه شوې بڼه ، د توبرکولین (**Tuberculin**) خالصه بڼه چې په توبرکولین آزمایښت کې پکار وړله شی.

## Purifies

پاک کول ،تصفیه کول ،تطهیرول .

## Purifier

تصفیه کوونکې ، تطهیر کوونکی .

## Puriform

چاڼ ته ورته ،پاک کول ،تصفیه کول ،تطهیرول .

## Purify

**1**- خالص کول ، پاک کول ، تصفیه کول ، صافي کول، ځلا ( پالش) ورکول ، **2**- پاکیزه کول ، تمیز کول ، **3**- تطهیر کول ، مطهر کردن ، منزه (تزکیه)کول.

**- Argyll Robertson Pupil**

هغه مایوزی کسې چې تطابق ته ځواب وایې خو د نور په وړاندې غبرګون نه ښیي .

**- Fixed Pupil**

ثابت کسې ، هغه کسې چې د نور په وړاندې غبرګون نه ښیي او ځواب نه ورکوی.

**- Hutchinson's Pupil**

دا هغه ډول کسی دی چې دواړه لوروکې تناظر نلری او دماغی وینه بهېدنه (اکسټراډورال هیماټوما ) ډېر اهمیت لری.

**- Tonic Pupil**

متقلص کسې ، د حدقې فلج ، هغه حدقه چې د نور په وړاندې غبرګون نه څرګندوی .

## Pupilla

د سترګو اړوند (کسې ، تور، حدقه) .

## Pupillary

حدقی ،پاپیلاری، د سترګو کسی (**Pupil** ) اړوند صفت.

**- Pupillary Reaction**

حدقی غبرګون ، د سترګو د تور (کسی ) د غبرګون یا عکسې اړوند چې د نور سره د مخامخ کېدنې وروسته تقلص کوی. د (**Light Reflex** ) په انډول.

## Pupillometry

د حدقی غبرګون کچې معلومولو او اندازې څرګندونې پروسې ته ویل کېږی.د کسی د قطر یا سور (عرض) اندازه نیونه.

## Pupilloplegia

ټونیک حدقه ،د حدقې فلج ، هغه حدقه چې د نور په وړاندې غبرګون نه څرګندوی .

## Pupilloscopy

د حدقې کتنه ، د ( **Retinoscopy**) په انډول.

## Pupillstatometer

د دوه کسیو تر منځ د فاصلې د اندازه کولو لپاره وسیله.

## Purchase

رانیول، اخیستل، هرشی چې په پیسو را نیول کیږي، رانیونه، په بیعه اخیستنه، نیونه ( ټینګونه).

## Purchaser

اخیستونکې ، رانیوونکې ، تهیه او تیاروونکې لکه د یوه روغتون او روغتیائی خدمتونوتر سره کولو لپاره د بودیجې برابرول ، د (**Provider**) په انډول .

## Pure

## Purifying

د تصهیرولو کړنه تر سره کول ، د تصفیه کولو پروسه تر سره کول.

## Purine

1 .پیورین ، د آمینواسیدونو یو ډول ، 2 .هغه ډول د نایټروجن (Nitrogen) موادو لرونکې چې د یوریک اسیدو څخه تر لاسه کېږي چې آډینین (Adenine) او ګوانین (Guanine) په ګډون ماده په هسته کې لري چې د (Rna او Dna) په منځ کې موندل شي.

## Purkinje

د پورکینج اصطلاح د (Johannes Evangelista Purkinje) فزیولوژۍ طب پروفیسور عالم اړوند ده چې په (1787–1869) کالونو کې اوسېده او د زړه د اعصابو د پورکینج رشتو اړوند یې نظر څرګند کړی.

**- Purkinje Cells**

د پرکینج عصبی حجرې یا نیورون چې د (Cerebellar Cortex) برخه کې واقع دي او په کال (1837) د (Johannes Evangelista Purkinje) پذریعه شرحه شو.

**- Purkinje Fibre**

هغه ګېډي د رشتوی عصبی نسج چې د زړه اذینی –بطینی ضفیره (Bundle) جوړوي او (Atrioventricular Node) څخه د حجاب (Septum) لوري ته درومي.

**- Purkinje Shift**

د رنګ بدلون حساسیت چې په سترګو کې د ټیټې کچې رڼا ورتګ څخه په شبکیه (Retina) کې د (Rods) حجرو کې پیل کېږي ځکه چې د (Cones) برخې حجرې د تنبه په وړاندې ضعیفه دي.

## Purple

درنګ یو ډول دئ چې ارغواني (بنفش ، ځیګري) بڼه لري.

## Purpura

د (پوستکي ، مخاطی غشأ او مصلی غشأ) ارغوانی رنګ ته بدلون چې پدغو برخو کې د لږې اندازې وینې بهېدنې له امله د (وینې اختلال/ تشوشاتو) له کبله پېښېږي .

**- Allergic Purpura**

حساسیتی پورپورا . د ( Anaphylactoid Purpura او Schönlein Henoch's Purpura ) په انډول .

**- Purpura Angioneurotica**

هغه ډول تناکې ، دپوټکې په سردانو یا داغونو پیدا کېدنه ( Eruption ) چې وصفی ډول د[ Angioneurotic Edema ) ، ( Petechiae ) اود ( جلدی او معدې مخاطی غشأ ) هایپرستېزیا ] سره مل وي.

**- Anaphylactoid Purpura**

د حساسیتونو پېښېدنې له کبله د پورا پورا منځ ته راتګ .

**- Annularis Telangiectoid Purpura**

تلنجیاکتیک کړیز پورپورا ، د رګونو د توسع له امله په پوستکی او مخاطی غشأ کې سوروالي او ټکی –خاپې منځ ته راتلونکې پورپورا ده.

**- Fibrinolytic Purpura**

د وینې د فیبرینو لایتیک فعالیت زیادښت څخه زېږنده پورپورا.

**- Fulminanus Purpura**

هغه غیر ټرومبوسایتوپینیک پورپورا چې غالباً په ماشومانو کې د انتانی ناروغیو وروسته منځ ته راځي .

**- Purpura Gangrenosa**

هغه وژنکې اوشدیده (ITP) چې ماشومان اخته کوي او معمولاً د انتانی ناروغیو پسې روسته منځ ته راځي چې (ټیټ فشار، تبه او Disseminated Intravascular Coagulation ) ] ورسره مل وي ، د (Purpura Fulminans) په انډول.

**- Hemorrhagic Purpura**

دا ډول پورا معمولاً د تنفسی لارې انتاناتو سره مل وي او د (والګي ، تحت الجلدی اذیمائي پرسوب ، متناظر مخاطی – پتیشیا اوزړه چټک ضربان ) سره مل وي . د Idiopathic Purpura ) او Thrombcytopenic Purpura Haemorrhagica) په انډول.

**- Idiopathic Thrombcytopenic Purpura (ITP)**

آیډیوپټیک ترومبوسایتوپینیک پورپورا چې د نا معلومه لاملونو شتون له کبله د ترومبوسایټ (صفیحاتو ) کمښت پېښېږي.

**- Henoch Schönlein's Purpura**

غیر ګونیزه (حساسیتی ډول پورپورا چې د پوستکی او ګېډې ګډ ډول نښې نښانې ورسره مل وي.

**- Malignant Purpura**

خبیثه پورپورا ، هغه چې د مننګوکوکال منجیټ کې لیدل شي.

**- Neonatal Purpura**

د نوزادی دورې پورپورا چې د Alloimmune Hemolytic Anemia) له امله په نوې زېږېدلو ماشومانو کې پېښېږي ځینې وختونه د Thrombocytopenic Purpura) پذریعه بدرقه کېږي او د Antiplatelet antibodies) پذریعه منځ ته راځي

**- Purpura Nervosa**

دا د جرمنی مشوانو متخصص ډاکټر ( Eduard Henoch Heinrich,) پواسطه شرحه شو چې په (1820-1910) کې اوسېده .هغه ډول پورپورا چې سمدلاسه د سپزموډیک همغږو

**- Thrombotic Thrombcytopenic Purpura**

هغه ډول ترومبوسایتوپینیک پورپورا چې پکې (په شعریوی رګونو کې ترومبوزی ، هیمولایتیک وینه لږې ،عصبی نښې نښانې ، ازوتیمیا ، تبې ) په متېه پېژندل شي.

**- Vascular Purpura**

هغه ډول پورپورا چې د رګونو د دندې یا توامیت له منځه تګ له کبله په [ **Vitamin C Deficiency (scurvy), Diabetes Mellitus and Hyperadrenocorticism**] کې منځ ته راځي.

## Purpurinuria

په متیازو کې د پورپورین موادو اطراح کېدل شي.

## Pursestring

هغه د ګنډلو هغه کړنلاره او پروسه چې کې د یوې سطحې د څنډو برخه په یوه کرښه سره راټولې او ګنډل کېږي لکه د اپنډیکتومی وروسته د (**Stump**) د ښخولو لپاره پرسټرینګ ګنډل .

**- Purse-string Operation**

د پرسټرینګ جراحی عملیات چې د یوې بلاربې ښځې د رحم عنق د تړلو په موخه تر سره کېږي ،د (**Shirodkar's Operation**) په اند ډول.

**- Pursestring Stitch**

دا هغه جراحی عملیات طبی پروسیجر دئ چې پکې د یوې وسیلې پذریعه شق تر سره کېږي او د یوه تخریبی محدودې د ترمیم په موخه په یوه ژوندی جسم حیوان کې تر سره کېږي ، د( **Shirodkar Suture** او **Purse-string Operation** ) په اند ډول.

## Purulence

د خیری (زویو ،قیح ، چرک) جوړېدل یا شتون .

## Purulency

د هغه حالت چې پکې افرازی قیح (زویو) شتون ولری.

د قیح / خیرې تولیدی حالت .

## Purulent

چرکی ، قیحی ، زوې درلودونکې لکه دانه (ابسې) .

**- Purulent Bronchiolitis**

قیحی او زوې درلودونکې برانشولیونو التهاب .

**- Purulent Conjunctivitis**

قیحی او زوې درلودونکې دمنضمې (**Conjunctiva**) التهاب شتون چې معمولاً په ګونوریائی التهاباتو کې منځ ته راځی .

**- Purulent Cyclitis**

د حدبی جسم (**Ciliary Body**) د قیحی او زوې درلودونکې التهاب شتون .

حرکاتو پواسطه د یو لړ عضلاتو کې چې د فزیولوژیک خواصو له امله ورته وی په غیر منظم وقفو سره پیښیږی ، د ( **Spasmodic Tic Henoch Purpura** یا **Henoch chorea** ) او (**Henoch- Schönlein Purpura**) په اند ډول

**- Nonthrombocytopenic Purpura**

د وینې د ترومبوسایت- صفیحاتو د کمښت څخه پرته پورپورا.

**- Purpura Pigmentosa Progressiva**

هغه درماتوز چې په ابتدائی ډول د ښکته نهایاتو (اندامونو) څخه په نارینه وو کې پیل کوی چې د هیموسیدرین ښځایه کېدنې له امله هموارې ګلابی-بنفشی رنګه آفتونه چې یو په بل کې مدغم ډول نصواری خاپې (**Brownish Patches**) منځ ته راوړی. د (**Schamberg's Disease**) په اند ډول.

**- Purpura Pulicans**

هغه ډول پورپورا چې پکې پتېشیا (**Petechiae**)د حشراتو او حیوانی پرازیتونو چیچلو له کبله منځ ته راځي.

**- Purpura Pulicosa**

د (**Purpura Pulicans**) په اند ډول.

**- Purpura Rheumatica**

د روماتیک تبې له کبله د پروپورا منځ ته راتګ .

**- Purpura Senilis**

د ( **Senilis Purpura**) په اند ډول .

**- Purpura Simplex**

د هرپس سیمپلکس ویروس له امله منځ ته راغلې پورپورا.

**- Purpura Symptomatica**

هغه ډول پورپورا چې د کلینیکی نښو نښانو لامل شي.

**- Purpura Urticans**

هغه ډول( **Purpura Simplex** ) پورپورا چې د ( **Urticarial Eruption**) سره مل وی.

**- Schönlein's Purpura**

غیر ګونیزه (حساسیتی ډول) پورپورا چې د پوستکی او ګېډې ګډ ډول نښې نښانې ورسره مل وی.

**- Schönlein Henoch's Purpura**

غیر ګونیزه (حساسیتی ډول) پورپورا چې په ماشومانو کې دځرګند لامل پرته دپوستکی او ګېډې ګډ ډول نښې نښانې ورسره مل وی.

**- Senilis Purpura**

د زړښت پور پورا ، د عمر خوړلو کسانو د لاسونو په څټ او لېچو کې توربخن ارغوانی –سره (بنفشی) اکیموټیک نښې منځ ته راځی.

**- Thrombcytopenic Purpura**

هغه پورپورا چې د وینې صفیحاتو شمیر پکې کمښت مومی چې د وینې د ناروغی له مخې اولیه (**ITP** ) یا ثانویه کېدای شی.

دپانکریاص برخې قیحی او زوې درلودونکې التهاب.

- **Purulent Pericarditis**

د زړه د پریکارډیوم برخې قیحی او زوې درلودونکې التهاب.

- **Purulent Pleurisy**

د صدر د پلورا برخې قیحی او زوې درلودونکې التهاب.

- **Purulent Pneumonia**

د سږو پنومونیا سره قیحی او زوې درلودونکې افرازاتو شتون.

- **Purulent Retinitis**

د سترګو د شبکیې برخې قیحی او زوې درلودونکې التهاب.

- **Purulent Rhinitis**

د پوزې برخې قیحی او زوې درلودونکې التهاب.

- **Purulent Synovitis**

د ساینوویال غشأ برخې قیحی او زوې درلودونکې التهاب.

## Purulently

په قیحی بڼه ، په چرکی ډول سره د هغه افرازاتو شتون چې د قیح لامل ګرځی لکه د انتانی تقیح .

## Puruloid

د (چرک، قیح ، زوې) په څېر ورته .

## Purr

بڼیدل، ګونبیدل ، بُګنیدل، خوریدل، بڼ بڼ کول ، ګوڼا ، زمزم، خورخور، زمیدل.

## Pus

خیرې ، چرک، قیح ، زوې ،هغه مایع چې د وینې له سېروم څخه جوړېږی او له پروټین څخه بډایه ده د التهاب څخه سرچینه اخلی او د ( وینې له سېروم،او د مړه نسج ټوټې ، سپین کریوات ، باکټرې) څخه ې د باکټری په وړاندد بدنی غبرګون له کبله رامنځ ته کېږی. د ( -Py او -Pyo ) مختاړو د پیلېدونکو لغاتو په انډول.

## Pustula

زوې یا خیرې لرونکې.

## Pustular

زوې یا خیرې لرونکې ټناکه.د ( Pustules) اړوند صفت.

## Pustulate

دپوستکی لپاسه د قیح لرونکې راوتلې جلدی اندفاع منځ ته راوړونکې .

## Pustulated

پوستېولې شوې ، د (Pustules ) پواسطه پوښلې.

## Pustulating

پوستېولې کولو کړنه تر سره کول ، د (Pustules) پواسطه پوښل.

- **Purulent Diarrhea**

قیحی او زوې درلودونکې نس ناستې د کولمو التهاباتو کې پېښېږی .

- **Purulent Discharge**

قیحی او زوې درلودونکې افرازات .

- **Purulent Drainage**

قیحی او زوې درلودونکې ډریناژ او تشېدنه .

- **Purulent Encephalitis**

قیحی او زوې درلودونکې ( **Encephalitis** ) د ماغزو باکټریائی انتانی سرچینې درلودونکې التهاب .د ( **Suppurative Encephalitis** او **Encephalitis Pyogenica**) په انډول.

- **Purulent Endometritis**

قیحی او زوې درلودونکې افراز د انډومتریوم التهاباتو کې پېښېږی .

- **Purulent Exudate**

قیحی او زوې درلودونکې اګزوډات پېښېدنه.

- **Purulent Infection**

تقیحی انتان یا مکروبی لامل چې چرکی مواد منځ ته راوړی.

- **Purulent Inflammation**

قیحی او زوې درلودونکې التهاب.

- **Purulent Iritis**

د سترګو د (**Iris** ) برخې قیحی او زوې درلودونکې التهاب شتون.

- **Purulent Keratitis**

د سترګو د قرنیې برخې قیحی او زوې درلودونکې التهاب شتون.

- **Purulent Labyrinthitis**

د غوږونو د دننه د (**Labyrinth**) برخې قیحی او زوې درلودونکې التهاب شتون چې د (بې موازنې کېدنې ، سرګرځی او ګانګو) سره مل وی ، د (**Otitis Interna** ) په انډول.

- **Purulent Laryngitis**

د ستونی د حنجرې برخې قیحی او زوې درلودونکې التهاب.

- **Purulent Meningitis**

د ماغزو د سحایاوو برخې قیحی او زوې درلودونکې التهاب.

- **Purulent Metritis**

د رحم طبقاتو برخې قیحی او زوې درلودونکې التهاب.

- **Purulent Ophthalmia**

د سترګو د ګونوریائی(**Gonorrheal** ) ډول قیحی او زوې درلودونکې التهاب ، د (**Purulent Conjunctivitis** ) په انډول.

- **Purulent Pachymeningitis**

ماغزو برخې قیحی او زوې درلودونکې التهاب.

- **Purulent Pancreatitis**

**Put up**

پورته کېښودنه ، د يو څه شي سمبالتيا چې د ځاځکی په څېر شي .

**Putting up**

د پورته کېښودنې کړنه تر سره کول.

**p.v.**

د (per vaginam ) لپاره لنډه نښه ده چې د مهبل له لارې معنی لري .

**PVC [1]**

د (Poly Venyl Chloride ) لپاره لنډه نښه ده.

**PVC [2]**

د (Post Voiding Cystogram ) لپاره لنډه نښه ده.

**PVC [3]**

د (Premature Ventricular Complex ) لپاره لنډه نښه ده.

**PVC [4]**

د (Pulmonary Veinous Congestion ) لپاره لنډه نښه ده.

**PVP**

د (Poly Venyl Pyrolodine ) لپاره لنډه نښه ده.

**PVP-I**

د ( Povidone-iodine ) لپاره لنډه نښه ده.

**PVS**

د (Persistent Vegetative State ) لپاره لنډه نښه ده.

**PWA**

د (Person With Aids) لپاره لنډه نښه ده.

**Py-**

دا يو مختاړې دئ او د (چرک ، قيح ، خيرى او -Pyo ) معنی لري.

**Pyaemia**

د باکترياوو پواسطه د وينې تر تېرى (تهاجم) لاندې راتګ دئ چې بيا هلته زياتوالې مومی چې د ګڼ شمېر کوچنيو دانو لامل د بدن په پېلابيلو برخو کې ګرځی، د (Pyemia ) په انډول.

**Pyarthrosis**

هغه حالت چې پکې د بندونو دننه د قيحی اتناناتو مداخله ده چې بندونه له زويو او خېرى ځخه ډکوی. د (Acute Suppurative Arthritis) په انډول.

**Pycn**

**Pustule**

هغه کوچنۍ جلدی اندفاع (Pimple) چې د قيح پواسطه ډکه شوېوی. چرک لرونکې جلدی اندفاع .

**Pustulosis**

هغه د ناروغۍ حالت چې د پوستولی دانو پواسطه منځ ته راغلې وی.

**Putamen**

د عدسيه ډوله هستې اړخيزه او لويه-غټه برخه .

**Putrefaction**

خُسا والې ، خوسا شوې ، د باکترياوو پذريعه دعضوی موادو تجزيه کېدنه(د پروټينونو انزايمی تجزيه ) او (د آمونيا ،سولفايد هايدروجن او مرکپتان) په څېر د بد بويه شی منځ ته راتګ .

**Putrefactive**

خُسا والې ، خوسا شوې ، بد بويه .

**Putrefied**

خوسا شوې ، ګنده شوې .

**Putrefies**

خوسا کېدنې عمليه تر سره کېدنه.

**Putrefy**

ورستول، خوسا کول، تجزيه کول، ورستېدل، خوسا کېدل ، د عضوی مرکباتو تجزيه (د آمونيا ،سولفايد هايدروجن او مرکپتان) په څېر د بد بويه شی منځ ته راتګ.

**Putrefying**

ورستولو عمليه، خوسا کولو کړنه ، تجزيه کولو طريقې تر سره کول.

**Putrescence**

خوسا توب ،ورستول، خوسا کول، بد بويه تجزيه کول.

**Putrescent**

د ( Putrescence) اړوند صفت.

**Putrescine**

د سپرميډين يو امينی پريکارسور ماده چې تقريباً په ټولو نسجونو او باکتيری ګانو په ځينو کروندو کې شتون لري.

**Putrid**

وروست، خوسا ، بدبويه ، خوړين او متعفن .

**Putridity**

وروستوالی، خوساتوب.

پدې ډول کې کثیفه ماده د حالبونو له لارې د پښتورګو حویضې ته تېرېږي او پیلوګرافي تر سره کېږي.

**Pyelointerstitial**

د پښتورګو حویضې او بین البینی نسج اړوند .

**- Pyelointerstitial Backflow**

د پښتورګو حویضې څخه د بین البینی نسج ته د په شاتنبوونکی فشار پواسطه د مایع بهیر موندل دی.

**Pyelolithotomies**

د ( **Pyelolithotomy**) لپاره ګڼه شمېره ده .

**Pyelolithotomy**

هغه جراحی عملیات چې د پښتورګو حویضې خلاصولو / پرانیستلو له لارې د ډبرې (تیږو) راویستلو کړنلاره .

**Pyelolymphatic**

د پښتورګو حویضې او لمفاوی چینل اړوند .

**Pyelonephritic**

د پیلونفریت ( **Pyelonephritis** ) اړوند صفت.

**- Pyelonephritic Disease**

د پیلونفریت هر ډول ناروغی.

**- Pyelonephritic Kidney**

د پیلونفریت هر ډول بې شکلی پښبوونکی د بهوډو ناروغیو چې په پښتورګو کې تندبی (**Scars** ) ګڼ شمېر برخې منځ ته راغلې وی چې دا د مزمنو عودتی کلیوی انتاناتو له کبله منځ ته راځی .

**Pyelonephritis**

د پښتورګو هر ډول التهابی ناروغۍ چې د بولی باکتریائی انتاناتو له امله پېښېږي.

**- Pyelonephritis of Pregnancy**

هغه د پښتورګو انتانی ناروغی چې د بلاربښت پرمهال پېښېږي چې په وصفی ډول د کلیوی حویضې اتساع لامل ګرځی چې ځینی وختونه د حالبونو بندښت د بلارب رحم پذربعه پېښېږي.

**Pyelonephrosis**

د پښتورګو هغه ناروغی چې په کلیوی حویضې کې منځ ته راځی.

**Pyelopathy**

دپښتورګو د حویضې هر ډول ناروغی .

**Pyeloplastia**

د پښتورګو د حویضې پلاستیک بیا رغوونکی جراحی عملیات .

**Pyeloplasties**

دا یو مختاړې دئ او د (**Pyelo-**، پښتورګو حویضې) معنی لري.

**Pycno-**

دا یو مختاړې دئ او د (**Pyelo-**، پښتورګو حویضې) معنی لري.

**Pyel -**

دا یو مختاړې دئ او د (**Pyelo-**، پښتورګو حویضې) معنی لري.

**Pyelectasis**

د پښتورګو د حویضې برخی توسع او غټېدنه.

**Pyelitic**

د حویضې التهاب ( **Pyelitis** ) اړوند صفت.

**Pyelitis**

